تحفۂ احادیث

(پښتو)

«دنیاداري نه دینداري طرف ته، بدیانو نه نیکیانو طرف ته، معاشرتي او رواجي شعور نه دیني او ایماني شعور ته، خواهشاتو نه د مرګ، قبر او د قیامت د تقاضو طرف ته، یا د خپل ځان او د ژوند د ټولو نه د ښۀ او اصل استعمال طرف ته د تلو او د هغې د ضرورت د محسوسولو د پاره»

مفتي دکتور کرامت الله

مجلسِ علم و فکر شانګله

عرضِ ناشر

د رسول اکرمﷺ احادیثِ مبارکه کوم چې د قرآن بیانونکي او د دین او شریعت دویم اصل دے، هغه څنګه چې په اصل عربۍ ژبه کښې په مختلفو صورتونو او شکلونو کښې موجود دي دغه رنګي د دنیا په نورو مشهورو ژبو کښې هم موندلے کیږي، لکه څنګه چې قرآنِ پاک دے۔ دا زیرِ نظر کتاب "تحفهٔ احادیث" کوم چې والدِ محترم مفتي کرامت الله صاحب تیار کړو، په پښتو ژبه کښې د څهٔ دپاسه څلورو زرو حدیثونو مجموعه ده کوم چې د دین د بیلو بیلو شعبو والا او د څهٔ نورو خبرو متعلق دي۔

پښتو ویونکي او پهٔ پښتو پوهېدونکي کسان کهٔ د رسول اکرمﷺ د بعضو ارشاداتو نهٔ څهٔ خبر موندل غواړي نو دا ورله فائده مند ګرزېدے شي۔ د دې غرض ترمخه د دې د شائع کولو اهتمام وکړے شو۔

مجلسِ علم و فکر
شانګله (پښتونخواه)

فهرست عنوانات

تقريظ شيخ مولانا مفتي ډاکټر ولي خان المظفر صاحب 53
تقريظ شيخ مولانا حافظ رشيد احمد سواتي صاحب 57
تقريظ مولانا مفتي احسان الله صاحب 61
تقريظ مولانا ذاکر الله صاحب 63
تقريظ مولانا مفتي محمد اياز دراني صاحب 64
تمهيد 65
کتاب: دين و مذهب، ايمان، اسلام 72
باب: د دين څۀ بيان 72
دين صرف اسلام 72
خلقو له دين اصل، دين کښې فرض، حلال، حرام، حدود 73
دين کښې د سکوت او د ابهام والا خبرې 73
دين نصيحت دے (خيرخواهي ده) 74
د دينِ اسلام آسان والے، نرم والے وغيره 74
دين کښې د نرمۍ، آسانۍ، اعتدال او بشارت وغيره سلوک 75
د دين قائم والے، د دې تائيد او مدد د فاجرو او بدو خلقو پۀ ذريعه هم 76
باب: ايمان او اسلام 76
د ايمان او اسلام پېژنګلو 76
د ايمان او اسلام تاثير 77
د ايمان او اسلام مزه او خوږوالے 78

د ټولو نه غوره ایمان او اسلام 78

باب: د ایمان څۀ بیان 79

د ایمان څۀ شناخت، د ایمان شعبې 79

د سړي د ایمان حقیقت، د ایمان حقیقت ته رسېدل وغیره 79

د ایمان بعضې نښې 80

د ایمان د مکمل والي څۀ څیزونه 81

د ایمان لرلو څۀ شرطونه، خصلتونه، یوه خاصه خبره 81

د ایمان او کفر پۀ نسبت د خلقو څۀ طبقې 83

د ایمان متعلق څۀ خبرې 83

باب: مومن 84

د مومن څۀ علامتونه او خصلتونه 84

د مومن بعضې صفتونه، د مومن مقام 85

باب: اسلام 86

د اسلام ارکان 86

د اسلام او مسلمان والي څۀ شناخت، خصلت، شرط وغیره 86

د اسلام متعلق څۀ خبرې 87

د اسلام نه علاوه بل دین او د قرآن نه علاوه د بل نبي کتاب لټول 87

کتاب: د دین بنیادي چینې: قرآن او سنت 88

باب: د قرآن او سنت دواړو څۀ ذکر 88

کتاب: قرآن 89

باب: د قرآن متعلق څۀ بیان (مُثبت) 89

د قرآن فضیلت او شان 89

یو خاص حدیث، قرآن مُعجزه 90

د قرآن والو فضیلت 91

د قرآن حفظ کول، د حافظ فضیلت 92

قرآن ازده کول، ښودل، یوبل ته ئې درس کول، پۀ دې مشغول والے 93

د قرآن یقیني مطلب اخستل، پۀ معنو ئې پوهېدل، د غرائبو اتباع ئې کول 93

د قرآن لوستل (تلاوت کول) 94

پۀ قرآن عمل، قرآن سره تلل، احکام ئې منل 95

د قرآن خبرګیري او ساتنه کول 96

د قرآن باره کښې څۀ تاکیدونه وغیره 96

باب: د قرآن متعلق څۀ بیان (منفي) 97

پۀ قرآن کښې جنګ و جدال او اختلاف کول 97

د قرآن پۀ متشابهاتو پسې کېدل، بغیر د علم نه یا پۀ خپلې رائے سره پکښې څۀ ویېل 98

قرآن بد لوستل، حرام ئې حلال ګڼل 98

قرآن د دنیا دپاره لوستل، د خلقو نه پرې څۀ غوښتل 98

د قرآن پۀ ښودلو څۀ اخستل، قرآن هېرول 99

څۀ خلق چې قرآن به ئې د مَرُو نه نۀ اوړي، خوارج قسم 100

کتاب: سنت (حدیث) 100

باب: د سنت متعلق څۀ بیان (مُثبت) 100

سنت لازمول، عمل پرې کول، ژوندي کول، محبت ورسره ساتل 100

حديث محفوظ كول او نورو ته ئې رسول 101

ځلوېښت حديثونه محفوظ كول او رسول 102

باب: د سنت متعلق څۀ بيان (منفي) 102

د حديث انكار، د سنت نه بې رغبتي، د دې پرېښول، د دې نه بغير عمل كول . 102

د دروغو حديثونه بيانول، پۀ رسول اللهﷺ دروغ ويېل 103

كتاب: دين كښې بدعت او جاهليت راوستل 104

باب: بدعت 104

د بدعت مردودوالے، بدوالے 104

پۀ بدعت سره د سنت نه محرومي، د بدعتي نۀ څۀ عمل قبول نۀ توبه 105

د بدعتي احترام كول، ځائے ورله وركول 105

باب: جاهليت او بدې طريقې، د هغې ختمول 106

د جاهليت، د بدو طريقو او د ګمراه كونكو خبرو وعيد، وبال 106

بدعتونه او بدې طريقې ختمونكے، د دين تجديد كونكے (مجدّدِ) 106

كتاب: د دين علم، متعلقات 107

باب: د دين د علم مختلفې خبرې 107

د دين د علم نشان دهي 107

د دين د علم او پوهې فضيلت، د دين د علم دپاره دعاء 107

علم حاصلول، ازده كول، د هغې اجر 108

علم طلب كول، د طلب او د طالب فضيلت 109

علم ازده كول او بيا نورو ته ښودل، د دې تاكيد او ثواب 109

د خير د ازده كولو او نورو ته ئې د ښودلو اجر او فضيلت 111

د علم د خبرې تپوس کول 112

علم سره وقار، برداشت، نرمي، آساني وغيره 112

د علم نه نفع حاصلول، عمل پرې کول 113

د هدايت او د علم نه د فائدې اخستو يو مثال 113

د عالم فضيلت 114

د عالمانو د پېغمبرانو سره نسبت 115

د ټولو نه لوئې عالم، د ټولو نه غوره عالمان، د کښېناستو لائق عالم 116

د عالم اکرام کول، د هغۀ خطا نۀ نيسل 116

باب: جهل (بې علمي)، د علم باره کښې څۀ بد ياني 117

د جاهل پاتې کېدو او د علم نۀ حاصلولو بدوالے 117

بغير د علم نه د دين څۀ ښودل، پۀ فتویٰ ورکولو جرأت 117

علم بل چا له يا دنيا له يا غلط مقصد له يا د ريا دپاره حاصلول 118

نفع نۀ ورکونکے علم، د علم نه نفع نۀ اخستل 119

پۀ علم عمل نۀ کول 119

علم پټول، پۀ علم کښې خيانت کول 120

علم نااهل ته ښودل، علم تجارت جوړول 120

بد عالمان 121

د علماؤ د حکمرانانو سره (بغير د عذر نه) ملاوېدل 121

علم قبض کېدل، پورته کېدل، جهل ظاهرېدل، قبض پۀ قبض د علماؤ سره 122

کتاب: دين کښې روا او ناروا 123

باب: د ښۀ او بدو عملونو څۀ خبرې 123

د نیک او بد عمل متعلق څۀ تاکید وغیره، نیک او بد دواړه بیان شوي........ 123

د نیکۍ او د بدۍ پخپله پېژندل.. 123

د آخرت خیر پۀ ښۀ عملونو کښې او بې خیري پۀ بدو کښې 124

د ژوندو ښۀ او بد عملونه د هغوۍ مړو ته پیش کیدل 125

کتاب: ښۀ عملونه 125

باب: د ښۀ عملونو، نیکیانو، څۀ بیان 125

فرض او نفل عملونه.. 125

د عملونو ښۀ والے او قبول والے وغیره، د غوره والي څۀ خبرې 126

باب: د ښۀ عملونو د کولو معامله... 126

عملونو کښې اعتبار د نیت، خواهش او د اخلاص، د اخلاص فضیلت.......... 126

عملونه دنیا له یا د الله نه علاوه بل څۀ یا بل چا له کول 127

د ښۀ عملونو د کولو صرف نیت او قصد 129

پۀ عمل کولو کښې آساني او اعتدال لرل.. 129

باب: د نیکیانو او ښۀ عملونو تاثیر، فائده، اجر 131

د نیکیانو د ګناهونو کفاره جوړېدل.. 131

ښۀ عملونه د مرګ پۀ وخت او پۀ آخرت کښې.. 131

قیامت کښې د ښۀ عملونو او د اسلام راتلل.. 132

پۀ آخرت کښې د نیکیانو بدلې.. 132

کتاب: بد عملونه 133

باب: محرّمات، ګناهونه.. 133

د الله حرام کړي کارونه او د هغې نه د منع کېدو حکم............................ 133

د حرامو کارونو د نۀ کولو فضیلت او د کولو وعید 133

د ګناه د آخرت او د دنیا څۀ نقصان، وبال، استدراج 134

ګناهونه (یا بعضې ګناهونه) او ایمان............ 135

د ګناهونو ډېرېدل، واړۀ ګناهونه، د مومن ګناه او د منافق ګناه 135

نۀ معاف کېدونکے ګناه، ښکاره ګناه............ 136

کتاب: د الله یره، تقویٰ، د ګناهونو نه احتراز............ 136

باب: د الله یره............ 136

د الله نه یرېدل، د هغې ثواب............ 136

د الله د یرې نه د زړلو، اوښکو بیولو او رپېدلو ثواب 137

د الله د عذاب نه یرېدل وغیره 137

باب: تقویٰ، پرهېزګاري (ورع)............ 138

د تقویٰ تاکید او فضیلت 138

د الله پۀ نزد غوره والے او عزت صرف پۀ تقویٰ............ 139

باب: د ګناهونو نه بچ کېدل، پۀ ګناهونو ژړا 139

د ګناهونو د پرېښولو تاکید او فضیلت، د وړو ګناهونو نه ځان ساتل 139

د شک د خبرو نه ځان ساتل 140

پۀ خپلو ګناهونو ژړا کول 141

کتاب: عقائد ، الٰهیات، متعلقات............ 141

باب: ایمان، یقین، تصدیق، اعتقاد ، شهادت، اقرار............ 141

یقین و تصدیق او هغه څۀ د څۀ چې یقین لرل دي، د دې تاثیر او فائده 141

باب: د الله متعلق څۀ اُمور 142

د الله عبادت، طاعت، د هغهٔ د رضا قصد کول.......... 142

د الله پهٔ عبادت کښې احسان، الله ته نزدې کېدل.......... 142

الله ته زیاتې سجدې کول.......... 143

د الله دپاره محبت، بغض، څهٔ ورکول، نهٔ ورکول وغیره.......... 143

د الله حمد و ثنا او شکر، الحَمدُ لله ویېل.......... 144

باب: څهٔ متعلقات.......... 145

د الله د معرفت، عبادت او اطاعت وغیره څهٔ فوائد.......... 145

د الله رحمت، د هغهٔ رحمت د هغهٔ پهٔ غضب غالب او د غضب نه مخکښې.......... 147

باب: توحید، د توحید اقرار، کلمه.......... 148

لَا اِلٰهَ اِلَّا الله منل، ویېل، ددې فضیلت.......... 148

د توحید او رسالت کلمه، د دواړو اقرار، فضیلت.......... 149

باب: د توحید سره متعلق څه اُمور.......... 150

هر څهٔ د الله پهٔ مشیئت، د هغهٔ د طرف نه او د هغهٔ پهٔ حکم.......... 150

سوال او مدد صرف د الله نه.......... 151

قسم صرف پهٔ الله خوړل، د الله د خاص والي څهٔ علم.......... 151

باب: شرک (پهٔ ضد د توحید).......... 152

شرک او د هغې بدوالے، وعیدونه.......... 152

باب: بعثت، نبوت (رسالت)، متعلقات.......... 152

د رسول اللهﷺ بعثت، څهٔ مقصد او حکمت، د بعثت د مثال څهٔ نمونه.......... 152

د رسول اللهﷺ څهٔ مُعجزې.......... 153

د رسول اللهﷺ فرمان برداري او نافرماني.......... 154

باب: د رسول اللهﷺ شان مُبارک 155

رسول اللهﷺ رحمت او هدايت 155

د رسول اللهﷺ افضليت، د هغوی او د هغوی د اُمت څۀ فضيلت 155

د رسول اللهﷺ د سيرت او شمائلو څۀ نمونې 156

باب: ختم النبوة 160

رسول اللهﷺ آخري نبي (خاتم النبيين) 160

د رسول اللهﷺ نه روستو د نبوت دعویٰ 160

باب: صحابه، تابعين، تبع تابعين 161

د صحابو فضيلت، د هغوی اکرام او اقتداء، د هغوی دفاع 161

صحابو ته بد ويېل، تکليف ورته رسول 162

د رسول اللهﷺ، د اصحابو او د اُمت څۀ خبره، د خلقو د فضيلت ترتيب 163

باب: تقدير 163

د تقدير څۀ خبرې، هر څۀ پۀ تقدير سره 163

د انسان رزق، مرګ او تقدير، جنت دوزخ او تقدير 164

پۀ تقدير راضي کېدل، پۀ تقدير کښې څۀ نۀ ويېل 166

د تقدير انکار او انکار کونکي 167

پۀ تقدير نۀ راضي کېدل، پۀ تقدير کښې بحث کول 167

باب: د قيامت عقيده 168

د قيامت او د دوباره ژوندي کېدو يقيني والے 168

کتاب: عبادات، متعلقات 168

باب: پاکي، اودس 168

نمانځۀ له پاکی، اودس، د اوداسۀ تاکید ، فضیلت 168

اودس پوره کول 169

اوداسۀ کښې اندامونه یو یو ، دوه دوه او درې درې ځله اینزل، درې ځله سنت. 170

اوداسۀ کښې بسم الله، مضمضه، استنشاق، د غوږونو مسح 170

اوداسۀ کښې د ګوتو او ګیرې خلال، پوندې اینزل 171

اوداسۀ کښې یا نمانځۀ له مسواک کول 171

د رسول اللهﷺاودس 172

تیمم، تحیة الوضوء.. 172

باب: نمونځ (مُثبت څۀ) 173

د نمانځۀ اهمیت، تاکید ، فضیلت، اول حساب د نمانځۀ.............................. 173

د نمانځۀ ګناهونو له کفاره جوړېدل 174

د نمانځۀ څۀ خصلتونه او فائدې 175

پینځۀ فرض نمونځونه، پۀ ښۀ شان سره ئې د کولو اجر (د نۀ کولو ئې وعید) 175

د سحر او د مازیګر د نمانځۀ فضیلت 176

د نمانځۀ وختونه، منع وختونه، نمونځ پۀ اول وخت کښې کول 176

د نمونځ کونکي خپلې مخې ته ستره ودرول 177

فرض مانځۀ پسې څۀ اوراد (ذکر، استغفار، دعاء)................................. 177

فرض نمونځونو سره سنت، نفل... 179

د شپې نمونځ (تهجد)، د هغې فضیلت، تهجدو کښې د خوب غلبه............... 179

د څاښت نمونځ (صلوٰة الضحیٰ) 180

جماعت (جَمعې) سره دمانځۀ تاکید او فضیلت.. 181

بانګ ویېل، د هغې ثواب، د بانګ جواب، بانګ اورېدو نه روستو څۀ ویېل. 182
بانګ نه پس پۀ رسول اللهﷺدرود او هغوی له دعاءِ وسیله............ 183
جماعت له جمات ته تلل، پۀ تیارۀ کښې تلل، د لرې نه تلل............ 183
جمات کښې د نمانزۀ پۀ انتظار کښېناستل 184
د ماسختن او د سحر نمونز پۀ جماعت سره 184
مانزۀ له پۀ آرام او سکون سره تلل، اګرکۀ څۀ نمونز لاړ شي 185
پۀ ړومبي صف کښې او ښې طرف ته ودرېدل............ 185
صفونه جوړول او برابرول، تکبیرِ تحریمه، څلوېښت ورزې هغه موندل 186
د امام اتباع کول، هغۀ سره داخلېدل،د امام قراءت د مقتدي قراءت............ 187
امام له نمونز لنډ کول............ 188
د امامت زیات حقداران، صحیح او غلط امامت، فاسق پسې نمونز............ 188
د جُمعې نمونز، څۀ تاکید ، آداب، د جُمعې خطبه 189
د جُمعې د ورزې فضیلت، درود پکښې زیات ویېل............ 190
د اختر نمونز، سفر کښې نمونز (سفرانه مونز) 190
پۀ کورونو کښې (نفل) نمونز، د نمانزۀ منع ځایونه............ 191
باب: نمونز (منفي څۀ) 192
د نمانزۀ د نۀ کولو ، د پرېښولو وعید ، د مازیګر نمونز پرېښول، پاتې کېدل... 192
نمونز بد ، بې طریقې، بې وخته، د وخت نه روستو کول، 193
دوه نمونزونه جمع کول............ 193
نمانزۀ کښې خشوع نۀ لرل، آخوا دېخوا کتل وغیره، نمونز کونکي پۀ مخکښې تېروتل............ 194

جَماعت سره نمونز نۀ کول.......... 195

د جُمعې نمونز نۀ کول، د خلقو پۀ څټونو اوختل، خطبه کښې خبرې کول........ 196

د امام نمونز اوږدول، ځان پۀ دعاء پورې خاص کول، د قوم پۀ ناخوښه امامت کول 197

د مقتدي د اولني صف نه روستو کېدل، صف ماتول ، د امام نه مخکښې کېدل 198

پۀ نمانزۀ سره د بدو نه نۀ منع کېدل 199

باب: جماتونه 199

د جمات فضیلت، د جوړولو تاکید او فضیلت.......... 199

جمات پاک ساتل، خوشبو ورله ورکول، خبر ئې اخستل.......... 200

جمات ته د ننوتو او جمات نه د وتو دعاء، تحیة المسجد 200

جمات کښې څۀ منع خبرې، جماتونه اوچتول، نقش و نګار ئې کول، فخر پرې کول 201

باب: زکوٰة (ورکول او نۀ ورکول) 203

زکوٰة ورکول، اهمیت، فضیلت.......... 203

زکوٰة د مال پاک والے، پۀ زکوٰة ورکولو(عمومي) مالي ذمه ختمېدل 203

زکواٰة نۀ ورکول.......... 204

د زکواٰة پۀ جمع کولو کښې غلول (خیانت)، 205

د زکواٰة ښۀ او بد عامل (جمع کونکے) 205

باب: روژه او متعلقات (مُثبت، منفي) 205

د روژې فضیلت، روژه کښې خپله ژبه او نور اندامونه قابو ساتل 205

د رمضان میاشت لیدل، د رمضان او د رمضان د روژو فضیلت 207

رمضان کښې نیک عملونه او زیات کوشش کول 207
روژې له پیشمنے کول، روژه ماتول، د روژې ماتولو دعاء 208
چا له روژه ماتے ورکول، روژه دار کره د چا د ډوډۍ د خوړلو فضیلت 209
تراویح، د هغې فضیلت، د اعتکاف فضیلت 210
لیلة القدر، د هغې فضیلت او څۀ عملونه 210
صدقۀ فطر 212
روژه نۀ نیول، روژه کښې دروغ وغیره نۀ پرېښول، د اختر پۀ ورز روژه نیول 212
رمضان کښې د رحمت او مغفرت نه محروم پاتې کېدل 213
باب: حج، عمره، قرباني (مُثبت، منفي) 213
حج کول، د حج او د عمرې فضیلت 213
د حج کونکي او عمره کونکي دعاء 214
حج نۀ کول، حج کښې ریا او اورونه کول 215
قرباني، فضیلت، څۀ آداب، د نۀ کولو وعید 215
باب: نذر منل 216
د نذر حقیقت وغیره 216
د ګناه د خبرې نذر، هغه نۀ پوره کول 216
کتاب: اخلاق او معاشرت 217
باب: ښۀ اخلاق (بنیادي، معاشرتي) 217
د ښۀ اخلاقو تاکید، فضیلت، اهمیت، فائدې 217
ښۀ اخلاق او دین، ښۀ اخلاق او جنت 219
د ښۀ اخلاقو یو صورت 219

خوش اخلاقه خلق، د هغوی ځۀ فضیلت 220

د رسول اللهﷺاخلاق، د هغې ځۀ نمونه، ښۀ اخلاقو له د هغوی ځۀ دعاګانې... 220

باب: بد اخلاق (بنیادي، معاشرتي) 223

د بدو اخلاقو بدوالے، وبال، د رسول اللهﷺ د بدو اخلاقو خلاف دعاء 223

د بداخلاقه خلقو بدوالے، جنت نه محروم، دوزخ ته تلونکي 223

کتاب: ځۀ اخلاقي، معاشرتي او ذاتي ښۀ او بد عملونه، خصلتونه................ 224

باب: ښۀ عملونه، متعلقات.. 224

د الله او د هغۀ د رسول سره محبت.. 224

پۀ الله توکل او اعتماد ، د توکل یو صحیح صورت........................... 225

یقین لرل، راضي والے، ښۀ ګمان ساتل 226

د الله یره، اُمید (د رحم) او یره (د عذاب نه) 227

اخلاص، حیا (فطري، معاشرتي)، فضیلت 227

خپل خواهش پرېښول، د نفس او د زړۀ غني والے 228

د خلقو نه بې پروا اوسېدل.. 229

سخاوت، د سخي ځۀ فضائل 229

د خیر وینا یا خاموشي، د خاموشۍ ځۀ فضیلت................................. 230

رشتیا ، ویېل، ښۀ وعده.. 231

امانت ساتل، خیانت نۀ کول، د خبرې، د مشورې، د مجلس او د راز امانت ... 232

نظر ښکته کول، شراب نۀ څښل، ګیره اوږدول، بریت صفا کول 233

تواضع، د دې تاکید او فضیلت، پۀ تواضع سره اوچت والے راتلل، بې تکلفي وغیره 234

د رسول اللهﷺ د تواضع او بې تکلفۍ وغیره څۀ نمونه 235

رسول اللهﷺ پۀ خپل کور کښې 237

بُردباري، قرار و استقامت، اطمینان و وقار 237

صبر، د هغې فضیلت، اهمیت، صبر د مصیبت پۀ شروع کښې، صبر او شکر . 238

د خلقو بد سلوکي معاف کول، صبر پرې کول 240

د غلطیانو او ظلم د معافۍ او پۀ هغې د صبر اجر و ثواب، عزت پرې زیاتېدل 241

پۀ ظلم صبر، د بدو معافۍ، د جهل برداشت او د قیامت ورز 242

بُغض او پۀ زړۀ کښې خیرے نۀ ساتل، د خلقو عیبونه نۀ لټول، غیبت نۀ کول .. 242

غصه نۀ کول، قابو کول، نۀ ښکاره کول، نۀ ویستل، اصل پهلوان.......... 243

د غصې پۀ حالت کښې عمل، د غصې پۀ معامله کښې د خلقو څۀ طبقې 244

انصاف، نرمي، آساني، خنده روئي، نرم، پاستۀ، آسان، خنده رویه وغیره خلق 246

خلقو سره ښۀ سلوک کول، د هغې څۀ علامت.. 247

نیکي او مدد کول، د هغې بعضې خبرې، د بدۍ پۀ بدله کښې نیکي.......... 248

پۀ مخلوق رحم کول، خلقو ته نفع رسول 250

د خلقو حاجتونه پوره کول، پۀ الله سره د څۀ غوښتونکي مقصد پوره کول...... 251

د غمزپلي او مظلوم مدد کول، مصیبت والا له تسلي ورکول........................ 251

مسکینانو، فقیرانو سره محبت او نیکۍ کول 252

لارې نه د تکلیف څیز لرې کول.. 253

بوټے نالول چې خیر ترې رسي 254

خلقو مینځ کښې صلح کول، د دې تاکید او فضیلت، متعلقه څۀ خبرې.......... 255

باب: بد عملونه، متعلقات 255

د نفس خواهش، شک، ناراضي 255

بې حیاوالے، د حیا د وتو وبال 256

ریا ، سُمعه (ښودنه، اَورَوُنه)، ریا شرک دے 257

ریاکار قاري، عالم، صدقه ورکونکے، حاجي، مجاهد 258

عُجب (ځان ښۀ ګڼل) 259

تکبر لرل، کول، د هغې وعیدونه او وبال 260

پۀ تکبر سره تلل، د تکبر نه جامه راخکل 261

د تکبر حقیقت 261

ځان غوره، قوي او غالب ګڼل، د خلقو دۀ ته ودرېدل خوښول 262

چا ته فاسق یا کافر وغیره یا هلاک ویېل، یا دا چې الله به هغه نۀ بخښي 263

بوډا ، عالم او بادشاه ته سپک کتل، د مشر او عالم عزت نۀ کول 263

فخراو زیاتے کول، پۀ پلار نیکۀ فخر کول 264

بُخل، حرص، بُزدلي، طمع 264

د دنیا اومال و جاه محبت، د هغې وبال 266

شهرت، شهرت اختیارول، د شهرت د جامې اغوښتل، وعیدونه 266

اوږد اُمید ، آرزوګانې 267

منافقت، د منافق نښې، د دوؤ مخونو والا کېدل 268

دروغ ویېل، وبال، وعیدونه 269

پۀ ټوقه اوجنګ کښې دروغ ویېل، هره اورېدلې خبره بیانول 271

د دروغوخوب بیانول وغیره، پۀ دروغه څۀ خپل ګڼل 271

وعده نهٔ پوره کول، د امانتو خیال نهٔ ساتل، خیانت کول.......... 272
غیبت کول، د غیبت خلاف د چا دفاع نهٔ کول.......... 272
غیبت څهٔ ته وایي؟ د غیبت کفاره 273
مخامخ صفت (مدح) کول.......... 274
چا پورې دروغ جوړول، پهٔ چا تهمت لګول 274
پهٔ خلقو عیبونه لګول، عیبونه ئې ښکاره کول 275
د چا پټو خبرو ته غوږ اېښودل، معلومول، لټول، د چا پرده ماتول، بدګماني کول 275
طعن، فحش، کنزل، بدې ردې، لعن، لعنت 276
خېرې (بددعائي)، خپل ځان ته خېرې.......... 278
پېغور او زُورنه ورکول، ټوک ربل.......... 278
عصبیت، تعصب، د عصبیت مطلب 279
نسب ته کتل، نسبت قائمول، د چا نسب ته بد ویېل 280
ځان د خپل پلار نه علاوه بل چا ته منسوب کول.......... 281
فرقه بندي، فرقه پرستي.......... 281
خبرې رسول، چغلي کول، جدائي او فساد راوستل 282
حسد کول.......... 283
بغض ساتل، یو بل پرېښول، عذرنهٔ منل 283
د الله پهٔ نافرمانئ کښې غصه ویستل، د غصې بدوالے، نقصان.......... 285
جګړه کول، پهٔ جګړه کښې د ناحق مدد او حمایت کول، فتنه راپورته کول وغیره 286
خلقو ته ضرر او مصیبت رسول، د تکلیف څهٔ خبرې.......... 287

د لارې پۀ مينځ کښې کښېناستل، لار ګنده کول، لار تنګول 287

پۀ لاره، سورې، اُوبو وغيره کښې واړه لوئ بول کول 288

نرمي نۀ کول، سختي کول، د زړۀ سخت والے 288

رحم نۀ کول، نۀ لرل 289

عذاب ورکول، پۀ اُور سره عذاب (سزا) ورکول، زياته سزا ورکول.................. 290

ظلم کول، پۀ ظلم کښې د ظالم مدد کول، د مظلوم بددعائي (خبرې) 290

ظالم د ظلم نه نۀ منع کول 291

ظالم ته خبرې او کنزل کول، د معافئ نه روستو ئې بيا رټل 292

ناحق قتل، وعيدونه، د ټولو نه بد قتل کونکي 292

پۀ شريکه قتل، په قتل کښې مدد ، پۀ قتل راضي کېدل 294

پۀ ناحقه او ناحق څۀ اخستل، د چا څۀ شے د هغۀ پۀ ناخوښئ اخستل 294

دوکه، غلا ، غصب، لوټ 295

پۀ آخرت کښې د حقونو واپس کېدل، بدله اخستے کېدل 296

رشوت ورکول او اخستل، بد سفارش، پۀ سفارش څۀ قبلول 298

اسراف، فضول خرچي.. 299

د سرو او سپينو زرو او ريښمو استعمال 299

شراب څښل، د هغې وبال، شرابو نه پۀ لسو تنو لعنت................................ 300

نشه وغيره، جوارې 301

ګيره خريل، بربت نۀ اخستل، ويښتۀ بدلول، تورول وغيره ، پۀ مخ داغ، بدن کښې رنګ 302

پړکے پټول، پينځې اوړدول 303

تصویرونه جوړول یا ساتل، سپي او جرس ساتل.......... 304

نجوم، سِحر، کهانت (غیب ویېل)، بدفالي، منتر وغیره، د کاهنانو عمل....... 305

وصیت نهٔ کول، بد وصیت کول 306

کتاب: اخلاقي، معاشرتي څهٔ مختلف ابواب.......... 307

باب: صله رحمي او قطع رحمي.......... 307

صله رحمۍ، دهغې تاکید او فضیلت، د هغې د دنیا څهٔ خیر او فائده.......... 307

د قطع رحمي کونکي سره صله رحمي کول.......... 307

د صله رحمۍ او د ښهٔ سلوک زیات حقداران.......... 308

د قطع رحمۍ وعیدونه 309

باب: د مور او پلار پهٔ باره کښې د ښهٔ والي او بدوالي څهٔ خبرې.......... 310

د مور او پلار سره ښهٔ سلوک او نیکي.......... 310

مور او پلار سره ښهٔ سلوک جهاد یا د جهاد وغیره نه غوره.......... 311

مور او پلار سره د مرګ نه روستو نیکي، د پلار د دوستانو سره تعلق ساتل.. 312

د مور او پلار د نافرمانۍ څهٔ علاج.......... 313

د مور او پلارسره نیکي نهٔ کول یا بد کول.......... 313

د مور او پلار نافرماني، دنیا کښې د هغې وبال، بد اولاد 314

باب: د اولاد او لوڼو خوېندو پهٔ باره کښې.......... 314

اولاد سره نیکي، د هغوی حق، هغوی ته ښهٔ ادب ښودل.......... 314

اولاد ته پهٔ ورکړه کښې برابروالے کول 315

د مور او پلار پهٔ حق کښې د وړو مرګ، د بچي بوئي، د مور او پلار دعاء..... 316

د لوڼو او خویندو خیال او پالنه 317

باب: د خاوند او د ښځې د يو بل په باره کښې 318

د خاوند او ښځې مينځ کښې څه منع خبرې................................ 318

په ښځه د خاوند حق، د هغۀ حکم منل، د هغۀ د راضي کولو او حکم منلو ثواب 319

ښۀ ښځه، په ټولو کښې غوره او نيکه ښځه 320

په دين کښې مددګاره ښځه، ښځې له جنت ته د تلو يوه لار 321

د ښځې د خاوند حق نۀ ادا کول، خبره ئې نۀ منل، شکايتونه، ناشکري.......... 321

په خاوند د ښځې حق، وغيره، نفقه، دوۀ ښځو کښې برابروالے.......... 322

باب: د مسلمان په باره کښې................................ 323

مسلمان له د نيکۍ مختلف څۀ کول................................ 323

د مسلمان خيرخواهي 324

د مسلمان مدد کول، حاجت ئې پوره کول، سخته ترې کول 325

مسلمان خوشحالول، مشوره ورله ورکول، ښۀ ورله خوښول................................ 325

د مسلمان عزت او اکرام کول، په هغۀ د خير ګمان کول 326

د مسلمان د عزت نه ژبه منع ساتل، د هغۀ د وينې، مال او د عزت حرمت 327

مسلمان او د هغۀ عزت بچ کول، بې څوکه ئې نۀ پرېښول، د غيبت خلاف ئې دفاع کول 327

په مسلمان پرده اچول، عيب ئې پټ ساتل................................ 328

مسلمان له غائبانه دعاء او د مغفرت دعاء غوښتل 329

د مسلمان څۀ حقونه، مومن د مومن آئينه................................ 329

د مسلمانانو يووالے، يو بل سره همدردي وغيره 330

مسلمان د مسلمان ورور، د ورورولۍ څۀ خبرې................................ 331

مسلمان د الله پۀ ذمه کښې، د هغۀ ذمه اخستل 331

مسلمان ته تکليف، سختي، ضرر رسول، تنگي ورسره کول، تکليف والا اشاره 332

مسلمان سپک گڼل، د عزت نقصان، کنزل، جنگ، وهل، ټوقې، لعن وغيره .. 333

د مسلمانانو فکر نۀ کول، مسلمان بې څوکه پرېښول 334

مسلمان له بده مشوره ورکول، مسلمان يرول، د مسلمان پۀ مصيبت خوشحالېدل 334

باب: د گاونډي پۀ باره کښې 335

گاونډي سره ښۀ سلوک، هغه نۀ تکليفول، د هغۀ اکرام کول، هغۀ له څۀ ورکول335

د گاونډي څۀ حقونه، قيامت کښې د ټولو نه رومبۍ فيصله د گاونډي 336

گاونډي او مومن والے، ښۀ گاونډي 337

گاونډي تکليفول، د گاونډي خيال نۀ ساتل، بد گاونډي 337

د گاونډي د ښځې سره د بدکارۍ او د هغۀ د کور نه د غلا کولو وبال او عذاب338

باب: د يتيم، مسکين او کونډې پۀ باره کښې 339

يتيم سره ښۀ سلوک، د هغۀ پالنه وغيره، د مسکين او کونډې خيال ساتل 339

د خپلو يتيمانانو وړو دپاره وادۀ نۀ کونکې ښځه 340

يتيم سره بد سلوک کول، حق ئې ضائع کول 340

باب: د خادم، غلام او ذمي پۀ باره کښې 341

د خادم، غلام او ذمي سره ښۀ سلوک کول 341

غلام، خادم او ذمي ته تکليف رسول 342

باب: د ځناورو پۀ باره کښې 343

ځناورو سره ښۀ سلوک کول، رحم پرې کول 343

ځناورو له عذاب ورکول، د ځناور مخ داغل 344
کتاب: د معاشرتي ژوند والا څۀ ابواب 346
باب: میل ملاپ، صحبت وغیره، ملګرتیا 346
د میل ملاپ غوره والے، صحبت د نیکانو سره، ډوډۍ پۀ هغوی خوړول 346
ملګرتیا، ښۀ ملګرے او بد ملګرے 346
باب: محبت، دوستي وغیره 348
محبت، عشق، دوستي، الفت 348
یو بل سره د محبت کونکو پۀ قیامت کښې یو ځائے والے 349
د الله دپاره محبت کول 349
محبت (او بغض) کښې اعتدال او احتیاط 350
د یو قوم مشابهت، محبت د هغۀ تعداد زیاتول 350
باب: د بدو خلقو پۀ باره کښې څۀ خبرې 350
فاسق او منافق سره محبت نۀ ساتل، بغض ساتل، د فاسق غیبت یا بد ذکر 350
د بدانو، مشرکانو، ظالمانو سره د اوسېدلو او میل ملاپ ساتلو وعید 351
د بدو خلقو صفت او عزت کول، د فاجر سرې نعمت ته زوربدل 351
باب: اکرام و احترام 352
د اکرام لائقو خلقو اکرام کول 352
د انسان احترام، د مخ احترام 353
کتاب: د خرچ، مال خرچ کولو، صدقې، قرض او د سوال د خبرو ابواب 354
باب: خرچ کول (انفاق) 354
د خرچ کولو تاکید او فضیلت، پۀ خرچ کښې درمیانه والے 354

د الله پۀ لار کښې او د رضا دپاره خرچ کول.......... 354
پۀ مور او پلار، خور او ورور او نورو نزدې خپلوانو خرچ.......... 355
پۀ خپل ځان، کور والو، اولاد، ښځه او خادم خرچ کول صدقه ده.......... 355
د چا نه خرچ (نفقه) بندول.......... 356
باب: مال خرچ کول.......... 356
د مال د خرچ کولو تاکید، مال ډېر ډېر او پۀ ښۀ طریقه خرچ کول.......... 356
مال د الله پۀ لار کښې او پۀ خپل کور والو خرچ کول، سِوا څۀ حاجتمند له ورکول.......... 357
باب: صدقه (نفلي).......... 357
د صدقې ورکولو تاکید، اجر او فائده.......... 357
د ټولو نه غوره صدقه، د پټې صدقې ثواب.......... 358
پۀ خپل ځان، اولاد، خادم، ښځه، خاوند او خپلوانو صدقه کول.......... 359
د فقیر د صدقې ورکولو ثواب، د صدقې برابر یو درود شریف.......... 360
صدقه (او هبه یا عطیه) واپس اخستل.......... 360
باب: قرض.......... 361
د قرض فضیلت، قرض کښې تنګ لاسي ته آساني، مهلت، کمول، معاف کول 361
تنګ لاسي له مهلت ورکول صدقه ده.......... 362
قرض ورکونکي له د قرضداري څۀ نۀ قبلول، د قرض نه نفع نۀ اخستل.......... 362
د قرض (وغیره) د واپس ادا کولو فضیلت.......... 363
د قرض پۀ واپس کولو او واپس غوښتو کښې د خلقو څۀ قسمونه.......... 363
د قرض وبال، بدوالے، د قرض غوښتونکي سختي.......... 364

قرضداري نه پهٔ قيامت کښې بدله، علاوه د دري قرضدارانو نه 364

قرض واپس نهٔ ورکول، ټال مټول کول 365

باب: سوال 365

سوال کونکي له او پهٔ الله سره سوال کونکي څهٔ ورکول 365

د خلقو نه سوال نهٔ کول 366

بغير د سوال او غوښتو نه او بغير د حرص او طمعې نه چا ته څهٔ ملاوېدل 366

بې ضرورته سوال کول، وعيدونه، وبال 367

پهٔ حرص، طمع او اصرار سره سوال کول 368

د الله پهٔ نوم سوال کونکي له څهٔ نهٔ ورکول 368

کتاب: څهٔ متفرق عام ابواب 369

باب: د ژبې ښهٔ او بد استعمال، د خبرو ښهٔ والے او بدوالے، متعلقات 369

د ژبې متعلق څهٔ تنبيه 369

ژبه قابو ساتل 369

د الله د يرې وغيره نه د ژبې بندوالے، د ژبې د شر نه بچ ساتلے کېدل 370

پهٔ خبرو کښې لنډوالے او کم والے کول 370

ښکلې خبرې کول، خلې نه پهٔ ناغرضئ سره ښهٔ څهٔ ويستل 371

د ژبې آفت او شر 371

بې فائدې او بې ضرورته خبرې کول 372

بدې خبرې کول، خلې نه پهٔ ناغرضئ سره بد څهٔ ويستل 373

زياتې خبرې کول 373

خبرو کښې تکلف، چل، مبالغه، ژور والے 374

پهٔ خبرو خلق خندول 375

ډېره خندا ، د هغې وبال او نقصان 375

باب: شاعري او موسيقي وغيره 376

ښهٔ او جائزه شاعري 376

د عبدل الله بن رواحه او د لبيد بيتونه 377

بده شاعري، سندرې ويېل وغيره 377

باب: عبث څيزونه، مشغلې، متعلقات 378

د بې فائدې څيزونو د پرېښولو خير او ثواب، پهٔ هغې کښې د مشغولېدو ګناه او وبال 378

د عبث، باطل، لهو څيزونو بدوالے، بعضې بې فائدې او بدې مشغلې، لوبې وغيره 379

بازارونه، بازارونو ته تلل وغيره 380

کتاب: د مختلفو آدابو وغيره ؤ څهٔ ابواب 380

باب: ملاقات، اجازت، سلام وغيره 380

يو بل سره ملاقات، اجازت غوښتل، د اجازت غوښتو ادب او طريقه 380

سلام ويېل، د دې تاکيد او فضيلت، د سلام جواب ورکول، رومبے سلام 382

د سلام څهٔ آداب، د چا سلام رسول، د هغې جواب ورکول 383

خپل کوروالو ، (عامو) ښځو ، ورړو او غيرمسلمو ته سلام 384

لاس ملاوول (مُصافحه کول)، د دې فضيلت، ثواب 385

غاړې وتل (مُعانقه کول)، خکلول کول، واړهٔ خکلول 386

باب: مېلمستيا ، دعوت، ډالۍ 386

مېلمستياکول، د مېلمه اکرام کول، د مېلمه کوربه ته دعاء کول 386
د مېلمستيا او مېلمه څۀ آداب 387
دعوت، ډالۍ، ورکول، قبلول، يو بل له د ډالۍ ورکولو فائده 388
باب: خوراک څښاک، متعلقات 389
د خوراک څښاک څۀ آداب 389
د خوراک نه پس ګوتې او لوښے څټل 390
د خوراک پۀ شروع کښې د الله نوم، د هغې نه روستو د الله حمد 391
خوراک پسې څۀ مسنون حمدونه وغيره 391
يوځائے خوراک خوړل، د لږو خوراک ډېرو له کافي کېدل 392
خوراک څښاک (وغيره) کښې د ښي لاس (او ښۍ پخې) او ښي طرف لحاظ 392
د خوراک عيب نۀ بيانول 394
د ډېر خوراک بدوالے 394
باب: اسوېلے، پرنجے، قضاءِ حاجت 395
د اسوېلي او پرنجي څۀ آداب 395
د قضاءِ حاجت څۀ آداب، د پېشابو نه ځان نۀ ساتل 396
باب: مجلس، کښېناستل، څملاستل، اودۀ کېدل 397
د مجلس او کښېناستو څۀ آداب وغيره 397
د ذکر نه بغير مجلس، د مجلس کفاره 398
پۀ لارو کښې د کښېناستو څۀ آداب، د لارې حق 399
د څملاستو او اودۀ کېدو څۀ آداب وغيره 399
باب: غسل، وېښتۀ 401

د غسل څۀ آداب، د وېښتو څۀ آداب 401

باب: پیزار، ګرزېدل، کور ته وتل، کورته راتلل، سفر 402

د پیزار او ګرزېدو څۀ آداب... 402

کور نه د وتو څۀ کلمات، کور ته د داخلیدو پۀ وخت کښې ذکر.................. 403

د سفر څۀ آداب 403

یوازې سفر کول او شپه تېرول، سفر له د تلو یوه دعاء.......................... 405

د سفر نه واپسي، د واپسۍ څۀ کلمات، واپسۍ کښې نمونځ 405

باب: د ورکي پیدائش، متعلقات.. 406

نوې پیدا شوي بچي له د برکت دعاء، تحنیک، نوم، سر خریل، عقیقه......... 406

ښۀ نومونه اېښودل، بعضې ښۀ او بد نومونه، بد نوم بدلول 407

کتاب: څۀ ضروري بابونه... 408

باب: انسان له پکار او د هغۀ د ژوند سره تړلي څۀ څیزونه.......................... 408

عقل، تدبیر، حکمت، تجربه.. 408

دین کښې د عقل فضیلت او اهمیت... 408

څۀ ښۀ خصلتونه، درمیانه والے وغیره 409

څۀ متعلقه مختلفې خبرې.. 410

کمزوري او بېکاري نۀ ښکاره کول، همت لرل، کچرې کچرې نۀ ویېل 410

حسب (د اوچت والي او کمال څیز)... 411

احتیاط کول، د احتیاط څۀ خبرې، د بل چا پۀ حق کښې احتیاط.................. 412

د اُور احتیاط.. 413

د تکلیف او ضرر څیزونه قتلول، ماران وژل 414

د هوا، وریځ او بارانۀ پۀ وخت کښې عمل، د وریځې پۀ لیدو د رسول اللهﷺفکرمندي 414
باب: د سړي د خیر د څۀ خبرو بیان 416
بې خوفي، عافیت وغیره، د طبیعت ښۀ والے 416
د الله نه د عافیت سوال کول 417
خپل عزت ساتل، ځان نۀ بې پردې کول 418
د تهمت د ځائے نه بچ کېدل، د تهمت او بدګمانۍ چا ته موقع نۀ ورکول 418
پخپله ځان له مصیبت او ذلّت نۀ اخستل 418
د آخرت عذاب پۀ دنیا کښې نۀ غوښتل، د دنیا او د آخرت خیر غوښتل 419
باب: د بدن وغیره متعلق څۀ مختلف څیزونه 419
د فطرت لس خبرې 419
مسواک کول، د هغې فائدې، د رسول اللهﷺ د مسواک کولو عادت 420
پاکي، ښائست، رانجۀ، خوشبو، خوشبو نۀ واپس کول 421
د سپي او پیشو جوټه، غوړو کښې منږک ارتاوېدل، لوښي کښې مچ پرېوتل 422
باب: عام مباح (حلال) څیزونه 423
نۀ منع کېدونکي یا شریک څیزونه، د اُوبو څۀ ذکر 423
کتاب: شکر او ناشکري، متعلقات 424
باب: شکر و ثنا، د نعمت اظهار، قدرداني، وغیره 424
شکر ویستل، ثنا او اَلحَمدُ لله ویېل، د شکر سجده کول، د نعمت اثر ښکاره کول 424
د ځان نه ښکته ته کتل، د مصیبت والا کس پۀ لیدو پۀ خپل عافیت د الله حمد و شکر 425

د خلقو شکر، نیکۍ کونکي له شکر، بدله، دعاء او مدح 426

باب: ناشکري، شکایت، بې صبري (ځان ختمول) 426

د رزق د تنګ والي شکایت او پهٔ هغې ناراض والے، خپل ښهٔ حال ته بد ویېل . 426

د مرګ آرزو او د هغې دعاء، خودکشي کول 427

کتاب: سړي، ښځې، بې پردګي، بې حیائي، متعلقات 428

باب: د سړو او د ښځو د یو بل پهٔ نسبت څهٔ څیزونه 428

سړو او ښځو له د یو بل نه تباهي، د ښځو فتنه 428

د ښځو او سړو د یو بل مشابهت کول 429

باب: بې پردګي وغیره 429

پرده او ستر نهٔ کول 429

نامحرمې سره پهٔ خوشي ځائے کښې پاتې کېدل 430

د ښځې یو ازې یا د محرم نه بغیر سفر کول 431

باب: بې باکي، بې حیائي، بدنظري، بدکاري 431

د ښځې بهر ته وتل، ګرزېدل، بې حیا او بې باکه ښځې 431

بدنظري کول، د چا کور کښې دننه کتل 432

زنا کول، د سترګو، غوږونو، ژبې، لاسونو، پخو او د زړهٔ زنا وغیره 433

بدفعلي، د ځاروي سره بدکاري 433

کتاب: معاملات 434

باب: لین دین، تجارت، بیع وغیره، متعلقات (مُثبت، منفي) 434

د تجارت تاکید، اهمیت، ښهٔ تجارت کونکے (تاجر) 434

بیع کښې آساني، نرم سلوک، چا ته بیع واپس کول (اِقاله) 435

شُفعه، د شفعې حق 435
رهن (ګاڼه)، خپل غلا شوے شے موندل 436
پۀ اُجرت سره عمل، اُجرت د مخکښې نه مقرر کول، پۀ وخت ورکول 436
بد تجارت کونکي 437
بيع کښې قَسَمونه، فضول خبرې، د خرڅ د شي عيب نۀ ښودل 437
د يوبل پۀ بيع بيع کول، پۀ يو بل قيمتونه زياتول، ناپ تول کښې کمے 438
د بيع څۀ منع قِسمونه 438
پۀ قبضه کښې چې نۀ وي د هغې خرڅول، بعضې څيزونه چې بيع ئې حرامه ده. 440
د سود (ربا) والا بيع، ذخيره اندوزي 441
باب: وراثت، د مال وصيت 442
ميراث، تقسيم وغيره، د چا ميراث وهل، حصه ئې ختمول 442
وصيت صرف د دريمې حصې پورې، وارث له وصيت 442
باب: نکاح (وادۀ)، طلاق، خلع وغيره 443
د نکاح تاکيد، فضيلت، اهميت 443
د نکاح باره کښې څۀ خبرې، نکاح د ديندارې ښځې سره 444
مهر، د کم خرچ او مهر والا نکاح او ښځه، وليمه 445
د نکاح نۀ کولو بدوالے 445
طلاق ورکول، حلاله کول، بې ضرورته خلع (د خاوند نه طلاق) غوښتل 446
کتاب: جماعت، حکومت، عهده، متعلقات 447
باب: جماعت 447
د جماعت تاکيد او اهميت 447

د جماعت نه جدا کېدل، وعيدونه 447

باب: حکومت والا څۀ خبرې (مُثبت) 448

حکومت کښې عوامو له آساني جوړول، تنګي او سختي نۀ جوړول.......... 448

حکومت کښې د الله نه يرېدل، عدل و انصاف او نرمي کول.......................... 448

باب: حکومت والا څۀ خبرې (منفي).. 449

د حکومت، د اميرۍ يا د مشرۍ وغيره بدوالے 449

حکمراني، عامل والے وغيره او د قيامت شرمندګي، پښېماني او افسوس.... 450

حکومت کښې د عوامو خيال نۀ ساتل، حاجتونه ئې نۀ پوره کول.................. 451

حکومت کښې ظلم، سختي، بې انصافي.. 452

د عوامو پۀ پټو خبرو پسې کېدل (بغير د ضرورت نه).. 453

د حکومت والو غدر کول، معاهده ماتول.. 453

معاهدې والا قتلول، مالونه ئې اخستل.. 453

کتاب: حکومت سره متعلق څۀ بابونه 454

باب: حکومتي عهده، منصب 454

حکومت کښې عهده غوښتل او پۀ غوښتو ورکول 454

بد او نااهل کس له عهده ورکول، د کمزوري او نامناسب کس عهده اخستل .. 455

باب: حکومتي مال (خزانه)، متعلقات 456

د حکومتي مال ناحق او ناجائز استعمال.. 456

د سرکاري کس غلول (خيانت کول.. 456

د عاملانو (سرکاري کسانو) ډالۍ 458

باب: د عوامو او حکمرانانو متعلق څۀ خبرې.. 458

د عوامو عملونه او حکمرانان، د الله اطاعت او نافرماني او حکمرانان.......... 458

باب: متعلقه ځۀ خبرې.. 459

د ټولو نه د ښۀ او د ټولو نه د بدو حکمرانانو ځۀ صفات، د حکمران ښۀ او بد وزیر 459

هر یو کس راعي دے، تپوس به ترې کیږي.. 460

کتاب: عوام پۀ نسبت د حکومت او د حکمرانانو، متعلقات.......................... 460

باب: د عوامو ښۀ او ضروري رویه، عمل 460

د حکمرانانو بیعت قائم ساتل، د هغوی حق ورکول.................................. 460

د حکمرانانو اوربدل، حکم منل.. 461

د حکمرانانو پۀ بدو (ظلم وغیره) صبر کول 462

د بدی او د ظلم والا حکمرانانو سره د عوامو پکار معامله.......................... 463

د ګناه پۀ خبرو کښې (یا د ګناه) حکم نۀ منل (طاعت نۀ کول) 464

حکمران ته نصیحت، ظالم بادشاه ته د حق وینا، د شهیدانو سردار.................... 465

حکمرانانو ته د بدوردو او بددعائي پۀ ځائے دعاء او ذکر و زاري...................... 466

باب: د عوامو بده او ناجائزه رویه، عمل.. 467

بیعت نۀ کول، دوه بیعتونه کول.. 467

د حکمرانانو حکم نۀ منل، د طاعت نه وتل، د بادشاه سپکاوے کول 467

د جماعت او حکومت خلاف راوتل، ناجائز مخالفت او بغاوت کول................. 468

د بدو او ظالمانو حکمرانانو پۀ بدی کښې مدد، رد پرې نۀ کول، د هغو خوا له تلل 469

کتاب: قضاء، فیصله... 470

باب: قاضي... 470

قاضي جوړېدل، پهٔ غوښتو او د غوښتو نه بغیر جوړ شوے قاضي.............. 470

قاضي سره الله یا شیطان، قاضي له جنت یا دوزخ، د قاضي قسمونه........... 470

باب: فیصله کول.. 471

قیامت کښې خطره او افسوس 471

د فیصلې کولو څهٔ آداب وغیره.. 471

کتاب: دعویٰ ، ګواهي، قسم، حدود و قصاص 473

باب: دعویٰ.. 473

ناحقه دعویٰ کول، څهٔ پرې حاصلول 473

باب: ګواهي (ثبوت) او قسم... 473

ثبوت یا ګواهان پیش کول او قسم خوړل، ګواهۍ او قسم کښې جلدي......... 473

هغه کسان د چا چې ګواهۍ جائزه نهٔ ده، ګواهۍ نه واپس کېدل، ګواهي پټول 474

د دروغو د ګواهۍ او پهٔ هغې د چا د جاني مالي نقصان کولو وعیدونه......... 475

د دروغو ګواهي پهٔ غټو ګناهونو کښې او د شرک برابره شمار.................. 475

د دروغو د قسم وعیدونه، دروغ قسم پهٔ غټو ګناهونو کښې...................... 476

د دروغو پهٔ قسم د چا مال اخستل.. 476

باب: حدود او قصاص 478

د حدودو تاکید ، حدودو کښې ناانصافي 478

قصاص، قصاص کښې رکاوټ اچول 478

کتاب: مال و دولت.. 479

باب: د مال ښهٔ والے او بدوالے 479

سړي دپاره ښهٔ مال، مال لرل مګر پهٔ حق او تقویٰ سره......................... 479

مال پهٔ حقیقت کښې هغه دے چې مخکښې ولېږلے شي (آخرت له توښه کړے شي) 480
مال فتنه او د ټولو نه غټ دشمن 480
قیامت کښې مالدارانو له د غریبانانو نه سختي 481
باب: مال والا څهٔ ناجائزې خبرې 481
د مال حرص او محبت 481
مال کښې د یو بل سره سیالي او مقابله 482
عیش پرستي 482
مال کښې د الله حق نهٔ ادا کونکے، مال آخرت له نهٔ استعمالونکے 483
د مال پهٔ حرص، محبت او طلب وغیره کښې د خلقو حالت 484
باب: د مالدارو پهٔ حقله څهٔ بد عملونه 484
د مالدارو عزت او هغوی ته عاجزي د مال د وجې نه 484
مالدارو سره ناسته پاسته وغیره 485
کتاب: مال حاصلول، طلب کول، گټل، متعلقات 485
باب: مُثبت اړخ 485
مال د سوال نه د بچ کیدو او د خپل حفاظت وغیره دپاره حاصلول 485
مال دپاره کار کسب کول، پیشه لرل 486
د خپل لاس کسب، عمل، د هغې فضیلت 487
باب: منفي اړخ 487
مال (بې ضرورته) جمع کول او ساتل 487
مال د فخر او زیاتوالي دپاره حاصلول 488

مال پۀ ګناه او پۀ حرامه حاصلول، پۀ حرامه جمع کونکي ته زوربدل 489

مال جمع کونکے او د قیامت ورز 489

کتاب: حلال او حرام مال 490

باب: حلال مال، پاک خوراک 490

د حلال مال د طلب لازم والے، فضیلت، پۀ دې کښې سترې 490

د (حلال) مال پۀ طلب کښې اعتدال او ګزاره 491

د پاک او حلال خوراک تاکید، فائده او اثر 492

باب: حرام مال 492

حرام مال، د حق نه بغیر اخستے مال، د حرام رزق او خوراک وعید 492

د حرام مال د وجې نه نیک عمل، نمونز او دعاء نۀ قبلېدل 493

د حرام مال صدقه وغیره 493

څۀ حرامې ګټې، سودخوري، د هغې ګناه، عذاب او وبال 494

کتاب: د مال کم والے او زیات والے 495

باب: کم او صرف د ګزارې مال او رزق، لوږه تېرول 495

دنیا کښې کم مال او رزق لرل، د مسافر توښه لرل 495

د رسول اللهﷺ د کم مال او د ګزارې د رزق څۀ دعاګانې 496

د رسول اللهﷺ مالي حالت، د هغوی نه پاتې شوي څیزونه 496

د کم خوړلو او لوږې فضیلت 497

د رسول اللهﷺ لوږه 498

باب: د مال زیات والے 498

د مال د زیات والي بدوالے 498

د ضرورت نه زيات مال و اسباب 499

د ضرورت نه زيات او د مستۍ کور، پۀ آبادي فضول خرچ کول 500

کتاب: د نيا 501

باب: د دنيا څۀ حال 501

دنيا کښې د انسان او د دنيا د څيزونو حيثيت 501

د دنيا څيزونه نورو ته پاتې کېدونکي 502

باب: د دنيا د بدوالي څۀ خبرې 502

د دنيا مذموم والے، الله ته د دې بې قدري 502

د دنيا د رونقونو او زيب و زينت بدوالے، دنيا مومن له قيدخانه، کافر له جنت 504

باب: دنيا او آخرت (مقابله) 504

د دنيا او د آخرت د يو بل پۀ نسبت سره حالت 504

د دنيا مقابله کښې د آخرت د مقصود والي وغيره څۀ خبره 505

کافر له دنيا، مومن له آخرت 505

د دنيا خوارۀ د آخرت تراخۀ، د دنيا فائده د آخرت نقصان 506

باب: دنيا باره کښې بد څۀ خصلتونه 506

صرف د دنيا فکر لرل، د دې بدوالے او وبال 506

دنيا له کوشش او محنت، پۀ د نيا غم او افسوس 508

دنيا کښې خواهشونه او شهوتونه پوره کول، د دنيا حرص او رغبت 508

باب: د دنيا محبت وغيره، د آخرت نه ئې غوره کول، متعلقات 509

د دنيا د محبت وغيره بدوالے، وبال 509

دنيا د آخرت نه د غوره کولو، پۀ دې سره د هغې نه د غافل کېدلو وبال 510

د دنیا غوره کول وغیره د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله پهٔ خیر کښې رکاوټ 511

کتاب: دنیا پرېښول، زُهد ، متعلقات 512

باب: دنیا نه بې رغبتي او احتراز وغیره.. 512

دنیا نه بې رغبتی، او د دې اثر او فائده 512

دنیا نه بې رغبتي څنګه؟... 513

د ټولو نه لوئے زاهد (د دنیا نه بې رغبته) 513

دنیا نه یرېدل، ځان ترې ساتل 514

دنیا نه لرې اوسېدل، ځان نه ئې لرې ساتل، یاد ئې نهٔ لرل 514

دنیا کښې عارضي اوسېدل، اُمید لنډ ساتل 515

باب: دنیا نهٔ، آخرت.. 516

دنیا پسې نهٔ کېدل، آخرت پسې کېدل، هغهٔ له ترجیح ورکول 516

د دنیا پهٔ ځائے د آخرت قصد او فکر، د دې فائده 517

دنیا له د دنیا او آخرت له د آخرت مناسب کوشش.................................... 517

کتاب: دنیا کښې تنګي، فقیري، ښکته والے، مصیبتونه................................ 518

باب: تنګي، فقیري، مسکیني... 518

تنګدستی، د خوراک څښاک کم والے، پهٔ دې صبر.................................... 518

د رزق پهٔ کم والي راضي والے، صبر او شکر 518

د رسول الله ﷺ او د هغوی د آل وعیال خوراک څښاک 519

فقیری، مسکینی، د دې غوره والے.. 520

فقیر، مسکین او مظلوم له د آخرت خیر، ثواب.. 522

د فقیر د څۀ شي د اخستو طاقت نۀ لرل او پۀ هغې صبر کول، د فقیر راضي والے 524
مسکین (او فقیر) پۀ حقیقت کښې څوک؟ 524
باب: ښکته والے، معمولي والے 525
د سادګۍ، بدحالۍ، کم عقلۍ، بې پروائۍ او پټ والي فضیلت 525
د کمزورو خلقو غوره والے او جنتي والے 526
باب: د دنیا مصیبتونه، آزمائشونه، تکلیفونه 527
مصیبت، ټولو نه د زیات مصیبت والا خلق 527
مصیبت او د بنده آزمائش، مصیبت او د الله محبت 528
د مصیبتونو د آخرت فائدې او ثوابونه 528
د نظر یا د سترګو نه د محروم کېدو ثواب 529
د ناجوړتیا او مسافرۍ وغیره د وجې نه پاتې شوے عمل 530
مصیبتونه وغیره د ګناهونو کفاره، ګناهونه پرې ختمېدل 531
پۀ مصیبتونو صبر کول، د دې فضیلت 532
مصیبت وغیره پټ ساتل، شکایت ئې نۀ کول 533
کتاب: مرض، مریض، تپوس، مړکېدل، مړے، قبر 533
باب: مرض او مریض 533
مرض، پرهېز او بدپرهېزي، د علاج کولو تاکید 533
مرض او تکلیف له څۀ مسنون دمونه او دعاګانې وغیره 534
د ناجوړتیا خصوصاً د تبې ثواب، ګناهونه پرې معاف کېدل 535
باب: د مریض تپوس، متعلقات 537

د مریض تپوس له تلل، د هغې ثواب 537

د مریض د تپوس څۀ آداب 537

د مریض غم لرې کول، هغۀ له تسلِّي ورکول، دعاء ورته کول، د هغۀ نه دعاء غوښتل 538

مریض نه د هغۀ د خوښې د څۀ تپوس کول 538

د ناجوړه کس د تپوس کونکي پۀ مخکښې حمد و شکر یا شکایت 539

پۀ ناجوړه کس ژړا راتلل 539

باب: مړے 539

د مړکېدونکي څۀ بیان 539

مړکیدونکي ته تلقین کول، سورۀ یٰس لوستل 540

د رسول اللهﷺ د خپل وفات پۀ وخت کښې حالت او دعاګانې 540

د (مرګ د) مصیبت دعاء، پۀ مړي ژړا راتلل (کول)، نوحه (وِیر) کول 541

مړي له غسل او کفن، پۀ مړي جلدي کول، جنازه زر اوړل 543

د جنازې نمونځ، د جنازې صفونه، جنازه کښې د خلقو زیات والے 544

د جنازې لیدل، هغې سره تلل، دفن کول، څۀ آداب 545

جنازې سره د تلو، دفن کښې د شریکېدو ثواب 545

د جنازو څۀ فائدې، د رسول اللهﷺ د جنازې پۀ وخت کښې کیفیت 546

د مړي والو تعزیت کول، هغو له خوراک تیارول 546

نیک عمله او بدعمله مړے، د یو مړي ښۀ یا بد ذکر 547

مړو ته کنزل، بده وینا، عیب او بد ئې بیانول 548

د نیک سړي او د بد سړي د مرګ او د روستو حالت څۀ فرق 548

د مومن پۀ حق کښې مرګ، دنيا ته ئې واپس راتلل نۀ خوښول 550

مړو ته دعاء، ايصالِ ثواب 551

د قبر د عذاب نه محفوظ څۀ کسان 552

باب: قبر 552

د قبرونو پۀ باره کښې څۀ منع خبرې 552

د قبرونو زيارت کول، سلام، دعاء وغيره، څۀ مسنون سلامونه 553

کتاب: متفرقات 554

باب: څۀ مختلف موضوعات 554

د الله رب والے، د اسلام دين والے، د محمد (ﷺ) رسول والے، پۀ دې راضي کېدل 554

زړۀ او د زړۀ څۀ حال، زړۀ ته فتنې راتلل، د نفس بدوالے 555

فکر سوچ کول، د الله پۀ ذات کښې فکر نۀ کول 556

وسوسه، خطا او هېر 557

انسان له فرښته او شيطان 558

د شيطان د معاملې والا څۀ مختلفې خبرې 559

باب: څۀ منتشرې خبرې 560

خوب ليدل، خوب د نبوت يو جزء 560

د خوب قسمونه 561

د بد خوب پۀ ليدو عمل، خلقو ته ئې نۀ بيانول 561

قسم خوړل، ضرورت له ئې ماتول، څوک پۀ قسم پۀ څۀ خبره مجبور کول 561

پۀ ښۀ او بد صفت سره د جنتي او دوزخي څۀ پېژندګلو وغيره 562

کتاب: د بعضو ښۀ او بدو عملونو څۀ بیان 563

باب: بعضې ښۀ عملونه، نیکیانې 563

د ټولونه غوره او الله ته د ټولو نه خوښ څۀ عملونه 563

(پۀ څۀ اعتباراتو سره) 563

بعضې ښۀ او د ثواب عملونه (او د هغې کونکي) 565

بعضې عملونه چې صدقه حساب شوي دي 567

بعضې درې درې ښۀ عملونه او خصلتونه 568

د مرګ نه روستو پکاریدونکي څۀ عملونه، څیزونه 570

د رسول اللهﷺ د شفاعت ذریعه جوړیدونکي څۀ عملونه 570

جنت ته د تلو بعضې عملونه او خصلتونه 571

د بعضې عملونو د ټولو نه غوره شکلونه 573

باب: بد عملونه، ګناهونه 573

بعضې غټ (کبیره) ګناهونه، د الله حرام کړي څۀ عملونه 573

څۀ مختلف بد عملونه 575

بعضې درې درې بد عملونه، خصلتونه، وۀ هلاکونکي ګناهونه 576

څۀ بد خصلتونه، عملونه چې رسول اللهﷺ د هغې یره ښکاره کړې وه 576

خپل ځائے پۀ دوزخ کښې د جوړولو والا څۀ عملونه 577

کتاب: څۀ ښۀ او بد خلق 578

باب: څۀ مختلف قسم ښۀ خلق 578

د ټولونه غوره څۀ خلق 578

د خیر چابیانې او د شر ژرندې 581

کاميابي، مبارک والے او امن و هدايت موندونکي څۀ خلق 582

بعضې خاص خلق 583

د خلقو پۀ نزد معمولي او د الله پۀ نزد او د آخرت پۀ لحاظ سره اوچت څۀ خلق 585

د زورېدو يو کس 586

د خوشخبرۍ او نيک بختۍ والا څۀ کسان 586

بعضې اصل عقلمند خلق 587

د ټولو نه زيات عقلمند څۀ خلق 588

د الله د خير د ارادې والا څۀ خلق 589

د خير د پاره غوښتے شوے کس 590

قيامت کښې الله ته د ټولو نه غوره، د ټولو نه خوښ او د ټولو نه نزدې څۀ خلق 591

رسول اللهﷺ ته د ټولو نه خوښ او قيامت کښې هغۀ ته د ټولو نه نزدې څۀ خلق 591

بعضې درې درې کسان چې قيامت کښې به ښۀ حال والا وي 592

د الله د عرش د سورې لاندې کېدونکي څۀ خلق 592

بعضې جنت ته تلونکي درې درې کسان 593

بعضې جنتيان کسان، څۀ کسان چې جنت کښې به د مومنانو سرداران وي 594

باب: څۀ مختلف قسم بد خلق 595

د ټولو نه بد څۀ خلق 595

د شر چابياني او د خير ژرندې 596

بعضې د لعنت والا خلق، د منافقت والا څۀ خلق 596

بعضې خلق چې نيک عمل به ئې قبول نۀ وي 598

بعضې خلق چې نمونځ ئې نۀ قبلېږي 599

بعضې د دې ارشاد والا خلق چې "زمونږ نه نۀ دے" 599
بعضې خلق چې الله ورسره بغض ساتي 601
بعضې درې درې د الله د بغض والا او هغۀ ته د ټولو نه ناخوښ کسان 601
د الله د شر د ارادې والا څۀ خلق 602
قيامت کښې سخت ارمان کونکي څۀ خلق، دنيا کښې خوشحاله هلته بدحاله څۀ خلق 602
بعضې خلق چې قيامت کښې به د الله پۀ نزد د ټولو نه بد او هغۀ ته د ټولو نه ناخوښ وي 603
رسول الله ﷺ ته د ټولو نه ناخوښ او قيامت کښې د هغۀ نه پۀ ټولو کښې لرې څۀ خلق 603
بعضې درې درې کسان چې الله به ورسره قيامت کښې خبرې نۀ کوي نۀ به ورته ګوري نۀ به ئې پاکوي 604
درې کسان چې قيامت کښې به ئې الله خصم وي........................ 605
قيامت کښې د ټولو نه د سخت عذاب والا څۀ خلق........................ 605
بعضې درې درې کسان چې جنت ته به نۀ زي........................ 605
بعضې نور خلق چې جنت ته به نۀ زي 606
دوزخ ته تلونکي څۀ خلق 607
کتاب: مستقبل، روستو وخت 608
باب: روستني څۀ احوال 608
د اُمت فرقې کېدل، پخوانۍ طريقې خپلول........................ 608
بد نه بد خلق او حالات راتلل........................ 609
پۀ بدو خلقو او حالاتو کښې يو حکم........................ 610

د بدو خلقو پۀ مینځ کښې د ثواب یوه لار 611

د بعضو بدو خبرو زمانه راتلل.. 611

د آخرې زمانې څۀ حال 614

د خلقو نه امانتدارې ختمېدل 614

د فکر یو حدیث.. 615

بعضې بدې خبرې راتلل چې ورپسې به سخت عذابونه او نښې وي 616

فتنې، سختې، آزمائشونه، قتلونه... 616

باب: د قیامت بعضې نښې 618

څۀ عامې نښې.. 618

د قیامت څۀ خاصې او غټې نښې... 620

باب: مهدي علیه السلام، دجال (علیه اللعنة) او عیسیٰ علیه السلام......... 621

د مهدي علیه السلام راتلل.. 621

د دجال راتلل، فتنه 622

د دجال د فتنې نه د بچ کېدو کوشش 623

د عیسیٰ علیه السلام راتلل.. 624

باب: د علم، اسلام، ایمان او د الله الله ویېلو خاتمه.. 624

د علم اوچتېدل (د دنیا نه ورکېدل)... 624

د اسلام غریب (بې څوکه) کېدل، د اسلام او ایمان راغونډېدل 625

زمکې نه اسلام، ایمان او د الله الله ویېل ختمېدل 625

کتاب: دنیا کښې ژوندون.. 626

باب: دنیا کښې د انسان ژوند او عمر 626

عارضي وخت؛ انتظار او اُمید د څۀ؟ د ژوند استعمال 626

د الله پۀ عبادت کښې د عمر اوږدوالے، شپېتۀ کاله کافي عمر 627

کتاب: مرګ 628

باب: د مرګ متعلق څۀ خبرې 628

د مرګ يقيني والے، نزدې والے، ناڅاپي والے 628

د مرګ سختي 629

د مرګ پۀ وخت کښې او روستو خپل ځائے پېژندل، افسوس او پښېماني کول 630

د مرګ نه روستو څۀ حال، د قبر څۀ فتنه، عذاب، منظر 631

د مرګ ياد او تيارے 633

د مرګ د زيات يادولو فضيلت او خير، د مرګ زيات يادونکے او انتظار کونکے
.... 635

مرګ د وعظ او د دنيا نه د بې رغبتۍ وغيره دپاره کافي 635

کتاب: آخرت 636

باب: قيامت 636

د قيامت راتلل، قيامت کښې د ژوندي کېدو حال 636

قيامت کښې د ژوندې کېدونکو څۀ ډلې 637

د قيامت څۀ حال، قيامت کښې بادشاه صرف الله 639

قيامت کښې حساب کتاب، تپوس، الله ته ودرېدل 640

حساب کتاب کښې سختي، قيامت کښې يوه آرزو 641

مومن له د قيامت د ورځې لنډوالے 641

باب: جنت او دوزخ 642

د جنت او دوزخ يقيني والے، جنت د الله رحمت، دوزخ د الله غضب.............. 642

د جنت څۀ حال 642

جنت ته اول تلونکي او بيا پۀ هغو پسې تلونکي کسان 644

د دوزخ څۀ حال 645

جنت او دوزخ کښې همېشه والے.. 648

باب: آخرت سره مناسب او هغې له ضروري سلوک.. 649

د آخرت غم فکر او يره لرل 649

آخرت سره پکار ژړا ، نۀ چې خندا... 649

د آخرت ياد او تيارے، آخرت له د ځان نه مخکښې څۀ لېږل.............................. 650

د آخرت بابت کښې هر سړے د خپل ځان ذمه وار.. 651

باب: د جنت او دوزخ څۀ خبرې 651

د جنت طلب او رغبت کول، د دوزخ نه تختېدل، يرېدل، بچ کېدل 651

د جنت رغبت او د دوزخ نه د يرې لرونکي کس رويه او عمل 652

جنت ته نۀ تلل، د دوزخ حقدار جوړېدل.. 653

باب: آخرت کښې شفاعت.. 653

د رسول الله ﷺ شفاعت 653

د نور چا شفاعت (سفارش)، د قرآن شفاعت.. 654

باب: آخرت او د الله رحم و کرم... 655

د قيامت پۀ ورز د الله رحمت او مغفرت، جنت او د الله رحمت 655

جنت ته تلل او د دوزخ نه خلاصېدل صرف د الله پۀ رحم سره............................... 656

کتاب: د دين تبليغ، دعوت، وعظ و تذکير، متعلقات.. 657

باب: دعوت و تبليغ، امر بالمعروف او نهي عن المنكر، متعلقات............ 657

د تبليغ او د دعوت تاکيد او فضيلت 657

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر (د نيکۍ د حکم او د بدۍ نه د منع کولو)
تاکيد 657

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فضيلت، د دې ښهٔ طريقه او نرمي 658

بدۍ لرې کول پهٔ لاس، ژبې او زړهٔ سره، د بدۍ د ختمولو طاقت نهٔ لرل 659

حق ويېل، د حق ويېلو نه نهٔ منع کيدل 660

پهٔ دين او حق باندې ولاړ او امر و نهي کونکي څهٔ خلق 660

باب:امر بالمعروف او نهي عن المنکر نهٔ کول وغيره............................. 661

د نيکۍ د حکم د نهٔ کولو او د بدۍ نه د نهٔ منع کولو وعيدونه، وبال او نقصان661

نورو ته ويېل پخپله عمل نهٔ کول 663

د ګنا هونو نه د نهٔ منع کېدونکو سره خوراک څښاک، ناسته...................... 664

باب: وعظ و نصيحت 664

وعظ کښې اعتدال، د وعظ پهٔ باره کښې يو سخت تنبيه 664

نورو ته وعظ کول پخپله عمل نهٔ کول... 665

کتاب: د دين حفاظت، متعلقات... 665

باب: جهاد ، متعلقات 665

جهاد ، تاکيد ، ترغيب، جهاد د قيامته پورې جاري 665

د جهاد فضيلت، اجر و ثواب، فائده، د رباط ثواب................................... 666

جهاد کښې د دوړې لګېدو ثواب... 668

پهٔ غار وغيره کښې د يوازې پاتې کېدو نه د جهاد غوره والے.......................... 669

جهاد کښې خرچ کول، سامان ورکول او بندول 669

جهاد کونکي له کار کول، سورلۍ ته ئې ګیا ورکول وغیره، جهاد کښې روژه نیول 670

د جهاد دوه قسمونه (ښۀ او بد)، شهادت والا جهاد 671

د جهاد څۀ آداب، د احتیاط څۀ خبرې 672

دشمن ته د مخامخ کېدو د آرزو نه منع، جهاد کښې دعاء 673

دشمن نه د حفاظت يوه دعاء، دشمن ته يوه بددعائي، د فتحِ موندو نه پس څۀ ويېل 673

د ټولو نه لوئے جهاد (جهادِ اکبر)، حقيقي مجاهد 674

باب: شهادت 675

د شهادت فضيلت، شهادت د ګناهونو کفاره، د شهادت سوال او آرزو 675

د شهيدانو څۀ درجې، د شهيد مختلف څۀ قسمونه 676

د عام کس د شهيدانو درجه يا ثواب موندل 678

د بعضې صحابه کرامو د جهاد او د شهادت د ثواب حاصلولو څۀ نمونه 678

باب: جهاد نۀ کول، جهاد کښې بد څۀ کول 679

د جهاد نۀ کولو وعيد، جهاد د دين نه علاوه نور څۀ له کول 679

جهاد کښې ښځې او واړۀ قتلول، د مجاهدينو د کور والو باره کښې خيانت کول 681

جهاد کښې مخالفت او نافرماني 681

باب: غنيمت 682

د غنيمت مال 682

د غنيمت په مال کښې غلول (خيانت) 682

کتاب: د احاديثو متفرق څۀ ابواب 683

باب: څۀ بيل بيل حديثونه 683

باب: د عکس د خبرو والا څۀ حديثونه 687

باب: د شمار شمار د خبرو څۀ حديثونه 693

دوؤ دوؤ خبرو والا 693

دريو دريو خبرو والا 695

څلورو څلورو خبرو والا 699

پينځؤ پينځؤ خبرو والا 701

شپږو شپږو خبرو والا 703

وؤ وؤ خبرو والا 704

اتؤ او نهو خبرو والا 705

لسو لسوخبرو والا 705

باب: د رسول اللهﷺد وعظ څۀ حديثونه 706

باب: د رسول اللهﷺ د خطبو څۀ حديثونه 707

باب: د رسول اللهﷺ د وصيتونو څۀ حديثونه 710

باب: بعضې خاص حديثونه 715

باب: د فکر څۀ حديثونه، څۀ دعاګانې 718

باب: د غم، شکسته دلۍ، يرې او ژړا څۀ حديثونه 722

د رسول اللهﷺ د خپل غم والا څۀ حديثونه 723

باب: د مرګ او حساب باره کښې د تنبيه او نصيحت څۀ حديثونه 724

کتاب: ذکر، درود، استغفار، توبه، ندامت، معذرت، دعاء 725

باب: د الله ذکر 725
د ذکر کولو فضیلت، ذکر زیات زیات او هر وخت کول 725
د ذکر مجلسونه او حلقې، ذکر رو کول پهٔ ځائے د پهٔ زوره کولو 727
بعض (د ډېر ثواب) ذکرونه (تسبیح، تحمید ، تهلیل وغیره) 728
د رسول اللهﷺد زیات زیات ویېلو والا 728
باب: پهٔ رسول اللهﷺدرود ویېل 729
د درود ویېلو تاکید او فضیلت، د درود نهٔ ویېلو بدوالے او وبال 729
څهٔ درودونه 730
باب: استغفار (بخښنه غوښتل)، توبه، ندامت 731
د استغفار فضیلت او فوائد 731
استغفار ډېر ډېر کول، د استغفار څهٔ ادب، بد استغفار 731
بعضې مسنون او مأثور استغفارونه 732
باب: توبه، پښېماني (ندامت)، عذر کول 734
د توبې تاکید ، فضیلت، د توبې نمونز، 734
د توبې قبلېدل، پهٔ توبه کښې انتظار او ټال مټول کول 735
پښېماني، الله ته عذر کول 735
څهٔ مسنونې او مأثورې توبې (سره د استغفارونو نه) 736
باب: دعاء 737
د الله پهٔ در کښې د دعاء او سوال کولو تاکید 737
د دعاء فضیلت او اهمیت 737
د دعاء او سوال څهٔ آداب 738

دعاء او سوال زيات کول، په دعاء کښې عام والے کول، عام خلق يادول......... 739
د دعاء د قبلېدو متعلق څۀ خبرې.. 739
د دعاء د قبليدو څۀ ساعتونه، حالتونه.. 740
د دعاء د قبليدو څۀ شکلونه، نۀ قبلېدونکې دعاګانې آخرت له ذخيره 741
څۀ مسنونې او مأثورې دعاګانې او وردونه...................................... 742
کتاب: څۀ اضافي اظهار 749
باب: دين او آخرت، متعلقات 749
د دين، ديندارۍ او آخرت څۀ نکتې 749
متعلقه څۀ خبرې 750
دين او آخرت له په دنيا ترجيح ورکول وغيره 750
د مرګ ياد، د آخرت فکر او تيارے.. 751
د الله عبادت، محبت وغيره 751
د ژوند د ټولو نه ښۀ استعمال وغيره 752
ځان سره په حقيقت کښې ښۀ کول، حقيقي دوست او دشمن پېژندل.......... 752
خپله تزکيه او اصلاح 753
باب: بعضې څۀ اُمور.. 753
ديني سلسله کښې يو انداز 753
د خلقو ديني او اُخروي خدمت.. 754
د ترغيبي او اصلاحي عمل يو جهت... 754
باب: نن صبا د خلقو څۀ حال... 755
فرقه بندي، فرقه پرستي.. 755

د مسلک قصه... 755

د دین او آخرت پهٔ لحاظ سره د خلقو د حالت څهٔ تصویر 756

تقریظ

شیخ مولانا مفتي ډاکټر ولي خان المظفر صاحب

رئیس جامعة اللغة العربیة المفتوحه، باکستان

نَحمَدُہ وَ نُصلّي عَلیٰ رَسُوله الکَرِیم۔

أمّا بَعد فَاَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشّیطٰنِ الرّجِیم، بِسمِ اللّهِ الرّحمٰنِ الرّحِیم، وَ ذکّر فَانّ الذّکرَیٰ تَنفَعُ المُؤمنِینَ؛وَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ ﷺ: اَلدّینُ النّصِیحَة؛ صَدَقَ اللّہُ العَظِیم وَ صَدَقَ رَسُولُہُ الکَرِیم۔

مولانا نظام الدین شانګلوي صاحب، یو جید او با استعداد عالم ، لیکچرار، مقرر، کالم نګار، زما دوست او شاګرد ، ما ته پهٔ وټسپ د خپل والد محترم حضرت مولانا مفتي دکتور کرامت الله صاحب د " تحفهٔ احادیث" پهٔ نامهٔ یو نوے زیر طبع کتاب د نظر اچولو او تقریظ لیکلو دپاره راولیږهٔ۔

د مفتي کرامت الله صاحب سره زما شناسائي څهٔ نوې نهٔ ده۔زهٔ دلته د هغوی څهٔ ذکر کول غواړم۔ هغوی ته د قدیم یا نظامي (عالي و آلي) او د عصري دواړو قسمو علمونو نه حصه حاصله ده (عصري کښې سائنس، فلسفه، علم الأخلاق (ethics)، مُقارنة الأدیان (comparative religion)،معاشیات، عمرانیات (sociology)، سیاسیات، نفسیات، میډیسن (هومیوپیتھي) وغیره)۔ هغوی د الٰهیاتو، کلام، تصوف او فلسفې سره وابسته موضوع کښې د کراچۍ یونیورسټۍ نه پي ایچ۔ ډي دي۔ هم دغلته ئې ایم۔اے فلسفه کړے ؤ۔ هغوی (د وجود او حیات د اصل قصې او مجبورۍ د سلوک نه علاوه) پهٔ عام ژوند کښې د صوفیانه، کلامي، منطقي، فلسفیانه او وجداني (intuitional) انداز، نیز د فکر و نظر، غور و تأمل، تفکر و تخیل او مراقبه قسم خبرو والا دي۔د تجزیې یا تحلیل (analysis)، د نقد ، تشخیص، تنقیح، نکته شناسۍ، بارک بینۍ او د بحث و تحقیق وغیره ملکه یا خصلت لري۔هغوی کښې ادبي او بلاغي صلاحیت هم دے۔هغوی د

شعري ذوق هم حامل دي. خپل ئې هم پۀ عربۍ، فارسۍ، اردو او پښتو کښې شعرونه دي (زيات پۀ فارسۍ او پښتو کښې)، پۀ کومو کښې چې أصلاً دين و مذهب، وعظ و پند، مرګ، آخرت، وجود، ژوند، د هغې مسئلې، فطرت، جهان و دوران، فکر و غم، رنج و الم، اضطراب، سوزِ جګر، سودا، وحشت، حسرت، شکسته دلي، قنوطيت او تشاؤم (pessimism) موندلے کيږي. شعر ئې چې څنګه معناً منفرد دے دغسې صورةً او ظاهراً هم څۀ بل شان دے. د هغوی پۀ عربۍ، فارسۍ، اردو، پښتو او انګريزۍ کښې څۀ منثوره او څۀ منظومه، څۀ مطبوعه او څۀ غير مطبوعه تحريرات او تصنيفات دي، لکه څۀ پکښې دا دي: "فکرِ موت و آخرت" (اردو)، "ګناهون کي فهرست" (اردو)، "فيه ما فيه" (عربي)، "منتخب احاديث" (اردو)، "پي ايچ ډي مقاله"، "مناجاة عن ضغط الوجود و الحياة" (فارسي اشعار)، "اظهارِ غم" (پښتو اشعار)، "مجموعۀ اشعار" (پښتو)، انګريزي کتابچه (Worldliness of the People against Religiousness and the Hereafter). بعض تراجم (د اردو نه عربۍ او انګريزۍ ته او د عربۍ او فارسۍ نه اردو ته)

مفتي صاحب ځانله خپله يوه دنيا او قصه لري، د يو جدا طبيعت مالک دے. د هغوی حساسيت بې انتها دے. هغوی له اکثر اختياري څيزونه هم د غير اختياري او اضطراري پۀ حکم او مرتبه کښې وي. د هغوی اصل صفت او مزيت فکر و غم او اضطراب وغيره دے (لکه چې وايي) ے

خورم قسم څۀ چې شعور مِ دي موندلي
يو ساعت زما نه فکر کۀ جدا شي
همېشه را له وفا جفا جوړيږي
دا نۀ کيږي چې جفا را له وفا شي
نصيحت کۀ د زړۀ کولے کيږي
زما حق کښې نصيحت به د خندا شي

د موصوف د ترغيبي او اصلاحي نظر او منهج يو ه دا خبره ده چې پهٔ خلقو کښې دِ ديني او اُخروي فکر او د خپل واحد ژوند د ټولو نه د ښهٔ استعمال شعور اَو د هغې طرف ته توجه پيدا کړے شي، هغوی دِ د دنياداری نه ديندارۍ ته او د دنيا نه آخرت ته واړولے شي او هغوی دِ د خپلو ديني او روحاني مرضونو، عيبونو يا ګناهونو د پېژندلو او د هغې د لرې کولو اهتمام کونکي جوړ کړے شي ـ د دغي لاندې د موصوف يو کتاب پهٔ اردو کښې د "فکرِ موت و آخرت" پهٔ نوم اتلس کاله مخکښې شائع شوے ؤ او يو کتاب ئې لس کاله مخکښې د "ګناهون کي فهرست" پهٔ نامهٔ چاپ شوے دے پهٔ کوم کښې چې د دين د مختلفو اُمورو سره تعلق لرونکي پهٔ زرګونو ګناهونه اجمالاً ذکر کړے شوي دي او پکښې د "تنبيهات" پهٔ عنوان ډېرې اهمې او فکر انګېزې نکتې او فائدې راوړے شوې دي ـ

د مفتي کرامت الله صاحب دا زيرِ نظر کتاب "تحفهٔ احاديث" پهٔ پښتو ژبه کښې د بعضې حديثونو مجموعه ده کوم چې د دين د بيلو بيلو څانګو او متفرقو خيزونو دي ـ مقصد ترېنه دا دے چې عوامو ته بالکل پهٔ ساده، روان او آسان انداز کښې د رسول اللهﷺ د مبارکو ارشاداتو څهٔ برخه وړاندې کړے شي کوم چې هغوی له د خپل اصل ضرورت يعني د دين او د آخرت د معاملې د ادراک، احساس او پهٔ هغې کښې کما حقه عملاً د اخته کېدو، د بديانو پهٔ ځائے پهٔ نيکيانو کښې د عمر تېرولو، د زيات نه زيات ثواب او د الله تعالیٰ د رضا د حاصلولو دپاره لازمي وي ـ هسې خو د حديثو ډېرې مجموعې موندے کيږي، پهٔ پښتو کښې به هم وي،خو د دې کتاب ترتيب، طرز او د موضوع ګانو انتخاب وغيره امور بالکل جدا او نوي دي او ماته ډېر موثر او پهٔ زړهٔ پورې ښکاره شو ـ زما پهٔ خيال پښتو ژبو او د پښتو نه واقفو حضراتو له دا پهٔ ديني توګه ډېر سودمند ګرزېدے شي چې پهٔ لوستو او اورېدو ئې ورته د مطلوبه شوق، يرې او عمل لار هوارېدے شي ـ

دلته زهٔ د مفتي کرامت الله صاحب دا رائے هم لږه مخې ته راوړم (کومه چې هغوی د دې کتاب پهٔ مقدمه او نورو ځايونو کښې ذکر کړې ده) چې

پهٔ ديني او اصلاحي وعظ و نصيحت کښې دِ اورېدونکو ته د اورېدو اورېدو بيانونو او قصو پهٔ ځائے پهٔ اردو يا پښتو وغيره کښې صرف يو څو احاديث ـ د هغې د روح مطابق، بغير د تکلف نه، پهٔ اطمينان او آسانۍ سره ـ اورولے کيږي او بيا دِ سلسله بندولے کيږي او اورېدونکي دِ د هغې خپل تاثير ته پرېښولے کيږي۔ پهٔ رواجي او روايتي طريقه کښې عام طور داسې وي چې خلق د وعظ او تقرير پهٔ اورېدو سره پهٔ اصل ديني سوچ، د خپلې اصلاح پهٔ غور او د آخرت پهٔ غم کښې نهٔ پرېوزي بلکې د واعظ او مقرر پهٔ آواز، انداز، علميت او شخصيت وغيره کښې ګرفتاريږي او هم دغه د ځان سره وړي۔

الله تعالىٰ دِ دا د قدر او ستائنې وړ خدمت نتيجه خيز ثابت کړي او قبول دِ وفرمائي و هو علىٰ كل شيءٍ قدير و بالإجابة جدير و له الحمد في السمٰوات و الأرض، و صلّى الله تعالىٰ علىٰ رسوله و حبيبه محمد و علىٰ آله و صحبه اجمعين!

ولي خان المظفر
رجب ۱۴۴۵ه
جنوري ۲۰۲۴ع

تقريظ

شيخ مولانا حافظ رشيد احمد سواتي صاحب

استاد حديث، رکنِ شوریٰ، ناظمِ الحاق جامعه بنوریه عالمیه، کراچي

نَحمَدُهُ وَ نُصلِّي وَ نُسَلِّمُ عَلیٰ رَسُولِهِ الکَرِیم۔

أمّا بَعد: د خالقِ لایزال کلامِ بې مثال او د پیغمبرِ خوش خِصال اقوالِ باکمال چې پۀ عرفِ عام کښې ترې پۀ قرآن و سنت سره تعبیر کېږي داسې نمر او سپوږمۍ دي د کومو د پړقا او رڼا نه بغیر چې څوک د کفر، جهالت او ګمراهۍ د تورتم نه نۀ شي راوتے۔ دا قسمه روایتونه به ولې وارد نۀ وي: خیر الامور کتاب الله و خیر الهدي هدی محمد (ﷺ) ۔ (ابن ماجه) ۔ بیا کۀ د الله تعالیٰ کتاب د بنائے اسلام د جوړخت دپاره پۀ اوله درجه کښې دے نو د رسول اللهﷺ احادیث پۀ دویمه درجه کښې دي۔ احادیثِ مبارکه خپل شان او خاص مقام لري۔ د رسول اللهﷺ بعثت د معلم او استاذ پۀ طور وشو چې خلقو ته قرآن او دین وښايي (نۀ چې محض د مبلغ او قاصد پۀ طور)، نو د ارشاداتِ نبویه نه بغیر د قرآنِ پاک نه مکمله استفاده ممکنه نۀ وه؛ لهٰذا د منکرینِ حدیثو دا جمله چې " حسبنا کتاب الله" (موږ له کتاب الله کافي دے) بالکل بې بنیاده، باطله او یوه دجالي نعره ده پۀ کومې چې هغوی ډیر ساده او د فهم نه خالي کسان بې لارې کوي او د دین نه ئې وباسي۔ هیڅ شک نیشتے چې کۀ د حدیث واسطه پۀ مینځ کښې نۀ وے نو پۀ قرآن پوهېدل نۀ شو کېدے او دا شانې بیا د اسلام د پیژندلو او د مطلوبه عمل او سلوک تصور هم بې معنیٰ ؤ؛ چنانچه دا ویېل به هم بې ځایه نۀ وي چې د قرآن نه مخکښې پۀ حدیث ایمان راوړل دي۔ قرآن موږ ته د حدیث پۀ ذریعه ملاؤ شوے دے، د هغې د کلامِ الٰهي کېدو علم موږ ته د حدیثو نه شوے دے۔ د حدیث نه بغیر قرآن ته د رسېدو او ترېنه د مطلوبه اخذ کولو هیڅ صورت نۀ ؤ۔ (دا رنګې یو طرف ته کۀ احادیث د قرآن د بیان، د هغې د فهم او پۀ هغې د عمل دپاره دي نو بل طرف ته ئې خپل مستقل حیثیت هم دے، پخپله ترې هم د دین یوه لویه حصه ثابته

ده، د ډېرو تکلیفي او تشریعي امورو اصل او منبع ده)۔ دا هم حقیقت دے چې څنګه د صحابه کرامو دپاره بنفسِ نفیس د حضورﷺ ذاتِ ګرامي او وجودِ مسعود برکت او هدایت ؤ دغسې زمونږ دپاره د حضورﷺ احادیث مبارکه دي۔

د حدیث نه مراد د رسول اللهﷺ صرف اقوال نۀ دي بلکې د هغوی هر فعل، تقریر و تصویب ، حالت او عادت هم پۀ دې کښې داخل دے، ګویا د احادیثو نه مراد د حضورﷺ اقوال، افعال او جمله عادات و احوال دي۔

د رسول اللهﷺ د هر فرمان او د هر عمل نه او د ژوندون پۀ هرې شعبه کښې د هغوی د رهنمائی نه د اُمت آګاهي ضروري ده ځکه چې د پوهېدو نه بغیر منل او اتباع کول نۀ ممکن دي او نۀ لازم (لکه څنګه چې پۀ هر اُمتي واجب دي چې د هر ښۀ او بد نه باخبر وي ځکه چې ښۀ ورله اختیارول او د بدو نه ورله ځان ساتل دي) ۔ لیکن ډېر کم خلق د احادیثو او پۀ هغې کښې چې څۀ دي د هغې اطلاع لري۔ ښۀ د پوهې خاوندان هم د احادیثو د ذخیرې نه اجنبي دي ۔ پۀ مجموعي اعتبار سره د احادیثو تعداد څومره دے د دې اندازه د دې نه لګېدے شی چې صرف صحیح بخاري د شپږ لاکه حدیثو انتخاب دے، سننِ ابي داؤد د پینځۀ لاکو او صحیح مسلم د دریو لاکو د مجموعې نه منتخب شده دي جبکه د صحاحِ سته ؤ د تمامو روایاتو تعداد دېرشو زرو ته هم نۀ رسي ۔ چنانچه د درسِ نظامي فاضل هم د خارجي مطالعې نه بغیر د احادیثو د لوئے تعداد نه محروم پاتې کیږي نو د عامو خلقو به څۀ وایې۔

دې سلسله کښې د اهلِ علمو د طرف نه هم کافي غفلت او لاپروائي پۀ نظر رازي۔ د پیغمبر د وارثانو پۀ توګه د هغوی فرض جوړېدۀ چې د اُمت عامو خلقو ته ئې پۀ څۀ شکل کښې د نبي کریمﷺ هر هر پیغام رسولے وے، خو د دې ذمه واری پۀ باره کښې سوچ کونکي هم شاید چې ډېر کم وي۔

وس د دې روستو وخت دپاره هم ضرورت د دې خبرې دے چې د نبوي تعلیماتو او هدایاتو نه هر خاص و عام بهرور او خبردار شي۔ دا کار د علماءِ

اُمت دے چې هغوی د خپلو تجویزونو، تقریرونو، تحریرونو، درسونو او کورسونو پۀ ذریعه دا فریضه پوره کړي ـ دې لړ کښې پکار او مناسب دا دي چې عوامو ته د اوږدو شرحو او تفصیلاتو نه بغیر نفسِ احادیث پۀ ساده او عام فهم انداز کښې پیش کړے شي (کومه چې د دې زیرِ نظر کتاب د مؤلف د دعوت او سوچ یوه اصل او بنیادي خبره ده) ـ د دې یوه غټه فائده به دا وي چې اوربدونکو ته به صرف د یو حدیث د شرح و توضیح پۀ ځائے د متعددو حدیثونو د اوربدو شرف او موقع ملاېږي نو عملي فائدې به هم زیاتې حاصلېږي ـ (دې سره دا هم وي چې پۀ اوږد بحث او بیان سره اصل حدیث او د هغې خپل جوهري پیغام او دعوت د مینځ نه غائب کیږي، د اوربدونکو پۀ ذهن د نور څۀ هجوم جوړېږي جبکه پۀ پیغمبري او وحیانه کلام کښې چې کوم تاثیر او قوت دے هغه د بل چا پۀ وینا کښې کله کېدے شي) ـ

مفتي ډاکټر کرامت الله صاحب زید مجده یو جید او راسخ عالمِ دین (د عصري، انګریزي علومو، فنونو هم فاضل) دے ـ د تصنیف و تالیف، تصحیح او نقد و تحقیق ملکه ئې ده ـ شعر و ادب سره ئې هم ربط دے ـ عربۍ، فارسۍ، اردو، پښتو او انګرېزۍ کښې ئې نثري یا شعري لیکونه دي ـ شعرونه ئې د دیني، صوفیانه، کلامي او فلسفیانه وغیره خبرو وي خو د هغې نه زیات د رنج و غم والا وي کوم چې پۀ اصل کښې د وجود و حیات او د هغې د ژورې قصې دے ؎

ستا تمنا او حسروتونه دا دي
چې د شهرت مِ لوئے هنر به څۀ وي
زۀ پۀ دې فکر کښې اُوبۀ شوم لاړم
د ژوند د تورې شپې سحر به څۀ وي

د موصوف کۀ یو خوا پۀ نورو مختلفو خبرو کښې څۀ اختیاري او غیر اختیاري انفراد او امتیاز دے نو د وعظ و ترغیب او اصلاح وغیره پۀ معامله کښې هم هغه څۀ بیل انداز او منهج لري ـ

د مفتي صاحب دا نوے کتاب " تحفۀ احادیث" د مختلفو احادیثو مبارکه ؤ" پۀ پښتو ژبه کښې ترجمه ده ـ ماشآء الله پښتو ژبو او پۀ پښتو پوهېدونکو حضراتو له پۀ آسان، ساده او اثرناک انداز کښې د رسول اللهﷺ د ارشاداتو یو لوئے اوکافي تعداد پۀ لاس راغے کوم چې ورله د دیني اقتضاء او ابتلاء د څۀ جهتونو د ادراک، احساس او د هغې لاندې د عمل کولو او د ژوند تېرولو دپاره ضروري او متعین وو ـ پۀ پښتو کښې به د حدیثو نورې هم ډېرې مجموعې وي خو د دې طرز، د موضوعاتو انتخاب او ترتیب وغیره بالکل نوے او جدا دے ـ زما پۀ خیال دا ډېر د فائدې کاوش او اهم خدمت ثابتېدے شي او پکار ده چې شي ـ

زۀ مفتي صاحب له مبارکباد ورکوم چې د نن نه تاسو هم پۀ هغه خوش نصیبو کسانو کښې داخل شوی د چا دپاره چې د خوږ آقاﷺ د طرف نه خوشخبري او دعاء ده چې الله تعالیٰ دِ تر و تازه وساتي هغه سړے ثوک چې زما احادیث محفوظ کړي او نورو ته ئې ورسوي ـ

زۀ دعاء ګو یم چې دا تالیف عند الله مقبول، د مولف دپاره ذریعۀ نجات او د خلقِ خدا دپاره د هدایت او فلاح سبب وګرزي و ما ذٰلک علی الله بعزیز، و صلّی الله تعالیٰ علی النبي الأُمي و علیٰ آله و صحبه و سلّم!

رشید احمد سواتي

رجب ۱۴۴۵ه

فروري ۲۰۲۴ع

تقريظ

مولانا مفتي احسان الله صاحب

استاد حديث مدرسه عائشه للبنات كولالۍ، پورن، شانګله (پښتونخواه)

الحمد لحضرة ذي القوة المتين والصلوة والسلام علىٰ من لُقب بالصادق الأمين وعلىٰ آله وصحبه أجمعين!

و بعد: عن ابي هريرةؓ قال: قال رسول اللّٰه ﷺ: **من حسن اسلام المرء ترکه ما لايعنيه**. (رواه الترمذي و ابن ماجه وغيرهما)

دين اسلام چې د انسان د کاميابۍ ضامن دے، د دغې کاميابۍ په سلسله کښې د لاربنودنې دپاره په دې دين کښې بنيادي او اساسي تعبير او بيان د قرآن او حديث دے. چرته چې په عربۍ ژبه کښې د فصاحت او بلاغت له اړخه اوله درجه قرآن ته اودويمه درجه حديث ته ملاؤ ده، دغه شان پۀ خپلو لوستونکي باندې د دواړو جهانونو د کاميابۍ دپاره د صحيح اثراومعجزانه جاذبيت د پيداکولو پۀ سلسله کښې هم اولنے معبر قرآن او دويم حديث دے بلکې نور کلامونه، توضيحات او تعبيرات د خپل ضعف اوسقم له کبله پۀ هيڅ درجه نۀ پاتې کيږي اوقرآن وحديث پۀ اصل درجه ګرزي. بيا څۀ رنګې چې عوام الناس تۀ د قرآن و حديث صرفي و نحوي او د بلاغت و معاني پۀ لحاظ باندې تشريحات و تاويلات پيش کول نامناسب امر بلکې پۀ څۀ وجوهو کارِ عبث دے، دغه شان هغوی له د پند و نصيحت پۀ سلسله کښې د قرآن و حديث د اصل تعبيراتو پۀ ځائے من مانې، خود تراشيده تعبيرات و توضيحات اختيارول چې پۀ هغې باندې د قرآن و حديث د تاثير و تعجيز نه ډک تعبير د ګڼو حجابونو پۀ شا محجوب او مستور پاتې شي دا هم يقيناً د رهنمائۍ د اساسي مآخذو سره ناانصافي ده. کۀ د مسائلو د بيانولو د اړخه مونږ وګورو نو کله چې بيانونکے هم د اجتهاد اهل نۀ وي او مقام هم د اجتهاد نۀ وي نو د نصوصو پۀ ځائےپۀ خودتراشيده تعبيراتوباندې غرونو جنګولو سره مختلفې فتنې هم پيداکيږي او د فرقه واريت هوا نۀ بلکې طوفان رااوچتيږي. هر يو دا

غواړي چې زما مخالف زماتعبیرته د پیغمبر د فرمان پۀ نظرولې نۀ ګوري او دغه سوچ د فریقِ مخالف وي ـ هم دارنګې د وعظ حال دے ـ او دې سره دا خبره هم ده چې د اکثرو دا رواجي طرز پۀ بعضې وجوهو سره پۀ لایعني کښې د اشتغال یو صورت دے د کوم نه چې منع وارده شوې ده ـ

قاضي عیاض رحمه الله پۀ " ترتیب المدارک" کښې د امام مالک رحمه الله د یو شاګرد زیاد بن عبدالرحمٰن القرطبي پۀ باره کښې د هغوی د شاګرد حبیب نه نقل کړے دے چې یو ځل مونږ د زیاد القرطبي سره ناست وو چې یو سړي د یو بادشاه خط راوړ ـ حضرت قلم پۀ روشنائي کښې لوند کړو او جواب ئې ولیکۀ بیامونږ تۀ متوجه شوئې فرمائېل چې تاسوته پته شته چې دې خط والا څۀ تپوس کړے وو؟ مونږ وویېل چې نا مونږ ته خو پته نیشته ـ هغوی وویېل چې د میزانِ آخرت د چابړو پۀ باره کښې ئې تپوس کړے ؤ چې د سرو زرو به وي کۀ د وسپنې؟ نو ماجواب ورکړو: حدثنامالک عن ابن شهاب قال قال النبي ﷺ: من حسن اسلام المرء ترکه مالایعنیه و سترد فتعلم (د نبی کریم ﷺ فرمان دے چې د یوسړي داسلام د حسن نه لایعني کارونه پرېښودل دی او عنقریب به تۀ هلته لاړشې نو خبر به شې چې دغه چابړې دسرو دی کۀ د سپینو ـ محدث بن مفلح پۀ "الآداب الشرعیه والمنح المرعیه" کښې لیکلي دي چې احمدبن حیان وایي: زۀ د ابوعبدالله څنګ ته لاړم، ماتپوس وکړو چې د چونې پۀ اُوبواودس کول څنګه دی؟ وئې ویېل: ټېک نۀ دي ـ ما بیا تپوس وکړو چې د لوبیاؤ پۀ اُوبو اودس څنګه دے؟ وئې ویېل: ټیک نۀ دے ـ بیا چې کله زۀ پاڅیدم نوزۀ ئې راونیسلم اوتپوس ئې وکړو: کله چې تۀ جُمات ته ننوزې نو د پیغمبر ﷺ دعالولې؟ زۀ غلےشوم، نوئې ویېل: لاړشه او دا ازده کړه ـ

غرض داچې دکوموخبرو عوامو ته ضرورت دے هغه ویېل او هم د هغې تکل پکاردے او پۀ کومواخبارو و آثارو کښې چې د عوامو رونو علاج او درمان دے علماؤ له هم پۀ هغې باندې توجه پکارده ـ دغه مبارک، معطر او مطهر احادیث د خلقومخې ته پۀ اصل صورت کښې وړاندې کول پکار دي ـ

د نظر لاندې دا کتاب په دې سلسله کښې د محترم حضرت مولانا مفتي کرامت الله صیب أدام الله فیوضه کاوش دے. الله تعالیٰ دِ د دوی دې کاوشونو، کوششونو ته شرف د قبولیت ورکړی. د دې مجموعې برکات دِ الله تعالیٰ علماؤ او عوامو رونو ته نصیب کړی او مفتی صیب دِ الله تعالیٰ بالخصوص د دې روایت "نضرالله امرءً سمع مقالتی فوعاهاو أداها کما سمعها" مصداق وګرزوي! آمین بجاهِ سیدالانبیاء و المرسلین!

احسان الله

شعبان ۱۴۴۵ه

فروري ۲۰۲۴م

تقریظ

مولانا ذاکر الله صاحب

مهتمم و شیخ الحدیث جامعه مظاهر العلوم نیمکلے، پورن، شانګله

(پښتونخواه)

الحمد لله وحده والصلوٰة علیٰ من لا نبي بعده

اما بعد: مفتي کرامت الله صاحب د دین د بیلو بیلو څانګو او د بعضو مختلفو عمومي موضوعاتو په ګنړ شمېر کښې احادیث مبارکه د پښتو ژبو عوامو دپاره په پښتو ژبه کښې جمع کړي دي (د آسانۍ دپاره بغیر د سندونو او د شرحو وغیرۀ نه). ماشآء الله ډېر ښۀ، فائده مند، اهم او ضروري کوشش شوے دے. الله تعالیٰ دِ په حقیقت کښې موثر او ثمر آور ثابت کړي او په خپل دربار کښې دِ قبول وفرمائي و ما ذٰلک علیه بعزیز.

ذاکر الله

ذوالقعده ۱۴۴۵ه

مئ ۲۰۲۴م

تقريظ

مولانا مفتي محمد اياز دراني صاحب

رئيس و شيخ الحديث جامعه تبليغ القرآن، يوسف آباد ، پېښور (پښتونخواه)

قرآن او حديث د دينِ اسلام او شريعت دوه بنيادي مأخذونه دي ـ د قرآن حيثيت د اُصولو او ضوابطو پهٔ شکل کښې ګويا کهٔ د يو قانون دے نو احاديث د جناب رسول الله ﷺ ئې تشريح او وضاحت دے، قرآن کهٔ د الله تعالىٰ وينا ده نو احاديثِ نبوي ئې عملي صورت دے، قرآن کښې کهٔ الله تعالىٰ حکم کړے دے نو نبي کريم الله ﷺ پرې عمل کړے دے او اُمت ته ئې پهٔ عملي توګه ښودلې ده چې د الله تعالىٰ پهٔ دې حکم داسې عمل کول پکار دي ـ د دې وجې نه يو مسلمان لره د قرآن او حديث نه ځان خبرول او پهٔ دې دواړو باندې ځان پهٔ خپله مورنۍ ژبه کښې پوهه کول يو اهم ديني ضرورت دے ـ پهٔ دې نيت د اُمت ډېرو علماؤ پهٔ مختلفو ژبو کښې د قرآن او حديث ترجمې کړې دي يعني پهٔ دې خيال چې عوام مسلمانان هم د قرآن او حديث نه خبر شي او پهٔ خپله زندګۍ کښې پهٔ دې باندې عمل وکړي چې د دنيا او د آخرت ژوند ئې د راحت، سکون او د کاميابۍ شي ـ

پهٔ دې ميدان کښې د شانګلې يو عالم ډاکټر مفتي کرامت الله صاحب هم دے چې د نورو تصانيفو سره سره ئې د احاديثو يوه مجموعه د "تحفهٔ احاديث" پهٔ نوم تياره کړې ده، څهٔ دپاسه څلور زره احاديث ئې پهٔ مختلفو عنواناتو د مشهور احاديثو کتابونو نه راجمع کړي دي او صرف پهٔ پښتو ژبه کښې ئې ترجمه ليکلې ده ـ ما بنده د دې کتاب پهٔ فهرست باندې نظر واچولو، د عوامو مسلمانانو دپاره د نبي کريم ﷺ د احاديثو او فرامينو نه د خبرېدو بهتره مجموعه ده ـ الله تعالىٰ دِ دا خدمت د خپلې رضا او د مسلمانانو د اصلاح ذريعه وګرزوي، آمين يا ربّ العالمين!

ابو معاويه محمد اياز دراني

۳ محرم ۱۴۴۵ه مطابق ۹ جولائي ۲۰۲۴ع

تمهید

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

انسان چې په ټولو مخلوقاتو کښې کوم امتیازي شان لري د دې کۀ هر څۀ او هر څومره مظاهر او وجوه وي او ګڼلے کیږي خو د ایمان و اعتقاد په رو سره ئې بنیادي او اصل قصه دا ده چې دے په دنیا کښې آزاد پاتې کېدو او خپلې مرضۍ کولو له نۀ دے پیدا بلکې الله تعالیٰ دۀ ته صرف د خپل عبادت او بندګۍ دپاره وجود ورکړے دے یا ئې په خپل ازلي مشیئت او حکمت و مصلحت سره دے د یوې خاصې پابندۍ یعني د دین و مذهب په یو داسې امتحان او آزمائش کښې اچولے او د هغې مکلّف جوړ کړے دے چې نتیجه ئې ورله په ماورا یو بل جهان یعني"آخرت" کښې مقرر کړې ده کوم چې مختصراً د انسان او غیرِ انسان په نسبت د متنوع سربسته رازونو د انکشاف او د بې شماره امکاناتو د تکمیل او تحقیق (realization)یو دائمي او ابدي نظام او مقام ښودلے شوے دے ـ نو انساني افرادو (او جناتو) له د شروع نه دین طے کړے شو یا بلکې دوی د دین دپاره شو ـ خلاصه دا چې دین و مذهب بس دستور او راهِ سلوک وګرزېدۀ ـ

د دې دین د جوړخت او د اخراج و ابراز دپاره د الله تعالیٰ د طرف نه د خاصو بندګانو یا نبیانو او د وحي سلسله کېښودے شوه کومه چې پینځلس سوه کاله مخکښې بالآخر اختتام ته ورسېده کله چې الله تعالیٰ حضرت محمد ﷺ آخري نبي (خاتم النبیین) راولېږلو او د مطلوبه هدایت آخري کتاب قرآن ئې پرې نازل کړو د کوم سره چې (د وحي خفي په صورت کښې) د دویم اصل په طور د هغوی د سنت (حدیث) اقتران وشو ـ دا رنګې دین کوم چې اصلاً د ټولو نبیانو په لاس یو راروان ؤ د هغې نهائي شکل د اسلام په نوم جلوه ګر او د راتلونکې ټولې زمانې دپاره متعین شو ـ

د دينِ اسلام د ماهيت، د دې د تکليفي، ابتلائي او امتحاني حيثيت او د لازمي اقتضا تحت د دې د اساسي چينو قرآن او حديث د لارې د څۀ عملونو او خصلتونو خلقو له خپلول او کول شو کوم چې ورله د آخرت د فائدې يا د ثواب ګرزولے شوي دي او د څۀ نه ورله بچ کېدل شو کوم چې ورله د آخرت د نقصان يا د عذاب ګرزولے شوي دي۔ چنانچه خلقو له د اسلام د اختيارولو، د دې د جمله احکامو د منلو او ادا کولو، د معروفاتو او مشروعاتو د کولو او د مُنکراتو او غير مشروعاتو د نۀ کولو، د دې پۀ سوري کښې د تللو، پۀ دې کښې د اوسېدلو او پۀ دې کښې د ختمېدلو نه بغير بله چاره پاتې نۀ شوه۔ دې سره دې هر څۀ له ورله لامحاله، حتماً، قرآن او سنت ته کتل او پۀ هغې نسکورېدل يا بس د هغې نه رڼا او رهنمائي اخستل شو کوم له چې خامخا د دې دواړو نه خبرېدل او وېخ ته ئې رسېدل ضروري او مطلوب قرار شول۔

دې کتاب "تحفۀ احاديث" کښې د رسول اللهﷺ څۀ مختلف احاديث پۀ پښتو ژبه کښې (بغير د عربي متونو او سندونو وغيره ؤ نه) جمع کړے شوي دي۔ اکثر حديثونه پۀ ترجمه کښې مطابق د اصل دي جبکه بعضې کوم چې پۀ اردو، انګرېزۍ او پښتو کښې وو يا بالمعنیٰ مخې له راغلي وو د هغې عمومًا مفهومونه ليکلے شوي دي۔ (تعداد: تقريباً څلور زره يوه سل او ديارلس) د حديثو ذخيره ډېره لويه ده دا خو محض يوه وړه شان نمونه ده۔

بنيادي غرض او مقصد د دې مجموعې نه وعظ و نصيحت او ترغيب و ترهيب دے۔ دنيا نه آخرت طرف ته، دنياداري نه دينداري طرف ته، آزادۍ نه پابندۍ طرف ته، بديانو نه نيکيانو طرف ته، معاشرتي او رواجي وغيره شعور او دباؤ نه ديني، ايماني او اُخروي شعور او دباؤ ته، د خپل ځان او د ژوند د ټولو نه د ښۀ او اصل استعمال طرف ته، خواهشاتو نه د مرګ او د قيامت د تقاضو طرف ته، د حقيقي او آخري منزل جنت او د الله تعالیٰ طرف ته رغبت او د دې د ضرورت ادراک او احساس پيدا کول دي (لکه څنګه چې د داسې موضوع دوه نور کتابونه " فکرِ موت و آخرت" او " ګناهون کي فهرست"

د دې نه مخکښې شائع کړے شوي دي او نور ليکونه هم موجود دي) ـ د دې مقصود پيشِ نظر د احاديثو د درجو وغيره ۇ هم کم خيال ساتلے شوے او پکښې د نرمۍ نه کار اخستے شوے دے ـ د سندونو او شرحو وغيره ۇ نه ئې خالي والے د لنډ والي او آسانۍ نه علاوه پۀ دې وجه دے چې توجه او سوچ د اصل حديثونو او پۀ هغې کښې چې څۀ دي د هغې نه بل خوا ته نۀ زي او زيات نه زيات پۀ هغې مرکوز پاتې کيږي چې د هغې د کارفرمائي اثر او ثمره زياته مونده کيږي ـ

دا حقيقت پټ نۀ دے چې کله د احاديثو د خپلو الفاظو پۀ ځائے يا د هغې سره نور څۀ راوړے کيږي لکه غير ضروري تقريرات، توضيحات، تفسيرات او تعبيرات وغيره نو بيا د هغې مغز، روح او هدايت ته د رسېدو او د هغې د جذب کولو معامله د يو خوب نه زياته نۀ وي ـ پۀ دې جهت سره دا ويېل هم غلط نۀ دي چې د اکثرو حديثونو پۀ لړ کښې کۀ ډېرو شرحو، تفصيلاتو او بحثونو څۀ خير راوړے وي نو بل خوا (کم از کم د عوامو پۀ لحاظ سره) هغه د شر يا د لوئے خير نه (يا د مقاصدو نه) د محروم والي سبب هم ګرزېدلي دي ـ (دا شانې پۀ دې کښې هم شک نيشتے چې پۀ زرګونو احاديث موجود دي هغه بهر ته نۀ راويستے کيږي، ټول پټ پراتۀ دي، مخلوق ترېنه لفظاً او معناً بې برخې راروان او روان دے) ـ

دلته دا څرګندونه هم مناسب ده چې د وعظ و تذکير يا پند و نصيحت پۀ بيانونو کښې د د آخوا دېخوا، ګډو وډو او اوږدو اوږدو خبرو پۀ ځائے اورېدونکو ته پۀ آسان، ساده، باوقار او سنجيده طرز سره پۀ متعلقه ژبه کښې د څۀ مضمون يو څو حديثونه اورولے کيږي، بالکل د اصل مطابق، بغير د شرحو نه، بغير د فائدو وغيره ۇ ذکر کولو نه او بغير د خپلو جملو ملاوولو نه، يعني بغير د هغه څۀ نه څۀ چې د حديث د اساسي پيغام، د هغې د خپل آواز او دعوت، د هغې د ترغيبي او ترهيبي عمل او د هغې د نُور نه بل خوا ته اَړول کوي او پۀ هغې کښې خنډ ګرزي ـ غرض دا چې اورېدونکي د حديث خپل ذاتي طاقت، دباؤ او تاثير و تحريک ته پرېښول پکار دي ـ عموماً ليدلے

کیږي چې د بعضې علماؤ چې د جمعې وغیره ؤ پۀ اجتماعاتو کښې کوم خطابونه وي پۀ هغې کښې اکثر داسې څۀ وي څۀ چې د عامو کسانو پۀ حق کښې بالکل عارضي، سطحي، بې اثره او هوائي ثابتیږي، چې څۀ خاص افادیت او معنویت ورله قطعًا نۀ لري (إلا ماشآء الله). پۀ هغې کښې چې چرته څۀ آیتونه او حدیثونه وړاندې کیږي نو پۀ واقعاتو، حکایاتو، تمثیلاتو، غیر ضروري نکاتو او تکلفاتو وغیره ؤ سره هغه بیخي شا ته بوتلے کیږي، فطري قوت او زور ئې ختمولے یا کمولے کیږي. (د یو غټ شیخ او مشهور واعظ د یو بیان پۀ باره کښې د یو کس نه تپوس وشو نو هغۀ ته پکښې صرف یوه لطیفه یاده وه). پۀ دې رنګې تقریرونو سره اوریدونکي پۀ وقتي جذبه کښې خو راتلے شي او د مقرر د انداز، آواز، بلاغت او شخصیت وغیره نه څۀ تأثر هم اخستے شي چې روستو پرې ضرور بیا بحث و مباحثه هم کوي، د ستائنې یا اعتراض کولو سلسله هم وي، خو پۀ یو ژور فکر، علمي رو، د مرګ او آخرت پۀ تصور، د خپلې جائزې اخستلو، د خپلو عیبونو او ګناهونو د معلومولو، د علاج و اصلاح د انتظام، د دینداری او تقویٰ د اختیارولو پۀ غم او د دې خبرو د بې انتها اهمیت او مطلوبیت پۀ غور کښې نۀ شي پرېوتے، یا دا چې په دې کښې صرف هغه څۀ وي څۀ چې د هوش پۀ ځائے یا د هغې نه زیات جوش راپورته کوي یا پکښې فقط جذباتو (emotions) ته بلنه (appeal) وي، عقل و فهم، ذهن، زړۀ او وجدان وغیره ته نۀ وي (کوم چې د سوچه آیتونو او احادیثو کار دے). (دا شانې کۀ د آیتونو او حدیثونو نه علاوه د نور چا د حکمت، عبرت، نصیحت او د فکرِ آخرت وغیره څۀ قولونه وي نو هغه د هغې پۀ خپلو اصل لفظونو کښې او بغیر د تفصیلونو نه ذکر کول پکار دي).

احادیث مبارکه نۀ صرف د بعضې تکلیفي اُمورو د اثبات، د قرآن د ادراک، د هغې د تبیین و تفهیم او د تعمیل وتطبیق دپاره دي بلکې دین ته د راتلو، دین سره د ربط و تعلق جوړولو، دین کښې د ترقۍ موندلو، دین کښې او د دین دپاره د ژوند تېرولو، پۀ دین د عامل کېدلو او د مرګ و آخرت د

پاسدارۍ ذريعه هم ده او چاره ترې نيشته ـ د دې ديني او اُخروي فائده بې انتها ده ـ د سفيان ثوري رحمه الله قول دے: لَيس شَئٌ أنفَعَ لِلنّاسِ مِنَ الحَدِيث (خلقو له د حديث نه زيات نفع ورکونکي څۀ نيشتي) ـ (تعليق "ادب المفتي والمستفتي لابن الصلاح")

د احاديثو نه پۀ صحيح طريقه پخپله خبرېدل او نور خلق ترېنه خبرول، پخپله ئې پۀ ښۀ شان سره پوهه حاصلول او نورو ته ئې منتقل کول، نۀ صرف نهايت ضروري دي بلکې عظيم اجر و ثواب او فضيلت لري ـ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: نَضّرَاللّٰهُ عَبداً سَمِعَ مَقَالَتِي فَوَعَاهَاوَ اَدّاهَا كَمَاسَمِعَهَا (الله دِ تروتازه کړي هغه بنده چا چې زما وينا واورېده، محفوظه ئې کړه او نورو ته ئې ورسوله څنګه ئې چې واورېده) ـ (متفق عليه)

دا هم ياد ساتل فرض دي چې د حديثونو پۀ معامله کښې د حد نه سوا حذر و احتياط لازم دے؛ چرته رسول الله ﷺ ته هغه څۀ منسوب نکړے شي چې قولاً، فعلاً يا تقريراً د هغوۍ نه ثابت نۀ وي ـ د نبي اکرم ﷺ ارشاد دے: "چا چې پۀ ما دروغ ووې قصداً نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي" ـ (متفق عليه) ـ د ابن سيرين رحمه الله وينا ده: هٰذَا الحَدِيثُ دِينٌ فَانظُرُوا عَمّن تَاۡخُذُونَ دِينَكُم (دا حديث دين دے نو ګورۍ چې د چا نه خپل دين اخلۍ) ـ (الترمذي فى الشمائل)

وَ لَا حَولَ وَ لَا قُوّةَ اِلّا بِاللّٰهِ العَزِيزِ الحَكِيم، وَلَهُ الحَمدُ وَ هُوَ رَبُّ الاَرضِ وَ السّمٰوَاتِ وَ العَرشِ العَظِيم، وَ الصّلوٰةُ وَ السّلَامُ عَلىٰ مُحَمّدٍ عَبدِهِ وَرَسُولِهِ الكَرِيم وَعَلىٰ آلِهِ وَ صَحبِهِ وَمَن تَبِعَهُم بِالقَلبِ السّلِيم!

کرامت الله

رجب ۱۴۴۵

نومبر ۲۰۲۳ء

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

اَلحَمدُ لِلّٰه رَبِّ العٰلَمِين، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ خَاتَمِ الاَنبِيَاءِ وَ المُرسَلِين، وَ علىٰ اٰله وَ اَصحَابِه اَجمَعِين۔

اللّٰه تعالىٰ پۀ قرآن مجيد کښې فرمائي:

❁ " دين د الله پۀ نزد اسلام دے " ۔(سورة آل عمران)

❁" نن ما تاسو له ستاسو دين مکمل کړو او پۀ تاسو مِ خپل نعمت تمام کړو او تاسو له مِ اسلام د دين پۀ طور خوښ کړو " ۔(المآئده)

❁ " اے هغه خلقو چې ايمان ئې راوړے دے داخل شئ پۀ اسلام کښې پوره " ۔(البقره)

❁ " اے ايمان والو! ويرېږئ د الله نه پۀ حقې يرې سره او مړۀ مۀ شئ مګر پۀ دې حال کښې چې تاسو مسلمانان (يا حکم وړونکي يئ) " ۔(آل عمران)

❁ " اے ايمان والو! ويرېږئ د اللّٰه نه او ودِګوري يو نفس (کس) چې صبا له ئې څۀ مخکښې لېږلي دي او ويرېږئ د الله نه بيشکه الله خبردار دے پۀ هغه څۀ چې تاسو کوئ " ۔(الحشر)

❁ " د الله پۀ نزد پۀ تاسو کښې د ټولو نه زيات عزتمند پۀ تاسو کښې د ټولو نه زيات تقوىٰ والا (پرهېزګار، د الله نه يرېدونکے) دے".(الحجرات)

❁ " تاسو پرېږدئ ښکاره ګناه او پټ ګناه ۔ کوم خلق چې ګناه کوي هغوئ ته به سزا ورکړے شي د خپلو کړو" ۔(الانعام)

❁ " اي ايمان والو بچ کړئ خپل ځانونه او خپل کور والا د هغه اُور نه چې لرګي د هغې خلق او ګټې دي" ۔ (التحريم)

❁ " څوک چې غواړي د جلدئ والا (دنيا) نو مونږ ورله زر ورکوو پۀ دې کښې څو (يا څۀ) چې چا له غواړو او بيا ورله مقرر کوو جهنم چې رسي به ورته بدې ردې ويېلے شوے او ټېل وهلے شوے ۔ او چا چې اراده وکړه د آخرت او وئې کړو ورله کوشش د هغې او دے مومن ؤ نو د دغه خلقو د کوشش به قدرداني کيږي (قبلولے کيږي به، بدله به ئې ورکولے کيږي) " ۔(بني اسرائيل)

۞ " دا خلق محبت کوي د جلدۍ والا (دنیا) سره او پرېږدي د ځان نه روستو یوه درنه ورز ". (الدهر)

۞ " او نۀ دے دا ژوند د دنیا مګر مشغله او لوبه او کور د آخرت بس (کور د اصل) ژوند دے کۀ دوی پوهېدلے". (العنکبوت)

۞ " هر نفس څښونکے دے مزه د مرګ، بیا به تاسو زمونږ طرف ته واپس کولے کېږۍ" . (العنکبوت)

۞ "پس چا چې سرکشي کړې وي او دنیوي ژوند له ئې ترجیح ورکړے وي نو دوزخ د هغۀ ځائے دے، او څوک چې د خپل رب پۀ وړاندې د ودرېدو نه یرېدلے وي او نفس ئې د خواهشاتو نه منع کړے وي نو جنت د هغۀ ځائے دے". (النازعات)

۞ " چا چې نیکي راوړه نو دوی له د هغې لس چنده ده او چا چې بدي راوړه نو دوی ته به بدله نۀ ورکولے کیږي مګر د هغې برابره او پۀ دوی به ظلم نۀ کیږي " . (الانعام)

۞ " پس څوک چې وکړي د یوې ذرې پۀ مقدار نیکي نو وُبه ویني هغه او څوک چې وکړي د یوې ذرې پۀ مقدار بدي نو وُبه ویني هغه ". (الزلزال)

۞ " کومو کسانو چې ایمان راوړ او نیک عملونه ئې وکړۀ دوی د ټولو نه غوره دي پۀ مخلوق کښې. د دوی بدله به د دوی د رب سره د همېشه والي باغونه وي چې لاندې به ترې ولې بهیږي، همېشه به پاتې کېدونکي وي پۀ هغې کښې. الله د دوی نه راضي او دوی د هغۀ نه راضي. دا د هغه چا دپاره څوک چې د خپل رب نه ویرېدۀ ". (البینة)

۞ "او جلدي وکړۍ د خپل رب بخښنې ته او هغه جنت ته د کوم ارت والے چې آسمانونه او زمکه ده، تیار کړے شوے دے متقیانو له". (آلِ عمران)

۞ "پس څوک چې لرې وساتلے شو د دوزخ نه او داخل کړے شو جنت ته نو هغه کامیاب شو". (آل عمران)

کتاب: دین و مذهب، ایمان، اسلام

باب: د دین څۀ بیان

دین صرف اسلام

✿ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ پۀ خپل کتاب کښې فرمائي: "او څوک چې ولټوي د اسلام نه علاوه دین نو د هغۀ نه به هیڅ کله قبول نکړے شي او هغه به پۀ آخرت کښې د زیان موندونکو نه وي". (احمد)

✿ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: زۀ تاسو ته د سپین صاف ملت سره راغلے یم او کۀ موسیٰ (علیه السلام) ژوندے وے نو زما د اتباع نه بغیر به ورله چاره نۀ وه. (احمد ، بیهقي)

✿رسول اللهﷺوفرمائیل: قسم مې دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې د محمد(ﷺ) روح دے! د دې اُمت (د دې زمانې) چې کوم سړے یهودي یا نصراني زما خبر واوري او بیا پۀ دې حال کښې مړ شي چې پۀ هغه څه ئې ایمان نۀ وي راوړے څۀ چې ما راوړي دي نو دے به د دوزخیانو نه وي. (مسلم)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زۀ سور او تور (هر یو) ته رالیږلے شوے یم. ()

✿ رسول اللهﷺوفرمائیل: چا چې د ملتِ اسلام نه علاوه پۀ یو بل ملت پۀ دروغه قسم وخوړ نو دے هغه شان دے څنګه ئې چې ووې. (ابوداؤد)

✿ رسول اللهﷺفرمائیلي دي: هر بچے پۀ فطرت (دینِ اسلام) باندې پیدا کیږي بیا د هغۀ مور او پلار هغه یهودي جوړوي یا نصراني یا مجوسي. (بخاري، مسلم)

خلقو له دين اصل، دين کښې فرض، حلال، حرام، حدود

❁ رسول اللهﷺ په خپلې يوې خطبه کښې وفرمائېل: زما رب فرمائېلي دي: څۀ چې ما بنده له ورکړي دي هغه حلال دي او ما خپل بندګان ټول دينِ حق والا (حنفاء) پيدا کړي وو خو شيطانان دوی ته راغلل او د دې نه ئې دوی واړول او حرام ئې کړل پرې څۀ چې پرې ما حلال کړي وو او دوی ته ئې حکم وکړو چې ما سره شريک کړي هغه څۀ په څۀ چې ما څۀ دليل نۀ دے نازل کړے۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: امانت د خلقو د زړونو په ويخ کښې نازل شو (يعني دين، د دين و ايمان استعداد)۔ (بخاري، مسلم، ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ څۀ څيزونه فرض کړي دي نو هغه مۀ ضائع کوئ او څۀ ئې د حرمت والا جوړ کړي دي نو د هغې بې حرمتي مۀ کوئ او څۀ حدود ئې مقرر کړي دي نو د هغې نه مۀ اوړئ۔ (دارقطني)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حلال هغه دي کوم چې الله تعالیٰ حلال کړي دي او حرام هغه دي کوم چې الله تعالیٰ حرام کړي دي۔ (حقيقتِ صلوٰة)

دين کښې د سکوت او د ابهام والا خبرې

❁رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: الله تعالیٰ د څۀ څيزونو نه بغير له هېرولو خاموشي فرمائېلې ده نو تاسو د هغې لټون مۀ کوئ۔ (دارقطني)

❁ د رسول اللهﷺ نه په يو حديث شريف کښې مروي دي: د څۀ نه چې الله تعالیٰ سکوت فرمائېلے دے هغه عفو دي۔ (حقيقتِ صلوٰة)

❁ د رسول اللهﷺ(يا د عمر يا د علي يا د ابن عباس رضي الله عنهم) نه ارشاد روايت کړے شوے دے: تاسو مُبهم (غيرِ واضح) پرېږدئ څۀ چې الله تعالیٰ مُبهم پرېښې دي۔ (بوادر النوادر)

دين نصيحت دے (خيرخواهي ده)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: دين نصيحت دے، دين نصيحت دے، دين نصيحت دے (يعني خيرخواهي ده). صحابو عرض وکړو: د چا دپاره اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ دپاره، د هغهٔ د کتاب دپاره، د هغهٔ د رسول دپاره، د مسلمانانو د حکمرانانو دپاره او د عامو مسلمانانو دپاره. (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې پهٔ داسې حال کښې سحر ونکړي چې د الله تعالیٰ، د هغهٔ د کتاب، د هغهٔ د رسول او د عامو مسلمانانو مخلص او خيرخواه وي نو دے د هغوی نه نهٔ دے. (طبراني)

د دينِ اسلام آسان والے، نرم والے وغيره

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زهٔ د حنيفي، آسان، نرم دين سره رالیږلے شوے يم، د ګران رهبانيت سره نهٔ يم رالیږلے شوے. (احمد، المبسوط)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: دا دين آسان دے (پهٔ نسبت د مخکښې دينونو) او څوک چې هم د دې مقابله کوي (چې پهٔ دې کښې سختي راوستل او د حد نه وتل غواړي) نو دا به پرې غالب کيږي. (نسائي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زهٔ غواړم چې د دوؤ کتابونو والا (يهود او نصاریٰ) دا خبره وپیژني چې زمونږ پهٔ دين کښې سماحت (آساني او د نرمۍ سلوک) دے. (احمد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ دين هغه دے کوم چې حنيفي او د نرم برتاؤ والا وي. (طبراني)

۞ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: کوم دينونه الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ دي؟ هغوی وفرمائيل: حنيفي، آسان، نرم. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما تاسو پۀ يو سپين ملت باندې پرېښوى چې شپه ئې د ورزې پۀ شان ده. (احياء علوم الدين)

دين کښې د نرمۍ، آسانۍ، اعتدال او بشارت وغيره سلوک

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دا دين قوي او مضبوط دے نو تۀ پۀ دې کښې پۀ نرمۍ سره کوشش کوه او د الله تعالىٰ عبادت ځان ته مۀ ناخوښوه. (احمد، بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستاسو د ټولو نه غوره دين (ديني عمل) هغه دے کوم چې د ټولو نه آسان وي. (احمد)

۞ د رسول اللهﷺ د يو ارشاد مبارک مفهوم دے: دين آسان دے نو تاسو د اعتدال، بشارت او اُميد سلوک لرۍ. (حجة الله البالغه)

۞ د عائشې رضى الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ته به د دوؤ خبرو پۀ مينځ کښې اختيار نۀ ورکولے کېدۀ مګر هغوى به پۀ هغه دواړو کښې کومه چې به زياته آسانه وه هغه اختياروله څو پورې چې به هغه ګناه نۀ ؤ. (بخاري، مسلم، شمائل)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو پۀ خپلو ځانونو سختي مۀ کوى کنه الله تعالىٰ به پۀ تاسو سختي وکړي. يو قوم پۀ خپل ځان سختي وکړه نو الله تعالىٰ پۀ هغۀ سختي وکړه. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالىٰ خوښوي چې د هغۀ پۀ رخصتونو عمل وکړے شي لکه څنګه چې خوښوي چې د هغۀ پۀ عزيمتونو عمل وکړے شي (يا لکه چې بد ګڼي چې د هغۀ نافرماني وکړے شي). (احمد، طبراني، بيهقي، بلوغ المرام)

۞ عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول اللهﷺ څۀ عمل وفرمايۀ او د هغې رخصت (اجازت) ئې ورکړو نو څۀ کسانو د هغې نه پرهېز کولو ـ دا خبره رسول اللهﷺ ته ورسېده، هغۀ خطبه شروع کړه، د الله تعالیٰ حمد ئې بيان کړو او بيا ئې وفرمائېل: څۀ حال دے د داسې کسانو چې پرهېز کوي د هغه شي نه چې زه ئې کوم! پۀ الله مِ دِ قسم وي زۀ د دوی نه پۀ الله تعالیٰ زيات عالم او د هغۀ نه زيات يرېدونکے يم ـ (الادب المفرد)

د دين قائم والے، د دې تائيد او مدد د فاجرو او بدو خلقو پۀ ذريعه هم

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دا دين به همېشه قائم وي، يو ټولګے د مسلمانانو به پۀ دې باندې جنګېږي تر دې چې قيامت راشي ـ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ د دې دين تائيد (مضبوطول) د يو فاجر سړي پۀ ذريعه (هم) کوي ـ (بخاري)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ د دې دين تائيد د هغه خلقو پۀ ذريعه (هم) کوي د کومو چې به (پۀ آخرت کښې) هيڅ حصه نۀ وي ـ (احياء)

باب: ايمان او اسلام

د ايمان او اسلام پېژنګلو

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ايمان پۀ زړۀ کښې دے او اسلام ښکاره دے ـ (احمد)

۞ د ابوهريرهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ يوه ورز خلقو ته راڅرګند ؤ چې يو سړے (جبريل عليه السلام) راغے او عرض ئې وکړو: اے د

الله رسوله ایمان څۀ شے دے؟رسول اللهﷺوفرمائیل: (ایمان دادے) چې تۀ یقین او تصدیق وکړې د الله تعالیٰ ، د هغۀ د فرښتو ، د هغۀ د کتابونو ، د هغۀ سره د یو ځائے کېدو، د هغۀ د پېغمبرانو، او یقین وکړې د دوباره ژوندې کېدو (او د ښۀ او بد تقدیر) (یعني دا ټول حق او رشتیا وګڼې) ـ هغۀ بیا عرض وکړو: اے د الله رسوله اسلام څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: (اسلام دا دے) چې تۀ عبادت وکړې د الله او د هغۀ سره څۀ شریک نکړې (یا ګواهي وکړې چې نیشتے اله (خدائے) مګر الله او محمد د الله رسول دے) او فرض نمونځ قائم کړې او فرض زکوٰة ورکړې او د رمضان روژې ونیسې (او د بیت الله حج وکړې کۀ طاقت لرې هغې ته د لارې) ـ (هغۀ بیا عرض وکړو: اے د الله رسوله احسان څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: (احسان دا دے) چې تۀ عبادت وکړې د الله (داسې) لکه چې تۀ هغه اینې نو کۀ تۀ هغه نۀ اینې نو هغه تا اینې) ـ (مسلم)

د ایمان او اسلام تاثیر

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد روایت کړے شوے دے: پۀ آخرت کښې به آخر وویلے شي چې وباسئ د دوزخ نه هغه څوک د چا پۀ زړۀ کښې چې د یو دینار پۀ مقدار (هم) ایمان وي ـ (احیاء)

❁رسول اللهﷺوفرمائیل: کله چې بنده مسلمان شي او اسلام ئې ښۀ ثابت شي نو الله تعالیٰ دۀ له هغه ټولې نیکیانې لیکي کومې چې دۀ (د مسلمانېدو نه) مخکښې کړې وي او هغه ټولې بدیانې ترېنه ختموي کومې چې دۀ مخکښې کړې وي ـ (نسائي)

❁ رسول اللهﷺپۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: اسلام ختموي هغه څۀ (ګناهونه) چې د دې نه مخکښې شوي وي ـ (مسلم)

د ایمان او اسلام مزه او خوږوالے

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د ایمان مزه وڅښله هغه چا څوک چې راضي شو پهٔ دې چې الله تعالیٰ رب دے، اسلام دین دے او محمد(ﷺ) رسول دے۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: درې خبرې دي چې پهٔ چا کښې وي نو پهٔ هغې سره به هغه د اسلام (او د ایمان) خوږوالے ومومي: چې الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول ورته د نور هر څهٔ نه زیات خوښ وي، چې د چا سره محبت ساتي نو صرف د الله تعالیٰ دپاره ساتي او چې کفر ته واپس شي دا دومره بد ګڼي لکه پهٔ اُور کښې چې وغورزولے شي۔ (نسائي، بخاري، مسلم)

د ټولو نه غوره ایمان او اسلام

(پهٔ څهٔ لحاظ سره)

❁ معاذ بن جبلرضی اللہ عنہد رسول اللهﷺ نه د ټولو نه د غوره ایمان تپوس وکړو۔ رسول اللهﷺوفرمائیل: چې تهٔ د الله تعالیٰ دپاره محبت وکړې او د الله تعالیٰ دپاره بغض وکړې او خپله ژبه د الله تعالیٰ پهٔ ذکر کښې مشغوله وساتې۔ (احمد)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: د ټولو نه غوره ایمان دا دے چې تهٔ دا علم (او یقین) ولرې چې الله تعالیٰ ستا سره دے۔ (القرآن و التصوف، دکتور میر ولي الدین)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: کوم اسلام د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چې تهٔ (پهٔ خلقو) ډوډۍ وخورويې او سلام ووایې پهٔ هغه چا څوک چې تهٔ پېژنې او پهٔ هغه چا څوک چې تهٔ نهٔ پېژنې۔ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې د ټولو نه د غوره اسلام والا هغه دي کوم چې په تاسو کښې د ټولو نه د ښۀ اخلاقو والا وي کله چې هغوی پوهه حاصله کړي۔ (الادب المفرد)

باب: د ایمان څۀ بیان

د ایمان څۀ شناخت، د ایمان شعبې

۞ یو سړي د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: ایمان څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا نیکي چې هغه خوشحاله کړي او بدي هغه خفه کړي نو هغه مومن دے۔ (احمد)

۞ د رسول اللهﷺ نه د ایمان پۀ بارۀ کښې تپوس وکړے شو نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: صبر او سماحت (سخاوت یا نرم سلوک) ۔ (طبراني، ابن حبان، احمد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ایمان څۀ دپاسه اویا شعبې دي، پۀ ټولو کښې غوره داده چې لاَ اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ (نیشتے اله مګر الله) او پۀ ټولو کښې معمولي د لارې نه د تکلیف څیز لرې کول دي او حیاء د ایمان شعبه ده۔ (بخاري، مسلم، ترمذي، ابوداؤد)

د سړي د ایمان حقیقت، د ایمان حقیقت ته رسېدل وغیره

۞ رسول اللهﷺ د حارثرضی الله عنه نه تپوس وکړو: څۀ حال دے؟ هغۀ ووې: اے د الله رسوله! پۀ الله تعالیٰ د رشتوني زړۀ نه ایمان لرم۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هر شي یو حقیقت وي ستا د ایمان حقیقت څۀ دے؟ هغۀ ووې: د دنیا نه زما زړۀ اوختے دے د دې وجې نه د شپې وېښ یم او د ورځې وږے ووسم، لکه چې ما ته د الله تعالیٰ عرش پۀ نظر رازي، لکه چې جنتیان د یو بل سره ملاقات کونکي اینم او لکه چې دوزخیان پۀ چغو اینم۔ رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل:

تهٔ پوهه شوے يې (يا تا يقين حاصل کړے دے) وس پهٔ دې قائم ووسه. (اسوهٔ صحابه)

❁ روايت دے چې رسول اللهﷺ د معاذ رضي الله عنه نه د هغهٔ د ايمان د حقيقت تپوس وکړو. معاذ رضي الله عنه ووئيل: ما هيڅ يو قدم نهٔ دے اخستے مګر دا ګمان مې کړے دے چې بل به ورپسې وانخستے شم. (ابونعيم)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: يو بنده د ايمان حقيقت ته نهٔ شي رسېدے دې پورې چې خلقو ته داسې وګورې لکه د الله تعالىٰ پهٔ نزد اُوښان او بيا خپل ځان ته راوګرزي نو خپل ځان د ټولو نه لاندې (حقير) بيامومي. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: شپږ خبرې دي چې پهٔ چا کښې وي نو د ايمان حقيقت ته به ورسي: پهٔ اوړي (ګرمئ) کښې روژې نيول، پهٔ تُوره (د دين) دشمنان وهل، د ډېر بارانهٔ او تورې وريځې پهٔ ورز زر نمونځ کول، پهٔ مصيبتونو صبر کول، پهٔ ګران والي (يخنئ) کښې ښهٔ او پوره اودس کول، او جګړه نهٔ کول اګرکهٔ رشتونے (پهٔ حقه) وي. (ديلمي)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: يو بنده د ايمان حقيقت نهٔ شي مکمل کولے ځو پورې چې جګړه پرېنږدي اګرکهٔ پهٔ حقه وي. (ابن ابى الدنيا، احياء)

د ايمان بعضې نښې

❁ د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې د انصارو څنګ ته تشريف يوړو نو وئې فرمائيل: تاسو مومنان يې؟ هغوئ غلي پاتې شو نو عمر رضي الله عنه ووئيل: آ (مونږ مومنان يو) اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائيل: ستاسو د ايمان څهٔ علامه ده؟ هغوئ (انصارو) ووې: پهٔ ښهٔ حال کښې شکر کوو، پهٔ تکليف او مصيبت کښې صبر کوو او پهٔ تقدير راضي کيږو. رسول اللهﷺ وفرمائيل: مومنان يئ. قسم پهٔ رب د کعبې! (طبراني)

۞ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: د ایمان لرلو د ټولو نه لوئے او بنیادي علامت دا دے چې د مومنانو (مسلمانانو) سره محبت او د کافرانو (غیرمسلمو) سره بغض وساتلے شي. (دې ریلیجن ریفارمرز اِن اسلام، کیمیائے سعادت)

د ایمان د مکمل والي څۀ څیزونه

۞ د رسول الله ﷺ نه مروي دي: بنده ایمان نۀ شي مکمل کولے تر څو چې پکښې درې خویونه نۀ وي: پۀ تنګ دستۍ کښې خرچ کول، د خپل ځان نه انصاف کول او سلام ویېل. (احیاء)

۞ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: د بنده ایمان د هغه وخته پورې نۀ شي مکمل کېدے څو پورې چې پکښې درې خویونه نۀ وي: یو دا چې کله پۀ غصه کښې وي نو غصه ئې د حق نه لرې نکړي، دویم دا چې کله خوشحاله وي نو خوشحالي ئې پۀ ناحقه کښې اخته نکړي او دریم دا چې کله د یو شي پۀ اخستو قادر شي نو هغه څۀ وانخلي څۀ چې د دۀ نۀ وي. (طبراني)

۞ د رسول الله ﷺ نه پۀ یو حدیث مبارک کښې ارشاد مروي دے: بنده خپل ایمان د هغه وخته پورې نۀ شي مکمل کولے تر څو چې ورته دا خبره چې دے ونۀ پېژندے شوے د دې نه زیاته خوښه نۀ شي چې دے وپېژندے شوے. (ابومنصور دیلمي)

د ایمان لرلو څۀ شرطونه، خصلتونه، یوه خاصه خبره

۞رسول الله ﷺ وفرمائیل: پۀ تاسو کښې څوک د هغه وخته پورې مومن نۀ شي کېدے تر څو چې د هغۀ خواهش د هغه څۀ تابع نۀ شي کوم څۀ چې ما راوړي دي (یعني دین او احکام). (متفق علیه)

۞ د رسول الله ﷺنه روایت کړے شوے دے: پۀ تاسو کښې یو کس تر هغه وخته مومن نۀ شي کېدے څو پورې چې ورته الله او د هغۀ رسول د نور هر څۀ نه زیات خوښ نۀ شي. (احیاء)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې څوک مومن نهٔ شي کېدے تر څو چې زهٔ هغهٔ ته د هغهٔ د مور او پلار، د هغهٔ د زوي (یا د هغهٔ د اهل، د هغهٔ د مال) او د ټولو خلقو نه زیات محبوب نهٔ یم۔ (ابن ماجه، نسائي)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې څوک د هغه وخته پورې مومن نهٔ شي کېدے څو پورې چې د ے خپل (مسلمان) وروړ له هغه څهٔ خوښ نکړي څهٔ چې ځان له خوښوي۔ (متفق علیه)

۞د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: سړے د هغه وخته پوري مومن نهٔ شي کېد ے تر څو چې د دهٔ زړهٔ او ژبه یو شوي نهٔ وي او تر څو چې د دهٔ وینا د دهٔ د عمل مطابق نهٔ وي او تر څو چې د دهٔ ګاونډي د دهٔ د شر نه محفوظ نهٔ وي۔ (ترغیب)

۞د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد مروي دے: څوک د هغه وخته پورې مومن نهٔ شي کېدے تر څو چې ورته لیونے ونهٔ ویېلے شي۔ (مکتوباتِ امام رباني)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: بنده (پهٔ صحیح معنیٰ کښې) نهٔ پهٔ زمکه کښې مومن کېدے شي او نهٔ پهٔ آسمان کښې تر څو چې تعلق لرونکے (میل ملاپ کونکے) نهٔ وي او تعلق لرونکے نهٔ شي کېدے تر څو چې مسلمان نهٔ وي او مسلمان نهٔ شي کېدے تر څو چې خلق د هغهٔ د لاس او ژبې نه محفوظ نهٔ وي او مسلمان نهٔ شي کېدے تر څو چې عالم نهٔ وي او عالم نهٔ شي کېدے تر څو چې پهٔ علم عمل کونکے نهٔ وي او پهٔ علم عمل کونکے نهٔ شي کېدے تر څو چې زاهد (د دنیا نه بې رغبته) نهٔ وي او زاهد نهٔ شي کېدے تر څو چې پرهېزګار نهٔ وي او پرهیزګار نهٔ شي کېدے تر څو چې عاجزي (تواضع) کونکے نهٔ وي او عاجزي کونکے نهٔ شي کېدے تر څو چې د خپل ځان

پېژندونکے نۀ وي او د خپل ځان پېژندونکے نۀ شي کېدے تر څو چې پـۀ خبرو کولو کښې عقلمند نۀ وي. (المنبهات لابن حجر رحمه الله)

د ایمان او کفر پۀ نسبت د خلقو څۀ طبقې

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: خبردار! بني آدم پۀ څۀ طبقو پیدا کړے شوے دي: څوک هغه دے چې مومن پیدا شي، مومن ژوندے پاتې شي او مومن مړ شي؛ څوک هغه دے چې کافر پیدا شي، کافر ژوندے پاتې شي او کافر مړ شي؛څوک هغه دے چې مومن پیدا شي، مومن ژوندے پاتې شي او کافر مړ شي؛ او څوک هغه دے چې کافر پیدا شي، کافر ژوندے پاتې شي او مومن مړ شي. (ترمذي)

د ایمان متعلق څۀ خبرې

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ ستا سو پۀ مینځ کښې ستاسو اخلاق تقسیم کړي دي څنګه ئې چې ستاسو پۀ مینځ کښې ستاسو رزقونه تقسیم کړي دي، او بېشکه الله تعالیٰ دنیا ورکوي هغه چا له څوک ئې چې خوښ وي او هغه چا له څوک ئې چې خوښ نۀ وي او ایمان (یا دین) نۀ ورکوي مګر هغه چا له څوک ئې چې خوښ وي. (الادب المفرد)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: ایمان ستاسو پۀ خېټه کښې زړېږي لکه ټوکے چې زړېږي نو د الله تعالیٰ نه سوال کوئ چې ایمان ستاسو پۀ زړونو کښې نوے کوي. (صحیح الجامع للألباني، السلسلة الصحیحه)

باب: مومن

د مومن څۀ علامتونه او خصلتونه

۞ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: مومن هغه دے کوم چې د الله تعالیٰ د حدودو او احکامو پابندي کوي، همېشه د قدرت پۀ نښانو کښې فکر کوي، پۀ عقل پوره وي، روغ زړۀ لري، ژبه ئې پاکه وي، اخلاق ئې ښۀ وي، لږ خاندي او زیات ژاړي، د الله تعالیٰ زیات زیات ذکر کوي، حرص او خواهش ووژني، همېشه غمګین وي، د شیطان مخالف او د رحمٰن موافق وي، د دنیا د معاملاتو نه لرې ووسي، د آخرت د کارونو سره رغبت ساتي، د خپل نفس د عېبونو پۀ لټولو کښې مشغول وي، د نورو خلقو د عېبونو سره ئې کار نۀ وي، قرآن ئې خبرې وي، ناسته ئې د نیکو خلقو سره وي، د شپې پاڅي، همېشه پۀ اوداسۀ کښې ووسي، چې کله هم وخت مومي نو فوراً دوه رکعته نمونځ کوي، د خپل انجام ورسره هر وخت سوچ وي، د الله تعالیٰ پۀ یاد کښې اخته وي، درود شریف ئې وظیفه وي او حلال رزق ئې روزي وي۔ (تذکرة الواعظین)

۞ د علي رضي الله عنهنه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: اے د الله رسوله! د مومن څۀ علامت (او شناخت) دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ مومن کښې څلور خویونه پکار دي: اول دا چې خپل زړۀ د حسد او غرور نه وساتي، دوېم دا چې خپله ژبه د دروغو او غیبت نه وساتي، درېم دا چې خپل نیک عمل د ښودنې او مشهورتیا نه وساتي او څلورم دا چې خپله خېټه د شکمن او حرام خوراک نه وساتي۔ (تذکرة الواعظین)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن هغه دے د چا نه چې خلق د خپلو وینو او مالونو پۀ باره کښې پۀ امن وي۔ (ترمذي، بخاري، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مومن شلېدونکے او پیوند لګونکے وي او خوش قسمته هغه دے چې پۀ خپل پیوند مړ شي۔ (طبراني، بیهقي)

✿ رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایۀ: مومن هغه دے چې خپل نفس د خپلو دواړو طرفونو نه وباسي۔ (بیهقي)

✿ د رسول الله ﷺ نه مروي دي: د مومن عزت او شرَف د هغۀ دین دے، د هغۀ حسب د هغۀ اخلاق دي او د هغۀ مروءت د هغۀ عقل دے۔ (ابن حبان، حاکم)

د مومن بعضې صفتونه، د مومن مقام

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: د مومن د فراست (باطني رڼا) نه وُیرېږه چې هغه د الله تعالیٰ پۀ نور سره کتل کوي۔ (ترمذي)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: مومن د یوې سوړې نه دوه پېرې نۀ چیچلے کیږي۔ (متفق علیه)

✿ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: مومن د خپلې زمانې نه خبر وي ۔ (ډائري، مولانا وحید الدین)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: مومن د وګي پۀ شان دے کله سیده کیږي او کله کږیږي۔ (احیاء)

✿ رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: مومن الله تعالیٰ ته د بعضو فرښتو نه زیات عزتمند دے۔ (ابن ماجه)

✿ د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما رسول الله ﷺ ولیدۀ چې د کعبې طواف ئې کولو او فرمائیل ئې: تۀ څومره عمده (پاکه) یې! ستا اوچت والے څومره عمده دے! تۀ څومره لویه یې! ستا حُرمت څومره لوئے دے! (خو) قسم مِ دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې د محمد روح دے! د مومن حُرمت د الله تعالیٰ پۀ نزد ستا د حُرمت نه زیات لوئے دے، د هغۀ مال او د هغۀ وینه۔ (ابن ماجه)

باب: اسلام

د اسلام ارکان

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د اسلام بنا پۀ پینځۀ خبرو ده: دا ګواهي چې نیشتے اله (خدائے) مګر الله او محمد د الله رسول دے او نمونځ قائمول او زکوٰة ورکول او حج کول او د رمضان روژې نیول. (متفق علیه)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: اسلام پۀ پینځۀ خبرو جوړ کړے شوے دے: چې د الله تعالیٰ عبادت وکړے شي او د هغۀ د ماسوا (د عبادت) نه انکار وُکړے شي او نمونځ قائمول او زکوٰة ورکول او د بیت الله حج کول او د رمضان روژې نیول. (مسلم)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: اسلام پۀ پینځۀ خبرو جوړ کړے شوے دے: چې الله تعالیٰ یو وګڼلے شي او نمونځ قائمول او زکوٰة ورکول او د رمضان روژې نیول او حج کول. (مسلم)

د اسلام او مسلمان والي څۀ شناخت، خصلت، شرط وغیره

❁ سفیان بن عبد اللهرضي الله عنه رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما ته د اسلام پۀ باره کښې داسې څۀ وفرمائې چې ستاسو نه روستو بیا زۀ د هیچا نه تپوس ونکړم. رسول اللهﷺ وفرمائېل: ووایه چې ایمان مِ راوړ پۀ الله او بیا پۀ دې قائم پاتې شه. (مسلم، ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: اسلام څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ښۀ خبرې کول او ډوډۍ خورول. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قسم مِ دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې زما روح دے! یو بنده مسلمان نۀ شي کېدے څو پورې چې د هغۀ زړۀ او ژبه مسلمانان نۀ شي. (احمد، بیهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: مسلمان هغه دے د چا د ژبې او د لاس نه چې مسلمانان سلامت وي. (بخاري، ترمذي)

د اسلام متعلق څۀ خبرې

۞رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: د امر سر (رأس الامر) او بنیاد اسلام دے، ستن ئې نمونځ دے او بره سر ئې جهاد دے. (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائیل: چا چې اسلام راوړو هغوی خپلې وینې محفوظ کړې. (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: اسلام زیاتول کوي کمول نۀ کوي. (فتح الباري)

۞ رسول اللهﷺارشاد وفرمایۀ: اسلام به اوچت (غالب) وي ښکته (مغلوب) به نۀ وي. (دارقطني)

۞رسول اللهﷺ وفرمائیل: اسلام غریب (ناشنا، بې څوکه، د لږو کسانو والا) شروع شوے دے او دوباره به هغه شان کیږي څنګه چې شروع شوے دے، پس نیک بختي ده غریبانو له څوک چې به سمَوي هغه څۀ چې زما نه روستو خلق وران کړي زما د سنت نه. (مسلم)

د اسلام نه علاوه بل دین او د قرآن نه علاوه د بل نبي کتاب لټول

۞ د جابرؓ نه روایت دے: عمرؓد رسول اللهﷺپۀ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: مونږ څۀ خبرې د یهودو نه اورو چې پۀ مونږ عجیبه (ښې) لګي نو تاسو څۀ فرمائی، مونږ تربنه بعضې لیکلے شو؟ رسول اللهﷺوفرمائیل: تاسو (پۀ خپل دین او کتاب کښې) حیران یئ څنګه چې یهود او نصارا حیران شوي وو؟ زۀ تاسو ته د سپین صاف ملت سره راغلے یم

او كۀ موسیٰ (عليه السلام) ژوندے وے نو زما د پيروئ نه بغير به ورله ګنجائش نۀ ؤ ـ (احمد ، بيهقي)

❁ د يحيیٰ بن جعده رحمه الله نه روايت دے: رسول اللهﷺ ته د اوږې پۀ هډوکي ليکلي څۀ راوړے شو نو هغوئ وفرمائيل: د يو قوم د ګمراهئ دپاره دا خبره کافي ده چې هغه د خپل کتاب نه علاوه بل کتاب ولټوي چې د هغۀ د نبي نه علاوه بل نبي ته راغلے وي ـ (ابوداؤد في مراسيله)

کتاب: د دين بنيادي چينې: قرآن او سنت

باب: د قرآن او سنت دواړو څۀ ذکر

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: هغه (څيزونه) صرف دوه دي: کلام او هدي (طريقه) نو د ټولو نه غوره کلام د الله کلام دے او د ټولو نه غوره هدي د محمد (ﷺ) هدي ده ـ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ما له قرآن او د دې سره د دې پۀ مثل څۀ راکړے شوي دي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ ما له قرآن او د دې پۀ شان د حکمت نه څۀ راکړي دي ـ (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ما پۀ تاسو کښې دوه څيزونه پرېښودۀ، تاسو به هيڅ کله ګمراه نۀ شئ تر څو چې هغه نيولي وُساتئ: د الله کتاب او د هغۀ د رسول سنت ـ (مالک)

❁ رسول اللهﷺارشاد وفرمايۀ: امانت (دين) د خلقو د زړونو پۀ ويخ کښې نازل شو؛ بيا قرآن نازل شو نو هغوئ د قرآن نه څۀ ازده کړۀ (يا ئې قرآن ولوستۀ) او د سنت نه ئې څۀ ازده کړۀ ـ (بخاري، مسلم، ترمذي)

کتاب: قرآن

باب: د قرآن متعلق څۀ بیان (مُثبت)

د قرآن فضیلت او شان

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: د قرآن فضیلت (غوره والے) پۀ نورو کلامونو داسې دے لکه د الله تعالیٰ فضیلت پۀ خپل مخلوق باندې. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: قرآن الله تعالیٰ ته د آسمانونو، زمکې او پۀ دې کښې چې څۀ دي د هغې نه زیات خوښ دے. (رد المحتار، بوادر النوادر). پۀ یو روایت کښې د یو آیت ذکر دے. (المقاصد الحسنه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قرآن هغه مالداري ده چې روستو ترېنه بله مالداري نیشته او د دې سره فقیري نیشته. (ابویعلیٰ، طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو الله تعالیٰ ته نۀ شی واپس کېدے پۀ زیات غوره شي سره د هغې نه کوم چې د هغۀ نه صادر شوے دے یعني قرآن. (حاکم، ابوداؤد في مراسیله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هر شي له یو اوچت والے وي چې خلق پرې فخر کوي او زما د اُمت رونق او اوچت والے قرآن دے. (ابونعیم)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پۀ قرآن سره برکت حاصلوه ځکه چې دا د الله تعالیٰ کلام دے. ()

۞ د ابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺ پۀ دې لیک (صحیفه) کښې دا وو چې پۀ دې قرآن به لاس نۀ ږدي مګر یو پاک سړے. (ابوداؤد في مراسیله)

۞ رسول اللهﷺ د حجة الوداع پۀ خطبه کښې وفرمائېل: ما پۀ تاسو کښې هغه شے پرېښے دے چې کۀ تاسو پرې عمل وکړو نو د هغې نه روستو به هیڅکله ګمراه نۀ شئ، د الله تعالیٰ کتاب. (متفق علیه)

یو خاص حدیث، قرآن مُعجزه

۞ د علي رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه واورېدۀ: عنقریب به یوه فتنه وي: ما عرض وکړو: د وتو (تښته) څۀ لار ده اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله کتاب. پۀ دې کښې ستاسو نه د مخکښې والو خبر دے او د روستو والو خبر دے. دا ستاسو پۀ مینځ کښې چې څۀ وي د هغې حکم او فیصله ده. دا حق دے، د ټوقې خبره نۀ ده. چا جبر کونکي (متکبر) چې دا پرېښو الله تعالیٰ به هغه مات کړي (مصیبت به پرې نازل کړي). چا چې د دې نه بغیر پۀ نور څۀ سره هدایت ولټولو الله تعالیٰ به هغه ګمراه کړي. دا د الله تعالیٰ مضبوطه رسۍ ده. دا ذکر او د حکمت والا دے او دا نېغه لار ده. دا هغه دے چې پۀ دې نۀ خواهشونه کږیږي او نۀ ژبې خلط ملط کوي. د دې نه علماء نۀ مړیږي. دا پۀ ډېرو دوباره دوباره ویېلو سره نۀ زړیږي. د دې عجائب نۀ ختمیږي. دا هغه دے چې کله پېریانو دا واورېدۀ نو د دې ویېلو نه بغیر پاتې نۀ شو: " مونږ واورېدۀ یو قرآن عجیبه چې ښايي د نیکۍ لار نو مونږ پرې ایمان راوړ" . چا چې د دې وینا وکړه هغۀ رشتیا ووې، چا چې پۀ دې عمل وکړو هغۀ ته اجر ملاؤ شو، چا چې پۀ دې فیصله وکړه هغۀ انصاف وکړو او چا چې دې ته رابلل وکړۀ هغۀ نېغه لار وښوده. (ترمذي، دارمي). پۀ یو بل روایت کښې داسې راغلي دي: الله تعالیٰ نازل کړے دے دا قرآن امر کونکے او منع کونکے او مخکښېنے سنت او بیان کړے شوے مثال. دي کښې ستاسو خبر دے او ستاسو نه د مخکښېنو خبر دے او ستاسو نه د روستنو خبر دے. دا ستاسو پۀ مینځ کښې حکم (فیصله کونکے) دے. دا نۀ شي زړولے د دې بار بار

پهٔ ژبو راتلل او بیانېدل۔ د دې عجائب نهٔ ختمیږي۔ دا حق دے ټوقه نهٔ ده۔ چا چې د دې وینا وکړه هغهٔ رشتیا ووې، چا چې د دې حکم وکړو هغهٔ عدل وکړو، چا چې پهٔ دې د چا سره خصومت وکړو هغه برے بیاموند، چا چې پهٔ دې حکم وکړو هغهٔ انصاف وکړو، چا چې پهٔ دې عمل وکړو هغهٔ ته اجر ملاؤ شو، چا چې دا کلک ونیسهٔ هغهٔ ته د نېغې لارې هدایت وکړے شو، چا چې د دې نه پهٔ غیر سره هدایت طلب کړو الله تعالیٰ به هغه ګمراه کړي، چا چې د دې نه پهٔ بل څهٔ حکم وکړو الله تعالیٰ به هغه ټکړې ټکړي کړي۔ دا ذکرِ حکیم، نورِ مُبین، صراطِ مستقیم، د الله تعالیٰ محکمه رسۍ او نفع ورکونکې شفا ده۔ دا عصمت (بچاؤ) دے هغه چا له څوک چې دې پورې ونخلي او خلاصے دے هغه چا له څوک د دې پیروي وکړي۔ (نورالیقین)

❁ د ابوهریرهؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ نبیانو کښې هر نبي ته څهٔ مُعجزه ورکړے شوې وه چې خلقو پهٔ هغې سره ایمان راوړو او ما ته چې کومه مُعجزه راکړے شوه هغه وحي وه چې الله تعالیٰ ما ته نازله کړه، پس زهٔ اُمید لرم چې د قیامت پهٔ ورځ به زهٔ د ټولو نه د زیاتو پیروکارانو والا یم۔ (متفق علیه)

د قرآن والو فضیلت

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: قرآن والا خلق الله والا خلق دي۔ (النسائي فی الکبریٰ، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ له پهٔ خلقو کښې څهٔ اهلونه (خاص نزدې خلق) دي۔ عرض وکړے شو: هغوی څوک دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قرآن والا۔ هغوی د الله تعالیٰ اهل او خواص دي۔ (ابن ماجه، نسائي، احمد، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا له چې الله تعالیٰ قرآن ورکړو او بیا دهٔ دا ګمان وکړو چې یو کس د دهٔ نه زیات غني (مالدار) دے نو دهٔ د الله تعالیٰ د آیتونو سره ټوقې وکړې. (البخاري فی التاریخ)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: صاحبِ قرآن (قرآن والا) ته به وویېلے شي کله چې هغه جنت ته داخل شي: لوله او خېژه. هغه به لولي او پهٔ هر آیت به یوه درجه خېژي تر دې چې هغه آخري ځۀ به ولولي ځۀ چې به ورسره وي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قرآن والا ته به وویېلے شي: لُوله او (د جنت پهٔ پوړو) خېژه او پهٔ قراره قراره لُوله څنګه چې به دِ پهٔ دنیا کښې پهٔ قراره قراره لوستۀ، ستا ځائے د آخري آیت (یا حرف) سره دے کوم چې تۀ ولولې. (ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، احمد، ابن حبان)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قرآن به د قیامت پهٔ ورز د رنګ وهلي سړي پهٔ شانې راشي او وُبه وائي چې زهٔ هغه څوک یم چې ستا شپه مِ رون کړې وه او ستا ورز مِ ترږې کړې وه. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې قرآن ولوستۀ دهٔ پهٔ خپل ځان کښې دننه نبوت واخستۀ خو وحي ورته نۀ کیږي. صاحبِ قرآن له نۀ دي پکار چې غصه کونکي سره غصه وکړي او جهل کونکي سره جهل وکړي پهٔ داسې حال کښې چې د دهٔ پهٔ خېټه کښې د الله تعالیٰ کلام پروت وي. (حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا پهٔ خېټه کښې چې د قرآن نه څۀ نۀ وي هغه د وران کور پهٔ شان دے. (ترمذي)

د قرآن حفظ کول، د حافظ فضیلت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې قرآن ولوستۀ او حفظ ئې کړو الله تعالیٰ به دے جنت ته داخل کړي او د دهٔ شفاعت (سفارش) به قبول کړي د دهٔ د کوروالو د لسو کسانو دپاره کومو له چې دوزخ واجب شوے وي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺفرمائيلي دي: کله چې د قرآن حافظ مړ شي نو الله تعالیٰ زمکې ته وحي وفرمائي چې د دۀ غوښه ونۀ خورې. زمکه وو ايي چې زۀ به د دۀ غوښه څنګه وخورم چې ستا کلام د دۀ پۀ خېټه کښې د ے. ()

قرآن ازده کول، ښودل، يوبل ته ئې درس کول، پۀ دې مشغول والے

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قرآن ازده کړئ او دا لولئ. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ تاسو کښې د ټولو نه غوره هغه څوک د ے چې قرآن (پخپله) ازده کړي او نورو ته ئې وښايي . بخاري، ابوداؤد ، ابن ماجه، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: څۀ خلق نۀ جمع کيږي د الله تعالیٰ د کورونو نه پۀ يو کور (جمات) کښې چې د الله تعالیٰ کتاب لولي او پۀ خپل مينځ کښې د هغې درس کوي مګر پۀ هغوئ سکينه نازليږي او رحمت ئې پټوي او فرښتې ترې چاپېره کيږي او الله تعالیٰ ئې پۀ هغه خلقو کښې ذکر کوي کوم چې د هغۀ سره دي (ملأ اعلیٰ). (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: هغه څوک چې قرآن هغه مشغول کړي زما د ذکر نه او زما نه د سوال کولو نه، هغۀ له به زۀ د هغې نه غوره څۀ ورکوم څۀ چې سوال کونکو له ورکوم. (ترمذي)

د قرآن يقيني مطلب اخستل، پۀ معنو ئې پوهېدل، د غرائبو اتباع ئې کول

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: اخلئ (د قرآن) هغه مطلب (تاويل) کوم چې تاسو ته معلوم وي او پۀ څۀ کښې چې شک کوئ هغه الله تعالیٰ ته پرېږدئ. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ د رسول الله ﷺنه روايت کړے شوے دے: د قرآن د معنو پوهه حاصلوئ او د هغې د غرائبو اتباع کوئ او د هغې غرائب د هغې فرائض او حدود دي. (بيهقي)

د قرآن لوستل (تلاوت کول)

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: زما د اُمت د ټولو نه غوره عبادت (عمل) د قرآن تلاوت دے. (ابونعيم)

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: د هر شي دپاره يو صيقل (زنګ لرې کونکے) وي او د زړۀ صيقل د قرآن تلاوت دے. (حجة الله البالغه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: کوم کس چې قرآن لولي او پۀ دې کښې ماهر وي، دے به د نيکيانو ليکونکو فرښتو سره وي، او کوم کس چې قرآن لولي او پۀ دې کښې نخلي او دا پرې ګران وي نو هغۀ له دوه اجره دي. (متفق عليه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: چا چې د الله تعالیٰ د کتاب يو حرف ولوستۀ دۀ له يوه نيکي ده او نيکي يوه پۀ لس ده؛ زۀ دا نۀ وايم چې "الم" يو حرف دے بلکې الف حرف دے، لام حرف دے او ميم حرف دے. (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: څوک چې د الله تعالیٰ د کتاب يو آيت تۀ غوږ کېږدي نو هغۀ له دوچنده نيکي وليکلے شي او څوک چې دا ولولي نو هغۀ له به دا د قيامت پۀ ورځ نور وي. (احمد)

❁ يو سړي د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو: اے د الله رسوله! الله تعالیٰ ته کوم عمل د ټولو نه زيات خوښ دے؟ رسول الله ﷺوفرمائيل: "حال مرتحل". هغه سړي عرض وکړو: "حال مرتحل" څۀ دے؟ رسول الله ﷺ وفرمائيل: هغه کس چې د قرآن د اول نه د آخره پورې (پۀ تلاوت سره) لاړ شي نو کله چې کوز شي نو بيا روان شي (يعني چې ختم ئې کړي نو بيائې د سره شروع کړي). (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه رویت کړے شوے دے: پۀ کومو کورونو کښې چې د قرآن تلات کیږي هغه آسمان والو ته داسې ځلیږي لکه زمکې والو ته چې ستوري ځلیږي - (ابونعیم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څوک چې پۀ شپه کښې لس آیتونه تلاوت کوي نو د غافلانو نه به نۀ لیکلے کیږي - (حاکم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څوک چې پۀ شپه کښې سل آیتونه لولي نو د قانتینو (اطاعت ګزارو، عبادت ګزارو) نه به ولیکلے شي - (ابن خزیمه، حاکم)

پۀ قرآن عمل، قرآن سره تلل، احکام ئې منل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې قرآن ولوستۀ او پۀ هغې کښې چې څۀ دي پۀ هغې ئې عمل وکړو نو د دۀ والد ته به (د قیامت پۀ ورز) یو تاج پۀ سر کړے شي چې د هغې رڼا به د نمر د رڼا نه هم زیاته وي - (احمد، ابوداؤد، حاکم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قیامت پۀ ورز به قرآن او قرآن والا خلق راوستے شي کومو چې به پۀ دنیا کښې پۀ دې عمل کولو - د ټولو نه مخکښې به سورۀ بقره او آلِ عمران وي چې د خپل صاحب (لوستونکي او عمل کونکي) د طرف نه به حجت کوي - (مسلم)

۞ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: خبردار د اسلام جرنده چلېدلې ده (اسلام قائم شوے دے) نو تاسو د قرآن سره زئ چرته چې هم هغه زي - (طبراني، سیاستِ اسلامیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې قرآن ولوستۀ بیا ئې هغه یاد کړو، د هغې حلال ئې حلال او حرام ئې حرام وګڼل نو الله تعالیٰ به دے جنت ته بوزي او د دۀ د کورنۍ د داسې لسو کسانو پۀ باره کښې به د دۀ شفاعت قبول کړي کومو ټولو له چې دوزخ واجب شوے وي - (احمد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قرآن د الله تعالیٰ رسۍ ده، څوک چې د دې پیروي وکړي هغه به پۀ هدایت وي او څوک چې دا پرېږدي هغه به پۀ ګمراهۍ وي. (مسلم)

د قرآن خبرګیري او ساتنه کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قرآن خبرګیري او ساتنه کوۍ، پۀ هغه ذات مې دِ قسم وي د چا پۀ لاس کښې چې زما ساه دے! دے د دې نه زیات لرې کېدونکے (د سینو نه خلاصېدونکے) دے څومره چې اُوښ پۀ خپله رسۍ کښې وي. (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قرآن مثال د تړلي اُوښ دے کۀ مالک ئې پۀ پړي ساتنه وکړي نو ټینګ به ئې وساتي او کۀ ئې پرانزي نو لاړ به شي. (ابن ماجه)

د قرآن باره کښې څۀ تاکیدونه وغیره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے د قرآن والو! قرآن ته تکیه مۀ وهۍ، دا لولۍ پۀ حق لوستو سره د شپې او د ورزې او خوش آوازي پکښې کوۍ او څۀ چې پۀ دې کښې دي پۀ هغې کښې غور و فکر (تدبر) کوۍ چې تاسو کامیاب شۍ او د دې ثواب (بدله) زر مۀ غواړۍ ځکه چې د دې ثواب دے (شتے). (بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺنه پۀ یو حدیث مبارک کښې روایت کړے شوے دے: قرآن پۀ صحیح طریقه وایۍ. (بیهقي)

❁ د ابن عمرؓنه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائېلې ده چې د قرآن سره دِ د دشمن زمکې ته سفر وکړے شي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: قرآن ستا د پاره یا ستا خلاف حجت دے. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالىٰ په دې کتاب (قرآن) سره څه خلق پورته کوي او څه ښکته کوي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ ته دا قول منسوب کړے شوے دے: ډېرقاريان قرآن لولي او قرآن په هغوی لعنت وايي. (احياء)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قرآن ګران او ګران محسوسېدونکے دے هغه چا ته څوک چې دا بد ګڼي حالانکه دا حکم دے. (نورالیقین في سیرة سید المُرسلین)

باب: د قرآن متعلق څه بیان (منفي)

په قرآن کښې جنګ و جدال او اختلاف کول

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: په قرآن کښې جنګ و جدال کول (د شک وغيره لاندې) کفر دے. (احمد ،ابوداؤد)

۞ د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه روايت دے، فرمائي: زهٔ يوه ورځ د غرمې په وخت کښې د رسول اللهﷺ خوا له تلے ؤم، هغوی د دوؤ کسانو آواز واوريدهٔ چې په يو آيت کښې ئې اختلاف کولو نو زمونږ څنګ ته ئې بهر تشريف راوړو په داسې حال کښې چې په مخ مبارک ئې غصه معلومېده او وئې فرمائېل: ستاسو نه مخکښې خلق په خپل کتاب کښې د اختلاف په کولو سره خلق هلاک شوي دي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قرآن لولئ څو پورې چې پرې ستاسو زړونه يو وي، کله چې تاسو مختلف شئ نو پاڅئ. (مسلم)

د قرآن پهٔ متشابهاتو پسې کېدل، بغير د علم نه يا پهٔ خپلې رائے سره پکښې څهٔ ويېل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تاسو هغه کسان وينۍ څوک چې د قرآن پهٔ متشابهو پسې کيږي نو دغه هغه خلق دي د چا چې الله تعالیٰ ذکر کړے دے (چې د هغوی پهٔ زړونو کښې کوږوالے دے) نو تاسو د هغوی نه بچ کېږۍ۔ (ابوداؤد، مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پهٔ قرآن کښې بغير د علم نه څهٔ ووې نو خپل ځائے دِ پهٔ جهنم کښې ونيسي۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د الله تعالیٰ پهٔ کتاب کښې پهٔ خپلې رائے سره څهٔ ووې نو کهٔ ټيک ئې ووېې خو غلط ئې ووې۔ (ابوداؤد، ترمذي)

قرآن بد لوستل، حرام ئې حلال ګڼل

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: قرآن د عربو پهٔ طريقو او آوازونو سره وايۍ او د عشق والو او د دوؤ کتابونو والو (يهود و نصاریٰ) د طريقو نه ځان ساتۍ۔ زما نه روستو به څهٔ خلق راشي چې پهٔ قرآن کښې به د سندرې او وِير پهٔ طرز ترجيع (مرۍ کښې تاوول راتاوول) کوي، د مرو نه به ئې نهٔ تېروزي، فتنې به وهلي وي زړونه د دوی او زړونه د هغه کسانو د چا حالت (طرز) چې پهٔ دوی ښهٔ لګي۔ (بيهقي، طبراني، احياء)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ قرآن ايمان رانهٔ وړ هغه کس چا چې د دې حرام کړي څيزونه حلال وګڼل۔ (ترمذي)

قرآن د دنيا د پاره لوستل، د خلقو نه پرې څهٔ غوښتل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې قرآن لولي چې د خلقو نه پرې څهٔ وخوري نو د قيامت پهٔ ورز به د ے پهٔ داسې حال کښې راشي چې مخ به ئې تش هډوکے وي، غوښه به ورپورې نهٔ وي۔ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: عنقريب يو جماعت راتلونکے دے چې د قرآن حرفونه به داسې نېغوي لکه غشے چې نېغولے کيږي او دا به د دنيا دپاره کوي. (فضائلِ قرآن)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې قرآن ولولي نو کۀ څۀ غواړي نو د الله تعالىٰ نه دِ وغواړي، عنقريب به څۀ داسې خلق راشي چې په قرآن به د خلقو نه غوښتل کوي. (فضائلِ قرآن)

د قرآن پۀ ښودلو څۀ اخستل، قرآن هېرول

❁ د ابیِ بن کعبرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما يو سړي ته قرآن وښودۀ نو هغۀ ما ته يوه ليندۀ (پۀ کومې چې غشے ويشتے کيږي) ډالۍ کړه، ما د دې ذکر رسول اللهﷺ ته وکړو نو هغوی وفرمائېل: کۀ تا دا واخسته نو د اُور يوه ليندۀ دِ واخسته نو ما هغه واپس کړه. (ابن ماجه)

❁ د عباده بن صامترضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما د صفه والو څۀ کسانو ته قرآن وښودۀ نو د هغوی يو سړي ما ته ليندۀ ډالۍ کړه نو ما د رسول اللهﷺ نه د هغې تپوس وکړو نو هغوی وفرمائېل: کۀ تۀ خوشحاله يې چې ستا نه پۀ دې سره د اُور طوق چاپېره کړے شي نو دا قبوله کړه. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے ے: ما باندې د اُمت ګناهونه پيش کړے شو ما پکښې د دې نه غټ څۀ ګناه ونۀ موندۀ چې څوک قرآن ووايي (ازده کړي، ياد کړي) او بيا ئې هېر کړي. (فضائلِ قرآن)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: څوک چې قرآن ووايي او بيا ئې هېر کړي نو د قيامت پۀ ورز به د الله تعالىٰ پۀ دربار کښې جذامي حاضريږي. (فضائلِ قرآن)

څهٔ خلق چې قرآن به ئې د مَرُو نه نهٔ اوړي، خوارج قسم

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څهٔ کسان به وي چې قرآن به لولي د مرو نه به ئې نهٔ تېروزي، وايي به چې مونږ قرآن لوستلے دے، څوک زمونږ نه زيات لوستونکي او څوک زمونږ نه زيات پوهېدونکي دي؟ (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما د اُمت څهٔ خلق به قرآن لولي، د اسلام نه به داسې وزي لکه غشے چې د ښکار د شي نه وزي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ آخره زمانه کښې به څهٔ خلق راشي کم عمره او بې وقوفه، قرآن به لولي خو د مرو نه به ئې نهٔ اوړي، وينا به کوي پهٔ مخلوق کښې د ټولو نه د غوره، د دين نه به داسې وزي لکه غشے چې د ښکار نه وزي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خوارج د دوزخ سپي دي۔ (ابن ماجه)

کتاب: سنت (حديث)

باب: د سنت متعلق څهٔ بيان (مُثبت)

سنت لازمول، عمل پرې کول، ژوندي کول، محبت ورسره ساتل

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: زما سنت او د خلفائے راشدينو مهدیينو سنت پهٔ ځان لازم کړئ، دې پورې ونخلئ او د ژامو پهٔ غاښونو ئې کلک ونيسئ۔ (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: کله چې زهٔ تاسو ته د الله تعالىٰ د طرف نه څهٔ بيان کړم نو هغه قبلوئ ځکه چې زهٔ به هيڅکله پهٔ الله تعالىٰ دروغ ونهٔ وايم۔ (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې زما سره محبت ساتي نو زما پۀ سنت دِ چليږي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې زما د اُمت د فساد پۀ وخت کښې زما پۀ سنت عمل وکړو (يائي ژوندے کړو) نو دۀ له د سلو شهيدانو اجر دے. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې زما د سنتو نه يو سنت ژوندے کړو او خلقو پرې عمل وکړو نو دۀ له به د هغه عمل کونکو د اجر پۀ شانې اجر وي او د هغوی د اجر نه بۀ څۀ نۀ کميږي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: چا چې زما سنت ژوندے کړو نو لکه چې زۀ ئې ژوندے کړم او چا چې زۀ ژوندے کړم هغه به زما سره پۀ جنت کښې وي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما پۀ خليفګانو دِ رحمت وي! عرض وکړے شو: ستاسو خليفګان څوک دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه خلق کوم چې زما سنت ژوندي کوي (او ژوندي ساتي) او د الله تعالیٰ بندګانو ته ئې ښايي. (جامع بيان العلم و فضله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې زما د سنت سره محبت وکړو هغۀ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغه به زما سره پۀ جنت کښې وي. (ترمذي)

حديث محفوظ کول او نورو ته ئې رسول

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ دِ تروتازه کړي هغه بنده کوم چې زما وينا واوري، محفوظه او ياده ئې کړي او نورو ته ئې ورسوي څنګه ئې چې واوري. (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ دِ تروتازه کړي هغه سړے کوم چې زمونږ نه يو حديث واوري او وئې رسوي (نورو ته) پس (کله) ډېر داسې کسان چې هغوی ته (حديث) ورسولے شي هغوی د اوريدونکي نه (د هغې) زيات ياد ساتونکي وي۔ (ابن ماجه)

۞رسول اللهﷺ د حجة الوداع په خطبه کښې وفرمائېل: پس ستاسو نه دِ حاضر سړے (زما وينا) غائب ته ورسوي۔ (متفق عليه)

څلوېښت حديثونه محفوظ کول او رسول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما په اُمت کښې چې چا څلوېښت حديثونه محفوظ کړل تر دې چې خلقو ته ئې ورسول نو د قيامت په ورز به زۀ هغۀ له شفاعت کونکے او ګواهي ورکونکے يم۔ (بيهقي، ابن عبد البر)

۞ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روايت کړے شوے دے: څوک چې زما اُمت له څلوېښت حديثونه محفوظ کړي الله تعالیٰ به د قيامت په ورز هغه د عالمانو او شهيدانو په ټولګي کښې راپورته کړي او ورته به وفرمائي چې د کومې دروازې نه دِ خوښه وي جنت ته داخل شه۔ (نووي، مقدمۀ اربعين)

باب: د سنت متعلق څۀ بيان (منفي)

د حديث انکار، د سنت نه بې رغبتي، د دې پرېښول، د دې نه بغير عمل کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کېدے شي چې يو سړے په دې حال کښې چې په خپل تخت ناست وي زما د حديثو نه يو حديث بيان کړي او ووايي: زمونږ او ستاسو په مينځ کښې د الله کتاب دے پس څۀ چې پکښې مونږ حلال بيامومو هغه به حلال ګڼو او څۀ چې پکښې حرام بيامومو هغه به حرام ګڼو؛ خبردار! څۀ

چې د الله تعالیٰ رسول(ﷺ) حرام کړي دي هغه په شان د هغې دي څه چې الله تعالیٰ حرام کړي دي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ دِ په تاسو کښې څوک بیانۀ مومم چې په خپل تخت ناست وي زما د امرونو نه ورته یو امر راشي چې ما د څۀ خبرې حکم کړے وي یا مِ د څۀ خبرې نه منع کړې وي نو دے ووایي: مونږ نۀ یو خبر! څۀ چې مونږ د الله په کتاب کښې ومومو د هغې اتباع به کوو. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ ودرېدلو او وئې فرمائېل: اے خیال لري په تاسو کښې یو کس چې په خپل ښائسته تخت ناست وي ګمان کوي چې الله تعالیٰ څۀ نۀ دي حرام کړي مګر صرف هغه چې په دې قرآن کښې دي؟ خبردار! قسم مِ د په الله وي! ما امر کړے دے او ما وعظ کړے دے او ما منع کړې ده د څۀ څیزونو نه. دا (زما خبرې) د قرآن هومره دي یا زیاتې دي. (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې زما د سنت نه مخ واړوي (بې رغبته شي) هغه زما نه نۀ دے. (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د دین اولني ختمېدل د سنتو پرېښول دي. (دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نۀ دے زمونږ نه هغه څوک چا چې زمونږ د سنت (طریقې) نه بغیر څۀ عمل وکړو. (الجامع الصغیر)

د دروغو حدیثونه بیانول، په رسول اللهﷺ دروغ ویېل

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې زما نه څۀ حدیث بیان کړو او هغۀ ته معلومه وه چې دا دروغ دي نو هغه د دوۀ دروغجنو نه (یا د ډېرو دروغجنو نه) یو دے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې په ما هغه څۀ ووایي چې ما نۀ وي ویېلي نو خپل ځائے دِ په دوزخ کښې جوړ کړي. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ ما قصداً دروغ ووې نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ ما دروغ ویېل پۀ بل چا د دروغو ویېلو پۀ شان نۀ دي، چا چې پۀ ما قصداً دروغ ووې نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي . (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ مادروغ ووې نو خپلې ډډې له دِ د دوزخ نه یو ځائے هوار کړي. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ ما دروغ مۀ وایۍ ځکه چې څوک پۀ ما دروغ ووایي هغه به دوزخ ته داخلیږي. (مسلم)

کتاب: دین کښې بدعت او جاهلیت راوستل

باب: بدعت

د بدعت مردودوالے، بدوالے

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې زمونږ پۀ دې امر (دین) کښې نوي څۀ پیدا کړي څۀ چې د دې نه نۀ وي نو هغه مردود دي. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې داسې څۀ عمل وکړو چې زمونږ امر پرې نۀ ؤ نو هغه رد (نامقبول) دے. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: هر بدعت ګمراهي ده او هره ګمراهي پۀ دوزخ کښې (داخلونکې) ده. (مسلم)

پهٔ بدعت سره د سنت نه محرومي، د بدعتي نهٔ څهٔ عمل قبول نهٔ توبه

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: یو قوم څهٔ بدعت نهٔ دے پیدا کړے مګر د هغې پهٔ شان د سنت نه څهٔ پورته کړے شوي دي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم خلق چې پهٔ دین کښې څهٔ بدعت راوباسي نو الله تعالیٰ د هغوی د سنت نه د دې پهٔ شان څهٔ اوچتوي او بیا ئې د قیامته پورې هغوی ته نهٔ واپس کوي. (دارمي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ انکار کړے دے چې د بدعتي عمل قبول کړي تر دې چې هغه خپل بدعت پرېږدي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ د بدعتي نهٔ روژه قبلوي، نهٔ نمونځ، نهٔ صدقه، نهٔ حج، نهٔ عمره، نهٔ جهاد، نهٔ نفل او نهٔ فرض (یا نهٔ توبه او نهٔ فدیه). (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ د هر بدعتي نه توبه بنده کړې ده دې پورې چې هغه خپل بدعت پرېږدي. (ابن ماجه، طبراني)

د بدعتي احترام کول، ځائے ورله ورکول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چاچې د بدعتي احترام وکړو نو دهٔ د اسلام پهٔ ورانولو کښې مدد وکړو. (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پهٔ دین کښې څهٔ نوې خبره راوباسي یا نوې خبره راویستونکي له ځائے (پناه) ورکړي نو پهٔ دهٔ د الله تعالیٰ، د ملائکو او د ټولو خلقو لعنت، نهٔ ئې فرض قبلیږي نهٔ نفل. (احمد، ابوداؤد في مراسیله)

باب: جاهلیت او بدې طریقې، د هغې ختمول

د جاهلیت، د بدو طریقو او د ګمراه کونکو خبرو وعید، وبال

❁ رسول الله ﷺ په یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: په خلقو کښې د ټولو نه په مبغوضو کسانو کښې یو هغه دے څوک چې په اسلام کښې د جاهلیت طریقه لټونکے وي. (متفق علیه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: چا چې د جاهلیت آواز وکړو (یا د هغې په طور طریقو لاړ) نو دے د جهنم د ټولګي نۀ دے اګرچې روژه نیسي او نمونز کوي او دا خیال لري چې دے مسلمان دے. (احمد، ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ په یو حدیث شریف کښې د دې مفهوم ارشاد وفرمایۀ: زما رب ما ته د جاهلیت د خبرو د ختمولو حکم فرمائیلے دے. (احمد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: چا چې په اسلام کښې څۀ بده طریقه راوویسته نو په دۀ به د هغې بوج وي او د دۀ نه روستو په هغې د عمل کونکو بوجونه به هم وي بغیر د دې نه چې د هغوی د بوجونو نه څۀ کم شي. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: په آخره زمانه کښې به دجالان، دروغ ویونکي وي، تاسو ته به داسې احادیث (خبرې او قصې) راوړي چې نۀ به تاسو اورېدلې وي او نۀ ستاسو پلارونو، نو د هغوی نه بچ ووسې تاسو ګمراه نکړي او په فتنه کښې ونۀ غورزوي. (مسلم)

بدعتونه او بدې طریقې ختمونکے، د دین تجدید کونکے (مجدِّد)

❁ د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمائیل: بیشکه الله تعالیٰ به دې اُمت والو له د هرو سلو کالو په سر داسې څوک رالیږي (یو یا ډیر) چې دوی له د دوی دین نوے کړي (بدعات او خرافات ترې لرې کړي، خپل اصل شکل ته ئې واپس کړي). (ابوداؤد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: دا علم (قرآن و سنت) به اوچتوي (اخلي) د هرې روستو پېړۍ والو (قرن) نه ثقه خلق (يا د دې علم حفاظت به کوي پۀ هره زمانه کښې د دې عادل او د اعتماد والا خلق) چې لرې کوي به د دې نه د غُلُو کونکو (د حد نه اوختونکو) تحريف او د باطل والو د دروغو نسبت او د جاهلانو تاويل۔ (خطيب، بيهقي)

کتاب: د دين علم، متعلقات

باب: د دين د علم مختلفې خبرې

د دين د علم نشان دهي

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: (د دين) علم درې څيزونه دي: آيت محکمه، سنتِ قائمه او فريضۀ عادله (د قرآن او سنت نه راويستلي شوي احکام) او څۀ چې د دې نه علاوه دي هغه سوا خبرې دي۔ (ابوداؤد ، ابن ماجه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: علم دوه قسمه دے: يو علم پۀ زړۀ کښې (دننه او پټ) دے، هغه نفع ورکونکے علم دے، او بل علم پۀ ژبه دے، هغه پۀ ابن آدم باندې حجت دے۔ (ترغيب)

د دين د علم او پوهې فضيلت، د دين د علم د پاره دعاء

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: پۀ علم کښې زيات والے پۀ عبادت کښې د زيات والي نه غوره دے۔ (بيهقي)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا له چې الله تعالیٰ د خير ارداه وفرمائي هغۀ له پۀ دين کښې پوهه ورکړي۔ (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: خلق کانونه دي پۀ شان د کانونو د سرو زرو او سپينو زرو، د دوی پۀ جاهليت کښې د ټولو نه غوره کسان پۀ اسلام کښې د ټولو نه غوره دي کله چې دوی (پۀ دين کښې) پوهه حاصله کړي. (مسلم)

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: پېغمبرانو ميراث دينار او درهم نۀ دے پرېښے، علم ئې ميراث پرېښے دے، نو څوک چې دا اخلي نو وافر دِ واخلي. (ابن ماجه، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يوې دعاء کښې وفرمائيل: اے الله! زما علم زيات کړې. (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺد عبد الله بن عباسرضي الله عنهد پاره دعاء فرمائيلې وه: اے الله! دۀ له د دين پوهه ورکړه. (متفق عليه)

علم حاصلول، ازده کول، د هغې اجر

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: اے خلقو! علم حاصل کړئ؛ علم پۀ حاصلولو دے او پوهه پۀ حاصلولو ده. (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: د غېږې نه د قبر پورې علم حاصلوه. (اساس العربيه)

❁ رسول اللهﷺ (ابوذررضي الله عنه ته) وفرمائيل: اے ابوذره! چې تۀ سحر لاړ شې او يو باب د علم (يا يو آيت د الله د کتاب) ازده کړې نو دا تا له د دې نه غوره ده چې تۀ زر (يا سل) رکعته (نفل) وکړې. (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: عالم او ازده کونکے پۀ اجر کښې برابر دي او پۀ پاتې خلقو کښې هيڅ خير نيشتے. (ابن ماجه)

علم طلب کول، د طلب او د طالب فضیلت

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: علم طلب کول پۀ هر مسلمان فرض دي ـ (مسلم، ابن ماجه، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: علم طلب کړۍ اګرکۀ پۀ چین کښې وي ځکه چې د علم طلب پۀ هر مسلمان فرض دے ـ (ابن عبد البر، بیهقي وغیرهما)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې علم طلب کړي نو دا به ئې د تېروتو (وړو) ګناهونو دپاره کفاره شي ـ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: چا چې د علم طلب وکړو او حاصل ئې کړو نو هغۀ له دوه اجرونه دي او کۀ حاصل ئې نکړو نو هغۀ له یو اجر دے ـ (دارمي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د علم پۀ طلب کښې وزي نو دے د الله تعالیٰ پۀ لار کښې وي تر دې چې واپس شي ـ (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د علم پۀ طلب کښې پۀ څۀ لارې لاړ نو الله تعالیٰ به ورته د جنت لار آسانه کړي ـ فرښتې طالب علم ته د راضي والي نه خپلې وزرې غوړوي ـ طالبِ علم له هغه څوک بخښنه غواړي کوم چې پۀ آسمان او زمکه کښې دي تر دې چې ماهیان پۀ اُوبو کښې ـ (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیشتے یو وتونکے چې د علم پۀ طلب کښې د خپله کوره وزي مګر ملائکې د هغۀ د عمل نه د راضې کېدو پۀ وجه هغۀ ته خپلې وزرې خوروي ـ (ابن ماجه)

علم ازده کول او بیا نورو ته ښودل، د دې تاکید او ثواب

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: علم ازده کړۍ او خلقو ته ئې وښایۍ، فرائض (علمِ میراث) ازده کړۍ او خلقو ته ئې وښایۍ او قرآن ازده کړۍ او خلقو ته ئې وښایۍ ځکه چې زۀ قبض کېدونکے یم ـ علم به عنقریب قبض کړے شي او

ډېرې فتنې به ظاهرېږي تر دې چې دوه تنه به په څه فريضه (د ميراث په څه مسئله) کښې اختلاف کوي څوک به نه مومي چې د دوی په مينځ کښې فيصله وکړي- (دارمي، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ يو ځلې په وعظ کښې د دې مفهوم ارشاد وفرمايه: ولې بعض قومونه (کسان) خپلو ګاونډيانو ته علم نه ښايي؟ ولې ورته نصيحت نه کوي؟ ولې ورته پوهه او هوښيارتوب نه ورکوي؟ ولې ورته د ښه خبرو حکم نه کوي او د بدو نه ئې نه منع کوي؟ او ولې بعض قومونه د خپلو ګاونډيانو نه علم او پوهه نه ازده کوي او نصيحت ترېنه نه اخلي؟ (ترغيب، مجمع الزوائد، فضائلِ صدقات)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه غوره صدقه دا ده چې مسلمان سړے يو علم ازده کړي او بيا ئې خپل (مسلمان) ورور ته وښايي- (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې څه علم وښودۀ نو دۀ له به د هغه چا اجر وي څوک چې په دې عمل وکړي او د عمل کونکي د اجر نه به څه نه کميږي- (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ(د يو تپوس په جواب کښې) وفرمائيل: هغه عالم کوم چې فرض نمونځ کوي او بيا کښېني خلقو ته علم ښايي د دۀ غوره والے د هغه عبادت ګزار نه کوم چې د ورځې روژه نيسي او د شپې نمونځونه کوي داسې دے لکه زما غوره والے په تاسو کښې د ټولو نه د معمولي کس نه- (مسلم)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: زۀ خو بس مُعلِّم (علم ښودونکے) رالېږلے شوے يم- (دارمي)

❁ د عبد الله بن عمروؓ نه روايت دے: رسول اللهﷺپه خپل جمات کښې په دوؤ مجلسونو تېرېدلو نو وئې فرمائېل: دا دواړه په خير سره دي او يو په دوی کښې د بل نه غوره دے-دا کسان الله تعالیٰ ته دعاء او زاري کوي نو کۀ

الله تعالیٰ وغواړي نو وربه کړي ورله او کۀ وغواړي نو وربه نکړي ورله، او دا (نور) کسان فقه او علم ازده کوي او بې علمو ته ئې ښايي نو دوی زيات غوره دي او زۀ معلِّم رالیږلے شوے یم۔ او بیا د هغوی سره کښېناستلو۔ (دارمي)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: پۀ بني آدمو کښې زما نه روستو د ټولو نه لوئے سخي هغه دے څوک چې علم ازده کړي او خور ئې کړي، د قيامت پۀ ورز به هغه د امير پۀ صورت کښې رازي۔ (بيهقي)

د خير د ازده کولو او نورو ته ئې د ښودلو اجر او فضيلت

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې سحر جمات ته لاړ (یا ماښام) صرف د خير د ازده کولو يا ښودلو پۀ اراده نو دۀ له به د يو پوره حج کونکي پۀ شان اجر وي۔ (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې زما دې جمات ته راغے صرف د خير د ازده کولو يا ښودلو دپاره نو دے د الله تعالیٰ پۀ لار کښې د جهاد کونکي پۀ شان دے او څوک چې د دې نه بغير نور څۀ له راغے نو دے پۀ شان د هغه سړي دے کوم چې د بل چا سامان ته ګوري۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خير ښودونکے د هغې د کونکي پۀ شان دے۔ (دارقطني)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د څۀ خير لار وښودله نو دۀ له د هغې د کونکي پۀ شان اجر دے۔ (مسلم)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: بېشکه الله تعالیٰ، د هغۀ فرښتې او د آسمانونو او زمکې والا تر دې چې مېږے پۀ خپل سوري کښې او تر دې چې ماهيان د خير ښودونکو له د رحمت دعاګانې غواړي۔ (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ ارشاد فرمائېلے دے: مومن د خير نه هيڅکله نۀ مړيږي تر دې چې آخري ځائے د دۀ جنت شي۔ (ترمذي)

د علم د خبرې تپوس کول

۞رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د جهل (د مرض) علاج تپوس کول دي۔ (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: علم خزانه ده، کنجي ئې تپوس کول دي نو تاسو تپوس کوئ۔ پهٔ تپوس کولو څلورو کسانو ته اجر ورکولے کيږي: تپوس کونکي ته، عالم ته، اورېدونکي ته او د دوئ سره محبت ساتونکي ته۔ (ابونعيم)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: ښهٔ سوال کول نيم علم دے۔ (اساس العربيه)

علم سره وقار، برداشت، نرمي، آساني وغيره

۞ د رسول اللهﷺ (يا د حضرت عمرؓ) نه مروي دي: علم طلب کړئ او د علم سره وقار او برداشت (حلم) طلب کړئ۔ (ابن السني)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: نرم شئ د هغه چا دپاره چا ته چې تاسو علم ښايئ او د هغه چا دپاره د چا نه چې تاسو علم ازده کوئ او مهٔ کېږئ د متکبر او سرکش عالمانو نه کنه ستاسو جهل به ستاسو پهٔ برداشت غالب شي۔ (ابن السني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: علم ښايئ او آساني کوئ، علم ښايئ او آساني کوئ۔ (الادب المفرد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: بېشکه خلق به ستاسو پيروي کوي او ستاسو خوا له به د ټولو طرفونو نه د دين د ازدکړې دپاره رازي نو د هغوئ پهٔ باره کښې د خير وصيت قبول کړئ۔ (ترمذي)

د علم نه نفع حاصلول، عمل پرې كول

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يوې دعاء كښې وفرمائېل: اے الله! نفع راكړه ما له پهٔ هغه څهٔ څهٔ چې تا ما ته ښودلي دي او ښايه ما ته هغه څهٔ څهٔ چې ما له نفع راكړي۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت كړے شوے دے: څوک چې عمل وكړي پهٔ هغه څهٔ څهٔ چې ورته معلوم وي نو الله تعالىٰ به ورته وښايي هغه څهٔ څهٔ چې ورته نهٔ وي معلوم۔ (ابونعيم)

❁ د جابر رضي الله عنه نه روايت دے: رسول اللهﷺ چې دا آيت (وَ تِلكَ الاَمثَالُ نَضرِبُهَا لِلنّاسِ وَ مَا يَعقِلُهَا اِلّا العَالِمُونَ (او دغه مثالونه مونږ بيانوو خلقو له او پهٔ دې نهٔ پوهېږي مګر عالمان) ولوستهٔ نو وئې فرمائېل: عالم هغه دے چې د الله تعالىٰ پهٔ باره كښې پوهه حاصله كړي او د هغهٔ طاعت (فرمان برداري) وكړي او د هغهٔ د ناراضګئ نه لرې ووُسي۔ (عمدة القاري)

د هدايت او د علم نه د فائدې اخستو يو مثال

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مثال د هغه هدايت او علم پهٔ كوم سره چې الله تعالىٰ زهٔ رالېږلے يم مثال د ډېر باران دے چې يوې زمكې ته ورسي نو د دې زمكې نه يوه عمده حصه وي چې اُوبهٔ قبول (جذب) كړي او ډېره ګيا او واښهٔ راوټوكوي او د دې زمكې نه څهٔ وچه شنډه وي چې اُوبهٔ حصارې كړي او الله تعالىٰ پرې خلقو له نفع وركړي هغوئ اُوبه وڅښې او وڅښوي (اُوبهٔ خور وكړي) او فصل وكري، او باران ورسي د دې يوې بلې حصې ته كومه چې هواره مهينه وي چې نهٔ اُوبهٔ حصاروي او نهٔ واښهٔ راټوكوي۔ نو دا مثال دے د هغه چا څوک چې د الله تعالىٰ پهٔ دين كښې پوهه حاصله كړي او الله تعالىٰ ورله د هغه څهٔ نفع وركړي پهٔ څهٔ سره چې الله تعالىٰ زهٔ رالېږلے يم نو دے علم ازده كړي او نورو ته ئې وښايي، او مثال دے د هغه چا څوک چې د دې پروا

ونکړي او د الله تعالیٰ هغه هدایت قبول نکړي پهٔ کوم سره چې زهٔ رالېږلے شوے یم۔ (متفق علیه)

د عالم فضیلت

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ زمکه د علماؤ مثال داسې دے لکه پهٔ آسمان کښې ستوري چې پهٔ تیارو د وچې او لونده کښې پرې لار موندے کیږي نو چې کله ستوري بې رڼا شي نو قریبه وي چې د لار موندونکو نه لار ورکه شي۔ (احمد)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د عالم غوره والے پهٔ عابد داسې دے لکه د سپوږمۍ غوره والے پهٔ ستورو۔ (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: یو فقیه (عالم) پهٔ شیطان باندې د زرو عابدانو نه زیات سخت دے۔ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ (یا د حسن بصري رحمه الله) نه روایت کړے شوے دے: قیامت کښې به د عالم سیاهي او د شهید وینه تللے کیږي نو د عالم سیاهي به د شهید د وینې نه درنه راخېژي۔ (فضائلِ صدقات)

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: د عالمانو خوب عبادت دے۔ (مکتوباتِ امام رباني)

❁رسول اللهﷺفرمائېلي دي: عالم له مغفرت غواړي څهٔ چې پهٔ آسمانونو کښې دي او څهٔ چې پهٔ زمکه کښې دي تر دې چې ماهیان پهٔ دریاب کښې۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺفرمان دے: الله تعالیٰ د یو عالم څلوېښت ګناهونه معاف کوي مخکښې د دې نه چې د یو جاهل یو ګناه معاف کړي۔ (کنز العمال)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قیامت پۀ ورز به الله تعالیٰ علماؤ ته وفرمائي: اے د عالمانو ټولګیه! ما خپل علم پۀ تاسو کښې د دې دپاره نۀ ؤ ایښے چې تاسو له عذاب درکم، زۍ ما تاسو وبخښلې. (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: د یوې قبیلې مرګ د یو عالم د مرګ نه زیات آسان (ورکے) دے. (مکاشفة القلوب)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: عالم شه یا علم ازده کونکے شه یا (د علم د خبرو) اورېدونکے شه یا د عالمانو سره محبت کونکے شه او پینځم مۀ کېږه کنه هلاک به شې. (مکاشفة القلوب)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پۀ خلقو کښې د ټولو نه ښۀ د ټولو نه ښۀ عالما ن دي. (بزار، احیاء)

د عالمانو د پېغمبرانو سره نسبت

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: علماء د نبیانو وارثان دي. (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺفرمائېلي دي: زما د اُمت عالمان داسې دي لکه پېغمبران د بني اسرائیلو. (دې ریلیجن ریفارمرز اِن اسلام)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څۀ عالمان حکیمان نزدې وه چې د خپلې فقهې (پوهې) د وجې نه پېغمبران وے. (احیاء)

❁رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: پۀ خلقو کښې د پېغمبرۍ درجې ته زیات نزدې اهلِ علم او اهلِ جهاد دي. (مکاشفة القلوب)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: چا ته چې پۀ داسې حال کښې مرګ راشي چې دے د اسلام دپاره علم حاصلوي نو د دۀ او د نبیانو پۀ مینځ کښې به پۀ جنت کښې د یوې درجې فرق وي. (دارمي)

د ټولو نه لوئے عالم، د ټولو نه غوره عالمان، د کښېناستو لائق عالم

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: پۀ خلقو کښې د ټولو نه لوئے عالم کوم دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه چې پۀ هغوی کښې د ټولو نه زيات د الله تعالیٰ نه يرېدونکے وي. (فضائلِ صدقات)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: زما د اُمت د ټولو نه غوره عالمان هغه دي کوم چې رحمدل وي. يو رحمدل عالم به د قيامت پۀ ورځ راشي او د هغۀ نور به داسې پړقيږي لکه يو پړقېدونکے ستورے چې پړقيږي. (کنزل العمال)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د هر عالم سره مۀ کښېنئ، صرف د داسې عالم سره کښېنئ کوم چې تاسو د پينځۀ څيزونو نه لرې کوي او پينځۀ څيزونو ته رابلي: د شک نه يقين طرف ته، د ريا نه اخلاص طرف ته، دنيا سره د رغبت نه دنيا نه د بې رغبتۍ طرف ته، د تکبر نه عاجزۍ طرف ته او د دشمنۍ نه خيرخواهۍ طرف ته. (ابونعيم)

د عالم اکرام کول، د هغۀ خطا نۀ نيسل

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې د عالم اکرام وکړو هغۀ زما اکرام وکړو او چا چې زما اکرام وکړو هغۀ د الله تعالیٰ اکرام وکړو او چا چې د الله تعالیٰ اکرام وکړو د هغۀ ځائے جنت دے. (لباب الحديث)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې ارشاد وفرمايۀ: د عالم د ښۀ واپسۍ انتظار کوئ او د هغۀ خطا زر مۀ نيسئ. (ابوداؤد في مراسيله)

باب: جهل (بې علمي)، د علم باره کښې څۀ بد یاني

د جاهل پاتې کېدو او د علم نۀ حاصلولو بدوالے

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: جاهل (بې علمه) پۀ خپل جهل معذور نۀ شي ګڼلے کېدے او جاهل له جائز نۀ دي چې پۀ خپل جهل خاموش پاتې شي۔ (طبراني وغیره)

❁ د رسول اللهﷺ ارشاد دے: د جهل (بې علمۍ) نه فقیري زیاته سخته نۀ ده (یا د جهل نه سخته څۀ فقیري نیشته)۔ (مکاشفة القلوب)

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: کله چې الله تعالیٰ یو بنده رد کوي نو د هغۀ نه علم منع کوي۔ (مکاشفة القلوب)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: زما د اُمت هلاکېدل پۀ دوؤ خبرو کښې دي: پۀ علم پرېښوو (نۀ حاصلولو) او پۀ مال جمع کولو کښې۔ (مکاشفة القلوب)

❁ د رسول اللهﷺارشاد دے: بعض د علم نه جهل دے۔ (ابوداؤد)

بغیرد علم نه د دین څۀ ښودل، پۀ فتویٰ ورکولو جرأت

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا ته چې بغیر د علم نه فتویٰ (د دین مسئله) وښودے شوه نو د دې ګناه (عذاب) به پۀ ښودونکي وي۔ (ابوداؤد)

❁رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: چا چې فتویٰ ورکړه بغیر د دلیل نه نو د دې ګناه پۀ هغه چا دے چا چې فتویٰ ورکړه۔ (الادب المفرد)

❁رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: کله چې یو عالم پاتې نۀ شي نو خلق به جاهلان سرداران (مشران، قاضیان، مفتیان) ونیسي، هغوۍ به

بغیر د علم نه فتوې ورکوي نو ګمراه کېږي به او ګمراه کول به کوي۔ (بخاري، ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې پۀ فتویٰ ورکولو د ټولو نه زیات زړه ور د دوزخ پۀ اُور د ټولو نه زیات زړه ور دے۔ (دارمي)

علم بل چا له یا دنیا له یا غلط مقصد له یا د ریا دپاره حاصلول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې علم د الله تعالیٰ نه علاوه د بل چا دپاره حاصل کړو یا ئې پۀ هغې د الله تعالیٰ نه علاوه نور څۀ وغوښتۀ نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې څۀ علم پۀ کوم چې د الله تعالیٰ رضا غوښتے کېدے شي (یعني د دین علم) صرف د دې دپاره حاصل کړي چې پۀ دې د دنیا څۀ سامان ترلاسه کړي نو د قیامت پۀ ورځ به هغه د جنت بوئي هم بیا نۀ مومي۔ (ابن ماجه، ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روایت مروي دے: الله تعالیٰ خپل یو پیغمبر ته وحي ولېږله چې دې خلقو ته ووایه: کوم کسان چې د دین نه علاوه څۀ له فقیهان (عالمان) جوړیږي او د عمل نۀ کولو دپاره علم حاصلوي او دنیا د آخرت پۀ عمل سره ګټل غواړي، هغوی اګرکۀ د ګډو څرمنې اغوندي لیکن د هغوی زړونه د شرمخانو د زړونو پۀ شان دي، د هغوی ژبې د ګبین نه زیاتې خوږې دي لیکن د هغوی زړونه د مړَغوني نه زیات تراخۀ دي، هغوی ما له دوکه راکوي او پۀ ما جرأت کوي، زۀ بۀ ورله داسې فتنه رااوچته کړم چې صبرناک او د برداشت والا به هم حیران کړي۔ (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې علم د دې دپاره حاصل کړو چې د علماؤ سره پرې مقابله وُکړي، د کم عقلو (بې علمو) سره پرې بحث و مباحثه وکړي او

د خلقو مخونه پرې ځان طرف ته راواړوي نو الله تعالیٰ به ئې دوزخ ته بوزي۔ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: علم مهٔ حاصلوئ د دې لپاره چې د علماؤ سره پرې مقابله وکړئ او د بې علمو سره پرې جګړه وکړئ او نهٔ پرې مجلسونه قبضه کوئ، پس چا چې دا کار وکړو نو (هغهٔ له د دوزخ) اُور دے۔ (ابن ماجه)

نفع نهٔ ورکونکے علم، د علم نه نفع نهٔ اخستل

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: مثال د هغه علم چې نفع ترې نهٔ اخستے کيږي د هغې خزانې دے چې د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې ترېنه نهٔ خرچ کيږي۔ (دارمي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د قيامت پهٔ ورز به د ټولو نه سخت او زيات عذاب والا کس هغه عالم وي چا له چې الله تعالیٰ د هغهٔ د علم نه نفع نهٔ وي ورکړې۔ (طبراني، بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: بعضې کسان به دوزخ ته وغورزولے شي د دوئ د بدبوئي نه به دوزخيان هم پهٔ تکليف کښې شي هغوئ به د دوئ نه تپوس وکړي چې ستاسو څهٔ عمل ؤ؟ دوئ به ووايي چې مونږ به د خپل علم نه فائده نهٔ اخستله۔ (ترغيب، فضائلِ صدقات)

پهٔ علم عمل نهٔ کول

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: سړے عالم نهٔ شي کيدے څو پورې چې پهٔ خپل علم عمل کونکے نهٔ وي۔ (ابن حبان)

❁ روايت دے چې رسول اللهﷺ (جمات کښې علم ازده کونکو څهٔ کسانو ته) وفرمائيل: ازده کړئ څهٔ چې تاسو غواړئ چې ازده کړئ، الله تعالیٰ به تاسو له اجر درنکړي تر څو چې عمل ونکړئ۔ (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې په علم کښې زيات شي او په هدايت (نيکۍ)کښې زيات نۀ شي نو زيات به نۀ شي مګر د الله تعالیٰ نه په لرې والي کښې. (ديلمي)

علم پټول، په علم کښې خيانت کول

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم سړے چې يو علم لري او دے هغه پټ کړي نو د قيامت په ورز به دے په داسې حال کښې راوستے شي چې د اُور مهار (لګام) به ورته لګولے شوے وي. (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې يو علم پټ کړو په کوم چې الله تعالیٰ خلقو ته د دين په معامله کښې نفع رسوله نو الله تعالیٰ به د قيامت په ورز دۀ ته د اُور مهار واچوي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا نه چې د څۀ علم (د شي) تپوس وکړے شي او دے هغه پټ کړي نو د قيامت په ورز به ورته د اور مهار واچولے شي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد فرمائيلے دے: په خپل علم سره يو بل ته نصيحت کوئ، په علم کښې خيانت د مال د خيانت نه زيات سخت دے او د الله تعالیٰ د طرف نه به د دې تپوس کيږي. (فضائلِ صدقات)

علم نااهل ته ښودل، علم تجارت جوړول

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: نااهل ته علم ښودونکے داسې دے لکه خنزيرانو ته ګوهر، ملغلرې او سرۀ زر په غاړه کونکے. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: د علم آفت هېرول دي او د دې ضائع کول دا دي چې تۀ دا غيرِ اهل ته بيان کړې. (دارمي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تباهي ده زما اُمت له د بدو عالمانو نه چې هغوئ دا علم تجارت جوړوي، د خپلې ذاتي ګټې دپاره ئې د

خپلې زمانې پۀ اميرانو (حکمرانانو، مشرانو) خرڅوي، الله تعالیٰ دِ د هغوی پۀ تجارت کښې ګټه وا نۀ چوي! (کنز العمال)

بد عالمان

❁ د رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې ارشاد دے: زما د اُمت هلاک والے فاجر عالم او جاهل عبادت ګزار دے۔ (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: (بد) عالم له به داسې سخت عذاب ورکولے کيږي چې دوزخيان به ترې چاپېره ودريږي۔ (احياء)

❁ معاذرضی الله عنه د رسول اللهﷺنه تپوس وکړو: اے د الله رسوله! پۀ خلقو کښې د ټولو نه بد سړے څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: اے الله! تۀ بخښنه وکړې! د خير پۀ باره کښې تپوس کوه، د شر پۀ باره کښې تپوس مۀ کوه؛ د ټولو نه بد خلق د ټولو نه بد عالمان دي۔ (بزار)

د علماؤ د حکمرانانو سره (بغير د عذر نه) ملاوېدل

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ ته د ټولو نه ناخوښ قاريان (عالمان) هغه دي کوم چې د اميرانو (حکمرانانو) زيارت (ملاقات) له زي۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: علماء د الله تعالیٰ پۀ بندګانو د پيغمبرانو نګرانان دي څو پورې چې دوی د بادشاه سره ملاوېدل شروع نکړي او دنيا ته داخل نۀ شي (دنيادار جوړ نۀ شي)، نو کله چې دوی د بادشاه سره ملاوېدل شروع کړۀ او دنيا ته داخل شو نو د پيغمبرانو سره ئې خيانت وکړو نو تاسو ترې بچ او هوښيار ووسئ۔ (الجامع الصغير للسيوطي، احياء)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: زما د اُمت څۀ خلق به پۀ دين کښې پوهه حاصله کړي او قرآن به لولي او وايي به چې مونږ د حکمرانانو څنګ ته زو او د هغوی د دنيا نه څۀ اخلو او خپل دين د هغوی نه لرې ساتو (د هغوی د وجې نه خپل

دین ته نقصان نۀ رسوو)، لیکن داسې بۀ نۀ وي؛ لکه د قتاد د بوټي نه چې نۀ شوکولے کیږي مګر غنې نو داسې د هغوې د نزدیکت نه نۀ شوکولے کیږي مګر ګناهونه). (ابن ماجه)

علم قبض کېدل، پورته کېدل، جهل ظاهرېدل، قبض پۀ قبض د علماؤ سره

❁رسول اللهﷺپۀ حجة الوداع کښې وفرمائېل: علم واخلئ مخکښې د دې نه چې دا قبض او پورته کړے شي. (احمد، طبراني)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: دا علم لازم ونیسئ مخکښې د دې نه چې دا قبض کړے شي او قبض کېدل ئې دا دي چې دا پورته کړے شي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قیامت د علامو نه څۀ دا دي چې علم به پورته کړے شي او جهل (بې علمي) به راوستے شي (یا به علم کم شي او جهل به ظاهر شي). (بخاري). پۀ یو بل روایت کښې دي چې علم به قبض کړے شي او جهل به ظاهر شي. (بخاري)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ به علم داسې نۀ قبض کوي چې د خلقو نه به ئې وباسي بلکې علم به د عالمانو پۀ قبض کولو سره قبض کوي. (بخاري، ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: د علم تلل د هغې د حاملانو (لرونکو) تلل دي. (احمد، طبراني)

کتاب: دین کښې روا او ناروا

باب: د ښۀ او بدو عملونو ځۀ خبرې

د نیک او بد عمل متعلق ځۀ تاکید وغیره، نیک او بد دواړه بیان شوي

❁ پۀ یو روایت کښې دي چې حرمله بن عبداللهﷺ رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: (اے د الله رسوله!) تاسو ما ته ځۀ حکم کوئ؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے حرمله! نیک عمل کوه او د بد عمل نه لرې ووسه (دوه پېرې دا سوال او جواب وشو). (الادب المفرد للامام البخاري)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: دنیا کښې د نیکۍ والا به آخرت کښې د نیکۍ والا وي، او دنیا کښې د بدۍ والا به آخرت کښې د بدۍ والا وي. (الادب المفرد)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: داسې یو عمل نیشتے چې هغه جنت ته نزدې کونکے وي او ما تاسو ته د هغې حکم نۀ وي کړے او داسې یو عمل نیشتے چې هغه دوزخ ته نزدې کونکے وي او ما تاسو د هغې نه نه یئ منع کړي. (طبراني، حاکم)

د نیکۍ او د بدۍ پخپله پېژندل

❁ د نواس بن سمعانؓ نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه د نیکۍ او د بدۍ پۀ باره کښې تپوس وکړو نو هغوئ وفرمائېل: نیکي ښۀ خوئي دے او بد هغه ځۀ دي چې ستا پۀ زړۀ کښې ځۀ غورزوي او تۀ دا بد ګڼې چې خلق ترې خبر شي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ یو سړي ته وفرمائېل: د خپل زړهٔ نه فتویٰ اخله (تپوس کوه) اګرکهٔ خلق تا له فتویٰ درکړي، اګرکهٔ خلق تا له فتویٰ درکړي، اګرکهٔ خلق تا له فتویٰ درکړي. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وابصه رضي الله عنه ته وفرمائېل: د خپل نفس (ځان) نه فتویٰ اخله، د خپل زړهٔ نه فتویٰ اخله، دا ئې درې ځلې وفرمائېل. نیکي هغه ده چې نفس ورته مطمئن شي او زړهٔ ورته مطمئن شي، او ګناه دا دے چې پهٔ نفس کښې څهٔ وغورزوي او پهٔ سینه (زړهٔ) کښې زي رازي (بار بار څهٔ سوچ جوړوي)، اګرچې خلق تا له فتویٰ درکړي. (احمد ، دارمي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: ګناه د زړونو بد ګڼل دي (یعني څهٔ چې زړونه ناخوښوي). (احیاء)

د آخرت خیر پهٔ ښهٔ عملونو کښې او بې خیري پهٔ بدو کښې

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ فرمائي: اے زما بندګانو! دا ستاسو عملونه دي چې زهٔ ئې تاسو له شمارم (جمع کوم) او بیا به ئې تاسو له پوره بدله درکوم، پس چا چې خیر بیاموند (پهٔ آخرت کښې) نو حمد دِ وکړي د الله او چا چې نور څهٔ بیاموندهٔ نو نهٔ دِ ملامت کوي مګر خپل ځان. (مسلم، ترمذي، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ هغه ذات دِ زما قسم وي د چا پهٔ لاس کښې چې د محمد نفس (روح) دے! نیکي (معروف) او بدي (منکر) دوه مخلوقه (یا خصلتونه) دي چې د خلقو مخې ته به د قیامت پهٔ ورز ودرولے کیږي. نیکي به خپلو خاوندانو ته زېرے ورکوي او د خیر وعده به ورسره کوي او بدي به وایي چې زما نه لرې شئ، زما نه لرې شئ، خو هغوئ به ترېنه نهٔ شي جدا کېدے. (احمد ، بیهقي)

د ژوندو ښهٔ او بد عملونه د هغوی مړو ته پیش کیدل

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: ستاسو عملونه ستاسو مړو خپلوانو، خاندانونو او قبیلو ته پیش کولے کیږي۔ (احمد)

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: د الله تعالیٰ نه ویریږی د خپلو قبرونو والو رونو پهٔ باره کښی چې ستاسو عملونه هغوی ته وړاندې کیږي ۔ (ابن ابی الدنیا، احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: خپل مړي پهٔ خپلو بدو عملونو مهٔ شرمنده کوی ځکه چې دا ستاسو قبرونو والو خپلوانو او دوستانو ته پیش کولے کیږي۔ (ابن ابی الدنیا ،احیاء)

کتاب: ښهٔ عملونه

باب: د ښهٔ عملونو، نیکیانو، څهٔ بیان

فرض او نفل عملونه

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: بنده چې ما ته پهٔ څهٔ نزدې کیږي پهٔ هغې کښې ما ته د دې نه زیات څهٔ خوښ نیشتي څهٔ چې ما پهٔ دهٔ فرض کړي دي۔ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: بنده ما ته پهٔ نفلونو سره پهٔ نزدې کېدو کښې لګیا وي دې پورې چې زهٔ ورسره محبت وکړم۔ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د قیامت پهٔ ورز به د بنده سره حساب کیږي نو کهٔ د هغهٔ فرض کم شي نو وُبه ویېلے شي چې وګورۍ نفل ئې شتي کنه نو کهٔ نفل ئې وي نو پهٔ هغې به ئې فرض پوره کړے شي او کهٔ نفل ئې نهٔ وي نو د

دواړو طرفونو نه به وُنیوے شي او دوزخ کښې به وغورزولے شي ـ (ابوداؤد ،ابن ماجه)

د عملونو ښهٔ والے او قبول والے وغیره، د غوره والي څهٔ خبرې

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: عملونه د لوښي پهٔ شان دي، کهٔ ښکته ئې ښهٔ وي نو بره ئې ښهٔ وي او کهٔ ښکته ئې خراب وي نو بره ئې خراب وي ـ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د عملونو دار و مدار پهٔ خاتمو دے ـ (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د الله تعالیٰ طرف ته د شپې عملونه د ورځې نه مخکښې او د ورځې عملونه د شپې نه مخکښې خېژي ـ (مسلم)

❁رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: پهٔ عملونو کښې د ټولو نه غوره (یا الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ عمل) هغه دے پهٔ کوم چې د ټولو نه زیات همېشه والے وکړے شي (اګرکهٔ کم وي) ـ (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: د ټولو نه غوره عملونه هغه دي پهٔ کومو چې نفسونه مجبوره کړے شي (د نفسونو د ناخوښې والا) ـ (احیاء)

باب: د ښهٔ عملونو د کولو معامله

عملونو کښې اعتبار د نیت، خواهش او د اخلاص، د اخلاص فضیلت

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: الله تعالیٰ فرمائي: زهٔ د حکمت د خبرو والا سړي هره خبره نهٔ قبلوم بلکې د هغهٔ نیت او خواهش قبلوم نو کهٔ د هغهٔ نیت او خواهش زما د فرمان بردارۍ وي نو زهٔ د هغهٔ خاموشي هم خپل ځان له ثنا او هغهٔ له وقار او عزت جوړوم اګرچې هغه پهٔ ژبه هیڅ هم نهٔ وایي ـ (دارمي)

۞ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: جنګ کونکي پهٔ نيتونو جنګ کوي. (ابن ابی الدنيا)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د مومن نيت د هغهٔ د عمل نه غوره دے. (طبراني)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: خلق به (په قيامت کښې) پهٔ خپلو نيتونو راپاڅولے کيږي. (ابن ماجه، ابوداؤد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: عملونه پهٔ نيتونو باندې دي او هر سړي له هغه څهٔ دي د څهٔ چې دے نيت وکړي؛ پس د چا هجرت چې د الله او د هغهٔ د رسول طرف ته وي نو د دهٔ هجرت د الله او د هغهٔ رسول طرف ته دے او د چا هجرت چې د دنيا دپاره وي چې هغې ته ورسي يا د يوې ښځې دپاره وي چې وادهٔ ورسره وکړي نو د دهٔ هجرت د هغه څهٔ طرف ته دے د څهٔ طرف ته چې دے هجرت وکړي. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ معاذ بن جبلؓ ته وفرمائېل: عمل خالص کړه د هغې نه به درله لږ کافي شي. (ديلمي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم بنده چې څلوېښت ورزې الله تعالیٰ له خالص عمل وکړي نو د دهٔ د زړهٔ نه به د دهٔ پهٔ ژبه د حکمت چينې ظاهرې شي. (ابن عدي، احياء)

عملونه دنيا له يا د الله نه علاوه بل څهٔ يا بل چا له کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم سړے چې د آخرت عمل د دنيا دپاره کوي پهٔ آخرت کښې د هغهٔ هيڅ حصه نيشته. (احمد ، ابن حبان)

۞ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روايت کړے شوے دے: کوم نيک عملونه چې د راتلونکي جهان (آخرت) دپاره کولے کيږې الله تعالیٰ پهٔ دې جهان کښې هم د هغې (ښهٔ) بدله ورکوي ليکن کوم عملونه چې صرف د دې جهان دپاره

وکړے شي الله تعالیٰ به پۀ راتلونکي جهان کښې د هغې هيڅکله هم بدله (ثواب) ورنکړي. (دي ريليجن ريفارمرز اِن اسلام)

✿ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: چا چې هجرت وکړو د دنيا د څۀ شي د غوښتو دپاره نو هغه د دۀ دے (نور ئې څۀ نيشتي). (احياء)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د آخرت پۀ عمل سره دنيا طلب کړه د دۀ مخ بې نوره شو، د دۀ ذکر ختم کړے شو او د دۀ نوم پۀ دوزخ کښې درج کړے شو. (طبراني)

✿ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ به فرښتو ته وفرمائي: دې سړي پۀ خپل عمل سره زما اراده نۀ وه کړې نو دے پۀ سجين کښې وغورزوئ. (احياء)

✿ د رسول اللهﷺ نه يو سړي تپوس وکړو: اے د الله رسوله د قيامت پۀ ورز به خلاصے څنګه ملاويږي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله له دوکه مۀ ورکوه. هغۀ عرض وکړو: مونږ الله له دوکه څنګه ورکولے شو؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: الله له دوکه ورکول دا دي چې تا ته چې هغۀ د څۀ کولو حکم کړے دے تۀ هغه وکړې خو د بل چا دپاره ئې وکړې. (ابن ابی الدنيا)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې به الله تعالیٰ اولني او آخرني خلق راجمع کړي، د قيامت پۀ ورز چې څۀ شک پکښې نيشتے، نو يو آواز کونکے به دا آواز وکړي: چا چې پۀ يو عمل کښې چې الله تعالیٰ له ئې کولو څوک شريک کړے ؤ نو دے دِ وس خپل ثواب د هغۀ نه وغواړي ځکه چې الله تعالیٰ پۀ شريکانو کښې د ټولو نه زيات د شرک نه غني (بې حاجته او بې پروا) دے. (ابن ماجه)

✿ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: پۀ کومه ورز چې به الله تعالیٰ بندګانو له د دوی د عملونو بدله ورکوي نو دوی (د غير دپاره عمل کونکو) ته

به وفرمائي: د هغه خلقو څنګ ته لاړ شئ د چا دپاره (او چا ته ښودو له) چې به تاسو عمل کولو د هغوی سره تاسو څۀ بدله مومئ؟ (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې آخره زمانه شي نو زما د اُمت به درې فرقې شي: يوه فرقه به خالص الله تعالىٰ له عبادت کوي، يوه فرقه به د ريا او ښودنې دپاره عبادت کوي او يوه فرقه به د خلقو د مالونو د خوړلو دپاره عبادت کوي۔ (طبراني، بيهقي)

د ښۀ عملونو د کولو صرف نيت او قصد

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: بنده څۀ ښۀ عملونه وکړي او فرښتې هغه پۀ مُهر بند صحيفو (کتابچو) کښې وخېژوي او د الله تعالىٰ پۀ مخکښې ئې وغورزوي، الله تعالىٰ وفرمائي: دا صحيفه ارتاوه کړئ ځکه چې پۀ دې کښې چې څۀ دي دۀ پۀ دې سره زما د رضا اراده نۀ وه کړې۔ بيا الله تعالىٰ فرښتو ته آواز وفرمائي: دۀ له دا دا (نېک عملونه) وليکئ۔ فرښتې ووايي: اے زمونږه ربه! دۀ خو پۀ دې کښې هيڅ يو عمل هم نۀ دے کړے۔ الله تعالىٰ وفرمائي: دۀ ئې نيت کړے ؤ۔ (دارقطني)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې د يوې نيکئ قصد وکړي او بيا هغه ونکړي نو يوه نيکي ورله ليکلے کېږي۔ (متفق عليه)

پۀ عمل کولو کښې آساني او اعتدال لرل

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: دومره عمل پۀ ځان لازم کړئ د څومره چې تاسو طاقت لرئ، قسم دے چې الله تعالىٰ (د ثواب ورکولو نه) نۀ ستړے کېږي څو چې تاسو (د عمل کولو نه) ستړي نۀ شئ۔ (نسائي)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: تاسو صحيح عمل کوئ، نزدې والے کوئ (يا غلو مۀ کوئ)، سحر ماښام او د شپې پۀ څۀ حصه کښې عبادت کوئ او درميانه والے کوئ نو وبه رسئ (منزل ته)۔ (متفق عليه)

۞ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: درې کسان د نبي اکرم ﷺ د بيبيانو خواله له راغلل د نبي اکرم ﷺ د عبادت تپوس ئې کولو ـ کله چې ورته د هغې خبر ورکړے شو نو لکه چې دوی هغه کم وګڼلو نو وئې ويېل: زمونږ د نبي اکرم ﷺ سره څۀ نسبت چې الله تعالیٰ د هغوی مخکښنې او روستنې ګناهونه معاف کړي دي؟ بيا پۀ دوی کښې يو ووې چې زۀ خو به همېشه ټوله شپه نمونځ کوم، دويم ووې چې زۀ به همېشه د ورزې روژه نيسم او درېم ووې چې زۀ به د ښځو نه لرې ووسم چرته به هم وادۀ نۀ کوم ـ نبي اکرم ﷺ د دوی څنګ ته تشريف راوړو او وئې فرمائېل: هغه تاسو يئ چې داسې خبرې ئې وکړې؟ پۀ الله مې دِ قسم وي زۀ ستاسو نه زيات د الله نه يرېدونکے او پرهېز کونکے يم! ليکن زۀ روژې هم نيسم، نمونځ هم کوم، اودۀ کېږم هم او د ښځو سره نکاح هم کوم نو چا چې زما د سنت نه مخ واړولو هغه زما نه نۀ دے ـ (متفق عليه)

۞ د عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ ما ته وفرمائېل: اے عبدالله! آيا ما ته دا خبر نۀ دے راکړے شوے چې تۀ د ورزې روژه نيسې او ټوله شپه قيام (نمونځ، عبادت) کوې؟ ما عرض وکړو: ولې نۀ اے د الله رسوله! هغوی وفرمائېل: داسې مۀ کوه؛ روژه نيسه او بغير د روژې نه پاتې کيږه، قيام کوه او خوب هم کوه، ځکه چې ستا د بدن پۀ تا حق دے، ستا د سترګې پۀ تا حق دے، ستا د ښځې پۀ تا حق دے او ستا ملاقات له د راتلونکو (مېلمنو) پۀ تا حق دے ـ هغه کس روژه و نۀ نيوله چا چې ټول عمر روژه ونيوله ـ پۀ هره مياشت کښې درې روژې نيول ټول عمر روژې نيول دي ـ هره مياشت درې روژې نيسه او هره مياشت قرآن لوله (ختموه) ـ ما عرض وکړو: زۀ د دې نه د زيات طاقت لرم ـ هغوی وفرمائېل: د ټولو نه غوره روژې

نیسه، روژې د داؤد (علیه السلام)، یوه ورځ روژه او یوه ورځ ناغه او پهٔ وؤ ورځو کښې یوه پېره قرآن ختموه او د دې نه زیات والےمهٔ کوه. (متفق علیه)

باب: د نیکیانو او ښهٔ عملونو تاثیر، فائده، اجر

د نیکیانو د ګناهونو کفاره جوړېدل

✿ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: نیکیانې بدیانې بوزي. (متفق علیه)

✿ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث شریف کښې ابوذرؓته وفرمائېل: پهٔ بدۍ پسې نیکي کوه هغه به ختموي. (ترمذي)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پینځهٔ نمونځونه او جمعه د جمعې پورې او رمضان د رمضان پورې د دوۍ پهٔ مینځ کښې چې څهٔ (وړهٔ ګناهونه) وشي د هغې ختمونکي دي (کفاره ورله جوړېدونکي دي) کهٔ د غټو (کبیره) ګناهونو نه بچ پاتې کېدل وشي. (مسلم)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: صدقه ګناه داسې مړوي لکه اُوبهٔ چې اُور مړوي او نمونځ د مومن رڼا ده او روژه د دوزخ نه ډال دے. (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: عمره د عمرې پورې د هغو دواړو پهٔ مینځ کښې چې څهٔ (وړهٔ ګناهونه) وي د هغې دپاره کفاره ده. (متفق علیه)

ښهٔ عملونه د مرګ پهٔ وخت او پهٔ آخرت کښې

✿رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د دنیا نه جدا شي الله تعالیٰ له پهٔ اخلاص سره چې یو ذات دے او د هغهٔ پهٔ عبادت سره چې هیڅ شریک ورله نیشتے او د نمانځهٔ پهٔ قائمولو او د زکوٰة پهٔ ورکولو سره نو داسې به مړ شي چې الله تعالیٰ به ترېنه راضي وي. (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: خلق به دوزخ ته واردېږي او بیا به پهٔ خپلو (نیکو) عملونو سره د هغې نه واپس کیږي. (ترمذي، دارمي)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د بنده عملونه به د دۀ دفاع کوي، نو کۀ عذاب د پخو د طرف نه راشي نو قيام الليل (د شپې نمونز، عبادت) به راشي او د دۀ نه به ئې دفع کړي او کۀ د لاسونو د طرف نه راشي نو صدقه به راشي او د دۀ نه به ئې دفع کړي- (طبراني)

قيامت کښې د ښۀ عملونو او د اسلام راتلل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قيامت پۀ ورز به عملونه رازي- نمونز به راشي او وُبه وايي: اے ربه! زۀ نمونز يم نو الله تعالیٰ به وفرمائي: بېشکه تۀ پۀ خير باندې يې- بيا به صدقه راشي او وُبه وايي: اے ربه! زۀ صدقه يم نو الله تعالیٰ به وفرمائي: تۀ پۀ خير باندې يې- بيا به روژه راشي او وُبه وايي: اے ربه! زۀ روژه يم نو الله تعالیٰ به وفرمائي: تۀ پۀ خير باندې يې- بيا به دارنګې نور عملونه (حج وغيره) راشي نو الله تعالیٰ به وفرمائي: بېشکه تاسو پۀ خير باندې ئی- بيا به اسلام راشي او وُبه وايي: اے ربه! تۀ سلام ئې او زۀ اسلام يم نو الله تعالیٰ به وفرمائي: تۀ پۀ خير باندې ئې، ستا پۀ ذريعه به زۀ نن اخستل او ورکول کوم- الله تعالیٰ پۀ خپل کتاب کښې فرمائېلي دي: "څوک چې د اسلام نه علاوه بل څۀ دين ولټوي نو د دۀ نه به هيڅکله قبول نکړے شي او دے به پۀ آخرت کښې د زيان موندونکو نه وي"- (احمد)

پۀ آخرت کښې د نيکيانو بدلې

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د بني آدم هر عمل دۀ له ډېر چنده زيا تولے کيږي، نيکي د لسو چندو نه د وؤ سو پورې- (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ نيکيانې او بديانې ليکلي دي بيا ئې د هغې بيان کړے دے، پس چا چې د يوې نيکۍ اراده وکړه او هغه ئې ونکړه نو الله تعالیٰ به ورله د ځان سره يوه پوره نيکي وليکي، او کۀ د هغې اراده ئې

وکړه او بیا ئې هغه وکړه نو الله تعالیٰ به ورله د ځان سره لس نیکۍ ولیکي د وؤ سوو پورې۔ (بخاري، مسلم)

❁رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: چا چې نیکي راوړه نو دهٔ له د هغې لس چنده ده۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کله چې بنده یوه نیکي کوي نو د ښي طرف والا فرښته د هغې لس چنده ثواب لیکي۔ (درمنثور، فضائلِ صدقات)

کتاب: بد عملونه

باب: محرّمات، ګناهونه

د الله حرام کړي کارونه او د هغې نه د منع کېدو حکم

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د هر بادشاه یوه ورشو وي، خبردار! د الله تعالیٰ ورشو د هغهٔ حرام کړي کارونه (محرمات) دي۔ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: الله تعالیٰ غیرت کوي او د هغهٔ غیرت پهٔ دې دے چې انسان د هغهٔ حرام کړي کارونه وکړي۔ (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ یوهٔ خطبه کښې مروي دي: اے خلقو! الله تعالیٰ چې د کومو څیزونو نه منع کړې ده د هغې نه منع شۍ۔ (خطبات نبوي)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایهٔ: ما چې تاسو د څهٔ نه منع کړي یۍ د هغې نه منع شۍ۔ (ترغیب)

د حرامو کارونو د نهٔ کولو فضیلت او د کولو وعید

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د الله تعالیٰ د حرام کړو خبرو (محارمو) نه بچ شه پهٔ خلقو کښې به د ټولو نه لوئے عبادت ګزار شې۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قيامت پۀ ورز به هره سترګه ژاړي مګر هغه سترګه کومه چې د الله تعالیٰ د حرام کړو څيزونو نه منع کړے شوې وي او هغه سترګه کومې چې د الله تعالیٰ پۀ لار کښې څوکۍ کړې وي او هغه سترګه د کومې نه چې د الله تعالیٰ له يرې د مچ د سر مقدارې اوښکه راوتلې وي (هغه به نۀ ژاړي) ـ (ترغيب)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ پۀ خپل اُمت کښې هغه کسان پېژنم چې د قيامت پۀ ورز به د تهامې د غرۀ هومره نيکيانې راوړي خو الله تعالیٰ به ئې خوره شوې دوړه وګرزوي ـ ثوبان ﷺ عرض وکړو: اے د الله رسوله! مونږ ته د هغوی بيان وکړه داسې نۀ چې مونږ د هغوی نه يو ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغوی ستاسو رونه او ستاسو خپل دي او د شپې نه څۀ (حصه) د عبادت دپاره هم اخلي څنګه چې تاسو اخلۍ خو هغوی چې کله د الله تعالیٰ پۀ حرام کړو کارونو تېريږي نو هغه کوي ـ (ابن ماجه)

د ګناه د آخرت او د دنيا څۀ نقصان، وبال، استدراج

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: بنده چې کله څۀ ګناه وکړي نو د دۀ پۀ زړۀ کښې يوه توره نکته جوړه شي پس کچرې دے (د ګناهونو نه) منع شي، استغفار وکړي او توبه وباسي نو د دۀ زړۀ صفا شي او کۀ دوباره (دوباره) ګناه وکړي نو هغه نکته زياته (زياته) شي تر دې چې د دۀ پۀ زړۀ غالبه شي ـ (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې څۀ ګناه وکړي نو د دۀ نه (د دين) عقل جدا شي چې بيا ورته هيڅکله واپس نۀ رازي ـ (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: جنايت (ګناه، جرم) کونکے جنايت نۀ کوي مګر د خپل ځان خلاف ـ (اساس العربيه)

۞ د عقبه بن عامر ﷺ نه روايت دے: رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تۀ وينې چې الله تعالیٰ بنده له سره د هغۀ د ګناهونو د هغۀ د خوښې څۀ ورکوي نو

دا نۀ دے مګر استدراج (مهلت ورکول او رو رو راګېرول، نۀ چې نعمت ورکول) ـ (احمد ، طبراني، بيهقي)

ګناهونه (يا بعضې ګناهونه) او ايمان

۞ د رسول اللّٰهﷺ نه روايت کړے شوے دے: زنا کونکے چې څۀ وخت زنا کوي نو هغه مومن نۀ وي، غلا کونکے چې څۀ وخت غلا کوي نو هغه مومن نۀ وي، شراب څښونکے چې څۀ وخت شراب څښي نو هغه مومن نۀ وي، لوټ کونکے چې څۀ وخت لوټ کوي چې خلق ورته سترګې اوچتوي نو هغه مومن نۀ وي، او (پۀ مالِ غنيمت وغيره کښې) خيانت کونکے چې څۀ وخت خيانت کوي نو هغه مومن نۀ وي (او (ناحق) قتل کونکے چې څۀ وخت قتل کوي نو هغه مومن نۀ وي) ـ (متفق عليه)

د ګناهونو ډېريدل، واړۀ ګناهونه، د مومن ګناه او د منافق ګناه

۞ د رسول اللّٰهﷺنه د ګناهونو مثال مروي دے چې پۀ يو صحرا کښې ډېر کسان جمع وي هغوی يو يو لرګے راوړي نو ډېر شي او غټ اُور تري بل شي نو دغه شان چې يو يو ګناه راجمع شي نو ډېر شي ـ (دينِ اسلام)

۞ د رسول اللّٰهﷺنه روايت کړے شوے دے: شيطان د دې نه نااُميده شوے دے چې د عربو پۀ زمکه د بتانو عبادت وکړے شي ليکن ستاسو نه به د دې نه پۀ کمه راضي شي، پۀ وړو او معمولي ګناهونو او هغه هلاکونکي دي ـ (احمد ، بيهقي، احياء)

۞ رسول اللّٰهﷺد حجة الوداع پۀ خطبه کښې فرمائيلي وو: اے خلقو! شيطان د دې نه نااُميده شوے دے چې ستاسو پۀ دې زمکه د هغۀ عبادت وکړے شي ليکن هغه پۀ دې راضي شوے دے چې د دې نه علاوه پۀ نورو کښې د هغۀ

عبادت وکړے شي، پۀ هغې کښې چې تاسو ئې واړۀ ګڼئ د خپلو (بدو) عملونو نه۔ (متفق علیه)

❁رسول اللهﷺفرمائېلي دي: مومن خپل ګناه داسې ګڼي لکه د دۀ دپاسه چې يو غر وي او د هغې د راپرېوتو خطره وي او منافق خپل ګناه داسې ګڼي لکه چې يو مچ د دۀ د پوزې دپاسه تېر شي۔ (بخاري)

نۀ معاف کېدونکے ګناه، ښکاره ګناه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما ټول اُمت معاف کېدے شي مګر ښکاره ګناه کونکي (نۀ شي معاف کېدے) او د ښکاره ګناه کولو نه دا خبره هم ده چې سړے د شپې څۀ (بد) عمل وکړي او بيا چې سحر شي نو پۀ دې حال کښې چې الله تعالیٰ پۀ دۀ پرده اچولې وي دے ووايي: اے فلانیه! ما د شپې دا دا عمل کړے دے۔ د شپې پرې خپل رب پرده اچولې وي او سحر دے د الله تعالیٰ پرده لرې کړي۔ (متفق علیه)

کتاب: د الله يره، تقویٰ، د ګناهونو نه احتراز

باب: د الله يره

د الله نه يرېدل، د هغې ثواب

❁ د رسول اللهﷺنه دعاء مروي ده: اے الله! ما ويروه د خپل ځان نه لکه چې زۀ تا اينم دې پورې چې ستا سره يو ځائے شم۔ (دينِ اسلام)

❁رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: عمل کوئ پۀ داسې حال کښې چې تاسو د الله تعالیٰ نه پۀ يره (او احتياط) کښې يئ۔ (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالىٰ به د قيامت پۀ ورز وفرمائي: د دوزخ نه وباسئ هغه څوک چا چې چرته يوه ورز زۀ ياد کړے وُم يا پۀ څۀ موقع زما نه يرېدلے ۆ ۔ (ترمذي، بيهقي)

د الله د يرې نه د ژړلو، اوښکو بيولو او رپېدلو ثواب

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښ وفرمائېل: کوم سړے چې د الله تعالىٰ د يرې نه وژاړي هغه دوزخ ته نۀ شي تلے دې پورې چې پئ غولانزې ته واپس لاړ شي ۔ (ترمذي)

❁د عبد الله بن شخيرؓ نه روايت دے، فرمائي: زۀ د رسول اللهﷺ خوا له لاړم، هغوئ نمونځ کولو او د سينې نه ئې د ژړا داسې آواز راتۀ لکه د کټوئ آواز ۔ (ابوداؤد، ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم سړے چې خپل ګناهونه ياد کړي او د الله تعالىٰ د يرې نه اوښکې وبيوي نو الله تعالىٰ به پۀ هغۀ د دوزخ اُور حرام کړي ۔ (تذکرة الواعظين)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالىٰ ته زياته خوښه قطره نيشته د اوښکې د قطرې نه چې د هغۀ د يرې نه وي او د وينې د قطرې نه چې د هغۀ پۀ لار کښې وبيولے شي ۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې بنده د الله تعالىٰ د يرې نه رپېږي نو د دۀ ګناهونه داسې ريژي لکه د وچې ونې نه چې پاڼې ريژي ۔ (ابن حبان)

د الله د عذاب نه يرېدل وغيره

❁ پۀ يو روايت کښې راغلي دي چې رسول اللهﷺ او جبريل عليه السلام دواړو د الله تعالىٰ د يرې نه ژړل نو الله تعالىٰ ورته وحي وکړه چې تاسو ولې ژاړئ ما خو تاسو بې يرې کړي يئ؟ هغوئ عرض وکړو: ستا د مکر (عذاب او آزمائش) نه څوک بې يرې کېدے شي؟ (ابن شاهين في شرح السنه)

❁ رسول اللهﷺ د یربدونکو زړونو والو متعلق (د کومو چې په قرآن کښې ذکر راغلے دے) وفرمائېل: دا هغه څوک دي چې صدقه ورکوي او نمونځ کوي نو یریږي چې قبول به نهٔ شي. (ابن ماجه)

باب: تقویٰ، پرهېزګاري (ورع)

د تقویٰ تاکیداو فضیلت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زهٔ تاسو ته د تقویٰ وصیت کوم. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ ابوذرؓته وفرمائېل: د الله تعالیٰ تقویٰ (یره) لره هرځائے کښې چې یې. (ترمذي)

❁ یو سړے د رسول اللهﷺ پهٔ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! زهٔ د سفر اراده لرم ما له توښه راکړه. رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: الله تعالیٰ دِ تا له د تقویٰ توښه درکړي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د دین وېخ تقویٰ لرل دي. (بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: ایمان بربنډ دے او جامه ئې تقویٰ ده. (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه زیات چې جنت ته څهٔ بوتلونکي دي هغه د الله تعالیٰ یره (تقویٰ) او ښهٔ اخلاق دي. (ترمذي، حاکم)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: جنت ته د ټولو نه زیات څهٔ بوتلونکي دي؟ رسول الله وفرمائېل: تقویٰ او ښهٔ اخلاق. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ (معاذؓ ته پهٔ وصیت کښې) وفرمائېل: ما ته پهٔ خلقو کښې د ټولونه زیات نزدې (یا زما د ټولو نه زیات حقدار یا د ټولو نه زیات لائق) تقویٰ لرونکي دي، هر څوک چې وي او هر ځائے چې وي. (احمد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې (په قيامت کښې) د الله تعالىٰ سره په داسې حال کښې يو ځائے شي چې تقوىٰ والا وي نو الله تعالىٰ به ورله د ټول اسلام ثواب ورکړي. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ په څنګ کښې د يو سړي د عبادت او (په هغې کښې) د ډېر کوشش ذکر وکړے شو او د بل سړي د پرهېزګارۍ (ورع) ذکر وکړے شو نو رسول اللهﷺ وفرمائيل: د پرهېزګارۍ سره څۀ نۀ شي برابرېدے. (ترمذي)

د الله په نزد غوره والے او عزت صرف په تقوىٰ

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا له په چاغوره والے نيشتے مګر په دين او تقوىٰ سره. (احمد، بيهقي)

۞ د ابوذرؓ نه روايت دے چې رسول اللهﷺ هغۀ ته وفرمائيل: تۀ غوره نۀ يې نۀ د سور نه او نۀ د تور نه مګر دا چې په تقوىٰ سره ترې غوره شې. (احمد)

۞ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: اے د الله رسوله! په خلقو کښې د ټولو نه زيات عزت واالا څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: په هغوی کښې د ټولو نه زيات تقوىٰ لرونکے. (متفق عليه)

باب: د ګناهونو نه بچ کېدل، په ګناهونو ژړا

د ګناهونو د پرېښولو تاکيد او فضيلت، د وړو ګناهونو نه ځان ساتل

۞ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: مُهاجر هغه څوک دے چا چې هغه څۀ پرېښودۀ د څۀ نه چې الله تعالىٰ منع فرمائيلې ده (يا ئې خطايانې او ګناهونه پرېښودۀ). (الادب المفرد، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ په يو حديث شريف کښې وفرمائيل: نيشته پرهېزګاري په شان د منع کېدلو (د ګناهونو او حرامو کارونو نه). (ابن ماجه، بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ځان ساتئ د هغه ګناهونو نه هم کوم چې معمولي ګڼلے کیږي ځکه چې د هغې هم د الله تعالیٰ د طرف نه یو تپوس کونکے دے۔ (ابن ماجه، بیهقي، دارمي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: ځان د معمولي ګڼلے کېدونکو ګناهونو نه ساتئ ځکه چې دا په سړي کښې جمع کیږي تر دې چې هغه هلاک کړي۔ (بیهقي، احیاء)

د شک د خبرو نه ځان ساتل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: حلال ښکاره دي او حرام ښکاره دي او د دې دواړو په مینځ کښې د شک څیزونه (مشتبهات) دي چې ډېر خلق پرې نۀ پوهېږي، پس چا چې د شک د څیزونو نه ځان وساتۀ هغۀ د خپل دین او د خپل عزت دپاره خلاصے حاصل کړو، او څوک چې د شک په څیزونو کښې پرېوت هغه په حرامو کښې پرېوت لکه د ورشو نه چاپېره څرَوُنکے نزدې ده چې په هغې کښې پرېوزي (یا پرېباسي)۔ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د شک شبهې په خبرو زړه ور توب کوي نزدې ده چې په حرامو کښې پرېوزي۔ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څۀ چې تا په شک کښې اچوي هغه پرېږده او څۀ چې تا په شک کښې نۀ اچوي هغه کوه۔ (احمد، ترمذي، حاکم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بنده د هغه وخته پورې د تقویٰ دارو نه نۀ شي کېدے څو پورې چې هغه څۀ پرې نږدي په څۀ کښې چې څۀ بدي (د شک څۀ) نۀ وي د هغه څۀ نه د بچ پاتې کېدو دپاره په څۀ کښې چې څۀ بدي وي۔ (ترمذي)

۞ د انس رضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ په لاره کښې د کجورې یوه دانه ومونده نو وئې فرمائېل: کۀ ما سره یره نۀ وے چې دا به د صدقې وي نو ما به دا خوړلې وه۔ (متفق علیه)

۞ پهٔ زبور کښې راغلي دي چې الله تعالیٰ داؤد علیه السلام ته وحي وکړه: بني اسرائیلو ته ووایه: زهٔ ستاسو نمانزهٔ او روژې ته نهٔ ګورم زهٔ هغه چا ته ګورم چې پهٔ څهٔ کښې شک وکړي او زما د وجې نه ئې پرېږدي نو دے هغه څوک دے چې زهٔ ورته ګورم او پهٔ خپل مدد سره ورله قوت ورکوم او خپلو فرښتو ته پرې فخر کوم۔ (احیاء)

پهٔ خپلو ګناهونو ژړا کول

۞ روایت دے چې عائشې رضي الله عنها عرض وکړو: اے د الله رسوله! ستا د اُمت یو کس بغیر د حساب نه جنت ته تلے شي؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: آ (تلے شي) هغه کس چې خپل ګناهونه یاد کړي او وژاړي۔ (احیاء)

۞ عقبه بن عامر رضي الله عنه فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! د خلاصي څهٔ لار ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: خپله ژبه پهٔ قابو کښې وساته او وُدِځایوي تا کور ستا (پهٔ خپل کور کښې کښېنه)، او پهٔ خپلو ګناهونو ژړا کوه۔ (ترمذي)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: نیک بختي ده هغه چا له څوک چې پهٔ ځان قابو وساتي، پهٔ کور کښې ناست وي او پهٔ خپلو ګناهونو ژاړي۔ (طبراني)

کتاب: عقائد، الٰهیات، متعلقات

باب: ایمان، یقین، تصدیق، اعتقاد، شهادت، اقرار

یقین و تصدیق او هغه څهٔ د څهٔ چې یقین لرل دي، د دې تاثیر او فائده

۞رسول اللهﷺ (د جبریل علیه السلام د سوال پهٔ جواب کښې) وفرمائېل: (ایمان دا دے) چې تهٔ یقین وکړې د الله تعالیٰ، د هغهٔ د ملائکو، د هغهٔ د

کتابونو، د هغهٔ د رسولانو، د آخرنۍ ورز (قیامت) او یقین وکړې د خیر او د شر د تقدیر (مخکښې نه د مقرر والي) ـ (مسلم)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې ګواهي وکړه چې نیشتے اِلٰهَ (خدائے) مګر الله چې یو دے شریک ورله نیشتے، او چې محمد د هغهٔ بنده او رسول دے، او چې عیسیٰ (علیه السلام) د هغهٔ بنده، رسول او د هغهٔ کلمه ده چې مریم (علیها السلام) ته ئې غورزولې ده او د هغهٔ روح دے، او چې جنت حق دے او دوزخ حق دے، نو الله تعالیٰ به ئې جنت ته داخل کړي پهٔ کوم عمل چې هم وي ـ (متفق علیه)

باب: د الله متعلق څهٔ اُمور

د الله عبادت، طاعت، د هغهٔ د رضا قصد کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ عبادت کوه پهٔ خوښه سره ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ د حجة الوداع د خطبې په شروع کښې فرمائېلي وو: زهٔ تاسو ته وصیت کوم د الله بندګانو د الله تعالیٰ نه د یرېدو (د تقویٰ) او د هغهٔ د طاعت (حکم منلو) ـ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: تا له به پهٔ آخرت کښې هغه څهٔ وي (د هغه څهٔ ثواب به وي) پهٔ څهٔ چې تهٔ د خپل رب د رضا قصد وکړې ـ (بیهقي)

د الله پهٔ عبادت کښې احسان، الله ته نزدې کېدل

❁ رسول اللهﷺ (د جبریل علیه السلام د دې سوال پهٔ جواب کښې چې احسان څهٔ شے دے؟) وفرمائېل: (احسان دا دے) چې تهٔ عبادت وکړې د الله (داسې) لکه چې تهٔ هغه اینې نو کهٔ تهٔ هغه نهٔ اینې نو هغه تا اینې ـ (مسلم)

❁ د ابودرداءرضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: د الله تعالىٰ داسې عبادت کوه لکه چې هغه ستا په مخکښې وي او ته هغه اینې ... (ترغیب)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالىٰ فرمائي: بنده چې ما ته یوه لوېشت نزدې کیږي نو زه ورته یو بازو (ګز) نزدې کېږم او چې ما ته یو بازو نزدې کیږي نو زه ورته یوه اته نزدې کېږم او چې ما ته رو رو رازي نو زه ورته په منډه زم۔ (بخاري)

الله ته زیاتې سجدې کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په ځان زیاتې سجدې کول لازم کړه ځکه چې ته الله تعالىٰ ته یوه سجده نه کوې مګر الله تعالىٰ په هغې سره ستا یوه درجه اوچتوي او یو ګناه کموي۔ (مسلم)

❁ ابو فراس ربیعه بن کعب اسلمي رضي الله عنه چې د رسول اللهﷺ خادم او د اهلِ صفه نه دے فرمائي: ما به د رسول اللهﷺ سره شپه کوله نو ما به هغوی له د اوداسه اُوبه او د حاجت څیزونه راوړل، (یو ځل) هغوی وفرمائېل: زما نه څه وغواړه (سوال وکړه)۔ ما ووې: زه ستاسو نه په جنت کښې ستاسو سره کېدل غواړم۔ هغوی وفرمائېل: نور هم څه؟ ما ووې: بس دا۔ هغوی وفرمائېل: نو زما مدد وکړه د سجدو په زیات والي سره۔ (مسلم)

د الله دپاره محبت، بغض، څه ورکول، نه ورکول وغیره

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د اسلام د ټولو نه مضبوط بند د الله تعالىٰ دپاره محبت او د الله تعالىٰ دپاره بغض ساتل دي۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺابوذررضي الله عنه ته وفرمائېل: اے ابوذره! د ایمان کومه رسۍ د ټولو نه زیاته مضبوطه ده؟ ابوذررضي الله عنه وویېل: الله تعالىٰ او د هغه رسول زیات

پوهه دي ـ رسول اللهﷺوفرمائېل: د الله تعالیٰ دپاره دوستي کول او د الله تعالیٰ دپاره محبت او بغض ساتل ـ (بيهقي)

✿ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ عمل د الله تعالیٰ دپاره محبت او د الله تعالیٰ دپاره بغض کول دي ـ (احمد ، ابوداؤد)

✿ رسول اللهﷺ (ابورزين رضي الله عنه ته) وفرمائېل: د الله تعالیٰ دپاره محبت کوه او د الله تعالیٰ دپاره بغض کوه ـ (بيهقي)

✿ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د ټولو نه غوره محبت د الله تعالیٰ دپاره محبت دے او د ټولو نه غوره بغض د الله تعالیٰ دپاره بغض دے ـ (حاشيۀ رياض الصالحين)

✿ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې د اللهدپاره محبت وکړو او د اللهدپاره ئې بغض وکړو او د اللهدپاره ئې ورکول وکړۀ او د اللهدپاره ئې منع کول وکړۀ نو دۀ ايمان مکمل کړو ـ (ابوداؤد ، ترمذي)

✿ د معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي چې الله تعالیٰ فرمائي: زما محبت واجب شو هغه خلقو له کوم چې زما دپاره د يو بل سره محبت ساتي، زما دپاره د يو بل سره کښېني، زما دپاره د يو بل ملاقات له زي او زما دپاره پۀ يو بل خرچ کوي ـ (مالک)

د الله حمد و ثنا او شکر، الحَمدُ لله ويېل

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: اولني خلق چې د قيامت پۀ ورز به جنت ته بللے کيږي هغه کسان دي چې پۀ راته او سختۍ کښې د الله تعالیٰ حمد کوي ـ (بيهقي، طبراني)

✿ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: مومن پۀ ټول خير سره وي پۀ هر حال کښې، د هغۀ ساه (نفس) د هغۀ د طرفونو د مينځ نه ويستے کيږي او هغه د الله تعالیٰ حمد و ثنا وايي ـ (ترمذي فی الشمائل)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د قیامت پهٔ ورځ به آواز وکړے شي چې حمد کونکي دِ پاڅي، نو یو ټولګے به پاڅي او هغوی له به یوه جنډه ودرولے شي او جنت ته به داخل کړے شي. عرض وکړے شو چې حمد کونکي څوک دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: هغه کسان کوم چې پهٔ هر حال (یا پهٔ سختۀ او راتۀ) کښې د الله تعالیٰ شکر کوي. (طبراني، ابونعیم، بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د یو اهمیت والا شے چې د الله تعالیٰ د حمد (الحمد لله ویېلو) نه شروع نکړے شي نو هغه ناقص او بې برکته وي. (ابوداؤد وغیره) . پهٔ یو بل روایت کښې دي چې کوم یو کلام د الله تعالیٰ پهٔ حمد سره شروع نکړے شي نو هغه قطع کړے شوے (ناقص) دے. ()

❁ د اسود بن سریع رضي الله عنه (شاعر) نه روایت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما پهٔ څهٔ (ډېرو) حمدونو سره د خپل رب صفت کړے دے. رسول اللهﷺ وفرمائیل: ستا رب حمد خوښوي. (الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ یوې دعاء کښې مروي دي: اَلحَمدُ لِلّٰه عَلیٰ کُلِّ حَال (حمد دے الله له پهٔ هر حال باندې) . (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د ټولو نه غوره دعاء اَلحَمدُ لِلّٰه ده . (ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

باب: څهٔ متعلقات

د الله د معرفت، عبادت او اطاعت وغیره څهٔ فوائد

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: کچرې تاسو الله تعالیٰ پېژندلے وے پهٔ حقه سره نو تاسو به پهٔ دریابونو تلئ او ستاسو پهٔ دعاء به غرونه خوزېدل. (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: اے د آدم زویه! تهٔ زما عبادت ته فارغ شه زهٔ به ستا سینه د غني والي نه ډکه کړم او ستا فقیري

(محتاجي) به بنده کړم، او کچرې تهٔ داسې ونکړې نو زهٔ به ستا لاس د مشغولتيا نه ډک کړم او ستا فقيري به بنده نکړم. (احمد ، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کچرې زما بندګانو زما اطاعت کولے نو ما به پرې د شپې باران وروهٔ او د ورزې به م پرې غارمهٔ راوستهٔ او د وريځې ګړه زارے (د تندر آواز) به م ورته نهٔ اوروهٔ. (احمد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې راووت د معصيت (نافرمانۍ، ګناه) د ذلت نه د طاعت (فرمان بردارۍ، نيکۍ) عزت ته نو الله تعالیٰ به ئې غني کړي بغير د مال نه او مضبوط به ئې کړي بغير د لښکر نه او عزتمند به ئې کړي بغير د خاندان (کهډې، قام قبيلې) نه. المنبهات)

❁ د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: زهٔ يوه ورز د رسول اللهﷺ سره روستو ناست ؤم هغوی وفرمائېل: اے هلکه! تهٔ د الله تعالیٰ (د احکامو) خيال وساته الله تعالیٰ به ستا خيال وساتي، تهٔ د الله تعالیٰ (د احکامو) حفاظت وکړه الله تعالیٰ به ستا حفاظت وکړي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ مومن له د هغهٔ نيکيانې د آخرت دپاره ذخيره کوي او پهٔ دنيا کښې ورله پهٔ څهٔ طاعت باندې رزق ورکوي. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې د الله تعالیٰ حکم وړي نو هر شے به د دهٔ حکم وړي. (ترکِ منکرات)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ د يو مومن څهٔ نيکي نهٔ کموي (يا نهٔ ضائع کوي)، دنيا کښې پرې ورله هم څهٔ ورکولے کيږي او آخرت کښې به ورته د هغې بدله ملاوېږي. (مسلم)

د الله رحمت، د هغهٔ رحمت د هغهٔ پهٔ غضب غالب او د غضب نه مخکښې

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ هغه ذات دِ زما قسم وي د چا پهٔ لاس کښې چې زما روح دے! الله تعالیٰ پهٔ خپل بنده د دې نه زيات رحم کونکے دے څومره چې يوه ترسناکه مور پهٔ خپل بچي باندې وي۔ (متفق عليه)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ د مخلوق د پيدا کولو نه مخکښې پهٔ خپل ځان باندې رحمت فرض کړے دے (د هغهٔ فرمان دے): بيشکه زما رحمت زما پهٔ غضب غالب دے۔ (متفق عليه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې کله مخلوق پيدا کړو نو پهٔ يو کتاب کښې ئې دا خبره وليکله کومه چې د هغهٔ سره د عرش دپاسه پرته ده: زما رحمت زما پهٔ غضب غالب دے۔ (متفق عليه)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ هيڅ يو شے نهٔ دے پيدا کړے مګر هغې له ئې داسې څهٔ ګرزولي دي چې پهٔ هغې غالب کيږي او خپل رحمت ئې پهٔ خپل غضب باندې غالب کړے دے۔ (ابن حبان)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: زما رحمت زما د غضب نه مخکښې دے۔ (بخاري، مسلم، نسائي، ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ د مخلوق د پيدا کولو نه مخکښې يو ليک ليکلے دے چې د هغهٔ سره د عرش دپاسه موجود دے : زما رحمت زما د غضب نهړومبے دے۔ (متفق عليه)

باب: توحيد ، د توحيد اقرار ، کلمه

لَا اِلٰهَ اِلّا اللّٰه منل، ويېل، ددې فضيلت

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: څوک چې مړ شو او د هغهٔ دا يقين ؤ چې لَا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ (نيشتے اله مګر الله) نو جنت ته به زي۔ (مسلم)

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: چاچې لَا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ ووې او بيا پهٔ دې مړ شو نو هغه جنتي دے۔ (مجالس الابرار(از مصابيح الظلم)

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: د جنت کنجيانې د لَا اِلٰهَ اِلّا الله شهادت دے۔ (احمد)

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: د چا چې آخري کلام لَا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ وي هغه به جنت ته زي۔ (ابوداؤد ، حاکم، ابن حبان)

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: چا چې لَا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ پهٔ رشتيا، د زړهٔ نه پهٔ اخلاص سره ووې نو هغهٔ له جنت واجب شو۔ (طبراني، ابويعلیٰ)

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: څوک چې لَا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ پهٔ اخلاص سره ووايي هغه به جنت ته زي ۔ عرض وکړے شو: د هغهٔ اخلاص څهٔ دے؟ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: دا چې د هغه څهٔ نه ئې محفوظ کړي څهٔ چې پرې الله تعالیٰ حرام کړي دي۔ (طبراني)

۞ ابوذر رضي الله عنه رسول اللّٰهﷺ ته عرض وکړو: اے د الله رسوله! د نيکيانو نه لَا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ هم ده؟ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: هغه د ټولو نيکيانو نه غوره ده ۔ (احمد)

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: د لَا اِلٰهَ اِلّا الله نه نۀ څهٔ عمل مخکښې کېدے شي او نۀ دا څهٔ ګناه پرېږدي۔ (ابن ماجه)

۞ رسول اللّٰهﷺ فرمائېلي دي: د ټولو نه غوره ذکر (يا د ټولو نه غوره عمل) لَا اِلٰهَ اِلّا اللهدے۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: هيڅ يو شے نيشتے مګر د هغۀ او د الله تعالیٰ پۀ مينځ کښې څۀ حجاب (پرده) وي سوا د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ويېلو نه او د پلار د دعاء نه. (فضائلِ ذکر)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: قسم مِ دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ قبضه کښې چې زما ساه دے! کچرې آسمانونه او زمکه او څوک چې پۀ دې کښې دي او څۀ چې د دې پۀ مينځ کښې دي او څۀ چې د دې د لاندې دي هغه ټول راوستے شي او د تلې پۀ يو چابړي کښې کېښودے شي او د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله شهادت پۀ بل چابړي کښې کيښودے شي نو دا به ترېنه دروند شي. (طَبراني، فضائلِ ذکر)

❁ ابوبکر رضي الله عنه فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! نجات (خلاصے) پۀ څۀ سره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې زما نه هغه کلمه قبوله کړه کومه چې ما خپل ترۀ ته وړاندې کړه او هغۀ رد کړه نو دا دۀ له نجات دے. (احمد)

د توحيد او رسالت کلمه، د دواړو اقرار، فضيلت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې مړ شو پۀ داسې حال کښې چې يقين ئې وۀ چې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنِّي رَّسُولُ الله (نيشتے اِله (خدائے) مګر الله او زۀ د الله رسول يم) نو جنت ته به داخليږي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم يو نفس چې مري او د دې ګواهي ورکړي چې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنِّي رَّسُولُ الله (نيشتے اِله مګر الله او زۀ د الله رسول يم) پۀ داسې حال کښې چې دا راجع وي يو يقين کونکي زړۀ ته نو الله تعالیٰ د هغۀ مغفرت فرمائي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د زړۀ پۀ صدق دا ګواهي ورکړي چې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنَّ مُحَمَّداً رَّسُولُ الله (نيشتے اِله مګر الله او محمد د الله رسول دے) نو الله تعالیٰ به ئې د دوزخ پۀ اُور حرام کړي (يا به پۀ هغۀ د دوزخ اُور حرام کړي). (متفق عليه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د دې دين د ټولو نه نرم څيز دا دے چې د الله تعالىٰ نه سوا الهٰ نيشتے او محمد د هغۀ بنده او رسول دے.
(بزار)

باب: د توحيد سره متعلق څه اُمور

هر څۀ د الله پۀ مشيئت، د هغۀ د طرف نه او د هغۀ پۀ حکم

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څۀ چې الله تعالىٰ وغواړي هغه وشي او څۀ چې هغه ونۀ غواړي هغه ونۀ شي (څۀ چې الله تعالىٰ وغوښتۀ هغه وشو او څۀ ئې چې ونۀ غوښتۀ هغه ونۀ شو. څۀ چې الله تعالىٰ غواړي هغه کيږي او څۀ چې نۀ غواړي هغه نۀ کيږي). (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: داسې مۀ وايۍ چې الله وغواړي او فلانے وغواړي بلکې وايۍ چې الله وغواړي او بيا فلانے وغواړي. (ابوداؤد)

۞ يو سړي رسول اللهﷺ ته ووې: څۀ چې الله وغوښتۀ او تا وغوښتۀ. رسول اللهﷺ وفرمائيل: تا خو الله له مِثل (برابر) جوړ کړو، څۀ چې الله يوازې وغوښتۀ. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يوې خطبه کښې وفرمائيل: څۀ چې د الله تعالىٰ خوښه وي هغه کيږي، نۀ هغه چې د خلقو خوښه وي. خلق يوه خبره غواړي او الله تعالىٰ بله. څۀ چې الله تعالىٰ غواړي هغه کيږي اګرکۀ خلق ئې بد ګڼي... هيڅ نۀ کيږي مګر د الله تعالىٰ پۀ حکم (اِذن). (ابوداؤد في مراسيله)

سوال او مدد صرف د الله نه

❁ رسول اللهﷺ (په یو حدیث مبارک کښې (عبد الله بن عباسؓ ته) وفرمائیل: کله چې ته سوال کوې نو د الله تعالیٰ نه سوال کوه او کله چې ته مدد غواړې نو د الله تعالیٰ نه مدد غواړه او یقین وکړه چې که ټول خلق جمع شي چې تا ته څه نفع دررسوي نو تا ته به هیڅ نفع درونه رسولے شي مګر هغه چې الله تعالیٰ تا له لیکلې وي او که جمع شي چې تا ته څه ضرر دررسوي نو تا ته به هیڅ ضرر درونه رسولے شي مګر هغه چې الله تعالیٰ تا له لیکلے وي، قلمونه پورته کړے شوي دي او صحیفې وچې شوې دي. (ترمذي)

قسم صرف په الله خوړل، د الله د خاص والي څه علم

❁ د عبد الله بن عمرؓنه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺنه اورېدلي دي: چا چې په غیر الله قسم وخوړ هغه کفر یا شرک وکړو. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: بیشکه الله تعالیٰ تاسو منع کوي چې تاسو په خپلو پلارانو قسم وخورئ، پس څوک چې قسم خوړونکے وي نو په الله تعالیٰ دِ قسم خوري یا دِ خاموش پاتې کیږي. (بخاري، مسلم، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: قسمونه مه خورئ په بتانو او نه په خپلو پلارانو. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: قسمونه مه خورئ په خپلو پلارانو او په خپلو میندو او نه په بتانو، قسمونه مه خورئ مګر په الله تعالیٰ. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ په یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: د علم نه څه دے چې صرف الله تعالیٰ ئې لري. (الادب المفرد)

باب: شرک (په ضد د توحید)

شرک او د هغې بدوالے، وعیدونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: په دې اُمت کښې به شرک د دې نه زيات پټ وي لکه د شپې په تيارهٔ کښې په تور کاڼي د تور ميږي تلل۔ (ابن السني)

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: د الله تعالیٰ حق په بندګانو دادے چې دوی د هغهٔ عبادت وکړي او شريک ورسره پيدا نکړي او د بندګانو حق په الله تعالیٰ دادے چې هغه عذاب ورنکړي هغه چا له څوک چې د هغهٔ سره شريک پيدا نکړي۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې په داسې حال کښې مړ شو چې د الله تعالیٰ سره ئې څهٔ شريک کول نو دوزخ ته به زي۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: زهٔ د شرک نه په ټولو شريکانو کښې زيات بې پروا يم؛ چا چې څهٔ عمل وکړو چې په هغې کښې ئې زما نه علاوه څوک شريک کړو نو زهٔ به دے د دهٔ د شرک سره پرېږدم۔ (مسلم، ابن ماجه)

باب: بعثت، نبوت (رسالت)، متعلقات

د رسول اللهﷺ بعثت، څهٔ مقصد او حکمت، د بعثت د مثال څهٔ نمونه

❁ رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: زما رب ما ته فرمائيلي دي: ما تهٔ لېږلے يې صرف د دې دپاره چې ستا آزمائش وکړم او ستا په ذريعه (د نورو) آزمائش وکړم او په تا مې نازل کړے دے يو کتاب چې اُوبهٔ ئې نهٔ شي اينزلے (يعني بالکل محفوظ به پاتې وي) چې تهٔ ئې لولې په اُودو او په وېښه (په آسانه او په ګرانه، يا دا چې تا ته به په هر حال کښې آسان وي)۔ (ابن ماجه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما مثال داسې دے لکه چې يو سړے اور بلوي نو کله چې اُور چاپېره ځائے روښانه کړي نو پتنګان او دا چينجي مينجي کوم چې اُور ته ارتاوېږي هغې ته ارتاوېدل شروع شي او دا سړے هغه منع کوي خو هغه پۀ دۀ غالب کيږي او اُور ته ننوزي، نو زۀ تاسو د دوزخ د اُور نه منع کوم او تاسو پۀ هغې کښې ننوزئ (يا زما د لاس نه خلاصېږئ). (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما او پۀ څۀ سره چې الله تعالیٰ زۀ رالېږلے يم د دې مثال د هغه سړي دے چې يو قوم ته راغے او وئې ويېل: اے زما قومه! ما پۀ خپلو سترګو لښکر لېدلے دے او زۀ ښکاره يرولو والا يم نو تاسو خپل بچاؤ وکړئ، بچاؤ وکړئ. نو د هغۀ د قوم څۀ کسانو د هغۀ خبره ومنله او پۀ اطمينان سره د شپې روان شو او بچ شو او څۀ کسانو د هغۀ خبره دروغجنه کړه او پۀ خپل ځائے پاتې شو نو سحر پرې دشمن حمله وکړه، هلاک او تس نس ئې کړل. نو دا مثال د هغه چا دے چا چې زما خبره ومنله او څۀ چې ما راوړي دي د هغې پيروي ئې وکړه او مثال د هغه چا دے چا چې زما نافرماني وکړه او کوم حق چې ما راوړے دے هغه ئې دروغجن کړو. (متفق عليه)

د رسول اللهﷺ څۀ مُعجزې

۞ د انسؓ نه روايت دے، فرمائي: د مازيګر مونځ نزدې شوے ؤ خلقو اوداسۀ له اُوبۀ تلاش کول شروع کړۀ خو بيا ئې نۀ موندې. رسول اللهﷺ له اُوبۀ راوړے شوے نو هغوی پۀ لوښي کښې خپل لاس کېښو او خلقو ته ئې حکم وفرمايۀ چې د دې نه اودس وکړي. ما وليدۀ چې اُوبۀ د هغوی د ګوتو نه راوتې. خلقو د آخري سړي پورې اودسونه وکړۀ. تپوس وکړے شو: تاسو څو کسان وئ. هغۀ (انسؓ) ووې: تقريباً درې سوه. (نوراليقين)

۞ ابو قتادهؓ روايت کوي چې خلقو رسول اللهﷺ ته پۀ يو سفر کښې د تندې فرياد وکړو. رسول اللهﷺ د اوداسۀ لوښے راوغوښتۀ، پۀ خپل ترخ

مبارک کښې کېښو او بيا ئې ورله خلۀ بنده کړه، الله ته علم دے چې څۀ ئې پرې پوک کړۀ يا نۀ. خلقو اُوبۀ وڅښلې او څۀ لوښي چې ورسره وو هغه ئې ډک کړۀ. (نورالیقین)

ﷺ ابو ايوبؓ روايت کړے دے چې هغۀ رسول اللهﷺاو ابوبکرؓ له طعام تيار کړو چې صرف هغوی دواړو له کافي کېدۀ. رسول اللهﷺد هغې نه يو سل اتيا سړو ته وخوړولو. (نورالیقین)

ﷺ د اُحد پۀ ورز د قتاده بن نعمانؓ سترګه زخمي شوه تر دې چې د هغۀ پۀ مخ راپرېوته؛ رسول اللهﷺهغه واپس کړه کومه چې بيا د هغۀ پۀ سترګو کښې زياته ښۀ او تېزه وه. (نورالیقین)

د رسول اللهﷺفرمان برداري او نافرماني

ﷺ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: چا چې زما فرمان برداري وکړه هغۀ د الله تعالیٰ فرمان برداري وکړه او چا چې زما نافرماني وکړه هغۀ د الله تعالیٰ نافرماني وکړه. (بخاري)

ﷺ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: ذلّت او خواري پۀ هغه چا اېښودے شوې ده کوم چې زما د حکم خلاف ورزي کوي. (بخاري)

ﷺ رسول اللهﷺ پۀ يو موقع کښې وفرمائېل: اے تاسو د دې نه عاجز يئ چې کله زۀ څوک سړے (څۀ خبرې له) لېږم او هغه زما خبرې له لاړ نۀ شي چې تاسو د هغۀ پۀ ځائے داسې څوک مقرر کړئ چې هغه زما خبرې له لاړ شي (زما حکم پۀ ځائے کړي)؟ (ابوداؤد)

باب: د رسول اللهﷺ شان مُبارک

رسول اللهﷺ رحمت او هدايت

❁ د ابوامامهؓنه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ زۀ د ټولو عالَمونو (خلقو) دپاره هدايت او رحمت رالېږلے يم. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ رحمت يم چې الله تعالیٰ رالېږلے يم او ما به نۀ وفات کوي دې پورې چې خپل دين ظاهر غالب) کړي. (ابن کثير)

❁ د خالد بن عمران رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: پۀ داسې حال کښې چې رسول اللهﷺ مضر (قبيلې والو) ته بددعائي کوله جبرئيل (عليه السلام) د دوی خنګ ته راغے او دوی ته ئې اشاره وکړه چې چُپ شه، چُپ شه، وئې ويېل: اے محمده! الله تعالیٰ تۀ بدې ردې ويونکے او لعن (خېرې) کونکے نۀ يې رالېږلے تۀ خو ئې صرف رحمت رالېږلے يې او عذاب ئې نۀ يې رالېږلے. (ابوداؤد في مراسيله)

د رسول اللهﷺ افضليت، د هغوی او د هغوی د اُمت څۀ فضيلت

❁ د ابوهريرهؓنه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائېل: ما ته پۀ شپږو څيزونو سره پۀ نورو نبيانو فضيلت راکړے شوے دے: ما ته جوامع الکلم راکړے شوي دي، زما پۀ رُعب سره مدد کړے شوے دے، ما له د غنيمت مالونه حلال کړے شوي دي، ما له ټوله زمکه د سجدې ځائے او پاکه ګرزولے شوې ده، زۀ تمامو انسانانو ته رالېږلے شوے يم او پۀ ما باندې د نبيانو سلسله بنده کړے شوې ده. (مسلم)

❁ د ابوهريرهؓنه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائېل: مونږ آخري يو (پۀ راتلو کښې) او مونږ اولني يو د قيامت پۀ ورز اګرکۀ هر اُمت ته کتاب زمونږ نه مخکښې ورکړے شوے دے او مونږ ته د هغوی نه روستو راکړے شوے دے. (مسلم)

د رسول اللهﷺد سیرت او شمائلو څهٔ نمونې

❁ حسين بن علي رضي الله عنهما فرمائي: ما د خپل پلار نه د رسول اللهﷺپهٔ خپلو همنشینو (ملګرو) کښې د سیرت مبارک تپوس وکړو نو هغوی وفرمائېل: رسول اللهﷺکشاده مخے، نرم خوئے او نرم زړے ؤ، بد خویه او سخت خویه نهٔ ؤ؛ نهٔ شور چغې ویستونکے، فحش ویونکے، عیب ښکاره کونکے او بخل کونکے ؤ۔ څهٔ ته چې به ئې زړهٔ نهٔ کېدهٔ د هغې نه به بې پروا کېدهٔ، نهٔ به ئې ترې څوک نااُمیده کولو او نهٔ به ئې د هغې دعوت قبلوهٔ۔ ځان ئې د درېو څیزونو نه منع کړے ؤ: د جنګ و جدال نه، د لوئے والي نه او د بې فائدې خبرو نه، او خلق ئې د درېو نه منع (محفوظ) کړي وو: د چا مذمت به ئې نهٔ کولو، د چا عیب به ئې نهٔ بیانولو او د چا د پردې څهٔ به ئې نهٔ تلاش کول۔ خبرې به ئې نهٔ کولې مګر د هغه څهٔ پهٔ باره کښې پهٔ څهٔ کښې چې به ئې د ثواب اُمید لرهٔ... د هغوی (د همنشینو) د خندا پهٔ څیز به ئې خندل او د هغوی د تعجب پهٔ څیز به ئې تعجب کولو۔ د ناشنا کس پهٔ خبرو او سوال کولو کښې پهٔ بد سلوکۍ او نارامه والي به ئې صبر کولو... مدحَ به ئې نهٔ قبلوله مګر د بدله ګرزونکي نه۔ د چا خبره به ئې نهٔ قطع کوله مګر کله چې به هغه د حد نه تېرېدهٔ نو بیا به ئې پهٔ منع کولو یا پهٔ پاڅېدو سره قطع کوله۔ (الترمذي فی الشمائل)

❁ د رسول اللهﷺ متعلق روایت کړے شوے دے: رسول اللهﷺ به خلق جمع کول، شړل به ئې نهٔ۔ د هر قوم د عزتمند عزت به ئې کولو او پهٔ هغوی به ئې دے مشر کولو۔ د خلقو نه به ئې احتیاط او خپل حفاظت ساتهٔ بغیر له دې نه چې پهٔ هغوی کښې یو کس ته تندے ګور کړي یا بد خوئي وکړي۔ د خپلو اصحابو (ملګرو) تلاش او نګراني به ئې کوله۔ پهٔ خلقو کښې چې به څهٔ وو (څهٔ واقعات به کیدل) د هغې پهٔ باره کښې به ئې د نورو خلقو نه تپوس کولو۔ ښهٔ ته به ئې ښهٔ وې او د هغې تائید به ئې کولو او بد ته به ئې بد وې او هغه به ئې

ښکته کولو ـ د معتدلې (درمیانه) معاملې والا ؤ، د اعتدال نه اوړېدونکے نهٔ ؤ ـ غفلت به ئې نهٔ فرمايهٔ د دې يرې نه چې خلق به غفلت وکړي (يا به ئې څهٔ نهٔ کول د دې يرې نه چې خلق به وکړي) او ستړي به شي ـ د هر حالت دپاره به ورسره سامان ؤ ـ د حق نه به نهٔ روستو کېدهٔ او نهٔ به ئې ترې تجاوز کولو ـ کوم خلق چې به ورته نزدې (پهٔ څنګ کښې) وو پهٔ هغوی کښې به ورته د ټولو نه غوره هغه څوک وو کوم چې به پکښې د ټولو نه د زياتې خيرخواهۍ والا ؤ او پهٔ ټولو کښې به ورته د لوئې درجې والا هغه څوک وو کوم چې به پکښې پهٔ همدردۍ او مدد کولو کښې د ټولو نه زيات ښهٔ وو ... د مجلس نه به نهٔ پاڅېدهٔ او نهٔ به پکښې کښېناستهٔ مګر پهٔ ذکر سره ـ مجلس کښې به هغه ځائے کښېناستهٔ کوم ځائے پورې چې به مجلس رسېدلے ؤ او د دې حکم به ئې فرمائېلو ـ د مجلس هر ناست ته به ئې د هغهٔ حصه ورکوله ـ چا به پکښې دا نهٔ ګڼله چې د هغهٔ نه زيات څوک دوی ته عزتمند شتے ـ څوک چې به ورسره څهٔ حاجت له کښېناستهٔ يا به ئې ورسره څهٔ خبره کوله نو هغه به ئې برداشت کولو تر دې چې هغه به لاړ ـ چا چې به ترېنه د څهٔ شي سوال وکړو نو هغه به ئې نهٔ واپس کولو مګر د هغه شي سره يا پهٔ نرمۍ او آسانۍ وينا سره ـ خنده پېشانۍ او خوش اخلاقي ئې ټولو خلقو ته خوره وه، ټول ورته پهٔ حق کښې برابر ګرزېدلي وو ـ مجلس ئې د علم، حيا، صبر او امانتو مجلس ؤ، آوازونه به پکښې نهٔ اوچتېدل، د منع خبرو عيبونه او د کلام لغزشونه به پکښې نهٔ ذکر کېدل؛ ټول به پکښې پهٔ خپل مينځ کښې برابر وو، صرف پهٔ تقویٰ سره به د يوبل نه غوره وو، عاجزي کونکي به وو، د لوئے به ئې پکښې عزت کولو او پهٔ وړکي به ئې رحم کولو، حاجتمند له به ئې ترجيح ورکولو، د ناشنا (پرديسي) به ئې خيال ساتلو. (الترمذي فی الشما ئل)

❁ د علي رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د هغوی د سنت (طرز و خصلت) پهٔ باره کښې تپوس وکړو: هغوی وفرمائېل: معرفت زما

سرمایه ده، عقل زما اصل دین دے، محبت زما بنیاد دے، شوق زما سورلي ده، د الله تعالیٰ ذکر زما د اُنس شے دے، اعتماد زما خزانه ده، غم زما ملګرے دے، علم زما وسله ده، صبر زما څادر دے، رضامندي زما غنیمت دے، عاجزي زما فخر دے، زُهد (د دنیا نه بې رغبتي) زما پېشه ده، یقین زما قوت دے، رشتیا زما سفارشي دے، طاعت زما د اوچت والي څیز (حسب) دے، جهاد زما خوئي دے، زما د سترګې یخ والے پۀ مانځۀ کښې دے، زما د زړۀ میوه د الله تعالیٰ پۀ ذکر کښې ده، زما غم زما د اُمت د وجې نه دے او زما شوق خپل رب طرف ته دے. (نورالیقین)

❁ علي رضي الله عنه فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم پۀ خلقو کښې د ټولو نه زیات د ارتې سینې والا، د ټولو نه زیات رشتونے، د ټولو نه زیات د نرم طبیعت والا او د ټولو نه زیات ښۀ صحبت لرونکے ؤ. (نورالیقین)

❁ د رسول الله صلی الله علیه وسلم متعلق روایت دے چې هغه د باکرې پېغلې نه هم زیات حیاناک ؤ. (بخاري)

❁ د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه پۀ یو حدیث شریف کښې روایت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم پۀ خیر رسولو کښې د ټولو خلقو نه زیات سخي ؤ. (الترمذي فی الشمائل)

❁ د جابر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د څۀ شي سوال ونکړے شو چې هغوی نا ووې. (الادب المفرد)

❁ د انس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به صبا ته څۀ شے نۀ پرېښو. (الترمذي فی الشمائل)

❁ د انس رضي الله عنه نه پۀ یو حدیث مبارک کښې روایت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم پۀ خلقو کښې د ټولو نه ښکلے، د ټولو نه سخي او د ټولو نه بهادر ؤ. (ترمذي)

❁ ابن عمر رضي الله عنه فرمائي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه زيات زړه ور، زيات بهادر، زيات سخي او زيات راضي څوک نۀ ؤ ليدلے. (نورالیقین)

❁ د علي رضي الله عنه نه مروي دي: چا چې به رسول الله صلی الله علیه وسلم ناڅاپه ولید نو وبه يرېد ترېنه او چا چې به ورسره د پېژندو ملاقات وکړو نو محبت به ئې ورسره پيدا شو. (نورالیقین)

❁ د قيلې (رضي الله عنها) نه روايت دے چې هغې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم وليدۀ نو د يرې نه پۀ رپېدو شوه - رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: يَا مِسكِينَه عَلَيكِ السّكِينَه (اے مسکينې سکون ونيسه). (نورالیقین)

❁ د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے: يو سړے د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخې ته ودرېدۀ نو پۀ رپېدو شو: رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائېل: پۀ ځان نرمي وکړه، زۀ بادشاه نۀ يم. (نورالیقین)

❁ انس رضي الله عنه فرمائي: ما نۀ څۀ عنبر او نۀ څۀ مُشک د رسول الله صلی الله علیه وسلم د (بدن د) خوشبو نه زيات خوشبودار بين کړي دي. (نورالیقین)

❁ روايت کړے شوے دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پۀ خلقو کښې د ټولو نه زيات عقلمند ؤ. (نورالیقین)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمايۀ: زۀ د جامعو کلمو سره رالېږلے شوے يم. (بخاري)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: زۀ پۀ عربيانو کښې د ټولو نه زيات فصيح (افصح العرب) يم. (نورالیقین)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرې به صافې واضحه وې چا چې به اورېدې هغه به پرې پوهېدۀ. (ابوداؤد)

❁ د عبدالله بن حارثرضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه زیات څوک مُسکے کېدونکے نۀ دے لیدلے. (ترمذي)

❁ روایت کړے شوے دے: رسول الله ﷺ به مسلسل غمګین او همېشه فکرمند ؤ، اوږد راحت (سکون) ورله نۀ ؤ. (الترمذي فی الشمائل)

باب: ختم النبوة

رسول الله ﷺ آخري نبي (خاتم النبيين)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زۀ پۀ نبیانو مُهر لګونکے (آخري نبي) یم، زما نه روستو هیڅ نبي نیشتے. (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زما نه روستو بل نبي نیشتے او زما د اُمت نه روستو بل اُمت نیشتے. (بیهقي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زۀ ټولو خلقو ته رالېږلے شوے یم او پۀ ما باندې نبیان مُهر (بند، ختم) کړے شوي دي. (ترمذي)

❁ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: رسالت او نبوت بند شوي دي نو زما نه روستو نۀ څۀ رسول شته او نۀ نبي. (ترمذي، کنز العمال)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ زۀ خاتَم (مُهر، آخري) رالېږلے یم او ما ته جومع الکلم او خواتم الکلم راکړے شوي دي. (ابوداؤد في مراسیله)

❁ رسول الله ﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې ارشاد وفرمایۀ: زما نه روستو څوک نبي نیشتے او خلیفګان به وي. (بخاري، مسلم، ابن ماجه)

د رسول الله ﷺ نه روستو د نبوت دعویٰ

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زما پۀ اُمت کښې به دیرش کذّابان (دروغجن) وي هر یو به دا ګمان کوي چې هغه نبي دے خو زۀ خاتم النبیین یم او زما نه پس هیڅ نبي نیشتے. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قيامت به نۀ قائميږي تر څو چې تقريباً ديرش دجالان كذّابان (غټ دروغجن) راپورته نكړے شي چې هر يو دا ګمان كوي چې هغه د الله رسول دے. (بخاري، مسلم، احمد)

باب: صحابه، تابعين، تبع تابعين

د صحابو فضيلت، د هغوی اكرام او اقتداء، د هغوی دفاع

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: اُور به نۀ بړسي پۀ هغه مسلمان چا چې زۀ وليدم. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما د اصحابو اكرام كوی ځكه چې دوی پۀ تاسو كښې د ټولو نه غوره دي. (نسائي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما اصحاب د ستورو پۀ شان دي پس پۀ هغوی كښې چې د كوم يو تاسو اقتداء وكړی هدايت به ومومی. (مشكوٰة)

۞ رسول اللهﷺوفرمائيل: كله چې تاسو وينی هغه خلق كوم چې زما اصحابو ته كنزل كوي نو ووايی چې لعنت دِ وي پۀ تاسو كښې د ټولو نه پۀ بد باندې. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: كله چې زما پۀ اُمت كښې بدعتونه پيدا شي او زما اصحابو ته كنزل شروع شي نو عالم دِ خپل علم ښكاره كړي پس څوك چې دا ونكړي نو پۀ هغۀ د الله تعالیٰ، د فرښتو او د ټولو خلقو لعنت! (الاعتصام)

۞ رسول اللهﷺوفرمائيل: كله چې د دې اُمت آخر د دې پۀ اول لعن كوي نو چا چې حديث (علم) پټ كړو نو څۀ چې الله تعالیٰ نازل كړي دي (ما انزل الله من الكتاب) هغه ئې پټ كړل. (ابن ماجه)

صحابو ته بد ويېل، تکليف ورته رسول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې زما اصحابو او رشته دارانو ته بدې ردې ووې پۀ هغۀ دِ د الله لعنت وي! (ابن کثير، بدايه نهايه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې زما د اصحابو (بد) ذکر کيږي نو تاسو چُپ کېږئ. (السلسلة الصحيحه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما اصحابو ته بد مۀ وايئ، زما اصحابو ته بد مۀ وايئ، قسم دے پۀ هغه ذات د چا پۀ لاس کښې چې زما نفس دے! کۀ پۀ تاسو کښې څوک د اُحد د غرۀ مقدارې سرۀ زر خرچ کړي نو پۀ هغوئ کښې د يو کس مُد او نۀ د هغې نيمې ته به وُرسي. (مسلم)

❁ عائشې رضي الله عنها (رافضيانو ته) وفرمائېل: تاسو ته د محمدﷺ اصحابو له د استغفار حکم درکړے شوے ؤ خو تاسو هغوئ ته بدې ردې ووې. ما ستاسو د نبي نه اورېدلي دي: دا اُمت به نۀ ختمېږي څو پورې چې د دې آخر د دې پۀ اول لعنت ونۀ وايي. (بغوي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما د اصحابو پۀ باره کښې د الله تعالیٰ نه ويرېږئ، زما نه روستو ئې (د بدو ردو دپاره) نښه مۀ جوړوئ، پس چا چې د هغوئ سره محبت وکړو نو زما پۀ محبت ئې محبت وکړو او چا چې د هغوئ سره بغض وکړو نو زما پۀ بغض ئې بغض وکړو، او چا چې هغوئ ته تکليف ورسولو هغۀ ما ته تکليف راورسولو او چا چې ما ته تکليف راورسولو هغۀ الله تعالیٰ ته تکليف ورسولو. (مسلم، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما د اصحابو پۀ باره کښې د الله تعالیٰ نه ويرېږئ، چا چې هغوئ ته تکليف ورسولو هغۀ ما ته تکليف راورسولو او چا چې ما ته تکليف راورسولو هغۀ الله تعالیٰ ته تکليف ورسولو او چا چې الله تعالیٰ ته تکليف ورسولو نو نزدې ده چې الله تعالیٰ هغه ونيسي. (ترمذي)

د رسول اللهﷺ، د اصحابو او د اُمت څۀ خبره، د خلقو د فضيلت ترتيب

❁ ابوبرده د خپل پلار رضي الله عنهما نه روايت کوي: رسول اللهﷺ (پۀ يو موقع کښې) وفرمائيل: ستوري د آسمان د امن او حفاظت ذريعه ده، پس کله چې ستوري لاړ شي نو آسمان ته به هغه څۀ راشي د څۀ چې ورسره وعده کيږي؛ او زۀ د خپلو اصحابو د امن او حفاظت ذريعه يم، پس کله چې زۀ لاړ شم نو زما اصحابو ته به هغه څۀ راشي د څۀ چې دوی سره وعده کيږي؛ او زما اصحاب زما د اُمت د امن او حفاظت ذريعه ده، پس کله چې دوی لاړ شي نو زما اُمت ته به هغه څۀ راشي د څۀ چې ورسره وعده کيږي (يعني بد حالت) ـ (مسلم)

❁ د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ټولو نه غوره خلق زما د زمانې والا دي (صحابه يا هغه چې د رسول اللهﷺ پۀ وخت کښې ژوندي وو) بيا هغه چې پۀ دوی پسې دي (تابعين) بيا هغه چې پۀ هغوی پسې دي (تبع تابعين) ـ (متفق عليه)

باب: تقدير

د تقدير څۀ خبرې، هر څۀ پۀ تقدير سره

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالیٰ د ټولو نه ړومبے قلم پيدا کړو؛ هغۀ ته ئې وفرمائيل: وليکه ـ هغۀ ووې: څۀ وليکم؟ الله تعالیٰ وفرمائيل: تقدير وليکه ـ نو هغۀ د ابده پورې چې څۀ کېدونکي دي هغه وليکل ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ د مخلوقاتو تقديرونه د آسمانونو او د زمکې د پيدائش نه پنځوس زره کاله مخکښې ليکلي دي ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: اے ابوهريره! (د تقدير) قلم پۀ هغه څۀ وُچ شوے دے د څۀ سره چې تۀ ملاوېدونکے يې ـ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ په یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: قلمونه پورته کړے شوي دي او صحیفې وچې شوې دي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث شریف کښې وفرمائیل: پوهه شه (یقین وکړه) چې څهٔ تا ته دررسېدهٔ هغه ستا نه خطا کېدونکي نهٔ وو او څهٔ چې ستا نه خطا شو هغه تا ته دررسېدونکي نهٔ وو۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: هر څهٔ پهٔ تقدیر سره دي تر دې چې عاجز والے او هوښیاروالے هم۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: بیشکه الله تعالیٰ د هر صنعت (هنر) والا او د هغهٔ د صنعت پیدا کونکے دے۔ (حاکم، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دوا او د منتر پهٔ باره کښې تپوس وکړے شو چې دا د الله تعالیٰ د تقدیر (مقررې) نه څهٔ واپس کولے شي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دا هم د الله تعالیٰ د تقدیر نه دي۔ (ترمذي، ابن ماجه)

د انسان رزق، مرګ او تقدیر، جنت دوزخ او تقدیر

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: یو نفس (کس) به هیڅکله مړ نهٔ شي څو پورې چې خپل رزق پوره نکړي۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کومه روزي چې انسان له مقرر وي هغه ضرور هغهٔ ته رسي لکه مرګ چې ورته رسي۔ (فضائلِ اعمال)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: رزق بنده داسې طلب کوي لکه څنګه ئې چې اجل طلب کوي۔ (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ چې د یو بنده مرګ پهٔ کومه زمکه کښې مقرر کړے وي نو هغې ته ورله څهٔ حاجت پیدا کړي۔ (ترمذي)

❁ د علي رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: مونږ پهٔ بقیع الغرقد کښې پهٔ یوه جنازه کښې وو چې رسول الله ﷺ راغے او کښېناستهٔ او مونږ ترې چاپېره کښېناستو. د هغوی سره یوه لختته وه. هغوی سر مبارک ټیټ کړو او پهٔ لختته ئې زمکه ګرول شروع کړهٔ بیا ئې وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې هیڅوک نیشتے مګر د دوزخ نه یا د جنت نه ورله ځائے لیکلے شوے دے. خلقو عرض وکړو: اے د الله رسوله! بیا مونږ پهٔ خپلو لیکلو (مقررې) تکیه (بروسه) ونکړو؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: عمل کوی، هر چا ته د هغه څهٔ آساني (او توفیق) ورکولے کیږې د څهٔ دپاره چې هغه پیدا کړے شوے وي. (متفق علیه)

❁ یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! آیا جنت والا او دوزخ والا پېږندلے شوي دي؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: آ. هغهٔ بیا عرض وکړو: بیا عمل کونکي عمل ولې کوي؟رسول الله ﷺ وفرمائېل: هر یو به هغه عمل کوي کوم له چې پیدا کړے شوے وي. (بخاري)

❁ رسول الله ﷺ پهٔ یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: الله تعالیٰ جنت پیدا کړو او هغې له ئې خلق پیدا کړو (او دوزخ ئې پیدا کړو او هغې له ئې خلق پیدا کړو)؛ نهٔ پهٔ هغوی کښې زیاتے کیږي او نهٔ کمے. (مسلم)

❁ حدیثِ قدسي دے: ما دا خلق جنت له پیدا کړي دي او زما پروا نیشته او ما دا خلق دوزخ له پیدا کړي دي او زما پروا نیشته. (شرح فقه اکبر)

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: سړے پهٔ ظاهره د جنت عمل کوي خو د دوزخیانو نه وي او سړے پهٔ ظاهره د دوزخ عمل کوي خو د جنتیانو نه وي. (مسلم)

پۀ تقدیر راضي کېدل، پۀ تقدیر کښې څۀ نۀ ویېل

✿ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ فرمائي: ما تقدیرونه ایښي دي او تدبیر مِ کړے دے او محکم پیداوښت مِ کړے دے، پس څوک چې راضي شو نو هغۀ له زما د غاړې نه رضا ده تر دې چې هغه زما سره ملاقات وکړي. (احیاء)

✿ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: د یقین سر تقویٰ او د الله تعالیٰ پۀ تقدیر راضي والے دے. (المنبهات)

✿رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د ابن آدم د نیک بختۍ نه د هغۀ راضي کېدل دي پۀ هغه څۀ څۀ چې ورله الله تعالیٰ قسمت کړي دي. (ترمذي)

✿د رسول اللهﷺ نه مروي دي: تۀ راضي شه پۀ هغه څۀ څۀ چې تا له الله تعالیٰ برخه کړي دي نو پۀ خلقو کښې به د ټولو نه لوئے غني شې. (احیاء)

✿د رسول اللهﷺ نه دعاء مروي ده: (اے الله!) زۀ سوال کوم ستا نه د راضي کېدو پۀ تقدیر باندې. (احیاء)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې د نجوم ذکر کیږي نو تاسو چُپ کېږئ او کله چې د تقدیر ذکر کیږي نو تاسو چُپ کېږئ. (طبراني، ابن حبان)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تقدیر کښې خبرې مۀ کوئ ځکه چې دا د الله تعالیٰ یو راز دے. (ابن عدي فی الکامل)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تقدیر د الله تعالیٰ راز دے نو تاسو د الله تعالیٰ راز مۀ ښکاره کوئ (د الله تعالیٰ د رازونو نه یو راز دے نو تاسو ئې پټ وساتئ). (ابو نعیم)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ تقدیر کښې څۀ خبره وکړه د هغۀ نه به پۀ قیامت کښې د دې تپوس کیږي او چا چې پکښې څۀ خبره ونکړه د هغۀ نه به تپوس نۀ کیږي. (ابن ماجه)

د تقدیر انکار او انکار کونکي

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: زما په اُمت کښې به څه خلق وي چې تقدیر به دروغ ګڼي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دې اُمت مجوس د تقدیرونو انکار کونکي دي. که هغوی مریضان شي نو تپوس له ئې مه زئ، که مړه شي نو جنازو ته ئې مه حاضرېږئ او که ورسره ملاؤ شئ نو سلام پرې مه وايئ. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د تقدیر د انکار کونکو سره مه کښېنئ او مه ورسره سلام کلام شروع کوئ. (ابوداؤد)

په تقدیر نه راضي کېدل، په تقدیر کښې بحث کول

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالیٰ فرمائېلي دي: زه الله یم، نیشته اله مګر زه، څوک چې زما په تکلیف او آزمائش صبر ونکړي او زما په تقدیر (مقررې) راضي نه شي نو وُدِنیسي یو رب سوا زما نه. (طبراني، ابن حبان)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ فرمائي: پس څوک چې (زما په تقدیر او تخلیق) نارضا شو نو هغه له ناراضګي ده زما نه تر دې چې زما سره یو ځائے شي. (احیاء)

❁ د یو روایت مفهوم دے چې یو ځلې څه صحابو د تقدیر په خبره کښې بحث کولو په دې کښې رسول اللهﷺ تشریف راوړو او دا ئې چې واورېده نو مخ مبارک ئې د غصې نه سور شو او وئې فرمائېل: آیا د دې تاسو ته حکم کړے شوے دے؟ آیا د دې دپاره زه تاسو ته رالېږلے شوے یم؟ مخکښېني قومونه د دې نه هلاک شوي دي. زه تاسو ته وایم چې په دې معامله کښې جګړه مه کوئ. (ترمذي)

باب: د قيامت عقيده

د قيامت او د دوباره ژوندي کېدو يقيني والے

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: پۀ هغه ذات دِ زما قسم وي د چا پۀ لاس کښې چې زما روح دے! د کوم شي چې تاسو سره وعده شوې ده هغه ضرور راتلو والا دے او تاسو هغه نۀ شئ بې وسه کولے. (ابن ابی الدنیا، طبراني، بيهقي)

❁ يو حديث شريف کښې دي چې کله به دوه حصې شپه تېره شوه نو رسول اللهﷺ به وفرمائېل: اے خلقو! الله تعالیٰ ياد کړئ، الله تعالیٰ ياد کړئ، د قيامت زلزله او د شپېلۍ پوکے راتلونکے دے (يا د شپېلۍ ړومبے پوکے او بيا ورپسې دويم پوکے راتلونکے دے). (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ فرمائي: ابن آدم ماته کنزل وکړۀ او دۀ له پکار نۀ وو چې ما ته ئې کنزل کولے، او ما ته ئې د دروغو نسبت وکړو او دۀ له پکار نۀ وو چې ما ته ئې د دروغو نسبت کولے. ما ته ئې کنزل کول دادي چې دے وايي چې زما اولاد دے، او ما ته ئې د دروغو نسبت کول دادي چې دے وايي: ما به (الله) هيڅکله دوباره پيدا نکړي لکه څنګه ئې چې اول ځل پيدا کړے يم. (بخاري)

کتاب: عبادات، متعلقات

باب: پاکي، اودس

نمانزۀ له پاکي، اودس، د اوداسۀ تاکيد، فضيلت

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: نيشتے نمونز بغير د پاک والي نه. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د نمانزۀ کنجي پاک والے (یا اودس) دے۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: نیشتے نمونز د هغه چا ځوک چې اودس ونکړي۔ (حاکم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ د اودس نه بغیر هیڅ یو نمونز نۀ قبلوي۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د جنت کنجي نمونز دے او د نمانزۀ کنجي اودس دے۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ځوک چې اودس وکړي او پۀ ښۀ شان اودس وکړي نو ګناهونه ئې د بدن نه وزي تر دې چې د نوکونو د لاندې نه ئې وزي۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې مسلمان یا مومن بنده اودس کوي نو چې مخ اینزي نو د دۀ د مخ نه هر ګناه چې دۀ پۀ سترګو کتل کړي وي د اُوبو سره یا د اُوبو د آخري قطرې سره وزي، او کله چې لاسونه اینزي نو د دۀ د لاسونو نه هر ګناه چې د دۀ لاسونو نیول کړي وي د اُوبو سره یا د اُوبو د آخري قطرې سره وزي تر دې چې دے د ګناهونو نه پاک راوزي۔ (ترمذي)

اودس پوره کول

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې تۀ نمانزۀ له پاڅې (د نمانزۀ اراده کوې) نو پوره اودس کوه، اوبۀ د خپلو لاسونو او د پخو د ګوتو مینځونو ته رسوه۔ (ابن ماجه)۔ پۀ یو بل روایت کښې دي چې کله تۀ مانزۀ له پاڅې نو پوره اودس کوه بیا قبلې ته مخ کوه او الله اکبر وایه۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: زما اُمتیان به د قیامت پۀ ورز راوغوښتے شي پۀ داسې حال کښې چې مخونه او لاسونه پخې به ئې د اوداسۀ د وجې نه

پړقیږي نو کۀ څوک پۀ تاسو کښې پۀ خپله پړقا کښې زیات والے کولے شي نو ودِ کړي. (بخاري)

❁ د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما د خپل خلیل صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي: د مومن به (پۀ جنت کښې) د هغه ځائے پورې کالي رسي د کوم ځائے پورې چې د دۀ اودس رسېدلے وي. (مسلم)

اوداسۀ کښې اندامونه یو یو، دوه دوه او درې درې ځله اینزل، درې ځله سنت

❁ د جابر رضي الله عنه نه روایت کړے شوے دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم به اودس (کښې د اینزلو عمل) یو یو، دوه دوه او درې درې ځله کولو. (ترمذي)

❁ د عبدالله بن زید رضي الله عنه نه روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس کولو نو مخ ئې درې ځله وینزۀ او لاسونه ئې دوه دوه ځله وینزل. (ترمذي)

❁ د علي رضي الله عنه نه روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس درې درې ځله وفرمایۀ. (ترمذي)

❁ روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوداسۀ کښې ټول اندامونه درې درې ځله وینزل او وئې فرمائېل: دا اودس پوره کول دي او دا زما او د الله تعالیٰ د خلیل (دوست) ابراهیم (علیه السلام) اودس دے. (ابن ماجه)

اوداسۀ کښې بسم الله، مضمضه، استنشاق، د غوږونو مسح

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: نیشتے (کامل) اودس د هغه چا څوک چې پۀ دې د الله تعالیٰ نوم ذکر نکړي (بسم الله پرې ونۀ وایي). (ترمذي)

❁ روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس کولو نو درې ځله ئې مضمضه وکړه (خلې ته ئې اُوبۀ واچولې) او درې ځله ئې استنشاق وکړو (پوزې ته ئې اُوبۀ واچولې) او د هر ځل دپاره ئې نوې اُوبۀ واخستې. (طبراني)

❁ عبدالله بن زید رضي الله عنه وایي: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدۀ چې مضمضه او استنشاق ئې وکړو د یو لاس د اُوبو نه او دا ئې درې (درې) پېرې وکړل. (ترمذي)

❁ د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول الله ﷺ د خپلو غوږونو مسح وکړه، دواړه مسواکۍ ګوتې ئې پکښې دننه کړي، قتې ګوتې ئې د غوږونو د شاګانو نه چاپېره کړي او د غوږونو د ظاهري حصي او د دننه حصې مسح ئې وفرمائېله. (ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: غوږونه د سر نه دي. (ترمذي)

اوداسهٔ کښې د ګوتو او ګیرې خلال، پوندې اینزل

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کله چې تهٔ اودس کوې نو د خپلو لاسونو او د ګوتو خلال کوه. (ترمذي)

❁ د رسول الله ﷺ نه مروي دي: د خپلو ګوتو (پهٔ اُوبو سره) خلال کوی، چې الله تعالیٰ ئې د قیامت پهٔ ورز پهٔ اُور سره خلال ونکړي. (دارقطني، طبراني)

❁ د عثمان بن عفان رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله ﷺ به د خپلې ګیرې مبارکې خلال کولو. (ترمذي)

❁ د عمار بن یاسر رضي الله عنه نه روایت دے: ما رسول الله ﷺ ولیدهٔ چې اودس ئې کولو نو ګیره ئې خلال کړه. (ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د پوندو دپاره تباهي ده د اُور نه، اودس پوره کوی. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: هلاکېدل او رسوائي ده (پهٔ آخرت کښې) پوندو له د اُور نه (پوندې نهٔ اینزلو والو له). (ترمذي)

اوداسهٔ کښې یا نمانزهٔ له مسواک کول

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کچرې ماسره دا یره نهٔ وے چې خپل اُمت به پهٔ مشقت کښې وغورزوم نو ما به ورته پهٔ هر اوداسهٔ کښې (یا د هر نمانزهٔ سره) د مسواک کولو حکم کړے وُ. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: غوره دے هغه نمونز کوم له چې مسواک وکړے شي د هغه نمانزۀ نه کوم له چې مسواک ونۀ کړے شي اويا چنده ـ (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: د مسواک سره ستا يو نمونز غوره دے د هغه اوياؤ نمونزونو نه کوم چې بغير د مسواک نه وي ـ (احمد)

د رسول اللهﷺاودس

۞د ابوحيه رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: ما عليؓ وليدۀ چې اودس ئې کولو نو لاسونه ئې وينزل تر دې چې پاک ئې کړل بيا ئې مضمضه وکړه (خله ئې وينزله) درې پېرې بيا ئې استنشاق وکړو (پوزه ئې وينزله) درې پېرې او مخ ئې وينزۀ درې پېرې او د څنګلو پورې لاسونه درې پېرې او مسح ئې وکړه پۀ سر يوه پېره بيا ئې پخې وينزلې د ړکو پورې بيا پاڅېدۀ او د اوداسۀ نه زياتې شوې اُوبه ئې واخستې او پۀ ولاړه ئې وڅښلې بيا ئې وفرمائېل: ما وغوښتۀ چې تاسو ته وښايم چې د رسول اللهﷺ اودس څنګه ؤ ـ (ترمذي)

تيمم، تحية الوضوء

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: ما له ټوله زمکه جمات او د پاکئ ځيز ګرزولے شوے دے ـ (مسلم، بخاري)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: پاکه زمکه د مسلمان اودس دے ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پاکه خاوره د مسلمان اودس دے اګرکۀ لس کاله اُوبۀ بيانۀ مومي ـ (بزار)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تيمم دوه ضربه (لاسونه پۀ خاورو اېښودل) دي: يوه ضربه د مخ دپاره او بله د دواړو لاسونو دپاره ـ (دارقطني)

۞ د ابوهريرهؓنه روايت دے: رسول الله ﷺبلال (ؓ) ته وفرمائېل: اے بلاله ما ته خپل د ټولو نه زيات د اُميد والا (د ټولو نه غوره) عمل وښايه چې تا پۀ اسلام کښې کړے دے ځکه چې ما پۀ جنت کښې خپل مخکښې ستا د

څپلو آواز اوربدلے دے۔ بلال (رضی الله عنه) ووې: ما د دې نه زيات د اُميد والا عمل نۀ دے کړے چې کله مې هم د شپې يا د ورزې په څۀ ساعت کښې اودس کړے دے نو په دغه اودس مې (نفل) نمونځ کړے دے څو چې را له ليکلے شوے وُ (څو چې مې په قسمت کښې وُ)۔ (متفق عليه)

باب: نمونځ (مُثبت څۀ)

د نمانځۀ اهميت، تاکيد، فضيلت، اول حساب د نمانځۀ

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: نمونځ د دين ستن ده۔ (المنبهات)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: نمونځ د مومن معراج دے۔ ()

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: د جنت کنجي نمونځ دے (يا نمونځ د جنت کنجي ده)۔ (احمد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: زما د سترګو يخ والے په نمانځۀ کښې دے۔ (المنبهات)

❁ رسول الله ﷺ ته چې به څۀ غم رسيدۀ نو هغوی به نمانځۀ ته متوجه کيدل۔ (لا تحزن)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې نمونځ قائم کړو هغۀ دين قائم کړو۔ (المنبهات)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: په تاسو کښې چې څوک نمونځ کوي نو د خپل رب سر مناجات (پټې خبرې) کوي۔ (بخاري)

❁ رسول الله ﷺ يوه ورز د نمانځۀ ذکر کولو نو وئې فرمائيل: چا چې د دې پابندي وکړه نو دا به ورله د قيامت په ورز رڼا، دليل او د خلاصي ذريعه وي۔ (احمد، بيهقي)

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: ستا رب د غرۀ په سر کښې د هغه شپونکي نه خوشحاليږي چې بانګ ووايي او نمونځ وکړي (الله تعالیٰ

وفرمائي) زما دې بنده ته وګورئ، بانګ وايي او نمونځ کوي، زما نه يريږي، ما خپل بنده وبخښئ او جنت ته ې داخل کړو. (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: بنده چې په ښکاره نمونځ وکړي او ښۀ ئې وکړي او په پټه نمونځ وکړي او ښۀ ئې وکړي نو الله تعالیٰ وفرمائي: دا زما بنده دے په حقه. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ټولو نه اول چې به د قيامت په ورځ د بنده سره د کوم عمل حساب کيږي هغه د دۀ نمونځ دے نو کۀ د دۀ نمونځ ښۀ ؤ نو دے کامياب شو او کۀ بد (فاسد) ؤ نو دے ناکام او په خساره کښې شو. (ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه)

د نمانځۀ ګناهونو له کفاره جوړيدل

❁ رسول اللهﷺ (ابوذر رضي الله عنه ته) وفرمائيل: بنده چې کله مونځ کوي چې د الله تعالیٰ رضا پرې غواړي نو ګناهونه ترېنه داسې ريږي لکه د دې ونې پاڼې چې ريږي. (احمد)

❁ د جابر رضي الله عنه نه روايت دے: رسول اللهﷺ وفرمائيل: د پينځو نمونځونو مثال داسې دے لکه په تاسو کښې چې د چا د دروازې مخې ته يو روان نهر وي چې دے ترېنه هره ورځ پينځۀ وخته غسل کوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پينځۀ نمونځونه او جُمعه د جُمعې پورې د دې په مينځ کښې چې څۀ (صغيره) ګناهونه وشي د هغې دپاره کفاره ده څو پورې چې کبيره ګناهونه ونکړے شي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم يو مسلمان سړي ته چې فرض نمونځ حاضر شي او دے هغې له په ښۀ شان اودس وکړي او په ښۀ شان پکښې خشوع وساتي او په ښۀ شان ئې رکوع (وغيره) ادا کړي نو هغه به د دې نه د ړومبنو ګناهونو دپاره کفاره وي څو پورې چې څۀ غټ ګناه ونۀ شي او داسې به ټول عمر وي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې دوه رکعته نمونز وکړي چې سهو (غافل) پکښې نۀ شي نو الله تعالیٰ به ئې تېروتي (واړۀ) ګناهونه معاف کړي. (احمد)

د نمانزۀ څۀ خصلتونه او فائدې

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: نمونز د دين ستن ده او پۀ دې کښې لس خصلتونه (فائدې) دي: د مخ ښائست، د زړۀ رڼا، د بدن آرام، پۀ قبر کښې أُنس، د رحمت د نازلېدو ځائے، د آسمان کنجي، د ميزان (د قيامت د تلې) درون والے، د رب رضا، د جنت قيمت او د دوزخ نه پرده. (المنبهات)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: ملائکې پۀ تاسو کښې يو کس له دعاء غواړي تر څو چې دے د نمانزۀ پۀ هغه ځائے وي پۀ کوم ئې چې نمونز کړے وي (يا پۀ جمات کښې وي) څو پورې چې بې اودسه نۀ شي. هغوی وايي: اے الله دے وبخښې! اے الله پۀ دۀ رحم وکړې! (بخاري، ترمذي)

پينځۀ فرض نمونزونه، پۀ ښۀ شان سره ئې د کولو اجر (د نۀ کولو ئې وعيد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: پينځۀ نمونزونه (دي) پۀ ورز او شپه کښې. (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پينځۀ نمونزونه دي چې الله تعالیٰ فرض کړي دي، چا چې ورله پۀ ښۀ شان سره اودس وکړو او پۀ وخت ئې وکړل، رکوع ئې ورله پوره او خشوع ئې پکښې پوره وکړه نو د دۀ پۀ الله تعالیٰ وعده ده چې دے به بخښي، او چا چې داسې ونکړۀ نو د دۀ پۀ الله تعالیٰ هيڅ وعده نيشته کۀ وغواړي نو دے به وُبخښي او کۀ وغواړي نو دۀ له به عذاب ورکړي. (احمد، ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ په یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: نمونځ کوۍ، څنګه چې تاسو زهٔ لیدلے یم چې نمونځ کوم. (الادب المفرد)

د سحر او د مازیګر د نمانځهٔ فضیلت

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې دوه یخ (د سحر او د مازیګر نمونځونه) وکړهٔ هغه به جنت ته زي. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دوزخ اُور ته به هیڅکله نهٔ داخلیږي هغه کس کوم چې د نمر د راختو نه مخکښې او د هغې د پرېوتو نه مخکښې نمونځ کوي یعني سحر او مازیګر. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د سحر نمونځ وکړي هغهٔ د الله تعالیٰ پهٔ ذمه کښې وي نو وګوره اے د آدم زویه! چې الله تعالیٰ ستا نه د خپلې ذمې د څهٔ شي طلب نهٔ کوي. (مسلم)

د نمانځهٔ وختونه، منع وختونه، نمونځ پهٔ اول وخت کښې کول

۞ د عبدالله بن عمروؓنه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ماسپښین وخت هله دے چې نمر زائل (راواپس) شي او د سړي سورے د دهٔ د اوږدوالي مقدارې شي څو پورې چې مازیګر رانهٔ شي. د مازیګر وخت د هغې پورې دے چې نمر زیړ نهٔ شي. د ماښام وخت د هغې پورې دے چې شفق غائب نهٔ شي. د ماسختن وخت د نیمې شپې پورې دے. او د سحر وخت د نمر د راختو نه تر هغه وخته دے چې نمر نهٔ وي را ختلے او کله چې نمر راوخېژي نو تهٔ د نمانځهٔ نه منع شه ځکه چې هغه د شیطان د دوؤ ښکرو په مینځ کښې راخېژي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې دِ څوک د دې قصد (یا انتظار) نهٔ کوي چې د نمر د راختو پهٔ وخت کښې نمونځ وکړي او نهٔ د هغې د پرېوتو پهٔ

وخت کښې. په يو بل روايت کښې دي رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې د نمر غاړه راخېژي نو نمونځ پرېږدئ تر دې چې هغه پوره راوزي او کله چې د نمر غاړه فنا کېږي نو نمونځ پرېږدئ تر دې چې هغه پوره فنا شي؛ او خپل نمانځۀ له د نمر د راختو او د هغې د پرېوتو انتظار مۀ کوئ ځکه چې هغه د شيطان د دوؤ ښکرو په مينځ کښې راخېژي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د ټولو نه غوره عمل نمونځ کول دي د هغې په اول وخت کښې. (ترمذي، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: اول وخت د نمانځۀ (نمونځ په اول وخت کښې کول) د الله تعالیٰ رضامندي ده او آخر وخت د الله تعالیٰ معافي ده. (ترمذي)

د نمونځ کونکي خپلې مخې ته ستره ودرول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې په تاسو کښې څوک د کجاوې د آخري حصې هومره څۀ شے خپلې مخې ته کېږدي نو بيا دِ نمونځ کوي او د هغې نه د آخوا دِ پروا نۀ کوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په تاسو کښې دِ څوک په نمانځۀ کښې ستره ودروي اګرکۀ يو غشے وي. (حاکم)

❁ د مقداد بن اسودؓ نه روايت دے: رسول اللهﷺ چې به څۀ لرګي يا ستنې او يا ونې ته نمونځ کولو نو هغه شے به ئې خپلې ښئ يا ګڅې روزې ته مخامخ راوستلو، نېغ به ئې ورته نۀ مخ کولو. (بخاري، ابوداؤد)

فرض مانځۀ پسې څۀ اوراد (ذکر، استغفار، دعاء)

❁ د ثوبانؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به سلام وګرزولو نو درې ځله به ئې استغفار وفرمايۀ او وبه ئې فرمائېل: اَللّٰهُمَّ اَنتَ السَّلَامُ وَ مِنكَ السَّلَامُ تَبَارَكتَ يَا ذَا الجَلَالِ وَالاِكرَامِ. (مسلم). وليد (رحمه الله) وايي: ما

اوزاعي (رحمه الله) ته ووېل: استغفار به څنګه ؤ؟ هغۀ ووېل: فرمائېل به ئې: اَستَغفِرُ الله، اَستَغفِرُ الله. (مسلم)

❁ د مغيره بن شعبهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ چې به د مانځۀ نه فارغ شو نو فرمائېل به ئې: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحدَهُ لَا شَرِيک لَهُ، لَهُ المُلکُ وَلَهُ الحَمدُ وَ هُوَ عَلىٰ كُلِّ شَيٍ قَدِير؛ اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعطَيتَ وَلَا مُعطِيَ لِمَا مَنَعتَ وَ لَا يَنفَعُ ذَاالجَدِّ مِنکَ الجَدُّ. (متفق عليه)

❁ د انسرضي الله عنه نه روايت دے: رسول اللهرضي الله عنه چې به نمونځ وکړو او فارغ به شو نو ښے لاس به ئې پۀ خپل سر کېښودۀ او وبه ئې فرمائېل: بِسمِ اللّٰهِ الَّذي لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ هُوَ الرَّحمٰنُ الرَّحِيم؛ اَللّٰهُمَّ اَذهِب عَنِّيَ الهَمَّ وَ الحُزنَ. (طبراني، بزار)

❁ رسول الله ﷺ نه فرض نمانځۀ پسې دا ويېل مروي دي: اَللّٰهُمَّ اَعِنِّي عَلىٰ ذِكرِکَ وَ شُكرِکَ وَ حُسنِ عِبَادَتِکَ. (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: څۀ وردونه دي چې د هر فرض مانځۀ نه روستو د هغې ويونکے نۀ ناکامه کيږي: درې دېرش ځله سُبحَانَ الله، درې دېرش ځله الحَمدُ لِله او څلور دېرش ځله اللّٰهُ اَكبَر. (مسلم). پۀ يو روايت کښې اللّٰهُ اَكبَر هم درې ديرش ځله دے او د څلور دېرشو پوره کولو دپاره ورسره دا دي: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحدَهُ لَا شَرِيک لَهُ، لَهُ المُلکُ وَلَهُ الحَمدُ وَ هُوَ عَلىٰ كُلِّ شَيٍ قَدِير. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ نه د دې مفهوم ارشاد روايت کړے شوے دے: څوک چې د (فرض) مانځۀ نه روستو آية الكرسي لولي نو د هغۀ او جنت ته د تلو پۀ مينځ کښې به صرف د هغۀ مرګ وي. ()

فرض نمونزونو سره سنت، نفل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم یو مسلمان چې د الله تعالیٰ دپاره هره ورز دولس رکعته نفل (سنت نمونز) د فرضو نه علاوه کوي نو الله تعالیٰ به هغهٔ له پهٔ جنت کښې یو کور جوړ کړي (یا به هغهٔ له پهٔ جنت کښې یو کور جوړ کړے شي). (مسلم)

❁ د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ سره دوه رکعته وکړل د ماسپښین نه مخکښې، دوه رکعته د ماسپښین نه روستو، دوه رکعته د جمعې نه روستو، دوه رکعته د ماښام نه روستو او دوه رکعته د ماسختن نه روستو. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هرو دوؤ اذانونو پهٔ مینځ کښې نمونز دے، د هرو دوؤ اذانونو پهٔ مینځ کښې نمونز دے. پهٔ دریم ځل ئې وفرمائېل: هغه چا له چې وغواړي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې نمانځهٔ له اقامت وشي نو بیا نمونز نیشتے مګر فرض نمونز. (مسلم)

د شپې نمونز (تهجد)، د هغې فضیلت، تهجدو کښې د خوب غلبه

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے: رسول اللهﷺ به د شپې پهٔ اوله حصه کښې اودهٔ کېدهٔ او پهٔ آخره کښې به پاڅېدهٔ نمونز به ئې کولو. (متفق علیه)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به د شپې پاڅیدهٔ نو خپل نمونز به ئې د دوؤ سپکو (لنډو) رکعتونو نه شروع کولو. (مسلم)

❁ د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دے: رسول اللهﷺ وفرمائېل: د شپې نمونز دوه دوه رکعته (غوره) دے. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د فرض نمانځۀ نه پس د ټولو نه غوره نمونځ د شپې نمونځ (تهجد) دے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے خلقو سلام ويېل رائج کړئ او ډوډئ خوروئ او د شپې نمونځ کوئ پۀ داسې حال کښې چې خلق اودۀ وي نو جنت ته به داخل شئ پۀ سلامتيا سره. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې سړے د شپې خپله کور والا راوېښه کړي او دوئ دوه رکعته وکړي نو پۀ ذکر کونکو سړو او ذکر کونکو ښځو کښې به وليکلے شي. (ابوداؤد)

❁ عائشې رضي الله عنها (چا ته) وفرمائېل: قيام الليل (د شپې مونځ) مۀ پرېږده ځکه چې رسول اللهﷺ به دا نۀ پرېښودۀ؛ او کله چې به ورته ناجوړتيا يا سستي (ستړې) پېښه وه نو پۀ ناستې به ئې کولو. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک (د تهجد) پۀ نمانځۀ کښې خوب وزنګوي نو اودۀ دِ شي تر دې چې خوب ترې لاړ شي ځکه چې څوک د خوب زنګولو پۀ حالت کښې نمونځ کوي نو کېدے شي چې بخښنه غواړي او ځان ته کنزل وکړي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک د شپې (نمانځۀ ته) ودرېږي او قرآن لوستل ئې پۀ ژبه ګران شي او پته ورته نۀ لګي چې څۀ وايي نو څۀ دِ ملي. (مسلم)

د څاښت نمونځ (صلوٰة الضحىٰ)

❁ د اُمِّ هاني رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ د مکې د فتح کېدو پۀ ورز زما کور ته راغے، غسل ئې وفرمايۀ او اتۀ رکعته نمونځ ئې وکړو چې ما د هغې نه زيات سپک (لنډ) نمونځ چرته نۀ ؤ ليدلے ليکن رکوع او

سجده به ئې پوره کول ـ پۀ يو بل روايت کښې دي چې هغې وويېل: دغه د څاښت نمونځ ؤ ـ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے د آدم زويه! تۀ ما له د ورځې پۀ شروع کښې څلور رکعته (د سحر يا د اشراق يا د څاښت نمونځ) وکړه زۀ به تا له د هغې د آخري حصې نه کافي شم ـ (ترمذي)

جماعت (جَمعې) سره د مانځۀ تاکيد او فضيلت

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ يو کلي يا بانډه کښې چې درې تنه وي او د جماعت (جمعې) نمونځ پکښې نۀ کيږي نو پۀ هغوی شيطان مسلط کيږي نو تاسو جماعت لازم ونيسئ ـ شرمخ د ګډو بيزو نه هغه خورې کومه چې (د کنډک نه) لرې وي ـ (احمد ، ابوداؤد ، نسائي، ابن حبان، ابن خزيمه)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د سړي نمونځ د يو سړي سره زيات ښۀ دے د دۀ د يوازې نمانځۀ نه او د دۀ نمونځ د دوؤ سړو سره زيات ښۀ دے د دۀ د يو سړي سره د نمانځۀ نه او کوم نمانځۀ کښې چې خلق زيات وي الله تعالیٰ ته هغه زيات خوښ وي ـ (ابوداؤد ، نسائي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دوه او د دوؤ نه پۀ پورته جماعت دے ـ (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پۀ جماعت سره د سړي نمونځ پۀ کور او بازار کښې د نمونځ کولو نه څۀ د پاسه شل درجې زياتيږي ـ (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د سړي د جماعت سره نمونځ کول د يوازې نمونځ کولو نه ويشت (يا پينځويشت يا څلويريشت) درجې غوره دے ـ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک اودس وکړي او ښۀ اودس وکړي بيا (جمات ته) لاړ شي نو خلق ومومي چې هغوی نمونځ کړے وي نو الله تعالیٰ به دۀ له د هغه خلقو برابر اجر ورکوي کومو چې نمونځ کړے وي او دا به د هغوی د اجر نه هيڅ هم نۀ کموي ـ (ابوداؤد ، نسائي)

بانګ ویېل، د هغې ثواب، د بانګ جواب، بانګ اورېدو نه روستو څۀ ویېل

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مؤذن ته د بانګ (اذان) (د وخت وغیره) زیات اختیار دے او امام ته د نمانځۀ. (بلوغ المرام)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: کچرې خلقو ته معلومه وے چې پۀ بانګ (اذان) ویېلو کښې څومره ثواب دے او بیا دوی د هغې موقع د خسنې کولو نه بغیر نۀ مونده نو خسنے به ئې پرې کولو. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د الله تعالیٰ د رضا او د ثواب دپاره وۀ کاله بانګ ووې نو دۀ له به د دوزخ نه د خلاصي پروانه ولیکلے شي. (ابن ماجه، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: بانګ ویونکي به د قیامت پۀ ورز پۀ خلقو کښې د ټولو نه د اوږدو (دنګو) څټونو والا وي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: نۀ اوري بانګ پېریان، بني آدم، ونې او بوټي مګر بانګ ویونکي له به ګواهي کوي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: بانګ ویونکي ته به د دۀ د آواز پۀ فاصله بخښنه کیږي او دۀ له هر لوند او وُچ بخښنه غواړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تاسو بانګ اورئ نو وایئ څنګه چې بانګ ویونکے (مؤذن) وایي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د مؤذن د بانګ د اورېدو نه پس وایي: اَشهَدُ اَن لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحدَهُ لَا شَرِیکَ لَهُ وَ اَنَّ مُحَمَّداً عَبدُهُ وَ رَسُولُه، رَضِیتُ بِاللهِ رَبّاً وَ بِمُحَمَّدٍ رَسُولاً وَ بِالاِسلَامِ دِینَا" نو د دۀ ګناهونه به معاف کړے شي. (مسلم)

بانګ نه پس پۀ رسول اللهﷺدرود او هغوی له دعاءِ وسیله

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تاسو چې بانګ اورئ نو وایئ څنګه چې مؤذن وایي او بیا پۀ ما درود وایئ ځکه چې څوک پۀ ما درود ووایي نو الله تعالیٰ به پۀ هغۀ لس رحمتونه نازل کړي، او بیا د الله تعالیٰ نه ما له د وسیلې سوال کوئ ځکه چې دا پۀ جنت کښې یوه درجه ده چې مناسب نۀ ده مګر د الله تعالیٰ پۀ بندګانو کښې یو بنده له او زۀ اُمید لرم چې زۀ هغه شم، پس چا چې ما له وسیله وغوښته هغۀ له زما شفاعت واجب شو۔ (مسلم)

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې ووایي څۀ وخت چې بانګ واوري: "اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِه الدَّعوَةَ التَّامَّةَ وَ الصَّلٰوۃِ القَائمَةَ، آتِ مُحَمَّدَا نِ الوَسِیلَةَ وَ الفَضِیلَةَ وَ ابعَثَهُ مَقَاماً مَحمُودَانِ الذّي وَعَدتَه" نو د قیامت پۀ ورز به ورله زما شفاعت واجب شي۔ (بخاري)

جماعت له جمات ته تلل، پۀ تیارۀ کښې تلل، د لرې نه تلل

❁ د رسول اللهﷺ د یو حدیث مبارک مفهوم دے: کوم سړے چې د خپل کور نه جمات ته د تلو دپاره وزي نو د دۀ لیکونکے (فرښته) د دۀ پۀ هر قدم باندې لس نیکیانې لیکي۔ (شرح السنه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې سحر جمات ته زي یا ماښام نو الله تعالیٰ به ورله پۀ جنت کښې سحر بېګا د مېلمستیا خوراک تیاروي۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ تیارو کښې جماتونو ته تلونکو له د قیامت پۀ ورز د پوره نور زېرے ورکړئ۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: جماتونو ته پۀ تیارو کښې تلونکي د الله تعالیٰ پۀ رحمت کښې ننوتونکي دي۔ (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د جمات نه چې څومره څوک لرې وي دومره هغه زيات اجر والا وي. (ابن ماجه)

جمات کښې د نمانزهٔ پهٔ انتظار کښېناستل

۞ د رسول اللهﷺ نه پهٔ يو حديث شريف کښې مروي دي: پهٔ جمات کښې د نمانزهٔ پهٔ انتظار ناست سړے داسې دے لکه چې پهٔ نمانزهٔ کښې وي. (شرح السنه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې يو کس برابر پهٔ نمانزهٔ کښې وي (پهٔ نمانزهٔ کښې حسابيږي) څو پورې چې د هغې انتظار کوي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې يو سړے برابر پهٔ نمانزهٔ کښې وي تر څو چې نمانزهٔ دے قيد کړے وي چې کور ته د تلو نه ئې نهٔ منع کوي مګر نمونز. (متفق عليه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې پهٔ جمات کښې (د نمانزهٔ پهٔ انتظار) کښېناست نو د الله تعالیٰ زيارت ئې وکړو او د چا چې زيارت کيږي پهٔ هغهٔ لازم وي اکرام د خپل زيارت کونکي. (ابن حبان، احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: زما د اُمت رهبانيت پهٔ جمات کښې کښېناستل دي. (احياء)

د ماسختن او د سحر نمونز پهٔ جماعت سره

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کهٔ خلقو ته معلومه وے چې (پهٔ جماعت سره) د ماسختن او د سحر پهٔ نمانزهٔ کښې څهٔ (ثوابونه) دي نو پهٔ ناستې (کُناټو لګولو) به ورته راتلل. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ منافقينو باندې د ټولو نه ګران نمونز د ماسختن او د سحر دے او کهٔ هغوی پېژندے چې پهٔ دې دواړو کښې څومره ثواب دے نو پهٔ ناستې به ورله راتلل. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د ماسختن نمونځ په جماعت سره وکړو نو لکه چې په نيمه شپه کښې ئې قيام (عبادت) وکړو، او چا چې د سحر نمونځ په جماعت سره وکړو نو لکه چې ټوله شپه ئې نمونځ وکړو۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د جماعت په جمات کښې څلوېښت ورزې نمونځ وکړي چې د ماسختن د نمانځۀ اولنے رکعت ترېنه لاړ نۀ شي نو الله تعالیٰ به ورله د دوزخ نه د بچاؤ حکمنامه وليکي۔ (ابن ماجه)

مانځۀ له په آرام او سکون سره تلل، اګرکۀ څۀ نمونځ لاړ شي

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې نمونځ ودريږي نو په منډه ورله مۀ زئ، په عامو تلو سره زئ، په آرام سره تلل په ځان لازم کړئ، څو چې مومئ هغه کوئ او څو چې درنه زي هغه پوره کوئ۔ (ترمذي)

۞ ابو قتادهؓ خبر ورکوي: مونږ د رسول اللهﷺ سره مانځۀ ته ودرېدو چې يو هڼ واورېدے شو، رسول اللهﷺ وفرمائيل: تاسو له ولې؟ خلقو ووې: مونږ مانځۀ له جلدي وکړه۔ رسول اللهﷺ وفرمائيل: داسې مۀ کوئ، مانځۀ له چې رازئ نو په سکون سره رازئ، څۀ چې بيامومئ هغه وکړئ او څۀ چې درنه تېروزي هغه بيا پوره کړئ۔ (مسلم)

په ړومبي صف کښې او ښې طرف ته ودرېدل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د سړو د ټولو نه غوره صف ړومبنے او د ټولو نه بد روستنے دے۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: کچرې خلقو ته معلومه وے چې په ړومبي صف کښې (د ثواب) څۀ دي او دوئ هغه نۀ موندے بغير د خسنې نه نو خسنے به ئې ورله کولو۔ (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ او د هغهٔ فرښتې د ښي طرف پهٔ صفونو درود وايي. (ابوداؤد)

صفونه جوړول او برابرول، تکبیرِ تحریمه، څلوېښت ورزې هغه موندل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ما ته دِ نزدې پهٔ تاسو کښې د عقلونو والا (یعني مشران) ودرېږي بیا هغه چې هغوی ته نزدې وي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: اولنے صف پوره کوئ بیا هغه چې پهٔ هغې پسې وي نو کهٔ څهٔ کمے وي نو آخرني صف کښې دِ وي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: امام پهٔ مینځ کښې راولئ او خالي ځایونه بندوئ. (ابوداؤد)

❁ د نعمان بن بشیر رضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ به زمونږه صفونه برابرول کله چې به مونږ نمانځهٔ ته ودرېدو او کله چې به مونږ برابر شو نو الله اکبر به ئې وایهٔ. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: خپل صفونه برابروئ، د هغې پهٔ مینځونو کښې نزدې والے راولئ او اوږې سیده کوئ. (ابوداؤد، نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: صفونه سیده کوئ کنه الله تعالیٰ به ستاسو پهٔ مینځ کښې اختلاف وغورزوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: صفونه برابر وئ، اوږې د اوږو سره سیده کوئ، (دغه وخت کښې) د خپلو رونو سره نرم والے کوئ او خالي ځایونه ډکوئ ځکه چې شیطان بیا ستاسو پهٔ مینځ کښې ننوزي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ چې به نمونځ کولو نوفرمائیل به ئې: خپل صفونه برابر کړئ چې صفونه برابرول د اقامتِ صلوٰة (نمونځ قائمولو) نه دي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: صفونه برابرول او سمول د نمانځهٔ تمامول دي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: چا چې د صف جوړ وکړو الله تعالیٰ به د هغهٔ جوړ وکړي۔ (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: تکبيرِ اوّل (تکبيرِ تحريمه) د دنيا او پهٔ دنيا کښې چې څهٔ دي د هغې نه غوره دے۔ (فضائلِ اعمال)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل:څوک چې د الله تعالیٰ دپاره څلويښت ورزې پهٔ جماعت سره نمونځ وکړي چې تکبيرِ تحريمه ومومي نو دهٔ له به دوه خلاصې (د خلاصي پروانې) وليکلے شي: يو خلاصے د دوزخ نه او يو خلاصے د منافقت نه ۔ (ترمذي)

د امام اتباع کول، هغهٔ سره داخليدل،د امام قراءت د مقتدي قراءت

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: امام د دې دپاره جوړ کړے شوے دے چې د هغهٔ اتباع وکړے شي نو چې هغه الله اکبر وايي نو تاسو الله اکبر وايۍاو چې هغه قراء ت کوي نو تاسو چُپ کيږۍ۔ (ابن ماجه، مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: پهٔ تاسو کښې چې څوک نمانځهٔ له راشي او امام پهٔ څهٔ حال وي نو څنګ چې امام کوي هغسې دِ دے کوي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل:تاسو چې نمانځهٔ له راشۍ او مونږ پهٔ سجده کښې يو نو سجده کوۍ او دا څهٔ مهٔ شمارۍ او چا چې يو رکعت وموندهٔ هغهٔ نمونځ وموندهٔ۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا چې امام وي نو د امام قراءت د دهٔ قراءت دے۔ (ابن ماجه، احمد ، محمد ، دارقطني وغيرهم)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: اے نهٔ کافي کيږي يو کس له پهٔ تاسو کښې قراءت د امام د هغهٔ۔ (بيهقي)

امام له نمونځ لنډ کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ تاسو کښې چې څوک خلقو له نمونځ کوي نو لنډ دِ کوي ځکه چې پۀ هغوی کښې مریض، کمزورے او د ډېر عمر والا وي، او څوک چې ځانله نمونځ کوي نو څومره چې غواړي اوږدوي دِ ـ (متفق علیه)

❁ د عثمان بن ابی العاصؓ نه روایت دے، فرمائي: آخري وصیت او تاکید چې رسول اللهﷺ ماته کړے ؤ هغه دا ؤ چې تۀ یو قوم له امامت کوې نو پۀ هغوی نمونځ سپکوه ـ (مسلم)

❁ د انسؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ پۀ خلقو کښې د ټولو نه زیات لنډ او آسان (د جماعت) نمونځ کونکے ؤ ـ (ترمذي)

❁ انسؓ فرمائي: رسول اللهﷺ به نمونځ لنډ او پوره کولو ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زۀ نمونځ شروع کړم او د هغې اوږدوالے غواړم خو د بچي آواز واورم نو نمونځ لنډ کړم ځکه چې زۀ د هغۀ د مور د هغۀ پۀ ژړا خفه کېدل او تکلیفېدل پېژنم ـ (بخاري)

د امامت زیات حقداران، صحیح او غلط امامت، فاسق پسې نمونځ

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کله چې کسان درې وي نو یو دِ پکښې هغوی له امامت کوي او پۀ هغوی کښې دَ امامت د ټولو نه زیات حقدار هغه دے کوم چې پۀ هغوی کښې د زیات (او د ښۀ) قراءت والا وي ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تاسو له دِ بانګ وایي ستاسو غوره خلق او ستاسو امامت دِ کوي ستاسو قاریان (قرآن لوستونکي، یاد لرونکي) ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل:خلق تاسو له نمونز (امامت) کوي نو کچرې صحيح وکړي نو تاسو له اجر دے او کچرې خطا وکړي تو تاسو له اجر دے او پۀ هغوی ګناه دے. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نمونز کوی روستو د هر فاسق او فاجر نه. ()

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نمونز کوی پۀ هغه چا باندې (يعني جنازه) څوک چې لَا اِلٰهَ اِلَّا الله وايي او پۀ هغه چا پسې څوک چې لَا اِلٰهَ اِلَّا الله وايي. (دارقطني)

د جُمعې نمونز، څۀ تاکيد، آداب، د جُمعې خطبه

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: جُمعه پۀ هر مسلمان باندې واجبه (لازمه) ده. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې پۀ الله تعالیٰ او د قيامت پۀ ورز ايمان لري نو پۀ هغۀ د جُمعې پۀ ورز د جُمعې نمونز دے سوا د مريض يا د مسافر يا د ښځې يا د وړکي او يا د غلام نه. پس څوک چې پۀ څۀ عبث کار يا تجارت کښې مشغول شي نو الله تعالیٰ هم د دۀ نه مخ واړوي او هغه بې حاجته، بې پروا او ستائيلے شوے ذات دے. (دارقطني، مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د جُمعې نمانزۀ له رازي نو غسل دِ کوي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د جُمعې پۀ ورز اودس وکړو نو ښۀ ده او چا چې غسل وکړو نو غسل زيات غوره دے. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم سړے چې د جُمعې پۀ ورز پۀ ښۀ شان سره غسل وکړي او سحر دوختنه پياده جمات ته لاړ شي بيا خطبه واوري او پۀ دې مينځ کښې څۀ عبث کار ونکړي نو هغۀ ته به د هر قدم په عوض کښې د يو کال د پوره عبادت ثواب ملاويږي، د يو کال د روژو او د يو کال د نمونزونو. (ترمذي، بهشتي زيور)

۞ د ابن شهاب رحمه الله نه د دې مفهوم روایت دے، فرمائي: مونږ ته دا خبره رارسېدلې ده چې رسول اللهﷺ به پهٔ منبر کښېناستهٔ، چې مؤذن به غلے شو نو پابه څېدهٔ او ړومبۍ خطبه به ئې ووېېله بیا به لږ شان کښېناستهٔ بیا به پاڅېدهٔ او دویمه خطبه به ئې شروع کړه، چې ختمه به ئې کړه نو استغفار به ئې وفرمایهٔ بیا به راکوز شو او نمونځ به ئې وکړو. (ابوداؤد في مراسیله)

۞ هشام رحمه الله د خپل پلار نه روایت کوي: رسول اللهﷺ چې به (د جُمعې پهٔ ورځ) پهٔ منبر کښېناستهٔ نو دا به ئې (اکثر پهٔ خطبه کښې) فرمائېل: اتّقُوا اللّٰهَ وَ قُولُوا قَولاً سَدِیدًا (د الله نه یرېږئ او صحیح وینا کوئ). (ابوداؤد في مراسیله)

د جُمعې د ورځې فضیلت، درود پکښې زیات وېیل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه غوره ورځ چې نمر پرې راخیږي د جُمعې ورځ ده؛ پهٔ دې کښې آدم (علیه السلام) پیدا شو، پهٔ دې کښې جنت ته داخل کړے شو او پهٔ دې کښې د هغې نه راوویستے شو او قیامت به نهٔ قائمیږي مګر د جُمعې پهٔ ورځ. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستاسو پهٔ ټولو کښې د غورو ورځو نه یوه د جُمعې ورځ ده نو تاسو پهٔ دې کښې پهٔ ما باندې درود زیات زیات وایئ ځکه چې ستاسو درود ما ته پیش کولے کیږي. (ابوداؤد)

د اختر نمونځ، سفر کښې نمونځ (سفرانه مونځ)

۞ د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ د اختر پهٔ ورځ دوه رکعته وکړهٔ، نه ئې ترې مخکښې نمونځ وکړو او نهٔ روستو. (متفق علیه)

۞ د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ د اختر نمونځ وکړو بغیر د اذان او د اقامت نه. (ابوداؤد)

۞ د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ، ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه به د دواړو اخترو نمونځونه د خطبې نه مخکښې کول. (متفق علیه)

۞ د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: زۀ د رسول الله ﷺ سره د اختر پۀ ورز (عیدګاه ته) حاضر شوم، هغوی نمونځ وکړو د خطبې نه مخکښې بغیر د اذان او اقامت نه، بیا ودرېدۀ او بلال (رضي الله عنه) ته تکیه شو، حکم ئې وکړو د الله تعالیٰ نه د یرېدو او د هغۀ د فرمان برداری او خلقو (یعني سړو) ته ئې وعظ و تذکیر وفرمایۀ، بیا د ښځو خوا له لاړو او هغوی ته ئې وعظ و نصیحت شروع کړو، وئې فرمائېل: صدقه ورکوی ځکه چې پۀ تاسو کښې زیاتې د جهنم لرګي دي. (مسلم)

۞ د انس رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله ﷺ پۀ مدینه کښې د ماسپښین نمونځ څلور رکعته وکړو او پۀ ذوالحلیفه کښې ئې د مازیګر نمونځ دوه رکعته وکړو. (متفق علیه)

۞ رسول الله ﷺ (پۀ یوه موقع د سفرانه نمانځۀ پۀ باره کښې) وفرمائېل: صدقه ده چې الله تعالیٰ تاسو له درکړې ده نو تاسو د هغۀ صدقه قبول کړی. (مسلم)

پۀ کورونو کښې (نفل) نمونځ، د نمانځۀ منع ځایونه

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: نمونځ کوی اے خلقو پۀ خپلو کورونو کښې ځکه چې د ټولو نه غوره نمونځ نمونځ د سړي دے پۀ خپل کور کښې سِوا د فرضو نه. (متفق علیه)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د خپل نمانځۀ نه (حصه) د خپلو کورونو د پاره (هم) مقرر کړی او قبرونه ئې مۀ جوړوی. (متفق علیه)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ تاسو کښې پۀ خپل جمات کښې نمونځ کوي نو خپل کور له دِ هم د خپل نمانځۀ نه څۀ حصه وګرزوي ځکه چې الله تعالیٰ د هغۀ پۀ کور کښې د هغۀ د نمانځۀ نه څۀ خیر جوړونکے دے. (مسلم)

❁ د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائېلې ده چې پۀ وؤ ځايونو کښې نمونځ وکړے شي: پۀ ډېران کښې، پۀ قصاب خانه کښې، پۀ مقبره کښې، د لارې پۀ مينځ کښې، پۀ حمام کښې، د اُوښانو د پاتې کېدو پۀ ځايونو کښې او د کعبې د پاسه. (ابن ماجه)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: زمکه ټوله د نمانځۀ ځائے دے سوا د مقبرې او د حمام نه. (ابن ماجه)

باب: نمونځ (منفي څۀ)

د نمانځۀ د نۀ کولو، د پرېښولو وعيد، د مازيګر نمونځ پرېښول، پاتې کېدل

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: نيشتے دين هغه چا له د چا چې نمونځ نۀ وي. ()

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمايۀ: نيشته حصه پۀ اسلام کښې د هغه چا څوک چې نمونځ نۀ کوي. (حاکم)

❁ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پۀ يو حديث مبارک کښې مروي دي: چا چې نمونځ پرېښو هغۀ دين وران کړو. (المنبهات)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: د بنده او د کفر پۀ مينځ کښې (حد) نمونځ پرېښول دي. (مسلم، ترمذي)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: هغه عهد چې زمونږ او د دوی (منافقينو) پۀ مينځ کښې دے هغه نمونځ دے، پس چا چې نمونځ پرېښو هغۀ کفر وکړو. (ترمذي)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: چا چې پۀ قصد نمونځ پرېښو هغۀ ښکاره کفر وکړو. (طبراني)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: نمونځ پرېښونکے ملعون (لعنتي) دے پۀ تورات، انجيل، زبور او فرقان (قرآن) کښې. نمونځ پرېښونکے پۀ زمکه ګرزي او زمکه پرې لعنت وايي او آسمان ته ګوري او آسمان پرې لعنت وايي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو وصیت کښې وفرمائېل: فرض نمونز پۀ قصد مۀ پرېږده، چا چې فرض نمونز پۀ قصد پرېښو د الله تعالیٰ ذمه د هغۀ نه ختمه شوه. (احمد، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: چا چې د نمانزۀ پابندي ونکړه نو دے به هغۀ له رڼا، دلیل او د خلاصي ذریعه نۀ وي او د قیامت پۀ ورز به هغه د قارون، فرعون، هامان او اُبی بن خلف سره وي. (احمد، بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د مازیګر نمونز پرېښو د هغۀ عمل باطل شو. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا نه چې د مازیګر نمونز پاتې شو نو لکه چې اهل او مال ئې تباه شو. (متفق علیه)

❁ د علي رضي الله عنه نه روایت دے، وئې فرمائېل: کله چې د احزاب (د جنګ) ورز وه نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ د د دوی قبرونه او کورونه د اُور نه ډک کړي لکه څنګه ئې چې مونږ د صلوٰةِ وُسطیٰ (د مازیګر د نمانزۀ) نه بند او مشغول کړو تر دې چې نمر پرېوت. (مسلم)

نمونز بد، بې طریقې، بې وخته، د وخت نه روستو کول، دوه نمونزونه جمع کول

❁ د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دے: یو سړي پۀ جمات کښې نمونز وکړو او بیا راغے رسول اللهﷺ ته ئې سلام وکړو. رسول اللهﷺ ورله د سلام جواب ورکړو او وئې فرمائېل: لاړ شه نمونز وکړه، تا نمونز نۀ دے کړے. دغه شانې درې پېرې ئې هغه واپس کړو. هغۀ عرض وکړو: اے د الله رسوله ما له خو د دې نه بل شانې نمونز نۀ رازي. (بیا ورته رسول اللهﷺ پۀ صحیح طریقه نمونز کول وښودل). (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺيو سړے (پۀ نمانزۀ کښې) وليدۀ چې پوزۀ ئې پۀ زمکه نۀ بړسوله نو وئې وفرمائېل: نۀ قبلېږي يا نۀ کيږي داسې نمونز چې پوزه پکښې پۀ زمکه ونۀ لګولے شي۔ (ابوداؤد في مراسيله)

۞ د ابن مسعودؓنه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائېل: هغه وخت به ستاسو څۀ حال وي کله چې پۀ تاسو داسې حاکمان راشي چې نمونز بې وخته کوي۔ د قبيصه بن وقاصؓ پۀ روايت کښې دي چې نمونز به روستو کوي۔ د عباده بن صامتؓ پۀ روايت کښې دي چې څۀ څيزونه به ئې د نمانزۀ نه بې پروا کوي تر دې چې وخت به ئې تېروزي۔ (ابوداد)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې دوه نمونزونه (بغير د عذر نه) يو ځائے وکړۀ هغه د لويو ګناهونو د بابونو نه يو باب ته لاړ۔ (فضائلِ اعمال)

نمانزۀ کښې خشوع نۀ لرل، آخوا دېخوا کتل وغيره، نمونز کونکي پۀ مخکښې تېروتل

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: نيشتے نمونز مګر د زړۀ پۀ خشوع (عاجزي، ښکته والي) سره۔ ()

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ نمانزۀ کښې د آخوا دېخوا کتو نه ځان ساتئ۔ (ترمذي)

۞ د انسؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ما ته وفرمائېل: پۀ نمانزۀ کښې د کتو نه بچ ووسه ځکه چې پۀ نمانزۀ کښې کتل هلاک والے دے۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: منع دِ شي څۀ خلق کوم چې پۀ نمانزۀ کښې سترګې آسمان ته اوچتوي۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ د یو سړي په باره کښې څوک چې په نمانځهٔ کښې خوزېدهٔ راخوزیدهٔ وفرمائېل: کهٔ د دهٔ په زړهٔ کښې خشوع (یا یره) وے نو د دهٔ اندامونه به په قراره وو. ()

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې په تاسو کښې څوک نمانځهٔ ته ودرېږي نو ګیټی دِ (د سجدې د ځائے وغیره نه) نهٔ لرې کوي ځکه چې رحمت دهٔ ته مخامخ وي. (احمد، ترمذي، ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په تاسو کښې چې څوک په نمانځهٔ کښې وي نو هغه د خپل رب سره مناجات کوي نو خپلې مخې او ښي طرف ته دِ نهٔ توکي. (متفق علیه)

۞ د ابوهریرهؓ نه روایت دے، فرمائي: په نمانځهٔ کښې په تشي د لاس ایښودو نه منع کړے شوې ده. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیشتے نمونځ چې کله خوراک حاضر وي او کله چې څوک واړه او لوئے بول په زور دفع کوي (ټینګوي). (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: کهٔ د نمونځ کونکي په مخکښې تېروتونکي ته پته وے چې د دهٔ څومره ګناه کیږي نو ځلوېښت (ورځې یا میاشتې یا کلونه) ودرېدل به ورله د هغهٔ په مخکښې د تېروتو نه غوره وو. (بخاري، مسلم، مالک). په یو بل روایت کښې دي چې کهٔ د نمونځ کونکي په مخکښې تېرېدونکي ته معلوم وے چې په دهٔ څومره وبال دے نو په زمکه کښې خښېدل به ورله د هغهٔ په مخکښې د تېرېدو نه بهتر وو. (مالک)

جَماعت سره نمونځ نهٔ کول

۞ رسول اللهﷺ په منبر وفرمائېل: خلق دِ د جماعت د نمونځونو د پرېښولو نه منع شي کنه نو الله تعالیٰ به د دوی په زړونو مُهرونه ولګوي او بیا به دوی د غافلانو نه شي. (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سراسر ظلم دے او کفر دے او نفاق دے چې څوک د الله تعالیٰ د آواز کونکي (مؤذن) آواز (بانګ) واوري او نمانځۀ له لاړ نۀ شي۔ (احمد، طبراني)

✿ رسول اللهﷺ يوه ورز وفرمائېل: بېشکه زما دا اراده وشوه چې چا ته حکم ورکړم چې لرګي راجمع کړي او بيا د بانګ ويېلو حکم ورکړم او يو سړي ته ووايم چې هغه امامت وکړي او زۀ د هغه خلقو کورونو ته لاړ شم کوم چې د امامتۍ نمانځۀ له نۀ رازي او د هغوی کورونه وسېزم۔ (بهشتي زيور)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې بانګ واوري او پۀ هغې پسې د تلو نه ئې څۀ عذر نۀ منع کوي نو د دۀ نه به هغه نمونز قبول نۀ شي کوم چې دے (ځانله) وکړي۔ صحابو عرض وکړو: عذر څۀ دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يره او مرض۔ (ابوداؤد، دارقطني)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې اذان واوري او نمانځۀ له رانۀ شي نو د هغۀ نمونز نيشتے مګر پۀ عذر سره۔ (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نيشتے نمونز د جمات د ګاونډي مګر پۀ جمات کښې۔ (بيهقي، دارقطني)

د جُمعې نمونز نۀ کول، د خلقو پۀ څټونو اوختل، خطبه کښې خبرې کول

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د جُمعې نمونز پرېښو بغير د عذر او حاجت نه نو وبه ليکلے شي منافق پۀ داسې کتاب کښې چې نه به ورانيږي او نۀ به بدلولے کيږي۔ (مشکوٰة)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې درې جُمعې د معمولي ګڼلو (يا سستۍ) د وجې نه پرېږدي نو الله تعالیٰ به ئې پۀ زړۀ باندې مُهر ولګوي۔ (اصلاح الرسوم)

❁ رسول اللهﷺ پۀ منبر باندې وفرمائيل: څۀ خلق دي هغوی د د جُمعو د پرېښولو نه منع شي کنه الله تعالیٰ به ئې پۀ زړونو مُهرونه ولګوي او بيا به هغوی د غافلانو نه شي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما کلکه اراده وشوه چې څوک پۀ خپل ځائے امامتۍ ته ودروم او پخپله د هغه خلقو کورونه وسېزم کوم چې د جُمعې نمانځۀ ته نۀ حاضرېږي. (مسلم، بهشتي زيور)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: څوک چې بې پروا شو (د جُمعې د نمانځۀ نه) پۀ څۀ لهو و لعب سره يا پۀ تجارت سره نو الله تعالیٰ به د هغۀ نه بې پروا شي او الله تعالیٰ غني دے ستائيلے شوے دے. (دارقطني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د جُمعې پۀ ورز د خلقو پۀ څټونو واوختۀ نو ځانله ئې جهنم ته پُل جوړ کړو. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د جُمعې پۀ ورز خبرې کوي پۀ داسې حال کښې چې امام خطبه وايي نو دے پۀ شان د خرۀ دے پۀ کوم چې کتابونه بار وي، او څوک چې دۀ ته ووايي چې خاموش شه نو د هغۀ جُمعه نيشته. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې تۀ د جُمعې پۀ ورز خپل څنګ والا ته ووايې چې خاموش شه پۀ داسې حال کښې چې امام خطبه وايي نو تا لغو (بې فائدې) عمل وکړو. (متفق عليه)

د امام نمونز اوږدول، ځان پۀ دعاء پورې خاص کول، د قوم پۀ ناخوښه امامت کول

❁ د عقبه بن عمرو بدريرضي الله عنه نه روايت دے: يو سړے د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: زۀ د فلاني سړي د وجې نه د سحر د نمانځۀ نه روستو کېږم چې هغه پۀ مونږ نمونز اوږدوي. ما رسول اللهﷺ نۀ

ؤلیدلے چې پهٔ یو وعظ کښې چرته د دې نه زیات غصه شوے وي څومره چې پهٔ دغه ورز غصه شو ـ وئې فرمائېل: پهٔ تاسو کښې څهٔ متنفر کونکي دي ـ څوک چې پهٔ تاسو کښې خلقو له نمونځ کوي نو لنډه دِ کوي ځکه چې پهٔ هغهٔ پسې بوډا ، وړکے او حاجتمند ولاړ وي ـ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: یو سړے دِ د یو قوم امامت نهٔ کوي چې خپل ځان پهٔ دعاء پورې خاص کړي د هغوی نه بغیر، نو کهٔ دا کار ئې وکړو نو د هغوی سره ئې خیانت وکړو ـ ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ هغه کسانو کښې چې نمونځ ئې نهٔ قبلیږي، د سرونو نه ئې یوه لوېشت هم بره نهٔ زي، هغه امام هم ذکر کړے دے کوم چې د یو قوم امامت کوي او هغوی دے نهٔ خوښوي، د دهٔ نه نارضا وي ـ (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

د مقتدي د اولني صف نه روستو کېدل، صف ماتول ، د امام نه مخکښې کېدل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څهٔ خلق به د اولني صف نه روستو کیږي تر دې چې الله تعالیٰ به ئې (د خپل رحمت او ثواب نه) روستو کړي ـ (مسلم، ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: چا چې د صف ماتول وکړهٔ الله تعالیٰ به د هغهٔ ماتول وکړي ـ (نسائي)

۞ د انس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ یوه ورز مونږ له نمونځ کولو ـ چې نمونځ ئې وکړو نو زمونږ طرف ته ئې مخ راوګرزولو او وئې فرمائېل: اے خلقو! زهٔ ستاسو امام یم نو زما نه پهٔ رکوع، سجده او قیام کښې مهٔ مخکښې کیږئ ـ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے نۀ یرېږي هغه کس څوک چې خپل سر د امام نه مخکښې اوچتوي چې الله تعالیٰ د هغۀ سر د خرۀ سر ته واړوي؟ (متفق علیه)

پۀ نمانځۀ سره د بدو نه نۀ منع کېدل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا نمونځ چې هغه د فحشو او بدو نه منع نکړو نو هغۀ له نمونځ نیشتے۔ (ابن ابي حاتم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیشتے نمونځ د هغه چا څوک چې د نمانځۀ حکم وُنۀ مني او د نمانځۀ حکم منل دا دي چې سړے د فحشو او بدو نه منع شي۔ (ابن جریر، بیهقي، ابن ابي حاتم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا نمونځ چې هغه د فحشو او بدو نه منع نکړي نو هغه به پۀ دې سره نۀ زیاتیږي د الله تعالیٰ نه مګر پۀ لرې والي کښې۔ (ابن جریر، بیهقي)

باب: جماتونه

د جمات فضیلت، د جوړولو تاکید او فضیلت

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ ځایونه جماتونه دي۔ (مسلم، ابن حبان)

۞ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے: رسول اللهﷺ د جماتونو د جوړولو حکم فرمائېلے دے۔ (احمد ، ابوداؤد ، ترمذي)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: چا چې د الله تعالیٰ دپاره یو جمات جوړ کړو (یا د دې دپاره چې د الله تعالیٰ نوم پکښې ذکر کیږي) نو الله تعالیٰ به هغۀ له پۀ جنت کښې یو کور جوړ کړي۔ (ابن ماجه)

جمات پاک ساتل، خوشبو ورله ورکول، خبر ئې اخستل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د جمات نه ګندګي لرې کړه الله تعالیٰ به هغهٔ له پهٔ جنت کښې یو کور جوړ کړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما ته زما د اُمت اجرونه وړاندې کړے شول تر دې چې یو سړے د جمات نه ګندګي وباسي (د هغې اجر). (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خپل جماتونه د خپلو وړو او لیونو نه بچ ساتئ. (ابن ماجه)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه پهٔ یو حدیث مبارک کښې روایت دے: رسول اللهﷺ حکم فرمائېلے دے چې جماتونه دِ پاک ساتلے کیږي او خوشبو دِ ورله ورکولے کیږي. (ابن ماجه وغیره)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تاسو وینئ چې یو سړے د جمات خبرګیري کوي نو هغهٔ له د ایمان ګواهي ورکړئ (یعني د تلو ورته عادت او پابندي لري، حفاظت ئې کوي، مرمت ئې کوي، صفائي ئې کوي، نمونز، عبادت او ذکر پکښې کوي، دین او د دین علم پکښې بیانوي). (ترمذي)

جمات ته د ننوتو او جمات نه د وتو دعاء، تحیة المسجد

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې چې څوک جمات ته ننوزي نو دا دِ وایي: اللّٰهُمَّ افتَح لِي اَبوَابَ رَحمَتِکَ (اے الله! لرې کړه ما له دروازې د رحمت خپل)، او چې د جمات نه وزي نو دا دِ وایي: اللّٰهُمَّ اِنِّي اَسئَلُکَ مِن فَضلِکَ (اے الله! زهٔ سوال کوم ستا نه د فضل ستا). (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په تاسو کښې چې څوک جمات ته داخل شي نو نهٔ دِ کښېني تر دې چې دوه رکعته وکړي. (متفق علیه)

❁ د جابر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: زهٔ د نبي اکرمﷺ خوا له جمات ته لاړم هغوی وفرمائېل: دوه رکعته وکړه. (متفق علیه)

جمات کښې ځۀ منع خبرې، جماتونه اوچتول، نقش و نګار ئې کول، فخر پرې کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دا جماتونه لائق نۀ دي د دې د پېشابو او نۀ د ګندګۍ، دا خو د الله تعالیٰ د ذکر او د قرآن د لوستو دپاره دي (او کما قال ﷺ) ـ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د دې بدبودار بوټي (پیازو،اوګې) نه وخوري نو زمونږ جمات ته د نۀ نزدې کېږي ځکه چې فرښتې د هغه څۀ نه تکلیف مومي د څۀ نه چې بني آدم تکلیف مومي ـ (بخاري، مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: پۀ جمات کښې توکاڼه ټُوکل ګناه دے او کفاره ئې د هغې خخول (یا لرې کول) دي ـ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ما ته زما د اُمت ـ ښۀ او بد ـ عملونه پیش کړے شو ... ما ئې په بدو عملونو کښې پۀ جمات کښې توکاڼۀ بیاموندہ چې خخه نکړے شي ـ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څۀ خبرې دي چې پۀ جمات کښې پکار نۀ دي: چې نۀ هغه لار جوړه کړے شي نۀ پکښې وسله (توره وغیره) رانېغه کړے شي نۀ پکښې لیندۀ وُنیسلے شي نۀ پکښې غشے خور کړے شي نۀ پکښې کچه غوښه یوړے شي نۀ پکښې مخ ووهلے شي نۀ پکښې قصاص د چا نه وا خستے شي او نۀ هغه بازار جوړ کړے شي ـ (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: خپل جماتونه بچ ساتۍ د خپلو وړو نه، د خپلو لیونو نه، د خپلو اخستلو خرڅولو نه، د خپلو خصومتونو (جنګ جګړو، فیصلو) نه، د خپلو آوازونو اوچتولو نه، د خپلو حدودو قائمولو نه او د خپلو تورو راویستو نه ـ (ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ پهٔ جمات کښې د شعرونو ويېلو او د خرڅولو اخستلو نه منع فرمائېلې ده او د دې نه چې خلق د جمعې پهٔ ورځ د نمانځهٔ نه مخکښې حلقه جوړه کړي. (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کله چې تا سو وينئ چې څوک پهٔ جمات کښې خرڅول يا اخستل کوي نو هغهٔ ته ووايئ چې الله تعالیٰ دِ ستا تجارت (خرڅول اخستل) گټور نکړي. (نسائي، ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ پهٔ جمات کښې د اخستلو او خرڅولو نه منع فرمائېلې ده او د دې نه چې د يو ورک شوي شي اعلان پکښې وکړے شي او شعر پکښې وويېلے شي. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې يو سړے واوري چې پهٔ جمات کښې د ورک شوي شي اعلان کوي نو وُدِ وايي چې الله دِ (دغه شے) تا له واپس درنکړي ځکه چې جماتونه د دې دپاره نهٔ دي جوړ شوي. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زهٔ اينم چې زما نه روستو به تاسو خپل جماتونه اوچتوئ لکه څنگه چې يهوديانو او عيسايانو خپلې گرجې (عبادت خانې) اوچتې کړې دي. (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: ما ته د جماتونو د نقش کولو حکم نهٔ دے راکړے شوے. (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د يو قوم عمل نهٔ دے بد شوے مگر دا چې هغوئ د خپل جماتونو نقش و نگار کړے دے. (ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: قيامت به نهٔ رازي تر څو چې خلق د يو بل پهٔ مقابله کښې پهٔ جماتونو فخر ونکړي. (ابوداؤد)

باب: زکوٰة (ورکول او نهٔ ورکول)

زکوٰة ورکول، اهمیت، فضیلت

❁ د علقمهرضي الله عنه نه روایت دے: مونږ د رسول اللهﷺ پهٔ خدمت کښې حاضر شو نو نبي کریمﷺ مونږ ته وفرمائیل: ستاسو د اسلام تمام والے دا دے چې تاسو د خپلو مالونو زکوٰة ادا کوئ. (بزاز، ترغیب)

❁ رسول اللهﷺ (پهٔ یو حدیث مبارک کښې معاذرضي الله عنه ته د یمن والو دپاره) وفرمائیل: الله تعالیٰ پهٔ هغوئ د هغوئ پهٔ مالونو کښې زکوٰة فرض کړے دے چې د هغوئ د مالدارانو نه به اخستے کیږي او د هغوئ غریبانانو ته به (واپس) ورکولے کیږي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: زکوٰة د اسلام پُل دے. (طبراني)

زکوٰة د مال پاک والے، پهٔ زکوٰة ورکولو (عمومي) مالي ذمه ختمیدل

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث شریف کښې وفرمائیل: الله تعالیٰ زکوٰة نهٔ دے فرض کړے مګر د دې دپاره چې ستاسو باقي مالونه پاک کړي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د خپل مال زکوٰة ادا کړو نو د هغې شر (بدوالے) د هغې نه لاړ. (طبراني)

❁ د ابوهریرهرضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ وفرمائیل: کله چې تهٔ زکوٰة ورکړې نو څهٔ چې پهٔ تا ؤ هغه تا ادا کړهٔ. (ابن حبان، ابن خزیمه)

❁ د حسن رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د خپل مال زکوٰة ادا کړو نو دهٔ هغه حق (فرض) ادا کړو کوم چې پهٔ دهٔ ؤ او چا چې (د زکوٰة نه علاوه) سِوا څهٔ ورکړهٔ نو دا زیاته غوره ده. (ابوداؤد في مراسیله)

زکوٰاة نۀ ورکول

❁ د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ لعنت ویېلے دے پۀ زکوٰاة نۀ ورکونکي (یا د ورکولو نه پۀ انکار کونکي) باندې۔ (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیشتے یو د اُوښانو، غواګانو او ګډو بیزو والا چې د دې زکوٰاة نۀ ورکوي مګر د قیامت پۀ ورز به دا ځیزونه پۀ زیات غټ او څورب شکل کښې رازي او هغه به پۀ خکرو وهي او پۀ پخو کښې به ئې چقوي ۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د سرو زرو او د سپینو زرو مالک وي او د هغې نه د هغې حق (زکوٰاة) نۀ ورکوي نو د قیامت پۀ ورز به دۀ له د اور پترې جوړکړے شي او د جهنم پۀ اور کښې به ګرمولے کیږي او پۀ هغې به د دۀ ډډې، تندے او ملا داغلے کیږي، بیا بیا به دغه شان ګرمول او داغل کیږي، پۀ داسې ورز کښې چې د هغې مقدار به پنځوس زره کاله وي، تر دې چې د بندګانو پۀ مینځ کښې فیصله وکړے شي او دے خپله لار جنت ته او یا دوزخ ته ویني۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا له چې الله تعالیٰ مال ورکړي او دے د هغې زکوٰة ورنکړي نو د قیامت پۀ ورز به د دۀ مال د ګنجي مار پۀ شان جوړ کړے شي چې د سترګو دپاسه به ئې دوه تورې نقطې وي او د دۀ د غاړې نه به تاؤ کړے شي، هغه به د دۀ د غوږونو د لاندې هډوکي یعنې ژامې ونیسي او وبه وایي چې زۀ ستا مال یم، زۀ ستا خزانه یم۔ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یو قوم د زکوٰاة ورکولو نه منع نۀ ده کړې مګر الله تعالیٰ هغه پۀ قحط کښې مبتلا کړے دے۔ (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د زکوٰاة مال د مال سره نۀ ګاډېره کیږي مګر هغه هلاک (ضائع) کوي۔ (مشکوٰة)

د زکواة په جمع کولو کښې غلول (خیانت)،
د زکواة ښه او بد عامل (جمع کونکے)

❁ د ابو مسعود رضي الله عنه انصاري نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ زهٔ د زکواة د عامل په طور لیږلم نو ما ته ئې وفرمائیل: لاړ شه ابومسعوده! خو چې زهٔ تا د قیامت په ورز بیا نهٔ مومم چې په داسې حال کښې راشې چې په شا دِ د زکواة د مال اُوښ پروت وي چې ناړي او تا پکښې غلول (خیانت) کړے وي۔ ما ووې: نو بیا زهٔ نهٔ زم۔ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نو بیا زهٔ تا په زور نهٔ لیږم۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ د زکواة د خیانت په ذکر کښې وفرمائیل: چا چې په دې کښې د یو اُوښ یا د یوې بیزې خیانت وکړو نو د قیامت په ورز به هغه په شا راوړي۔ (احمد)

❁ د رافع بن خدیج رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي فرمائیل ئې: د زکوٰة په حقه سره عامل د الله تعالیٰ په لار کښې د غزا کونکي په شان دے تر دې چې خپل کور ته واپس راشي۔ (ابوداؤد)

❁ د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي فرمائیل ئې: مَکس والا (د عشر و زکواة وصولونکے، جمع کونکے) جنت ته نهٔ شي تلے۔ (ابوداؤد)

باب: روژه او متعلقات (مُثبت، منفي)

د روژې فضیلت، روژه کښې خپله ژبه او نور اندامونه قابو ساتل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د ابنِ آدم هر عمل د هغهٔ دے سوا د روژې نه چې دا زما ده او زهٔ به د دې بدله ورکوم۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د ابن آدم هر عمل د لسو چندو نه د وهٔ سوو پورې زیاتولے کیږي سوا د روژې نه چې الله تعالیٰ فرمائي: دا زما دپاره ده او زهٔ به د

دې بدله ورکوم. بنده زما د وجې نه خپل شهوت (خواهش) او خوراک پرېږدي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د جنت اتۀ دروازې دي پۀ هغې کښې يوه دروازه د ريان پۀ نوم ده پۀ هغې به نۀ داخلېږي مګر روژه دار خلق. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ جنت کښې يوه دروازه ده چې ريان ورته وېلے کېږي د قيامت پۀ ورز به آواز وکړے شي چې روژه دار کوم ځائے دي؟ پس څوک چې د روژه دارو نه وي هغه به پرې ننوزي او څوک چې پرې ننوت نو هغه به چرته هم تږے نۀ شي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د روژه دار دپاره دوه خوشحالۍ دي: يوه د روژه ماتي پۀ وخت کښې او بله د خپل رب سره د ملاقات پۀ وخت کښې. د روژه دار د خلې بوئي د الله تعالیٰ پۀ نزد د مشکو نه زياته ښۀ ده. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: روژه د جهنم د اُور نه ډال دے. (متفق عليه، مکتوباتِ امام رباني)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: روژه نيم صبر دے. ()

❁ د ابن شهاب رحمه الله نه روايت دے: رسول اللهﷺ وفرمائېل: نيشته ريا پۀ روژه کښې. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې ستاسو د يو کس د روژې ورز وي نو فحش خبرې دِ نۀ کوي او نۀ دِ شور کوي او کۀ څوک ورته کنزل کوي يا ورسره جنګ کوي نو وايي دِ چې زما روژه ده. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: روژه ډال دے ترڅو ئې چې سرے ونۀ شلوي. (نسائي، ابن ماجه، حاکم)

د رمضان میاشت لیدل، د رمضان او د رمضان د روژو فضیلت

✿ د ابوهریرهرضی الله عنه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: د میاشت پهٔ لیدو روژه نیسی او د میاشت پهٔ لیدو روژې نیول ختموی، پس کهٔ میاشت درباندې (د وریځ وغیره د وجې نه) پټه شي نو د شعبان (شوقدر) دیرش ورزې پوره کوی. (متفق علیه)

✿ د عبدالله بن عمررضی الله عنه روایت دے: رسول اللهﷺ د رمضان ذکر کولو نو وئې فرمائېل: روژې مهٔ نیسی دې پورې چې میاشت وینی او روژې نیول مهٔ بندوی دې پورې چې میاشت وینی، پس کچرې پهٔ تاسو میاشت پټه شي نو د دېرشو حساب پوره کوی. (متفق علیه)

✿ د عباده بن صامترضی الله عنه روایت دے: رسول اللهﷺ یوه ورز وفرمائېل او مونږ ته رمضان حاضرېدونکے ؤ: تاسو ته راروان دے رمضان، میاشت د برکت . پهٔ دې کښې به الله تعالیٰ تاسو ته متوجه کیږي او خپل رحمت به نازلوي او ګناهونه به کموي او دعاء به قبلوي او الله تعالیٰ به پهٔ دې کښې ستاسو رغبت او سیالی ته ګوري او پهٔ تاسو به ملائکو ته فخر کوي، نو تاسو د خپلو ځانونو نه الله تعالیٰ ته څهٔ خیر او نیکي وښایی. (طبراني)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې رمضان راشي نو د جنت دروازې پرانستے شي او د دوزخ دروازې بندې کړے شي او شیطانان وتړلے شي. (متفق علیه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د رمضان روژې ونیولې پهٔ ایمان او احتساب (د الله تعالیٰ د رضا او د ثواب پهٔ نیت) سره نو د هغهٔ مخکښېني ګناهونه به معاف کړے شي. (متفق علیه)

رمضان کښې نیک عملونه او زیات کوشش کول

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پهٔ دې (رمضان) کښې د نیکی پهٔ یو کار سره الله تعالیٰ ته نزدیکت وکړي هغه داسې دے لکه د دې نه پهٔ علاوه

میاشتو کښې چې یو فرض ادا کړي، او څوک چې پۀ دې کښې یو فرض ادا کړي هغه داسې دے لکه د دې نه پۀ علاوه میاشتو کښې چې اویا فرضه ادا کړي. (ابنِ خزیمه، فضائلِ رمضان)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به پۀ رمضان کښې هغه شان کوشش کولو چې د دې نه پۀ علاوه میاشتو کښې به ئې هغه شان نۀ کولو او د دې پۀ آخري لسو ورزو شپو کښې به ئې هغه شان کوشش کولو چې د دې نه پۀ علاوه کښې به ئې هغه شان نۀ کولو. (مسلم)

روژې له پیشمنے کول، روژه ماتول، د روژې ماتولو دعاء

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پیشمنے (سحري) کوئ چې پۀ پیشمني کولو کښې برکت وي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د پیشمني خوراک کول برکت دے نو تاسو ئې مۀ پرېږدئ اګرچې پۀ تاسو کښې څوک د اُوبو یو ګوټ وڅښي ځکه چې الله تعالیٰ او د هغۀ ملائکې پۀ پیشمني کونکو رحمت لیږي. (احمد)

❁ د ابن محیریز رحمه الله نه روایت دے: رسول اللهﷺ به پیشمنے خوښولو اګرکۀ د اُوبو پۀ یو ګوټ سره به ؤ. (ابوداؤد في مراسیله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: خلق به پۀ خیر سره وي څو پورې چې هغوئ زر روژه ماتوي. (متفق علیه). حدیثِ قدسي دے: زما پۀ بندګانو کښې ما ته د ټولو نه غوره زر روژه ماتونکي دي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک روژه ماتوي نو پۀ کجوره دِ ماتوي، کۀ هغه نۀ مومي نو بیا دِ پۀ اُوبو ماتوي چې دا د پاکولو څیز دے. (متفق علیه)

۞ د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ چې به روژه ماته کړه نو وُ به ئې فرمائېل: تنده لاړه، رګونه لوانده شو او اجر ثابت شو اِن شآءَ الله ـ (ابوداؤد)

۞ د معاذ بن زهره رحمه الله نه روايت دے: رسول الله ﷺ چې به روژه ماتوله نو فرمائېل به ئې: اَللّٰهُمَّ لَکَ صُمتُ وَ عَلیٰ رِزقِکَ اَفطَرتُ (اے الله! ما روژه ونيوله او ستا په رزق مې ماته کړه) ـ (ابوداؤد في مراسيله)

چا له روژه ماتے ورکول، روژه دار کره د چا د ډوډۍ د خوړلو فضيلت

۞ رسول الله ﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: چا چې يو روژه دار له د روژې د ماتولو دپاره څۀ ورکړۀ نو دۀ له د هغۀ د اجر په شان اجر دے ـ (بخاري)

۞ رسول الله ﷺ په يوې خطبه کښې وفرمائېل: څوک چې په يو روژه دار اُوبۀ (يا شربت) وڅښوي نو الله تعالیٰ به په دۀ زما د حوض نه داسې اُوبۀ وڅښوي چې بيا به نۀ تږے کيږي دې پورې چې جنت ته داخل شي ـ (ابنِ خزيمه، فضائلِ رمضان)

۞ د اُمِّ عمارې انصارې رضي الله عنها نه روايت دے چې رسول الله ﷺ د هغې کره تشريف يوړو نو هغې ورته طعام وړاندې کړو ـ رسول الله ﷺ وفرمائېل: خوره ـ هغې ووې: زما روژه ده ـ رسول الله ﷺ وفرمائېل: روژه دار له ملائکې د مغفرت او رحمت دعاء غواړي کله چې د هغۀ کره خوراک خوړے کيږي تر دې چې خلق فارغ شي (يا ماړۀ شي) ـ (ترمذي)

تراويح، د هغې فضيلت، د اعتکاف فضيلت

✿ رسول اللهﷺ د رمضان د مياشتې ذکر کولو نو وئې وفرمائېل: دا يوه داسې مياشت ده چې الله تعالیٰ پۀ تاسو د دې روژې فرض کړې دي او ما د دې قيام (د تراويح نمونځ) تاسو له سنت ګرزولے دے. (ابن ماجه)

✿ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ د دې روژې فرض ګرزولي دي او د دې د شپې قيام نفل. (بيهقي)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ رمضان کښې قيام وکړو (تراويح ئې وکړې) پۀ ايمان او احتساب سره نو د دۀ مخکښېني ګناهونه به معاف کړے شي. (متفق عليه)

✿ د ابوهريرهؓنه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به د رمضان د قيام ترغيب فرمائېلو بغير د دې نه چې خلقو ته به ئې پۀ عزم (کلکه) سره د دې حکم کولو؛ فرمائېل به ئې: چا چې پۀ رمضان کښې قيام وکړو پۀ ايمان او احتساب سره نو د هغۀ مخکښېني ګناهونه به معاف کړے شي. (مسلم)

✿ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې يوه ورز د الله تعالیٰ د رضا دپاره اعتکاف وکړو نو الله تعالیٰ به د دۀ او د دوزخ پۀ مينځ کښې درې خندقونه فاصله جوړه کړي. (طبراني، بيهقي)

✿ رسول اللهﷺ د اعتکاف کونکي پۀ باره کښې وفرمائېل: دے د ګناهونو نه محفوظ وسېږي او نيکيانې ورله ليکلے کېږي د نورو نيکيانو کونکو پۀ شان. (ابن ماجه)

ليلة القدر، د هغې فضيلت او څۀ عملونه

✿ د انسؓنه روايت دے، فرمائي: رمضان داخل شو نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: دا مياشت تاسو ته راغلې ده او پۀ دې کښې يوه شپه ده چې د زرو

میاشتو نه غوره ده؛ څوک چې ترېنه محروم شو نو د ټول خیر نه محروم شو او د دې د خیر نه نۀ محروم کېږي مګر یو محروم سړے. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ لیلة القدر (شبِ قدر) کښې قیام وکړو (د شپې نمونځ او عبادت ئې وکړو) پۀ ایمان او احتساب سره نو د دۀ ړومبي ګناهونه به معاف کړے شي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: لیلة القدر د رمضان پۀ آخري عشره (لسو شپو) (یا د آخري عشرې پۀ ناتکې شپو) کښې تلاش کوئ. (بخاري، مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه د لیلة القدر دپاره دا دعاء مروي ده: اَللّٰهُمَّ اِنَّکَ عَفُوٌّ تُحِبُّ العَفوَ فَاعفُ عَنِّي (اے الله! تۀ معافي کونکے یې معافي خوښوې نو ما ته معافي وکړه). (ابن ماجه وغیره)

❁ عبد الله بن عباس رضي الله عنه د رسول اللهﷺ نه روایت کوي: کوم سړے چې پۀ لیلة القدر کښې دوه رکعته داسې وکړي چې پۀ هر رکعت کښې یوه پېره سورتِ فاتحه، وۀ پېرې قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد او د سلام ګرزولو نه پس اویا پېرې اَستَغفِرُ اللّٰهَ وَ اَتُوبُ اِلَیه ووایي نو دے به د نمانځۀ د ځائے نه نۀ وي پاڅېدلے چې الله تعالیٰ به د دۀ او د دۀ د مور او پلار د (وړو) ګناهونو مغفرت وکړي. (درة الناصحین)

❁ درسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څوک چې پۀ دې شپه (لیلة القدر) کښې یوه پېره سورتِ فاتحه، یوه پېره اَلهٰکُمُ التَّکَاثُر او درې پېرې قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد ووایي نو الله تعالیٰ به ئې د مرګ سختیانې آسانې کړي، د قبر د عذاب نه به ئې محفوظ کړي او پۀ جنت کښې به ورله د نور څلور ستنې ورکړي. (کتابچه: مجلسِ عارفي)

❁ علي رضي الله عنه فرمائې (مرفوعاً): کوم کس چې پۀ لیلة القدر کښې د ماسختن د نمانځۀ نه پس وۀ پېرې اِنَّآ اَنزَلنَاهُ (سورت) ولولي نو الله تعالیٰ به ورله د هرې

بلا او مصيبت نه خلاصے ورکړي او اويا زره فرښتې به ورله د جنت دعاء غواړي۔ (نزهة المجالس)

صدقهٔ فطر

❁ د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ فرض (مقرر) کړې ده صدقهٔ فطر (سرسائي) پاکي دپاره د روژه دار د لغو او ګنده خبرو نه او طعام دپاره د مسکينانو۔ (ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ فرض کړې ده صدقهٔ فطر يو اُوګے د کجورو يا يو اُوګے د وربشو پهٔ مسلمانانو کښې پهٔ غلام، آزاد، نارينه، زنانه، وړکي او لوئے باندې او حکم ئې فرمائيلے دے چې دا دِ ادا کړے شي مخکښې د وتو د خلقو نه (د اختر) نمانزهٔ له۔ (متفق عليه)

❁ پهٔ يو حديث مبارک کښې داسې راغلي دي: دوی (دا مسکينان) بې حاجته کړی پهٔ دې ورز کښې د ګرزيدو نه (پهٔ سوال پسې) ۔ (ابن عدي، دارقطني)

روژه نهٔ نيول، روژه کښې دروغ وغيره نهٔ پريښول ، د اختر پهٔ ورز روژه نيول

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: چا چې د الله تعالیٰ د ورکړي رخصت نه بغير د رمضان يوه روژه پريښوده نو د ټول عمر روژې به ورله (د ثواب) قضا راونګرزوي۔ (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: څوک چې (پهٔ روژه کښې) دروغ، بهتان (يا غيبت)، جهل او پهٔ هغې عمل پرې نږدي نو د الله تعالیٰ هيڅ حاجت نيشتے چې دے خپل خوړل او څښل پريږدي۔ (بخاري، ابن ماجه)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: غيبت کول روژه ماتوي ۔ (بوادر النوادر)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ډېر روژه نيونکي داسې دي چې هغوی له د خپلې روژې نه څۀ نيشتي سوا د تندې (او لوږې) نه، او ډېر د شپې قيام کونکي داسې دي چې هغوی له د خپل قيام نه څۀ نيشتي سوا د شپې رُونَولو نه ـ (دارمي)

❁ د ابوسعيد خدريرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: نيشتي روژه نيول د وړکي اختر (عيدالفطر) او د لوئے اختر (عيدالاضحیٰ) په دوؤ ورزو ـ (متفق عليه)

رمضان کښې د رحمت او مغفرت نه محروم پاتې کېدل

❁ رسول اللهﷺ په يو حديث شريف کښې وفرمائېل: بدنصيب هغه څوک دے چې په دې (رمضان) کښې د الله تعالیٰ د رحمت نه محروم پاتې شو ـ (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: جبريل (عليه السلام) زما مخې ته راغے وئې ويېل: لرې دِ شي (د خير نه) هغه څوک چې رمضان ومومي او بيا ئې هم مغفرت ونۀ شي! ما ووې: آمين! (بخاري، حاکم، ابن حبان، طبراني، بيهقي وغيرهم)

باب: حج، عمره، قرباني (مُثبت، منفي)

حج کول، د حج او د عمرې فضيلت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د الله تعالیٰ دپاره حج وکړي او څۀ لغو، فحش او د ګناه څۀ پکښې ونکړي نو دے به واپس شي د هغې ورزې په شان په کومه ورز چې دے مور زائېګولے ؤ ـ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حج د دې نه مخکښې چې څۀ ګناهونه شوي وي هغه ختموي ـ (مکتوباتِ امام رباني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې حج وکړو او د هغې مناسک (کارونه) ئې ادا کړۀ او مسلمانان د دۀ د ژبې او د لاس (د تکليف) نه محفوظ پاتي شو نو د دۀ ړومبني ګناهونه به معاف کړے شي. (اسلاميات)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د حجِ مبرور بدله نيشته مګر جنت دے. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: عمره د عمرې پورې د دوی پۀ مينځ کښې چې څۀ (واړۀ ګناهونه) شوي وي د هغې دپاره کفاره ده. (متفق عليه)

۞ د جابر بن عبدللهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺ خوا له يو اعرابي راغے او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! ما ته د عمرې باره کښې خبر راکړه چې دا واجب ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نا، خو کۀ تۀ عمره کوې نو تا له غوره ده. (ترمذي، احمد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ رمضان کښې عمره د حج (يا زما سره د حج) برابره ده. (متفق عليه)

د حج کونکي او عمره کونکي دعاء

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: حج کونکي او عمره کونکي د الله تعالیٰ وفد دے کۀ د هغۀ نه دعاء غواړي نو هغه ئې دعاء قبلوي او کۀ د هغۀ نه بخښنه غواړي نو هغه ورته بخښنه کوي. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: غازي د الله تعالیٰ پۀ لار کښې دے او حاجي او عمره کونکے د الله تعالیٰ قاصدان (وفد) دي، هغۀ دوی راوبلل نو دوی د هغۀ بلنه قبول کړه او دوی د هغۀ نه سوال وکړو نو هغۀ دوی له ورکړل. (ابن ماجه)

۞ د عمررضي الله عنه نه روايت دے چې هغوی د رسول اللهﷺ نه د عمرې اجازت وغوښتۀ، رسول اللهﷺ ورله اجازت ورکړو او وئې فرمائېل: اے زما

وروركيه! مونږ به د خپلې دعاء نه په څه کښې شريک کړې او مونږ به نه هېروې. (ابن ماجه)

حج نۀ کول، حج کښې ريا او اورونه کول

❁ رسول اللهﷺ په يو خطاب کښې وفرمائېل: اے خلقو! الله تعالىٰ په تاسو حج فرض کړے دے نو تاسو حج کوئ. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې نۀ وي منع کړے يو ښکاره حاجت يا يو ظالم بادشاه او يا يو بندونکي مرض او دے مري او حج ئې نۀ وي کړے نو کۀ ئې خوښه شي نو يهودي دِ مړ شي او کۀ ئې خوښه شي نو نصراني. (دارمي)

❁ رسول اللهﷺحج له روان شو په يوې زړې کجاوې باندې او يو څادر ئې اغوستے ؤ چې د څلورو درهمو برابر نۀ ؤ، وئې فرمائېل: اے الله! دا داسې حج جوړ کړه چې نۀ پکښې ريا وي او نۀ اورونه. (نورالیقین)

قرباني، فضيلت، څۀ آداب، د نۀ کولو وعيد

❁ د رسول اللهﷺ اصحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! دا قربانيانې څۀ دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستاسو دپلار ابراهيم (عليه السلام) سنت. هغوئ عرض وکړو: نو مونږ له په دې کښې څۀ دي اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ هر وېښتۀ يوه نيکي ده. هغوئ عرض وکړو: نو ګڼه اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ګڼه پۀ هر ويښته يوه نيکي ده. (احمد، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ابن آدم د قربانۍ پۀ ورز داسې يو عمل نۀ دے کړے چې الله تعالىٰ ته د وينې تويولو نه زيات خوښ وي. (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا چې قرباني وي نو چې د ذوالحجې د مياشتې اعلان وکړے شي نو نۀ دِ د وېښتو نه څۀ پرې کوي او نۀ د نوکونو نه تر دې چې قرباني وکړي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا چې وس وي او قرباني نۀ کوي نو زمونږ د نمانزۀ ځائے (عيدګاه) ته دِ نۀ نزدې کيږي. (ابن ماجه، احمد)

باب: نذر منل

د نذر حقيقت وغيره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نذر (د الله تعالىٰ د تقدير او مقررې نه) څۀ نۀ واپس کوي، پۀ دې سره خو صرف د بخيل (شوم) نه څۀ راويستلے کيږي. (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نذر نۀ څۀ مخکښې کوي او نۀ روستو کوي دا خو يو شے دے چې د بخيل نه پرې څۀ راويستلے کيږي. (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نيشتے پۀ بنده باندې نذر (پوره کول) پۀ هغه څۀ کښې د څۀ چې دے مالک نۀ وي (د څۀ ئې چې اختيار او قدرت نۀ وي). (ترمذي)

د ګناه د خبرې نذر، هغه نۀ پوره کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نيشتے نذر پۀ څۀ ګناه کښې او کفاره ئې د قسم کفاره ده. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې نذر ومنۀ چې د الله تعالىٰ فرمان برداري وکړي (يعني د نيکۍ د څۀ خبرې نذر ئې وُمنۀ) نو د هغۀ فرمان برداري دِ وکړي (دغه نذر دِ پوره کړي)، او چا چې نذر وُمنۀ چې د الله تعالىٰ نافرماني وکړي

(يعني د ګناه د څۀ خبرې نذر ئي ومنۀ) نو د هغۀ نافرماني دِ نۀ کوي (دغه نذر دِ نۀ پوره کوي) . (بخاري، نسائي)

کتاب: اخلاق او معاشرت

باب: ښۀ اخلاق (بنيادي، معاشرتي)

د ښۀ اخلاقو تاکيد ، فضيلت، اهميت، فائدې

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: تاسو خپل اخلاق ښۀ کړئ. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: بېشکه الله تعالىٰ اوچت اخلاق خوښوي او لاندې اخلاق ناخوښوي. (طبراني، حاکم، بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د الله تعالىٰ اخلاق خپل کړئ. (بوادر النوادر)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: ښۀ خوئي د الله تعالىٰ د ټولو نه لوئے خوئي دے. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالىٰ زۀ د اوچتو اخلاقو (مکارمِ اخلاق) او د ښکلو کارونو د تمامولو دپاره رالېږلے يم. پۀ يو بل روايت کښې داسې دي: زۀ رالېږلے شوے يم چې ښۀ اخلاق تمام کړم (يا لکه چې دا شانې هم روايت دے: ماته اوچت اخلاق راکړے شوي دي) . (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د سړي د نيک بختۍ نه ښۀ اخلاق دي . (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ ته خلقو عرض وکړو: اے د الله رسوله! انسان ته د ټولو نه غوره څۀ ورکړے شوي دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ښۀ اخلاق ـ (بيهقي، شرح السنه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ټولو نه درانۀ څۀ چې به د قيامت پۀ ورز د مومن پۀ تله کښې ايښودے کيږي هغه ښۀ اخلاق دي ـ (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ ميزان کښې به د ښۀ اخلاقو نه زيات درانۀ څۀ نۀ وي) ـ (ترمذي،الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: مومن پۀ خپل ښۀ اخلاقو سره د شپې د نمونز کونکي او د ورزې د روژه نيونکي درجه مومي ـ (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: بنده پۀ خپل ښۀ خوئي سره د آخرت لويو درجو او اوچتو منزلونو ته رسي او حال دا وي چې دے پۀ عبادت کښې کمزورے وي ـ (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ښۀ اخلاق ګناه داسې اُوبۀ کوي لکه نمر (غارمۀ) چې ګره ګرے اُوبۀ کوي ـ (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالىٰ چې د چا د بدن جوړخت او اخلاق ښکلي کړي وي هغه پۀ اُور نۀ خوروي (نۀ سوزوي) ـ (ابن عدي، طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم حديث مروي دے: تاسو خلق پۀ خپلو مالونو سره نۀ شئ ځايولے، ستاسو کولاؤ (رون) مخ او ښۀ اخلاق هغوی ځايولے شي ـ (احياء)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: اے اُمِّ حبيبې! ښۀ اخلاقو د دنيا او د آخرت خيرونه يوړل ـ (طبراني، بزار)

ښهٔ اخلاق او دین، ښهٔ اخلاق او جنت

❁ روایت دے چې یو سړے د رسول اللهﷺمخې ته راغے او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله دین څهٔ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ښهٔ اخلاق۔ هغه د رسول اللهﷺښي طرف ته شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله دین څهٔ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ښهٔ اخلاق۔ هغه د رسول اللهﷺچَپ طرف ته شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله دین څهٔ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ښهٔ اخلاق۔ بیا هغه د رسول اللهﷺشاته شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله دین څهٔ شے دے؟ رسول اللهﷺهغهٔ ته مخ راوګرزولو او وئې وفرمائېل: تهٔ نهٔ پوهېږې؟ (دین دا دے) چې تهٔ غصه نهٔ کوې۔ (احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: جنت پهٔ ښهٔ اخلاقو او ښهٔ اعمالو کښې پټ دے۔ (احیاء)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: قسم مِ دِ پهٔ هغه ذات وي د چا پهٔ لاس کښې چې زما روح دے! جنت ته به نهٔ زي مګر د ښهٔ اخلاقو والا سړے۔ (احیاء)

❁ رسول اللهﷺپهٔ یو حدیث مبارک کښېوفرمائېل: تاسو خبر یئ؟ د ټولو نه زیات چې به څهٔ ځیزونه خلق جنت ته بوزي هغه د الله تعالیٰ یره او ښهٔ اخلاق دي۔ (ترمذي، ابن ماجه)

د ښهٔ اخلاقو یو صورت

❁ رسول اللهﷺ عقبهرضی اللہ عنهته وفرمائېل: اے عقبه! زهٔ تا ته د دنیا او د آخرت والو د ټولو نه غوره اخلاق ونهٔ ښایم؟ چې تهٔ صله رحمي وکړې هغه چا سره څوک چې ستا نه قطع رحمي وکړي او معافي وکړې هغه چا ته څوک چې پهٔ تا ظلم وکړي۔ (ابن ابی الدنیا، طبراني، بیهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے ابوهريره! ښۀ اخلاق لازم ونيسه۔ ابوهريرهؓ وفرمائېل: ښۀ اخلاق څۀ دي اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې تۀ صله رحمي وکړې هغۀ چا سره څوک چې ستا نه قطع رحمي وکړي او معافي وکړې هغه چا ته څوک چې پۀ تا ظلم وکړې او ورکول وکړې هغه چا له څوک چې تا محروم کړي۔ (بيهقي)

خوش اخلاقه خلق، د هغوی څۀ فضيلت

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې د ټولو نه پۀ غورو خلقو کښې (يا ما ته د ټولو نه پۀ خوښو خلقو کښې) هغه دي کوم چې پۀ تاسو کښې د ټولو نه د ښۀ اخلاقو والا وي۔ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې ما ته د ټولو نه خوښ هغه دي او د قيامت پۀ ورز به ما ته پۀ ټولو کښې نزدې هغه وي کوم چې پۀ تاسو کښې د ټولو نه زيات خوش اخلاقه وي۔ (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ مومنانو کښې د ټولو نه د زيات کامل ايمان والا هغه دے کوم چې پۀ هغوی کښې د ټولو نه ښۀ اخلاق لرونکے وي۔ (ترمذي، ابوداؤد، دارمي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پۀ مسلمان والي کښې د ټولو نه ښۀ خلق هغه دي کوم چې د ټولو نه د ښۀ اخلاقو والا وي۔ (احمد، ابن ابی الدنيا)

د رسول اللهﷺ اخلاق، د هغې څۀ نمونه، ښۀ اخلاقو له د هغوی څۀ دعاګانې

۞ انسؓ فرمائي: رسول اللهﷺ پۀ اخلاقو کښې د ټولو خلقو نه ښۀ ؤ۔ (ابوداؤد)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے: د رسول اللهﷺ اخلاق (خوئي) قرآن ؤ. (الادب المفرد)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے: ما د رسول اللهﷺ لس کاله خدمت کړے دے هغوی ما ته اُف چرته هم نۀ دے ویلے او نۀ ئې د څۀ کار پۀ باره کښې چې ما به وکړو چرته دا ووې چې دا دِ ولې وکړو او نۀ ئې د څۀ کار پۀ باره کښې چې ما به ونکړو چرته دا ووې چې دا دِ ولې ونکړو او رسول اللهﷺ پۀ اخلاقو کښې د ټولو خلقو نه ښۀ ؤ. (بخاري، مسلم، الترمذي فی الشمائل)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه پۀ یو روايت کښې دي: ما رسول اللهﷺ چرته هم د څۀ ظلم پۀ بدله اخستو نۀ ؤ لیدلے څو پورې چې به د الله تعالیٰ د محارمو بې حرمتي نۀ وه شوې. (الترمذي فی الشمائل)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ پۀ خپل لاس مبارک سره هیڅکله څوک نۀ ؤ وهلے مګر کله چې به ئې د الله تعالیٰ پۀ لار کښې جهاد کولو، او نۀ ئې یو خادم وهلے ؤ او نۀ یوه ښځه. (الترمذي فی الشمائل)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: یو اعرابي راغے او پۀ جمات کښې پیشابو ته ودرېد. اصحابو ورته ووې: مۀ که مۀ که. رسول اللهﷺ وفرمائېل: مۀ ئې قطع کوئ، دے پرېږدئ (چې پوره کړي)، هغوی پرېښودۀ. بیا رسول اللهﷺ هغه راوغوښتۀ او ورته ئې وفرمائېل: دا جماتونه د دې پیشابو او ګندګۍ دپاره نۀ دي، دا خو د الله تعالیٰ د ذکر، د مانځۀ او د قرآن لوستو دپاره دي. بیا رسول اللهﷺ د قوم یو سړي ته حکم وفرمایۀ، هغۀ یوه بوکه اُوبۀ راوړې او پۀ هغې ئې (رو رو) واړولې. (مسلم)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به د چا سره ملاؤ شو او خبرې به ئې ورسره شروع کړې نو مخ مبارک به ئې تر هغه نۀ اړولو څو پورې

چې به هغه کس بل طرف ته نهٔ شو، او د چا سره چې به ئې لاس ملاؤ کړو نو خپل لاس مبارک به ئې د هغهٔ د لاس نه نهٔ ویستهٔ څو پورې چې به هغهٔ خپل لاس ونهٔ ویست. (ابن ماجه). په یو بل روایت کښې انس رضي الله عنه داسې فرمائي: ما یو سړے ونهٔ لید چې د رسول الله ﷺ سره ئې په غوږ کښې خبره کوله او رسول الله ﷺ خپل سر لرې کړو تر څو چې هغه سړي خپل سر لرې نکړو، او ما یو سړے ونهٔ لید چې د رسول الله ﷺ لاس ئې ونیسهٔ او رسول الله ﷺ د هغهٔ لاس پرېښو تر څو چې هغه سړي د دوی لاس پرې نښو. (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ سره چې به څوک ملاوېدهٔ نو دوی به ړومبے سلام کولو او د خپلو اصحابو سره به ئې په ګړه بړه کښې مخکښې والے کولو. (نورالعین)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ فاحش (بد کلام، بدخویه) او متفحش (بد ژبے، بې حیا) نهٔ ؤ او نهٔ په بازارونو کښې شور کونکے ؤ. (الترمذي فی الشمائل)

❁ ابن ابي هاله رضي الله عنه روایت کوي: رسول الله ﷺ همېشه رون مخ والا او نرم خوئے ؤ، او بداخلاقه، سخت مزاجه، شور کونکے، حیا نهٔ لرونکے، عیب بیانونکے او (مخامخ) مدح کونکے نهٔ ؤ. (نورالیقین)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ ته چې به د چا په باره کښې څهٔ خبر ورسېدهٔ نو دا به ئې نهٔ فرمائېل چې د فلاني څهٔ حال دے چې داسې وایي بلکې فرمائېل به ئې چې د څهٔ کسانو څهٔ حال دے چې داسې وایي. (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ به دعاء فرمائېله: اے الله! تا زما (د بدن) جوړخت او صورت ښکلے کړے دے نو زما اخلاق ښکلي کړه. (احمد)

❁ د رسول اللهﷺیوه دعاء به د نمانزۀ پۀ شروع کښې دا وه: اے الله! ما د ټولو نه ښۀ اخلاقو ته بوزې (یا ورسوې) او د ټولو نه ښۀ اخلاقو ته بوتلل نۀ کوي مګر تۀ. (مسلم)

باب: بد اخلاق (بنیادي، معاشرتي)

د بدو اخلاقو بدوالے، وبال، د رسول اللهﷺد بدو اخلاقو خلاف دعاء

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: بداخلاقي داسې ګناه دے چې نۀ معاف کیږي. (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: بنده پۀ خپلو بدو اخلاقو سره د جهنم د ټولو نه ښکته حصې ته رسي. (طبراني، احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: بداخلاقي سپېرۀ والے (منحوس والے) دے (یا سپېرۀ والے بداخلاقي ده). (احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: بد او خراب اخلاق عمل داسې خرابوي لکه سرکه چې ګبین خرابوي. (اساس العربیه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یوې دعاء کښې وفرمائیل: اے الله! ما د بدو اخلاقو نه واړوې او د بدو اخلاقو نه اړول نۀ کوي مګر تۀ. (مسلم)

د بداخلاقه خلقو بدوالے، جنت نه محروم، دوزخ ته تلونکي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ خلقو کښې د ټولو نه بد هغه څوک دے د چا چې اخلاق د ټولو نه بد وي. (ترمذي). پۀ یو بل روایت کښې دي چې پۀ تاسو کښې د ټولو نه بد هغه دي کوم چې پۀ اخلاقو کښې د ټولو نه بد وي. (اساس العربیه)

۞ رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: په تاسو کښې ما ته د ټولو نه ناخوښ هغه دي او د قيامت په ورز به زما نه په ټولو کښې لرې هغه وي کوم چې په تاسو کښې د ټولو نه زيات بداخلاقه وي، ډيرې خبرې کونکي، ژامې کږونکي (خلقو پورې ټوقې کونکي)، تکبر کونکي. (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: بداخلاقه (بدخويه، بدزبانه، بدمزاجه، بددماغه، بدتهذيبه، سخت زړے، ناړامه) سړے جنت ته نۀ شي تلے. (ابوداؤد، بيهقي، شرح السنه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زۀ تاسو ته د دوزخ والو خبر درنکړم؟ هر بداخلاقه، بخيل، متکبر سړے (يا هر سرکشه، متهور، متکبر سړے). (بخاري، مسلم، ابن ماجه)

کتاب: څۀ اخلاقي، معاشرتي او ذاتي ښۀ او بد عملونه، خصلتونه

باب: ښۀ عملونه، متعلقات

د الله او د هغۀ د رسول سره محبت

۞ د انس رضي الله عنه نه روايت دے چې يو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! قيامت به کله وي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: هلاک شې! تا ورله څۀ تيارے کړے دے؟ هغۀ عرض وکړو: ما خو تيارے نۀ دے کړے ليکن زۀ د الله او د هغۀ د رسول سره محبت ساتم. رسول اللهﷺ وفرمائيل: تۀ به د هغه چا سره يې د چا سره چې محبت ساتې. انس رضي الله عنه فرمائي: ما مسلمانان د اسلام نه روستو په څۀ شي دومره خوشحاله نۀ وو ليدلي څومره چې په دې خوشحاله شو. (متفق عليه)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: پۀ تاسو کښې څوک د هغه وخته پورې مومن نۀ شي کېدے څو پورې چې ورته الله او د هغۀ رسول د نور هر څۀ نه زيات محبوب نۀ شي. (احياء)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: د الله تعالیٰ سره محبت ساتئ ځکه چې هغه تاسو له نعمتونه درکوي او ما سره محبت ساتئ ځکه چې د الله تعالیٰ زما سره محبت دے. (ترمذي)

پۀ الله توکل او اعتماد، د توکل يو صحيح صورت

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: کچرې تاسو پۀ الله تعالیٰ داسې توکل کولے څنګه چې حق دے نو هغۀ به تاسو له داسې رزق درکولو څنګه چې مرغو له ورکوي چې سحر وږې زي او ماښام مړې راواپس کيږي. (تر مذي، حاکم)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما د اُمت نه به اويا زره کسان بغير د حساب نه جنت ته داخليږي. دا هغه خلق دي چې نۀ د منتر طلب کوي نۀ فال (بدفالي) نيسي او پۀ خپل رب توکل کوي. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د سړي زړۀ له پۀ هرې وادۍ کښې يوه شعبه (ټکړه) ده، پس کچرې دے خپل زړۀ پۀ ټولو شعبو پسې کړي نو الله تعالیٰ به پروا ونکړي چې پۀ کومه وادۍ کښې ئې هلاک کړي، او څوک چې پۀ الله تعالیٰ توکل وکړي نو هغه به ورله د ټولو شعبو نه کافي شي. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د الله تعالیٰ طرف ته جدا او پوره متوجه شي نو الله تعالیٰ به ئې هر حاجت له کافي شي او د داسې ځائے نه به ورله رزق ورکوي چې پۀ ګمان کښې به ئې هم نۀ وي. (طبراني، ابن ابی الدنيا)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: څوک چې د الله شو الله د هغۀ شو. ()

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ دې خوشحاله وي چې د ټولو خلقو نه زيات غني شي نو د الله تعالىٰ سره چې څۀ دي پۀ هغې دِ د هغې نه زيات اعتماد کونکے شي څۀ چې د دۀ پۀ لاس کښې دي. (حاکم، بيهقي)

۞ يو اعرابي د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو. رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: اُوښ دِ څۀ کۀ؟ هغۀ ووې: پرانستے مِ پرېښو او پۀ الله مِ توکل وکړو. رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: خپل اُوښ وتړه او پۀ الله توکل وکړه. (زاد المعاد)

يقين لرل، راضي والے، ښۀ ګمان ساتل

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: يقين بس ايمان دے. (فضائلِ صدقات)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دې اُمت اولنے روغ والے يقين او د دنيا نه بې رغبتي ده (او د دې اولنے وران والے بخيلتوب او اوږد اُميد دے). (بيهقي)

۞ د رسول اللهﷺ ارشاد دے: يقين ازده کړئ. (فضائلِ صدقات)

۞ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې مروي دي: يقين لرونکے به دوزخ ته نۀ زي. (احياء)

۞د رسول اللهﷺ (يا د ابن عباس رضي الله عنه) نه مروي دي: الله تعالىٰ پۀ خپل حکمت او جلال (يا انصاف) سره راحت پۀ رضا او يقين کښې اېښې دے. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالىٰ چې د يو قوم سره محبت لري نو مصيبت پرې راولي پس څوک چې راضې شو نو هغۀ له رضا ده (او څوک چې نارضا شو نو هغۀ له ناراض والے دے). (ابن ماجه، ترمذي)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ښۀ ګمان د ښۀ عبادت نه دے. (احمد، ابوداد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: زۀ د خپل بنده د ګمان سره يم کوم چې هغه پۀ ما ساتي نو وُدِساتي پۀ ما داسې ګمان څنګه چې هغه وغواړي ـ (ابن حبان، احمد ، بيهقي)

د الله يره، اُميد (د رحم) او يره (د عذاب نه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د حکمت (عقلمندی) سر د الله تعالیٰ يره ده ـ (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: پۀ خپل عزت دِ زما قسم وي! زۀ پۀ خپل بنده دوه يرې نۀ جمع کوم او نۀ ورله دوه بې يرې والي جمع کوم، پس کچرې دے زما نه پۀ دنيا کښې بې يرې شو نو زۀ به ئې د قيامت پۀ ورز ويروُم او کۀ زما نه پۀ دنيا کښې وُيرېدۀ نو زۀ به ئې د قيامت پۀ ورز بې يرې کړم ـ (ابن حبان، بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ د يو ځوان خوا ته د هغۀ د وفات کېدو پۀ وخت کښې تشريف يوړو او د هغۀ نۀ ئې تپوس وکړو چې تۀ ځان څنګه محسوسوې؟ هغۀ ووېيل: اے د الله رسوله! زۀ اُميد لرم او د خپلو ګناهونو نه يرېږم ـ رسول اللهﷺ وفرمائيل: دا دوه څيزونه د چا پۀ زړۀ کښې نۀ جمع کيږي مګر الله تعالیٰ ورله هغه ورکوي د څۀ چې اُميد لري او د هغې نه ئې پۀ امن کوي د څۀ نه چې يريږي ـ (ترمذي)

اخلاص، حيا (فطري، معاشرتي)، فضيلت

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ فرمائي: اخلاص زما د رازونو نه يو راز دے چې د خپلو بندګانو نه مِ د هغه چا پۀ زړۀ کښې ابښے دے د چا سره چې مِ محبت وي ـ (احياء)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ صرف هغه عمل قبلوي کوم چې خالص د هغۀ دپاره وي او د هغۀرضا پرې غوښتے کيږي ـ (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حیا د ایمان یوه شعبه (څانګه) ده. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حیا د ایمان نه ده او ایمان (والا) به په جنت کښې وي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حیا او ایمان دوه ملګري دي چې یو پورته کیږي نو بل پورته کیږي. (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د هر دین څۀ خوئي وي او د اسلام خوئي حیا ده. (مالک، ابن ماجه، بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حیا سراسر خیر دے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حیا نۀ راوړي مګر خیر. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حیا څۀ شي ته نۀ زي مګر هغه ښکلے کوي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ حیاناک، زغم وړونکے سړے خوښوي. (طبراني)

خپل خواهش پرېښول، د نفس او د زړۀ غني والے

❁ د رسول اللهﷺنه د دې مفهوم روایت کړے شوے دے: د کوم سړي چې څۀ خواهش وشو او دۀ خپل خواهش دفع کړو او آخرت (یا بل څوک) ئې په خپل ځان مخکښې کړو نو دے به بخښلے کیږي. (ابن حبان)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نۀ دے غني والے په ډېر مال (یا سامان) سره، غني والے د نفس غني والے دے. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد فرمائي: غنا (توانګري، بې نیازي) صرف د زړۀ غنا ده او فقیري (محتاجي) صرف د زړۀ فقیري ده. (ترغیب)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستا پهٔ لاس کښې چې څهٔ دي (يا چې الله تعالیٰ تا له کومه حصه مقرر کړې ده) پهٔ هغې قناعت (صبر) وکړه نو پهٔ خلقو کښې به د ټولو نه لوئے غني (مالدار، توانګر، بې نياز) شې. (احمد، ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: قناعت کونکے شه نو پهٔ خلقو کښې به د ټولو نه لوئے شکر کونکے شې. (ابن ماجه)

د خلقو نه بې پروا اوسېدل

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د مومن عزت د خلقو نه د دهٔ بې پروا والے دے. (طبراني، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څهٔ ښهٔ سړے دے هغه فقيه (پوهه) پهٔ دين کښې چې کهٔ د چا ورته حاجت شي نو فائده رسوي او کهٔ بې پروائي ترې وُشي نو خپل ځان بې پروا کوي! (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې (د سوال وغيره نه) پاک او بچ پاتې کېدل وغواړي نو الله تعالیٰ به هغه پاک او بچ کړي او څوک چې بې پروائي (مُستغني والے) وغواړي نو الله تعالیٰ به هغه بې پروا کړي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث شريف کښې ارشاد وفرمايهٔ: د خلقو سره چې څهٔ دي د هغې نه بې رغبته شه نو خلق به تا سره محبت وکړي. (ترمذي، ابن ماجه)

سخاوت، د سخي څهٔ فضائل

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د الله تعالیٰ درې سوه خويونه دي څوک چې هغهٔ ته د دې نه پهٔ يو سره نزدې شو نو جنت ته به زي او پهٔ دې کښې هغهٔ ته د ټولو نو خوښ سخاوت دے. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ دا دين د خپل ځان دپاره خالص کړے دے او ستاسو د دين سره مناسب نهٔ دي مګر سخاوت او ښهٔ اخلاق، پس تاسو خپل دين پهٔ دې دواړو سره ښائسته کړئ. (دارقطني)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: سخاوت د الله تعالیٰ د سخاوت نه دے پس تاسو سخاوت کوئ الله تعالیٰ به تاسو سره سخاوت وکړي. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: سخاوت د يقين نه دے او يقين لرونکے دوزخ ته نۀ شي تلے . (احياء)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: سخاوت پۀ جنت کښې يوه وُنه ده پس څوک چې سخي وي دے به د هغه وُنې يوه څانګه ونيسي نو هغه څانګه به ئې نۀ پرېږدي تر دې چې جنت ته ئې داخل کړي. (دارقطني)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: بېشکه الله تعالیٰ سخي دے سخاوت خوښوي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سخي جاهل الله تعالیٰ ته د بخيل عابد نه زيات خوښ دے. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: الله تعالیٰ د سخي غلطي معاف کوئ. (احياء)

❁ رسول اللهﷺارشاد وفرمايۀ: د سخي خوراک دوا وي (او د بخيل خوراک مرض وي). (ابن عدي، ابن حبان)

د خير وينا يا خاموشي، د خاموشۍ څۀ فضيلت

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: څوک چې پۀ الله تعالیٰ او د قيامت پۀ ورز ايمان لري نو د خير وينا دِ کوي يا دِ خاموش پاتې کيږي. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: د خير خبرې د خاموشۍ نه غوره دي او خاموشي د بدو خبرو نه غوره ده. (بيهقي، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ دِ رحم وکړي پۀ هغه بنده کوم چې کله خبرې کوي نو فائده حاصلوي او چې خاموش پاتې کيږي نو سلامتي مومي.

(نورالیقین) ـ پۀ یو بل روایت کښې داسې دي: د خیر وینا کوی نو نفع به مومی او د شر نه خاموش پاتې کېږی نو سلامتي به مومی. (اساس العربیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زۀ تاسو ته د هغه عبادت خبر درنکړم کوم چې پۀ بدن د ټولو نه زیات آسان او سپک دے؟ خاموشي او ښۀ اخلاق ـ (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د سړي پۀ خاموشی باندې پاتې کېدل د اویاؤ کالو د عبادت نه غوره دي ـ (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې خاموشي وکړه هغۀ خلاصے بیاموندۀ ـ (ترمذي، احمد ،دارمي، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: کله چې تاسو مومن خاموشه، وقار والا وینی نو هغۀ ته نزدې کېږی ځکه چې هغۀ ته حکمت (دانائي) ورکولے کېږي ـ (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: خاموشي حکمت دے خو لږ د دې کونکي دي ـ (بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: نمونز د دین ستن ده او خاموشي غوره ده، صدقه د رب غصه مړوي او خاموشي غوره ده، روژه د دوزخ د اور نه ډال دے او خاموشي غوره ده او جهاد د دین قب (بره سر) دے او خاموشي غوره ده ـ (المنبهات)

رشتیا ، ویېل، ښۀ وعده

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: رشتیا نیکي ده او نیکي سړے جنت ته بوزي ـ (مسلم، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: رشتیا خلاصول کوي ـ (ترغیب)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: رشتيا (د زړهٔ) اطمينان دے. (ترمذي، احمد، نسائي، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: رشتيا پهٔ ځان لازم کړئ ځکه چې رشتيا نيکۍ ته بوتلهٔ کوي او نيکي جنت ته، او سړے رشتيا وايي او د رشتياؤ قصد او کوشش کوي تر دې چې د الله تعالیٰ سره رشتونے وُليکلے شي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: رشتوني ته ويېلے کيږي چې دهٔ رشتيا ووې او د نيکۍ کار ئې وکړو. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: ښهٔ وعده (د لوظ خبره) د ايمان نه ده. (اساس العربيه)

امانت ساتل، خيانت نهٔ کول، د خبرې، د مشورې، د مجلس او د راز امانت

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د دې دين د ټولو نه سخت څيز امانت دے. (بزار)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: امانت ورکړه هغه چا له څوک چې تاسره امانت کېږدي او خيانت مهٔ کوه د هغه چا سره څوک چې تاسره خيانت وکړي. (ابوداؤد، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ لاس باندې هغه څهٔ (لازم) دي څهٔ چې دے واخلي تر دې چې هغه (واپس) ادا کړي. (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېل: خبرې ستاسو پهٔ مېنځ کښې امانت دي. (ابن ابی الدنيا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سړے چې خبره وکړي او بيا بل طرف ته شي (يا غائب شي) نو دا امانت دے. (ترمذي، ابوداؤد)

✿رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایهٔ: د چا نه چې مشوره اخستے کیږي هغه امانت لرونکے دے (یعني هغه څوک دے د چا سره چې امانت وي) ـ (ترمذي)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائیل: مجلسونه پهٔ امانت سره دي ـ (ابوداؤد)

✿ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د یو بل سره دوه کښېناستونکي د الله تعالیٰ پهٔ امانت سره کښېني نو پهٔ هغوی کښې یو له دا جائز نهٔ دي چې د خپل ملګري هغه څهٔ ظاهر او خوارهٔ کړي چې هغه ئې (ظاهرول او خورول) بد ګڼي ـ (احیاء)

نظر ښکته کول، شراب نهٔ څښل، ګیره اوږدول، بریت صفا کول

✿ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کوم مسلمان چې د ښځې ښکلاګانو (یا د ښکلا ځایونو) ته اول ځل وګوري او بیا خپل نظر ښکته کړي نو الله تعالیٰ به دهٔ له یو داسې عبادت پیدا کړي چې دے به د هغې خوږوالے محسوسوي ـ (احمد)

✿ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: الله تعالیٰ فرمائي: څوک زما د یرې نه شراب نهٔ پرېږدي مګر زهٔ به پرې د جنت د حوضونو نه (یعني شرابِ طهور) وڅښوم ـ (احمد)

✿ رسول اللهﷺپهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: زما رب ما ته حکم کړے دے چې زهٔ ګیره اوږده ساتم او بریت صفا کوم (خریل یا ژور واړه کول یا ئې غاړې اخستل) ـ (الکامل لابن اثیر)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائیل: بریت صفا کوئ او ګیرې اوږدوئ ـ (نسائي، طبراني)

✿ رسول اللهﷺوفرمائیل: بریت صفا کوئ او ګیرې اوږدوئ او د یهودیانو مشابهت مهٔ کوئ ـ (شرح معاني الآثار)

تواضع، د دې تاکید او فضیلت، پۀ تواضع سره اوچت والے راتلل، بې تکلفي وغیره

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: الله تعالیٰ ما ته وحي کړې ده چې تاسو ټول خلق تواضع (عاجزي، ښکته والے) شروع کړئ. (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تاسو چې زما د اُمت تواضع کونکي اینئ نو هغوئ ته تواضع کوئ. (احیاء)

❁د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د الله تعالیٰ دپاره د تواضع کولو نه داخبره هم ده چې سړے پۀ مجلس کښې پۀ لاندې (معمولي) ځائے راضي شي. (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تواضع نۀ زیاتوي بنده مګر پۀ اوچت والي کښې پس تاسو تواضع اختیار کړئ. (ترغیب)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څوک تواضع نۀ کوي مګر الله تعالیٰ هغه اوچتوي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: چا چې د الله تعالیٰ دپاره تواضع وکړه الله تعالیٰ به هغه اوچت کړي. (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: چا د الله تعالیٰ دپاره تواضع نۀ ده کړې مګر الله تعالیٰ هغه اوچت کړے دے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ او زما د اُمت د ټولو نه زیات پرهېزګاران خلق د تکلف نه آزاد یو. (دارقطني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مونږ د تکلف کولو نه منع کړے شوي یو. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایۀ: زۀ د تکلف کونکو نه نۀ یم. (بخاري، مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: تاسو د بوډۍ ګانو دین لازم ونیسۍ. (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تکبر ونکړو هغه چا د چا سره چې د هغهٔ خادم ډوډۍ وخوړه، چا چې پهٔ بازارونو کښې پهٔ خرهٔ سورلي وکړه او چا چې بیزه وتړله او وئې لشله. (الادب المفرد)

د رسول اللهﷺ د تواضع او بې تکلفۍ وغیره څهٔ نمونه

❁ د عمر بن خطابرضی الله عنه نه روایت دے چې رسول الله ﷺ وفرمائېل: زما پهٔ مدح کښې د حد نه مهٔ اوړۍ لکه نصاریٰ چې د عیسیٰ بن مریم (علیهما السلام) پهٔ مدح کښې د حد نه اوختي دي، زهٔ نهٔ یم مګر بنده د الله نو تاسو د الله بنده او د هغهٔ رسول وایۍ. (الترمذي فی الشمائل)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو موقع کښې وفرمائېل: زهٔ بادشاه (مِلک) نهٔ یم، زهٔ بس ستاسو نه یو سړے یم. (نورالیقین)

❁ رسول اللهﷺ به فرمائېل: زهٔ بس یو بنده یم (خوراک) خورم لکه بنده چې خوري او کښېنم لکه بنده چې کښېني. (نورالیقین)

❁ د انسرضی الله عنه نه روایت دے: خلقو ته د رسول اللهﷺ نه زیات څوک خوښ نهٔ ؤ خو کله چې به ئې رسول اللهﷺ لیدهٔ نو پاڅېدل به نهٔ ځکه چې هغوی ته معلومه وه چې رسول اللهﷺ دا بد ګڼي. (الترمذي فی الشمائل)

❁ د انس بن مالکرضی الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ به د مریض تپوس کولو، جنازې ته به حاضرېدلو، پهٔ خر به ئې سورلي کوله او د غلام دعوت به ئې قبلولو. (الترمذي فی الشمائل)

❁ د انسرضی الله عنه نه روایت دے چې د مدینې یوې وینزې به رسول اللهﷺ د ګوتې نه نیسهٔ او چرته چې به ئې غوښتهٔ هلته به ئې بوتهٔ. (بخاري)

۞ یوه ښځۀ د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې وکړو چې زما ستاسو سره څۀ کار دے نو رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: د مدينې پۀ کومه لار کښې چې دِ خوښه وي کښېنه زۀ ستا سره کښېنم ـ (الترمذي فى الشمائل)

۞ د ابو رفاعه تميم بن اُسيدرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: زۀ رسول اللهﷺ ته ورسېدم او هغوی خطبه فرمائېله نو ما ووې: اے د الله رسوله! يو ناشنا مسافر سړے راغلے دے د خپل دين پۀ باره کښې تپوس کوي نۀ پوهيږي چې د دۀ دين څۀ دے؟ رسول اللهﷺ زما طرف ته متوجه شو او خطبه ئې پرېښوه تر دې چې ما ته راورسېدۀ، يوه کرسۍ ورله راوړے شوه او پۀ هغې کښېناستلو او ما ته ئې ښودل شروع کړۀ د هغه څۀ نه څۀ چې هغوی ته الله ښودلي وو بيا خپلې خطبې له لاړو او پوره ئې کړه ـ (مسلم)

۞ انسرضي الله عنه فرمائي: رسول اللهﷺزمونږ څنګې ته تشريف راوړو او زۀ پۀ وړو کښې يو وړکے وُم، پۀ مونږه ئې سلام ووې او بيا ئې زما لاس ونيسۀ او زۀ ئې د خپل څۀ پيغام سره ولېږلم او د يو ديوال سوري ته (يا يو ديوال ته) کښېناستۀ تر دې چې زۀ هغوی ته واپس شوم ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ نۀ دے رالېږلے يو نبي مګر هغۀ ګډې بېزې څرولې دي ـ صحابه ؤ عرض وکړو: تاسو هم؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: آ، ما به مکې والو له پۀ څۀ قيراطونو څرولې ـ (بخاري)

۞ د زيد بن ثابترضي الله عنهنه پۀ يو حديث کښې روايت دے، فرمائي: کله چې به مونږ د دنيا ذکر کولو نو رسول اللهﷺبه زمونږ سره د دنيا ذکر کولو او کله چې به مونږ د آخرت ذکر کولو نو رسول اللهﷺبه زمونږ سره د آخرت ذکر کولو او کله چې به مونږ د خوراک ذکر کولو نو رسول اللهﷺبه زمونږ سره د خوراک ذکر کولو ـ (الترمذي فى الشمائل)

❁ د جابر بن سمره رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: زۀ د رسول الله ﷺ سره د سلو ېېرو نه زيات ناست يم، د رسول الله ﷺ اصحابو به د يو بل سره شعرونه ويېل او د جاهليت د زمانې څۀ خبرې به ئې ذکر کولې او رسول الله ﷺ به خاموش ؤ او کله به د هغوی سره مسکے کېدلو ـ (الترمذي فی الشمائل)

❁ انس رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ به زمونږ سره ګډون کولو دې پورې چې زما وړکي ورور ته به ئې فرمائېل: يَا اَبَا عُمَير مَا فَعَلَ النُغَير (اے ابوعميره! نغير (بلبلګے) څۀ شو ـ (ابن ماجه)

رسول الله ﷺ په خپل کور کښې

❁ د عائشې رضی الله عنها نه تپوس وکړے شو: رسول الله ﷺ به په خپل کور (يا کوروالو) کښې څۀ کول؟ هغې وفرمائېل: د خپل کوروالو په خدمت کښې به مشغول ؤ چې د نمانزۀ وخت به شو نو نمانزۀ له به لاړو ـ (بخاري) ـ په يو بل روايت کښې دي چې هغې وفرمائېل: هغه يو بشر ؤ د بشرونو نه د خپلو جامو نه به ئې سپګې لرې کولې، خپله بيزه به ئې لشله او د خپل ځان خدمت به ئې کولو ـ (الترمذي فی الشمائل) - په يو بل روايت کښې دي چې هغې داسې جواب ورکړو: خپلې څپلۍ به ئې ګنډلې او هغه څۀ به ئې کول څۀ چې سړے په خپل کور کښې کوي ـ (الادب المفرد)

❁ د حبه بن خالد او سواء بن خالد رضي الله عنهما نه روايت دے چې دوی د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر شو په داسې حال کښې چې رسول الله ﷺ يو ديوال يا خپل څۀ ځائے برابرولو نو دوی د هغوی مدد وکړو ـ (الادب المفرد)

بُردباري، قرار و استقامت، اطمينان و وقار

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: مسلمان سړے په بُردبارۍ (حلم) سره د روژې نيونکي او د شپې د نمونځ کونکي درجه مومي ـ (طبراني)

❁ رسول اللهﷺاشجرضي الله عنه ته وفرمائېل: پۀ تا کښې اے اشجه دوه خويونه دي چې الله تعالىٰ او د هغۀ رسول ئې خوښوي. هغۀ عرض وکړو: هغه څۀ دي زما مور او پلار دِ پۀ تاسو قربان شي! رسول اللهﷺ وفرمائېل: بُردباري او قرار و استقامت. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد فرمائېلے دے: قرار او استقامت د الله تعالىٰ د طرف نه دے او جلدي د شيطان د طرف نه ده. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ(يو کس ته) وفرمائېل: کله چې تۀ د څۀ خبرې اراده وکړې نو قرار وکړه تر دې چې الله تعالىٰ تا ته د دې نه د وتو لار وښائي، يا تردې چې الله تعالىٰ تا ته د وتو څۀ لار وښائي. (الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: اطمينان و وقار (سکينه) فائده او سود دے او پرېښول ئې نقصان او تاوان دے. (اساس العربيه)

صبر، د هغې فضيلت، اهميت، صبر د مصيبت پۀ شروع کښې، صبر او شکر

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: صبر نيم ايمان دے. (ابونعيم، خطيب)

❁ د رسول اللهﷺ نه يو ځل تپوس وکړے شو چې ايمان څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: صبر. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ (يا عليرضي الله عنه) فرمائېلي دي: صبر د ايمان نه داسې دے لکه سر چې د بدن نه دے. (ديلمي، لا تحزن)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: صبر د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کچرې صبر سړے وے نو بزرګ او سخي سړے به ؤ او الله تعالىٰ صبر کونکي خوښوي. (ترمذي)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: چا ته د صبر نه غوره او لوی څۀ نۀ دي ورکړے شوي۔ (ترمذي)

✿ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې مروي دي: پوهه شه چې مدد د صبر سره دے او کشادګي د سختۍ او مصيبت سره ده۔ (لا تحزن)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه غوره څۀ چې تاسو له درکړے شوي دي پۀ هغې کښې يقين او صبر دے او چا ته چې د دې دواړو نه حصه ملاؤ شوې وي نو هيڅ باک نيشتے کۀ د هغۀ نه د شپې (نفلي) نمونځ پاتې شي او د ورځې (نفلي) روژه۔ (ترغيب)

✿ رسول اللهﷺوفرمائېل: الله تعالیٰ فرمائي: اے د آدم زويه! کۀ تا د مصيبت پۀ شروع کښې صبر وکړو او د ثواب قصد دِ وکړو نو زۀ به تا له د جنت نه پۀ کمه راضي نۀ شم۔ (ابن ماجه)

✿ د انسؓ نه روايت دے، فرمائي: نبي اکرمﷺ د يوې ښځې پۀ خوا کښې تېروتلو کومې چې د يو قبر پۀ څنګ کښې ژړل نو وئې فرمائېل: د الله تعالیٰ نه ويرېږه او صبر وکړه۔ هغې ووې: زما نه لرې شه، تا ته زما پۀ شان مصيبت نۀ دے دررسېدلے۔ نبي اکرمﷺ ئې نۀ ؤ پېژندلے۔ بيا هغې ته وويېلے شو چې د ا خو نبي اکرمﷺ دے۔ هغه د نبي اکرمﷺ دروازې ته راغله او د دوی سره ئې دربانان ونۀ موندل، وئې ويېل: ما تاسو نۀ وی پېژندلي ۔ نبي اکرمﷺ وفرمائېل: صبر خو د اولنی صدمې پۀ وخت کښې (معتبر) دے۔ (متفق عليه)

✿ رسول اللهﷺ ته چې دنيا او د دنيا خزانې پيش کړے شوې نو هغوی وفرمائېل: نا (زۀ نۀ اخلم) بلکې زۀ يوه ورځ وږے پاتې کېږم او يوه ورځ موړ۔ چې وږے يم نو صبر او زاري به کوم او چې موړ يم نو شکر به وباسم۔ (ترمذي)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د مومن د معاملې نه تعجب دے؛ د دۀ معامله ټوله خير دے او داسې (خبره) د دۀ نه علاوه هيچا له نيشته۔ کۀ خوشحالي

ورته ورسي نو شکر وکړي او دا ورله خير وي او که بدحالي ورته ورسي نو صبر وکړي او دا ورله خير وي. (مسلم)

د خلقو بد سلوکي معاف کول، صبر پرې کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د خير و صلاح والو (نيکانو) خلقو غلطيانې معاف کوئ. (الادب المفرد)

❁ د عائشې رضي الله عنها په يو روايت کښې دي: رسول اللهﷺ به د بدۍ بدله په بدۍ سره نۀ اخسته بلکې معافي او چشم پوشي به ئې فرمائيله. (الترمذي فى الشمائل)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما رب ما ته حکم کړے دے چې زۀ صله رحمي وکړم د هغه چا سره څوک چې زما نه قطع رحمي وکړي او معاف کړم هغه کس څوک چې په ما ظلم وکړي او ورکول وکړم هغه چا ته څوک چې ما محروم کړي. (لا تحزن)

❁ عبداللهؓ فرمائي: رسول اللهﷺ څۀ تقسيم وفرمايۀ نو د انصارو يو سړي ووې: قسم مِ دِ په الله وي! دا داسې تقسيم دے چې په دې سره د الله تعالىٰ رضا نۀ ده غوښتے شوې. ما ووې: زۀ به خامخا دا رسول اللهﷺ ته وايم. نو زۀ د هغوی په خدمت کښې حاضر شوم. هغوی د خپلو اصحابو سره وو. ما ورته پټ (په غوږ کښې) ووېيل. نو دا خبره په هغوی باندې ډېره ګرانه شوه، د هغوی د مخ مبارک رنګ بدل شو او غصه ورله راغله تر دې چې ما ارمان وکړو چې ما هغوی نۀ وے خبر کړے. بيا ئې وفرمائيل: موسىٰ (عليه السلام) ته د دې نه زيات تکليف ورکړے شوے ؤ نو هغۀ صبر کړے ؤ. (الادب المفرد)

د غلطیانو او ظلم د معافۍ او پۀ هغې د صبر اجر و ثواب، عزت پرې زیاتېدل

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د قیامت پۀ ورز به یو آواز کونکے آواز وکړي چې چرته دي هغه کسان د چا اجر چې د الله تعالیٰ پۀ ذمه دے؟ د دې پۀ اورېدو سره به هغه خلق مخې ته راشي چې پۀ دنیا کښې به ئې د کمزورو او د لاس د لاندې کسانو غلطیانې معاف کولې او سیده به جنت ته لاړ شي۔ (تذکرة الواعظین)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: موسیٰ بن مریم (علیه السلام) د الله تعالیٰ نه تپوس وکړو: ستا پۀ بندګانو کښې څوک تا ته د ټولو نه زیات عزتمند (او پۀ تا ګران) دے؟ الله تعالیٰ وفرمائېل: هغه څوک چې (د بدلې) طاقت ئې وي او معافي وکړي۔ (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې پۀ قسم سره وفرمائېل: پۀ یو بنده چې ظلم وشي او دے پۀ هغې صبر وکړي نو پۀ دې سره الله تعالیٰ د دۀ عزت زیاتوي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې ظلم معاف کړي چې پۀ دې د الله تعالیٰ رضا لټوي نو الله تعالیٰ به پۀ دې سره د قیامت پۀ ورز د هغۀ عزت زیات کړي۔ (ترمذي، مسلم، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: معافي نۀ زیاتوي مګر عزت د بنده نو تاسو معافي کوئ الله تعالیٰ به تاسو له عزت درکړي۔ (ترغیب) ۔ پۀ یو بل روایت کښې دي: پۀ معافي کولو الله تعالیٰ بنده نۀ دے زیات کړے مګر پۀ عزت کښې۔ (مسلم)

پهٔ ظلم صبر، د بدو معافی، د جهل برداشت او د قیامت ورز

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کله چې خلق د قیامت پهٔ ورز جمع کړے شي نو یو آواز کونکے به آواز وکړي چې فضل (غوره والي) والا کوم ځائے دي؟ نو څهٔ کسان به پاڅي کوم چې به کم وي او پهٔ تېزئ سره به جنت طرف ته روان شي ـ دوئ سره به فرښتې ملاؤ شي او ورته به ووایي چې مونږ تاسو پهٔ تېزئ سره جنت طرف ته تلونکي اینو! دوئ به ووایي چې مونږ فضل والا یو ـ فرښتې به تربنه تپوس وکړي چې ستاسو فضل څهٔ وو؟ دوئ به ووایي: کله چې به پهٔ مونږ ظلم کېدهٔ نو مونږ به صبر کولو او کله چې به مونږ سره بد کېدهٔ نو مونږ به معافي کوله او کله چې به مونږ سره د جهل سلوک کېدهٔ نو مونږ به برداشت کولو ـ دوئ ته به وویلے شي: جنت ته داخل شئ "څهٔ ښهٔ دے اجر د عمل کونکو!" ـ (بیهقي)

بُغض او پهٔ زړهٔ کښې خیرے نهٔ ساتل، د خلقو عیبونه نهٔ لټول، غیبت نهٔ کول

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایهٔ: مومن بُغض (کینه) ساتونکے نهٔ وي ـ (احیاء)

❁رسول اللهﷺ انس رضی الله عنه ته وفرمائیل: اے بچوړیه! کهٔ تهٔ کولے شې چې سحر او ماښام پهٔ داسې حال کښې وکړې چې پهٔ زړهٔ کښې دِ چا ته څهٔ خیرے (او بُغض) نهٔ وي نو وکړه (دا زما سنت دي) ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ ابوذر رضی الله عنه ته پهٔ یو وصیت کښې وفرمائیل: تا دِ د خلقو (د عیبونو) نه منع کړي هغه (عیبونه) چې تا ته پهٔ خپل ځان کښې معلوم دي ـ (بیهقي، ابن حبان)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نیک بختي ده هغه چا له د چا عیبونو چې هغه د نورو خلقو د عیبونو نه مشغول کړو ـ (بزار)

۞ د رسول الله ﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې د دې مفهوم ارشاد مروي دے: د دومره دومره (نفل) رکعتونو پۀ مقابله کښې د يو غيبت نه بچ کېدل زيات غوره دي. ()

غصه نۀ کول، قابو کول، نۀ ښکاره کول، نۀ ويستل، اصل پهلوان

۞ يو سړے د رسول الله ﷺ خوا له راغے او عرض ئې وکړو: ما ته څۀ وښايه او زيات څۀ مۀ ښايه چې زۀ ئې ياد کړم. رسول الله ﷺ ورته وفرمائېل: غصه مۀ کوه او دا ئې ډېرې پېرې وفرمائېل. (ترمذي)

۞ يو سړي د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو: ما به د الله تعالیٰ د غضب (غصې) نه څۀ شے لرې کوي (خلاصوي)؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: غصه مۀ کوه. (طبراني، احمد)

۞ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې خپله غصه قابو کړي او حال دا وي چې دے هغه جاري کولے شي نو الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز د دۀ زړۀ د خپلې رضا او د خپل رحمت نه (يا د امن او ايمان نه) ډک کړي. (تذکرة الواعظين، تفسير کبير)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې خپله غصه دفع کړه الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز د هغۀ نه خپل عذاب دفع کړي. (طبراني، بيهقي)

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د الله تعالیٰ پۀ نزد يو بنده د غصې د ګوټ نه چې ښکاره ئې نکړي زيات غوره ګوټ نۀ دے څښلے. (احمد)

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: څوک چې د خپل رب نه ويرېږي د هغۀ ژبه پڅه شي او هغه خپله غصه ونۀ باسلے شي (څوک چې د خپل رب نه يرېږي د هغۀ ژبه پڅه وي او هغه خپله غصه نۀ شي ويستے). (ديلمي)

۞ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: مومن زر غصه کېدونکے او زر راضي کېدونکے وي نو دا د هغې پۀ بدله کښې شي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهلوان پۀ راپرزولو نۀ دے، پهلوان هغه دے چې د غصې پۀ وخت کښې پۀ ځان قابو وُساتي. (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو پهلواني څۀ شے ګڼئ؟ خلقو ووې: (پهلوان هغه دے چې څوک ئې نۀ شي راپرزولے. رسول اللهﷺ وفرما ئېل: نا، بلکې پهلوان هغه دے چې د غصې پۀ وخت کښې خپل ځان قابو کولے شي. (ابوداؤد)

د غصې پۀ حالت کښې عمل، د غصې پۀ معامله کښې د خلقو څۀ طبقې

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تا له غصه راشي نو خاموشه شه. (احمد ،طبراني، ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک غصه شي نو اودس دِ وکړي ځکه چې غصه د اُور نه ده. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ ابوذرؓ ته وفرمائېل: کله چې تۀ غصه شې نو کۀ ولاړ ئې نو کښېنه او کۀ ناست ئې نو تکیه شه او کۀ تکیه ئې نو څمله. (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک غصه شي نو کۀ ولاړ وي نو کښېنې دِ ني، کۀ غصه لاړه شي نو ټیک ده او کۀ لاړه نۀ شي نو څۀ دِ ملي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: د غصې نه بچ شئ ځکه چې دا د ابن آدم پۀ زړۀ باندې یو انګاره ده؛ اے تاسو د هغۀ د مرئ د رګونو پړسوب او د سترګو سوروالي تـه نـۀ ګورئ؟ پـس څـوک چـې د دې نـه څـۀ بیامومي نو څۀ دِ ملي او زمکې پورې دِ جُخت شي. (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ د يو ارشاد مفهوم دے چې د غصي پهٔ وخت کښې دِ سړے دا وايي: اللّٰهُمَّ اِنّي اَعُوذُبِکَ مِنَ الشّيطانِ الرّجِيم (اے الله زهٔ پناه غواړم پهٔ تاسره د شيطان رټلي شوي نه). (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مومن زر غصه کېدونکے او زر راضي کېدونکے وي نو دا د هغې پهٔ بدله کښې شي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څوک چې د خپل رب نه ويرېږي د هغهٔ ژبه پخه شي او هغه خپله غصه ونهٔ باسلے شي (څوک چې د خپل رب نه يرېږي د هغهٔ ژبه پخه وي او هغه خپله غصه نهٔ شي ويستے). (ديلمي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د الله تعالیٰ پهٔ نزد يو بنده د غصې د ګوټ نه چې ښکاره ئې نکړي زيات غوره ګوت نهٔ دے څښلے. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايهٔ: مومن بغض (کينه) ساتونکے نهٔ وي. (احياء)

❁رسول اللهﷺ انسرضي الله عنه ته وفرمائېل: اے بچوړيه! کهٔ تهٔ کولے شې چې سحر او ماښام پهٔ داسې حال کښې وکړې چې پهٔ زړهٔ کښې دِ چا ته څهٔ خيرے (او بغض) نهٔ وي نو وکړه (دا زما سنت دي). (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو اوږد حديث مبارک کښې وفرمائېل: پهٔ خلقو کښې څوک زر غصه کېدونکے او زر سړېدونکے (راګرزېدونکے) وي نو يوه پهٔ بله شوه، او څوک رو غصه کېدونکے او رو سړېدونکے وي نو يوه پهٔ بله شوه. پهٔ تاسو کښې د ټولو نه غوره هغه دي کوم چې رو غصه کېدونکي او زر سړېدونکي وي، او پهٔ تاسو کښې د ټولو نه بد هغه دي کوم چې زر غصه کېدونکي او رو سړېدونکي وي. (ترمذي)

انصاف، نرمي، آساني، خنده روئي، نرم، پاستۀ، آسان، خنده رويه وغيره خلق

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: د يو ساعت انصاف د اوياؤ کالو د عبادت نه غوره دے. (اساس العربيه)

❁ د رسول الله ﷺ نه پۀ يوې دعاء کښې مروي دي: او زۀ سوال کوم ستا نه د عدل (انصاف) پۀ غصه او پۀ رضا کښې. (لا تحزن)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالىٰ پۀ ټولو کارونو کښې نرمي خوښوي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالىٰ نرم دے او نرمي خوښوي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: اے عائشې! بېشکه الله تعالىٰ نرم دے او نرمي خوښوي او پۀ نرمۍ چې څۀ ورکوي هغه پۀ سختۍ او پۀ نورڅۀ نۀ ورکوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا ته چې د نرمۍ نه حصه ورکړے شوه هغۀ ته د خير نه حصه ورکړے شوه او چا ته چې د نرمۍ نه حصه ورنکړے شوه هغۀ ته د خير نه حصه ورنکړے شوه. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالىٰ چې د يو کور والو سره محبت کوي نو پۀ هغوی کښې نرمي ننباسي. (احمد، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نرمي چې پۀ څۀ شي کښې شي نو هغه ښکلے کړي او د څۀ نه چې ووېستے شي نو هغه بدموره کړي. (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: نرمي برکتي والے او سختي سپيرۀ والے (نحوست) دے. (اساس العربيه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تاسو آساني پيدا کونکي رالېږلے شوي يئ، سختي پيدا کونکي نۀ يئ رالېږلے شوي. (حجة الله البالغه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هره نيکي (يا نيک عمل) صدقه ده او د نيکئ نه دا هم ده چې تۀ خپل (مسلمان) ورور سره په خنده روئي سره ملاؤ شې. (ترمذي)

۞ د ابوذر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: د نيکئ څۀ خبره سپکه مۀ ګڼه اګرکۀ تۀ د خپل (مسلمان) ورور سره پۀ په رون تندي يوځائے شې. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومنان پاستۀ نرم وي لکه تابعدار اصيل اُوښ چې کۀ راښکے کيږي نو زي او کۀ پۀ سخته ګټه څملولے کيږي نو څملي. (مشکوٰة)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن د فصل د غندل پۀ شانې دے چې هوا ئې ښي طرف ته او ګڅ طرف ته خوزوي. (لا تحزن)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ تاسو ته د هغه چا خبر درنکړم څوک چې پۀ دوزخ حرام دے او دوزخ پۀ هغۀ حرام دے؟ هر نرم، پوست، نزدې او آسان سړے. (ترمذي، احمد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ آسان او خنده روئے کس خوښوي. (بيهقي)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به څۀ داسې خلق زي د کومو زړونه چې د مرغو د زړونو پۀ شان وي. (مسلم)

خلقو سره ښۀ سلوک کول، د هغې څۀ علامت

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې دا غواړي چې دے د دوزخ د اُور نه لرې وساتلے شي او جنت ته بوتلے شي نو مرګ دِ ورته پۀ داسې حال کښې راشي

چې پهٔ الله تعالیٰ او د آخرت پهٔ ورز ایمان لري او د نورو خلقو سره دِ هغه سلوک کوي کوم چې دے غواړي چې د دهٔ سره وکړے شي۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مخلوق د الله تعالیٰ عیال (د کور خلق) دے نو پهٔ خلقو کښې الله تعالیٰ ته د ټولو نه زیات خوښ هغه څوک دي کوم چې د هغهٔ د عیال سره ښهٔ کوي۔ (بیهقي)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: ښهٔ کوه د هغه چا سره (هم) څوک چې تا سره بد وکړي۔ (اساس العربیه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: خلقو پسې تلو والا مهٔ کېږه چې داسې وایې چې کهٔ خلق مونږ سره ښهٔ کوي نو مونږ به ښهٔ کوو او کهٔ هغوی پهٔ مونږ ظلم کوي نو مونږ به ظلم کوو بلکې دا عادت خپل کړه چې کهٔ خلق ښهٔ کوي نو تاسو ښهٔ کوه او کهٔ خلق بد کوي نو تاسو ظلم مهٔ کوه۔ (بخاري)

۞ یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما ته به څنګه معلومېږي چې زهٔ ښهٔ سلوک کوم کهٔ بد؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: کهٔ تهٔ د خپلو ګاونډیانو نه اورې چې تهٔ ښهٔ سلوک کوې نو تهٔ ښهٔ سلوک کوې او کهٔ تهٔ د هغوی نه اورې چې تهٔ بدسلوک کوې نو تهٔ بد سلوک کوې۔ (احمد ،ابن ماجه، طبراني)

نیکي او مدد کول، د هغې بعضې خبرې، د بدۍ پهٔ بدله کښې نیکي

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیکي (احسان) کوه د هغه چا سره چې د دې اهل وي او د هغه چا سره چې د دې اهل نهٔ وي۔ (دارقطني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هره نیکي چې تهٔ ئې د مالدار سره وکړې یا د فقیر سره هغه صدقه ده۔ (دارقطني، طبراني)

✿ د رسول الله ﷺ نه ارشاد مروي دے: تا دِ منع نکړې د نیکۍ نه وړه نیکي. (اساس العربیه)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د نیکۍ (یا نیک عمل) نه دا خبره هم ده چې تهٔ خپل (مسلمان) ورور سره پهٔ پرانستي مخ سره ملاؤ شې، او چې د خپلې بوکې نه (اُوبهٔ) د خپل (مسلمان) رور پهٔ بوکه کښې واچوې. (ترمذي)

✿ رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایهٔ: وږي له ډوډۍ ورکوۍ، د مریض تپوس کوۍ او قیدي (یا غلام) آزادوۍ. (بخاري)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کوم سړے چې د پیو څاروے سوالي (عاریتاً) ورکړي یا څهٔ قرض ورکړي یا چا ته لار وښایي نو دهٔ له د غلام د آزادولو برابر ثواب دے. (ترمذي)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې څهٔ عطیه ورکړه یا ئې څهٔ لار وښوده نو هغهٔ له د غلام د آزادولو برابر ثواب دے. (الادب المفرد)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائېل: تهٔ چې د سورلۍ پهٔ څاروي کښې د سړي مدد وکړې چې هغهٔ ته ئې وُخېژوې یا ئې سامان هغهٔ ته اوچت کړې نو دا صدقه ده. (متفق علیه)

✿ د ابوذر رضي الله عنه نه روایت دے: عرض وکړے شو: کوم عملونه د ټولو نه غوره دي؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پهٔ الله تعالیٰ ایمان او د هغهٔ پهٔ لاره کښې جهاد. بیا عرض وکړے شو؟ کوم غلامان (د آزادولو دپاره) د ټولو نه غوره دي؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پهٔ قیمت کښې د ټولو نه ګران او مالکانو ته د ټولو نه عمده. هغهٔ (عرض کونکي) ووې: نو کهٔ زهٔ بعضې عمل نهٔ شم کولے؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: نو چې بیا د یو کار کونکي مدد وکړې یا پهٔ کار نهٔ پوهېدونکي له کار وکړې. (الادب المفرد)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: غوره والے پۀ دې کښې دے چې تۀ صله رحمي وکړې د هغه چا سره څوک چې تا سره قطع رحمي وکړي او ورکول وکړې هغه چا له څوک چې تا محروم کړي او معافي وکړې هغه چا ته څوک چې پۀ تا ظلم وکړي۔ (اساس العربيه)

پۀ مخلوق رحم کول، خلقو ته نفع رسول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ رحم کونکو رحمٰن رحم کوي (يا به پرې رحم وکړي) ۔ تاسو پۀ زمکه والو رحم وکړئ آسمان والا به پۀ تاسو رحم وکړي ۔ (ابوداؤد، ترمذي)

۞رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: الله تعالیٰ پۀ خپلو بندګانو کښې صرف پۀ رحم کونکو رحم کوي۔ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: رحم کوئ پۀ تاسو به رحم وکړے شي، بخښنه کوئ الله تعالیٰ به تاسو ته بخښنه وکړي۔ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې رحم وکړو اګرکۀ د ذبحې پۀ شي وي نو الله تعالیٰ به پۀ دۀ د قيامت پۀ ورز رحم وکړي۔ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د خير ځيز زما پۀ بندګانو کښې د رحم کونکو نه غواړئ، د هغوئ پۀ حفاظت (نګرانئ) کښې ووسئ ځکه چې ما پۀ هغوئ کښې خپل رحمت ايښے دے، د سختو زړونو والو نه ئې مۀ غواړئ ځکه چې ما پۀ هغوئ کښې خپل غضب ايښے دے۔ (ابن حبان، طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ خلقو کښې د ټولو نه غوره هغه څوک دے کوم چې پۀ هغوئ کښې د ټولو نه زيات نفع رسونکے وي۔ (ترغيب)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د الله تعالیٰ څۀ بندګان دي چې الله تعالیٰ ئې پۀ نعمتونو سره د خلقو د فائدو دپاره خاص کوي، پس چا چې

پهٔ دغه فائدو پهٔ خلقو بخل (شومتوب) وکړو نو الله تعالیٰ به ئې د هغهٔ نه بل چا ته واړوي۔ (طبراني، ابونعیم)

د خلقو حاجتونه پوره کول، پهٔ الله سره د څهٔ غوښتونکي مقصد پوره کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ څهٔ بندګان دي چې الله تعالیٰ هغوی د خلقو د حاجتونو د پاره پیدا کړي دي، خلق پهٔ خپلو حاجتونو کښې هغوی له فریاد وړي، هغوی به د الله تعالیٰ د عذاب نه پهٔ امن وي۔ (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: ما ته د هغه چا حاجت رارسوی څوک ئې چې (پخپله) نهٔ شي رارسولے ځکه چې څوک بادشاه ته د هغه چا حاجت وُرسوي څوک ئې چې (پخپله) نهٔ شي رسولے نو الله تعالیٰ به د قیامت پهٔ ورز د دهٔ پخې کلکې کړي۔ (الترمذي فی الشمائل)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: یو بنده ته د الله تعالیٰ نعمت نهٔ ورکولے کیږي مګر د خلقو حاجتونه هغهٔ ته زیاتیږي۔ (ابن عدي، ابن حبان)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې ستاسو نه پهٔ الله تعالیٰ سره پناه وُغواړي نو هغهٔ له پناه ورکړه او څوک چې ستاسو نه پهٔ الله تعالیٰ سره سوال وکړي نو هغهٔ له څهٔ ورکړه او څوک چې ستاسو نه پهٔ الله تعالیٰ سره امان طلب کړي نو هغهٔ له امان ورکړه۔ (نسائي)

د غمزپلي او مظلوم مدد کول، مصیبت والا له تسلي ورکول

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ د غمزپلي مدد کول خوښوي۔ (ابویعلیٰ)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د یو غمزپلي یا مظلوم مدد وکړو، الله تعالیٰ به دهٔ له درې اویا مغفرتونه (اجرونه) ولیکي؛ پهٔ یو کښې به ئې د ټولې معاملې برابربدل وي او دوه اویا به ورله پهٔ قیامت کښې درجې وي۔ (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم يو مومن چې خپل (مومن) ورور له پهٔ څهٔ مصيبت کښې تسلي ورکړي نو الله تعالیٰ به دهٔ ته د قيامت پهٔ ورز د عزت د جوړو نه واغوندوي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې هغه ښځې ته د چا چې بچے ورک شي (يا مړ شي) تسلي ورکړي نو دهٔ ته به پهٔ جنت کښې څادر واغوستولے شي. (ترمذي)

مسکينانو، فقيرانو سره محبت او نيکي کول

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: د هر شي يوه کنجي وي او د جنت کنجي د مسکينانو، فقيرانو سره محبت ساتل دي. (احياء، نزهة البساتين)

❁ د رسول اللهﷺپهٔ يو حديث مبارک کښې ارشاد دے: الله تعالیٰ ته نزدې والے د مسکينانو سره محبت او هغوی ته نزدېکت دے. (ديلمي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: اے عائشې! مسکين مهٔ واپس کوه اګرکهٔ د کجورې د دانې پهٔ يوې ټکړې سره وي. اے عائشې! د مسکينانو سره مينه کوه او هغوی نزدې کوه الله تعالیٰ به د قيا مت پهٔ ورز تا نزدې کړي. (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د فقيرانو زياته پېژنږلو کوی او پهٔ هغوی انعامونه او احسانونه لری ځکه چې د هغوی سره دولت (حکومت) دے. عرض وکړے شو: د هغوی دولت څهٔ دے اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې د قيامت ورز شي نو هغوی ته به وويېلے شي: وګورئ چا چې پهٔ تاسو يوه ټکړه خورولې وه يا ئې درباندې يو ګوټ څښولے ؤ يا ئې درته څهٔ جامه اغوستولې وه، د هغهٔ لاس ونيسئ او جنت ته ئې بوزئ. (احياء)

❁ يو روايت کښې دي چې قيامت کښې به الله تعالیٰ فقير مومن ته وفرمائي: اے زما بنده! نن تهٔ مخکښې شه او د ګنهګارو صفونه وګوره، پهٔ هغوی کښې

چې کومو کومو خلقو په دنیا کښې ستا تنګ لاسی ته کتلي وو او زما د رضا دپاره ئې په خالص نیت سره په تا ډوډۍ خورولې وه یا ئې درباندې اُوبهٔ څښولې وي یا ئې درته جامه اغوستولې وه، د هغوی لاسونه ونیسه او د ځان سره ئې جنت ته بوزه ـ په هغه ورز به خلق په خوَله کښې ډوب د قیامت په میدان کښې صف بندي ولاړ وي ـ د غه سړے چې د الله تعالیٰ دا ارشاد واوري نو صفونو ته به لاړشي او چا چا چې ورسره په دنیا کښې نیک سلوک کړے ؤ هغه به وپیژني او د ځان سره به ئې جنت ته دننه کړي ـ (تذکرة الواعظین)

۞ د رسول اللهﷺنه مروي دي: په قیامت کښې به یو آواز کونکے آواز وکړي: چرته دي هغه خلق چا چې د فقیرانو، مسکینانو اکرام کړے ؤ نن به تاسو جنت ته داسې داخل شی چې نه به په تاسو څهٔ یره وي او نهٔ به تاسو غمجن یې ـ (فضائلِ صدقات)

لارې نه د تکلیف څیز لرې کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ما ته زما د اُمت عملونه پیش کړے شو ـ ښهٔ او بد ـ نو ما ئې په ښهٔ عملونو کښې دا بیاموند چې د تکلیف شے د لارې نه لرې کړے شي ـ (مسلم، الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺوفرمائیل: تهٔ چې د لارې نه د تکلیف څهٔ شے لرې کړې نو دا صدقه ده ـ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: څوک چې د مسلمانانو د لارې نه څهٔ شے لرې کړي کوم چې هغوی تکلیفوي نو په دې سره به الله تعالیٰ هغهٔ له څهٔ نیکي ولیکي او چا له چې الله تعالیٰ څهٔ نیکي ولیکي نو په دې سره هغهٔ له جنت واجب کړي ـ (احمد) ـ په یو روایت کښې داسې راغلي دي: چا چې د مسلمانانو د لارې نه د تکلیف څهٔ څیز لرې کړو نو هغهٔ له یوه نیکي ولیکلے شوه او چا له چې څهٔ نیکي قبول کړے شي نو هغه به جنت ته زي ـ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما یو سړے ولید چې پۀ جنت کښې ګرزېدۀ راګرزېدۀ پۀ دې وجه چې د لارې نه ئې یوه ونه غوځه کړې وه کومې چې به مسلمانان تکلیفول۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یوې ونې مسلمانان تکلیفول یو سړے راغے هغه ئې غوځه کړه نو جنت ته لاړ۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یو سړے پۀ لارې روان ؤ چې پۀ لاره کښې ئې یوه د غنې ښانګه ولیده نو هغه ئې روستو کړه، الله تعالیٰ د دې قدر وکړو او هغه ئې وبښنۀ۔ (مسلم)

۞ ابوبرزهؓ فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله نبي! ما ته څۀ شے وښایه چې زۀ ترې نفع واخلم۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د لارې نه تکلیف رسونکے شے لرې کوه۔ (مسلم)

بوټے نالول چې خیر ترې رسي

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یو مسلمان چې څۀ بوټے نال کړي او بیا د هغې نه څۀ خوړے کیږي نو دا صدقه ده او څۀ چې ترېنه غلا کیږي نو دا صدقه ده او څۀ چې ترېنه ښوک کموي نو دا صدقه ده۔ (مسلم) پۀ یو بل روایت کښې دي چې یو مسلمان څۀ بوټے نال کړي بیا یو انسان یا یو ښاروے یا یوه مرغۍ د هغې نه خوري نو دا به د قیامت د ورزې پورې دۀ له صدقه وي۔ (مسلم)۔ پۀ یو بل روایت کښې دي چې یو مسلمان څۀ بوټے نال کړي یا څۀ فصل وکري او بیا یو انسان یا یو ښاروے یا څۀ شے د هغې نه خوري نو دا به د دۀ دپاره صدقه وي ۔ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ قیامت راتلونکے وي او پۀ تاسو کښې د یو کس پۀ لاس کښې د کجورې بوټے وي نو کۀ د قیامت د راتلو پورې دے هغه نالولے شي نو نال دِ کړي۔ (الادب المفرد)

خلقو مینځ کښې صلح کول، د دې تاکید او فضیلت، متعلقه څۀ خبرې

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ نه یرېږی او د خلقو پۀ مینځ کښې صلح کوی ځکه چې الله تعالیٰ به د قیامت پۀ ورز د مومنانو پۀ مینځ کښې صلح کوي۔ (حاکم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: تۀ چې د دوؤ کسانو پۀ مینځ کښې صلح (روغه) وکړې نو دا صدقه ده۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ تاسو ته د روژې، نمانځۀ او د صدقې د درجې نه د زیات غوره څۀ خبر درنکړم؟ صحابو عرض وکړو: ضرور راکړی۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خلقو مینځ کښې صلح کول۔ (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایۀ: دروغجن نۀ دے هغه څوک چې د خلقو پۀ مینځ کښې صلح راولي او (د دې دپاره هغوی ته) د خیر خبره کوي او د خیر خبره رسوي۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د مسلمانانو پۀ مینځ کښې صلح کول (د څۀ خبرې جګړه ختمول) جائز دي مګر داسې صلح (نۀ) چې څۀ حلال حرام کړي یا حرام حلال کړي۔ (ترمذي وغیره)

باب: بد عملونه، متعلقات

د نفس خواهش، شک، ناراضي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ پۀ نزد د ټولو نه بد معبود چې پۀ زمکه ئې عبادت کیږي د نفس خواهش دے۔ (طبراني)

۞ د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي: ډېر د نفس پۀ خواهش کښې ډوب خلق داسې دي چې د قيامت پۀ ورز به هغوی له د اُور نه سِوا هيڅ نۀ وي۔ (ترغيب)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ دنيا کښې د خپل نفس خواهش پوره کړو، پۀ آخرت کښې به د هغۀ او د هغۀ د خواهش پۀ مينځ کښې حائل ودرولے شي۔ (طبراني)

۞رسول الله ﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: الله تعالیٰ پۀ خپل حکمت او جلال (يا انصاف) سره بې سکوني او غم پۀ شک او ناراض والي کښې اېښے دے۔ (طبراني)

۞ رسول الله ﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: څوک چې (پۀ مصيبت وغيره) نارضا شو نو هغۀ له ناراضي ده۔ (ابن ماجه، ترمذي)

بې حياوالے، د حيا د وتو وبال

۞ رسول الله ﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: بې حيا والے او بدژبې والے د جفا نه دي او جفا (والا) به پۀ دوزخ کښې وي۔ (ترمذي)

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: خلقو چې د نبوت د خبرو نه کومې موندلې دي پۀ هغو کښې يوه داده: کله چې تۀ حيا نۀ لرې نو بيا چې دِ څۀ خوښه شي هغه کوه۔ (بخاري)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کله چې الله تعالیٰ اراده وفرمائي چې يو بنده هلاک کړي نو د هغۀ نه حيا وُباسي، او کله چې ترې حيا وُباسي نو تۀ به ملاؤ نۀ شې مګر د يو غضب کړے شوي سره، او کله چې تۀ ملاؤ نۀ شې مګر د يو غضب کړے شوي سره نو د هغۀ نه به امانتداري وويستے شي، او کله چې ترې امانتداري وويستے شي نو تۀ به ملاؤ نۀ شې مګر د يو خيانت کونکي سره، او کله چې تۀ ملاؤ نۀ شې مګر د يو خيانت کونکي سره نو د هغۀ نه به رحمت

وویستے شي، او کله چې ترې رحمت وویستے شي نو تهٔ به ملاؤ نهٔ شې مګر د یو رټلي لعنتي سره، او کله چې تهٔ ملاؤ نهٔ شې مګر د یو یو رټلي لعنتي سره نو د هغهٔ نه به د اسلام لړېږ پاتې قوت او روح وو یستے شي۔ (ابن ماجه)

ریا، سُمعه (ښودنه، اَورَوُنه)، ریا شرک دے

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ هغه عمل نهٔ قبلوي پهٔ کوم کښې چې دیوې ذرې برابره هم ریا وي۔ (احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: ریاکار به د قیامت پهٔ ورز پهٔ څلورو نومونو سره رابللے کیږي: اے ریاکاره! اے دوکه ورکونکیه! اے مشرکه! اے کافره! پهٔ بل روایت کښې داسې دي: ریاکار ته به د قیامت پهٔ ورز د خلقو پهٔ مخکښې پهٔ څلورو نومونو سره آواز وکړے شي: اے ریاکاره! اے بد کاره! اے زیان کاره! اے دوکه بازه! (او ورته به وویلے شي چې) ستا عملونه ضائع شوي دي، ستا ثواب ختم شوے دے، ستا نن هیڅ حصه نیشته، لاړ شه د هغه چا نه خپل اجر وغواړه د چا دپاره چې تا عمل کولو، اے دوکه بازه! (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې خلقو ته اورول (د خپل نیک عمل ښکاره کول) وکړهٔ الله تعالیٰ به د قیامت پهٔ ورز د هغهٔ ښکاره کول (شرمول) وکړي۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک وفرمائیل: تاسو د ریا نه بچ ووسئ ځکه چې ریا د الله تعالیٰ سره شریک جوړول دي۔ (ترغیب)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: لږه ریا هم شرک دے۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زهٔ چې پهٔ تاسو د ټولو نه زیاته یره د کوم شي کوُم هغه وړکے شرک (شرکِ اصغر) دے۔ عرض وکړے شو: وړکے شرک څهٔ دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ریا۔ (احمد)

❁د شداد بن اوسؓ نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه واورېدۀ: ما ته پۀ خپل اُمت د شرک يره ده ـ ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! ستا نه روستو به ستا اُمتيان شرک کوي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: آ، د نمر، سپوږمۍ او د يو بت عبادت به نۀ کوي خو پۀ خپلو عملونو کښې به ريا کوي ـ (احمد، حاکم، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: زۀ پۀ شريکانو کښې د ټولو نه زيات د شرک نه غني (بې نيازه) يم، پس چا چې ما له څۀ عمل وکړو چې پۀ هغې کښې ئې بل څوک شريک کړو نو زۀ ترې بري يم او دا عمل د هغه چا دپاره دے څوک ئې چې شريک کړو ـ (ابن ماجه)

❁د ابوسعيدؓ نه روايت دے، فرمائي: مونږ يو ورز د دجال ذکر کولو پۀ دې کښې رسول اللهﷺ تشريف راوړو او وئې فرمائېل: زۀ تاسو ته يو شے ونۀ ښايم چې زما پۀ نزد د دجال نه زيات خطرناک دے؟ مونږ ووېيل: ضرور وښايه اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائېل: پټ شرک او هغه دا دے چې يو کس نمانځۀ ته ودرېږي او پۀ نمانځۀ کښې صرف د دې د پاره اوږدوالے وکړي چې څوک سړے دۀ ته ګوري ـ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د ريا دپاره نمونځ وکړو هغۀ شرک وکړو، چا چې د ريا دپاره روژه ونيوه هغۀ شرک وکړو او چا چې د ريا دپاره صدقه ورکړه هغۀ شرک وکړو ـ (احمد)

رياکار قاري، عالم، صدقه ورکونکے، حاجي، مجاهد

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو د الله تعالیٰ پناه وغواړئ د جُبُّ الحزن (د غم د کوهي) نه ـ عرض وکړے شو: هغه څۀ شے دے اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه پۀ جهنم کښې يوه کنده ده چې د رياکارو قاريانو (يا عالمانو) دپاره تياره کړے شوې ده ـ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: په دوزخ کښې يوه کنده ده چې د هغې نه دوزخ هره ورز څلور سوه پېرې پناه غواړي. هغه کنده زما د اُمت د رياکارو دپاره تياره کړے شوې ده، د رياکار عالم دپاره، د الله تعالی د رضا نه بغير صدقه ورکونکي دپاره، د ريا والا حج کونکي دپاره او د ريا دپاره د الله تعالی په لار کښې جهاد له تلونکي دپاره. (ترغيب)

عُجب (ځان ښۀ ګڼل)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کچرې تاسو ګناه ونکړې نو زۀ په تاسو د هغه شي يره کوُم چې د دې نه غټ (زيات سخت) دے: عُجب عُجب (ځان ښۀ ګڼل). (ابن حبان، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: يو سړے د ځان په لوئے ليدو (عُجب) کښې اخته وي تر دې چې په جبر کونکو (متکبرينو) کښې وليکلے شي نو دۀ ته به رسي څۀ چې بۀ هغوی ته رسي. (ترمذي)

❁خلقو د رسول اللهﷺ په مخکښې د يو سړي ذکر او ډېر صفت کولو په دې کښې هغه سړے د دوی طرف ته په راتلو وليدے شو په داسې حال کښې چې د مخ نه ئې د اوداسۀ اُوبۀ څڅېدلې او پېزار ئې په لاس کښې نيولے ؤ او د دواړو سترګو په مينځ کښې ئې د سجدې اثر ؤ. خلقو وويېل: اے د الله رسوله! هغه سړے دغه دے د کوم چې مونږ صفت کولو. رسول اللهﷺ وفرمائيل: د دۀ په مخ خو زۀ د شيطان جوړه کړې ښښه اينم. هغه سړے راغے سلام ئې ووې او کښېناست. رسول اللهﷺ ورته وفرمائيل: زۀ تا له په الله تعالیٰقسم درکوم! تۀ ووايه چې تۀ چې څۀ وخت د خلقو څنګې ته راتلې نو ستا دا خيال نۀ ؤ چې په دوی کښې ستا نه غوره څوک نيشتے؟ هغۀ وويېل: آ، زما دا خيال ؤ. رسول اللهﷺ وفرمائيل: اے الله! زۀ ستا نه بخښنه غواړم د هغه

ګناهونو کوم چې ما ته معلوم دي او د هغه ګناهونو کوم چې ما ته نۀ دي معلوم ـ (بزار، احمد ، دارمي)

۞رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: خپل ځانونه مۀ پاکوی، الله تعالیٰ پۀ تاسو کښې پۀ نيکۍ والو باندې زيات عالم دے ـ (ابوداؤد)

تکبر لرل، کول، د هغې وعيدونه او وبال

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: جنت ته نۀ شي تلے هغه څوک د چا پۀ زړۀ کښې چې د غوښتو د دانې (يا د يوې ذرې) پۀ مقدار هم تکبر وي ـ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا پۀ زړۀ کښې چې د غوښتو د دانې هومره تکبر وي الله تعالیٰ به هغه د جهنم پۀ اُور کښې نسکور ارتاؤ کړي ـ (احمد ،بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: تکبر کونکي به د قيامت پۀ ورز د وړو مېږو پۀ شان راپورته کړے شي، خلق به ئې پۀ پخو کښې چقوي ځکه چې الله تعالیٰ ته به سپک او بې قدره وي ـ (بزار)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تکبر کونکي به د قيامت پۀ ورز د سړو پۀ شکلونو کښې د وړو مېږو پۀ څېر راجمع کړے شي، د هر ځائے نه به پرې ذلت خور وي، جهنم کښې يوې قيدخانې طرف ته به وشړلے شي چې بولس ورته وايي، نارالانيار (يو خاص قسم سخت اور) به پرې خور شي، د دوزخيانو د بدن وينې زوې به ورته څښکولے کيږي ـ (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: پۀ دوزخ کښې به صندوقونه وي چې متکبر خلق به پکښې اېښودے کيږي او ژرنده کيږ ي به ـ (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ ته عرض وکړے شو: يارسول الله د فلانې تکبر څومره غټ دے! رسول اللهﷺ وفرمائېل: ولې د هغۀ نه روستو مرګ نۀ دے؟ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: څوک چې تکبر وکړي الله تعالیٰ به هغه ښکته کړي۔ (بيهقي)

پۀ تکبر سره تلل، د تکبر نه جامه راخکل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ستاسو نه پۀ مخکښنو خلقو کښې ❁ يو سړے پۀ خپلو جامو کښې د تکبر پۀ چال سره راووت، الله تعالیٰ زمکې ته حکم وکړو نو زمکې هغه ونيسۀ او د قيامته پورې به پۀ زمکه کښې ننوزي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې پۀ خپل زړۀ کښې لوئے والے وکړو او پۀ تلو کښې ئې تکبر او فخر وکړو نو د الله تعالیٰ سره به پۀ داسې حال کښې ملاويږي چې هغه به پرې غصه وي۔ (حاکم، احمد ، طبراني، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ داسې کس ته (د رحمت پۀ نظر) نۀ ګوري (يا به ورته د قيامت پۀ ورز وُنۀ ګوري) څوک چې خپل لنګ د تکبر نه راکاږي۔ (متفق عليه)

د تکبر حقيقت

رسول اللهﷺ وفرمائيل: جنت ته نۀ شي تلے هغه څوک د چا پۀ زړۀ کښې چې د يوې ذرې پۀ مقدار هم تکبر وي۔ يو سړې عرض وکړو: سړے غواړي چې زما جامې ښکلې وے او زما پيزار ښکلے وے۔ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ ښائسته دے او ښائست خوښوي، تکبر د حق نه انکار کول او خلقو ته سپک کتل دي۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ ته عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! دا شرک خو مونږ پيژندلے دے نو تکبر څۀ شے دے؟ هغه دا دے چې پۀ مونږ کښې د چا جوړه وي چې دے هغه اغوندي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نا (دغه نۀ دے)۔ هغۀ (عرض کونکي) ووې: نو هغه دا دے چې پۀ مونږ کښې د چا ښکلې څپلۍ وي

د ښکلو تسمو والا؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نا۔ هغۀ ووې: نو هغه دا دے چې پۀ مونږ کښې د چا د سورلۍ ښناور وي چې دے پۀ هغې سورلي کوي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نا۔ هغۀ ووې: نو هغه دا دے چې پۀ مونږ کښې د چا څۀ ملګري وي چې دے ورسره کښېني؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نا۔ هغۀ ووې: اے د الله رسوله! نو تکبر څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د حق نه انکار او خلق سپک ګڼل۔ (الادب المفرد)

❁ د ابوهریرهؓ نه روایت دے: یو سړے۔ چې ښائست والا ؤ۔ د رسول اللهﷺ خنګ ته راغے او وئې ویل: ما ته ښائست خوښ کړے شوے دے۔ او ما له چې څومره راکړے شوے دے تاسو اینۍ۔ تر دې چې زۀ نۀ غواړم چې څوک زما نه (پۀ دې کښې) د څپلۍ تسمه هم زیات شي؛ نو تکبر دا دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نا، تکبر دا دے چې څوک حق قبول نکړي او خلقو ته سپک وګوري۔ (الادب المفرد)

ځان غوره، قوي او غالب ګڼل، د خلقو دۀ ته ودرېدل خوښول

❁ رسول اللهﷺ (د حجة الوداع پۀ خطبه کښې) وفرمائیل: نۀ د یو عربي غوره والے شتے پۀ عجمي باندې او نۀ د یو عجمي غوره والے شتے پۀ عربي باندې (مګر پۀ پۀ تقویٰ سره)؛ تاسو ټول د آدم (علیه السلام) اولاد یئ او آدم د خاورې نه پیدا ؤ۔ (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: چا چې پۀ غلامانو (نوکرانو) ځان قوي او غالب وګڼۀ (پۀ هغوی ئې خپل قوت، غلبه او اوچت والے ښکاره کړو) نو الله تعالیٰ به دے ذلیل کړي۔ (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې پۀ دې خوشحاله وي چې خلق هغۀ ته ولاړ وي (یا پاڅي) نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي۔ (ابوداؤد، ترمذي)

چا ته فاسق یا کافر وغیره یا هلاک ویېل، یا دا چې الله به هغه نۀ بخښي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یو سړے چې بل سړي ته فاسق یا کافر ووایي نو دغه خبره دۀ ته واپس کیږي کچرې هغه سړے دغسې نۀ وي۔ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم سړے چې خپل (مسلمان) ورور ته کافر ووایي نو دواړو کښې به یو پۀ دې کښې اخته شي (یا وي)۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې یو سړے پۀ کفر سره وُبلۀ یا ئې ووې چې اے د الله دشمنه! او هغه داسې نۀ ؤ نو دا خبره دۀ ته راوګرزېده۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې سړے ووایي چې خلق هلاک شول نو دے پۀ هغوی کښې د ټولو نه زیات هلاک دے۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ بیان وفرمایۀ: یو سړي وویېل: پۀ الله مِ دِ قسم وي چې الله به فلانے نۀ بخښي! الله تعالیٰ وفرمائېل: څوک دے چې پۀ ما قسم خوري چې زۀ به فلانے نۀ بخښم؟ ما فلانے ووبخښۀ او ستا عمل مِ ختم کړو۔ (مسلم)

بوډا، عالم او بادشاه ته سپک کتل، د مشر او عالم عزت نۀ کول

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې کسان دي چې هغوی ته سپک نۀ ګوري مګر منافق سړے: بوډا مسلمان، عالم او انصاف کونکے بادشاه۔ (ترغیب)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: نۀ دے زمونږ نه چا چې زمونږ د لوئے عزت او بزرګي ونۀ پېژندہ۔ (ابوداؤد، ترمذي)

۞رسول اللهﷺ ارشاد فرمايۀ: نۀ دے زمونږ نه چا چې زمونږ پۀ وړکي رحم ونکړو او زمونږ د لوئے عزت ئې ونکړو (يا ئې د هغۀ حق ونۀ پېژندۀ) ـ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نۀ دے زما د اُمت نه څوک چې زمونږ د لوئے (مشر) عزت ونکړي، زمونږ پۀ وړکي (کشر) رحم ونکړي او زمونږ عالم وُنۀ پېژني (حق ئې وُنۀ پېژني، قدر ئې ونکړي) ـ (ترغيب)

فخراو زياتے کول، پۀ پلار نيکۀ فخر کول

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: څوک دِ د چا پۀ مقابله کښې فخر ونکړي او نۀ دِ پۀ چا زياتے او زبردستي وکړي ـ (مسلم)

۞ د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول اللهﷺ د فخر و ريا والا خلقو د ډوډۍ خوړلو نه منع فرمائېلې ده ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: بېشکه الله تعالیٰ ستاسو نه د جاهليت تکبر او غرور او پۀ پلار نيکۀ فخر کول لرې کړي دي، انسان خو يا مومن متقي دے او يا فاجر بدبخته، خلق ټول د آدم اولاد دے او آدم د خاورې نه پيدا ؤ ـ (ترمذي، ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: دوه کسانو د موسیٰ (عليه السلام) پۀ مخکښې فخر شروع کړو ـ يو پکښې ووې چې زۀ د فلاني زوے يم، فلانے زوے د فلاني او فلانے زوے د فلاني تر دې چې نهه ئې شمار کړل، نو الله تعالیٰ موسیٰ (عليه السلام) ته وحي راولېږله چې دې فخر کونکي ته ووايه چې هغه نهه د دوزخيانو نه دي او تۀ ئې لسم يې ـ (احياء)

بُخل، حرص، بُزدلي، طمع

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بُخل (بخيلتوب) او ايمان د يو بنده پۀ زړۀ کښې نۀ شي يو ځائے کېدے ـ (نسائي) ـ پۀ يو بل روايت کښې داسې دي: دوه خبرې

دي چې پهٔ يو مومن کښې نهٔ شي جمع کېدے: بُخل او بداخلاقي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د دې اُمت اولنے وران والے بخيلتوب او اوږد اُميد دے. (بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مومن له پکار نهٔ دي چې بخيل (شوم) او بُزدل (بې زړهٔ) وي. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: بُخل د شک نه دے او چا چې شک وکړو هغه جنت ته نهٔ شي تلے. (احياء)

❁ رسول اللهﷺپهٔ يوې دعاء کښې وفرمائېل: اے الله زهٔ ستا پناه غواړم د بُخل نه. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د بخيلتوب (او حرص) نه بچ ووسئ ځکه چې دې ستاسو نه مخکښې چې څوک وو هغوئ هلاک کړي دي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: حرص (يا بخل) او ايمان د يو بنده پهٔ يو زړهٔ کښې نهٔ شي جمع کيدے. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د حرص نه ځان ساتئ ځکه چې حرص ستاسو نهٔ مخکښېني خلق هلاک کړل. حرص هغوئ پهٔ وينه تويولو او د حرام کړے شوو خبرو پهٔ حلالولو لګولي وو. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ډېر بد څهٔ چې پهٔ يو سړي کښې وي هغه غورزونکے حرص (يا طمع) او يرونکې بزدلي ده. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پهٔ سړي کښې چې د ټولو نه بد څهٔ دي هغه حرص، بخل او سخته بُزدلي ده. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تا سو به ما بخيل ونهٔ مومئ او نهٔ دروغجن او نهٔ بې زړهٔ. (بخاري)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مومن بُزدل (بې زړۀ) نۀ وي۔ ()

۞ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث شريف کښې مروي دي دي: څۀ بد دے هغه بنده چې طمع ئې راکاږي۔ (ترمذي)

د دنيا اومال و جاه محبت، د هغې وبال

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د بوډا سړي زړۀ پۀ دوؤ څيزونو کښې ځوان وي: د دنيا محبت او اوږد اُميد ۔ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: دوه وږي شرمخان کۀ د بيزو پۀ کنډک کښې پرېښودے شي نو هغه به دې ته دومره ضرر وُنۀ رسوي څومره ضرر چې د انسان دين ته د مال او د جاه محبت رسوي۔ (ترمذ ي ،دارمي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د مال او د جاه محبت پۀ زړۀ کښې داسې منافقت راټوکوي لکه اُوبۀ چې ساګ (سبزي) راټوکوي۔ (احياء)

شهرت، شهرت اختيارول، د شهرت د جامې اغوستل، وعيدونه

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: سړي له دا ضرر پوره دے چې هغۀ ته د دين يا د دنيا پۀ باره کښې اشارې کيدل شروع شي مګر د چا چې الله تعالىٰ حفاظت وفرمائي۔ (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې پۀ دنيا کښې د ځان ښکاره کول او مشهورول وکړي نو الله تعالىٰ به د قيامت پۀ ورز هغه خلقو ته ښکاره (رسوا) کړي۔ (بخاري)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې پۀ دنيا کښې د شهرت جامه واغوسته، الله تعالىٰ به د قيامت پۀ ورز هغۀ ته د ذلت جامه واغوندوي۔ (احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې پۀ دنيا کښې د شهرت جامه واغوسته، الله تعالىٰ به ورته د غه جامه د قيامت پۀ ورز واغوندوي او اُور به پکښې بل کړي. (رزين في جامعه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د شهرت جامه واغوندي نو الله تعالىٰ د دۀ نه مخ واړوي تر دې چې دے هغه وباسي. (ترغيب)

اوږد اُميد، آرزوګانې

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول اللهﷺ وفرمائيل: دا انسان دے، دا د دۀ اجل او ـ رسول اللهﷺ خپل لاس مبارک د خپل څټ سره کېښودۀ او بيا ئې اوږد کړو ـ دلته د دۀ اُميد دے، دلته د دۀ اُميد دے (يعني مرګ نزدې دے خو د انسان اُميدونه او آرزوګانې اوږدې دي). (ترمذي)

❁ د ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دے: رسول اللهﷺ درې ډکي راواخستۀ. يو ډکے ئې خپلې مخې ته خخ کړو، يو ئې خپلې ډډې ته او بل ئې لرې کېښودۀ، بيا ئې وفرمائيل: تاسو پوهېږئ دا څۀ دي؟ عرض وکړے شو: الله او د هغۀ رسول زيات پوهه دي. رسول اللهﷺ وفرمائيل: دا انسان دے، دا اجل دے او دغه اُميد دے چې ابن آدم ئې لرې او اجل ئې پۀ اُميد کښې حائل کيږي. (ابن ابى الدنيا)

❁ ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمائي: اُسامه بن زيد (رضي الله عنهما) د يوې مياشتې پۀ نېټه يوه وينزه واخسته نو ما د رسول اللهﷺ نه دا واورېدۀ: تاسو اُسامه ته حيران نۀ شوئ چا چې د يوې مياشتې پۀ نېټه وينزه اخستې ده؟ بېشکه اُسامه اُوږد اُميد لري. (ابن ابى الدنيا، طبراني، بيهقي)

❁روايت دے چې يو صحابي د يوې مياشتې پۀ نېټه يو شے واخستۀ نو رسول اللهﷺ ورته وفرمائيل: تاته پته ده چې تۀ به د يوې مياشتې پورې ژوندے يې؟ (فضائلِ صدقات)

منافقت، د منافق نښې، د دوؤ مخونو والا کېدل

✿ عمرؓ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے دے: ما ته پۀ خپل اُمت باندې د ټولو نه زیاته یره د هغه منافق ده چې خبرې د حکمت کوي او عمل د ظلم (ناحق والي) ـ (بیهقي)

✿ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: ما ته پۀ خپل اُمت د یو مومن او د مشرک (کافر) یره نیشته، مومن خو به د هغۀ ایمان منع کړي او مشرک به د هغۀ کفر دفع کړي، ما ته یره د منافق او د ژبې د عالم ده چې وایي هغه چې تاسو ئې پېژنئ (چې ښۀ وي) او کوي هغه چې تاسو ئې نۀ پېژنئ (چې بد وي) ـ (طبراني)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د منافق مثال د هغې بیزې دے چې د دوؤ کنډکونو پۀ مینځ کښې وي، یوه پېره یو ته زي او بله پېره بل ته زي، نۀ پوهیږي چې پۀ کوم یو پسې شي ـ (نسائي)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پناه غواړئ پۀ الله تعالیٰ سره د منافقت د خشوع (عاجزۍ) نه (چې پۀ ظاهري اندامونو کښې خشوع وي خو پۀ زړۀ کښې نۀ وي) ـ (بیهقي)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د منافق درې نښې دي: چې خبرې کوي نو دروغ وایي، چې وعده وکړي نو خلاف ئې کوي او چې امانت ورسره کېښودے شي نو خیانت پکښې کوي ـ (متفق علیه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې خبرې دي پۀ چا کښې چې وي هغه منافق دے اګرکۀ روژې نیسي، نمونځ کوي او ځان ته مسلمان وایي ـ (مسلم)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څلور خبرې دي پۀ چا کښې چې هغه وي نو دے خالص منافق دے او پۀ چا کښې چې د هغې نه یوه خبره وي نو پۀ دۀ کښې د منافقت یوه خبره وي تر دې چې هغه پرېږدي: چې امانت ورسره کېښودے شي

نو خیانت کوي، چې خبرې کوي نو دروغ وايي، چې وعده وکړي نو خلاف ئې کوي او چې جنګ کوي نو کنزل کوي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تا سو به د قیامت پۀ ورز پۀ خلقو کښې د ټولو نه بد سړے د دوؤ مخونو والا وموميۍ څوک چې د بعضو خوا ته پۀ یو مخ سره زي او د بعضو خوا ته پۀ بل مخ سره زي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې پۀ دنیا کښې د دوؤ مخونو والا وي نو د قیامت پۀ ورز به د هغۀ د اور ژبه وي. (دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د دوؤ مخونو والا د الله تعالیٰ پۀ نزد عزتمند (وجیه) نۀ وي. (نورالیقین)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د دوؤ مخونو والا له نۀ دي پکار (ممکن) چې امانتدار وي. (الادب المفرد)

دروغ ویېل، وبال، وعیدونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د دروغو نه ځان ساتۍ ځکه چې دروغ ګناه ته بوتلل کوي او ګناه دوزخ ته، او سړے دروغ وايي او د دروغو قصد او تکل کوي تر دې چې د الله تعالیٰ سره دروغجن ولیکلے شي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ځان د دروغو نه ساتۍ ځکه چې دروغ د فاجر والي سره دي او دا دواړه به پۀ دوزخ کښې وي. (ابن ماجه، نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دروغجن ته ویېلے کیږي چې دۀ دروغ ووې او د ګناه کار ئې وکړو. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دا د یو غټ خیانت خبره ده چې تۀ خپل (مسلمان) ورور سره څۀ خبره کوې هغه تا پۀ دې کښې رشتونے ګڼي او تۀ دروغ وايې. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دروغ ګناه دے او ګناه سړے دوزخ ته بوزي۔ (مسلم، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دروغ شک دے (یا بې اطمینانی ده)۔ (ترمذي، احمد، نسائي، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دروغ هلاکول کوي۔ (ترغیب)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: کله چې بنده دروغ وایي نو فرښته د هغې د بدبو د وجې نه یو میل د هغهٔ نه لرې کیږي۔ (ترمذي)

❁ ابوبکرهؓ فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائیل: زهٔ تاسو ته د ټولو نه لوی ګناهونه وښایم؟ مونږ عرض وکړو: ضرور وښایه اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائیل: د الله تعالیٰ سره شریک جوړول، د مور او پلار نافرماني کول او ــ رسول اللهﷺ تکیه شوے ؤ نو کښیناستهٔ او وئې فرمائیل ــ خبردار! د دروغو وینا (یا د دروغو ګواهي)۔ دا خبره ئې بار بار فرمائیله تر دې چې مونږ ووې چې کاش دوی خاموش شوے! (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: مومن بې زړهٔ کېدے شي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: آ؛ بیا تپوس وکړے شو: مومن بخیل کیدے شي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: آ؛ بیا تپوس وکړے شو: مومن دروغجن کېدے شي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نا (نهٔ شي کېدے)۔ (مالک، بیهقي)

❁ د عبدالله بن جرادؓ نه روایت دے فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: اے د الله رسوله مومن زنا کولے شي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دا کېدے شي۔ ما بیا تپوس وکړو: اے د الله رسوله مومن دروغ ویېلے شي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نا (نهٔ شي ویېلے)۔ (ابن عبدالبر، ابن ابی الدنیا)

پۀ ټوقه او جنګ کښې دروغ ويېل، هره اورېدلې خبره بيانول

✿ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: ځان د دروغو نه ساتئ ځکه چې دروغ نۀ پۀ رشتيا ښۀ دي او نۀ پۀ ټوقه. (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بنده مومن نۀ شي کېدے (يا مکمل ايمان والا نۀ شي کېدے) تر څو چې پۀ مزاح (ټوقه) او جنګ کښې (هم) دروغ ويېل پرې نږدي اګرکۀ پۀ حقه وي. (احمد)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د سړي د دروغجن والي (يا د ګنهګارېدو) دپاره دا خبره کافي ده چې دے چې څۀ هم واوري هغه (بغير د تحقيق نه) بيان کړي. (مسلم، ابوداؤد)

✿ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: تباهي ده د خبرې پيپانو (اقماعو) له (کوم چې هره اورېدلې خبره بيانوي، د خير خبره وي او کۀ د شر). (الادب المفرد)

د دروغو خوب بيانول وغيره، پۀ دروغه څۀ خپل ګڼل

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د دروغو خوب بيان کړو نو د قيامت پۀ ورز به دے مجبور کړے شي چې د وربشو دوه دانې د يو بل سره غوټه کړي، هيڅکله به نۀ شي غوټه کولے. (بخاري، ابوداؤد)

✿ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې يو خوب بيان کړو کوم ئې چې ليدلے نۀ ؤ نو دے داسې دے لکه چې د دروغو ګواهئ وکړي. (المطالب العاليه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه لوئے دروغ دا دي چې سړے د خپلو سترګو هغه څۀ ليدل بيان کړي چې هغو نۀ وي ليدلي. (بخاري)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د هغه څۀ دعوىٰ وکړي چې د دۀ نۀ وي نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي. (مسلم)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: چا چې په هغه شي سره ښائست وکړو چې دۀ له نۀ ؤ ورکړے شوے نو دے داسې دے لکه د دروغو جامې اغوستونکے. (ترمذي، ابوداؤد)

وعده نۀ پوره کول، د امانتو خیال نۀ ساتل، خیانت کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیشتے دین هغه چا له (په هغه چا کښې) د چا چې وعده نۀ وي. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خپل (مسلمان) ورور سره داسې وعده مۀ کوه چې پوره کوې ئې نۀ. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیشتے ایمان هغه چا له د چا چې امانت نۀ وي. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیشتے دین هغه چا له په چا کښې چې امانت نۀ وي او نۀ ورله نمونځ شتے او نۀ زکوٰة. (بزار)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: په مومن کښې هر قسم (بد) خوئي کېدے شي خو خیانت او دروغ پکښې نۀ شي کېدے. (ابن ابي شیبه، احمد ، بیهقي)

غیبت کول، د غیبت خلاف د چا دفاع نۀ کول

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: غیبت (په ګناه کښې) د بدکارۍ نه زیات سخت دے. (ترمذي، بیهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د معراج په شپه زۀ په داسې خلقو تېروتم د چا چې د تانبې نوکونه وو او خپل مخونه او سینې ئې زخمي کولې. ما تپوس وکړو: دا څوک دي اے جبریله؟ جبریل (علیه السلام) وویېل: دا هغه کسان دي چا چې به د خلقو غوښې خوړې (د هغو غیبت به ئې کولو) او د هغوی بې عزتي به ئې کوله. (ابوداؤد) . په یو بل روایت کښې دي چې رسول اللهﷺ د دې مفهوم ارشاد وفرمایۀ: د معراج په موقع ما څۀ کسان ولیدۀ چې فرښتو د

هغوی د ډېرو نه غوښې غوځولې او په هغو ئې خوړولې او هغوی ته ئې ویېل چې څنګه تاسو په دنیا کښې د خپلو رونو غوښې خوړې هغسې وس دلته خپلې غوښې خوری. ما تپوس وکړو: اے جبریله! دا څوک دي؟ جبریلوویېل: دا ستا د اُمت هغه خلق دي چې د نورو غیبت به ئې کولو. (تذکرة الواعظین)

❁ رسول اللهﷺ د دوؤ قبرونو والو په باره کښې کومو ته چې عذاب ملاوېدۀ وفرمائېل: یو به په دوی کښې د خلقو غیبت کولو او بل به د خپلو پېشابو نه ځان نۀ ساتۀ. (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې په یو مسلمان سړي (یعني د هغۀ په غیبت کولو) یوه نمړی وخوړه نو الله تعالیٰ به د هغې په شان په دۀ د جهنم نه وخوروي، او چا چې په یو مسلمان سړي څۀ جامه واغوسته نو الله تعالیٰ به د هغې په شان دۀ ته د جهنم نه واغوندوي. (ابوداؤد)

❁ عائشه رضي الله عنها فرمائي: مونږ کره یوه ښځۀ راغلې وه، چې واپس شوه نو ما په لاس سره اشاره وکړه چې دا چیته ده نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: تا د دې غیبت وکړو. (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: اورېدونکے (د غیبت) د دوؤ غیبت کونکو نه یو دے. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا په څنګ کښې چې د دۀ د مسلمان ورور غیبت کیږي او دے د هغۀ مدد ونکړي حالانکه د هغۀ مدد کولے شي نو الله تعالیٰ به په دنیا او آخرت کښې دے نیسي. (شرح السنه)

غیبت څۀ ته وايي؟ د غیبت کفاره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو خبر یئ غیبت څۀ شے دے؟ صحابو عرض وکړو: الله او د هغۀ رسول زیات پوهه دي. رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستا خپل (مسلمان) ورور په هغۀ څۀ سره ذکر کول څۀ چې هغه بد ګڼي. عرض وکړے

شو: کۀ زما پۀ ورور کښې هغه څۀ وي څۀ چې زۀ وايم ؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کۀ پۀ هغۀ کښې وي څۀ چې تۀ وايې نو تا د هغۀ غيبت وکړو او کۀ پۀ هغۀ کښې نۀ وي څۀ چې تۀ وايې نو تا پۀ هغۀ بهتان ولګولو ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د غيبت کفاره دا ده چې تۀ د چا غيبت وکړې هغۀ له بخښنه وغواړې، ووايې چې اے الله! مونږه او دے وبخښې ـ (بيهقي)

مخامخ صفت (مدح) کول

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: تۀ چې د خپل (مسلمان) ورور مخامخ صفت (مدح) وکړې نو دا لکه چې تۀ د هغۀ پۀ مرۍ چاړۀ راکاږې ـ (ابن المبارک فی الزهد)

❁رسول اللهﷺ د يو سړي نه واورېدل چې د يو بل سړي صفت ئې کولو او ډېر زيات ئې کولو نو رسول اللهﷺ ورته وفرمائيل: تا دے هلاک کړو يا دِ ورله ملا ماته کړه ـ (متفق عليه)

❁ د ابوبکرهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: يو سړي د رسول اللهﷺ پۀ مخکښې د يو سړي مدحَ وکړه نو رسول اللهﷺ وفرمائيل: هلاک شې! د خپل ورور څټ دِ پرې کړو ـ درې ځله ئې دا وفرمائيل ـ څوک چې پۀ تاسو کښې خامخا مدحَ کونکے وي نو بيا دِ داسې وايي: زما د فلاني پۀ باره کښې دا ګمان دے؛ پۀ الله تعالیٰ دِ څوک نۀ پاکوي (پۀ الله تعالیٰ دِ د چا پاکول او مدحَ نۀ واجبوي) ـ (متفق عليه)

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: تاسو چې مخامخ صفت کونکي وينئ نو پۀ خلو کښې ورله خاورې واچوئ ـ (مسلم)

چا پورې دروغ جوړول، پۀ چا تهمت لګول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې پۀ يو مسلمان سړي يا ښځې پورې دروغ جوړکړۀ نو پۀ قيامت کښې به الله تعالیٰ دے د دوزخيانو د بدن پۀ وينو زوو

کنبې بند کړي دې پورې چې د دغه تهمت او الزام نه راوزي خو راوتونکے به نۀ وي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د يو مومن پۀ باره کنبې داسې څۀ ووايې چې پۀ هغۀ کنبې نۀ وي نو الله تعالیٰ به دے پۀ سختو ختهو (يا د دوزخيانو پۀ وينو زؤو) کنبې داخل کړي تر دې چې څۀ ئې ويېلي وي د هغې نه راوزي ـ (ابوداؤد)

❁ د يو حديث شريف مفهوم دے: څوک چې پۀ چا الزام ولګوي نو قيامت کنبې به دۀ ته وويېلے شي چې دا وس رشتيا کړه، دے به ئې نۀ شي رشتيا کولے نو دوزخ ته به وغورزولے شي ـ ()

پۀ خلقو عيبونه لګول، عيبونه ئې ښکاره کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ يو مسلمان څۀ عيب وُلګوي نو الله تعالیٰ به دے د جهنم پۀ پل باندې حصارکړي دې پورې چې څۀ ئې ويېلي وي د هغې نه راوُزي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د يو مسلمان پۀ باره کنبې څۀ خبره خوره کړه چې هغه پرې پۀ ناحقه عيبجن کړي نو الله تعالیٰ به پۀ هغې سره دے د قيامت پۀ ورز عيبجن کړي ـ (ابن ابی الدنيا ، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کنبې ارشاد وفرمايۀ: د مسلمانانو عيبونه مۀ ښکاره کوئ ـ (ترمذي)

د چا پټو خبرو ته غوږ ايښودل، معلومول، لټول، د چا پرده ماتول، بدګماني کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خلقو خبرو تۀ غوږ ايښودونکے او د هغو پټې خبرې معلومونکے سړے جنت ته نۀ شي تلے ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د څۀ خلقو خبرو ته غوږ ږدي او هغوی دا بد ګڼي نو د قيامت پۀ ورز به د دۀ پۀ غوږونو کښې سکه واچولے شي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: تاسو د چا خبري مۀ معلوموی، د چا جاسوسي او د پټو معاملو لټون مۀ کوی. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د مسلمانانو د پردې ځيزونه مۀ لټوی ځکه چې څوک د خپل (مسلمان) ورور د پردې ځيز ولټوي نو الله تعالیٰ به د دۀ د پردې ځيز ولټوي او الله تعالیٰ چې د چا د پردې ځيز ولټوي نو هغه به رسوا کړي اګرکۀ هغه د خپل کور پۀ مينځ کښې وي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د خپل (مسلمان) ورور د پردې (يا د عيب) خبره ښکاره کړه نو الله تعالیٰ به ئې بې پردې کړي تر دې چې پۀ خپل کور کښې به ئې وشرموي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د بدګمانۍ نه ځان ساتۍ ځکه چې بدګماني د ټولو نه غټ دروغ دي (يا د ټولو نه زياته دروغجنه خبره ده). (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ پۀ مومن د مومن وينه، مال اوعزت حرام کړے دے او دا چې پۀ هغۀ بدګماني وکړي. (حاکم)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې د دې مفهوم ارشاد وفرمايۀ: بدګماني يو ګناه دے چې خوربږي. (طبراني)

طعن، فحش، کنزل، بدې ردې، لعن، لعنت

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: مومن طعن کونکے، فحش والا او فحش ويونکے (قبيحه خلۀ خوزونکے) نۀ وي. (ترمذي، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: ځان د فحش او قبيحې وينا نه وساتۍ ځکه چې الله تعالیٰ فحش ويونکے نۀ خوښوي. (النسائي فی الکبریٰ، حاکم)

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ پۀ هر فحش ويونکي جنت ته تلل حرام کړي دي. (ابن ابی الدنيا، ابونعيم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د مومن د ټولو نه لاندې خوئي او عادت فحش (وينا او عمل) دے. (الادب المفرد)

❁ رسول الله ﷺ پۀ يو حديثِ پاک کښې وفرمائېل: فحش پۀ څۀ شي کښې نۀ وي مګر هغه بدموره کوي. (الادب المفرد)

❁ د رسول الله ﷺ وفرمائېل: يو بل ته دوه کنزل کونکي شيطانان دي چې پۀ يو بل د دروغو دعویٰ کوي. (الادب المفرد)

❁ د رسول الله ﷺ نه ارشاد مروي دے: کله چې زما اُمتيان يو بل ته کنزل او بدې ردې ويېل شروع کړي نو د الله تعالیٰ د نظر نه وغورزيږي. (ترمذي، ابن ابی الدنيا)

❁ د يو حديث شريف مفهوم دے: د دوزخي سړي يوه نښه دا ده چې د خلې نه به ئې کنزل ډېر ډېر وزي. ()

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: دوه کنزل کونکي چې څۀ ووايي نو د دې وبال او ګناه پۀ شروع کونکي دے څو پورې چې مظلوم د حد نه وانۀ وړي. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: مومن لعن کونکے نۀ وي. پۀ يو بل روايت کښې دي چې مومن (يا صديق) له نۀ دي پکار چې لعن کونکے وي. (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: لعن کونکي به د قيامت پۀ ورز نۀ شفاعت (سفارش) کونکي وي او نۀ ګواهي ورکونکي. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ يو بل د الله، د الله د غضب او د دوزخ لعنت مۀ وايئ. (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ څۀ شي لعنت وايي چې د هغې حقدار نۀ وي نو هغه پۀ دۀ (لعنت ويونکي) پسې راګرزي. (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زۀ لعن کونکے نۀ يم رالېږلے شوے، رحمت رالېږلے شوے يم ـ (الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺنه دعاء مروي ده: (اے الله! د اولاد د آدم (عليه السلام) نه يم زۀ! پۀ کوم يو بنده د خپل اُمت چې ما لعنت کړے وي (بددعائي مِ ورته کړې وي) يا مِ ورته بدې ردې ويلې وي نو دا هغۀ له دعاء وګرزوې ـ (الادب المفرد)

خبرې (بددعائي)، خپل ځان ته خبرې

❁ د عائشې رضي الله عنها څۀ شے ورک شو، هغې غلا کونکي ته خبرې (بدعائي) کول شروع کړۀ نو رسول اللهﷺورته وفرمائيل: د هغۀ نه (ګناه) مۀ سپکوه ـ (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺنه طلب وکړے شو چې مشرکانو ته خبرې وکړې: رسول اللهﷺوفرمائيل: اے الله! زما قوم ته هدايت وکړې چې دوی نۀ پوهېږي ـ (نوراليقين)

❁ د جابر رضي الله عنهنه روايت دے چې رسول اللهﷺوفرمائيل: تاسو خپل ځان ته خبرې مۀ کوئ اوخپل اولاد ته خبرې مۀ کوئ او خپلو مالونو ته خبرې مۀ کوئ، چرته تاسو د الله تعالیٰ د طرف نه د هغه وخت سره موافق (برابر) نۀ شئ پۀ کوم کښې چې د هغۀ نه هغه څۀ غوښتےکيږي چې هغه ورکولے کيږي نو ستاسو سوال به قبول کړي ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يوه موقع وفرمائيل: خپل ځان له صرف د خير دعاء غواړئ ځکه چې ملائکې ستاسو پۀ وينا آمين وايي ـ (مسلم)

پېغور او زُورنه ورکول، ښوک رټل

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: مسلمانانو ته پېغور او زُورنه مۀ ورکوئ، مۀ ئې رټئ (عار او شرم ورته مۀ دلاوه وئ) ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې خپل (مسلمان) ورور له د څۀ ګناه پېغور ورکړو (هغه ئې پرې وُرټۀ، وژورۀ) نو دے بۀ نۀ مرې څو پورې چې هغه ګناه ونکړي (خصوصاً چې هغۀ ترېنه توبه ويستلې وي). (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کۀ يو سړے تا ته د داسې څۀ پېغور درکړي چې پۀ تا کښې وي نو تۀ ورته د داسې څۀ پېغور مۀ ورکوه چې پۀ هغۀ کښې وي. (احمد)

عصبيت، تعصب، د عصبيت مطلب

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نۀ دے زمونږ نه څوک چې عصبيت (تعصب) طرف ته رابلل وکړي، نۀ دے زمونږ نه څوک چې پۀ عصبيت باندې جنګ وکړي، نۀ دے زمونږ نه څوک چې پۀ عصبيت باندې مړ شي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د ګمراهۍ د جنډې د لاندې قتل وکړو چې د عصبيت دپاره ئې غصه کوله او د عصبيت دپاره ئې جنګ کولو نو دے زما د اُمت نه نۀ دے. (مسلم). پۀ يو بل روايت کښې دي چې څوک د ړندې جنډې د لاندې جنګ کوي چې د عصبيت دپاره غصه کوي يا د عصبيت دپاره رابلل کوي او يا د عصبيت دپاره (د چا) مدد کوي او بيا قتل شي نو د دۀ قتل د جاهليت قتل دے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو سړي ته د عصبيت نه څۀ نۀ ننوزي مګر د هغې هومره ايمان ترېنه وُزي. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ ناحقه د خپل قوم مدد کوي دے د هغه اُوښ پۀ شان دے چې پۀ کوهي کښې ارتاؤ شي او بيا د لکۍ نه راويستے کيږي. (ابوداؤد)

۞ د واثله بن اسقعؓ نه روایت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله عصبیت څۀ شے دے ؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې تۀ د خپل قوم پۀ ظلم باندې مدد وکړې۔ (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: اے د الله رسوله! دا خبره هم د عصبیت نه ده چې سړے د خپل قوم سره محبت وساتي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نا ، لیکن د عصبیت نه دا خبره ده چې سړے پۀ ظلم کښې د خپل قوم مدد وکړي۔ (احمد ،ابن ماجه)

نسب ته کتل، نسبت قائمول، د چا نسب ته بد ویېل

۞رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: د چا عمل چې دے رُو کړي د دۀ نسب دے نۀ شي ګړندے کولے۔ (ابوداؤد ، ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم حدیث مبارک مروي دے: د قیامت پۀ ورز به الله تعالیٰ یو آواز کونکي ته د دې خبرې د آواز کولو حکم وکړي: واورئ چې ما یو نسبت قائم کړو او تاسو بل نسبت قائم کړو۔ ما پۀ تاسو کښې د ټولو نه زیات عزتمند هغه څوک وګرزولو کوم چې د ټولو نه زیات متقي وي مګر تاسو د دې (د منلو) نه انکار وکړو۔ تاسو دا ویېل شروع کړۀ چې فلانے زوے د فلاني غوره دے د فلاني زوي د فلاني نه۔ پس زۀ نن خپل قائم کړے نسبت اوچتوم او ستاسو نسبت ښکته غورزوم، چرته دي متقیان خلق؟ (طبراني)

۞ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه نۀ دي اورېدلي چې څوک ئې د دین نه علاوه بل څۀ سره ترلے وي۔ (ابوداؤد في مراسیله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستاسو دا نسبونه چا ته د بد رد ویېلو (او چا ته د پېغور ورکولو) دپاره نۀ دي، تاسو ټول د آدم اولاد یئ، نیشتے چا له پۀ چا غوره والے مګر پۀ تقویٰ سره۔ (احمد ، بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دوه عادتونه دي په خلقو کښې چې هغوی له د کفر خبرې دي: په نسب طعن کول او په مړي نوحه (وِیر) کول. (مسلم)

ځان د خپل پلار نه علاوه بل چا ته منسوب کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خپلو پلارونو نه مۀ راغب کېږئ (مۀ اَوړئ)، ځوک چې د خپل پلار نه راغب شو هغۀ کفر وکړو. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې خپل ځان د خپل پلار نه علاوه بل چا ته منسوب کړو (بل چا پسې وتړۀ) او پته ورته وه نو کفر ئې وکړو، او چا چې خپل ځان یو قوم ته منسوب کړو چې دے د هغې نه نۀ وُ نو خپل ځائے دِ په دوزخ کښې جوړ کړي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې خپل ځان د خپل پلار په ځائے بل چا ته منسوب کړو او دے پوهه وُ نو جنت پرې حرام دے. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د خپل پلار نه سوا بل چا ته خپل نسبت وکړو ... نو په دۀ به د قیامته پورې مسلسل د الله تعالیٰ لعنت وي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ په یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: په خلقو کښې د ټولو نه د غټ جرم (ګناه) والا هغه سړے دے چې د خپل پلار نه لرې شي (د هغۀ او د هغۀ د نسب نه انکار وکړي). (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نسب اګرکۀ معمولي وي د هغې نه بري (بېزاره) کېدل کفر دے. (احمد)

فرقه بندي، فرقه پرستي

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: تاسو فرقې فرقې مۀ کېږئ. (السلسلة الصحیحه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قسم مِ دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې د محمد روح دے! ضرور به زما اُمت پۀ درې اوياؤ فرقو کښې تقسيمېږي. يوه فرقه به جنت ته زي او دوه اويا به دوزخ ته زي. عرض وکړے شو: دا (جنت ته تلونکې فرقه) به کومه وي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جماعت (د ټولو نه لوئے ټولګے، اهلِ سنت و جماعت). (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بني اسرائيل دوه اويا فرقې شوي وو او زما اُمت به درې اويا فرقې کيږي، ټول به پۀ دوزخ کښې وي سوا د يوې فرقې نه. خلقو عرض وکړو: هغوی به څوک وي اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه څوک چې پۀ هغه (دين او طريقې) وي پۀ کوم چې زۀ او زما اصحاب دي. ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: د ټولو نه د لوئے تعداد (سوادِ اعظم) پيروي کوی. (ابن ماجه)

خبرې رسول، چغلي کول، جدائي او فساد راوستل

❁ د ابو مسعودرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما پۀ ملګرو کښې دِ څوک ما ته د چا څۀ خبره نۀ رارسوي؛ زۀ غواړم چې تاسو ته پۀ داسې حال کښې راوُزم چې سينه مِ روغه وي. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: چغلي کونکے (خبرې وړونکے راوړونکے) سړے جنت ته نۀ شي تلے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺد يو قبر والا پۀ باره کښې وفرمائېل: دۀ ته د چغل خورۍ پۀ وجه عذاب ورکولے کيږي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د الله تعالىٰ پۀ بندګانو کښې د ټولو نه بد هغه دي چې چغلي کوي، د دوستانو پۀ مينځ کښې جدائي راولي. (احمد، بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نۀ د ے زمونږ نه چا چې د يو سړي ښځه يا د يو مالک غلام (خادم) وران کړو (د هغوی نه ئې پۀ دوکه، غولولو، لمسولو وغيره بيل او بېزار کړل) ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: شيطان د دې نه نااُميده شوے د ے چې نمونځ کونکي (يعني مسلمانان) پۀ جزيرة العرب کښې د دۀ عبادت وکړي ليکن د هغوی پۀ مينځ کښې د يو بل خلاف پارَوُل (به وي) ـ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: د خلقو مينځ کښې فساد (ورانه) پيدا کول خريونکے (نيکيانې ختمونکے) شے د ے ـ (ابوداؤد، ترمذي)

حسد کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د يو بل سره حسد (بې سودي، بدنيتي) مۀ کوئ ـ (بخاري، مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ځان د حسد نه ساتئ ځکه چې حسد نيکيانې داسې سيزي لکه اور چې لرګي (يا وچ واخۀ) سيزي ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تا له حسد راشي نو تجاوز او زياتے مۀ کوه (يعني پۀ هغې عمل مۀ کوه) ـ (احياء)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: پۀ تاسو کښې د مخکښېنو اُمتونو مرض، حسد، ننوتے د ے ـ (احمد، ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: نزدې ده چې حسد پۀ تقدير غالب شي ـ (بيهقي)

بغض ساتل، يو بل پرېښول، عذرنۀ منل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو بل سره بغض (کينه، بدشتون) مۀ ساتئ ـ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تا سره محبت نۀ ساتي مګر مومن او تا سره بغض نۀ ساتي مګر منافق. (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائیل: بغض خريونکے دے. زۀ نۀ وايم چې وېښتۀ خرَي بلکې دين خرَي. (احمد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د ګلورمې او زيارت پۀ ورځ د جنت دروازې کولاوولے کېږي نو هر بنده کوم چې د الله تعالیٰ سره څۀ نۀ شريک کوي بخښلے کېږي مګر داسې سړے چې د دۀ او د دۀ د (مسلمان) ورور پۀ مينځ کښې څۀ بغض کينه (يا دشمني) وي؛ نو ويېلے کېږي چې دې دوؤ ته مهلت ورکړې چې دوی صلح (روغه) وکړي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: يو بل مۀ پرېږدی. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: يو بل ته شاګانې مۀ راړوی (يو بل مۀ پرېږدی، د يو بل نه مۀ بې تعلقه کېږی). (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: يو مسلمان له جائز نۀ دي چې خپل (مسلمان) ورور د درېو ورزو نه زيات پرېږدي چې دواړه ملاوېږي نو دے مخ اړوي او هغه مخ اړوي او پۀ دواړو کښې غوره هغه يو دے کوم چې ړومبے سلام وکړي. (متفق عليه). پۀ يو بل روايت کښې دا دي: يو سړي له جائز نۀ دي چې يو مومن د دريو ورزو نه زيات پرېږدي پس کله چې درې ورزې تېرې شي نو دے دِ هغۀ سره ملاؤ شي او سلام دِ ورته وکړي نو کۀ هغۀ د دۀ د سلام جواب ورکړو نو دواړه پۀ اجر کښې برابر شو او کۀ ور ئې نکړو نو دا مسلمان د پرېښولو (د ګناه او وبال) نه خلاص شو. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د دريو ورزو نه زيات پرېښول وکړۀ او بيا (پۀ داسې حال کښې) مړ شو نو دوزخ ته به زي. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې خپل (مسلمان) ورور یو کال پرېښو نو دا خبره د هغهٔ د وینې د تویولو پهٔ شان ده. (ابوداؤد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې خپل (مسلمان) ورور ته عذر وکړو او هغهٔ د دهٔ عذر ونهٔ منهٔ نو پهٔ هغهٔ به د محصول اخستونکي د ګناه هومره ګناه وي. (بیهقي، ابوداؤد في مراسیله)

د الله پهٔ نافرمانئ کښې غصه ویستل، د غصې بدوالے، نقصان

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د دوزخ یوه دروازه ده پهٔ هغې به صرف هغه کس داخلیږي څوک چې د الله تعالیٰ پهٔ نافرمانئ سره خپله غصه یخه کړي. (بزار، بیهقي، نسائي، ابن ابی الدنیا)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: غصه د اور یوه ټکړه ده. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: غصه د شیطان د طرف نه ده او شیطان د اُور نه پیدا شوے دے. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: غصه انګاره ده پهٔ زړهٔ کښې. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: د غصې نه بچ شئ ځکه چې دا د ابن آدم پهٔ زړهٔ باندې یو انګاره ده؛ اے تاسو د هغهٔ د مرئ د رګونو پړسوب او د سترګو سوروالي ته نهٔ ګورئ؟ پس څوک چې د دې نه څهٔ محسوس کړي نو څهٔ دِ ملي او زمکې پورې دِ جُخت شي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: غصه ایمان داسې خرابوي لکه مرَ غونے چې ګبین خرابوي. (بیهقي)

جګړه کول، په جګړه کښې د ناحق مدد او حمايت کول، فتنه راپورته کول وغيره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې په نا حق څۀ کښې جګړه کوي او د هغې پته ورته وي نو دے د الله تعالیٰ په غصه کښې وي تر څو چې د هغې نه واپس او توبه ګار نۀ شي۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: يو قوم نۀ دے ګمراه شوے روستو د دې نه چې الله تعالیٰ ورته هدايت کړے وي مګر دا چې جدل (جنګ يا تعصب و عناد) ورته ورکړے شوے وي۔ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: اولنے شے چې د بتانو د عبادت او د شرابو څښلو نه پس الله تعالیٰ زما نه د هغې د پرېښولو وعده اخستې ده او زۀ ئې ترېنه منع کړے يم هغه د خلقو سره جګړې کول دي۔ (ابن ابی الدنيا، طبراني)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: جګړه پرېږدۀ ځکه چې د دې نفع کمه ده او دا د رونو په مينځ کښې دشمني را پورته کوي۔ (ديلمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم سړے چې په څۀ جګړه کښې د ناحق حمايت او مدد کوي هغه د الله تعالیٰ په غضب (غصه) کښې وي څو پورې چې د هغې نه توبه ونۀ باسي۔ (ابوداؤد، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې په ظلم سره په څۀ جګړه کښې مدد وکړو دے د الله تعالیٰ په لوئے غضب کښې اخته شو۔ (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: فتنه اوده وي، الله تعالیٰ دِ لعنت نازل کړي په هغه چا څوک چې دا راوېښه کړي۔ (عالمګيري: ادب القاضي)

۞ د عبد الله بن خباب رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول الله ﷺ وفرمائېل: زما نه روستو به فتنې وي نو تهٔ پکښې اے عبدالله! مقتول شه، قاتل مهٔ شه. (احمد، دارقطني)

خلقو ته ضرر او مصيبت رسول، د تکليف ځهٔ خبرې

۞ د رسول الله ﷺ ارشاد دے: پهٔ اسلام کښې ضرر رسول نيتشي. (احمد، ابن ماجه)

۞ د رسول الله ﷺ نه د دې مفهوم روايت کړے شوے دے: پهٔ ټولو کښې د بدو خلقو نه ځهٔ هغه دي کوم چې بې ګناه خلقو له مصيبت ګوري (هغوی پهٔ مصيبت کښې غورزوي). (احمد، بيهقي)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کله چې تاسو درې تنه يئ نو دوه تنه دِ د دريم نه بغير د يو بل سره پهٔ غوږ کښې خبرې نهٔ کوي ځکه چې دا هغه (دريم) خفه کوي. (ابن ماجه)

۞ د ابوسعيد عبد الله بن مغفل رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ منع فرمائېلې ده د کاڼي د ويشتو نه او هغوی فرمائېلي دي چې دا نهٔ ښکار وژني او نهٔ دشمن وژني، دا سترګه ړوي او غاښ ماتوي. (متفق عليه)

د لارې پهٔ مينځ کښې کښېناستل، لار ګنده کول، لار تنګول

۞ د جابر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمائېل: د لارو پهٔ مينځ کښې مهٔ کښېنئ او مهٔ پکښې قضاءِ حاجت (واړهٔ لوئ بول) کوئ. (ابن ماجه)

۞ د معاذ رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره يوې غزا له تلي وو نو (هلته پهٔ ځهٔ موقع) خلقو د پړاؤ ځايونه تنګ کړل او لارې ئې کټ کړې نو رسول الله ﷺ يو آواز کونکے ولېږلو چې پهٔ خلقو کښې دا آواز وکړي: چا چې ځهٔ لار تنګه او کټ کړه نو د هغهٔ جهاد نيشتے (جهاد ئې جهاد نهٔ دے). (ابوداؤد)

پۀ لاره، سوري، اُوبو وغيره کښې واړه لوی بول کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د لاعنان (د لعنت د سبب) نۀ ځان ساتئ. صحابو عرض وکړو: لاعنان څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې څوک د خلقو پۀ لاره کښې يا د هغوی پۀ سوري کښې حاجت پوره کوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د لعن د دريو خبرو نه ځان ساتئ: د خلقو د تلو راتلو پۀ ځايونو (چينو، نهرونو وغيره ؤ) کښې، د لارې پۀ مينځ کښې او پۀ سوري کښې د وړو لويو بولو کولو نه. (ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ د جابرؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ پۀ ولاړو اُوبو کښې د پېشاب کولو نه منع فرمائېلې ده. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک پۀ خپله غسل خانه کښې پيشاب نۀ کوي چې بيا پکښې لامبي او يا پکښې اودس کوي ځکه چې عام طور وسوسې د دې نه وي. (ابوداؤد، ترمذي، نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک پۀ سوري (سوړه) کښې پيشاب نۀ کوي. (ابوداؤد، نسائي)

نرمي نۀ کول، سختي کول، د زړۀ سخت والے

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د نرمۍ نه محروم کړے شو هغه د ټول خير نه محروم کړے شو. (مسلم، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې عائشې رضي الله عنها ته وفرمائېل: اے عائشې نرمي کول لازم ونيسه او ځان د سختۍ او فحش نه ساته. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سختي پۀ څۀ شي کښې نۀ وي مګر هغه بدموره کوي. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د الله تعالیٰ نه پهٔ خلقو کښې د ټولو نه زيات لرې هغه کس دے د چا چې زړهٔ پهٔ ټولو کښې زيات سخت وي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: خبردار! اوږد دِ نهٔ شي پهٔ تاسو وخت چې ستاسو زړونه سخت شي. (ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺ نه د زړهٔ د سخت والي دا نښې روايت کړے شوې دي: د علماؤ نه لرې اوسېدل، پهٔ حرام مال کښې زور لګول، د جماعت پهٔ ځائے يوازې نمونځ کول، دروغ ويېل او پهٔ زړهٔ کښې د دنيا محبت ساتل. (تذکرة الواعظين)

رحم نهٔ کول، نهٔ لرل

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ رحم نهٔ کوي پهٔ هغه چا څوک چې پهٔ خلقو رحم نهٔ کوي (يا څوک چې پهٔ خلقو رحم نهٔ کوي الله تعالیٰ پهٔ هغهٔ رحم نهٔ کوي). (بخاري، الادب المفرد)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: نهٔ دے زمونږ نه څوک چې زمونږ پهٔ وړکي رحم ونکړي. (ابوداؤد، بخاري)

۞ يو اعرابي د رسول اللهﷺ څنګې ته راغے او وئې ويېل: تاسو واړهٔ ښکلوئ؟ مونږ خو نهٔ ښکلوو؟ رسول اللهﷺ فرمائېل: زهٔ تا له څهٔ کولے شم کهٔ الله تعالیٰ ستا د زړهٔ نه رحم ويستلے وي. (متفق عليه). پهٔ يو بل روايت کښې دي چې رسول اللهﷺ ورته دا وفرمائېل: څوک چې رحم نهٔ کوي پهٔ هغهٔ رحم نهٔ کيږي. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: رحمت نهٔ ويستے کيږي مګر د يو بدبخته کس نه. (احمد، ترمذي، ابوداؤد)

عذاب ورکول، پهٔ اُور سره عذاب (سزا) ورکول، زياته سزا ورکول

❁رسول اللهﷺپهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د الله تعالیٰ مخلوق له عذاب مهٔ ورکوئ. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ به (پهٔ آخرت کښې) هغه چا له عذاب ورکوي څوک چې پهٔ دنيا کښې خلقو له عذاب ورکوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: پهٔ اُور سره عذاب نهٔ ورکوي مګر الله تعالیٰ. (بخاري)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: پکار نهٔ ده چې پهٔ اُور سره عذاب ورکړي مګر رب (مالک) د اُور. (ابوداؤد)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: د لسو نه زياتې کوړے نهٔ شي وهلے کېدے مګر د الله تعالیٰ د حدونو (مقرر کړو سزاګانو) نه پهٔ يو حد کښې. (متفق عليه)

ظلم کول، پهٔ ظلم کښې د ظالم مدد کول، د مظلوم بددعائي (خبرې)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خبردار! ظلم مهٔ کوئ. (بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: اے خلقو! پهٔ چا ظلم مهٔ کوئ ځکه چې د ظلم کونکي نه به الله تعالیٰ تپوس کوي. (قرة الواعظين)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ فرمائي : اے زما بندګانو! ما ظلم پهٔ خپل ځان او ستاسو پهٔ مينځ کښې حرام کړے دے نو تاسو پهٔ يو بل ظلم مهٔ کوئ. (مسلم،ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ظلم نه ځان ساتئ ځکه چې ظلم د قيامت په ورز تيارې دي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: (ظالم) کوتوال (پوليس والا) ته به (پهٔ قيامت کښې) وويېلے شي چې خپله کوړه پرېږده او دوزخ ته ننوزه. (ابويعلیٰ، احياء)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: الله تعالیٰ ظالم له مهلت ورکوي بيا ئې چې راونيسي نو نۀ ئې پرېږدي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ظلم کونکي او د هغوی مدد کونکي به پۀ دوزخ کښې وي. (حاکم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې د يو ظالم سره هغۀ ته د قوت رسولو دپاره لاړ او دۀ ته پته وه چې هغه ظالم دے نو دے د اسلام نه اووت. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قيامت پۀ ورز به يو آواز کونکے آواز وکړي چې ظلم کونکي چرته دي او د هغوی مدد کونکي چرته دي؟ بيا به هغه ټول جمع کړے شي او دوزخ کښې به واچولے شي. (تفسيرکبير)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې يو ظالم له د پاتې کېدو دعاء وکړه نو دۀ خوښه کړه چې د الله تعالیٰ پۀ زمکه د هغۀ نافرماني وکړے شي. (احياء)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: د مظلوم د بددعائې (خبرې) نه ځان ساته ځکه چې د دې او د الله تعالیٰ پۀ مينځ کښې څۀ پرده نۀ وي. (بخاري، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: د مظلوم د بددعائي نه ځان ساتۍ چې الله تعالیٰ به د هغۀ د حق تپوس کوي (او الله تعالیٰ به د حقدار نه د هغۀ حق نۀ منع کوي). (مشکوٰة، اساس العربيه)

ظالم د ظلم نه نۀ منع کول

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: خلق چې ظالمويني او د هغۀ لاس وُنۀ نيسي نو کېدے شي چې الله تعالیٰ پۀ دې ټولو عذاب راولي. (ابودا ؤد، ترمذي، نسائي)

۞ د رسول اللهﷺ نه پهٔ يو حديث شريف کښې دا ارشاد مروي دے: الله تعالیٰ به داسې قوم څنګه پاک کړي د کوم کمزوري له چې د هغهٔ د طاقتور نه بدله نهٔ اخستے کيږي. (ابن ماجه)

۞رسول اللهﷺوفرمائيل: د داسې سړي پهٔ څنګ کښې مهٔ ودريږه کوم چې پهٔ ظلم سره وژلے کيږي ځکه چې پهٔ هغه خلقو لعنت وريږي کوم چې د هغهٔ پهٔ څنګ کښې حاضر وي او هغه نهٔ بچ کوي، او د داسې سړي پهٔ څنګ کښې مهٔ ودريږه کوم چې پهٔ ظلم سره وهلے کيږي ځکه چې پهٔ هغه خلقو لعنت وريږي کوم چې د هغهٔ پهٔ څنګ کښې حاضر وي او هغه نهٔ بچ کوي. (طبراني، بيهقي)

۞رسول اللهﷺوفرمائيل: د خپل (مسلمان) ورور مدد کوه د ظالم والي يا مظلوم والي پهٔ حالت کښې. (د ظالم مدد دا دے چې هغه د ظلم نه منع کړے شي). (مسلم)

ظالم ته خېرې او کنزل کول، د معافۍ نه روستو ئې بيا رټل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې هغه چا ته خېره (بد دعائي) وکړه چې پهٔ دهٔ ئې ظلم کړے ؤ نو دهٔ خپله بدله واخسته. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: پهٔ بنده ظلم کيږي او دے ظلم کونکي ته کنزل کوي او بدې ردې وايي تر دې چې دا د هغه ظلم مقدارې شي بيا د هغه ظالم پهٔ دهٔ مطالبه پاتې شي پهٔ دې چې دا د هغې نه زيات شي نو هغهٔ له به د مظلوم نه بدله اخستے کيږي. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺنه پهٔ يو حديث مبارک کښې روايت کړے شوے دے: کله چې تهٔ معاف کړې هغه څوک کوم چې پهٔ تا ظلم وکړي نو بيا ئې رټه مهٔ. (احياء)

ناحق قتل، وعيدونه، د ټولو نه بد قتل کونکي

۞ رسول اللهﷺوفرمائيل: پهٔ هغه ذات مې دِ قسم وي د چا نه بغير چې هيڅ اله (خدائے) نيشتے! يو مسلمان سړے کوم چې دا ګواهي ورکوي چې نيشتے اله

مګر الله او چې زۀ د الله رسول يم د هغۀ وينه حلاله نۀ ده مګر د دې کسانو: د اسلام د پرېښونکي، جماعت نه د جدا کېدونکي، د نکاح والا زنا کونکي او د هغه نفس چې د نفس پۀ بدله کښې ورله قتلېدل وي. (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ د حجة الوداع پۀ موقع وفرمائېل: زما نه روستو کافران مۀ جوړېږئ چې بعضې د بعضې څټونه وهي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خبردار! زۀ به حوض ته ستاسو نه مخکښې تلونکے يم او زۀ نورو اُمتونه ته ستاسو پۀ زيات والي فخر کونکے يم نو تاسو زما نه روستو قتلونه مۀ کوئ. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مسلمان د هغه وخته پورې د خپل دين نه پۀ ګنجائش کښې وي څو پورې چې حرام خون وانخلي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد فرمائېلے دے: د مومن قتل د الله تعالیٰ پۀ نز د دنيا د تباهئ نه زيات دے. (نسائي)

❁ د ابوبکرهؓ نه روايت دے چې رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې دوه مسلمانان د يو بل مقابلې ته شي او پۀ هغوئ کښې يو پۀ خپل (مسلمان) ورور وسله اوچته کړي نو هغوئ دواړه د جهنم پۀ غاړه وي بيا چې پۀ هغوئ کښې يو خپل ملګرے قتل کړي نو دواړه به جهنم ته زي. پۀ يو بل روايت کښې د دوئ (ابوبکرهؓ) نه داسې راغلي دي چې رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې دوه مسلمانان د خپلو تورو سره يو بل ته مخامخ شي نو قاتل او مقتول دواړه به جهنم ته زي. ما عرض وکړو: دا خو قاتل دے نو مقتول به ولې زي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه هم د خپل ملګري د قتل حارص ؤ. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قيامت پۀ ورز به د خلقو پۀ مينځ کښې اولنئ فيصله د قتل کيږي. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ خلقو کښې پۀ الله تعالیٰ د ټولو نه زيات سرکشه درې تنه دي: څوک چې د الله تعالیٰ پۀ حرم کښې قتل وکړي يا د قاتل نه علاوه بل څوک قتل کړي او يا د جاهليت د دشمنۍ د لاندې قتل وکړي. (ابن حبان)

پۀ شريکه قتل، په قتل کښې مدد ، پۀ قتل راضي کېدل

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د زمکې او آسمان ټول مخلوق کۀ د يو مومن پۀ قتل کښې شريک شي نو الله تعالیٰ به هغه ټول دوزخ ته غورزوي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د يو مومن پۀ قتل کښې مدد وکړي اګرکۀ پۀ نيم لفظ سره وي نو دے به د الله تعالیٰ سره پۀ داسې حال کښې ملاويږي چې د سترګو پۀ مينځ به ئې ليکلي وي چې "د الله د رحمت نه نااُميد" . (ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: کچرې يو سړے پۀ مشرق کښې (پۀ ناحقه) قتل کړے شي او يو بل سړے پۀ مغرب کښې د هغۀ په قتل راضي وي نو دے به د هغۀ پۀ قتل کښې شريک وي. (احياء)

پۀ ناحقه او ناحق څۀ اخستل، د چا څۀ شے د هغۀ پۀ ناخوښۍ اخستل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک پۀ ناحقه د دنيا څۀ شے وانخلي کنه د قيامت پۀ ورز چې د الله تعالیٰ مخې له زي نو هغه شے به پرې سور وي. (مظهري)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ ناحقه څۀ زمکه واخسته نو د قيامت پۀ ورز به د هغې سره د وۀ زمکو پورې خښېږي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې يوه لوېشت زمکه پۀ ظلم سره واخسته نو د قيامت پۀ ورز به ورته د هغې نه د وُؤ زمکو پورې اوړې پۀ غاړه کېږي. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم يو کس چې يوه لوېشت زمکه پۀ ظلم سره واخلي نو الله تعالىٰ به ئې (د قيامت پۀ ورز) مجبور کړي چې هغه وکني تر دې چې د وؤ زمکو آخر ته ورسي، بيا به ورته د هغې طوق پۀ غاړه کړي چې د قيامت د ورزې د آخر يعني د خلقو پۀ مينځ کښې د فيصلې پورې به پرې وي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ ناحقه څۀ زمکه لاندې کړه نو د هغې خاوره به پرې بار کړے شي چې د حشر ميدان ته ئې وُړه. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خبردار! د يو سړي مال اخستل حلال نۀ دي مګر د هغۀ د زړۀ پہ خوښه. (بيهقي، دارقطني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو سړي له جائز نۀ دي چې د خپل (مسلمان) ورور لخته د هغۀ د زړۀ د رضامندۍ نه بغير واخلي. (ابن حبان، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک د خپل (مسلمان) ورور سامان نۀ پۀ ټوقه اخلي نۀ پۀ رشتيا؛ پس کله چې ستاسو يو کس د خپل ملګري لخته واخلي نو واپس دِ کړي ورته. (الادب المفرد)

دوکه، غلا، غصب، لوټ

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې زمونږ سره دوکه وکړه هغه زمونږ نه نۀ دے. (مسلم، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زمونږ پۀ دين کښې دوکه کول نيشتي. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مکر (ټګي)، دوکه او خيانت (کونکي) به په دوزخ کښې وي. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: غلا کونکے غلا نۀ کوي څۀ وخت چې غلا کوي مګر هغه مومن نۀ وي. (ابن ماجه، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا ته چې پته وي چې دا د غلا مال دے او بيا ئې هم وخوري نو دے په غلا کښې شريک شو. (جمع الفوائد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې څۀ شے غصب کړو (په زور ئې واخستۀ) نو هغه زمونږ نه نۀ دے. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې څۀ لوټ وکړو (يا ئې څۀ ښکاره لوټ وکړو) هغه زمونږ نه نۀ دے. (ابن ماجه، ابوداؤد)

په آخرت کښې د حقونو واپس کېدل، بدله اخستے کېدل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا سره کۀ د دۀ د (مسلمان) ورور څۀ حق وي نو د هغۀ نه دِ نن په ځان حلال کړي مخکښې د دې نه چې بيا نۀ درهم وي او نۀ دينار. کۀ د دۀ څۀ نيک عمل وي نو د هغې نه به د هغه سړي د حق په مقدار واخستے شي او کۀ د دۀ څۀ نيکي نۀ وي نو د هغۀ د بديانو نه به راواخستے شي او په دۀ به بار کړے شي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ صحابو ته وفرمائېل: تاسو خبر يئ چې مفلس (کنګال) څوک دے؟ هغوی عرض وکړو: په مونږ کښې خو مفلس هغه څوک وي د چا سره چې درهم او دينار او د دنيا سامانونه نۀ وي. رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما د اُمت مفلس هغه څوک دے چې د قيامت په ورز به د نمانځۀ، روژې او زکوٰة سره راشي خو چا ته به ئې کنزل کړي وي، په چا به ئې تهمت لګولے وي، د چا به ئې مال خوړلے وي، د چا به ئې وينه بيولې وي، څوک به ئې وهلے وي، نو د دۀ د نيکيانو نه به هغوی له ورکړے شي، نو کۀ د دۀ نيکيانې ختمې شي او حقونه

لا پاتې وي نو د هغوی ګناهونه به راواخستې شي او پۀ دۀ به واچولې شي او بيا به دے دوزخ ته ارتاؤ کړے شي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ قيامت کښې به د يو بنده سره حساب وکړے شي نو عملونه به ئې باطل وګرزولې شي تر دې چې دوزخ به ورله واجب کړے شي. بيا به دۀ له د څۀ عملونو دفتر پرانستې شي چې پۀ هغې به دے د جنت حقدار جوړ شي. پۀ دې به دے حيران شي او وبه وايي چې دا عملونه خو ما نۀ دي کړي. دۀ ته به وويلې شي چې دا د هغه خلقو عملونه دي چې ستا غيبت ئې کړے ؤ، تا ته ئې تکليف دررسولې ؤ او پۀ تا ئې ظلم کړے ؤ. (ديلمي)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: يو سړے راغے او د رسول اللهﷺ مخې ته کښېناست او وئې ويېل: اے د الله رسوله! زما څۀ غلامان دي هغوی ما دروغجن کوي او زما سره خيانت کوي او زما نافرماني کوي او زۀ هغوی ته کنزل کوم او هغوی وهمه نو زۀ به د هغوی نه پۀ څۀ حال کښې يم؟ رسول اللهﷺوفرمائيل: کله چې د قيامت ورز شي نو حساب به وکړے شي د هغه څۀ چې هغوی ستا سره خيانت کړے دے او ستا ئې نافرماني کړې ده او تۀ ئې دروغجن کړے يې او ستا هغوی له د سزا ورکولو نو کۀ ستا هغوی له سزا ورکول د هغوی د ګناهونو پۀ مقدار وي نو دا به بدله شي، نۀ به تا له څۀ وي او نۀ به پۀ تا څۀ وي، او کۀ ستا هغوی له سزا ورکول د هغوی د ګناهونو نه کم وي نو تا له به سوا والے شي او کۀ ستا هغوی له سزا ورکول د هغوی د ګناهونو نه زيات وي نو هغوی له به ستا نه د سوا والي بدله (قصاص) واخستې شي. (دا ئې چې واورېدۀ نو) سړے آخوا شو او پۀ چغو او ژړا شو. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې څۀ وهل (يا پۀ ظلم سره څۀ وهل) وکړۀ نو د قيامت پۀ ورز به د دې بدله (قصاص) اخستې کيږي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایۀ: الله تعالیٰ به د حق خاوند د هغۀ د حق نه نۀ محروم کوي، تر دې چې د خکرو والا ښاروي نه به د ېې خکرو والا بدله اخستے کیږي. (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې مسلمانان د دوزخ نه بچ شي نو د جنت او د دوزخ تر مینځه پۀ یو پُل به حصار کړے شي نو دوی به یو بل له د دنیا د ظلمونو بدلې ورکول شروع کړي تر دې چې کله پاک صاف شي نو هله به ورله جنت ته د داخلېدو اجازت ورکړے شي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: زۀ اُمید (او اراده) لرم چې د الله تعالیٰ سره پۀ داسې حال کښې ملاؤ شم چې پۀ تاسو کښې څوک زما نه نۀ د وینې طلب کوي او نۀ د مال. (ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه)

رشوت ورکول او اخستل، بد سفارش، پۀ سفارش څۀ قبلول

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: رشوت (بډې) ورکونکے او اخستونکے دواړه به پۀ دوزخ کښې وي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د الله تعالیٰ لعنت دے پۀ رشوت ورکونکي او رشوت اخستونکي باندې. (ابن ماجه)

❁ د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺلعنت ویلے دے پۀ رشوت ورکونکي، رشوت اخستونکي او د دې دواړو مینځ کښې پۀ واسطه جوړېدونکي باندې. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺارشاد وفرمایۀ: تنخواه اخلې ځو پورې چې هغه تنخواه وي لیکن کله چې هغه پۀ دین باندې رشوت جوړ شي نو بیا ئې مۀ اخلې خو د فقر او محتاجۍ د وجې نه ئې تاسو پرېښونکي نۀ یۍ. (مشکوٰة)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د چا سفارش (شفاعت) چې د الله تعالیٰ پهٔ څهٔ حد (سزا) کښې رکاوټ شو نو دهٔ د الله تعالیٰ مقابله وکړه. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې خپل (مسلمان) ورور له څهٔ سفارش وکړو او هغهٔ دهٔ له څهٔ ډالۍ ورکړه او دهٔ قبوله کړه نو دے د سود د بابونو نه يو لوئے باب ته لاړ. (ابوداؤد)

اسراف، فضول خرچي

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خورۍ، څښۍ، جامې اغوندۍ او صدقه ورکوۍ بغير د اوچت والي او لوئي ښکاره کولو او بغير د اسراف نه. (احمد)

۞ سعد رضی الله عنه اودس کولو نو رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: اے سعده! دا څهٔ اسراف دے؟ سعد رضی الله عنه عرض وکړو: پهٔ اوداسهٔ کښې هم اسراف شته؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: آ، اګرکهٔ تهٔ د روانې ولې پهٔ غاړه يې. (ابن ماجه)

د سرو او سپينو زرو او ريښمو استعمال

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د سرو او د سپينو زرو پهٔ لوښې کښې خوړل او څښل کوي نو پهٔ خپله خېټه کښې د جهنم اور اچوي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ د يو سړي پهٔ لاس کښې د سرو ګوتۍ وليده نو د هغهٔ نه ئې وويسته او ارتاوه ئې کړه او وئې فرمائېل: ستاسو يو کس د اور د سکورټې قصد کوي او پهٔ لاس کښې ئې اچوي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې ريښم پهٔ دنيا کښې واغوستل نو پهٔ آخرت کښې به نهٔ اغوندي. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ريښم صرف هغه څوک اغوندي د چا چې (پهٔ آخرت کښې) څهٔ حصه نهٔ وي. (متفق عليه)

❁د حذیفه رضی الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ مونږ منع کړي یو د ریښمو او د ریښمو د ټوکي نه او د سرو زرو او سپینو په لوښي کښې د څښلو نه او فرمائیلي ئې دي چې دا دوی (کفارو) له په دنیا کښې دي او تاسو له په آخرت کښې۔ (متفق علیه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: د ریښمو او د سرو زرو جامې زما د اُمت په نارینو حرامې کړے شوې او زنانو له حلالې کړے شوې دي۔ (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: زما د اُمت نه به څۀ داسې خلق وي چې ریښم اغوستل (او زنا کول) به حلال ګڼي۔ (ابوداؤد)

شراب څښل، د هغې وبال، شرابو نه په لسو تنو لعنت

❁ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: شراب څښونکے داسې دے لکه د بُت عبادت کونکے۔ (احیاء)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: د شرابو عادي چې مړ شي نو د الله تعالیٰ سره به داسې ملاویږي لکه د بُت عبادت کونکے۔ (احمد، ابن ماجه وغیرهما)

❁ د رسول الله ﷺ نه په یو حدیث مبارک کښې مروي دي: چا چې شراب وُڅښل تر دې چې خپل هغه عقل ئې پرې بوتۀ کوم چې ورله الله تعالیٰ ورکړے ؤ نو د ټولو ګناهونو یو باب ته لاړو۔ (مسند الحارث، ناسخ الحدیث و منسوخه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: چا چې شراب په دنیا کښې وڅښل نو په آخرت کښې به ونۀڅښي۔ (نسائي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: زما رب عزّ و جل قسم فرمائیلے دے: په خپل عزت دِ زما قسم وي! زما په بندګانو کښې څوک بنده یو ګوټ د شرابو نۀ څښي مګر زۀ به پرې د هغې په شان زوې څښوم۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې شراب وڅښل نو الله تعالیٰ به ئې د څلوېښتو ورځو نمونځ نۀ قبلوي نو کچرې توبه وباسي نو الله تعالیٰ به ئې توبه قبوله کړي، کۀ بيا ئې وڅښل نو الله تعالیٰ به ئې د څلوېښتو ورځو نمونځ نۀ قبلوي نو کچرې توبه وباسي نو الله تعالیٰ به ئې توبه قبوله کړي، کۀ بيا ئې وڅښل نو الله تعالیٰ به ئې د څلوېښتو ورځو نمونځ نۀ قبلوي نو کچرې توبه وباسي نو الله تعالیٰ به ئې توبه قبوله کړي، کۀ پۀ څلورم ځلې وڅښل نو الله تعالیٰ به ئې د څلوېښتو ورځو نمونځ نۀ قبلوي نو کچرې توبه وباسي نو الله تعالیٰ به ئې توبه قبوله نکړي او د دوزخيانو د زوو د ولې نه به پرې څښنوي۔ (ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ (معاذ رضي الله عنه) تهپۀ يو وصيت کښې) وفرمائيل: شراب مۀ څښه ځکه چې دا د هر قبيح عمل (او ګناه) سر دے۔ (احمد)

❁ د رسول اللهﷺ ارشاد دے: شراب د ګناه آله ده۔ (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ (ابودرداء رضي الله عنه ته) وفرمائيل: شراب مۀ څښه ځکه چې دا د هر شر کنجي ده۔ (ابن ماجه)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ د شرابو پۀ معامله کښې پۀ لسو تنو لعنت ويلے دے: پۀ نچوړونکي، چا له چې نچوړېږي پۀ هغۀ، پۀ څښونکي، پۀ اُوړونکي، چا له چې وړے کيږي پۀ هغۀ، پۀ څښَوُنکي، پۀ خرڅونکي، د هغې د پيسو پۀ خوړونکي، پۀ اخستونکي، او چا له چې اخستے کيږي پۀ هغۀ۔ (ترمذي، ابن ماجه)

نشه وغيره، جواري

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: هر نشه راوستونکے شے حرام دے۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د کوم شي زيات څۀ چې نشه راولي د هغۀ لږ (هم) حرام دي۔ (احمد)

❁ د اُم سلمه رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائېلې ده د هر نشه او فتور (کمزوري، سستي) راوستونکي شي نه ـ (ابوداؤد)

❁ د عبد الله بن عمرو نه روايت دے: رسول اللهﷺ منع وفرمائېله د شرابو نه، د جوارۍ نه، د کوبۍ (نرد، شطرنج، ډول او باجې) نه او د غبيراء شرابو نه او وئې فرمائېل: هر نشه راوستونکے شے حرام دے ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: جوارګر سړے جنت ته نۀ شي تلے ـ (دارمي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: چا چې خپل ملګري ته ووې چې راشه چې تا سره جواري وکړم نو صدقه دِ ورکړي ـ (الادب المفرد)

ګيره خريل، برېت نۀ اخستل، وېښتۀ بدلول، تورول وغيره، پۀ مخ داغ، بدن کښې رنګ

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اهلِ شرک خلق بريت اوږدوي او ګيرې خرۍ نو تاسو د هغوۍ خلاف کوۍ، ګيرې اوږدوۍ او بريت خره ئۍ (يا ئې ښۀ واړۀ کوۍ) ـ (مجمع الزوائد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د خپلو برېتو نه وانخستۀ نو هغه زمونږ نه نۀ دے ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د وېښتو شکل بدل کړو هغۀ له د الله تعالیٰ سره هيڅ حصه نيشته ـ (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څۀ خلق به پۀ آخره زمانه کښې تور خضاب لګوي لکه د کونترو ججورې، د جنت بوئي به هم بيانۀ مومي ـ (ابوداؤد)

❁ د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ د بعضې وېښتو د خريلو او د بعضې د پرېښولو نه منع فرمائېلې ده ـ (متفق عليه)

۞ د علي رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائېلې ده چې ښځه خپل سر وخريي. (نسائي)

۞ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: د الله تعالیٰ لعنت دے په وېښتو پيوست کونکې ښځه او په پيوست غوښتونکې ښځه باندې. (بخاري)

۞ د جابر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ د داغ لګولو او د مخ د وهلو نه منع فرمائېلې ده. (نسائي)

۞ د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ويېلے دے په بدن کښې په رنګ ډکونکې ښځه او په هغه ښځه کومه چې په چا په خپل بدن کښې رنګ ډکوي. (نسائي)

پړکے پټول، پينځې اوږدول

۞ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: د لنګ (يا پرتوګ) کومه حصه چې د پړکو نه ښکته وي هغه به په دوزخ کښې وي. (بخاري، ابوداؤد، نسائي)

۞ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: څۀ چې د پړکو نه واوړي هغه به په اور کښې وي. (السلسلة الصحيحه)

۞ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: د پړکو نه چې لاندې وي په هغې کښې خير نيشتے. (السلسلة الصحيحه)

۞ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: نيشتے حق د لنګ (يا د پرتوګ د پينځو) په پړکو کښې. (ابن ماجه)

۞رسول الله صلی الله علیه وسلم په يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د لنګ د زړوندولو (اوږدولو، ښکته کولو) نه ځان ساته ځکه چې داسې کول د تکبر نه دي. (ابوداؤد، ترمذي)

۞ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په يو حديث مبارک کښې مروي دي: الله تعالیٰ د لنګ (پرتوګ وغيره) (د پړکو نه) د ښکته کونکي نمونځ نۀ قبلوي. (ابوداؤد)

تصویرونه جوړول یا ساتل، سپي او جرس ساتل

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: هر تصوير جوړونکے به په دوزخ کښې وي . (ترغيب)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د قيامت په ورځ به د ټولو نه د زيات سخت عذاب والا خلق هغه وي کوم چې تصويرونه جوړوي (يا کوم چې په پيداوخت کښې د الله تعالیٰ مشابهت کوي) . (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې په دنيا کښې تصوير جوړکړو نو د قيامت په ورځ به هغه مجبور کړے شي چې په دې کښې روح واچوه، نۀ به شي اچولے . (نسائي)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے: رسول اللهﷺ به په خپل کور کښې داسې څۀ نۀ پرېښودۀ په څۀ کښې چې به تصويرونه وو . (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: (د رحمت) فرښتې داسې کور ته نۀ داخلېږي په کوم کښې چې تصوير يا سپے وي . (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د ښکار او د څاروو د سپي نه علاوه سپے ساتي نو د دۀ د اجر نه هره ورځ دوه قيراطه کمېږي . (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: فرښتې داسې ټولګي سره نۀ ملګرې کيږي په کوم کښې چې سپے يا جرس وي . (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: فرښتې داسې کور ته نۀ داخليږي په کوم کښې چې جرس وي . (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: جرس د شيطان شپېلۍ ده . (مسلم)

نجوم، سِحر، کهانت (غیب ویېل)، بدفالي، منتر وغیره، د کاهنانو عمل

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې د نجوم یوه شعبه واخسته (یا ئې د هغې د علم یو باب حاصل کړو) نو دۀ د سِحر یوه شعبه واخسته۔ (ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: نجومي (منجم) کاهن دے، کاهن ساحر (جادوګر) دے او ساحر کافر دے۔ (بوادر النوادر)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې یو نجومي (یا کاهن) له لاړ او تپوس ئې ترې وکړو نو د دۀ به څلوېښت ورزې نمونز نۀ قبلیږي۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کرښې راښکل، بد فالي کول او فال اخستو له مرغۍ الوزول د کاهن او د ساحر د عمل نه دي۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: بد فال نیول شرک دے او نۀ دے زمونږ نه... لیکن الله تعالیٰ ئې پۀ توکل سره بوزي۔ (الادب المفرد)

❁د رسول اللهﷺ نه مروي دي: نیشتي مرض خورېدل او بدفال نیول او نیک فال، ښۀ خبره، پۀ ما ښۀ لګي۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: مرغۍ پۀ خپل ځوئے پربږدی۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺته عرض وکړے شو: فال څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیکه کلمه (خبره) چې په تاسو کښې یو کس ئې واوري۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: توکل ونکړو هغه چا چا چې منتر طلب کړو او داغ ئې ولګولو۔ (ترمذي، النسائي فی الکبیر، طبراني)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: (د مرض پخپله) متعدي کېدل او بد فال نیول نیشتي۔ (متفق علیه)

۞ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: څۀ خلقو د رسول اللهﷺنه د کاهنانو پۀ باره کښې تپوس وکړو نو رسول اللهﷺوفرمائیل: هیڅ شے نۀ دے۔ هغوی ووې: اے د الله رسوله! دوی مونږ ته کله کله څۀ بیانوي او هغه رشتیا (ټیک) راخېژي۔ رسول اللهﷺوفرمائیل: د رشتیاؤ دغه خبره یو پېرے راتختوي او د خپل دوست پۀ غوږ کښې ئې اچوي بیا هغه خلق د دې سره سل دروغ یو ځائے کوي۔ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائیل: ملائکې پۀ وریځ کښې راکوزېږي او د هغې خبرې ذکر کوي د کومې چې پۀ آسمان کښې فیصله شوې وي، شیطان هغې ته پۀ پټه غوږ ږدي، هغه اوري او کاهنانو ته ئې رسوي، هغوی ورسره سل دروغ د خپل طرف نه وايي۔ (بخاري)

وصیت نۀ کول، بد وصیت کول

۞رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: پۀ یو مسلمان چې د یو شي وصیت لازم وي نو دۀ ته دا حق نیشتے چې دوه شپې داسې تېرې کړي چې دغه وصیت د دۀ سره لیکلے نۀ وي پروت۔ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائیل: سړے او ښځه شپېتۀ کاله د الله تعالیٰ طاعت او عبادت وکړي بیا ورته مرګ راشي نو دوی په وصیت کښې چا ته ضرر او نقصان ورسوي نو دوزخ ورله واجب شي۔ (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

کتاب: اخلاقي، معاشرتي څۀ مختلف ابواب

باب: صله رحمي او قطع رحمي

صله رحمۍ، د هغې تاکيد او فضيلت، د هغې د دنيا څۀ خير او فائده

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې پۀ الله تعالیٰ او د قيامت پۀ ورز ايمان لري نوصله رحمي دِ کوي. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ ته د هغه قدم نه زيات خوښ قدم نيشتے کوم چې د فرض نمانځۀ طرف ته وي او د هغه قدم نه کوم چې د صله رحمۍ دپاره وي. (احياء)

❁ د ابوهريرهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائېل: خپل نسبونه (يا رشته دارياني) معلوموئ چې صله رحمياني پرې کوئ ځکه چې صله رحمي پۀ اهل عيال (يا خپلوانو) کښې د محبت ذريعه، د مال د زياتېدو سبب او د عمر د زياتېدو (يا د اثر د پاتې کېدو) ذريعه ده. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې غواړي چې د دۀ پۀ رزق کښې زيات والے او پۀ اجل کښې روستو والے وکړے شي (يا د دۀ پۀ عمر کښې زيات والے وُشي، يا د دۀ ښۀ ياد پاتې شي) نو صله رحمي دِ کوي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه د زر ثواب او بدلې والا نيکي صله رحمي ده تر دې چې د کور والا به فاجران وي خو مالونه او تعداد به ئې زياتيږي کله چې صله رحمي کوي. (ابن حبان، بيهقي)

د قطع رحمي کونکي سره صله رحمي کول

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: صله رحمي وکړه د هغه چا سره څوک چې تا سره قطع رحمي وکړي. (اساس العربيه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: صله رحمي کونکے بدله ګرزونکے نۀ دے، صله رحمي کونکے هغه څوک دے چې د هغۀ نه تعلق قطع کړے شي خو هغه تعلق وُساتي ـ (بخاري، ترمذي)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالىٰ پۀ حضور کښې اوچت والے طلب کړه ـ صحابه ؤ عرض وکړو: هغه څۀ شے دے اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې تۀ صله رحمي وکړې د هغه چا سره څوک چې ستا نه قطع رحمي وکړي او ورکول وکړې هغه چا له څوک چې تا محروم کړي او د برداشت سلوک وکړې د هغه چا سره څوک چې تاسره د جهل او بې وقوفۍ سلوک وکړي ـ (حاکم، بيهقي)

د صله رحمۍ او د ښۀ سلوک زيات حقداران

۞ د يو صحابي نه روايت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! زۀ د چا سره نيکي وکړم؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د خپلې مور سره ـ ما عرض وکړو: بيا د چا سره؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د خپلې مور سره ـ ما عرض وکړو: بيا د چا سره؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د خپلې مور سره ـ ما عرض وکړو: بيا د چا سره؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د خپل پلار سره او بيا د ټولو نه د زيات نزدې سره ـ (ترمذي، ابوداؤد)

۞ د مقدام بن معديکربؓ نه روايت دے چې هغۀ د رسول اللهﷺ نه واورېدۀ: الله تعالىٰ تاسو ته وصيت کوي ستاسو د ميندو بيا ستاسو د ميندو بيا ستاسو د پلارونو بيا د هغه چا چې (پۀ خپلولۍ کښې) زيات نزدې وي او بيا د هغه چې زيات نزدې وي ـ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خپل مور او پلار سره نيکي کوه او د خپلې خور او ورور سره او بيا چې څوک زيات نزدې وي د هغوۍ سره او بيا چې څوک زيات نزدې وي د هغوۍ سره ـ (نسائي، احمد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د مشر وروړ حق پۀ کشر داسې دے لکه د پلار حق پۀ خپل اولاد ـ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د سړي ترۀ د دۀ د پلار پۀ شان دے ـ (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ترور (د مور خور) د مور پۀ شان ده ـ (ترمذي)

❁ يو سړے د رسول اللهﷺخدمت ته حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! ما يو غټ ګناه کړے دے نو ما له توبه شته؟ رسول اللهﷺوفرمائيل: ستا مور شته؟ هغۀ ووې: نا ـ رسول اللهﷺوفرمائيل: ستا ترور (د مور خور) شته؟ هغه ووې: آ ـ رسول اللهﷺوفرمائيل: د هغې سره نيکي وکړه ـ (ترمذي)

د قطع رحمۍ وعيدونه

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: جنت ته نۀ شي تلے قطع رحمي کونکے (رشته پرې کونکے) ـ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: رحمت نۀ نازليږي پۀ داسې قوم پۀ کوم کښې چې قطع رحمي کونکے وي ـ (بيهقي، الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: هيڅ يو ګناه د ظلم (يا بغاوت) او د قطع رحمۍ نه زيات لائق نۀ دے د دې خبرې چې الله تعالیٰ ئې کونکي ته زر پۀ دنيا کښې سزا ورکړي سره د دې نه چې د آخرت دپاره ورله هم ذخيره کړي ـ (ترمذي، ابوداؤد)

باب: د مور او پلار په باره کښې د ښۀ والي او بدوالي څۀ خبرې

د مور او پلار سره ښۀ سلوک او نیکي

۞ رسول اللهﷺپۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: پۀ چا چې پۀ داسې حال کښې سحر شي چې د مور او پلار دواړو پۀ باره کښې د الله تعالیٰ فرمان بردار وي نو دۀ له د جنت نه دوه دروازې لرې شي او کۀ د یو پۀ باره کښې د الله تعالیٰ فرمان بردار وي نو دۀ له یوه دروازه لرې شي۔ (بیهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د خپل مور او پلار سره نیکي وکړه هغۀ له خوشخبري ده، الله تعالیٰ دِ د هغۀ عمر زیات کړي۔ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم یو نیک بچے چې خپل مور او پلار ته د رحمت پۀ نظر ګوري نو الله تعالیٰ ورله پۀ هر کتلو د یو قبول شوي حج ثواب ورکوي۔ عرض وکړے شو: اګرکۀ هره ورز سل پېرې ګوري؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: آ، الله تعالیٰ د ټولو نه لوئے او پاک دے۔ (بیهقي)

۞د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: یو سړے د رسول اللهﷺ خوا له راغے او عرض ئې وکړو: زۀ راغلم ستاسو سره پۀ هجرت بیعت کوم او خپل مور او پلار مِ پۀ ژړا پرېښودۀ۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغوی ته واپس شه هغوی وخندوه څنګه چې دِ وژړول۔ (الادب المفرد)

۞ یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! د مور او پلار پۀ خپل اولاد څۀ حق دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغوی ستا جنت دے او ستا دوزخ دے۔ (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: پلار د جنت پۀ دروازو کښې د ټولو نه مېنځنۍ دروازه ده پس کچرې تۀ غواړې نو د دروازې ساتنه وکړه او يا ئې ضائع کړه۔ (ترمذي، ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: د خپلو پلارانو (مور و پلار) سره نيک سلوک کوۍ ستاسو زامن (اولاد) به ستاسو سره نيک سلوک وکړي۔ (اساس العربيه)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: جنت د ميندو د قدمونو د لاندې دے۔ (اساس العربيه)

مور او پلار سره ښۀ سلوک جهاد يا د جهاد وغيره نه غوره

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د مور او پلار سره نيکي کول د جهاد نه دي۔ (ابوداؤد في مراسيله)

۞د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: يو سړے د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو د جهاد اجازت ئې غوښتۀ؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستا مور او پلار ژوندي دي؟ هغۀ ووې: آ۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ هغوۍ کښې بيا جهاد کوه (يعني د هغوۍ سره ښۀ سلوک ساته، دغه ستا جهاد دے)۔ (متفق عليه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د مور او پلار سره نيکي او ښۀ سلوک کول د نمانزۀ، صدقې (زکوٰة)، حج، عمرې او د الله تعالىٰ پۀ لار کښې د جهاد کولو نه غوره دي۔ (احياء)

مور او پلار سره د مرګ نه روستو نيکي، د پلار د دوستانو سره تعلق ساتل

❁ د بنو سلمه يو سړے راغے او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! زما د مور او پلار د نيکۍ نه څۀ پاتې دي چې زۀ ئې د هغوی سره د هغوی د مرګ نه روستو وکړم؟ رسول اللهﷺوفرمائيل: آ، د هغوی نه پس هغوی له دعاء او استغفار کول، د هغوی وعده پوره کول، د هغوی صله رحمي ساتل او د هغوی د دوست اکرام کول. (ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې دا ولولي: "اَلحَمدُ لله رَبِّ العٰلَمِينَ رَبِّ السّمٰوات وَ رَبِّ الاَرضِ وَ رَبِّ العَالمِينَ، وَ لَهُ الكِبرِيآءُ فِی السّمٰوات وَ الاَرضِ وَ هُوَ العَزِيزُ الحَكِيمُ، لله الحَمدُ رَبِّ السّمٰوَات وَ رَبِّ الاَرضِ رَبِّ العَالَمِينَ، وَ لَهُ العَظَمَةُ فِی السّمٰوَات وَ الاَرضِ وَ هُوَ العَزِيزُ الحَكِيمُ، هُوَ المَلکُ رَبُّ السّمٰوَات وَ رَبُّ الاَرضِ وَ رَبُّ العَالَمِينَ، وَ لَهُ النُّورُ فِی السّمٰوات وَ الاَرضِ وَ هُوَ العَزِيزُ الحَكِيمُ" او د دې نه پس دا دعاء وکړي: يا الله! د دې ثواب زما مور او پلار ته ورسوې، نو دۀ د مور او پلار حق ادا کړو. (ميت کے مسائل پۀ حواله د فضائلِ صدقات)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ تاسو کښې چې څوک نفلي صدقه ورکوي نو د مور او پلار د طرف نه دِ ګرزوي، اجر به ئې هغوی ته رسي او د دۀ د اجر نه به څۀ نۀ کميږي. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ټولو نه لويه نيکي داده چې سړے د خپل پلار د دوستانو سره (د هغۀ د مرګ نه روستو) تعلق او ربط وساتي. (ترمذي، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د خپل پلار دوستي پۀ ځائے وساته قطع کوه ئې مۀ، کنه الله تعالیٰ به ستا رڼا مړه کړي. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دوستي پهٔ میراث کښې پاتې کیږي ـ (الادب المفرد)

د مور او پلار د نافرمانۍ څۀ علاج

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د بنده مور او پلار دواړه یا پهٔ هغوی کښې چې یو مړ شي او دے د هغوی نافرمان (عاق) وي، بیا دے پهٔ مخه هغوی ته دعاء کوي او هغوی له بخښنه غواړي نو الله تعالیٰ دے (د هغوی سره) نیکي او احسان کونکے لیکي ـ (بیهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې هره جمعه د خپل مور او پلار د قبرونو یا پهٔ هغوی کښې د یو د قبر زیارت کوي نو دے به وبخښلے شي او نیک (د مور او پلار فرمان بردار) به ولیکلے شي ـ (طبراني، ابن ابی الدنیا)

د مور او پلار سره نیکي نۀ کول یا بد کول

۞ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: پهٔ چا چې پهٔ داسې حال کښې سحر شي چې د مور او پلار دواړو پهٔ باره کښې د الله تعالیٰ نافرمان وي نو دۀ له د دوزخ نه دوه دروازې لرې شي او کۀ د یو پهٔ باره کښې د الله تعالیٰ نافرمان وي نو دۀ له یوه دروازه لرې شي ـ یو سړي عرض وکړو: اګرکۀ هغوی پهٔ دۀ ظلم کړے وي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: اګرکۀ هغوی پهٔ دۀ ظلم کړے وي، اګرکۀ هغوی پهٔ دۀ ظلم کړے وي، اګرکۀ هغوی پهٔ دۀ ظلم کړے وي ـ (بیهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ذلیل دِ شي! بیا دِ ذلیل شي! او بیا دِ ذلیل شي! هغه څوک چې خپل مور او پلار دواړه یا پهٔ هغوی کښې یو د بوډاوالي پهٔ حالت کښې بیامومي او بیا هم جنت ته لاړ نۀ شي (یا دوزخ ته لاړ شي) ـ (ریاض الصالحین، الادب المفرد)

د مور او پلار نافرماني، دنیا کښې د هغې وبال، بد اولاد

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د جنت خوشبو به د پينځۀ سوو کلونو په فاصله موندے کيږي خو عاق (د مور او پلار نافرمان) او قطع رحمي کونکے به ئې نۀ مومي. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: اے د مسلمانانو ټولګيه! ځان د مور او پلار د نافرمانۍ نه وساتۍ ځکه چې د جنت خوشبو به د زرو کالو په مسافت سره محسوسيږي او په الله مِ دِ قسم وي د مور او پلار نافرمان به ئې نۀ محسوسوي ().

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ د ټولو ګناهونو نه چې څۀ وغواړي معاف کوي سوا د مور او پلار د نافرمانۍ نه چې د هغې سزا د مرګ نه مخکښې په ژوندونې (هم) ورکولے کيږي. (بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه دعاء مروي ده: اے الله! زۀ پناه غواړم په تا سره د داسې اولاد نه چې په ما باندې وبال وي. ()

باب: د اولاد او لوڼو خوښندو په باره کښې

اولاد سره نيکي، د هغوی حق، هغوی ته ښۀ ادب ښودل

❁ يو سړي د رسول اللهﷺنه تپوس وکړو چې زۀ د چا سره نيکي وکړم؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د خپل مور او پلار سره نيکي کوه. هغۀ وويېل: زما مور او پلار نيشتي. رسول اللهﷺوفرمائېل: د خپل اولاد سره نيکي کوه. څنګه چې ستا د مور او پلار په تا حق دے داسې ستا د اولاد په تا حق دے. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په پلار او مور د بچي يو حق دا دے چې ښۀ ادب ورته وښايي او ښۀ نوم ورله کېږدي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: **خپل اولاد له عزت ورکوئ او ښهٔ ادب ورته ښايئ.** (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: **يو پلار او مور خپل اولاد له د ښهٔ ادب نه زيات غوره څهٔ نهٔ دي ورکړي.** (ترمذي، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: **سړے چې خپل اولاد ته ادب (او تربيت) ورکړي دا د دې نه غوره ده چې يو اُوګے (صاع) صدقه ورکړي.** (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: **خپل اولاد ته د نمانځهٔ حکم کوئ (يا ورته نمونځ ښايئ) کله چې د وؤ کالو شي، پهٔ نمانځهٔ ئې وهئ کله چې د لسو کالو شي او پهٔ بسترو کښې ئې جدا کوئ.** (ابوداؤد، ترمذي)

اولاد ته پهٔ ورکړه کښې برابروالے کول

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: **خپل اولاد ته پهٔ ورکړه کښې برابر والے (عدل) کوئ.** (احياء)

❁ بشيرؓ نعمانؓ ته څهٔ هبه کړل او بيا پهٔ هغې د ګواهئ دپاره د رسول اللهﷺ خدمت ته حاضر شو. رسول اللهﷺ بشيرؓ ته وفرمائېل: **د دهٔ نه علاوه ستا نور زامن شتي؟** هغهٔ وويېل چې شتي. رسول اللهﷺ وفرمائېل: **تا ټولو ته د دې پهٔ شان څهٔ ورکړي دي؟** هغهٔ وويېل چې نا. رسول اللهﷺ وفرمائېل: **زهٔ پهٔ ظلم باندې ګواه نهٔ جوړېږم.** (مسلم) پهٔ يو بل روايت کښې داسې دي: **د الله تعالىٰ نه ويرېږئ او پهٔ خپل اولاد کښې برابروالے کوئ.** (مسلم)

د مور او پلار پۀ حق کښې د وړو مرګ، د بچي بوئي، د مور او پلار دعاء

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا چې درې واړۀ مړۀ شو چې بالغ شوي نۀ وو نو دا به دۀ له د دوزخ د اور نه پرده وي يا به د ے جنت ته داخليږي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو مسلمان داسې نيشتے چې د دۀ درې واړۀ مړۀ شي چې بالغ شوي نۀ وي مګر الله تعالیٰ به د ے جنت ته داخلوي پۀ خپل رحمت سره چې پۀ هغوی باندې وي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ مسلمانانو کښې چې د يو کس درې واړۀ مړۀ شي نو د دوزخ اُور به پرې نۀ برسي مګر د الله تعالیٰ قسم پوره کول يا استثناء (يعني د پُلِ صراط نه تېروتل به ورله وي). (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ ښځو ته پۀ يو خطاب کښې وفرمائېل: پۀ تاسو کښې يوه ښځه داسې نيشته چې خپل درې بچي مخکښې ولېږي مګر دا به هغې له د دوزخ د اور نه پرده وي. يوې ښځې عرض وکړو: او دوه (هم)؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: او دوه (هم). (بخاري)

❁ د ابوهريرهؓ نه روايت د ے چې يوې ښځې د رسول اللهﷺ خوا له يو بچے راوړ او عرض ئې وکړو: دۀ ته دعاء وکړه چې ما درې خخ کړي دي. رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دوزخ اُور ته دِ سخت شپول کړے د ے. (الادب المفرد)

❁ د دې مفهوم روايت د ے چې د يوې ښځې بچے مړ شو هغه ډېره خفه وه، ژړل ئې نو رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: ا ے تۀ دا نۀ خوښوې چې تۀ د جنت کومې دروازې له لاړه شې نو هلته دا بچے ومومې؟ ()

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د بچي بوئي د جنت د بوئي نه د ے. (طبراني)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د مور او پلار دعاء د خپل بچي د پاره داسې ده لکه د پېغمبر دعاء د خپل اُمت د پاره. (اصلاح الرسوم)

د لوڼو او خویندو خیال او پالنه

۞ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: څوک چې د دې لوڼو نه پۀ څۀ کښې مبتلا شو (لوڼه ورله ورکړے شوې) او هغۀ د دوی سره ښۀ سلوک وکړو نو دوی به هغۀ له د دوزخ د اور نه پرده وي. (متفق علیه)

۞ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: زما څنګ ته یوه مسکینه ښځه راغله چې خپلې دوه لوڼه (ماشومانې) ورسره وې، ما ورله د کجورې درې دانې ورکړې، دې یوه یوه دانه هغوی له ورکړه او یوه ئې خپلې خلې ته اوچته کړه چې وی‌خوري، هغوی تږنه دغه هم وغوښته نو دې د هغوی پۀ مینځ کښې هغه نیمه کړه. ما ته د هغې حال عجیبه (ښۀ) ښکاره شو نو ما رسول اللهﷺ ته د هغې د عمل ذکر وکړو نو رسول اللهﷺ وفرمائیل: الله تعالیٰ پۀ دې سره هغې له جنت واجب کړو او د دوزخ نه ئې بچ کړه. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د خپلو دوؤ لوڼو پالنه وکړه تر دې چې هغه بالغې شوې نو د قیامت پۀ ورز به زۀ او هغه د دې پۀ شانې یو. خپلې دوه ګوتې مبارکې ئې یو ځائے کړې. (مسلم). پۀ یو بل روایت کښې دي:

چا چې د دوؤ جینکو پالنه وکړه تر دې چې هغه بالغې شوې نو زۀ او هغه به د دې دوؤ (د شهادت او د مینځنۍ ګوتو) پۀ شانې جنت ته داخلېږو. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د دریو لوڼو پالنه وکړه، ادب ئې ورته وښایۀ، نکاح ئې ورله وکړو او ښۀ سلوک ئې ورسره وکړو نو دۀ له جنت دے. (ابوداؤد)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائیل: د چا چې درې لوڼه یا درې خویندې یا دوه لوڼه یا دوه خویندې وي او دے د هغوی سره ښۀ یو ځائے والے وساتي او د هغوی پۀ باره کښې د الله تعالیٰ نه ویریږي نو دۀ له جنت دے. (ترمذي)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائیل: څوک چې د دریو لوڼو یا د دریو خویندو پالنه وکړي چې ادب ورته وښايي او رحم ترس پرې وکړي دې پورې چې الله تعالیٰ هغه بې حاجته کړي نو الله تعالیٰ به دۀ له جنت واجب کړي. یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! یا د دوؤ؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: یا د دوؤ. دې پورې چې کچرې خلقو ویېلے وے چې یا د یوې نو رسول الله ﷺ به فرمائیلي وو چې یا د یوې. (شرح السنه)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائیل: د چا چې یوه جینۍ (لور) وي، دے هغه ژوندۍ خخه نکړي او د هغې سپکاوے ونکړي او خپل نارینه اولاد ترېنه غوره ونۀ ګڼي نو الله تعالیٰ به دے جنت ته بوزي. (ابوداؤد)

باب: د خاوند او د ښځې د یو بل پۀ باره کښې

د خاوند او ښځې مینځ کښې څۀ منع خبرې

۞ رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: د الله تعالیٰ پۀ نزد د قیامت پۀ ورز د ټولو نه غټ امانت (یعني د امانت خیانت) دا دے چې د خاوند خپلې ښځې ته او د ښځې هغۀ ته رسېدل وشي او بیا هغه د دې راز ښکاره کړي. (مسلم)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائیل: ښځۀ دِ د ښځې سره نۀ یوځائے کیږي چې بیا د هغې بیان خپل خاوند ته داسې وکړي لکه چې دے ورته ګوري. (متفق علیه)

پۀ ښځه د خاوند حق، د هغۀ حکم منل، د هغۀ د راضي کولو او حکم منلو ثواب

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: پۀ ښځه د ټولو نه لوئے حق د خاوند دے.()

❁ رسول اللهﷺپۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: د قیامت پۀ ورز به د ښځې نه اولنے تپوس د نمانزۀ او د خاوند پۀ باره کښې کیږي.()

❁رسول اللهﷺ د حجة الوداع پۀ خطبه کښې وفرمائېل: ستاسو پۀ خپلو ښځو حق دے چې ستاسو بستره به ستاسو نه علاوه بل چا ته نۀ غوړوي، ستاسو کورونو ته به ستاسو د اجازت نه بغیر داسې څوک نۀ دننه کوي چې تاسو ئې بد ګڼئ او بد عمل (بدکاري) به نۀ کوي. پس کچرې هغوی دا کارونه وکړۀ نو الله تعالیٰ تاسو له اجازت درکړے دے چې تاسو پۀ هغوی تنګي وکړئ، پۀ بسترو کښې ترې جدا شئ او وئې وهئ خو چې ډېر سخت وهل نۀ وي. پس کچرې هغوی منع شوې او ستاسو منل ئې وکړۀ نو پۀ تاسو د هغوی روزي او د هغوی جامې دي د دستور مطابق. (متفق علیه)

❁ یوې ښځې د رسول اللهﷺنه تپوس وکړو چې ښځې له د جهاد پۀ بدله کښې څۀ دي؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د خاوند حکم منل. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ ما چا ته حکم کولے چې چا ته سجده وکړي نو ښځې ته به مې حکم کړے ؤ چې خپل خاوند ته سجده وکړي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ښځې له جائز نۀ دي چې (نفلي) روژه ونیسي پۀ داسې حال کښې چې خاوند ئې موجود وي مګر د هغۀ په اجازت سره، او نۀ دا چې د هغۀ کور ته د هغۀ د اجازت نه بغیر چا له اجازت ورکړي. (متفق علیه)

۞ رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: کومه ښځه چې په داسې حال کښې مړه شي (یا شپه تېره کړي) چې خاوند ترېنه راضي وي نو جنت ته به داخلیږي. (ترمذي، ابن ماجه)

۞ په یو حدیث مبارک کښې دي چې رسول الله ﷺ یوې ښځې ته وفرمائیل: ستا خاوند ستا جنت دے او ستا دوزخ دے. ()

ښۀ ښځه، په ټولو کښې غوره او نیکه ښځه

۞ د رسول الله ﷺ د یو حدیث شریف مفهوم دے: ښۀ ښځه هغه ده چې کله ورته خاوند ګوري نو خوشحالیږي، چې کله ورته دے حکم کوي نو هغه ئې حکم مني او چې کله ترېنه دے غائب وي نو هغه ئې (د کور) خیال ساتي. (ابوداؤد)

۞ رسول الله ﷺ ته عرض وکړے شو: په ښځو کښې کومه د ټولو نه غوره ده؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: هغه چې خاوند ئې خوشحالیږي چې ګوري ورته، د هغۀ خبره مني چې حکم ورته کوي، او په خپل ځان او د هغۀ په مال کښې د هغۀ داسې خلاف نۀ کوي چې هغۀ ته ناخوښ وي. (السلسلة الصحيحه)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائیل: مومن د الله تعالیٰ د یرې (تقویٰ) نه روستو ځان له د نیکې ښځې نه زیات غوره څۀ نۀ دي حاصل کړي؛ کۀ حکم ورته کوې نو حکم ئې مني، کۀ ګوري ورته نو دے خوشحالوي، کۀ قسم پرې خوري نو قسم ئې پوره کوي او کۀ غائب وي ترېنه نو په خپل ځان او د دۀ په مال کښې د دۀ خیر خواهي کوي. (ابن ماجه)

۞ رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: دنیا ټوله (د فائدې) څۀ سامان دے او د دې د ټولو نه غوره سامان نیکه ښځه ده. (مسلم)

۞ رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: دنیا صرف یو سامان دے (د سامان یو ځائے دے) او د دنیا په سامان کښې د نیکې ښځې نه غوره څۀ نیشتي. (ابن ماجه)

پهٔ دین کښې مددګاره ښځه، ښځې له جنت ته د تلو یوه لار

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: پهٔ دین کښې ښځهٔ مددګار نیکه ښځه ده. (احیاء)

❁ عمر رضي الله عنه (د مال متعلق خبره کښې)عرض وکړو: اے د الله رسوله! مونږ کوم مال وساتو؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: وُدِساتي پهٔ تاسو کښې څوک شکر ګزار زړهٔ، ذکرکونکې ژبه او مومنه ښځه چې پهٔ تاسو کښې د چا د آخرت پهٔ معامله کښې مدد کوي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: ښځه چې کله خپل پینځهٔ نمونزونه کوي، د خپلې میاشتې (رمضان) روژې نیسي، د خپل شرمګاه حفاظت کوي او د خپل خاوند خبره اوري نو د جنت د کومې دروازې نه ئې چې خوښه شي داخله دِ شي. (احمد ، ابونعیم)

د ښځې د خاوند حق نهٔ ادا کول، خبره ئې نهٔ منل، شکایتونه، ناشکري

❁ رسول اللهﷺپهٔ یو حدیث شریف کښې و فرمائېل: قسم مِ دِ پهٔ هغه ذات وي د چا پهٔ لاس کښې چې د محمد روح دے! ښځه د خپل رب حق نهٔ شي ادا کولے څو پورې چې د خپل خاوند حق ادا نکړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې سړے خپله ښځهٔ خپلې بسترې ته راوغواړي او هغه رانشي او دے پهٔ هغې غصه پاتې شي نو پهٔ هغې د سحره پورې فرښتې لعنت وایي. (پهٔ یو روایت کښې دي چې آسمان والا پهٔ هغې غصه وي تر دې چې دے د هغې نه راضي شي). (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ د اختر پهٔ یوه خطبه کښې ښځو ته وفرمائېل: صدقه ورکوئ ځکه چې پهٔ تاسو (ښځه ذات) کښې زیاتې د جهنم لرګي دي. د ښکته خلقو یوې تور مخې ښځې ووې: ولې اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل:

تاسو شکایتونه زیات کوئ او د خاوند (یا خاندان) ناشکري کوئ. پهٔ دې سره ښځو خپل هارونه، موندرۍ او ګوتۍ د بلال ټوکي (څادر وغیره) ته د صدقه کولو دپاره غورزول شروع کړهٔ. (نسائي)

پهٔ خاوند د ښځې حق، وغیره، نفقه، دوؤ ښځو کښې برابروالے

❁ رسول اللّٰهﷺوفرمائیل: تاسو د ښځو پهٔ باره کښې وصیت قبول کړئ. (متفق علیه)

❁ رسول اللّٰهﷺد حجة الوداع پهٔ خطبه کښې وفرمائیل: ستاسو د ښځو پهٔ تاسو حق دے... ښځې ستاسو سره قیدیانې دي، د هیڅ مالکې نهٔ دي (هیڅ واک اختیار ئې نیشتے)، تاسو هغه د اللّٰه تعالیٰ پهٔ امانت سره اخستې دي او د هغوئ شرمګاهونه د اللّٰه تعالیٰ پهٔ کلمې سره ځان له حلال کړي دي، پس تاسو د ښځو پهٔ باره کښې د اللّٰه تعالیٰ نه ویرېږئ او هغوئ له د خیر وصیت قبول کړئ. (متفق علیه)

❁ یو سړي د رسول اللّٰهﷺنه تپوس وکړو: د ښځې پهٔ خاوند څهٔ حق دے؟ رسول اللّٰهﷺ وفرمائیل: چې پهٔ هغې خوراک وخوروي کله چې ځان له خوري، چې هغې ته جامه واغوندوي کله چې ځان له اغوندي، مخ ئې ونهٔ وهي او نهٔ ورته دا ووایې چې مخ دِ قبیح شه، او لرې ترېنه نهٔ شي مګر پهٔ کور کښې. (ابن ماجه)

❁ رسول اللّٰهﷺپهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: د ښځو پهٔ تاسو دا حق دے چې تاسو د هغوئ پهٔ جامه او خوراک کښې د هغوئ سره ښهٔ وکړئ. (ابن ماجه)

❁ رسول اللّٰهﷺ وفرمائیل: پهٔ تاسو کښې د ټولو نه ښهٔ هغه دي کوم چې پهٔ تاسو کښې د خپلو ښځو دپاره د ټولو نه ښهٔ وي. (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: مومن سړے د مومنې ښځې سره بغض نهٔ شي ساتلے، کهٔ د هغې يو خوئي ورته بد ښکاره شي نو بل به ورله خوښ کړي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: يو مومن (خاوند) دِ د يوې مومنې (ښځې) نه نفرت نهٔ کوي، کهٔ د هغې يو خوئي ورته بد ښکاري نو بل به ئې خوښيږي. (بخاري، احمد)

❁ د عائشې رضي اله عنها نه روايت دے: هند بنت عتبه ووې: اے د الله رسوله! ابوسفيان يو شوم سړے دے او ما له دومره څهٔ نهٔ راکوي چې ما له او زما اولاد له کافي وي مګر هغه چې زهٔ ئې د هغهٔ نه واخلم او هغهٔ ته پته وُنهٔ لګي. رسول اللهﷺ وفرمائيل: تهٔ اخله څومره چې تا له او ستا اولاد له کافي وي مناسب طور. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: د چا چې دوه ښځې وي او دے پهٔ هغوی کښې يوې ته مائل وي او بلې ته نهٔ نو د قيامت پهٔ ورز به دے پهٔ داسې حال کښې رازي چې يو طرف به ئې کوږ وي. (احمد وغيره)

باب: د مسلمان پهٔ باره کښې

مسلمان له د نيکۍ مختلف څهٔ کول

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: کهٔ يو مسلمان پهٔ بل مسلمان پهٔ لوږه کښې ډوډۍ وخوروله الله تعالیٰ به د قيامت پهٔ ورز پهٔ دهٔ د جنت مېوې وخوروي، کهٔ پهٔ هغهٔ ئې پهٔ تنده کښې اُوبهٔ وڅښولې پهٔ دهٔ به مُهربند شراب وڅښوي، کهٔ هغهٔ ته ئې پهٔ بربنډ توب کښې جامې واغوستولې دهٔ ته به د جنت شنې جامې واغوندوي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې يو مسلمان غلام آزاد کړو الله تعالیٰ به د هغهٔ د هر اندام پهٔ عوض کښې د دهٔ يو اندام د دوزخ د اور نه آزاد کړي ـ (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم مسلمان چې يو مسلمان ته د خپلو زړو جامو نه واغوندوي صرف د الله تعالیٰ د رضا دپاره نو د ے به د الله تعالیٰ پهٔ ذمه وارۍ او حفاظت کښې وي ـ (حاکم، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: څوک چې اُور صدقه کړي نو لکه چې هغه هر څهٔ صدقه کړي کوم چې دغه اُور پاخهٔ کړي، څوک چې مالګه صدقه کړي نو لکه چې هغه هر څهٔ صدقه کړي کوم چې دغه مالګه خوندور کړي، څوک چې پهٔ يو مسلمان د اُوبو يو ګوټ وڅښوي کوم ځائے چې اُوبهٔ موند ے کيږي نو لکه چې يو غلام آزاد کړي او څوک چې پهٔ يو مسلمان د اُوبو يو ګوټ وڅښوي کوم ځائے چې اُوبهٔ نهٔ موند ے کيږي نو لکه چې هغه ژوند ے کړي ـ (ابن ماجه)

د مسلمان خيرخواهي

❁ د جرير بن عبد اللهؓنه روايت د ے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺسره بيعت وکړو د نمانځهٔ پهٔ قائمولو، د زکوٰۃ پهٔ ورکولو او د هر مسلمان سره پهٔ خيرخواهۍ کولو باندې ـ (متفق عليه) ـ پهٔ يو بل روايت کښې داسې دي: ما د رسول اللهﷺسره بيعت وکړو (د امير د حکم) پهٔ اورېدو او منلو او پهٔ دې چې زهٔ به د هر مسلمان سره خيرخواهۍ کوم ـ نو بيا چې به ئې څهٔ شے خرڅوهٔ يا اخستهٔ نو وې به ئې: څهٔ چې مونږ ستا نه واخستهٔ هغه مونږ ته زيات خوښ دي د هغې نه څهٔ چې مونږ تا له درکړهٔ، وس تا ته اختيار د ے (چې بيع پهٔ ځائے ساتې يا نهٔ ساتې) ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زما د اُمت سخیان به جنت ته پۀ نمانزۀ او روژې سره نۀ زي بلکې د نفسونو پۀ سخاوت، د سینو پۀ سلامت والي او د مسلمانانو پۀ خیرخواهۍ سره به زي. (دارقطني)

د مسلمان مدد کول، حاجت ئې پوره کول، سخته ترې کول

۞ رسول اللهﷺفرمائیلي دي: الله تعالیٰ د بنده پۀ مدد کولو کښې وي ځو پورې چې دے د خپل (مسلمان) ورور پۀ مدد کولو کښې وي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائیل: څوک چې د خپل (مسلمان) ورور غائبانه مدد وکړي الله تعالیٰ به پۀ دنیا او آخرت کښې د دۀ مدد وکړي. (دارمي، ابن عساکر)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د خپل (مسلمان) ورور د حاجت پۀ پوره کولو کښې وي الله تعالیٰ د دۀ د حاجت پۀ پوره کولو کښې وي. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د خپل (مسلمان) ورور څۀ حاجت پوره کړو نو لکه ټول عمر ئې چې د الله تعالیٰ خدمت (عبادت) وکړو. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د یو مسلمان نه د دنیا یوه سخته او غم لرې کړي نو الله تعالیٰ به د دۀ نه د قیامت د ورزې یوه سخته او غم لرې کړي. (متفق علیه)

مسلمان خوشحالول، مشوره ورله ورکول، ښۀ ورله خوښول

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د ټولو نه غوره عبادت (یا عمل) د مومن زړۀ ته خوشحالي داخلول دي. (طبراني)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: چا چې یو مومن خوشحاله کړو دۀ الله تعالیٰ خوشحاله کړو. (احیاء)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې زما د يو اُمتي څۀ حاجت پوره کړو د هغۀ د خوشحالولو دپاره نو دۀ زۀ خوشحاله کړم او چا چې زۀ خوشحاله کړم هغۀ الله تعالیٰ خوشحاله کړو او چا چې الله تعالیٰ خوشحاله کړو نو الله تعالیٰ به ئې جنت ته بوزي. (بيهقي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې د يو مومن سترګه يخه کړه نو الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز د دۀ سترګه يخه کړي. (احياء)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک د خپل (مسلمان) ورور نه مشوره وُغواړي نو هغه دِ ورله مشوره ورکړي (ښۀ مشوره). (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې څوک مومن نۀ شي کېدے تر څو چې خپل (مسلمان) ورور له هغه څۀ خوښ نکړي څۀ چې ځان له خوښوي. (متفق عليه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: خلقو له هغه څۀ خوښوه څۀ چې ځان له خوښوې نو مومن (يا مسلمان) به شې. (ابن ماجه، ترمذي، احمد)

د مسلمان عزت او اکرام کول، پۀ هغۀ د خير ګمان کول

۞ د رسول اللهﷺارشاد مبارک دے: د مومن عزت کول حق او واجب دي. (ابوداؤد في مراسيله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د خپل مومن ورور اکرام وکړو نو لکه چې د الله تعالیٰ اکرام ئې وکړو. (اصفهاني)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: پۀ مومنانو د خير ګمان کوئ.

()

۞رسول اللهﷺپۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: مونږ پۀ مومن ګمان نۀ کوو مګر د خير. (ابن ماجه)

د مسلمان د عزت نه ژبه منع ساتل، د هغهٔ د وینې، مال او د عزت حرمت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ دِ پهٔ هغه سړي رحم وکړي څوک چې د مسلمانانو د عزتونو نهٔ خپله ژبه منع وساتي. (دیلمي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د هر مسلمان پهٔ مسلمان باندې وينه، مال او عزت حرام دے. (مسلم، ترمذي، ابن ماجه)

❁ د ابوبکره رضی الله عنه نه روايت دے: رسول اللهﷺ د قربانۍ پهٔ ورز، پهٔ منیٰ کښې (يعني د حجة الوداع پهٔ موقع) پهٔ خپلې خطبه کښې وفرمائيل: ستاسو وينې، ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه پهٔ تاسو حرام دي لکه ستاسو د نن ورزې حرام والے ستاسو پهٔ دې مياشت کښې ، ستاسو پهٔ دې ښار کښې. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ پهٔ مومن د مومن وينه، مال اوعزت حرام کړے دے. (حاکم)

مسلمان او د هغهٔ عزت بچ کول، بې څوکه ئې نهٔ پرېښول، د غيبت خلاف ئې دفاع کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې يو مومن د منافق (ظالم، کافر) نه بچ کړي نو الله تعالیٰ به د قيامت پهٔ ورز يوه فرښته راوليږي چې د دهٔ غوښه د جهنم د اور نه بچ کړي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د خپل (مسلمان) ورور عزت بچ کړو الله تعالیٰ به د قيامت پهٔ ورز د دهٔ مخ د اور نه بچ کړي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې پسې شا د خپل (مسلمان) ورور د عزت دفاع وکړه الله تعالیٰ به د قيامت پهٔ ورز د دهٔ د مخ نه اور واپس کړي. (ترمذي، احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم يو مسلمان چې د خپل (مسلمان) ورور د عزت دفاع وکړي نو پۀ الله تعالیٰ به حق وي چې د قيامت پۀ ورز د دۀ نه د جهنم اور واړوي. (شرح السنه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: کوم مسلمان سړے چې د يو مسلمان پۀ داسې ځائے کښې مدد وکړي چرته چې د هغۀ بې عزتي او بې حرمتي کېږي نو الله تعالیٰ به د دۀ پۀ داسې ځائے کښې مدد وکړي چرته چې به دے غواړي چې د دۀ مدد وکړے شي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: مسلمان به مسلمان بې څوکه او بې يار ومددګار نۀ پرېږدي. (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د چا پۀ مخکښې چې د دۀ د (مسلمان) ورور غيبت کيږي او دے د هغۀ د مدد کولو طاقت لري او مدد ئې وکړي نو الله تعالیٰ به پۀ دنيا او آخرت کښې د دۀ مدد وکړي. (مسلم، شرح السنه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې غائبانه د خپل (مسلمان) ورور د غوښو دفاع وکړه (د هغۀ د غيبت جواب ئې ورکړو) نو پۀ الله تعالیٰ حق دے چې دے د اُور نه آزاد وساتي. (بيهقي)

پۀ مسلمان پرده اچول، عيب ئې پټ ساتل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ يو مسلمان پرده واچوله الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز پۀ دۀ پرده واچوي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ يو مسلمان پۀ دنيا کښې پرده واچوله الله تعالیٰ به پۀ دنيا او آخرت دواړو کښې پۀ دۀ پرده واچوي. (ترمذي، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو سړے چې د خپل (مسلمان) ورور نه د پټولو (او د شرم) څۀ ويني او پټ ئې وساتي نو جنت ته به زي. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺوفرمائیل: څوک چې پۀ چا کښې څۀ عیب، د پټولو څۀ څیز، ویني او پټ ئې کړي نو دا داسې ده لکه چې څوک پۀ قبر کښې ژوندۍ خخېدونکې جینۍ بچ کړي. (احمد ، ترمذي، ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺوفرمائیل: چا چې یو مړي له غسل ورکړو او د هغۀ حال ئې پټ وساتۀ نو الله تعالیٰ به د دۀ څلوېښت پېرې بخښنه وکړي. (حاکم)

مسلمان له غائبانه دعاء او د مغفرت دعاء غوښتل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: یو مسلمان بنده چې خپل (مسلمان) ورور له پۀ شا دعاء غواړي نو فرښته وایي چې تا له دِ هم داسې شي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مسلمان د خپل (مسلمان) ورور دپاره غائبانه دعاء قبلېږي. د دۀ سره یوه مقرره فرښته وي کله چې د ے خپل ورور له د خیر دعاء کوي نو هغه وایي: آمین! او تا له دِ هم ددې پۀ شان وي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: پۀ ټولو کښې زر قبلېدونکې دعاء دعاء د غائب ده د غائب دپاه. (ابوداؤد ، ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روایت کړے شوے دے: کچرې یو مسلمان روزانه ویشت پېرې مسلمانانو له د مغفرت دعاء غواړي نو د هغۀ ټولې دعاګانې به قبلیږي، پۀ ایمان به ئې خاتمه کیږي او پۀ رزق کښې به ورله فراخي ورکولے کیږي. (کتابچه: مجلسِ عارفي)

د مسلمان څۀ حقونه، مومن د مومن آئینه

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مسلمان حقونه پۀ مسلمان پینځۀ دي: د سلام جواب ورکول، د مریض تپوس کول، جنازو سره تلل، دعوت قبلول او پرنجي کونکي ته دعاءکول (یَرحَمُکَ الله ویېل) (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مسلمان حقونه شپږ دي: چې ملاؤ شي ورسره نو سلام پرې وایه، چې دعوت درله درکړي نو قبلوه ئې، چې نصیحت درنه

وغواړي نو کوه ورته، چې پرنجې وکړي نو يَرحَمُکَ الله (رحم دِ وکړي پهٔ تا الله) ورته وايه، چې ناجوړه شي نو تپوس ئې کوه او چې مړ شي نو جنازې سره ئې زه. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مومن د مومن (يا د خپل مومن ورور) آئينه ده. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن د خپل (مومن) ورور آئينه ده کله چې پکښې څهٔ عيبويني نو ټيک دِ کړې. (الادب المفرد). پهٔ يو بل روايت کښې داسې دي: پهٔ تاسو کښې يو کس د خپل (مومن) ورور آئينه ده نو کهٔ پهٔ هغهٔ د تکليف يا د بدوالي څهٔ شے ويني نو لرې دِ کړي ترې. (ترمذي)

د مسلمانانو يووالے، يو بل سره همدردي وغيره

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د دوؤ (مسلمانانو) ورونو مثال د دوؤ لاسونو دے چې يو لاس بل لاس اينزي. (ديلمي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن د مومن دپاره د عمارت پهٔ شان دے بعضې بعضې له مضبوطي ورکوي. رسول اللهﷺ خپلې ګوتې مبارکې پهٔ يوې بلې کښې دننه کړې. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومنان پهٔ شان د يو سړي دي، کله چې د هغهٔ سترګې ته تکليف وي نو ټول بدن ته ئې تکليف وي، کله چې د هغهٔ سر ته تکليف وي نو ټول بدن ته ئې تکليف وي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د مومنانو مثال يو بل سره پهٔ محبت ساتلو، يو بل باندې پهٔ رحم کولو او يو بل باندې پهٔ مهربانۍ لرلو کښې د بدن پهٔ شان دے چې کله د هغې يو اندام ته تکليف رسي نو ټول ورته متوجه کيږي پهٔ شپه رونولو او تبې سره. (متفق عليه)

مسلمان د مسلمان ورور، د ورورولئ څۀ خبرې

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: شىٔ بندګان د الله ورونه ورونه. (بخاري)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد مروي دے: انسان د انسان ورور دے خوښه ئې وي او کۀ ناخوښه. (اساس العربيه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مسلمان د مسلمان ورور دے، نۀ به پرې ظلم کوي او نۀ به ئې (هلاکېدو يا دشمن ته) پرېږدي (حواله کوي). (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مسلمان د مسلمان ورور دے، نۀ به پرې ظلم کوي، نۀ به ئې بې ځوکه پرېږدي او نۀ به ئې سپکوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مسلمان د مسلمان ورور دے، نۀ به ورسره خيانت کوي، نۀ به ورته دروغ وايي او نۀ به ئې بې ځوکه پرېږدي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن د مومن ورور دے، د ضائع کېدو نه به ئې بچ کوي (يا به ئې مال بچ کوي) او د روستو نه به ورته ديوال کوي (يعني پسې شا به ئې د غيبت وغيره نه حفاظت او دفاع کوي). (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن د مومن ورور دے نو يو مومن له حلال نۀ دي چې د خپل ورور پۀ بيع بيع وکړي او د خپل ورور د نکاح په پيشکش پيشکش وکړي تر دې چې هغه ئې پرېږدي. (مسلم)

مسلمان د الله پۀ ذمه کښې، دهغۀ ذمه اخستل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د سحر مونز وکړو نو دے د الله تعالیٰ پۀ ذمه کښې دے نو تاسو د الله تعالیٰ وعده مۀ ماتوئ، پس چا چې دے قتل کړو نو الله تعالیٰ به ئې طلب کړي تر دې چې پۀ دوزخ کښې ئې پړمخې وغورزوي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې زمونږ (د نمانځۀ په شان) نمونز وکړو، زمونږ قبلې ته ئې مخ وګرزوۀ او زمونږه ذبيحه ئې وخوړه نو دے هغه مسلمان

دے چا له چې د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول ذمه ده نو تاسو د الله تعالیٰ ذمه (امان) مهٔ ماتوئ۔ (بخاري، نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مسلمانانو ذمه یوه ده پهٔ دوئ کښې معمولي سړے هم هغه اخستے شي۔ (ترمذي)

مسلمان ته تکلیف، سختي، ضرر رسول، تګي ورسره کول، تکلیف والا اشاره

❁ د ابن عمرؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منبر ته وخوت او پهٔ اوچت آواز سره ئې وفرمائیل: اے هغه کسانو چې تاسو پهٔ ژبه مسلمانان شوي یئ او ستاسو زړونو ته ایمان نهٔ دے ننوتے! مسلمانانو ته تکلیف مهٔ رسوئ او هغوئ له پېغور مهٔ ورکوئ۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې پهٔ یو مسلمان سختي وکړه (یا ئې ورسره دشمني وکړه) الله تعالیٰ به پهٔ هغهٔ سختي وکړي (یا به ورسره دشمني وکړي)۔ (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: څوک چې یو مسلمان ته ضرر ورسوي الله تعالیٰ به هغهٔ ته ضرر ورسوي۔ (ابن ماجه، ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: لعنتي دے هغه څوک کوم چې یو مومن ته ضرر ورسوي یا ورسره تګي وکړي۔ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: یو مومن له حلال نهٔ دي چې خپل مومن ورور ته پهٔ داسې نظر اشاره وکړي چې هغهٔ ته تکلیف رسوي۔ (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې خپل (مسلمان) ورور ته د نېزې په څوکه اشاره کوي نو ملائکې په دۀ لعنت وايي تر دې چې دا عمل پرېږدي اګرکۀ پلاره زیز او موره زیز ورور ئې وي. (مسلم)

مسلمان سپک ګڼل، د عزت نقصان، کنزل، جنګ، وهل، ټوقې، لعن وغیره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د سړي دا شر هم کافي دے چې خپل (مسلمان) ورور سپک وګڼي. (مسلم، ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ د یو ارشاد مبارک مفهوم دے: د ټولو نه لویه ربا (سود) پۀ ناحقه د مسلمان عزت داغدار کول دي. (مشکوٰة)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د ټولو نه لوئے زیاتے (او ظلم) یو مسلمان بې عزته کول دي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ (معاذ رضي الله عنه ته پۀ یو وصیت کښې) وفرمائیل: زۀ تا منع کوم چې تۀ یو مسلمان (یا یو حکیم) ته کنزل وکړې. (ابونعیم)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائیل: مسلمانان مۀ وهئ. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: مسلمان ته کنزل کول (بدې ردې ویېل) فِسق دے او جنګ ورسره کول کفر دے. (بخاري، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تۀ د خپل (مسلمان) ورور سره جګړه مۀ کوه او مۀ ورسره ټوقې مذاق کوه او مۀ ورسره وعده کوه چې پوره کوې ئې نۀ. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مومن لعن د هغۀ د قتل پۀ شان دے. (الادب المفرد)

د مسلمانانو فکر نۀ کول، مسلمان بې څوکه پرېښول

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث شريف کښې روايت کړے شوے دے: څوک چې د مسلمانانو د معاملاتو فکر نۀ کوي نو دے د هغوی نه نۀ دے. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم مسلمان سړے چې يو مسلمان پۀ داسې ځائے کښې بې څوکه پرېږدي پۀ کوم ځائے کښې چې د هغۀ بې حرمتي او بې عزتي کېږي نو الله تعالیٰ به دے پۀ داسې ځائے کښې بې څوکه پرېږدي پۀ کوم ځائے کښې چې به دے غواړي چې مدد ئې وکړے شي. (ابوداؤد)

مسلمان له بده مشوره ورکول، مسلمان يرول، د مسلمان پۀ مصيبت خوشحالېدل

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې خپل (مسلمان) ورور ته د څۀ خبرې مشوره ورکړه او دۀ ته پته وه چې خير د دې نه علاوه پۀ بله کښې دے نو دۀ د هغۀ سره خيانت وکړو. (ابوداؤد)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا نه چې د دۀ مسلمان ورور مشوره وغوښته او دۀ ورله بغير د حق پېژندو نه مشوره ورکړه نو دۀ د هغۀ سره خيانت وکړو. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: يو مسلمان له جائز نۀ دي چې يو مسلمان وُيروي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې خپل (مسلمان) ورور ته پۀ داسې نظر وکتل چې هغه ئې يرولو نو الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز دے ويروي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د خپل (مسلمان) ورور پۀ مصيبت خوشحالي مۀ ښکاره کوه، الله تعالیٰ به پۀ هغۀ رحم وکړي او تا به مبتلا کړي. (ترمذي)

باب: د ګاونډي په باره کښې

ګاونډي سره ښهٔ سلوک، هغه نهٔ تکليفول، د هغهٔ اکرام کول، هغهٔ له څهٔ ورکول

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: **خپل ګاونډي سره ښهٔ سلوک کوه نو مومن بهٔ شې.** (احمد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ ته د يوې ښځې پهٔ باره کښې ووييلے شو چې هغه لږ نمونزونه کوي، لږې روژې نيسي او لږه صدقه ورکوي، د پنير يوه ټکړه پهٔ صدقه کښې ورکوي، خو پهٔ ژبه خپلو ګاونډيانو ته تکليف نهٔ رسوي نو رسول اللهﷺ وفرمائيل چې هغه جنتي ده. (احمد، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: **څوک چې پهٔ الله تعالیٰ او د آخرت پهٔ ورز ايمان لري نو د خپل ګاونډي اکرام دِ کوي.** (متفق عليه)

❁ د ابوذر رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول اللهﷺ هغهٔ ته وفرمائيل: اے ابوذره! کله چې شوروا (اينګولے) پخوې نو اُوبهٔ پکښې زياتې اچوه او خپلو ګاونډيانو له ترې ورکوه. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: اے د مسلمانانو ښځو! يوه ګاونډۍ دِ خپلې ګاونډۍ ته سپک نهٔ ګوري اګرکهٔ د بيزې پخه (يا سُم ورکول) وي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: اے د مسلمانانو ښځو! يوه ګاونډۍ دِ خپلې ګاونډۍ له څهٔ شے ورکول لږ او معمولي وُنهٔ ګڼي اګرکهٔ د بېزې يوه پخه ولې نهٔ وي. (متفق عليه)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! زما دوه ګاونډيان دي نو زهٔ کوم يو له ډالۍ ورکوم؟ رسول

اللهﷺوفرمائېل: هغه يو له کوم چې تا ته پۀ دروازه کښې زيات نزدې دے۔ (الادب المفرد)

د ګاونډي څۀ حقونه، قيامت کښې د ټولو نه ړومبے فيصله د ګاونډي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جبريل (عليه السلام) ما ته د ګاونډي پۀ باره کښې دومره وصيت او تاکيد کوي چې زما ګمان راشي چې ميراثي به ئې جوړ کړي۔ (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تاسو خبر يئ د ګاونډي څۀ حق دے؟ چې ستا نه مدد وغواړي چې تۀ ئې مدد وکړې، چې ستا نه قرض وغواړي چې تۀ ورله قرض ورکړې، چې ناجوړه شي چې تۀ ئې تپوس وکړې، چې مړ شي چې تۀ ئې جنازې سره لاړ شې، چې خير ورته ورسي چې تۀ ورله مبارکي ورکړې، چې مصيبت ورته ورسي چې تۀ ورله تسلي ورکړې، او خپل آبادے د هغۀ نه مۀ اوچتوه چې هوا ترې بنده نۀ کړې مګر د هغۀ پۀ اجازت سره او کله چې مېوه واخلې نو هغۀ له ترې لېږه او کۀ نۀ لېږې نو بيا ئې پۀ پټه دننه کور ته وړه، او ستا بچے دِ هغه بهر ته نۀ وُباسي چې د هغۀ بچے پرې غصه او خفه کړي، او د خپلې کټوې پۀ بوئې هغه مۀ تکليفوه مګر دا چې هغۀ له ترې ورکوې۔ بيا ئې وفرمائېل: تاسو خبر يئ د ګاونډي څۀ حق دے؟ قسم مِ د پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې زما روح دے! د ګاونډي حق نۀ شي پوره کولے مګر هغه څوک پۀ چا چې الله تعالیٰ رحم وکړي۔ (احياء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د قيامت پۀ ورز به د ټولو نه ړومبي فيصله پيش کونکي دوه ګاونډيان وي۔ (احمد)

ګاونډي او مومن والے، ښۀ ګاونډي

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې روايت کړے شوے دے: قسم م دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې زما روح دے! يو بنده مومن نۀ شي کېدے ځو پورې چې د دۀ ګاونډي د دۀ د شرونو نه پۀ امن نۀ وي. (احمد، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ الله دِ زما قسم وي هغه کس مومن نۀ دے! پۀ الله دِ زما قسم وي هغه کس مومن نۀ دے! پۀ الله دِ زما قسم وي هغه کس مومن نۀ دے! عرض وکړے شو: څوک اے د الله رسوله ؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه څوک د چا د شر نه چې د هغۀ ګاونډي محفوظ نۀ وي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ پۀ نزد پۀ ګاونډيانو کښې د ټولو نه ښۀ هغه دے کوم چې د خپل ګاونډي دپاره د ټولو نه ښۀ وي. (ترمذي)

❁ پۀ يو حديث شريف کښې رسول اللهﷺ نيک ګاونډي د مسلمان د نيک بختئ پۀ څيزونو کښې شمار کړے دے. (الادب المفرد)

ګاونډي تکليفول، د ګاونډي خيال نۀ ساتل، بد ګاونډي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ الله تعالیٰ او د آخرت پۀ ورز ايمان لري نو خپل ګاونډي ته دِ تکليف نۀ رسوي. (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ ته د يوې ښځې پۀ باره کښې ووېلے شو چې هغه ډېر نمونزونه کوي، ډېرې روژې نيسي او ډېره صدقه ورکوي خو پۀ ژبه خپلو ګاونډيانو ته تکليف رسوي نو رسول اللهﷺ وفرمائېل چې هغه دوزخي ده. (احمد، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته نۀ شي تلے هغه څوک د چا ګاونډي چې د هغۀ د شرونو نه پۀ امن نۀ وي. (مسلم، بخاري، ابن ابی الدنيا)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: نهٔ دے مومن هغه چې ځانله موړ شي او ګاونډي ئې پهٔ خوا کښې وُږے وي۔ (بيهقي، الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: ډېر ګاونډيان به د قيامت پهٔ ورز پهٔ خپلو ګاونډيانو پورې نختي وي وايي به: اے ربه! دوی خپلې دروازې مونږ پسې بندې کړې وې او خپلې نيکيانې ئې منع کړې وې۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ پناه غواړی د بد ګاونډي نه، کهٔ څهٔ خيرويني نو هغه پټ کړي او کهٔ څهٔ شر ويني نو هغه ښکاره کړي۔ (البخاري فی التاريخ، نسائي)

❁ د رسول اللهﷺ يوه دعاء به دا وه: اے الله! زهٔ پناه غواړم پهٔ تا سره د بد ګاونډي نه د پاتې کيدو پهٔ کور (آخرت) کښې ځکه چې د دنيا کور اوړېدونکے دے۔ (الادب المفرد)

د ګاونډي د ښځې سره د بدکارۍ او د هغهٔ د کور نه د غلا کولو وبال او عذاب

❁ رسول اللهﷺ د خپلو اصحابو نه د زنا پهٔ باره کښې تپوس وکړو: هغوی ووېېل: حرامه ده، الله او د هغهٔ رسول حرامه کړې ده۔رسول اللهﷺ وفرمائېل: د يو سړي د لسو ښځو سره زنا کول پهٔ هغهٔ د دې نه آسان (کم عذاب والا) دي چې هغه د خپل ګاونډي د ښځې سره زنا وکړي۔ بيا رسول اللهﷺ د هغوی نه د غلا پهٔ باره کښې تپوس وکړو ۔هغوی ووېېل: حرامه ده، الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول حرامه کړې ده۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا د لسو کورونو نه غلا کول پهٔ هغهٔ د دې نه آسان (کم عذاب والا) دي چې هغه د خپل ګاونډي د کور نه غلا وکړي۔ (الادب المفرد)

باب: د یتیم، مسکین او کونډې په باره کښې

یتیم سره ښهٔ سلوک، د هغهٔ پالنه وغیره، د مسکین او کونډې خیال ساتل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مسلمانانو په کورونو کښې د ټولو نه ښهٔ کور هغه دے په کوم کښې چې یو یتیم وي او ښهٔ سلوک ورسره کیږي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د یوې یتیمې یا د یو یتیم سره کوم چې د دهٔ سره وي ښهٔ سلوک وکړي نو په جنت کښې به زهٔ او دے د دې دوؤ په شان یو ـ هغوی خپلې دوه ګوتې مبارکې یو ځائے کړې ـ (احمد ، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زهٔ او د یتیم پالنه کونکے به په جنت کښې داسې یو ـ په مسواکۍ او مینځنۍ ګوتو سره ئې اشاره وفرمائیله او بیا ئې د یو بل نه لرې کړې ـ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د یتیم کفالت کونکے چې هغه د دهٔ وي یا د بل چا زهٔ او دے به په جنت کښې د دې دوؤ (ګوتو) په شان یو ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د دریو یتیمانانو پالنه وکړي دے داسې دے لکه د شپې چې نمونز وکړي او د ورزې روژه ونیسي او سحر ماښام د الله تعالیٰ په لار کښې توره راویستلې ونیسي او زهٔ او دے به په جنت کښې د دوؤ رونو په شان یو ـ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې یو یتیم د مسلمانانو د مینځ نه خپل خوراک څښاک ته راواخستهٔ نو الله تعالیٰ به ضرور دے جنت ته داخلوي مګر دا چې یو داسې ګناه وکړي چې نهٔ بخښلے کیږي ـ (ترمذي)

❁ یو سړي رسول اللهﷺ ته د خپل زړهٔ د سخت والي فریاد وکړو ـ رسول اللهﷺورته وفرمائېل: د یتیم پهٔ سر لاس راکاږه او پهٔ مسکین ډوډۍ خوروه ـ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د یو یتیم (یا مسکین) پهٔ سر لاس کېږدي صرف د الله تعالیٰ دپاره نو دهٔ له به د هر وېښتهٔ پهٔ عوض کښې پهٔ کوم چې د دهٔ لاس تېروزي یوه نیکۍ وي ـ (احمد ، ترمذي، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خبردار! څوک چې د یو یتیم سرپرست وي او د هغهٔ څهٔ مال وي نو دے دِ پهٔ هغې کښې تجارت کوي او پرېږدي دِ نهٔ چې زکوٰة ئې وخوري ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د کونډې او مسکین خیال ساتونکے د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې د جهاد کونکي پهٔ شان دے او د هغه چا پهٔ شان دے څوک چې د شپې نمونځ کوي او د ورځې روژه نیسي ـ (بخاري، مسلم، ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺنه پهٔ یو حدیث مبارک کښې د دې مفهوم ارشاد مروي دے: د دومره دومره (نفل) رکعتونو نه د یوې کونډې خبر اخستل زیات غوره دي ـ ()

د خپلو یتیمانانو وړو دپاره وادهٔ نهٔ کونکې ښځه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زهٔ او تورمخې ښځه به پهٔ قیامت کښې د دې دوؤ (د مینځنۍ او د شهادت د ګوتې) پهٔ شان یو؛ داسې ښځه چې د خپل د یو مرتبې او ښائست والا خاوند نه کونډه شي نو خپل ځان خپلو یتیمانانو وړو ته بنده کړي (وادهٔ ونکړي) تر دې چې هغوۍ جدا شي یا مړهٔ شي ـ (ابوداؤد)

یتیم سره بد سلوک کول، حق ئې ضائع کول

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: د مسلمانانو پهٔ کورونو کښې د ټولو نه بد کور هغه دے پهٔ کوم کښې چې یو یتیم وې او بد سلوک ورسره کېږي ـ (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے الله! زۀ د دوؤ کمزورو کسانو، د يتيم او د ښځې، د حق د ضائع کولو نه يرول او پۀ سختئ سره منع کول کوم. (نسائي، ابن ماجه)

باب: د خادم، غلام او ذمي پۀ باره کښې

د خادم، غلام او ذمي سره ښۀ سلوک کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: (ستاسو خادمان او غلامان) ستاسو رونه دي، الله تعالیٰ ستاسو د لاسونو لاندې کړي دي، پس د چا د لاس (واک) لاندې چې د دۀ ورور وي نو د خپل خوراک نه دِ پرې خوروي او د خپلې جامې نه دِ ورته اغوندوي او د داسې څۀ تکليف دِ پرې نۀ اچوي چې پۀ هغۀ غلبه شي او کۀ پرې واچوي نو مدد دِ ورسره کوي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې چې د چا خادم دۀ له ډوډئ راوړي نو د ځان سره دِ کښېنوي او د هغۀ سره دِ ډوډئ خوري او کۀ داسې نۀ کوي نو يوه نمړئ دِ ورله ورکوي. (متفق عليه)

۞ يو سړے د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! زۀ خپل خادم څو معاف کړم؟ رسول اللهﷺ خاموش شو او بيا ئې وفرمائېل: هره ورز ئې اويا پېرې معاف کوه. (ابوداؤد، ترمذي)

۞ جابر بن عبد اللهؓ فرمائي: رسول اللهﷺ به د غلامانو پۀ باره کښې د خير وصيت کولو او فرمائېل به ئې: پۀ دوئ خوروئ د هغې نه چې تاسو خورئ اودوئ ته اغوندوئ د جامو خپلو نه، او د الله تعالیٰ مخلوق ته عذاب مۀ رسوئ. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: مملوک (غلام) له (پۀ خپل مالک) خوراک د هغۀ دے او جامه د هغۀ ده او صرف د دومره کار تکليف به ورته ورکولے کيږي د ځومره چې هغه طاقت لري. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ستاسو غلامان ستاسو رونه دي نو د هغوی سره ښۀ کوی، مدد اخلی د هغوی نه پۀ هغې کښې ځۀ چې پۀ تاسو غالب (ګران) شي او مدد کوی د هغوی پۀ هغې کښې د ځۀ نه چې هغوی مغلوب شي. (الادب المفرد)

❁ د علي رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺ آخري خبره دا وه: نمونز نمونز، د خپلو مملوکانو (غلامانو) پۀ باره کښې د الله تعالیٰ نه ويرېږی. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ يهودو کښې چې ځوک پۀ مونږ پسې راغلل (مونږ له ئې د مدد لاس راکړو) نو پۀ مونږ هغوی له ښۀ سلوک دے چې نۀ به پرې ظلم کيږې او نۀ به ئې خلاف چا له مدد ورکولے کيږي. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد فرمائيلے دے: د ذمي ديت د مسلمان ديت دے (د هغې برابر دے). (بيهقي)

غلام، خادم او ذمي ته تکليف رسول

❁ ابومسعود رضي الله عنه فرمائي: ما خپل غلام وهۀ، پۀ دې کښې ما د شا نه دا واورېدل: اے ابومسعوده! ياد وساته الله تعالیٰ پۀ تا د دې نه زيات قدرت لري ځومره چې تۀ پۀ دې غلام لرې. ما چې روستو وکتل نو رسول اللهﷺ ؤ. ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! زۀ دا غلام آزادوم د الله تعالیٰ د رضا دپاره. رسول اللهﷺ وفرمائيل: ياد وساته کۀ تا داسې نۀ وے کړے نو د دوزخ اُور به تۀ ستي کولې. (مسلم، احمد، ابوداؤد)

❁ د ابوهريرهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ابو القاسم، نبي التوبه، ﷺ فرمائېلي دي: چا چې په خپل مملوک (غلام) د بدکارۍ تهمت ولګولو چې هغه ترې پاک ؤ نو الله تعالیٰ به د قيامت په ورز په دهٔ باندې حد قائم کړي مګر دا چې هغه هغه شان وي څهٔ چې دهٔ ويېلي وي۔ (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې خپل يو غلام د څهٔ حد (سزا) په طور ووهٔ چې د حد هغه کار ئې نهٔ ؤ کړے يا ئې ورله څپېړه ورکړه نو د دې کفاره دا ده چې هغه آزاد کړي۔ (مسلم)

❁ د رسول الله ﷺ نه مروي دي: چا چې يو ذمي ته تکليف ورسولو هغه ما ته تکليف راورسولو۔ (اساس العربيه)

❁ رسول الله ﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: الله تعالیٰ ستاسو د پاره دا نهٔ دي جائز کړي چې تاسو د اهلِ کتابو کورونه ته بې اجازته لاړ شئ او نهٔ د هغوئ د ښځو وهل او نهٔ د هغوئ د ميوو خوړل کله چې هغوئ تاسو له هغه څهٔ درکوي چې په هغوئ (مقرر) وي۔ (مشکوٰة)

باب: د ځناورو په باره کښې

ځناورو سره ښهٔ سلوک کول، رحم پرې کول

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: يو سپے د يو کوهي نه تاوېدهٔ، د تندې نه مړ کېدهٔ، نا څاپه د بني اسرائيلو يوې بدکارې ښځې وليدهٔ، هغې خپله پڼه راوويسته او هغهٔ له ئې اُوبهٔ راووېستې او په هغهٔ ئې وښښولې نو په دې سره هغه وبخښلے شوه۔ (متفق عليه)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: يو سړي يو تږي سپي له په خپله موزه د کوهي نه اُوبهٔ راووېستې او په هغهٔ ئې وښښولې الله تعالیٰ د هغهٔ د دې عمل قدر وکړو او هغه ئې وبخښهٔ۔ (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ ته عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! مونږ له پۀ څارپايو کښې اجر شته؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ هرې لوندې اینه کښې اجر دے۔ (الادب المفرد)

❁ د سراقه بن جعشمؓ نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه پُښتنه وکړه: کۀ یو ورک شوے اُوښ زما حوض ته راشي کوم چې ما د خپلو اُوښانو دپاره برابر کړے وي نو ما له څۀ اجر شته کۀ زۀ پرې اُوبۀ وڅښوم؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: آ، پۀ هر اینې والا تږي کښې اجر دے۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: الله تعالیٰ پۀ هر شي باندې ښۀ سلوک (احسان) لازم کړے دے نو تاسو چې قتل کوئ نو ښۀ قتل کوئ او چې ذبح کوئ نو ښۀ ذبح کوئ او پۀ تاسو کښې دِ څوک خپله چاړۀ تېرۀ کوي او د ذبحې شي ته دِ آرام ورکوي۔ (ابوداؤد، مسلم)

❁ یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! زۀ بیزه حلالوم نو رحم (ترس) پرې کوم۔ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تا کۀ پۀ بیزه رحم وکړو نو الله تعالیٰ به پۀ تا رحم وکړي۔ (الادب المفرد)

څناورو له عذاب ورکول، د څناور مخ داغل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: یوه ښځه به پۀ دې وجه دوزخ ته زي چې هغې یوه پیشو تړلې وه، نۀ ئې ورله خوراک څښاک ورکوۀ او نۀ ئې پرانسته چې ځان له ئې چینجي مینجي تلاش کولے نو مړه شوه۔ (مشکوٰة)

❁ د ابن عباسؓ نه روایت دے چې رسول اللهﷺ وفرمائیل: د روح والا شے (د ویشتو دپاره) نښه مۀ جوړوئ۔ (مسلم)

❁ د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائیلې ده چې څۀ ځاروے پۀ وهلو وهلو، ویشتو ویشتو (یعني صبراً) قتل کړے شي۔ (مسلم)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ د دې نه منع فرمائيلې ده چې ځاروي بغير د ګيا نه بند کړے شي چې مجبوراً مړۀ شي. (متفق عليه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: د دې ګونګو چارپايو په باره کښې د الله تعالىٰ نه وُيريږئ؛ په داسې حال کښې پرې سوريږئ چې هغوئ جوړ او برابر وي او په داسې حال کښې ئې پريږدئ چې هغوئ جوړ او برابر وي. (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: د خپلو ځاروو د ملاګانو نه منبرونه مۀ جوړوئ (چې هغوئ ولاړ وي تاسو پرې ناست يئ). (بغوي، ابوداؤد)

❁ د ابن عباسرضي الله عنهما نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ د ځناورو په يو بل پسې د پارولو نه منع فرمائيلې ده. (نسائي)

❁ د زاذان رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: علي رضي الله عنه درې تنه په يو قچر وليدل نو وئې فرمائيل: يو دِ په تاسو کښې راکوز شي ځکه چې رسول الله ﷺ په دريم باندې لعنت ويلے دے. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ يو خر وليدۀ چې مخ ئې داغلے شوے ؤ نو دا ئې بد وګڼل. (مسلم)

❁ د رسول الله ﷺ په خوا کښې يو خر تېر شو چې په مخ ئې داغ لګولے شے ؤ نو وئې فرمائيل: الله دِ لعن وکړي په هغه چا چې په دۀ داغ لګولے دے. (مسلم)

کتاب: د معاشرتي ژوند والا څۀ ابواب

باب: میل ملاپ، صحبت وغیره، ملګرتیا

د میل ملاپ غوره والے، صحبت د نیکانو سره، ډوډۍ پۀ هغوی خورول

✿ د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم مومن چې د خلقو سره خلط ساتي او د هغوی پۀ تکلیفونو صبر کوي هغه غوره دے (او د زیات اجر والا دے) د هغه مومن نه کوم چې د خلقو سره خلط نۀ ساتي او د هغوی پۀ تکلیفونو صبر نۀ کوي۔ (ترمذي، ابن ماجه)

✿ یو کس د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: مونږ د کومو خلقو سره زیات صحبت (ناسته، ملګرتیا) ساتو؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هغه چا سره د چا پۀ لیدو چې الله تعالیٰ یادیږي۔ (فضائلِ صدقات)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: صحبت مۀ ساته مګر د مومن سره او ستا ډوډۍ دِ ؤ نۀ خوري مګر نیک او متقي سړے۔ (ترمذي، ابوداؤد، دارمي)

✿ رسول اللهﷺ چاته پۀ دعاء کښې وفرمائېل: ستا ډوډۍ دِ نیکان خلق وخوري۔ (ابوداؤد)

✿ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: تۀ ډوډۍ مۀ خوره مګر د پرهېزګار سړي او ستا ډوډۍ دِ ونۀ خوري مګر پرهېزګار سړے۔ (احیاء)

ملګرتیا، ښۀ ملګرے او بد ملګرے

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: یوازې والے د بد ملګر ي نه غوره دے او نیک ملګرے د یوازي والي نه غوره دے۔ (بیهقي، حاکم)

۞ چا د رسول اللهﷺنه تپوس وکړو: کوم ملګرے د ټولو نه ښۀ دے؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: هغه چې کله تۀ د نیک کار کولو نه غافل يې نو تا ته ئې يادوي او کله چې تا ته نیک کار کول ياد وي نو پۀ هغې کښې ستا مدد کوي (يا هغه چې کله تا ته الله تعالیٰ ياد وې نو ستا مدد کوي او کله چې ستا نه الله تعالیٰ هېر وي نو تا ته ئې يادوي). بيا چا تپوس وکړو چې کوم ملګرے د ټولو نه بد دے؟ نو رسول اللهﷺوفرمائېل: هغه چې کله تۀ د نیک کار کولو نه غافل يې نو تا ته ئې نۀ يادوي او کله چې تا ته نیک کار کول ياد وي نو پۀ هغې کښې ستا مدد نۀ کوي (يا هغه چې کله تا ته الله تعالیٰ ياد وې نو ستا مدد نۀ کوي او کله چې ستا نه الله تعالیٰ هېر وي نو تا ته ئې نۀ يادوي). (احياء، فضائلِ صدقات)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ښۀ همنشين مثال د مشکو والا دے، کۀ د هغې (مشکو) نه تا ته څۀ درونۀ رسي نو د خوشبو نه به ئې درته درورسي، او د بد همنشين مثال د بټۍ والا دے، کۀ د هغې د توروالي نه تا ته څۀ درونۀ رسي نو د لوګي نه به ئې درته درورسي. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: پۀ ملګرو کښې د الله تعالیٰ پۀ نزد د ټولو نه ښۀ هغه دے کوم چې د خپل ملګري دپاره د ټولو نه ښۀ وي. (الادب المفرد، ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺنۀ د دې مفهوم فرمان روايت کړے شوے دے: د هغه چا پۀ ملګرتيا کښې څۀ خير نيشتے څوک چې تا له هغه حق نۀ ايني (نۀ خوښوي) کوم چې تۀ هغۀ له ايني. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: ځان د بد ملګري نه ساته ځکه چې تۀ پۀ هغۀ پېژندے کېږې. (اساس العربيه)

باب: محبت، دوستي وغيره

محبت، عشق، دوستي، الفت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د خپل (مسلمان) وروړ سره محبت ساتي نو هغه دِ خبر کړي چې زۀ تا سره محبت ساتم. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: چا چې عشق وکړو او پاک پاتې شو او پټ ئې وساتۀ او صبر ئې وکړو او مړ شو نو هغه شهيد دے. (بيهقي، بوادر النوادر)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: دوه کسان د يو بل سره محبت نۀ کوي مګر پۀ هغوی کښې غوره د خپل ملګري سره زيات محبت کونکے وي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د دين (يا ايمان) نه پس د عقل سر (بنياد) د خلقو سره دوستي او د هر نيک او بد سړي سره نيکي کول دي. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ تاسو کښې الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ هغه څوک دي چې الفت ساتي او الفت ورسره ساتلے کيږي. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: مومن د الفت ځيز دے او پۀ هغه چا کښې هيڅ خير نيشتے چې نۀ الفت ساتي او نۀ ورسره الفت ساتلے کيږي. (احمد، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: روحونه لښکرې دي جمع شوي، نو کوم چې پۀ دوی کښې (پۀ مخکښې عالم کښې) د يو بل سره اشنا شوي وي نو هغوی (دلته) د يو بل سره الفت ساتي او کوم چې د يو بل نه ناشنا پاتې شوي وي نو هغوی د يو بل سره اختلاف لري. (الادب المفرد)

يو بل سره د محبت کونکو پۀ قيامت کښې يو ځائے والے

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: تۀ به (پۀ آخرت کښې) د هغه چا سره يې د چا سره چې محبت وساتې. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: سړے به د هغه چا سره وي د چا سره ئې چې محبت ساتلے وي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې د يو قوم سره محبت او تعلق ساتي نو د هغۀ سره به راپاڅولے کيږي. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې د يو قوم والو سره د هغوی پۀ عملونو محبت کوي نو قيامت کښې به د هغوی پۀ ټولګي کښې راپاڅولے کيږي. (ابن عدي)

د الله دپاره محبت کول

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز وفرمائي: زما دپاره د يو بل سره محبت کونکي چرته دي؟ نن به ئې زۀ د خپل سوري د لاندې کړم چې زما د سوري نه علاوه بل سورے نيشتے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: يو بنده د يوبنده سره د الله تعالیٰ دپاره محبت نۀ دے کړے مګر د دۀ رب دۀ له عزت ورکړے دے. (احمد)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: زما د لوئي پۀ خيال يو بل سره محبت کونکو له به د نور منبرونه وي چې نبيان او شهداء به پرې رشک کوي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: دوه تنه چې د الله تعالیٰ دپاره د يو بل سره محبت کوي نو پۀ هغوی کښې چې کوم يو د زيات محبت والا وي هغه الله تعالیٰ ته زيات خوښ وي. (ابن حبان، حاکم)

محبت (او بغض) کښې اعتدال او احتیاط

❁ د ابوهريرهﷺ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائيل: د خپل محبوب سره محبت کم (او په اعتدال سره) کوه کيدے شي چې يوه ورز هغه ستاسره بُغض (او دشمني) کونکے شي (او د خپل مبغوض سره بُغض کم (او په اعتدال سره) کوه کيدے شي چې يوه ورز هغه ستا محبوب شي). (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: ستا د يو شي سره محبت ړندول او کڼول کوي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: سړے د خپل دوست په دين وي نو په تاسو کښې دِ يو کس ګوري چې د چا سره دوستي کوي. (ترمذي)

د يو قوم مشابهت، محبت د هغۀ تعداد زياتول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د يو قوم مشابهت وکړو نو دے د هغۀ نه دے. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د يو قوم والو سره محبت وُساتۀ الله تعالیٰ به ئې (په قيامت کښې) د هغوی په ټولګي کښې راپاڅوي. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د يو قوم تعداد زيات کړو نو دے د هغۀ نه دے او څوک چې د يو قوم په عمل راضي شو نو دے به د عمل کونکو سره شريک وي. (السيوطي فی جمع الجوامع، الفتاوی الاشرفيه)

باب: د بدو خلقو په باره کښې څۀ خبرې

فاسق او منافق سره محبت نۀ ساتل، بغض ساتل، د فاسق غيبت يا بد ذکر

❁ رسول اللهﷺدعاء وفرمائيله: اے الله! د يو فاجر فاسق په ما احسان مۀ راوله چې زما نه ورله محبت ورنکړې. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ د هر مومن نه دا وعده اخستې ده چې د هر منافق سره به بغض ساتي. (احياء)

۞رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د حيا ځادر ارتاؤ کړو نو هغهٔ له غيبت نيشتے (غيبت ئې غيبت نهٔ دے). (ابن عدي)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: تاسو د فاجر د ذکر نه لرې ووسئ؟ ښکاره ئې کړئ چې خلق ئې وپېژني، ځهٔ چې پکښې وي هغه بيانوئ چې خلق ترې ځان ساتي. (طبراني، ابن حبان، احياء)

د بدانو، مشرکانو، ظالمانو سره د اوسېدلو او ميل ملاپ ساتلو وعيد

۞ رسول اللهﷺد دې مفهوم ارشاد وفرمايهٔ: د مشرکينو سره مهٔ وسېږئ او مهٔ ورسره يوځائے کېږئ، چا چې د هغوئ سره اوسېدل او يوځائے والے وکړو دے د هغوئ نه دے. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زهٔ بري (بېزاره) يم د هر هغه مسلمان نه کوم چې د مشرکانو پهٔ مينځ کښې ووسي. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ د بني اسرائيلو پهٔ عالمانو لعنت کړے دے چې هغوئ به د ظالمانو سره د هغوئ پهٔ ژوند تېرولوکښې ميل ملاپ ساتهٔ. (ابوداؤد)

د بدو خلقو صفت او عزت کول، د فاجر سړي نعمت ته زوربدل

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ غضبناک کيږي کله چې د فاسق سړي صفت (مدح) کيږي. (ابن ابی الدنيا، بيهقي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کله چې د فاسق صفت کيږي نو عرش خوزيږي. (بوادر النوادر)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د يو فاسق عزت وکړو هغۀ د اسلام پۀ نړولو کښې مدد وکړو ـ (احياء)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: منافق ته سردار (مشر) مۀ وايئ ځکه چې کۀ هغه سردار شي نو تاسو خپل رب ناراض کړو ـ (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے، فرمائي: تۀ د يو فاجر (فاسق) سړي نعمت ته مۀ زوربېږه، تۀ نۀ ئې خبر چې د مرګ نه روستو هغه د څۀ سره يو ځائے کېدونکے دے؟ هغۀ له خو د الله تعالیٰ سره يو قاتل دے چې مري نۀ يعني د دوزخ اُور ـ (طبراني، بيهقي، شرح السنه)

باب: اکرام و احترام

د اکرام لائقو خلقو اکرام کول

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: د الله تعالیٰ د تعظيم نه اکرام کول دي د يو بوډا مسلمان او د هغه قرآن والا کس چې پۀ دې کښې د حد نه نۀ اوړېدونکے وي (زياتے کمے نۀ کونکے وي) او د دې نه لرې والے نۀ ساتونکے وي، او اکرام کول دي د انصاف کونکي بادشاه ـ (ابوداؤد، بيهقي)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: يو ځوان چې د يو بوډا د هغۀ د عمر د وجې نه اکرام کوي نو الله تعالیٰ به دۀ له د دۀ (د بوډاوالي) پۀ عمر کښې داسې څوک مقرر کړي چې د دۀ اکرام به کوي ـ (ترمذي)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: ستاسو خوا ته چې د يو قوم معزّز (مشر وغيره) راشي نو د هغۀ اکرام کوئ ـ (طبراني)

۞ روايت دے چې رسول اللهﷺبه د هر قوم د عزت والا سړي اکرام فرمائېلو او پۀ دوئ به ئې هغه مشر کولو ـ (نوراليقين)

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: خلقو له د هغوی درجې ورکوی (د هغوی د درجو او حيثيتونو مطابق د هغوی قدر او اکرام کوی) ـ (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: برکت ستاسو د لويو سره دے ـ (حاکم)

د انسان احترام، د مخ احترام

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد مروي دے: د مړي د هډوکي ماتول داسې دي لکه د ژوندي کس د هډوکي ماتول ـ (بلوغ المرام)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: داسې مۀ وايۍ چې الله دِ د هغۀ مخ قبيح کړي ـ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: داسې مۀ وايۍ چې الله دِ ستا مخ قبيح کړي او مخ د هغه چا چې ستا د مخ پۀ شان دے ـ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ تاسو کښې چې څوک وهل کوي (يا جنګ کوي) نو د مخ نه دِ بچ ووسي ـ (متفق عليه)

❁ روايت دے چې رسول اللهﷺ منع فرمائيلې ده د مخ د وهلو او د مخ د داغلو نه ـ (مسلم)

رسول اللهﷺ وپۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: څوک دِ داغ نۀ لګوي (د ځاروي وغيره) پۀ مخ او نۀ دِ هغه وهي ـ (الادب المفرد)

کتاب: د خرڅ، مال خرڅ کولو ، صدقې، قرض او د سوال د خبرو ابواب

باب: خرڅ کول (انفاق)

د خرڅ کولو تاکید او فضیلت، په خرڅ کښې درمیانه والے

✿ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: اے د آدم زویه! ته خرڅ کوه زه به په تا خرڅ وکړم. (بخاري)

✿ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: سړے چې څه خرڅ کوي په الله تعالیٰ د هغې عوض ورکول دي. (ابن عدي، دارقطني، بیهقي)

✿ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائیل: کله چې ښځه د اسراف (او فساد) نه بغیر د خپل کور د خوراک نه خرڅ کوي (یا صدقه ورکوي) نو هغې ته په خرڅ کولو او د هغې خاوند ته په ګټلو اجر ملاویږي او خازن (خوراک جمع او محفوظ ساتونکي) ته هم دومره اجر ملاویږي او څوک د چا په اجر کښې هیڅ کمے نهٔ راولي. (متفق علیه)

✿ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: په خرڅ کولو کښې درمیانه والے (اعتدال) نیم معیشت دے. (اساس العربیه)

د الله په لار کښې او د رضا د پاره خرڅ کول

✿ رسول اللهﷺوفرمائیل: چا چې د الله تعالیٰ په لار (جهاد وغیره) کښې څه خرڅ وکړو نو دهٔ له به د هغې وهٔ سوه چنده ثواب ولیکلے شي. (ترمذي)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائیل: سړے چې په خپل کور والو خرڅ کوي چې د الله تعالیٰ رضا پرې لټوي نو دا د دهٔ د پاره صدقه ده. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ (سعد بن ابي وقاصرضي الله عنه ته) وفرمائيل: تهٔ هيڅکله څهٔ خرچ نهٔ کوې پهٔ کوم چې تهٔ د الله تعالیٰ رضا لټوې مګر پهٔ هغې تا ته اجر درکولے کيږي تر دې چې نمړۍ چې ته ئې د خپلې ښځې خلې ته اوچتوې (يا څهٔ شے چې تهٔ ئې د خپلي ښځې پهٔ خلهٔ کښې واچوې) . (متفق عليه)

پهٔ مور او پلار، خور او ورور او نورو نزدې خپلوانو خرچ

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ورکونکي لاس اوچت دے، تهٔ شروع کوه د هغه چا نه د چا چې تهٔ پالنه کوې. خرچ کوه پهٔ خپل مور او پلار بيا پهٔ خپل خور او ورور او بيا پهٔ هغه چا ځوک چې تا ته زيات نزدې وي او بيا پهٔ هغه چا ځوک چې تا ته زيات نزدې وي. (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پهٔ تاسو کښې د ځوک (پهٔ خرچ کولو کښې) د هغه چا نه شروع کوي د چا چې دے پالنه کوي. (دارقطني)

پهٔ خپل ځان، کور والو، اولاد، ښځه او خادم خرچ کول صدقه ده

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: سړے چې څهٔ پهٔ خپل ځان او پهٔ خپل کور والو (بال بچ) خرچ کړي نو دا دهٔ له صدقه وليکلے شي . (ابن عدي، دارقطني، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څهٔ چې سړے پهٔ خپل ځان، پهٔ خپل اهل، پهٔ خپل اولاد او پهٔ خپل خادم خرچ کوي نو دا صدقه ده. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څهٔ چې تهٔ پهٔ خپل ځان وخوروې هغه صدقه ده، څهٔ چې تهٔ پهٔ خپل اولاد، پهٔ خپله ښځه او پهٔ خپل خادم وخوروې هغه صدقه ده . (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې پهٔ خپل کوروالو خرچ وکړو چې ثواب او د الله تعالیٰ رضا ئې لټوله نو دا به د هغهٔ دپاره صدقه وي. (الادب المفرد)

د چا نه خرچ (نفقه) بندول

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د سړي د ګناه دپاره دا خبره کافي ده چې په دۀ د چا رزق وي دے ترېنه هغه بند کړي. (ابوداؤد)

❁ اسماء رضي الله عنها فرمائي: رسول اللهﷺما ته وفرمائېل: (د خرچ) بندول مۀ کوه کنه ستا نه به بندول وکړے شي. (بخاري)

باب: مال خرچ کول

د مال د خرچ کولو تاکيد، مال ډېر ډېر او په ښۀ طريقه خرچ کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما سره کۀ د اُحد د غرۀ مقدارې مال وي نو زۀ به ونۀ غواړم چې پۀ ما درې شپې تېروزي او ما سره د هغې نه څۀ شے پاتې وي مګر هغه چې ما د قرض دپاره ايښے وي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺپۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: روزانه دوه فرښتې اعلان کوي: يوه وايي: اے الله! خرچ کونکي له عوض ورکړه او بله وايي: اے الله! نۀ خرچ کونکي له نقصان (دمال برباد والے) ورکړه. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تباهي ده ډېر مال والو له! مګر چا چې مال داسې، داسې، او داسې خرچ کړو: خپل ښي طرف ته، خپل ګَس طرف ته، خپلې مخې ته او خپل شاته. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د ډېر مال لرونکي به د قيامت پۀ ورز د کم مال (ثواب) لرونکي وي مګر چا له چې الله تعالیٰ مال ورکړي او هغه ئې ښې طرف ته، ګڅ طرف ته، مخې ته او شاته خرچ کړي او نيک عمل پکښې وکړي. (مسلم) . پۀ يو بل روايت کښې داسې دي: د ټولو نه د زيات مال والا به پۀ آخرت کښې د ټولو نه د کمې سرمايې (کم ثواب) والا وي مګر چا چې هغه داسې خرچ کړو او پۀ حلاله ئې وګټۀ. (بخاري)

مال د الله پهٔ لار کښې او پهٔ خپل کور والو خرچ کول، سِوا څهٔ حاجتمند له ورکول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د خپل مال نه دوه قسمه د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې خرچ کړو دے به د جنت د ټولو دروازو نه رابللے کيږي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د خپل حلال مال نه د خپل اهل و عيال پالنه وکړه دے د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې د جهاد کونکي پهٔ شان دے. (طبراني)

❁ د ابوسعيد خدريرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: پهٔ داسې حال کښې چې مونږ پهٔ يو سفر کښې وو يو سړے د سورلۍ پهٔ يو ځاروي سور راغے او ښې او ګڅ طرف ته ئې کتل شروع کړهٔ نو رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا سره چې د سورلۍ سوا ځاروے وي نو هغه چا له دِ ورکړي د چا سره چې نهٔ وي، او د چا سره چې سوا توښه وي نو هغه چا له دِ ورکړي د چا سره چې نهٔ وي. دارنګې ډېر قسمونه ئې د مال ذکر کړهٔ دې پورې چې زمونږ ګمان راغے چې پهٔ مونږ کښې د هيچا هم پهٔ سوا (زياتي) شي کښې څهٔ حق نيشتے. (مسلم)

باب: صدقه (نفلي)

د صدقې ورکولو تاکيد، اجر او فائده

❁ رسول اللهﷺ پهٔ قسم سره وفرمائيل: د يو بنده مال د صدقې پهٔ ورکولو سره نهٔ کميږي. (ترمذي). پهٔ يو بل روايت کښې دي چې صدقې پهٔ مال کښې کمے نهٔ دے راوستے. (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: د قيامت پهٔ ورز به هر سړے د خپلې صدقې پهٔ سورې کښې وي. (احياء، اتحاف). پهٔ يو بل روايت کښې داسې دي: د قيامت پهٔ ورز به د مومن سورے د هغهٔ صدقه وي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: صدقه ګناه داسې ختموي لکه اُوبۀ چې اُور مړ کوي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: صدقه د رب غضب مړوي او سړے د بد مرګ نه بچ کوي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: صدقه ورکوئ ځکه چې مصيبت د دې نه نۀ شي اوړېدے. (مشکوٰة)

د ټولو نه غوره صدقه، د پټې صدقې ثواب

❁ د ابوهريرهؓ نه روايت دے: رسول اللهﷺوفرمائېل: د ټولو نه غوره صدقه هغه ده کومه چې د توانګرۍ (د خپل بې حاجت والي) نه پس وي. (متفق عليه)

❁ د ابوهريرهؓ نه روايت دے: عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! کومه صدقه پۀ ټولو کښې غوره ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د کم مال والا سړي صدقه. (ابوداؤد، احمد)

❁ د ابوهريرهؓ نه روايت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺ خوا له يو سړے راغے او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله کومه صدقه د ټولو نه لويه (يا غوره) ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې تۀ صدقه ورکړې پۀ داسې حال کښې چې تۀ روغ يې او بُخل او حرص لرونکے يې او د فقيرۍ (محتاجۍ) نه يرېږې او د غنې (بې حاجته) کېدو طمع او اُميد ساتې. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ تا ته د ټولو نه غوره صدقه وُنۀ ښايم؟ ستا واپس شوې لور چا له چې ستا نه بغير څوک کسب کونکے نۀ وي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: د ټولو نه غوره صدقه دا ده چې تۀ يو وږے اينې والا (يعني د ساه خاوند) موړ کړې. (بيهقي)

❁ سعد بن عبادهرضي الله عنه فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله کومه صدقه پۀ ټولو کښې غوره ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اُوبۀ څښول. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: پۀ هغه ورز چې د عرش د سوري نه علاوه بل سورے به نۀ وي د عرش پۀ سوري کښې به هغه سړے وي چې پۀ ښي لاس صدقه ورکړي او د چَپ لاس نه ئې هم پټول وغواړي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ پۀ هغه وۀ کسانو کښې کوم چې به د قيامت پۀ ورز د الله تعالیٰ د عرش د سوري لاندې وي هغه کس هم ذکر کړے دے چې پۀ ښي لاس صدقه ورکړي او چَپ لاس ترې خبر نۀ شي. (متفق عليه)

پۀ خپل ځان، اولاد، خادم، ښځه، خاوند او خپلوانو صدقه کول

❁ د ابوهريرهرضي الله عنهنه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائېل: صدقه کوئ. يو سړي ووې: اے د الله رسوله! ما سره يو دينار دے. رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ خپل ځان ئې صدقه کړه. هغۀ ووې: ما سره يو بل دے. رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ خپل اولاد ئې صدقه کړه. هغۀ ووې: ما سره يو بل دے. رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ خپل خادم ئې صدقه کړه. هغۀ ووې: ما سره يو بل دے. رسول اللهﷺوفرمائېل : تۀ پرې زيات پوهه يې (چې څنګه ئې خرچ کړې). (ابوداؤد، نسائي)

❁ رسول اللهﷺپۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: (پۀ صدقه او خرچ کولو کښې) د هغه چا نه شروع کوه د چا چې تۀ پالنه کوې (بال بچ وغيره). (متفق عليه)

❁ د ابوسعيد خدريرضي الله عنهنه روايت دے، فرمائي: د ابن مسعود (رضي الله عنه) ښځه زينب راغله او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! تاسو نن د صدقې کولو حکم وفرمايۀ او ماسره څۀ کالي وو نو ما وغوښتۀ چې زۀ ئې صدقه کړم خو ابن

مسعود ګمان ظاهر کړو چې دے او د دۀ اولاد پۀ هغه خلقو کښې د ټولو نه زيات حقدار دي پۀ چا ئې چې زۀ صدقه کړم. رسول اللهﷺوفرمائېل: ابن مسعود رشتيا (ټيک) ويېلي دي ستا خاوند او ستا اولاد پۀ هغه خلقو کښې د ټولو نه زيات حقدار دي پۀ چا ئې چې تۀ صدقه کړې. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: مسکينانو له صدقه ورکول يوه صدقه ده او خپلوانو له ورکول دوه صدقې دي. (ترمذي، نسائي)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د ټولو نه غوره صدقه پۀ دشمني لرونکي رشته دار ده. (احمد، طبراني)

د فقير د صدقې ورکولو ثواب، د صدقې برابر يو درود شريف

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: کله چې يو مالدار د خپل مال نه يو لاک درهم صدقه ورکړي او د يو فقير سره صرف دوه درهمه وي دے د هغې نه پۀ خوشحالۍ يو درهم ورکړي نو دا د يو درهم والا فقير د هغه يو لاک درهمو والا نه غوره دے. (نزهة البساتين)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کوم يو مسلمان سړي سره چې د صدقې څۀ نۀ وي نو هغه دِ په خپلې دعاء کښې دا وايي: اللّٰهُمّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمّدٍ عَبدِکَ وَرُسُولکَ وَ صَلِّ عَلَى المُؤمِنِينَ وَ المُؤمِنَاتِ وَ المُسلِمِينَ وَ المُسلِمات، نو دا به هغۀ له زکات (صدقه) وي. (الادب المفرد)

صدقه (او هبه ياعطيه) واپس اخستل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مثال د هغه چا څوک چې څۀ صدقه ورکړي او بيا خپله صدقه واپس اخلي د هغه سپي دے چې قے وکړي او بيا خپل قے څټي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خپله هبه واپس اخستونکے پۀ شان د هغه سپي دے چې قے وکړي او بيا خپل قے واپس خوري. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو مسلمان سړي له حلال نهٔ دي چې عطيه ورکړي او بيا هغه واپس وغواړي سِوا د پلار نه چې خپل اولاد له څهٔ ورکړي (او بيا ترې واپس اخلي) ـ (احمد وغيره)

باب: قرض

د قرض فضيلت، قرض کښې تنګ لاسي ته آساني، مهلت، کمول، معاف کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما د معراج پهٔ شپه د جنت پهٔ دروازه ليکلے شوي وليدل چې صدقه پهٔ لس چنده ده او قرض پهٔ اتلس چنده دے ـ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ د يو ارشاد مبارک مفهوم دے: قرض ورکونکي ته د قرض د نېټې د راتلو پورې هره ورز د هغه قرض هومره د صدقې ثواب ملاويږي ـ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پهٔ يو تنګ لاسي (قرضدار) پهٔ دنيا کښې آساني وکړه الله تعالىٰ به پهٔ دهٔ پهٔ دنيا او آخرت کښې آساني وکړي ـ (ترمذي،ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې تنګ لاسي ته مهلت ورکړي يا ورته (قرض) پرېږدي نو الله تعالىٰ به ورسره آسان حساب کوي ـ (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې تنګ لاسي (قرضدار) ته مهلت ورکړي يا ورته قرض معاف کړي نو الله تعالىٰ به ئې د قيامت د ورزې د سختو نه بچ کړي ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پهٔ دې خوشحاله وي چې الله تعالىٰ ورله د قيامت د ورزې د سختيانو نه خلاصے ورکړي نو تنګ لاسے دِ (د قرض د

مصيبت نه) خلاص کړي يا دِ ورته کم يا معاف کړي (رعايت او ګزاره دِ ورسره وکړي) ـ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: ستاسو نه د مخکښې اُمتونو د يو سړي سره حساب وکړے شو نو هيڅ نيکي ورسره بيا نۀ موندے شوه مګر دا چې هغۀ به د خلقو سره د قرضو معامله کوله، مالدارۀ نو خپلو غلامانو، نوکرانو (يا هلکانو) ته به ئې وې چې تنګ لاسې ته قرض معاف کوئ، نو الله تعالىٰ (فرښتو ته) وفرمائېل: مونږ خو د دې زيات لائق يو تاسو دۀ ته معافي وکړئ ـ (بخاري ، مسلم)

تنګ لاسي له مهلت ورکول صدقه ده

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې تنګ لاسي (قرضدار) ته مهلت ورکړي دۀ له د قرض د واپسئ د ورزې پورې د هرې ورزې پۀ بدله کښې د صدقې ثواب وي ـ (الحاکم في مستدرکه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې يو دينار د يوې نېټې پورې قرض ورکړي نو دۀ له د هرې ورزې پۀ بدله کښې صدقه (د صدقې ثواب) وي بيا چې کله نېټه راشي او دے د هغې نه روستو نور مهلت ورکړي نو دۀ له د هرې ورزې پۀ بدله کښې د هغه قرض مقدارې صدقه وي ـ (ابن ماجه) ـ پۀ يو حديث شريف کښې دا دي چې کله نېټه راشي او دے مهلت ورکړي نو دۀ ته هره ورز د قرض د دوه دومره صدقې ثواب ملاوېږي ـ (احمد)

قرض ورکونکي له د قرضداري څۀ نۀ قبلول، د قرض نه نفع نۀ اخستل

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک چا له قرض ورکړي او بيا هغه دۀ له څۀ ډالئ ورکوي يا ئې پۀ سورلئ سوروي نو دے دِ پۀ هغې نۀ

سوربړي او هغه ډالۍ دِ نۀ قبلوي مګر دا چې د دۀ او د هغۀ په مېنځ کښې د مخکښې نه د دې عادت جاري وي. (ابن ماجه، بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم قرض چې څۀ نفع راکاږي نو هغه (نفع) ربا ده. (بلوغ المرام)

د قرض (وغيره) د واپس ادا کولو فضيلت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې څۀ قرض واخلي او د دۀ نيت د هغې د ادا کولو وي نو الله تعالیٰ په دۀ څۀ ملائکې مقرر کړي چې د دۀ حفاظت کوي او دۀ له دعاء غواړي تر دې چې هغه ادا کړي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ په يو حديث شريف کښې وفرمائيل: څوک چې د خلقو مالونه د واپس ادا کولو په اراده واخلي نو الله تعالیٰ به ئې د دۀ نه ادا کړي. (بخاري، احمد)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: په تاسو کښې د ټولو نه ښۀ او غوره هغه څوک دے کوم چې په ادا کولو (واپس ورکولو) کښې د ټولو نه ښۀ وي. (متفق عليه)

د قرض په واپس کولو او واپس غوښتو کښې د خلقو څۀ قسمونه

❁ رسول اللهﷺ په يو اوږد حديث شريف کښې وفرمائيل: په خلقو کښې څۀ هغه وي چې (قرض وغيره) په ښۀ طريقه واپس کونکي وي او کۀ د هغوی (په چا) وي نو په واپس طلب کولو کښې فحش ويونکے وي نو يوه د بلې په مقابله کښې شي؛ او په هغوی کښې څۀ هغه وي چې په بده طريقه واپس کونکي وي او کۀ د هغوی (په چا) وي نو په واپس غوښتو کښې ښۀ سلوک کونکي وي نو يوه د بلې په مقابله کښې شي. په تاسو کښې د ټولو نه غوره هغه دي چې کۀ په هغوی قرض وي نو په ښۀ طريقه واپس کوي او کۀ د هغوی (په چا) وي نو په ښۀ طريقه طلب کوي؛ او په تاسو کښې د ټولو نه بد هغه دي چې کۀ په هغوی

قرض وي نو پهٔ بده طريقه واپس کوي او کهٔ د هغوی (په چا) وي نو پهٔ طلب کولو کښې فحش وايي. (ترمذي)

د قرض وبال، بدوالے، د قرض غوښتونکي سختي

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د شهيد هر ګناه معاف کيږي سوا د قرض (د چا د څهٔ حق) نه. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: پهٔ هغه ذات دِ زما قسم وي د چا پهٔ لاس کښې چې زما نفس (روح) دے! کهٔ يو سړے د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې قتل کړے شي او بيا ژوندے کړے شي او بيا قتل کړے شي او بيا ژوندے کړے شي او بيا قتل کړے شي او پهٔ دهٔ قرض وي نو جنت ته به نهٔ زي. (جمع الفوائد)

۞ رسول اللهﷺ (پهٔ يوې دعاء کښې) وفرمائېل: زهٔ پناه غواړم پهٔ الله تعالیٰ سره د کفر نه او د قرض نه. يو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! تاسو کفر د قرض سره برابروئ؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: آ. (پهٔ يو روايت کښې د کفر او د فقيرئ (محتاجئ) ذکر دے). (نسائي)

۞ رسول اللهﷺ (پهٔ يوه موقع کښې کله چې يو سړي د خپل قرض پهٔ واپس غوښتو کښې څهٔ سختې خبرې وکړې) وفرمائېل: د حق خاوند له ويېل دي (د ويېلو ورته حق دے). (الادب المفرد)

قرضداري نه پهٔ قيامت کښې بدله، علاوه د درې قرضدارانو نه

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قرضداري نه به د قيامت پهٔ ورز بدله اخستے کيږي مګر څوک چې د دريو خبرو دپاره قرض واخلي: د الله تعالیٰ پهٔ لار (جهاد) کښې د سړي قوت کم شي نو دے قرض واخلي چې د الله تعالیٰ او د خپل دشمن پهٔ مقابله کښې پرې قوت حاصل کړي. د يو سړي پهٔ څنګ کښې يو مسلمان مړ شي او دے د هغهٔ د کفن کولو او پټولو دپاره څهٔ نهٔ مومي مګر

پۀ قرض سره۔ یو سړے وي چې پۀ ځان د بې نکاح والي (د نقصان) د الله تعالیٰ نه یرېږي نو پۀ خپل دین د یرې نه (قرض واخلي) او نکاح وکړي، نو الله تعالیٰ به د قیامت پۀ ورز د دې کسانو د طرف نه قرض ادا کوي۔ (ابن ماجه)

قرض واپس نۀ ورکول، ټال مټول کول

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: د مالدار سړي (د قرض پۀ واپس ور کولو کښې) ټال مټول ظلم دے۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د مومن نفس د خپل قرض (یا د چا د حق) د وجې نه (د خپل مقام نه) زوړند (بند) وي تر دې چې د دۀ د طرف نه ادا کړے شي۔ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: چا چې قرض واخستۀ او د هغې د ادا کولو نیت ئې نه لرۀ نو دے غلا کونکے دے۔ (احمد ، احیاء)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: څوک چې د خلقو مالونه د ضائع کولو (د واپس نۀ ورکولو) پۀ اراده واخلي نو الله تعالیٰ به ئې د دۀ نه ضائع کړي (پکار به ئې را نۀ شي)۔ (بخاري، احمد)

باب: سوال

سوال کونکي له او پۀ الله سره سوال کونکي څۀ ورکول

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د سوال کونکي حق دے اګرکۀ پۀ اس سور راشي۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سوال کونکے واپس کوئ اګرکۀ د ښاروي پۀ سېزلې پخې (یا سوَم) سره وي۔ (ابوداؤد ، ترمذي)

❁ جابر بن عبد اللهرضي الله عنهفرمائي: د رسول اللهﷺنه چرته هم د څۀ شي سوال وُنۀ شو چې هغوی نا ووې۔ (الترمذي فی الشمائل)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښېوفرمائېل: څوک چې ستاسو نه پهٔ الله تعالىٰ سره (د الله تعالىٰ پهٔ نوم) سوال وکړي نو هغهٔ له څهٔ ورکوی. (نسائي)

د خلقو نه سوال نهٔ کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې ما ته د دې ذمه واري وکړي چې د خلقو نه به څهٔ نهٔ غواړي نو زهٔ به ورته د جنت ذمه واري وکړم. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: د خلقو نه بې حاجته (بې پروا) شی او کَم سوال کول غوره دي. (بزار، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: بره لاس (ورکونکے لاس) د ښکته لاس (غوښتونکي لاس) نه غوره دے. (بخاري، نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې چې يو کس خپل پړے واخلي او پهٔ ملا لرګي راوړي نو دا د دې نه غوره ده چې د يو مالدار خوا له لاړ شي او د هغهٔ نه سوال وکړي هغه ورله څهٔ ورکړي يا ورنکړي. (متفق عليه)

بغير د سوال او غوښتو نه او بغير د حرص او طمعې نه چا ته څهٔ ملاوېدل

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا ته چې د خپل (مسلمان) ورور نه بغير د سوال او د نفس د طمعِ او حرص نه څهٔ څيز رسي نو هغه دِ قبلوي، واپس کوي دِ نهٔ، هغه يو رزق وي چې الله تعالىٰ دهٔ ته رالېږلے وي. (احمد، ابن حبان)

❁ ابوهريرهؓ د رسول اللهﷺ نه روايت کوي: چا ته چې الله تعالىٰ بې غوښتو څهٔ څيز د چا پهٔ ذريعه ورکوي نو هغه دِ اخلي چې هغه د الله تعالىٰ د طرف نه دهٔ ته روزي رالېږلې شوې وي. (فضائلِ صدقات)

❁ د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ به ما له څۀ راکول نو ما به وې چې دا داسې چا له ورکړه چې زما نه زیات حاجتمند وي نو رسول الله ﷺ به فرمائېل: تۀ ئې واخله. کله چې د دې مال نه تا ته پۀ داسې حال کښې څۀ رازي چې تۀ ئې طمع لرونکے او غوښتونکے نۀ يې نو اخله ئې او خپل مال ئې جوړه، بیا کۀ دِ خوښه شي نو ځان له ئې خوره (استعمالوه) او کۀ دِ خوښه شي نو صدقه کوه ئې؛ او څۀ چې تا ته نۀ رازي نو ځان ورپسې مۀ لګوه. (فضائلِ صدقات)

بې ضرورته سوال کول، وعیدونه، وبال

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې د توانګرۍ دپاسه سوال کوي نو د جهنم سکورټې ځان له زیاتوي. (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې د خلقو نه د مال د زیاتولو دپاره سوال کوي نو دے د انګارو سوال کوي نو خوښه ئې ده چې لږې وغواړي یا ډېرې. (مشکوٰة)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: سړے پۀ سوال کولو کښې اخته وي دې پورې چې د قیامت پۀ ورز به پۀ داسې حال کښې راشي چې پۀ مخ به ئې د غوښې يوه ټکړه نۀ وي. (متفق علیه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې سوال وکړو او د دۀ سره دومره څۀ وو چې دۀ له کافي کېدۀ نو د دۀ سوال به (پۀ قیامت کښې) د دۀ پۀ مخ خراش لګونکے وي. (اصحاب السنن)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ ځان د سوال دروازه کولاؤ کړه الله تعالیٰ به پرې د محتاجۍ اویا دروازې کولاؤ کړي. (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ چا چې فاقه (لوږه تنده) راغله او دۀ هغه خلقو ته پیش کړه نو د دۀ فاقه به ختمه نۀ شي، او پۀ چا چې فاقه راغله او دۀ هغه الله

تعالیٰ ته پیش کړه نو کېدے شي چې الله تعالیٰ دۀ له زر یا پۀ قلاره د رزق څۀ انتظام وفرمائي۔ (ترمذي)

پۀ حرص، طمع او اصرار سره سوال کول

❁ د حکیم بن حزامؓ نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه څۀ وغوښتۀ هغوی ما له راکړۀ، ما ترې بیا څۀ وغوښتۀ هغوی ما له راکړۀ، بیا ئې وفرمائیل: اے حکیمه! دا مال خیرازه دے، خوږ دے نو څوک چې دا د نفس پۀ سخاوت سره اخلي نو هغۀ له پۀ دې کښې برکت اچولے کیږي او څوک چې دا د نفس پۀ حرص او طمعِ (اِشراف) سره اخلي نو هغۀ له په دې کښې برکت نۀ اچولے کیږي او هغه د هغه چا پۀ شان وي کوم چې خوړل کوي او مړیږي نۀ او بره لاس د ښکته لاس نه غوره دے۔ (متفق علیه)

❁عبد الله بن عمرؓ د رسول اللهﷺ ارشاد نقل کوي چې پۀ سوال کښې اصرار کول (اړمېدل) مۀ کوئ؛ څوک چې پۀ اصرار سره زمونږ نه څۀ واخلي نو پۀ هغې کښې به برکت نۀ وي۔ (ترغیب، فضائلِ صدقات)

د الله پۀ نوم سوال کونکي له څۀ نۀ ورکول

❁ پۀ یو روایت کښې راغلي دي چې رسول اللهﷺ صحابه کرامو ته وفرمائیل: زۀ تاسو ته د ټولو نه د بد سړي خبر درنکړم؟ هغوی ووې: ضرور راکړه اے د الله رسوله! رسول اللهﷺوفرمائیل: هغه څوک چې د هغۀ نه پۀ الله تعالیٰ سره (یا د هغۀ پۀ نوم) څۀ وُغوښتے شي او دے ورنکړي۔ (نسائي)

کتاب: څۀ متفرق عام ابواب

باب: د ژبې ښۀ او بد استعمال، د خبرو ښۀ والے او بدوالے، متعلقات

د ژبې متعلق څۀ تنبیه

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د سړي زړۀ نۀ شي برابرېدے تر څو ئې چې ژبه برابره نۀ شي. (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د بني آدم اکثر ګناهونه د ژبې د وجې نه دي. (طبراني، ابن ابی الدنیا، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد مروي دے: الله تعالیٰ د هرې ویونکې ژبې سره وي نو سړے چې څۀ وایي پۀ هغې کښې دِ د الله تعالیٰ نه یرېږي. (احیاء)

ژبه قابو ساتل

❁ معاذ رضی الله عنه عرض وکړو: اے د الله رسوله د ټولو نه غوره عمل څۀ دے؟ رسول اللهﷺ خپله ژبه راوویسته او خپله ګوته ئې پرې کېښوه. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ معاذ رضی الله عنه ته وصیت فرمایۀ نو پۀ آخر کښې ئې ورته دا وفرمائېل: کۀ تۀ غواړې نو زۀ به تا ته د هغه شي خبر درکړم کوم چې ستا دپاره د دې ټولو نه زیات د فائدې دے. پۀ خپل لاس مبارک سره ئې خپلې ژبې ته اشاره وفرمائېله. (ابن ابی الدنیا، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خپله ژبه منع کړه مګر د خیر نه، پۀ دې سره به تۀ پۀ شیطان غلبه ومومې. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: څوک چې خپله ژبه وساتي الله تعالیٰ به پۀ هغۀ پرده واچوي. (بیهقي)

۞ روایت دے چې رسول اللهﷺخپله ژبه مبارکه ونیسله او وئې فرمائېل چې د دې د خویدو نه ځان ساتې۔ ()

د الله د یرې وغیره نه د ژبې بندوالے، د ژبې د شر نه بچ ساتلے کېدل

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے: څوک چې د الله نه ویرېږي (یا الله وپېژني) د هغهٔ ژبه بنده شي۔ (دیلمي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پهٔ روانی سره د خبرو طاقت نهٔ لرل (عي) د ایمان یوه شعبه ده۔ (بوادر النوادر)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د ګېډې، د شرمګاه او د ژبې د شر نه وساتلے شو هغه د ټول شر نه وساتلے شو۔ (دیلمي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې الله تعالیٰ د دواړو ژامو د مینځ د شر نه او د دواړو روَنونو د مینځ د شر نه محفوظ وساتي هغه به جنت ته داخلېږي۔ (ترمذي)

پهٔ خبرو کښې لنډوالے او کم والے کول

۞ یو سړے ودرېد وعظ ئې کولو نو خبره ئې اوږده کړه، عمرو بن عاصؓ وویېل: کهٔ دهٔ درمیانه وینا کړے وے نو ښهٔ وه، ما د رسول اللهﷺنه اورېدلي دي: ما ته حکم کړے شوے دے چې زهٔ پهٔ ویېلو کښې لنډوالے (اختصار) کوم چې لنډوالے غوره دے۔ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: حیا او پهٔ خبرو کښې پاتې والے او لنډوالے د ایمان د شعبو نه دوه شعبې دي۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: نیک بختي ده هغه کس له چا چې د خپلې ژبې نه سوا خبرې وُنیوې او د خپل مال نه ئې سوا مال خرچ کړو۔ (بغوي، بیهقي)

ښکلې خبرې کول، خلې نه پۀ ناغرضۍ سره ښۀ ځۀ ویستل

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د بخښنې د ځیزونو نه سلام ویېل او ښکلې خبرې کول (هم) دي۔ (ابن ابي شیبه، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ ارشاد دے: ښکلې خبره صدقه ده۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دوزخ د اُور نه بچ شۍ اګرکۀ د کجورې پۀ نیمې دانې سره وي او څوک چې دا نۀ مومي نو پۀ یوې عمده خبرې سره (دِ بچ شي)۔ (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: خلقو سره خبرې کوۍ پۀ قدر د هغوۍ د عقلونو۔ ()

❁ د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: بنده د الله تعالیٰ د خوښې ځۀ خبره ناغرضه شان (پۀ بې فکرۍ سره) د خلې نه راوباسي نو الله تعالیٰ پۀ هغې سره د دۀ درجې اوچتوي۔ (بخاري)

د ژبې آفت او شر

❁ سفیان بن عبد الله رضي الله عنه فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: تاسو پۀ ما د ټولو نه زیاته یره د څۀ شي کوۍ؟ رسول الله خپله ژبه ونیسله۔ (ترمذي)

❁ معاذ بن جبل رضي الله عنه د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: اے د الله رسوله! مونږ چې څۀ وایو پۀ دې به مونږ نیوے کیږو؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے د جبل زویه! پۀ دوزخ کښې خو به خلق نسکور ځکه غورزولے کیږي چې د خپلو ژبو کرلي وریبي۔ (ترمذي، ابن ماجه، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې سحر کیږي نو د سړي ټول اندامونه پۀ عاجزۍ سره د دۀ ژبې ته وایي: د الله نه زمونږ پۀ باره کښې ویرېږه ځکه چې مونږ پۀ تا یو، کۀ تۀ سمه وې نو مونږ به سم یو او کۀ تۀ کږه وې نو مونږ به کاږۀ یو۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د بدن یو شے داسې نیشتےچې الله تعالیٰ ته د ژبې شکایت نۀ کوي۔ (ابن ابی الدنیا، دارقطني، بیهقي)

۞ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: دوزخ ته د ټولو نه زیات څۀ څیزونه بوتلونکي دي؟ رسول اللهﷺوفرمائیل: دوه ۂ څیزونه: خلۀ او شرمګاه ۔ (ترمذي، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: بنده چې د خپلې ژبې نه وخوېږي نو دا د دې نه زیاته سخته خبره ده چې د خپلې خپې نه وخوېږي ۔ (بیهقي)

بې فائدې او بې ضرورته خبرې کول

۞ پۀ اصحابو کښې یو سړے وفات شو نو یو کس ووېیل: د جنت زېرے قبول کړه ۔ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تۀ څۀ خبر ئې؟ کېدے شي چې دۀ د خلي نه داسې څۀ ویستلي وي چې دۀ ته ترېنه څۀ فائده نۀ وه یا ئې د داسې څۀ شي پۀ ورکولو کښې شومتوب کړے وي چې د هغې پۀ ورکولو کښې دۀ ته څۀ نقصان نۀ ؤ ۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د ابن آدم ټولې خبرې د دۀ پۀ خلاف کښې وي نۀ چې د دۀ پۀ حق کښې، سوا د نیکۍ د حکم کولو او د بدۍ نه د منع کولو او د الله تعالیٰ د ذکر نه ۔ (ترمذي)

۞ یو سړے د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! زۀ د خپل قوم سردار یم څۀ چې وایم هغه خلق ئې مني نو زۀ هغوی ته څۀ وایم؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: هر سړي ناسړي ته سلام کوه او بې ضرورته خبرې پرېږده ۔ (ابن ابی الدنیا)

بدې خبرې کول، خلې نه پۀ ناغرضۍ سره بد څۀ ويستل

✿ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې ارشاد وفرمايۀ: د خبرو نه څۀ بوج او وبال وي۔ (ابوداؤد)

✿ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د سړي د نقصان دپاره دا خبره ډېره ده چې د بدې وينا والا، فحش ويونکے او شوم وي۔ (احمد ، بيهقي)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بنده د الله تعالیٰ د ناخوښې څۀ خبره ناغرضه شان د خلې نه راوُباسي نو پۀ هغې سره دے ښکته پۀ دوزخ کښې ارتاويږي۔ (بخاري) پۀ يو روايت کښې دي چې پۀ هغې سره دے پۀ دوزخ کښې دومره ښکته ارتاويږي لکه څومره چې د مشرق او د مغرب پۀ مينځ کښې فاصله ده۔ (متفق عليه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بنده څۀ خبره کوي چې پروا ئې نۀ لري د هغې پۀ وجه به دے د اوياؤ کالو پۀ فاصله ښکته د دوزخ پۀ اور کښې غورزيږي۔ (ترمذي)

زياتې خبرې کول

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ د ذکر نه بغير زياتې خبرې مۀ کوۍ ځکه چې د الله تعالیٰ د ذکر نه بغير زياتې خبرې کول د زړۀ سخت والے دے او د الله تعالیٰ نه پۀ ټولو خلقو کښې زيات لرې هغه څوک دے د چا چې زړۀ سخت وي۔ (ترمذي)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا چې خبرې زياتې شي نو د هغۀ بد ويېل زيات شي او د چا چې بد ويېل زيات شي نو د هغۀ ګناهونه زيات شي او د چا چې ګناهونه زيات شي نو د دوزخ اُور هغۀ له زيات مناسب دے۔ (ابونعيم)

✿ روايت کړے شوے دے چې يو سړي د رسول اللهﷺپۀ څنګ کښې ډېرې خبرې وکړې نو رسول اللهﷺورته وفرمائېل: ستا ژبې ته څو پردې دي؟ هغۀ

وویېل: زما دوه شونډې او غاښونه. رسول الله ﷺ وفرمائېل: تا له داسې څۀ نۀ وو چې ستا خبرې ئې واپس کولے؟ (ابن ابی الدنیا)

خبرو کښې تکلف، چل، مبالغه، ژور والے

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې ما ته د ټولو نه ناخوښ پۀ تکلف سره ډېرې خبرې کونکي، پۀ خبرو کښې پۀ خلقو بره کېدونکي او د تکبر نه پۀ خبرو سره خلۀ ډکونکي دي. (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې به زما پۀ نزد د ټولو نه بد او پۀ مجلس کښې به زما نه د ټولو نه زيات لرې هغه څوک وي کوم چې بکواس کونکي، زياتې خبرې کونکي او پۀ خبرو کښې تکلف کونکي وي. (احمد، ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې چې کوم خلق ما ته د ټولو نه زيات ناخوښ دي پۀ هغوی کښې څۀ هغه دي کوم چې ډېرې خبرې کونکي او پۀ خبرو کښې وخکي کولاوونکي (ژامې وهونکي) وي. (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ پۀ خلقو کښې بليغ سړي سره بغض کوي کوم چې (پۀ خبرو کښې) ژبه وهي څنګه چې غوا ژبه وهي. (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: هلاک شول پۀ خبرو کښې مبالغه او ډېر ژور والے کونکي، پۀ تالو سره خبرې کونکي. (مسلم)

❁ د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول الله ﷺ درې ځلې وفرمائېل: هلاک شو پۀ (فضول) بحث کښې ژور تلونکي. (ابوداؤد)

په خبرو خلق خندول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو سړے چې د ملګرو د خندولو دپاره څۀ لفظ د خلې نه وُباسي نو د هغې په وجه دے د ثريّا نه هم لرې په دوزخ کښې پرېوزي۔ (ابن ابی الدنيا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بنده خبره کوي صرف د دې دپاره چې په دې خلق وخندوي نو د دې په وجه به هغه د آسمان او د زمکې په مينځ کښې چې څومره فاصله ده د هغې نه زيات لرې (په جهنم کښې) ارتاوېږي۔ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تباهي ده هغه چا له څوک چې خبرې کوي نو دروغ وايي چې خلق پرې وُخندوي! تباهي ده هغۀ له! تباهي ده هغۀ له! (ترمذي، ابوداؤد، احمد، دارمي)

ډېره خندا، د هغې وبال او نقصان

❁رسول اللهﷺ په يو وصيت کښې وفرمائېل: د ډېرې خندا نه ځان ساته ځکه چې دا زړۀ وژني او د مخ رڼا بوزي۔ (مشکوٰة)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: خندا کمه کوه (يا زياته خندا مۀ کوه) ځکه چې د خندا زيات والے زړۀ وژني۔ (الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د چا چې خندا زياته وي هغۀ له لس سزاګانې ورکولے کېږي: زړۀ ئې مري، د مخ نه ئې اُوبۀ زي (بې آبرو کېږي)، شيطان پرې خوشحالي کوي، رحمٰن پرې غضبناک کېږي، د قيامت په ورز به ئې مناقشه کېږي (سخت سوال جواب به ورسره کېږي)، د الله رسول(ﷺ)به ترې د قيامت په ورز مخ اړوي، فرښتې پرې لعنت وايي، آسمانونه او زمکه ورسره بغض کوي، هر څۀ ترېنه هېرېږي او د قيامت په ورز به رسوا کېږي۔ (المنبهات)

باب: شاعري او موسيقي وغيره

ښۀ او جائزه شاعري

❁ د عائشې رضی الله عنها نه روايت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺ پۀ مخ کښې د شعر (شاعرۍ) ذکر وشو نو هغوی وفرمائېل: دا يو کلام دے نو ښۀ ئې ښۀ دے او بد ئې بد دے۔ (دارقطني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: شعر پۀ مثال د خبرې دے، نو ښۀ ئې د ښۀ خبرې پۀ شان دے او قبيح ئې د قبيحې خبرې پۀ شان دے۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د شعر نه څۀ حکمت دے۔ (بن ماجه)

❁ يو اعرابي د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او خبرې ئې شروع کړې نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: د بيان نه څۀ سحر دے او د شعر نه څۀ حکمت دے۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د بيان نه څۀ سحر دے، د علم نه څۀ جهل دے، د شعر نه څۀ حکمت دے او د وينا نه څۀ بې ځايه ده۔ (ابوداؤد)

❁ د کعب بن مالک رضی الله عنه نه روايت دے چې هغۀ رسول اللهﷺ ته ووېل: الله تعالیٰ د شعر پۀ باره کښې نازل کړي دي څۀ ئې چې نازل کړي دي۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن پۀ خپلې تورې او پۀ خپلې ژبې سره جهاد کوي؛ قسم مِ د پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې زما نفس دے! لکه چې پۀ دې سره تاسو هغوی د غشو د ويشتو پۀ شان وُلې۔ (شرح السنه)۔ پۀ يو بل روايت کښې دي چې هغۀ عرض وکړو: اے د الله رسوله! ستاسو د شعر پۀ باره کښې څۀ رائے ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن پۀ خپلې توره او پۀ خپلې ژبه جهاد کوي۔ (مشکوٰة)

د عبدل الله بن رواحه او د لبيد بيتونه

❁ د شريح رحمه الله نه روايت دے: ما عائشې رضي الله عنها ته ووې: رسول اللهﷺ به د څۀ شعر مثال بيانولو؟ هغې وفرمائېل: د عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه) د څۀ شعر مثال به ئې بيانولو، فرمائېل به ئې: وَ يَأتِيکَ بِالاَخبَارِ مَن لَم تُزوّد ـ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: د ټولو نه رشتونې خبره چې يو شاعر کړې ده (يا د ټولو نه ښکلې خبره چې عربو کړې ده) د لبيد دا خبره ده: اَلَا کُلُّ شَيٍ مَا خَلا اللهِ بَاطِل (خبردار! د الله نه علاوه هر څۀ باطل دي) ـ (متفق عليه)

بده شاعري، سندرې ويېل وغيره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د يو سړي خېټه چې د زوو (نوُونو) نه ډکه شي چې فساد پکښې پيدا کړي دا د دې نه غوره ده چې د (بد) شعر نه ډکه شي ـ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ خلقو کښې د ټولو نه د لوئے جرم (ګناه) والا هغه شاعر کس دے چې د يوې تمامې قبيلې هجو کوي (پۀ شعر کښې عيبونه بيانوي) ـ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سندرې ويېل (موسيقي) پۀ زړۀ کښې داسې منافقت پيدا کوي لکه اُوبۀ چې فصل راټوکوي ـ (بيهقي)

❁ د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ د شپې پۀ وخت کښې د يو سړي سندره (ګانا) واورېده نو وئې فرمائېل: نيشتے نمونځ د دۀ ، نيشتے نمونځ د دۀ، نيشتے نمونځ د دۀ ـ (حاشيۀ سنن ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د سندرې ويونکي سړي او د سندرې ويونکې ښځې ګټه حرامه ده ـ (حاشيۀ سنن ابوداؤد)

❁ د معاویه رضي الله عنه نه روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اغلوطاتو (د خلقو د غلطولو والو مسئلو او دوړو وغیره) نه منع فرمائېلې ده. (ابوداؤد)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: هلاک شول (په کارونو، خبرو وغیره کښې) مبالغه کونکي، د حد نه اوختونکي خلق. دا ئې درې پېرې وفرمائېل. (مسلم)

باب: عبث څیزونه، مشغلې، متعلقات

د بې فائدې څیزونو د پرېښولو خیر او ثواب، په هغې کښې د مشغولېدو ګناه او وبال

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: د سړي د اسلام د حُسن (ښۀ ثابتېدو) نه د دۀ هغه څۀ پرېښول دي څۀ چې دۀ ته نفع نۀ ورکوي. (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

❁ ابوذر رضي الله عنه فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته وفرمائېل: زۀ تا ته داسې عمل وُنۀ ښایم چې په بدن باندې سپک او د قیامت په تله کښې دروند وي؟ ما عرض وکړو: ضرور وُښایه اے د الله رسوله! رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: خاموشي، ښۀ اخلاق او هغه څۀ پرېښول چې تا ته فائده نۀ دررسوي. (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: بنده نه د الله تعالیٰ د ناراض والي علامت دا دے چې دے په داسې څۀ کښې مشغول وي چې دۀ ته فائده نۀ ورکوي. (احیاء)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: بنده نه د الله تعالیٰ د مخ اړولو علامت دا دے چې دے په بې فائدې څۀ کښې مشغول وي. (احسن الفتاویٰ)

د عبث، باطل، لهو څیزونو بدوالے، بعضې بې فائدې او بدې مشغلې، لوبې وغیره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: عبث کار شر دے۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نۀ زۀ د باطل شي نه یم او نۀ باطل شے زما نه دے۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: لهو څیزونه اوریدل ګناه دے، کښیناستل ورته فسق او مزه تربنه اخستل کفر دے۔ (حاشیۀ سنن ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زما رب ما ته د لهو و لعب د آلاتو، د باجو، د بتانو او د صلیب د ختمولو حکم فرمائیلے دے۔ (احمد)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے: رسول اللهﷺ یو سړے وُلیدۀ چې پۀ یو مارغۀ پسې ؤ نو وئې فرمائیل: یو شیطان دے پۀ یو شیطان پسې دے۔ (ابن ماجه،ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائیل: څوک چې پۀ ښکار پسې ولګیدۀ هغه غافل شو۔ (احمد، ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د نرد شیر لوبه وکړه هغۀ د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول نافرماني وکړه۔ پۀ یو بل روایت کښې دي چې چا د نرد شیر لوبه وکړه نو لکه چې خپل لاس ئې د خنزیر پۀ غوښه او وینه کښې ښکته کړو۔ (ابن ماجه، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د کومو څیزونو چې مسلمان سړے لهو و لعب (لوبې) کوي هغه ټول باطل دي سوا د دې نه: پۀ لیندۀ غشي ویشتل، خپل اس ته ازدکړه کول او د خپلې ښځې سره لوبې او مزاح کول، ځکه چې دا څیزونه د حقو (ضروري) خبرو نه دي۔ (ترمذي)

۞ يو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما له د سياحت (سيل له د تلو) اجازت راکړه ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما د اُمت سياحت جهاد دے ـ (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې ارشاد مروي دے: پۀ اسلام کښې سياحت نيشتے ـ ()

بازارونه، بازارونو ته تلل وغيره

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ ته د ټولو نه ناخوښ ځايونه بازارونه دي او پۀ بازارونو والو کښې الله تعالیٰ ته د ټولو نه ناخوښ هغه ځوک دي کوم چې د ټولو نه ړومبے بازارونو ته ننوتونکي او د ټولو نه روستے تربېنه وتونکي وي ـ (احياء)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ځان د بازارونو د چغو نه ساتۍ ـ (مسلم)

کتاب: د مختلفو آدابو وغيره ۇ څۀ ابواب

باب: ملاقات، اجازت، سلام وغيره

يو بل سره ملاقات، اجازت غوښتل، د اجازت غوښتو ادب او طريقه

۞ رسول اللهﷺپۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: کله چې سړے د خپل (مسلمان) ورور د ملاقات (زيارت) دپاره د کور نه وزي نو اويا زره فرښتې ورسره شي، ټولې پرې رحمت ليږي (دعاء ورته کوي) او وايي چې اے زمونږه ربه! دۀ ستا د رضا دپاره وصل وساتۀ نو تۀ د دۀ سره وصل وساته ـ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: دوه مومنان د يو بل سره نۀ يوځائے کيږي مګر الله تعالیٰ پۀ هغوی کښې يو له د بل نه فائده ورکوي۔ (ديلمي)

❁ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: ملاقات (چا سره) کله کله (يعني پۀ ناغې سره) کوه محبت به دِ زياتيږي۔ ()

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اجازت غوښتل درې پېرې دي نو کۀ تا ته اجازت درکړے شي نو ښۀ ده کنه واپس کېږه۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: اجازت غوښتل د نظر د وجې نه دي۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې سړے راوغوښتے شو نو هغۀ له اجازت ورکړے شو۔ (الادب المفرد)

❁ يو سړي د رسول اللهﷺ څنګ ته پۀ داسې حال کښې چې هغوی پۀ يو کور کښې وو دننه د راتلو اجازت غوښتۀ نو وئې ويېل: زۀ دننه راشم؟ رسول اللهﷺ خپل خادم ته وفرمائېل: وزه دۀ ته اجازت غوښتل وښايه، ورته ووايه چې داسې وايه: اَلسّلامُ عَلَيکُم زۀ دننه راشم؟ سړي دا واورېدل او وئې ويېل: اَلسّلامُ عَلَيکُم زۀ دننه راشم؟ رسول اللهﷺ ورته اجازت ورکړو۔ (ابوداؤد، ترمذي)

❁ د جابرؓنه روايت دے، فرمائي: زۀ د رسول اللهﷺخوا له تلم د څۀ قرض پۀ باره کښې چې زما پۀ پلار ؤ۔ ما دروازه وټکوله نو هغوی وفرمائېل: څوک؟ ما ووې: زۀ۔ هغوی وفرمائېل: زۀ، زۀ۔ ګويا هغوی زما دا جواب ناخوښ کړو۔ (متفق عليه)

سلام ویېل، د دې تاکید او فضیلت، د سلام جواب ورکول، ړومبے سلام

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې خپل (مسلمان) ورور سره یوځائے کیږي نو "السّلامُ عَلَیکُم وَ رَحمَةُ الله" دِ وایي. (ابوداد، ترمذي، نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د سلام کولو نه مخکښې خبرې شروع کړي نو هغۀ له جواب مۀ ورکوۀ تر دې چې هغه سلام ووایي. (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: فرښتې پۀ هغه مسلمان تعجب کوي کوم چې پۀ مسلمان تېروزي او سلام پرې وُنۀ وایي. (احیاء)

❁ رسولﷺ وفرمائېل: زما د اُمت د یو کس سره چې تۀ ملاوېږې نو سلام پرې وایه ستا نیکیانې به زیاتیږي. (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ تاسو ته داسې څۀ ونۀ ښایم چې تاسو هغه وکړۀ نو تاسو د یو بل سره محبت شروع کړۀ؟ خپل مینځ کښې سلام ویېل خور (رائج) کړۀ. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سلام خوروۀ (کوۀ) سلامتي به بیامومئ. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: چا چې د سلام جواب ورکړو نو دا هغۀ له دے او چا چې ورنکړو نو هغۀ له هیڅ نیشتي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ یو قوم تېرېږي او پۀ هغوئ سلام ووایي او هغوئ د سلام جواب ورکړي نو دۀ له پۀ هغوئ یوه درجه غوره والے وي ځکه چې دۀ هغوئ ته سلام یاد کړو، او کۀ هغوئ جواب ورنکړي نو دۀ له د هغوئ نه غوره او زیات عمده ټولګے جواب ورکوي. (بیهقي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ خلقو کښې د الله تعالیٰ د نزدې والي د ټولو نه زيات لائق هغه څوک دے کوم چې هغوی ته رومبے سلام کوي. (ابوداؤد)

۞ د اُمامهؓنه روايت دے: عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! دوه سړي يو بل سره ملاويږي، کوم يو به د سلام شروع کوي؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: کوم چې پۀ هغوی کښې الله تعالیٰ ته زيات نزدې وي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مخکښې سلام کونکے د تکبر نه بري وي. (بيهقي)

د سلام څۀ آداب، د چا سلام رسول، د هغې جواب ورکول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: وړکے دِ پۀ لوئے، ولاړ دِ پۀ ناست او کم کسان دِ پۀ ډېرو سلام وايي. (متفق عليه). پۀ څۀ روايتونو کښې داسې دي: سور دِ پۀ پياده تلونکي، پياده تلونکے دِ پۀ ناست او کم دِ پۀ زياتو سلام وايي. (الادب المفرد)

۞ د رسول اللهﷺ د يو ارشاد مبارک مفهوم دے: د تېروتونکي ټولګي نه د يو کس سلام کافي کيږي او د ناست ټولګي نه د يو کس جواب ورکول کافي کيږي. (احمد ، بيهقي)

۞ د مقداد بن اسودؓنه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺبه د شپې راتلو نو داسې سلام به ئې وې چې اودۀ به ئې نۀ ويښولو او ويښ ته به ئې اورولو. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک مجلس ته ورُسي نو سلام دِ ووائي، بيا چې کله د پاڅېدو اراده وکړي نو سلام دِ ووائي. اولنے د روستني نه زيات لائق (يا غوره) نۀ دے. (ابوداؤد)

۞ غالب رحمه الله فرمائي: مونږ د حسن (رحمه الله) دروازې ته ناست وو يو سړے راغے او وئې ويېل: ما ته بيان وکړو زما پلار زما د نيکۀ نه چې هغۀ

ویېلي وو: زما پلار زۀ د رسول اللهﷺ خوا له لېږلم نو وئې ویېل: د هغوی خوا له ورشه او هغوی ته زما سلام ووایه. (زۀ چې لاړم نو) ما وویې: زما پلار تاسو ته سلام ویېلو. هغوی وفرمائېل: عَلَیکَ وَ عَلیٰ اَبِیکَ السّلامُ (پۀ تا او ستا پۀ پلار دِ سلام وي). (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ عائشې رضي الله عنها ته وفرمائېل: جبریل (علیه السلام) تا ته سلام وایي. هغې ووې: وَ عَلَیهِ السّلام وَ رَحمَةُ الله. (ابوداؤد)

خپل کوروالو، (عامو) ښځو، وړو او غیرمسلمو ته سلام

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: تاسو چې خپلو کورونو ته ننوزئ نو پۀ کورونو والو سلام وایئ ځکه چې څوک سلام وایي نو شیطان د هغۀ کور ته نۀ داخلیږي. (احیاء)

❁ د انسؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ما ته وفرمائېل: کله چې تۀ خپل کور والو ته زې نو سلام وایه، ستا او ستا پۀ کور والو به برکت کیږي. (ترمذي) (پۀ یو روایت کښې داسې دي چې تۀ خپل کور ته ننوزې نو پۀ کور والو سلام وایه ستا د کور خیر او برکت به زیاتیږي). (بیهقي)

❁ د اسماء بنت یزید رضي الله عنها نه روایت دے: رسول اللهﷺ یوه ورځ پۀ جمات کښې تېروتلو او د ښځو یو ټولگے ناست ؤ نو پۀ لاس مبارک سره ئې د سلام اشاره وفرمائېله. (ترمذي) (د ابوداؤد پۀ روایت کښې دي چې مونږ ته ئې سلام وکړو).

❁ د انسؓ نه روایت دے چې هغه پۀ څۀ وړو تېروتۀ نو پۀ هغو ئې سلام ووې او وئې ویېل چې رسول اللهﷺ به داسې کول. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یهودیانو او نصرانیانو (عیسایانو) ته پۀ سلام کښې مخکښې والے مۀ کوئ. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اهلِ کتاب چې تاسو ته سلام وکړي نو وايۍ: وَ عَلَيكُم (او په تاسو دِ وي) ـ (متفق عليه)

۞ د اُسامهرضي الله عنه روايت دے: نبي اکرمﷺ په يو مجلس تېروتلو په کوم کښې چې مسلمانان او مشرکان ګاډېره وو نو نبياکرمﷺ په هغوی سلام ووې ـ (متفق عليه)

لاس ملاوول (مُصافحه کول)، د دې فضيلت، ثواب

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: ستاسو د تحيیِّ (د خيرپخير، د سلام) تمام والے لاس ملاوول (مُصافحه کول) دي ـ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: د مسلمان د خپل (مسلمان) ورور خکلول (د هغهٔ سره) لاس ملاوول دي ـ (ابن عدي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې دوه مسلمانان يوځائے شي او لاس ملاؤ کړي او د الله تعالیٰ حمد بيان کړي او مغفرت ترېنه وغواړي نو هغه ورته مغفرت کوي ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: دوه مسلمانان چې يوځائے شي او لاس ملاؤ کړي نو د هغوی (واړهٔ) ګناهونه ريژي ـ (ابوداؤد، ترمذي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل:کوم دوه مسلمانان چې يوځائے کېږي او د يو بل سره لاس ملاووي نو د جدا کېدو نه مخکښې د هغوی (واړهٔ) ګناهونه معاف کېږي ـ (ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې دوه مسلمانان يوځائے شي او هر يو په بل سلام ووايي او دواړه د يو بل سره لاس ملاؤ کړي نو د هغوی په مېنځ کښې سل رحمتونه نازل شي چې د شروع کونکي دپاره پکښې لس اتيا او د جوابي لاس ملاوونکي دپاره پکښې لس وي ـ (بزار)

غاړې وتل (مُعانقه کول)، خکلول کول، واړۀ خکلول

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، وئيے فرمائيل: زيد بن حارثه (رضي الله عنه) مدينې ته راغے پۀ داسې حال کښې چې رسول اللهﷺ زما پۀ کور کښې ؤ ـ د دوی خوا له راغے، دروازه ئې وټکوله نو رسول اللهﷺ ورته پاڅېدلو چې جامه ئې راښکله، سينې ته ئې نزدې کړو او خکل ئې کړو ـ (ترمذي)

❁ د شعبي رحمه الله نه روايت دے:رسول اللهﷺ د جعفر بن ابي طالب(رضي الله عنه)استقبال وکړو نو ځان ته ئې نزدې کړو او د سترګو پۀ مينځ کښې ئې خکل کړو ـ (ابوداؤد)

❁ د ابن عمر رضي الله عنهما نه يوه قصه مروي ده چې پکښې دا دي: نو مونږ رسول اللهﷺ ته نزدې شو او د هغوی لاس خکل کړو ـ (ابوداؤد)

❁ د ابوهريرهرضي الله عنهنه روايت دے، فرمائي:رسول اللهﷺ حسن بن علي رضي الله عنهما خکل کړو نو اقرع بن حابس ووې: زما لس واړۀ دي ما پکښې يو هم نۀ دے خکل کړے ـ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې رحم نۀ کوي پۀ هغۀ رحم نۀ کيږي ـ (متفق عليه)

باب: مېلمستيا، دعوت، ډالۍ

مېلمستيا کول، د مېلمه اکرام کول، د مېلمه کوربه ته دعاء کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نيشتے خير پۀ هغه چا کښې څوک چې مېلمستيا نۀ کوي ـ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې پۀ الله تعالیٰ او د آخرت پۀ ورز ايمان لري نو د خپل مېلمه اکرام دِ کوي ـ (متفق عليه)

❁ د جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ابوالهيثم بن تيهان رضي الله عنه رسول الله ﷺ له ډوډۍ تياره کړه. رسول الله ﷺ او د هغوی ملګري ئې راوغوښتل. کله چې دوی فارغ شول نو رسول الله ﷺ وفرمائيل: خپل ورور له بدله ورکړۍ (اِثابت ئې وکړی). اصحابو وويېل: اے د الله رسوله! دهٔ له بدله ورکول څهٔ دي؟ رسول الله ﷺ وفرمائيل: د سړي کور ته چې څوک لاړ شي او خوراک څښاک ورکړه وکړي او بيا ورته دعاء وکړي نو دا (دعاء کول) هغهٔ له بدله ورکول دي. (ابوداؤد)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے: رسول الله ﷺ د سعد بن عباده رضي الله عنه کره تشريف يوړو، هغهٔ ورته ډوډۍ او تيل پيش کړل. رسول الله ﷺ وخوړل او بيا ئې وفرمائيل: روژه دِ ماتوي ستاسو کره روژه داران، ډوډۍ دِ خوري ستاسو نيکان او د رحمت او مغفرت دعاء دِ غواړي تاسو له ملائکې. (ابوداؤد)

د مېلمستيا او مېلمه څهٔ آداب

❁ د سلمان رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ مونږ د دې نه منع کړي يو چې مونږ مېلمه له تکلف وکړو (د خپل وس نه زيات يا بې ضرورته څهٔ تيار کړو). (صحيح الجامع الصغير للالباني)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: څوک دِ خپل مېلمه له د هغه څهٔ تکلف نهٔ کوي د څهٔ چې دے طاقت نهٔ لري. (احياء)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: مېلمستيا درې ورزې ده د هغې نه آخوا بيا صدقه ده. (متفق عليه)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: د مېلمه د سنت نه دا خبره ده چې سړے ورسره د دروازې پورې لاړ شي. (احياء)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مېلمه له جائز نۀ دي چې د کور والا کره دېره شي دې پورې چې هغه تنګ کړي. (ابن ماجه)

دعوت، ډالۍ، ورکول، قبلول، يو بل له د ډالۍ ورکولو فائده

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د (وليمې وغيره د) دعوت ورکونکي دعوت قبلوئ او ډالۍ مۀ واپس کوئ. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې تاسو له دعوت درکړي نو هغه قبول کړئ. (احمد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د دعوت ورکونکي دعوت قبول نکړو نو دۀ د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول نافرماني وکړه. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: کۀ ما ته د څاروي د پښې (هم) دعوت راکړے شي نو زۀ بۀ ئې قبول کړم. (ترمذي)

۞ د انس بن مالکؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺته به د وربشو د ډوډۍ او د بدبويه انګولي دعوت ورکولے کېدۀ نو هغوئ به قبلوۀ. (الترمذي فى الشمائل)

۞ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺبه ډالۍ (هديه) قبلوله او د هغې بدله به ئې ورکوله. (الترمذي فى الشمائل)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو بل له ډالۍ (هديې) ورکوئ ستاسو به د يو بل سره محبت جوړيږي. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو بل له ډالۍورکوئ چې ډالۍ بُغض (کينه) وباسي. (بزار)

باب: خوراک څښاک، متعلقات

د خوراک څښاک څهٔ آداب

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې (ستاسو پهٔ مخ کښې) خوراک کېښودے شي نو خپل پيزارونه وباسیٔ چې دا به ستاسو د پخو دپاره زيات د آرام وي. (دارمي)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: د ډوډۍ برکت پهٔ اول کښې او پهٔ آخر کښې لاسونه اينزل دي. (ابوداؤد)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: زهٔ خوړل نهٔ کوم پهٔ داسې حال کښې چې تکيه مِ وهلې وي. (بخاري)

❁ د عمر بن ابي سلمهؓ نه روايت دے، فرمائي: زهٔ يو ماشوم هلک وُم درسول اللهﷺ پهٔ غېږه کښې او زما لاس به پهٔ مجمع (خانکي) کښې ګرزېدهٔ نو رسول اللهﷺ ماته وفرمائېل: بسم الله وايه (د الله نوم اخله)، پهٔ ښي لاس خوره او د خپلې څنګې نه خوره. (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خوراک برکت پهٔ مينځ کښې نازلېږي نو تاسو ئې د دواړو طرفونو نه خورئ، د مينځ نه ئې مهٔ خورئ. (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې چې د چا نمرۍ وغورزيږي نو رااوچته دِ کړي، صفا دِ کړي او وُدِ خوري. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې دِ څوک پهٔ ولاړه څښل نهٔ کوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د اُوښ پهٔ شان پهٔ يوه اِينده اُوبهٔ مهٔ څښئ بلکې پهٔ دوؤ يا دريو اِيندو څښئ. (ترمذي)

❁ د انس رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم به په لوښې (یعني په څښلو) کښې درې پېرې ساه اخستهٔ کله چې به ئې اُوبهٔ څښلې او فرمائېل به ئې چې دا زیات موافقت راوستونکے او مړَونکے عمل دے. (الترمذي في الشمائل)

❁ د قتاده رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائېلې ده چې په لوښې کښې (یعني په هغې کښې دننه) دِ ساه واخستے شي. (متفق علیه)

❁ د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائېلې ده چې د مَشک د خلې نه څښل وکړے شي. (متفق علیه)

د خوراک نه پس ګوتې او لوښے څټل

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث مبارک کښې ارشاد وفرمایهٔ: څوک چې په تاسو کښې د خوراک خوړلو نه فارغ شي نو خپلې ګوتې دِ وڅټي ځکه چې دے نهٔ پوهېږي چې د خوراک په کوم جُزء کښې برکت دے. (مسلم)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: کله چې په تاسو کښې څوک ډوډۍ وخوري نو خپل لاس دِ په رومال (یا تولیه وغیره) نهٔ صفا کوي دې پورې چې پخپله ئې وڅټي یا ئې بل ته وڅټوي. (بخاري، مسلم، ابوداؤد). په یو بل روایت کښې ورسره دا دي: ځکه چې دے نهٔ پوهیږي چې د دهٔ د خورک په کومه حصه کښې برکت دے. (مسلم)

❁ د کعب بن مالک رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدهٔ چې په درې ګوتو ئې خوراک خوړ او چې فارغ شو نو هغه ئې وڅټلې. (مسلم)

❁ د جابر رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګوتو او د کاسې د څټلو حکم وفرمایهٔ او وئې فرمائېل: تاسو نهٔ یئ خبر چې په دې کښې په کومه کښې برکت دے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې پهٔ يوې کاسه (پليټ) کښې خوراک وخوري او بيا هغه وڅټي نو هغه ورته وايي: الله تعالیٰ دِ تا د اُور نه بچ کړي لکه تا چې زهٔ د شيطان نه بچ کړم. (رزين، مشکوٰة)

د خوراک پهٔ شروع کښې د الله نوم، د هغې نه روستو د الله حمد

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ نوم اخلی (بسم الله وايی) کله چې (خوړل) څښل شروع کوی او د الله تعالیٰ حمد کوی (الحمد لله وايی) کله چې (فارغ شی او) لوښے اوچتوی. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: کله چې پهٔ تاسو کښې څوک خوراک خوړل شروع کوي نو د الله تعالیٰ نوم دِ اخلي (بسم الله د وايي). کهٔ پهٔ اول کښې د الله تعالیٰ نوم اخستل هېر کړي نو بيا دِ دا وايي: بِسمِ اللهِ اَوّلَهُ وَآخِرَه. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ د هغه بنده نه راضي کيږي کوم چې د خوړلو څهٔ خوري نو پهٔ هغې د الله تعالیٰ حمد کوي او چې د څښلو څهٔ څښي نو پهٔ هغې د الله تعالیٰ حمد کوي. (مسلم)

خوراک پسې څهٔ مسنون حمدونه وغيره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې خوراک وخوري او دا ووايې: الحَمدُ لِلّهِ الّذِي اَطعَمَنِي هٰذَا وَ رَزَقَنِيهِ مِن غَيرِ حَولٍ مِنّي وَ لَا قُوّةٍ نو مخکښني (واړهٔ) ګناهونه به ئې معاف کړے شي. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ د ابوسعيد خدريؓ نه روايت دے: رسول اللهﷺ چې به د خپل طعام نه فارغ شو نو وبه ئې فرمائيل: اَلحَمدُ لِلّهِ الّذِي اَطعَمَنَا وَ سَقَانَا وَ جَعَلَنَا مِنَ المُسلِمِينَ. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ چې به کله خپل دسترخوان اوچتولو نو فرمائيل به ئې: الحَمدُ لِلّهِ كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ، غَيرَ مَكفِيٍّ وَ لَا مُوَدّعٍ وَ لَا مُستَغنًى عَنهُ رَبَّنَا. (بخاري)

یوځائے خوراک خوړل، د لږو خوراک ډېرو له کافي کېدل

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: خوراک یوځائے خورئ، جدا جدا مۀ خورئ، چې برکت په جماعت کښې دے۔ (ابن ماجه)

❁ د وحشي بن حربؓ نه روایت دے: د رسول اللهﷺ اصحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! مونږ ډوډئ خورو او مړېږو نۀ۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو به چرته جدا جدا خورئ۔ هغوئ ووې: آ جي۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خوراک پۀ جمع خورئ او د الله تعالیٰ نوم ذکر کوئ (بسم الله وایئ) تاسو له به پکښې برکت اچولے کیږي۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ د یوځائے پۀ خوراک کښې د خلقو مشري (امامت) کونکے دا وښودۀ: امام (بادشاه) یا د خوراک مالک یا پۀ هغوئ کښې د ټولو نه غوره کس۔ (ابوداؤد في مراسیله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خوراک د یو کافي کیږي دوؤ له، خوراک د دوؤ کافي کیږي څلورو له او خوراک د څلورو کافي کیږي اتؤ له۔ (مسلم)۔ پۀ یو بل روایت کښې داسې دي: خوراک د یو کس دریو له کافي دے او خوراک د درې کسانو څلورو له کافي دے۔ (متفق علیه)

خوراک څښاک (وغیره) کښې د ښي لاس (او ښئ پخې) او ښي طرف لحاظ

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک څۀ خوري نو پۀ ښي لاس دِ خوري او چې څۀ څښي نو پۀ ښي لاس دِ څښي۔ (مسلم)

❁ د حفصې رضي الله عنها نه روایت دے: رسول اللهﷺ به خپل ښے لاس د خوراک څښاک دپاره او چَپ لاس د دې نه د علاوه دپاره مقرر کولو۔ (ابوداؤد، ترمذي)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے: رسول الله ﷺ ته به د ښي (لاس يا طرف) استعمال پۀ خپل هر کار کښې ښۀ لګېدۀ: (لکه) پۀ پاکۍ کښې (اودس وغيره کښې د اُوبو پۀ استعمال کښې)، پۀ سر منګزولو کښې او پۀ پيزار پۀ پښو کولو کښې. (متفق عليه)

❁ د سلمه بن اکوع رضي الله عنه نه روايت دے: يو سړي د رسول الله ﷺ پۀ څنګ کښې پۀ ګڅ لاس ډوډۍ خوړه نو رسول الله ﷺ ورتهوفرمائېل: پۀ ښي لاس خوره. هغۀ ووې: زۀ نۀ شم خوړے. رسول الله ﷺ وفرمائېل: تۀ دِ ونۀ خوړے شې! دے نۀ ؤ منع کړے مګر تکبر؛ نو بيا ئې خلې ته اوچت نۀ کړے شو. (رياض الصالحين)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې چې څوک پيزار پۀ پښو کوي نو د ښۍ پښې نه دِ شروع کوي او چې وُباسي نو د ګڅې نه دِ شروع کوي. ښۍ پښه دِ پۀ پښو کولو کښې اولنۍ او پۀ ويستو کښې آخرنۍ وي. (بخاري، مسلم)

❁ رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايۀ: کله چې تاسو اغوستل کوۍ او اودس کوۍ نو د خپلو ښي طرفونو نه شروع کوۍ. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے: د رسول الله ﷺ پۀ خدمت کښې څۀ پۍ راوړے شو چې د اُبو سره ګاډېره کړے شوي ؤ پۀ داسې حال کښې چې د رسول الله ﷺ ښي طرف ته يو اعرابي او ګڅ طرف ته ابوبکر رضي الله عنه ؤ نو رسول الله ﷺ ترېنه وڅښل او بيا ئې اعرابي له ورکړل او وئې فرمائېل: اول ښي طرف والا. (متفق عليه)

د خوراک عیب نهٔ بیانول

۞ د ابوهریرهؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چرته هم د څهٔ خوراک عیب بیان نکړو؛ کهٔ شوق به ئې ورته ؤ نو وُبه ئې خوړ او کهٔ بد به پرې ولګېد نو پرې به ئې ښو. (متفق علیه)

۞ د جابرؓ نه روایت دے: رسول اللهﷺ د خپل کور والو نه اینګولے وغوښتهٔ نو هغوی ووې چې مونږ کره د سرکې نه علاوه څهٔ نیشتي نو رسول اللهﷺ هغه راوغوښته او خوړل ئې شروع کړهٔ او فرمائېل ئې: څهٔ ښهٔ اینګولے دے سرکه! څهٔ ښهٔ اینګولے دے سرکه! (مسلم)

د ډېر خوراک بدوالے

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مومن پهٔ یوه کولمه کښې خوراک خوري (یعني کم خوري) او منافق پهٔ ووهٔ کولمو کښې خوري (یعني زیات خوري). (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یو سړي یو لوښے د ګېډې نه زیات د شر نه نهٔ دے ډک کړے (یا یو لوښے د ډکېدو پهٔ لحاظ سره د ګېډې نه زیات بد نیشتے) (یا یو سړي د ګېډې نه زیات بد لوښے نهٔ دے ډک کړے). (ترمذي، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ د یو سړي نه ډرقي واورېدهٔ نو هغهٔ ته ئې وفرمائېل: ډرقي دِ کم کړه ځکه چې د قیامت پهٔ ورځ به د ټولو نه د اوږدې لوږې والا کس هغه وي چا چې پهٔ دنیا کښې د ټولو نه زیاته ګېډه ډکه کړې وي. (ترمذي)

۞ روایت دے چې رسول اللهﷺ یو غټ خېټي ته وکتل نو د هغهٔ خېټې ته ئې اشاره وکړه او وئې فرمائېل: کچرې دا (خوراک) د دې نه علاوه پهٔ بل ځائے کښې وے (یعني خپل آخرت له دِ لېږلے وے) نو ستا دپاره به زیات غوره ؤ. (احیاء) (احمد، حاکم، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې مور او دهٔ کيږي نو زړهٔ ئې سختيږي. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: مونږ داسې قوم يو چې خوراک نهٔ خورو څو چې وږي شوي نهٔ يو او کله چې خورو نو ځان نهٔ مړوو. (اساس العربيه)

باب: اسويلے، پرنجے، قضاءِ حاجت

د اسويلي او پرنجي څهٔ آداب

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: اسويلے د شيطان نه دے نو پهٔ تاسو کښې چې چا له اسويلے رازي نو څو چې ترې کيدے شي قابو کوي دِ. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې پهٔ تاسو کښې څوک پرنجے (يا اټکے وغيره) کوي نو آواز دِ (زيات) نهٔ اوچتوي ځکه چې شيطان غواړي چې دے آواز اوچت کړي. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ د ابوهريرهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به کله پرنجے کولو نو خپل لاس مبارک يا ټوکړے به ئې پهٔ خپلې خلې مبارکې ايښودهٔ او آواز به ئې رو کولو. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې ستاسو څوک پرنجے کوي نو "الحَمدُ لِلّٰہِ عَلیٰ کُلِّ حَال" دِ وايي او د دهٔ (مسلمان) ورور يا ملګرے دِ "يَرحَمُکَ الله" وايي او دے دِ (پهٔ جواب کښې) "يَهدِيکُمُ اللهُ وَ يُصلِحُ بَالَکُم" وايي. (ابوداؤد)

❁ ابوبردهرضي الله عنه د خپل پلار(رضي الله عنه) نه روايت کوي: يهوديانو به د رسول اللهﷺ پهٔ مخ کښې پهٔ زور پرنجے کولو د دې دپاره چې رسول اللهﷺ پرې "يَرحَمُکُمُ الله" (الله دِ پهٔ تاسو رحم وکړي) ووايي خو رسول اللهﷺ به دا

فرمائېل: يَهدِيكُمُ اللهُ وَ يُصلِحُ بَالَكُم (الله دِ تاسو ته هدايت وکړي او ستاسو حال (يا ستاسو زړهٔ) دِ ښهٔ کړي) ـ (ابوداؤد)

د قضاءِ حاجت څهٔ آداب، د پېشابو نه ځان نهٔ ساتل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تاسو قضاءِ حاجت له لاړ شئ نو قبلې ته مهٔ مخ کوئ او مهٔ شا کوئ بلکې مشرق يا مغرب ته مخ کوئ ـ (متفق عليه)

❁ د سلمانؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ مونږ منع کړي يو چې د لويو او وړو بولو پهٔ وخت کښې قبلې ته مخ وګرزوو يا پهٔ ښي لاس ځان پاک کړو يا د دريو ګټو نه پهٔ کمو ځان پاک کړو او يا پهٔ غوشانو، خرشنو او هډوکو ځان پاک کړو ـ (مسلم)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې قضاءِ حاجت له لاړ شي نو خپل د پېشابو ځائے دِ پهٔ ښي لاس نهٔ نيسي او نهٔ دِ پهٔ ښي لاس ځان پاکوي ـ (متفق عليه)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې لويو بولو له لاړ شي نو ځان دِ پټوي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دوه کسان چې قضاءِ حاجت ته ناست وي نو هر يو دِ د خپل ملګري نه ځان پټوي او خبرې دِ نهٔ کوي ځکه چې الله تعالىٰ دا ډېر بد ګڼي ـ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دوه تنه چې قضاءِ حاجت ته ناست وي، د ستر ځايونه ئې بربنډ کړي وي، خبرې کوي نو الله تعالىٰ دا خبره ډېره بده ګڼي ـ (احمد، ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ د عمرؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ زهٔ پهٔ دې حال کښې وليدم چې ما پهٔ ولاړې پيشاب کول نو وئې فرمائېل: اے عمره! پهٔ ولاړې پېشاب مهٔ کوه ـ د دې نه روستو ما پهٔ ولاړې پېشاب نهٔ دے کړے ـ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ د جابر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به قضاءِ حاجت له دومره لرې تلو چې چا به نهٔ ليدلو ـ (ابوداؤد)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به بيت الخلا (د قضاءِ حاجت ځائے) ته تلو نو خپله ګوتۍ به ئې ويستله ـ (ابوداؤد، نسائي، ترمذي)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به بيت الخلا ته تلو نو فرمائېل به ئې: اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِنَ الخُبثِ و الخَبَائِث (اے الله! زهٔ پناه غواړم پهٔ تا د بدۍ او د خبيث، ګنده څيزونو نه) ـ (متفق عليه)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د قضاء حاجت نه پس دا فرمائېل: "غُفرَانَکَ" ـ (ابوداؤد، ترمذي، نسائي)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: د پېشابو نه ځان ساتۍ ځکه چې د قبر عام طور عذاب د دې (د وجې) نه وي ـ (دارقطني، حاکم)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم د يو قبر والا د عذاب متعلق وفرمائېل: دے به د پېشابو نه نهٔ بچ کېدهٔ (يا به ئې د خلقو نه پهٔ پټه نهٔ کول) ـ (بخاري)

باب: مجلس، کښېناستل، څملاستل، اودهٔ کېدل

د مجلس او کښېناستو څهٔ آداب وغيره

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: د ټولو نه غوره مجلس هغه دے پهٔ کوم کښې چې قبلې ته مخ کړے شي ـ (حاکم)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: پهٔ مجلسونو کښې د ټولو نه غوره هغه دے کوم چې پهٔ ټولو کښې زيات ارت وي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: سړے دِ سړے د هغهٔ د ځائے نه نهٔ پاڅوي چې دے هلته کښېني بلکې ارت والے پيدا کوۍ ـ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د مسلمان حق دے چې (مسلمان) ورور ئې وينې چې ځائے ورته وکړي. (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک د خپل ځائے نه پاڅي او بيا واپس راشي نو هغه د دې ځائے زيات حقدار دے. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دوؤ کسانو پۀ مينځ کښې مۀ کښېنه مګر د هغوی پۀ اجازت سره. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: يو سړي له حلال نۀ دي چې د دوؤ کسانو پۀ مينځ کښې جدائي وکړي مګر د هغوی پۀ اجازت سره. (ابوداؤد)

د ذکر نه بغير مجلس، د مجلس کفاره

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې خلق د يو مجلس نه پاڅي پۀ کوم کښې چې هغوی د الله تعالیٰ ذکر نۀ وي کړے نو هغوی داسې پاڅي لکه خرۀ چې د مردارې نه پاڅي. (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ د يو حديث مبارک مفهوم دے: خلق چې پۀ يو مجلس کښې کښېني او پۀ هغې کښې د الله تعالیٰ ذکر ونکړي او د هغۀ پۀ نبي درود وُنۀ وايي نو دا به هغوی له د نقصان او د پښېمانۍ سبب وي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ يو مجلس کښې کښېني او پۀ هغې کښې شور (فضول خبرې) زيات وي بيا د مجلس نه د پاڅېدو نه مخکښې هغه دا ووايي: سُبحَانَکَ اللّٰهُمّ وَ بِحَمدِکَ اَشهَدُ اَن لّا اِلٰهَ اِلّااَنتَ اَستَغفِرُکَ وَ اَتوبُ اِلَيکَ نو پۀ دغه مجلس کښې چې څۀ شوي وي هغه ورته معاف شي. (ترمذي)

۞ د ابوذر رضی اللہ عنہ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به پۀ آخري عمر کښې د مجلس نه پاڅېدۀ نو دا به ئې فرمائېل: سُبحَانَکَ اللّٰهُمّ وَ بِحَمدِکَ اَشهَدُ اَن لّا اِلٰهَ اِلّااَنتَ اَستَغفِرُکَ وَ اَتوبُ اِلَيک. يو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله!

تاسو څۀ وايئ چې پۀ تېر وخت کښې به نۀ ويېل: رسول اللهﷺ وفرمائېل: کفاره ده د هغه څۀ چې پۀ مجلس کښې وشي (بد څۀ). (ابوداؤد)

پۀ لارو کښې د کښېناستو څۀ آداب، د لارې حق

❁ د ابوسعيد خدريرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ لارو کښې د کښېناستو نه ځان ساتئ. خلقو عرض وکړو: اے د الله رسوله! مونږ له خو پکښې د کښېناستو نه مخلص نيشتے، مونږ پکښې خبرې کوو. رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ تاسو نه قلارېږئ نو بيا لارې ته د هغې حق ورکوئ. خلقو عرض وکړو: د لارې څۀ حق دے اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نظر ښکته ساتل، د تکليف والا شے لرې کول، د سلام جواب ورکول او د نيکئ حکم کول او د بدئ نه منع کول. (پۀ بل روايت کښې دا هم ذکر دي: د غمزده مدد کول، لارې خطا کونکي ته لار ښودل) (ابوداؤد)

❁ خلقو رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: د لارې څۀ حق دے اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نظر ښکته ساتل، د تکليف رسولو نه بچ پاتې کېدل، د سلام جواب ورکول او امر بالمعروف او نهي عن المنکر کول. (متفق عليه)

د څملاستو او اودۀ کېدو څۀ آداب وغيره

❁ د براء بن عازبرضي الله عنهنه روايت دے، فرمائي:رسول اللهﷺ ما ته وفرمائېل: کله چې تۀ د خپل څملاستو ځائے (بسترې) ته زې نو اودس کوه د نمانزۀ اودس او بيا پۀ خپلې ښئ ډډې څمله او دا وايه: اَللّٰهُمَّ اَسلَمتُ وَجهِي اِلَيکَ وَ فَوَّضتُ اَمرِي اِلَيکَ (اے الله! ما خپل مخ تا ته حواله کړو او خپله معامله م تا ته وسپارله) الخ. (ابوداؤد)

❁ د ابوهريرهرضي الله عنهنه روايت دے، فرمائي:رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک خپلې بسترې ته زي نو بستره دِ د خپل ازار (لنګ) پۀ دننه

طرف ځنډوهي ځکه چې دے نۀ وي خبر چې روستو ئې پرې څۀ پرېښي وي؛ بيا دِ پۀ خپلې ښیۍ ډډې څملي او دا دِ وايي: بِاسمکَ رَبّي وَضعتُ جَنبي وَ بِکَ اَرفَعُه؛ اِن اَمسَکتَ نَفسِي فَارحَمهَا وَ اِن اَرسَلتَهَا فَاحفَظهَا بِمَا تَحفَظُ بِهِ الصّالِحِينَ مِن عِبَادِک (پۀ نامۀ ستا سره اے زما ربه! ما خپله ډډه کېښوده او ستا پۀ مدد سره به ئې راوچتوم؛ کۀ تا زما ساه ونيسۀ نو رحم پرې وکړه او کۀ پرې دِ ښودۀ نو حفاظت ئې وکړه پۀ هغه څۀ سره پۀ څۀ چې تۀ د خپلو نيکو بندګانو حفاظت کوې) ـ (ابوداؤد)

❁ د حذيفهؓنه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به د شپې ډډه لګوله نو ښے لاس به ئې د مخ مبارک نه لاندې کېښو او وُبه ئې فرمائېل: اللّهُمّ بِاسمِکَ اَمُوتُ و اَحيَىٰ (اے الله زۀ ستا پۀ نامۀ سره مرم او ژوندے کېږم)؛ او چې راوېښ به شو نو دا به ئې وفرمائېل: الحَمدُ لِلّهِ الّذي اَحيَانَا بَعدَ مَا اَمَاتَنَا وَ اِلَيهِ النُّشُورُ (حمد دے هغه الله لره چې ژوندي (راوېښ) ئې کړو مونږ روستو د دې نه چې مونږ ئې مړۀ (اودۀ) کړي وو او د هغۀ طرف ته دوباره رااوچتېدل دي) ـ (بخاري، ابوداؤد)

❁ د حفصې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به کله د اودۀ کېدو اراده وفرمائېله نو خپل ښے لاس به ئې د خپل مخ نه لاندې کېښو او درې ځله به ئې وفرمائېل: اللّهُمّ قِنِي عَذَابَکَ يَومَ تَبعثُ عِبادکَ (اے الله ما وساته د خپل عذاب نه پۀ کومه ورز چې به تۀ خپل بندګان راپورته کوې) ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې پۀ څۀ ځائے څملاست او د الله تعالىٰ ذکر ئې پکښې ونکړو نو دا به ورله د الله تعالىٰ د طرف نه د پښېمانۍ سبب وي ـ (ابوداؤد)

❁ د ابوذر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ما باندې په داسې حال کښې تېروتلو چې زهٔ نسکور ملاست وُم نو زهٔ ئې په خپله پخه وُخُنډولم او وئې فرمائېل: اے جنيدبه! دا خو د دوزخيانو ملاسته ده ـ (ابن ماجه) ـ په يو بل روايت کښې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په جمات کښې په يو سړي تېرېدلو کوم چې پړمخې پروت وُ نو خپله پخه ئې ورله راپرېښوه او وئې فرمائېل: پاڅه! جهنمي خوب دے ـ (الادب المفرد)

❁ د ابوبرزه رضي الله عنه نه روايت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ماسختن (د نمانځهٔ) نه مخکښې اودهٔ کېدل او د هغې نه روستو خبرې کول بد ګڼل ـ (متفق عليه)

❁درسول الله صلی الله علیه وسلم بستره به په هغه طريقه وه لکه انسان چې په قبر کښې اېښودے کيږي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دې قول نسبت کړے شوے دے: خوب د مرګ ورور دے () ـ

باب: غسل، وېښتهٔ

د غسل څهٔ آداب، د وېښتو څهٔ آداب

❁د زهري رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: په تاسو کښې دِ څوک غسل نهٔ کوي خو چې د دهٔ په څنګ کښې يو انسان وي چې هغهٔ ته نهٔ ګوري او هغهٔ ته نزدې وي او خبرې ورسره نهٔ کوي ـ او د هغوی نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: غسل مهٔ کوی په صحرا کښې مګر دا چې تاسو پټ ځائے بيامومئ او کهٔ بيائهٔ مومئ نو سرے دِ د دائرې په شان يو خط راکاږي بيا دِ د الله تعالیٰ نوم واخلي او غسل دِ وکړي ـ (ابوداؤد في مراسيله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا چې وېښتهٔ وي نو د هغې اکرام دِ کوي (صفائي، منګزول، غوړول وغيره) ـ (ابوداؤد)

۞ د مجاهد رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ يو سړے وليدهٔ چې اوږده ګيره ئې وه نو وئې فرمائېل: پهٔ تاسو کښې يو کس ولې خپل ځان بدموره کوي؟ او يو سړے ئې وليدهٔ چې سر ئې خوروور ؤ نو وې فرمائېل: د خپلو وېښتو سره ښهٔ کوه يا ئې وخره يه ـ (ابوداؤد في مراسيله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ګيرې اوږدَوې او بريت اخلې او د خپلو وېښتو سپين والے بدلوې او د يهوديانو او نصرانيانو مشابهت مهٔ کوې ـ (الفتح الرباني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يهود او نصارىٰ و ښنتهٔ نهٔ رنګ کوي (خضاب نهٔ لګوي) نو تاسو د هغوې مخالفت کوې (پهٔ رنګ کولو سره بغير د تُوک تور رنګ نه) ـ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سپين وېښتهٔ مهٔ وباسې ځکه چې هغه د مسلمان نور دے ـ (مشکوٰة)

باب: پيزار، ګرزېدل، کور نه وتل، کورته راتلل، سفر

د پيزار او ګرزېدو څهٔ آداب

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک دِ پهٔ تاسو کښې پهٔ يوې څپلۍ کښې نه ګرزي يا دِ دواړه پهٔ پخو کوي او يا دِ دواړه وباسي ـ (مسلم) ۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پهٔ تاسو کښې د چا د څپلۍ تسمه وشلېږي نو پهٔ بله کښې دِ نهٔ ګرزي دې پورې چې ټيک ئې کړي ـ (مسلم)

۞ د جابر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائېلي ده چې سړے په ولاړې پيزار پهٔ پخو کړي ـ (ابوداؤد)

کور نه د وتو څۀ کلمات، کور ته د داخلیدو پۀ وخت کښې ذکر

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې سړے د خپل کور د دروازې نه وزي نو د دۀ سره پۀ دۀ مقررې دوه فرښتې وي نو چې دے ووايي: بِسمِ الله (پۀ نامۀ د الله) نو هغوی ووايي: تا ته لار وښودے شوه، او چې ووايي: لَا حَولَ وَلَا قَوةَ اِلّا بِالله (نيشتے حرکت او قوت مګر پۀ الله سره) نو هغوی ووايي: ستا حفاظت وکړے شو، او چې ووايي: تَوکّلتُ عَلَی الله (توکل مې وکړو پۀ الله) نو هغوی ووايي: تا له کافي والے وکړے شو. بيا ورسره دوه (نور شيطانان) ملګري ملاؤ شي نو هغوی ووايي: تاسو د داسې سړي نه څۀ غواړئ چا ته چې لار وښودے شوه او کافي والے ورله وکړے شو او حفاظت ئې وکړے شو. (ابن ماجه)

۞ د ابوهريرهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به د خپل کور نه روانيدلو نو فرمائېل به ئې: التُّکلَانُ عَلَی اللهِ، لَا حَولَ وَلَا قَوةَ اِلّا بِالله. (الادب المفرد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: سړے چې خپل کورته ننوزي او د ننوتو پۀ وخت کښې او د ډوډۍ خوړلو پۀ وخت کښې د الله تعالیٰ ذکر وکړي نو شيطان خپلو ملګرو ته ووايي: نۀ دِ تاسو له د شپې تېرولو ځائے وي او نۀ د ماښام ډوډۍ! او چې ننوزي او د ننوتو پۀ وخت کښې د الله تعالیٰ ذکر ونکړي نو شيطان ووايي: تاسو دِ د شپې تېرولو ځائے ومومئ! او چې د ډوډۍ خوړلو پۀ وخت کښې د الله تعالیٰ ذکر ونکړي نو شيطان ووايي: تاسو دِ د شپې تېرولو ځائے او د ماښام ډوډۍ ومومئ! (مسلم)

د سفر څۀ آداب

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې درې تنه پۀ يو سفر وُزي نو يو دِ پۀ ځان کښې امير جوړوي. (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: غوره ملګري څلور دي ـ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺفرمائيلي دي: په سفر کښې د قوم سردار (مشر) د هغوی خادم وي ـ (مشکوٰة)

۞ عبد الله بن عمر رضي الله عنه به سړي ته فرمائيل کله چې هغۀ د سفر اراده وکړه: ما ته نزدې شه چې زۀ تا رخصت کړم لکه څنګه چې به رسول اللهﷺ مونږ رخصتولو ، فرمائيل به ئې: زۀ الله تعالیٰ ته حواله کوم (الله تعالیٰ سره امانت ږدم) ستا دين، ستا امانت او ستا د عمل انجام ـ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايۀ: په ځان د شپې تلل (سفر کول) لازم کړی ځکه چې زمکه د شپې راغونډولے کيږي ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ دعاء وفرمائيله: اے الله! زما اُمت له د سحر په وخت کښې په څۀ کولو (وتلو وغيره) کښې برکت وغورزوه ـ (ابوداؤد ، ترمذي)

۞ د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ او د هغوی لښکرې چې به اوچتو ځايونو ته ختې نو تکبير بۀ ئې وې او چې ښکته به کوزيدې نو تسبيح به ئې وې ـ (ابوداؤد)

۞ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: يو سړے د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! زۀ د سفر اراده لرم نو ما له توښه راکړی ـ رسول اللهﷺوفرمائيل: الله تعالیٰ دِ تا له د تقویٰ توښه درکړي ـ هغۀ وويل: نور وفرمائی ـ رسول اللهﷺوفرمائيل: ستا ګناه دِ وبخښي ـ هغۀ وويل: نور وفرمائی ـ رسول اللهﷺوفرمائيل: تا له دِ خير آسان کړي (درکړي) هر ځائے چې تۀ يې ـ (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: په سفر کښې د قوم سردار (مشر) د هغوی خادم وي. ()

يوازې سفر کول او شپه تېرول، سفر له د تلو يوه دعاء

۞ د عطاء رحمه الله نه روايت کړے شوے دے: رسول اللهﷺ منع فرمائېلې ده چې سړے يوازې سفر کوي يا په يو کور کښې يوازې شپه تېروي. (ابوداؤد في مراسيله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ په تاسو کښې چا ته معلومه وے چې په يوازي والي کښې (د نقصان) څۀ دي نو د شپې به يوازې نۀ تۀ. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو تلونکے شيطان دے، دوه تلونکي شيطانان دي او درې تلونکي تلونکي دي. (ترمذي)

۞ د عبد الله بن سرجس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به سفر له روانېدۀ نو فرمائېل به ئې: اللّهُمّ اِنِّي أعُوذُ بِکَ مِن وَعثَاءِ السّفَرِ وَ کَآبَةِ المُنقَلَبِ وَ الحَورِ بَعدَ الکَورِ وَ دَعوَةِ المَظلُومِ وَ سُوءِ المَنظَرِ فِی الأهلِ وَ المَالِ (اے الله! زۀ پناه غواړم په تا سره د سفر د سختئ نه، د واپسئ د مصيبت نه، د زيادتئ نه روستو د نقصان نه، د مظلوم د خبرې نه او په کور والو او مال کښې د بد منظر نه). (ابن ماجه)

د سفر نه واپسي، د واپسئ څۀ کلمات، واپسئ کښې نمونځ

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سفر د عذاب يوه ټکړه ده، تاسو د خوب او خوراک څښاک نه منع کوي، نو په تاسو کښې چې څوک خپل مقصد پوره کړي نو زر دِ خپل کور ته واپس کيږي. (بخاري، مسلم)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې په تاسو کښې څوک اوږد وخت غائب (د کور نه بهر) پاتې شي نو د شپې دِ کور ته نۀ رازي. (بخاري، مسلم)

❁ د انس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره (د سفر، جهاد نه) واپس شو . کله چې د مدینې په شا (هغې ته رانزدې) شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دا فرمائیل شروع کړۀ: آئبون، تائبون، عابدون، لربنا حامدون (واپس راتلونکي، توبه ویستونکي، عبادت کونکي، د خپل رب حمد کونکي) . مسلسل ئې دا فرمائیل تر دې چې مونږ مدینې ته راورسیدو . (مسلم)

❁ د کعب بن مالک رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به د څۀ سفر نه راغے نو اول به جمات ته لاړو دوه رکعته نمونځ به ئې وکړو . (متفق علیه)

باب: د وړکي پیدائش، متعلقات

نوې پیدا شوي بچي له د برکت دعاء، تحننیک، نوم، سر خریل، عقیقه

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم له به واړۀ راوستے کیدۀ، هغوی به ورله د برکت دعاء غوښته او تحنیک به ئې ورله کولو (یعني کجوره به ئې په خپلې خلۀ مبارکه کښې ژویله او هغوی له به ئې په خلۀ کښې ورکوله) . (مسلم)

❁ د ابوموسی رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: زما یو وړکے وشو، ما رسول الله صلی الله علیه وسلم له یوړو، هغوی ورله نوم کښیښودۀ او کجوره ئې وژویله او په خلۀ کښې ئې ورله ورکړه . (مسلم)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: هلک (یا وړکے) په خپله عقیقه کښې ګاڼه وي، په وومه ورز دِ ترینه دا ذبح کړے شي، نوم دِ ورله کیښودے شي او سر دِ ورله وخریلے شي . (احمد، ترمذي، بوداد)

❁ د سلمان بن عامرؓنه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: د هلک سره عقيقه ده نو د هغۀ نه ئې ذبح کړﺉ او وينځئ ترې لرې کړﺉ. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا چې ورکے وشي او دے وغواړي چې د هغۀ نه ذبح وکړي نو د هلک نه دِ دوه بيزې او د جينۍ نه دِ يوه بيزه ذبح کړي. (ابوداؤد، نسائي)

ښۀ نومونه اېښودل، بعضې ښۀ او بد نومونه، بد نوم بدلول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: تاسو به د قيامت په ورځ په خپلو او د خپلو پلارانو په نومونو رابللے کېږئ نو خپل نومونه ښۀ ږدﺉ. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: د پېغمبرانو نومونه ږدﺉ. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ نومونه عبدالله او عبدالرحمٰن دي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ په نزد د ټولو نه بد او ذليل نوم ملک الاملاک (شاهنشاه) دے. (متفق عليه)

❁ د عبد الله بن عمرؓنه روایت دے چې رسول اللهﷺ د عاصيې نوم بدل کړو او وئې فرمائيل چې تۀ جميله يې. (ابوداؤد)

کتاب: څهٔ ضروري بابونه

باب: انسان له پکار او د هغهٔ د ژوند سره تړلي څهٔ څیزونه

عقل، تدبیر، حکمت، تجربه

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ داسې یو مخلوق نهٔ دے پیدا کړے چې هغهٔ ته د عقل نه زیات عزتمند وي. (الترمذي الحکیم فی النوادر)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشادات مروي دي: د عقل نه زیات ګران او قیمتي څهٔ مال نیشتے. د سړي د ګزارې څیز د هغهٔ عقل دے. نیشتے دین هغه چا له د چا چې عقل نهٔ وي. (اساس العربیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد روایت کړے شوے دے: پېژندل (د الله تعالیٰ) زما سرمایه ده او عقل زما اصل دین دے. (احیاء)

❁رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: نیشتے عقل پهٔ شان د تدبیر. (ابن ماجه، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ ارشاد دے: د حکمت خبره د مومن ورک شوے څیز دے چرته ئې چې ومومي نو دے د هغې زیات حقدار دے (یا چرته ئې چې ومومي نو وادِخلي). (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ یو حدیث شریف کښې مروي دي: نهٔ دے حکمت (هوښیارتوب) والا مګر د تجربې خاوند. (احمد، ترمذي، حاکم)

دین کښې د عقل فضیلت او اهمیت

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: سړے به د نمانزهٔ، روژې، زکوٰة، حج او عمرې والا وي خو د قیامت پهٔ ورز به ورته بدله پهٔ قدر د خپل عقل ملاویږي. (بیهقي)

❁ انس رضي الله عنه فرمائي: د رسول الله ﷺ په څنګ کښې د يو سړي صفت وکړے شو او خير ورله وويلے شو نو رسول الله ﷺ وفرمائيل: عقل ئې څنګه دے؟ خلقو ووې: اے د الله رسوله! مونږ د هغهٔ د عبادت، فضيلت او د اخلاقو خبره کوو ـ رسول الله ﷺ وفرمائيل: عقل ئې څنګه دے؟ ځکه چې بې عقله په خپلې بې عقلئ سره د فاجر د ګناه نه زيات لوئے ګناه ته رسي او خلق به د قيامت په ورز د خپلو عقلونو په قدر نزدې کولے کيږي ـ (ابن المخبر في کتاب العقل (احياء)

❁ رسول الله ﷺ علي رضي الله عنه ته وفرمائيل: کله چې خلق الله تعالىٰ ته په قِسم قِسم نيکيانو سره نزدې کيږي نو تهٔ ورته په عقل سره نزدې شه ـ (ابونعيم)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: اے خلقو! خپل رب وپېژنئ او په خپل مينځ کښې يو بل ته د عقل (سوچ فکر) نصيحت کوئ، په دې سره به تاسو د اوامرو او نواهيو (د کولو او د نهٔ کولو والا خبرو) نه واقف شئ، او ياد وساتئ چې عقل به تاسو ته د خپل رب په حضور کښې لوئے والے درکړي ـ (احياء)

څهٔ ښهٔ خصلتونه، درميانه والے وغيره

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: په خرچ کولو کښې ميانه روي کول نيم معيشت، د خلقو سره دوستي ساتل نيم عقل او ښکلے سوال کول نيم علم دے ـ (بيهقي)

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: ښهٔ چال چلن لرل، دوستي ساتل او ميانه روي کول د نبوت د څلوېرشتو (يا پينځويشتو) جزءونو نه يو جزء دے ـ (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: غوره په کارونو کښې درميانه والے دے ـ (نورالیقين)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: محتاج نۀ شو چا چې درمیانه والے (اعتدال) وکړو . (احمد)

څۀ متعلقه مختلفې خبرې

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: ناکامه نۀ شو چا چې استخاره وکړه او ستومانه نۀ شو چا چې مشوره وکړه. (اساس العربیه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: خپله رائے غوره کونکے بې حاجته (مُستغني) نۀ شو، او د مشورې نه (د هغې نه پس) څوک هلاک نۀ شو، پس کله چې الله تعالیٰ د یو بنده د هلاکېدو اراده کوي نو اولنے شے چې دے هلاکوي هغه د دۀ خپله رائے وي. (اساس العربیه)

۞ رسول اللهﷺ یو سړي ته وفرمائېل: کله چې تۀ د څۀ کار اراده کوې نو د هغې انجام ته ګوره. (شرح السنه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: نۀ دے خبر پۀ شان د معائنې (د سترګو لیدلو). (احمد)

۞ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: تاسو د خپلې دنیا پۀ کارونو زیات پوهه یئ. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې په تاسو کښې څوک آرزو کوي نو ګوري دِ چې د څۀ آرزو کوي ځکه چې دے نۀ پوهېږي چې دۀ له (پۀ آرزو سره) څۀ ورکولے کېږي. (الادب المفرد)

کمزورې او بېکارې نۀ ښکاره کول، همت لرل، کچرې کچرې نۀ ویېل

۞ رسول اللهﷺ د دوۀ سړو پۀ مینځ کښې فیصله وکړه نو د چا خلاف چې فیصله وشوه هغه چې واپس کېدۀ نو وئې ویېل: حَسبِيَ اللهُ وَ نِعمَ الوکِیل (ماله الله کافي دے او هغه ښۀ کارساز دے) نو رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: الله

تعالیٰ پۀ عاجزۍ (کمزورۍ، بېکارۍ، بې همتۍ) باندې ملامت کوي، تا له د وېښ والي او همت نه کار اخستل پکار دي او بیا چې هم دربانديې څۀ معامله غالبه شي نو وايه: **حَسبِيَ اللّٰهُ وَ نِعمَ الوكِيل** (ماله الله کافي دے او څۀ ښۀ کارساز دے!). (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: لوړ همت لرل د ایمان نه دي. (اساس العربیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے: الله تعالیٰ اوچتې خبرې (کارونه) خوښوي، ښکته خبرې نۀ خوښوي. (اساس العربیه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: قوي مومن د ضعیف (کمزوري) مومن نه غوره او الله تعالیٰ ته زیات خوښ دے او پۀ هر یو کښې خیر دے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: حرص (کوشش) کوه د هغې څۀ چې تا ته نفع درکوي او د الله تعالیٰ نه مدد غواړه او عاجزي (کمزوري، بېکاري) مۀ ښکاره کوه، او کۀ څۀ بد درته دورسي نو دا مۀ وایه چې کچرې ما داسې کړے وے نو داسې به وے بلکه وایه چې الله تعالیٰ مقرر کړي وو او څۀ ئې چې غوښتل هغه ئې وکړل، ځکه چې "کچرې" د شیطان عمل (ته لار) پرانزي. (مسلم)

حسب (د اوچت والي او کمال څیز)

❁ د سمره بن جندبؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: حسب (د اوچت والي او کمال څیز) مال، کرم (سخاوت وغیره) او تقویٰ ده. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: نیشتے حسب پۀ شان د ښۀ اخلاقو. (ابن ماجه، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: د مومن حسب د هغۀ اخلاق دي. (ابن حبان،حاکم)

احتیاط کول، د احتیاط ځۀ خبرې، د بل چا پۀ حق کښې احتیاط

❁ یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! احتیاط او لرې نظر کول څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چې تۀ د یو رائے والا (یا د یو عقل والا) سره مشوره وکړې او بیا د هغۀ خبره ومنې. (ابوداؤد في مراسیله)

❁ د ابن شهاب رحمه الله نه روایت دے: رسول اللهﷺ پۀ یو دېوال تېروتلو کوم چې کوږ شوے ؤ نو خپلې جامې ئې اوچتې کړې او تېز لاړو تر دې چې تېروتۀ او خپلو اصحابو ته ئې وفرمائیل چې جلدي وکړئ. (ابوداؤد في مراسیله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې شپه تېره کړې (اوده شي) د کور پۀ چت چې پرده (دېوال) ورته نۀ وي نو د هغۀ نه ذمه آزاده شوه. (ابوداؤد). پۀ یو بل روایت کښې هم داسې دي او ورسره دا هم دي: څوک چې پۀ دریاب سور شو پۀ داسې حال کښې چې موج ئې وهۀ او دے هلاک شو نو د دۀ نه ذمه خلاصه شوه. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: کله چې تاسو (پۀ سفر کښې) د شپې (د آرام دپاره) کوزېږئ نو د لارې نه بچ ووسئ ځکه چې دا د شپې د ځاروو لار او د مارانو، لړمانانو او چینجو وغیره ؤ د پاتې کیدو ځائے وي. (مسلم)

❁ د ابوثعلبه خُشَنيؓ نه روایت دے، فرمائي: کله چې به خلق پۀ څۀ منزل کښې (د آرام دپاره) کوزېدل نو د غرۀ پۀ لارو او تنګو کښې به جدا جدا کېدل نو رسول اللهﷺ ورته وفرمائیل: ستاسو پۀ دې لارو او تنګو کښې (د یو بل نه) جدا جدا کېدل د شیطان نه دي. د دې نه روستو چې به هغوئ پۀ څۀ ځائے کښې کوزېدل نو یو بل ته به ضم پاتې کېدل. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ داسې حال کښې اُودۀ شو چې پۀ لاس ئې (د خوراک) غوړوالے یا بوئې ؤ او اینزلے ئې نۀ ؤ او دۀ ته (د تکلیف) څۀ ورسېدۀ نو نۀ دِ ملامت کوي مګر خپل ځان۔ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دروازې بندوئ، د مشکونو خلې تړئ، لوښې نسکوروئ، پټوئ، ډیوې مړې کوئ،ځکه چې شیطان بند څیز نۀ شي کولاوولے او نۀ بند پرانستے شي او نۀ لوښے کولاوولے شي۔ (الادب المفرد) ۔پۀ یو بل روایت کښې ورسره مخکښې دا دي: د شپې د شروع والا حصې نه روستو ځان د خبرو نه ساتئ ځکه چې پۀ تاسو کښې څوک نۀ وي خبر چې الله تعالیٰ څۀ څۀ مخلوق خوروي۔ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خپل ماشومانان (بهر ته د وتو نه) منع کوئ دې پورې چې د شپې تیارۀ لاړه شي۔ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تاسو پۀ یوه زمکه کښې د طاعون واورئ نو هغې ته مۀ ننوزئ او چې پۀ څۀ زمکه کښې دا واقع شي او تاسو هلته یئ نو د هغې نه مۀ وزئ۔ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک خپل (مسلمان) ورور ته پۀ وسلې (اسلحې) سره اشاره نۀ کوي ځکه چې دے نۀ دے خبر کېدے شي چې شیطان د دۀ لاس راکاږي (او نقصان وشي) او دے پرې د دوزخ پۀ کنده کښې پرېوزي۔ (متفق علیه)

۞ د جابر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائېلې ده چې توره د (کاڼې نه) ویستلے شوې راواخستے شي (یا ونیوے شي)۔ (ابوداؤد، ترمذي)

د اُور احتیاط

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ خپلو کورونو کښې اُور مۀ پرېږدئ کله چې اودۀ کېږئ۔ (ابن ماجه)

❁د ابوموسیٰ رضي الله عنه نه روايت دے: پۀ مدينه کښې يو کور پۀ کور والو باندې وُسوزېدۀ، رسول اللهﷺ ته د دې قصه وُشوه نو هغوی وفرمائېل: دا اُور ستاسو دشمن دے نو کله چې تاسو اودۀ کېږئ نو دا مړ کوئ. (ابن ماجه)

❁ د ابوموسیٰ رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ مونږ ته (د څۀ خبرو) امر کړے دے او مونږه ئې (د څۀ خبرو نه) منع کړي يو. مونږ ته ئې (يو دا) امر کړے دے چې خپلې ډيوې مړې کوو. (ابن ماجه)

د تکليف او ضرر څيزونه قتلول، ماران وژل

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تکليف رسونکے څيز د تکليف رسولو نه مخکښې قتل کړئ. ()

❁ د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به د مارانو د وژلو حکم کولو او وئې فرمائېل: چا چې دوئ د بدلې اخستو د يرې نه پرېښودۀ نو هغه زمونږ نه (زمونږ پۀ طريقه) نۀ دے. (شرح السنه)

❁ د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: ماران ټول وژنئ. (ابوداؤد)

د هوا، وريځ او بارانۀ پۀ وخت کښې عمل، د وريځې پۀ ليدو د رسول اللهﷺ فکرمندي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هوا د الله تعالیٰ د رحمت (طرف) نه ده، کله رحمت راوړي او کله عذاب راوړي، نو کله ئې چې تاسو وينئ نو بد ورته مۀ وايئ او د الله تعالیٰ نه د هغې د خير سوال کوئ او د هغې د شر نه پناه غواړئ. (ابوداؤد)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: کله چې به هوا زياته شوه نو رسول اللهﷺ به وفرمائېل: اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسئَلُکَ خَيرَهَا وَ خَيرَ مَا فِيهَا وَ خَيرَ

مَا اُرسِلَت بِهِ، وَ اَعُوذُ بِکَ مِن شَرِّهَا وَ شَرِّ مَا فِیهَا وَ شَرِّ مَا اُرسِلَت بِهِ (اے الله! زۀ سوال کوم ستانه د خیر د دې او د خیر د هغې چې پۀ دې کښې دے او د خیر د هغې چې دا پرې رالېږلې شوې ده، او پناه غواړم پۀ تا سره د شر د دې نه او د شر د هغې نه چې پۀ دې کښې دے او د شر د هغې نه چې دا پرې رالېږلې شوې ده). (مسلم)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے: رسول اللهﷺ چې به د آسمان پۀ غاړو کښې خوره وریځ ولیده نو کار به ئې پرېښودۀ اګرکۀ پۀ نمانزۀ کښې به ؤ او وُ به ئې فرمائېل: اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن شَرِّهَا (اے الله زۀ پناه غواړم په تا سره د شر د دې نه) بیا کۀ به باران شروع شو نو وبه ئې فرمائېل: اللّٰهُمَّ صَیِّبًا هَنِیئًا (اے الله! خوشګوار باران). (ابوداؤد). پۀ یو روایت کښې دي چې دا به ئې فرمائېل: اللّٰهُمَّ اِنَّا نَعُوذُ بِکَ مِن شَرِّ مَا اُرسِلَ بِه (اے الله! مونږ پناه غواړو پۀ تا سره د شر د هغې نه پۀ څۀ سره چې دا راولېږلے شوه). بیا کۀ به باران راکېشو نو دوه یا درې ځله به ئې وفرمائېل: اللّٰهُمَّ صَیِّباً نَا فِعًا (اے الله! نفع ورکونکے باران وُوروې)، او کۀ الله تعالیٰ به موسم صفا کړو او باران به راکې نۀ شو نو پۀ دې به ئې د الله تعالیٰ حمد وفرمایۀ. (ابن ماجه)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به کله باران شروع کېدل ولیدۀ نو وُبه ئې فرمائېل: اللّٰهُمَّ صَیِّبًا هَنِیئًا (اے الله! خوندور باران). (ابن ماجه)

❁ د انس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: پۀ مونږ د رسول اللهﷺ سره باران شروع شو نو هغوی خپله جامه د ځان نه لرې کړه تردې چې باران ورته ورسېدۀ. مونږ عرض وکړو: تاسو ولې داسې وکړل؟ هغوی وفرمائېل: ځکه چې د دۀ د خپل رب سره یو ځائے والے وس وس شوے دے. (الادب المفرد)

۞ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به کله وریځ ولیدله نو د مخ مبارک رنګ به ئې بدل شو او دننه او بهر ته تلل او مخکښې او روستو کېدل به ئې شروع کړۀ، بیا چې به (د خیر) باران وشو نو یره به ئې ختمه شوه۔ (ابن ماجه)

باب: د سړي د خیر د څۀ خبرو بیان

بې خوفي، عافیت وغیره، د طبیعت ښۀ والے

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې ستاسو نه پۀ داسې حال کښې سحر وکړو چې پۀ خپل زړۀ کښې بې یرې او پۀ خپل بدن کښې پۀ عافیت سره ؤ نو لکه سراسر ټوله دنیا چې ورله جمع کړے شوې ده۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې سحر وکړي پۀ دې حال کښې چې پۀ امن سره وي پۀ خپل کور کښې، عافیت ئې وي پۀ بدن کښې، د یوې ورځې خوراک ورسره وي، نو لکه چې ټوله دنیا ورله جمع کړے شوه۔ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د مسلمان سړي د نیک بختۍ نه د اوسېدو ارت ځائے، نیک ګاونډي او عمده سورلۍ ده۔ (الادب المفرد)

۞ یو صحابي روایت کوي: مونږ پۀ یو مجلس کښې وو چې رسول اللهﷺ تشریف راوړو پۀ دې حال کښې چې پۀ سر مبارک ئې د اُوبو اثر ؤ، پۀ مونږ کښې ورته چا وویېل: نن مونږ تاسو په ښۀ طبیعت کښې اینو۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: آ، ټیک ده الحمد لله! ... څوک چې تقویٰ لري هغۀ له صحت د غني والي نه غوره دے او د طبیعت ښۀ والے د نعمت او سوکالۍ نه دے۔ (ابن ماجه)

د الله نه د عافیت سوال کول

❁ د ابوبکرؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ پهٔ منبر ودرېدهٔ او ارشاد ئې وفرمايهٔ: د الله تعالیٰ نه د معافۍ او عافیت سوال کوۍ ځکه چې چا ته د یقین نه روستو د عافیت نه غوره څهٔ نهٔ دي ورکړے شوي ـ (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ یو سړے د رسول اللهﷺ پهٔ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! کومه دعاء د ټولو نه غوره ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله نه پهٔ دنیا او پهٔ آخرت کښې معافي او عافیت غواړه ـ صبا له بیا هغه سړے راغے او عرض ئې وکړو: اے د الله نبي! کومه دعاء د ټولو نه غوره ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله نه پهٔ دنیا او پهٔ آخرت کښې معافۍ او عافیت غواړه ځکه چې کله تا ته پهٔ دنیا او پهٔ آخرت کښې معافي او عافیت درکړے شو نو تهٔ کامیاب شوې ـ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د الله تعالیٰ نه پهٔ غوښتے کېدونکو څیزونو کښې هغهٔ ته د دې نه زیات خوښ څهٔ نیشتي چې د هغهٔ نه د عافیت (یا معافۍ) سوال وکړے شي ـ (ترمذي)

❁یو سړي پهٔ دعاء کښې ووې: اے الله! زهٔ ستا نه د صبر سوال کوم ـ رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: تا د خپل رب نه د مصیبت سوال وکړو نو وس ترېنه د عافیت سوال وکړه ـ (الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺ د یو ارشاد مفهوم دے: د مصیبت د راتلو نه مخکښې کهٔ بنده د الله تعالیٰ نه د عافیت سوال وکړي نو الله تعالیٰ هغه مصیبت دفع کوي ـ (مشکوٰة)

خپل عزت ساتل، ځان نهٔ بې پردې کول

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: پهٔ څهٔ چې سړے د خپل عزت حفاظت کوي پهٔ هغې ورله صدقه ليکلے کيږي. (ابويعلیٰ)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د دې ګندګيانو (قبيحو عملونو، زنا وغيره ؤ) نه لرې ووسئ د کومو نه چې الله تعالیٰ منع فرمائيلې ده خو کهٔ څوک پکښې اخته شي نو د الله تعالیٰ پهٔ پردې سره دِ پټ شي او الله تعالیٰ ته دِ توبه وباسي ځکه چې کهٔ چا مونږ (حکومت والو) ته ښکاره کول وکړهٔ نو مونږ به پرې د الله تعالیٰ کتاب (حکم) جاري کوو. (حاکم)

د تهمت د ځائے نه بچ کېدل، د تهمت او بدګمانۍ چا ته موقع نهٔ ورکول

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د تهمتونو د ځايونو نه لرې ووسئ. ()

❁ د انسؓ نه روايت دے، فرمائي:پهٔ دې مينځ کښې چې رسول اللهﷺپهٔ خپلو بيبيانو کښې د يوې بي بي سره ؤ چې پهٔ هغوی يو سړے تېروتلو، رسول اللهﷺهغه راوُغوښتهٔ او ورته ئې وفرمائيل: اے فلانيه! دا زما فلانۍ ته ده. هغهٔ ووې: پهٔ چا کهٔ زهٔ ګمان کوم خو پهٔ تاسو نهٔ کوم. رسول اللهﷺوفرمائيل: شيطان پهٔ ابن آدم کښې د وينې پهٔ شان چلن کوي. (الادب المفرد)

پخپله ځان له مصيبت او ذلّت نهٔ اخستل

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: د مصيبت د نازلېدو نه مخکښې د هغې دپاره جلدي مهٔ کوئ. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: مومن له پکار نهٔ ده چې خپل ځان ذليل کړي. صحابه کرامو عرض وکړو: خپل ځان به څنګ ذليل کوي؟ رسول اللهﷺ

وفرمائېل: چې داسې مصيبت ته آخوا شي د کوم ئې چې طاقت نۀ وي ـ (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ خپله خوښه او پۀ زور ځان پۀ ذلّت کښې وغورزوۀ هغه زمونږ نه نۀ دے ـ (طبراني)

د آخرت عذاب پۀ دنيا کښې نۀ غوښتل، د دنيا او د آخرت خير غوښتل

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت کړے شوے دے: رسول اللهﷺ د مسلمانانو د يو سړي تپوس له لاړو کوم چې ډېر کم شوے او د چرګوړي پۀ شان شوے ؤ ـ رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: تا د څۀ شي دعاء کوله او د الله تعالىٰ نه دِ د څۀ سوال کولو؟ هغۀ ووې: آ، ما دا ويېل: اے الله! کوم عذاب چې تۀ ما له پۀ آخرت کښې راکوې هغه ما له وس زر پۀ دنيا کښې راکړه ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سبحان الله! تۀ د هغې طاقت نۀ لرې؛ تا داسې ولې نۀ وې: اللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنيَا حَسَنَةً وَّفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّار (اے الله! راکړه مونږ له په دنيا کښې ښۀ حالت او پۀ آخرت کښې ښۀ حالت او وساته مونږ د دوزخ د اور نه) ـ راوي وايي: بيا رسول اللهﷺ هغۀ له د الله تعالىٰ نه دعاء وغوښته الله تعالىٰ هغۀ له شفا ورکړه ـ (مسلم)

باب: د بدن وغيره متعلق څۀ مختلف څيزونه

د فطرت لس خبرې

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: لس خبرې د فطرت نه دي: برېت (ژور) واړۀ کول (يا خريل)، ګېره اوږدول، مسواک کول، پوزه کښې اُوبۀ اچول، نوکونه پرې کول، د ګوتو غوټې اينزل، د ترخ وېښتۀ ويستل (يا خريل)، د نامۀ نه لاندې وېښتۀ خريل، استنجاء کول (او خلې ته اُوبۀ اچول) ـ (مسلم) ـ پۀ يو روايت

کښې د دې پينځۀ ذکر دے: برېت (ژور) واړۀ کول (يا خريل)، د ترخ وېښتۀ ويستل (يا خريل)، نوکونه پرې کول، د نامۀ نه لاندې وېښتۀ خريل او ختنه کول. (نسائي)

مسواک کول، د هغې فائدې، د رسول اللهﷺ د مسواک کولو عادت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جبرئيل (عليه السلام) چې کله هم زما څنګې ته راغے نو ما ته ئې د مسواک حکم راکړو؛ زۀ يرېدم چې د خپلې خلې مخکښې حصه (يا اُورى) به راوخېژوم. (احمد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مسواک پۀ ځان لازم کړى ځکه چې پۀ دې کښې لس خبرې (فائدې) دي: خلۀ پاکوي، رب راضي کوي، شيطان خفه کوي، رحمٰن او کرام کاتبين ئې خوښوي، اُورى مضبوطوي، بلغم غوځوي، د خلې بوئې ښۀ کوي، صفرا مړه کوي، نظر تېزوي او د ترخ بدبو ختموي، او دا سنت دے. (المنبهات)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: مسواک د خلې پاکونکے او د رب راضي کونکے دے. (شافعي، بخاري، نسائي، احمد ، دارمي)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه تپوس وکړے شو: رسول اللهﷺ چې بۀ کور ته تشريف راوړو نو د څۀ نه به ئې شروع فرمائېله: هغې وفرمائېل: د مسواک نه. (مسلم)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به نۀ اودۀ کېدۀ د شپې او يا د ورزې خو چې کله به راوېښ شو نو مسواک به ئې کولو د اودس کولو نه مخکښې. (احمد ، ابوداؤد)

پاکي، ښائست، رانجهٔ، خوشبو، خوشبو نهٔ واپس کول

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: پاکي (صفائي) نیم ایمان دے (یا د ایمان حصه ده). (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: دین پهٔ پاکۍ باندې جوړ شوے دے. (نورالیقین)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ ښائسته دے او ښائست خوښوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ د بنده نه دا خوښوي چې خپلو (مومنانو) رونو له ښائست وکړي (نوې جامې ورله واغوندي وغیره) کله چې ورته راوُزي. (ابن عدي)

❁ د خالد بن زید رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺ یوه شیشه او د رنجو تبلۍ وه. (ابوداؤد في مراسیله)

❁ د ابن عباسؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به د اودهٔ کېدو نه مخکښې پهٔ هره سترګه کښې درې پېرې رانجهٔ پورې کول. (الترمذي فی الشمائل)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د سړو خوشبو هغه ده د کومې چې بوئي ښکاره او رنګ پټ وي، او د ښځو خوشبو هغه ده د کومې چې رنګ ښکاره او بوئي پټ وي. (الترمذي فی الشمائل)

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ یو حدیث مبار کښې ارشاد مروي دے: مشک د ټولو نه ښهٔ خوشبو ده. (مسلم)

❁ د عليؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ پهٔ څهٔ کسانو تېروتلو پهٔ کومو کښې چې یو سړے ؤ چې خَلوق خوشبو ئې لګولې وه. رسول اللهﷺ

هغوی ته وکتل او سلام ئې پرې ووې او د دغه سړي نه ئې مخ واړولو ـ هغهٔ ووې: تاسو زما نه مخ واړولو؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستا د سترګو پهٔ مینځ کښې انګاره ده ـ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايهٔ: چا ته چې څهٔ خوشبو پيش کړے شي نو نهٔ دِ واپس کوي ـ (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا ته چې ريحان پيش کړے شي نو نهٔ دِ واپس کوي ځکه چې دا پهٔ اوړلو کښې سپک او ښهٔ بوئي والا دے ـ (مسلم)

❁ د انس‌رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به خوشبو نهٔ واپس کوله ـ (بخاري)

د سپي او پيشو جوټه، غوړو کښې منږک ارتاوېدل، لوښي کښې مچ پرېوتل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: لوښي کښې چې کله سپے خلهٔ ووهي نو هغه به وهٔ پېرې اينزلے کيږي، اولنی يا آخرنی به پهٔ خاورو سره (مږل) وي، او کله چې پکښې پيشو خلهٔ ووهي نو يوه پېره به اينزلے کيږي ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ د پيشو متعلق وفرمائيل: دا ناپاکه نهٔ ده (يعني جوټه ئې پاکه ده)، دا ستاسو د ډېر ډېر طواف کونکو (يعني ستاسو څنګ ته د بار بار راتلونکو) نه ده ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې منږک پهٔ غوړو کښې وغورزيږي (او مړ شي) نو کهٔ غوړي کلک وي نو دا (منږک) او د دې نه چاپېره ځائے ارتاؤ کړی او کهٔ ويلي وي نو بيا ورته مهٔ نزدې کيږی ـ (احمد، ابوداؤد، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پهٔ تاسو کښې د يو کس پهٔ لوښي کښې مچ پرېوزي نو هغه (پهٔ شوروا وغيره کښې) غوپه کړی ځکه چې د هغهٔ پهٔ يو

وزر کښې مرض او په بل کښې شفا وي. د مرض والا وزر هغه مخکښې کوي نو د ے دِ هغه ټول غوپه کړي. (ابوداؤد)

باب: عام مباح (حلال) څیزونه

نۀ منع کېدونکي یا شریک څیزونه، د اُوبو څۀ ذکر

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې څیزونه دي چې نۀ شي منع کېد ے: اُوبۀ، واښۀ (ګیا) او اُور. (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: عائشې رضي الله عنها عرض وکړو: ا ے د الله رسوله! هغه څۀ شے د ے چې منع ترې حلاله نۀ ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اُوبۀ، مالګه او اُور . (ابن ماجه)

✿رسول اللهﷺ وفرمائېل: مسلمانان په درې څیزونو کښې شریک دي: په اُوبو، وښو او اُور کښې. (ابن ماجه)

✿د ایاس بن عبد مزني رضي الله عنه نه روایت کړ ے شو ے د ے، فرمائي: اُوبۀ مه خرڅوۍ ځکه چې ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي چې هغوۍ د اُوبو د خرڅولو نه منع فرمائېلې ده. (هغه چې سِوا وي یا ځان له په لوښي وغیره کښې ایښودے شوي نۀ وي) (ابن ماجه)

✿ د جابر رضي الله عنه نه روایت د ے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائېلې ده د سِوا (زیاتې شوو) اُوبو د خرڅولو نه. (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په تاسو کښې دِ څوک سِوا اُوبۀ منع نکړي چې (د څاروو) ګیا پرې منع کړي (د هغې اُوبۀ خور). (ابن ماجه)

کتاب: شکر او ناشکري، متعلقات

باب: شکر و ثنا، د نعمت اظهار، قدرداني، وغیره

شکر ویستل، ثنا او اَلحَمدُ لله ویېل، د شکر سجده کول، د نعمت اثر ښکاره کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: شکر ویستونکے (خوراک) خوړونکے د صبر کونکي روژه نیونکي پۀ شان دے. (ترمذي، ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: چا ته چې څۀ نعمت ملاؤ شي نو شکر دِ پرې وُباسي. (القرآن و التصوف)

❁ د مغیرهؓ (یا عائشې رضي الله عنها) نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به عبادت ته دومره ودرېدۀ چې پخې به ئې وپړسېدې، عرض ورته وکړے شو: تاسو ولې دا کوۍ ستاسو خو مخکښېني او روستني ګناهونه معاف کړے شوي دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نو بیا زۀ شکرګزار بنده نۀ شم؟ (متفق علیه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ د هغه بنده نه خوشحالیږي کوم چې ډوډۍ وُخوري او د هغۀ ثنا پرې ووایي او اُوبۀ وڅښي او د هغۀ ثنا پرې ووایي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې یو بنده له څۀ نعمت ورکړي او هغه اَلحَمدُ لله ووائي نو څۀ ئې چې ورکړۀ دا د هغې نه غوره دي څۀ ئې چې واخستۀ. (ابن ماجه)

❁ د ابوبکرهؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ته چې به د خوشحالۍ څۀ خبره ورسېده نو پۀ سجده کښې به پرېوتلو. (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالىٰ خوښوي کله چې هغه خپل بنده له څۀ نعمت ورکړي چې د خپل نعمت اثر پۀ هغۀ ويني - (بيهقي) - پۀ يو بل روايت کښې دي: بېشکه الله تعالىٰ خوښوي چې د هغۀ پۀ بنده د نعمت اثر وليدے شي - (ترمذي)

د ځان نه ښکته ته کتل، د مصيبت والا کس پۀ ليدو پۀ خپل عافيت د الله حمد و شکر

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: د ځان نه ښکته خلقو ته ګورئ د ځان نه بره خلقو ته مۀ ګورئ پۀ دې به تاسو د الله تعالىٰ نعمت کوم چې تاسو سره وي معمولي نۀ ګڼئ - (متفق عليه)

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک داسې چا ته وګوري چې د دۀ نه پۀ مال او صورت کښې غوره وي نو داسې چا ته دِ وګوري چې د دۀ نه (پۀ دې کښې) ښکته وي - (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې پۀ دنيا کښې د ځان نه ښکته ته وکتل او پۀ دين کښې ئې د ځان نه بره ته وکتل نو الله تعالىٰ به ئې صبر کونکے او شکر کونکے وليکي - (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺنه د دې مفهوم حديث روايت کړے شوے دے: د مالدارو څنګ ته کم زئ چې تاسو د الله تعالىٰ نعمتونه معمولي (سپک) ونۀ ګڼئ - (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا سره چې يو مصيبت والا ملاؤ شو نو دۀ وويې: الحَمدُ لِلّهِ الّذِي عَافَانِي مِمّا ابتَلَاکَ بِهِ وَ فَضّلَنِي عَلىٰ کَثِيرٍ مِّمّن خَلَقَ تَفضِيلا (حمد دے هغه الله لره چا چې زۀ بچ ساتلے يم د هغې (مصيبت) نه پۀ کوم کښې ئې چې ته مبتلا کړے يې او زۀ ئې غوره کړے يم پۀ خلقو کښې د ډېرو نه) نو دے به د دغه مصيبت نه بچ وساتلے شي څۀ چې هم وي - (ابن ماجه)

د خلقو شکر، نیکۍ کونکي له شکر، بدله، دعاء او مدح

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د خلقو شکر ادا نکړو هغۀ د الله شکر ادا نکړو (د الله شکر نۀ ادا کوي څوک چې د خلقو شکر نۀ ادا کوي) ـ (احیاء، الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: څوک چې تاسو سره څۀ نیکي وکړي نو تاسو هغۀ ته بدله ګرزوۍ، کۀ د بدلې څۀ نۀ مومۍ نو دعاء ورله غواړۍ تر دې چې تاسو پوهه شۍ (یا هغه پوهه شي) چې تاسو هغۀ ته بدله ګرزولې ده ـ (نسائي، الادب المفرد) ـ پۀ یو بل حدیث شریف کښې داسې دي: چا سره چې څۀ نیکي وکړے شي نو دے دِ د هغې بدله وګرزوي او کۀ د بدلې څۀ نۀ مومي نو د هغۀ ثنا (صفت) دِ وکړي ځکه چې کله دۀ د هغۀ ثنا وکړه نو د هغۀ شکر ئې ادا کړو او کۀ پټول ئې وکړۀ نو د هغۀ ناشکري ئې وکړه ـ (الادب المفرد) ـ پۀ یو بل حدیث

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایۀ: چا سره چې څۀ نیکي وکړے شوه او دۀ د هغې کونکي ته ووې: جَزَاکَ اللّٰهُ خَیرًا (الله دِ تا له بدله درکړي د خیر) نو دا ئې ډېره مدحَ وکړه ـ (ترمذي)

باب: ناشکري، شکایت، بې صبري (ځان ختمول)

د رزق د تنګ والي شکایت او پۀ هغې ناراض والے، خپل بنۀ حال ته بد ویېل

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: کوم سړے چې د رزق د تنګ والي شکایت (ګیله، فریاد) کوي نو لکه چې د الله تعالیٰ شکایت کوي ـ (تذکرة الواعظین)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم سړے چې پۀ لږ رزق راضي نۀ وي د هغۀ پۀ زړۀ کښې ګراني پيدا کيږي او پۀ آخرت کښې د عملنامې د وزن کېدو او پۀ پل صراط د تېروتو پۀ وخت کښې به ورته بې آرامي او بې تابي رسي. (تذکرة الواعظين)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د الله تعالیٰ پۀ نزد د ټولو نه بد عمل "تحريف" دے. عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! تحريف څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سړے پۀ خيريت سره وي ګاونډي يا ملګرے ترې تپوس وکړي نو دے ووايي چې ډېر بد حال دے. (طبراني)

د مرګ آرزو او د هغې دعاء، خودکشي کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک د مرګ آرزو نۀ کوي د څۀ تکليف نه چې ورته ورسي. کۀ خامخا کونکے وي نو بيا دِ داسې وايي: اے الله! ما ژوندے ووسوه څو پورې چې ژوند ما له غوره وي او مړ مِ کړه کله چې مرګ ما له غوره وي. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک د مرګ آرزو ونکړي، يا به دے نيکي کونکے وي نو نيکيانې به ئې زياتې شي او يا به بدي کونکے وي نو شايد چې توبه وباسي. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک د مرګ آرزو نۀ کوي او نۀ دِ د هغې د راتلو نه مخکښې هغې له دعاء غواړي. دے چې مړ شي نو عمل به ئې بند شي او د مومن عمر هغۀ له نۀ زياتوي مګر خير. (مسلم)

۞ د خبابؓ نه مروي دي: کۀ رسول اللهﷺ مونږه د مرګ د دعاء نه نۀ وے منع کړے نو ما به غوښتلې وه. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: چا چې خپل ځان پۀ څۀ شي سره قتل کړو د قيامت پۀ ورځ به ورته پۀ هغه شي سره عذاب ورکولے

کيږي۔ (ابوداؤد) ۔ پۀ يو بل روايت کښې داسې دي: چا چې پۀ څۀ شي سره ځان ذبح کړو د قيامت په ورز به دے پۀ هغه شي سره ذبح کړے شي۔ (مسلم)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستاسو نه پۀ مخکښې خلقو کښې يو سړے ؤ چې زخم ورته شوے ؤ، صبر ئې ونکړو چاړۀ ئې راواخسته او خپل لاس ئې غوڅ کړو، وينه ئې نۀ ودرېده تر دې چې مړ شو، الله تعالىٰ وفرمائېل: زما بنده خپل ځان زما نه مخکښې کول وغوښتۀ ما پرې جنت حرام کړو۔ (بخاري)

❁ د جابر بن سمرهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺته يو سړے (مړے) راوړے شو چې ځان ئې پۀ نېزه وژلے ؤ نو دوی پرې د جنازې نمونز ونکړو۔ (مسلم)

کتاب: سړي، ښځې، بې پردګي، بې حيائي، متعلقات

باب: د سړو او د ښځو د يو بل پۀ نسبت څۀ څيزونه

سړو او ښځو له د يو بل نه تباهي، د ښځو فتنه

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: هر سحر دوه فرښتې دا آواز کوي: تباهي ده سړو له د ښځو نه او تباهي ده ښځو له د سړو نه۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما د ځان نه پس د سړو دپاره د ښځو نه زياته ضرر رسونکې فتنه نۀ ده پرېښې۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: تاسو وُيرېږئ د ښځو نه ۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمايل: ښځۀ د شيطان پۀ صورت کښې مخامخ کيږي او د شيطان پۀ صورت کښې پۀ شا کيږي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمايل: ښځې د شيطان (د ښکار) رسۍ دي. (مشکوٰۃ)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمايل: ښځې (پۀ ذکر او حکم کښې) روستۍ کوۍ څنګه چې الله تعالیٰ هغوۍ روستۍ کړي دي. (مشکوٰۃ)

د ښځو او سړو د يو بل مشابهت کول

۞ د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ لعنت ويېلے دے پۀ هغه ښځو چې د سړو مشابهت کونکې وي او پۀ هغه سړو چې د ښځو مشابهت کونکي وي. (بخاري)

۞ د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ لعنت ويېلے دے پۀ ښځو جوړېدونکو سړو (مخنثينو) او پۀ سړو جوړېدونکو ښځو (مترجلاتو) باندې. (ابوداؤد)

۞ د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ لعنت ويېلے دے پۀ هغه سړي کوم چې د ښځې جامې اغوندي او پۀ هغه ښځې کومه چې د سړي جامې اغوندي. (ابوداؤد)

باب: بې پردګي وغيره

پرده او ستر نۀ کول

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: جينۍ چې کله بالغه شي نو نۀ دي جائز چې وليدے شي د هغې نه سوا د هغې د مخ نه او د مړوندونو پورې د لاسونو نه. (ابوداؤد في مراسيله)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائيل: سړے دِ د سړي عورت (د پتولو يا د شرم ځائے) ته نۀ ګوري او نۀ دِ ښځه د ښځې عورت ته ګوري، او سړے دِ د سړي سره پۀ يو ټوکي کښې نۀ څملي او نۀ دِ ښځه د ښځې سره پۀ يو ټوکي کښې څملي - (مسلم)

۞ د علي رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول الله ﷺ هغۀ ته وفرمائيل: اے علي! خپل رون مۀ بربنډوه او مۀ د ژوندي رون ته ګوره او مۀ د مړي - (ابوداؤد، ابن ماجه)

۞ د جرهد رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول الله ﷺ وفرمائيل: تۀ نۀ ئې خبر چې رون عورت دے؟ (ترمذي، ابوداؤد)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائيل: ځان د بربنډيدلو نه ساتئ ځکه چې ستاسو سره هغه څوک دي چې ستاسو نه نۀ جدا کيږي مګر د قضاءِ حاجت پۀ وخت کښې او کله چې سړے خپلې ښځې ته نزدې کيږي؛ نو د هغوی نه حيا (شرم) کوئ او د هغوی اکرام کوئ - (ترمذي)

۞ د معاويه بن حيده رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمائيل: خپل عورت وساته مګر د خپلې ښځې يا وينزې نه - ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! کۀ سړے يوازې وي؟ هغوی وفرمائيل: الله تعالیٰ زيات حقدار دے چې حيا ترې وکړے شي - (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

نامحرمې سره پۀ خوشي ځائے کښې پاتې کيدل

۞ رسول الله ﷺ وفرمائيل: ځان پۀ خوشي ځائے (خلوت) کښې د ښځو نه ساتئ - يو انصاري ووئيل: د خاوند د ورور (يا د هغۀ د رورۀ وغيره) څۀ حکم دے؟ رسول الله ﷺ وفرمائيل: هغه خو مرګ دے - (متفق عليه)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائيل: خبردار! څوک سړے دِ د يوې ښځې سره شپه تيره نکړي مګر دا چې خاوند وي يا محرم - (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو سړے دِ د يوې ښځې سره يوازې پاتې نۀ شي خو کچرې هغې سره محرم وي ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هغه ښځو کره مۀ زئ، د کومو چې خاوندان غائب وي ځکه چې شيطان پۀ تاسو کښې د يو کس پۀ وينه کښې (يا د ويني پۀ شان) چلن کوي ـ (ترمذي، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: يو سړے د يوې ښځې سره نۀ يوازې کيږي مګر دريم ئې شيطان وي ـ (ترمذي)

د ښځې يوازې يا د محرم نه بغير سفر کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جائز نۀ دي يوې ښځې له کومه چې پۀ الله تعالىٰ او د آخرت پۀ ورز ايمان لري چې د دريو يا د دريو نه د زياتو ورزو سفر وکړي مګر دا چې د هغې سره د هغې پلار يا ورور يا خاوند يا زوے او يا بل څوک محرم وي ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ښځه دِ د يوې ورزې او يوې شپې پۀ مقدار سفر نۀ کوي مګر دا چې محرم ورسره وي ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: ښځه دِ سفر ونکړي مګر د محرم سره ـ (مسلم)

باب: بې باکي، بې حيائي، بدنظري، بدکاري

د ښځې بهر ته وتل، ګرزېدل، بې حيا او بې باکه ښځې

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ښځه عورت (د شرم او د پټ ساتلو شے) دے، پس کله چې هغه (بغير د شرعي عذر نه) بهر ته وزي نو شيطان ورته کتل شروع کوي ـ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه ښځه چې په زيب و زينت کښې په ناز او چل سره په غيرو خلقو کښې ګرزېدونکې وي د قيامت په ورز د هغې مثال د تيارې دے، هيڅ رڼا به ورله نۀ وي۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دوزخيانو نه دوه داسې قِسمونه دي چې ما نۀ دي ليدلي: داسې کسان چې د هغوی سره د غواګانو د لکو په شان کوړې وي چې خلق پرې وهي، او جامې اغوستونکې بربنډې، مائله کونکې، مائله کېدونکې ښځې چې سرونه ئې د بختي اسونو د قوبونو په شانې وي۔ دوی به جنت ته نۀ شي داخلېدے او د هغې بوئي به هم نۀ شي موندے او حال دا دے چې د هغې بوئي به د دومره دومره فاصلې نه محسوسيږي۔ (مسلم)

بدنظري کول، د چا کور کښې دننه کتل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ لعنت دِ وي په هغه چا ځوک چې بدنظري کوي او په هغه چا چا ته چې بدنظري کيږي۔ (مشکوٰة)

۞ رسول اللهﷺ علي رضي الله عنه ته وفرمائېل: په نظر پسې نظر مۀ کوه، تا له اولنے نظر دے (چې قصداً نۀ وي)، تا له دويم نظر نۀ دے (چې قصداً) وي۔ (ابوداؤد، ترمذي، دارمي)

۞ د جرير رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه د ناڅاپي نظر په باره کښې تپوس وکړو نو هغوی ماته حکم وکړو چې زۀ خپل نظر اړَوم۔ (مسلم)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت دے وئې فرمائېل: کچرې يو سړے ستا کور کښې دننه ګوري او تۀ ئې په يو کاڼي وولې او د هغۀ سترګه وچوي نو په تا به څۀ ګناه نۀ وي۔ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو مسلمان سړي له جائز نۀ دي چې د يو کور دننه حصې ته وګوري مګر چې اجازت وغواړي۔ (الادب المفرد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کله چې نظر داخل شو نو بیا اجازت نیشتے ۔ (الادب المفرد)

زنا کول، د سترګو ، غوږونو ، ژبې، لاسونو ، پښو او د زړۀ زنا وغیره

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: کله چې بنده زنا کوي نو د هغۀ نه (په دغه وخت کښې) ایمان وزي ۔ (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د سترګو زنا(په شهوت سره) کتل دي، د غوږونو زنا (د شهوت) خبرې اورریدل دي، د ژبې زنا (د شهوت) خبرې کول دي، د لاس زنا نیول دي، د پښو زنا قدمونه اخستل دي او د زړۀ زنا داده چې هغه خواهش او آرزو کوي ۔ (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: هره سترګه زنا کونکې وي او کومه ښځۀ چې عطر ولګوي او په مجلس تېرېږي نو هغه داسې داسې ده یعني زنا کونکې ۔ (ترمذي، نسائي، ابوداؤد)

❁ د رسول الله ﷺ نه په هغه وۀ کسانو کښې چا ته چې به الله تعالی د قیامت په ورز ونۀ ګوري او پاک به ئې نکړي او دوزخ ته به ئې داخل کړي یو هغه کس هم روایت کړے شوے دے کوم چې په لاس سره مني راوخکونکے وي ۔ (المنبهات)

بدفعلي، د ښاروي سره بدکاري

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ به داسې سړي ته (د رحمت) نظر نۀ کوي کوم چې د یو سړي سره یا د یوې ښځې سره د روستو طرف نه ملاؤ شي ۔ (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: چا چې د لوط (علیه السلام) د قوم عمل وکړو دے به په دوزخ کښې نسکور کړے شي او عذاب به ورله ورکولے کېږي ۔ ()

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې تاسو بيامومئ چې د لوط (عليه السلام) د قوم عمل کوي نو فاعل او مفعول دواړه قتل کړئ (يعني ډېره سخته سزا ورله ورکړئ). (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د څاروي سره بدکاري وکړي هغه قتل کړئ (يعني ډېره سخته سزا ورله ورکړئ). (ابوداؤد)

کتاب: معاملات

باب: لين دين، تجارت، بيع وغيره، متعلقات (مُثبت، منفي)

د تجارت تاکيد، اهميت، ښۀ تجارت کونکے (تاجر)

۞ د ابن شهاب رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺحکيم بن حزامرضي الله عنه ته د ټوکو او د غلې د تجارت حکم وفرمايۀ. (ابوداؤد في مراسيله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: تجارت لازم ونيسئ چې پۀ دې کښې د رزق لس اتيا حصې دي. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د انسانانو د رزق پۀ لسو کښې نهه حصې د تجارت نه دي. (فقه المعاملات)

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: رشتونے تجارت کونکے به د قيامت پۀ ورز د صديقينو او شهداؤ سره راپاڅولے کيږي. (ترمذي، حاکم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: رشتونے، امانت دار تاجر به د قيامت پۀ ورز د نبيانو، صديقينو او شهداؤ سره وي. (ترمذي، دارمي، دارقطني، ابن ماجه)

بيع کښې آساني، نرم سلوک، چا ته بيع واپس کول (اِقاله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ دِ رحم وکړي په هغه بنده کوم چې په خرڅولو، اخستلو، اداکولو او غوښتلو کښې آساني (او خلقو سره ګزاره) کوي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: الله تعالیٰ دِ هغه سړے جنت ته داخل کړي کوم چې په خرڅولو او اخستو کښې آساني پيدا کونکے وي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ګزارې او نرمۍ سلوک کوه ستا سره به (په قيامت کښې) د ګزارې او نرمۍ سلوک وکړے شي. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې يو مسلمان ته بيع واپس (اقاله) کړه نو الله تعالیٰ به ئې د قيامت په ورز ګناهونه معاف کړي. (ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې يو ستومانه له د هغۀ سودا ماته (واپس) کړه نو الله تعالیٰ به د قيامت په ورز د دۀ ګناه مات (معاف) کړي. (ابوداؤد)

شُفعه، د شفعې حق

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: ګاونډي د خپل ګاونډي د شُفعې زيات حقدار دے، انتظار به ورته کېږي اګرکۀ غائب وي، کۀ د دواړو لار يوه وي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: ګاونډي د خپل نزدې والي د وجې نه زيات حقدار دے. (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: د چا چې زمکه وي او دے د هغې د خرڅ اراده وکړي نو خپل ګاونډي ته دِ پيش کړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: د چا چې د کجورو باغ يا زمکه وي نو دے دِ هغه نۀ خرڅوي تر څو ئې چې خپل شريک ته پيشکش ونکړي. (ابن ماجه)

رهن (ګانه)، خپل غلا شوے شے موندل

✿ د سعید بن مسیب رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ فیصله وفرمائیله: رهن مُرتهن ته نه شي پاتي کېدے (د هغهٔ حق نهٔ شي جوړېدے) مالک له ئې د هغې نفع ده او پهٔ دهٔ ئې تاوان دے. (ابوداؤد في مراسیله)

✿ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ د یو یهودي نه د څهٔ نېټې پورې د خوراک څهٔ شے واخستهٔ او د هغهٔ سره ئې خپله د وسپنې یوه زغره ګانه (رهن) کېښوده. (متفق علیه)

✿ رسول اللهﷺ فیصله وفرمائېله چې چا خپل غلا شوے څیز د یو سړي سره چې تهمت والا (یعني پټونکے وغیره) نهٔ وُ وُموندهٔ نو که د دهٔ خوښه شي نو پهٔ هغه قیمت دِ واخلي پهٔ کوم چې دغه سړي اخستے دے او کهٔ ئې خوښه شي نو پهٔ غلا کونکي پسې دِ شي. (ابوداؤد في مراسیله)

پهٔ اُجرت سره عمل، اُجرت د مخکښې نه مقرر کول، پهٔ وخت ورکول

✿ د عکرمهرضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ حجامت وفرمایهٔ او حجام له ئې د هغهٔ اُجرت یو دینار ورکړو. (ابوداؤد في مراسیله)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې یو اجیر (مزدور) نیسي نو اُجرت (مزدوري) دِ ورله (د اول نه) مقرر (طے) کوي. (بیهقي)

✿ د ابوسعید خدريرضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ منع فرمائېلې ده د مزدور (اجیر) د نیولو نه تر دي چې هغهٔ له د هغهٔ مزدوري (اُجرت) بیان کړے شي. (ابوداؤد في مراسیله)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائیل: مزدور له د هغهٔ مزدوري ورکوئ مخکښې د دې نه چې د هغهٔ خوله وچه شي. (ابن ماجه)

بد تجارت کونکي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تاجران به د قیامت پۀ ورز فاجران راپاڅولے کیږي مګر کوم چې د الله تعالیٰ نه یریږي، رشتونے قسم خوري او رشتیا وایي۔ (ترمذي،ابن ماجه، دارمي، بیهقي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: تاجران فاجران دي۔ عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! ولې الله بیع حلاله کړې نۀ ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ده لیکن دوی قسمونه خوري نو ګنهګاریږي او خبرې کوي نو دروغ وایي۔ (احمد ،حاکم، بیهقي)

بیع کښې قَسَمونه، فضول خبرې، د خرڅ د شي عیب نۀ ښودل

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: پۀ بیع کښې د قسَم نه ځان ساته ځکه چې دا زیاتول کوي خو بیا کمول کوي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: قسم د خرڅ د سامان زیاتونکے او د ګټې کمونکے دے۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: اے د تجات کونکو ټولګیه! پۀ خرڅولو او اخستو کښې قسمونه خوړل او لغو فضول خبرې کول رازي نو تاسو ئې پۀ صدقې سره لرې کوی۔ (ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: چا له جائز نۀ دي چې څۀ شے خرڅ کړي مګر دا چې د هغې عیب وښایي او چا ته چې عیب معلوم وي هغۀ له جائز نۀ دي چې وئې نۀ ښایي۔ (حاکم، بیهقي)

❁ رسول اللهﷺفرمائیلي دي: مسلمان د مسلمان ورور دے او یو مسلمان له جائز نۀ دي چې پۀ خپل ورور داسې شے خرڅ کړي پۀ کوم کښې چې څۀ عیب وي مګر هغه دِ ورته وُښایي۔ (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې څۀ شے خرڅ کړي او د هغې عيب بيان نکړي نو دے همېشه د الله تعالیٰ پۀ غضب کښې وي او فرښتې پرې همېشه لعنت وايي۔ (ابن ماجه)

د يوبل پۀ بيع بيع کول، پۀ يو بل قيمتونه زياتول، ناپ تول کښې کمے

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک دِ پۀ تاسو کښې د چا پۀ بيع بيع نۀ کوي۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سړے دِ د خپل مسلمان ورور د سودا پۀ خبرې خبره نۀ کوي۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺپۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: مسلمان له جائز نۀ دي چې د خپل (مسلمان) ورور پۀ بيع بيع وکړي او د خپل (مسلمان) ورور د نکاح پۀ پيغام پيغام ورکړي تر څو ئې چې هغه پرې نږدي۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺپۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: چا چې يو شے پۀ دوؤ سړو خرڅ کړو نو هغه د اولني دے۔ (ترمذي، ابوداؤد، نسائي، دارمي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ يو بل قيمتونه مۀ زياتوئ (د اخستو د نيت نه بغير قيمتونه مۀ ښکاره کوئ)۔ (مسلم)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم قوم چې پۀ ناپ تول کښې کمے کوي پۀ هغۀ قحط، سخت مشقت، تکليف او د حکمرانانو ظلم راوستے کيږي۔ (ابن ماجه)

د بيع څۀ منع قِسمونه

۞ د ابوهريرهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺد غرر (خطرې) د بيع نه منع فرمائېلې ده (هغه بيع پۀ کومه کښې چې د ماتېدو خطره وي)۔ (مسلم)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مۀ خرڅوئ ماهے پۀ اُوبو کښې ځکه چې دا غرر دے۔ (احمد)

۞ د ابن عباسؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائيل: مۀ خرڅوئ د ګډو بيزو وښتۀ د هغوئ پۀ شاګانو باندې او مۀ خرڅوئ د هغوئ پئ د هغوئ په غولانزو کښې۔ (ابوداؤد في مراسيله)

۞ د ابوسعيد خدريؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائيلې ده د اخستلو خرڅولو د هغې نه کوم چې د څاروو پۀ ګېډو کښې وي او د هغې نه کوم چې د هغو پۀ غولانزو کښې وي او د تختېدلي غلام د خرڅولو نه او د غنيمت د مالونو د اخستلو خرڅولو نه تر دې چې تقسيم کړے شي او د صدقې د مالونو د خرڅولو اخستلو نه تر دې چې قبض کړے شي او (پۀ درياب کښې د ماهيانو دپاره) د غوپه وهونکي د پېرې نه۔ (ابن ماجه)

۞ د سعيد بن مسيب رحمه الله نه روايت دے: رسول اللهﷺ منع فرمائيلې ده د ژوندي پۀ مړ د خرڅولو نه (او د غوښې پۀ حيوان د خرڅولو نه)۔ (ابوداؤد في مراسيله)

۞ د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے: رسول اللهﷺ د نسيه پۀ نسيه د خرڅولو نه منع فرمائيلې ده۔ (دارقطني)

۞ د عبد الله بن عمرو بن العاصؓ نه روايت دے: رسول اللهﷺ د بيع عربان نه منع فرمائيلې ده (چې پۀ بيع کښې د بيعانې ورکول اخستل وشي چې کۀ بيع مکمل شوه نو پۀ قيمت کښې به حساب شي او کۀ مکمل نۀ شوه نو خرڅونکي ته به پاتې شي)۔ (مالک، ابوداؤد، ابن ماجه)

۞ د ابوهريرهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائيلې ده پۀ يوې بيع کښې د دوؤ بيعو نه۔ (مالک، ترمذي، ابوداؤد، نسائي)

❁ روایت دے: رسول اللهﷺمنع فرمائېلې ده د بیع او (پکښې) د څۀ شرط نه. (اصلاح الرسوم)

❁رسول اللهﷺپۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: حلال نۀ دي دوه شرطونه پۀ یوه بیع کښې. (ترمذي، ابوداؤد، نسائي)

❁ د انسرضی اللہ عنہ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺمنع فرمائېلې ده چې یو حاضر کس یو بانډه چي له خرڅول وکړي (چې خلقو ته پرې نقصان وي) اګرکۀ د دۀ پلاره زیز او موره زیز ورور وي. (متفق علیه)

پۀ قبضه کښې چې نۀ وي د هغې خرڅول، بعضې څیزونه چې بیع ئې حرامه ده

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: جائز نۀ دي خرڅول د هغه شي کوم چې ستا پۀ لاس کښې نۀ وي. (ابن ماجه)

❁ د حکیم بن حزامرضی اللہ عنہ نه روایت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! سړے ز ما نه د خرڅ څۀ شے غواړي خو هغه ما سره نۀ وي نو زۀ پرې هغه خرڅولے شم؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: مۀ خرڅوه هغه څۀ چې ستا پۀ لاس (قبضه او ملکیت) کښې نۀ وي. (ابن ماجه، ترمذي)

❁ د جابررضی اللہ عنہ نه روایت دے چې هغۀ د رسول اللهﷺ نه د فتح پۀ کال پۀ مکه کښې واورېدل: بیشکه الله او د هغۀ رسول حرامه کړې ده بیع د شرابو، د خنزیر، د مردارې او د اصنامو (پۀ کومو کښې چې د لهو و لعب سامان، باجې وغیره هم رازي). (متفق علیه)

❁ د ابوامامهرضی اللہ عنہ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺمنع وفرمائېله د سندرو ویونکو ښځو د خرڅولو او اخستلو نه، د هغوی د ګټې نه او د هغوی د پیسو د خوړلو نه. (ابن ماجه)

د سود (ربا) والا بيع، ذخيره اندوزي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سرۀ زر پۀ سرو زرو دي، سپين زر پۀ سپينو زرو دي، غنم پۀ غنمو دي، وربشې پۀ وربشو دي، کجورې پۀ کجورو دي، مالګه پۀ مالګه ده، برابر برابر، لاس پۀ لاس؛ پس چا چې زيات ورکول يا اخستل وکړل نو هغۀ سود وکړو، اخستونکے او ورکونکے پۀ دې کښې برابر دي۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: غله پۀ غله ده برابر برابر۔ (مسلم)

❁ د سمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دے: رسول اللهﷺ د حيوان پۀ حيوان سره د نسيه خرڅولو نه منع فرمائېلې ده۔ (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ربا پۀ نسيه کښې ده۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: (د غلې) راغوښتونکے (تاجر) رزق موندونکے دے او ذخيره کونکے ملعون (او محروم) دے۔ (ابن ماجه، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې (د خلقو د ضرورت پۀ وخت کښې) څۀ خوراک څلوېښت ورزې ذخيره کړو د ګرانېدو پۀ اراده نو دے د الله تعالیٰ نه او الله تعالیٰ د دۀ نه بري شو۔ (رزين، احمد، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څۀ بد بنده دے هغه ذخيره کونکے چې کۀ الله تعالیٰ ارزاني راولي نو غمجن کيږي او کۀ ګراني راولي نو خوشحاليږي۔ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې څۀ خوراک څلوېښت ورزې ذخيره کړو بيا ئې هغه صدقه کړو نو د دۀ صدقه به د دۀ د ذخيره کولو کفاره نۀ شي۔ (ديلمي، رزين)

باب: وراثت، د مال وصيت

ميراث، تقسيم وغيره، د چا ميراث وهل، حصه ئې ختمول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې څۀ مال پرېښو نو هغه د دۀ د اهل دے. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ د حجة الوداع پۀ خطبه کښې وفرمائېل: الله تعالیٰ هر وارث له د ميراث نه حصه مقرر کړې ده. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: فرائض (مقررې حصې) د هغې مالکانو له ورکړه، څۀ شے چې پاتې شي هغه د ټولو نه د نزدې نر خپل (عصبه) دے. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مسلمان د کافر نه ميراث نۀ شي وړے او کافر د مسلمان نه. (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د خپل ميراثي ميراث ووهۀ، الله تعالیٰ به (پۀ جنت کښې) دے د دۀ د حصې نه محروم کړي. (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم سړے چې پۀ خپل مال کښې د الله تعالیٰ د طرف نه مقرر شوے ميراث ختم کړي، الله تعالیٰ به د جنت نه د دۀ ميراث (حق) ختم کړي. (سنن سعيد بن منصور)

وصيت صرف د درېمې حصې پورې، وارث له وصيت

۞ رسول اللهﷺ د حجة الوداع پۀ خطبه کښې وفرمائېل: وصيت جائز نۀ دے د درېمې حصې مال نه د زيات. (متفق عليه)

۞ د سعد بن ابي وقاصؓ نه روايت دے، فرمائي: زۀ د فتحِ مکه پۀ کال دومره ناجوړه شوم چې د مرګ غاړې ته ورسېدم. رسول اللهﷺ زما تپوس له تشريف راوړو. ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! زما ډېر مال دے خو د يوې

لور نه علاوه زما هیڅوک وارث نیشتے نو زۀ د خپل ټول مال وصیت وکړم؟ هغوی وفرمائیل: نا ـ ما بیاعرض وکړو: نو پۀ دریو کښې د دوؤ حصو؟ هغوی وفرمائیل: نا ـ ما بیا عرض وکړو: د نیمې؟ هغوی وفرمائیل: نا ـ ما بیا عرض وکړو: د دریمې؟ هغوی وفرمائیل: (آ) د دریمې او دریمه ډیره ده ـ کۀ تۀ خپل ورثه مالدار پریږدې نو دا د دې نه غوره ده چې تۀ هغوی لاس تنګي پریږدې چې خلقو ته لاسونه نیسي ـ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺد حجة الوداع پۀ خطبه کښې وفرمائیل: یو وارث له وصیت جائز نۀ دے ـ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نیشتے وصیت د یو وارث دپاره مګر کۀ نور وارثان ئې قبول کړي ـ (ابوداؤد في مراسیله)

باب: نکاح (وادۀ)، طلاق، خلع وغیره

د نکاح تاکید، فضیلت، اهمیت

❁ رسول اللهﷺفرمائیلي دي: نکاح کول زما د سنتو نه دي ـ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: کله چې بنده نکاح وکړي نو نیم دین پوره کړي نو پۀ پاتې نیم کښې دِ د الله نه ویریږي ـ (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: تا د دوؤ یو بل سره محبت کونکو له د نکاح په شان څۀ نۀ دي لیدلي ـ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: اے د ځوانانو ټولګیه! څوک چې په تاسو کښې د نکاح طاقت لري نو نکاح دِ وکړي ځکه چې دا د نظر د ښکته ساتلو او د شرمګاه د محفوظ ساتلو دپاره د هر څۀ نه زیات اثر لري او څوک چې طاقت نۀ لري هغه دِ روژې نیول پۀ ځان لازم کړي ـ (متفق علیه)

د نکاح باره کښې څۀ خبرې، نکاح د دینداري ښځې سره

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: د نکاح اعلان (ښکاره کول) کوئ. (احمد)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: نیشتے نکاح بغیر د ګواهانو نه. (دار قطني)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: نیشتے نکاح بغیر د ولي نه. (احمد، ترمذي)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: کونډه د خپل ځان زیاته حقداره ده د خپل ولي (سرپرست) نه او د باکرې نه به اجازت اخستے کیږي (یا به د هغې نه د هغې پلار اجازت اخلي) د هغې د ځان په باره کښې او د هغې اجازت د هغې خاموشي ده. (مسلم، ترمذي، نسائي)

✿ د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: یوه باکره جینۍ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او دا ذکر ئې وکړو: زما پلار زۀ ورکړې یم (زما نکاح ئې د چا سره کړے دے) او زۀ خفه یم. رسول الله ﷺ هغې له اختیار ورکړو. (ابوداؤد)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: کله چې الله تعالیٰ د یو سړي په زړۀ کښې یوې ښځې ته د نکاح پیغام ورکول واچوي نو په دې کښې څۀ بدي نیشته چې دے هغې ته وګوري. (ابن ماجه)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: سړے دِ د خپل (مسلمان) ورور د نکاح په پیغام پیغام نۀ ورکوي تر دې چې هغه نکاح وکړي یا پرېږدي. (متفق علیه)

✿ رسول الله ﷺ وفرمائیل: ښځې سره نکاح کیږي د څلورو خبرو د وجې نه: د هغې د مال د وجې نه، د هغې د ښائست د وجې نه، د هغې د حسب (خانداني اوچت والي) د وجې نه او د هغې د دین د وجې نه، نو تۀ دین والا حاصله کړه لاسونه دِ په خاورو کښې ککړ شه! (متفق علیه)

مهر، د کم خرچ او مهر والا نکاح او ښځه، ولیمه

۞ د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ شرطونو کښې د ټولو نه زیات حقدار چې تاسو ئې پوره کړئ هغه شرط دے پۀ کوم چې تاسو (د ښځو) شرمګاهونه حلال کړئ (یعني مهر). (متفق علیه)

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د ټولو نه د لوئے برکت والا نکاح هغه دے (یا ښځه هغه ده) کوم نکاح (یا کومه ښځه) چې د ټولو نه د کم خرچ والا وي. (بیهقي)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د ښځې برکتي والے د هغې د مهر کم والے، د نکاح آسان والے او د خوئې ښۀ والے دے او د هغې سپېرۀ والے د هغې د مهر زیات والے، د نکاح ګران والے او د خوئې بدوالے دے. (احیاء)

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د ټولو نه غوره مهر هغه دے کوم چې د ټولو نه آسان (کم) وي. (ابوداؤد)

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: بد خوراک د هغه ولیمې دے چې مالداران ورته راوغوښتے شي او غریبانان پرېښودے شي. (متفق علیه)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د ولیمې خوراک ورکول پۀ اولنۍ ورزې حق دي، پۀ دویمه ورز سنت دي او پۀ دریمه ورز ښودنه اورُونه ده. (ترمذي)

د نکاح نۀ کولو بدوالے

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: پۀ اسلام کښې نکاح نۀ کول نیشتي. (ابوداؤد، حاکم)

۞ د انس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ به مونږ ته د نکاح کولو حکم کولو او د بې وادۀ پاتې کېدو نه به ئې سخته منع فرمائېله. (احمد، ابن حبان)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: د چا چې څۀ ورکے وشي نو هغۀ له دِ ښۀ نوم کېږدي او ادب دِ ورته وښايي او چې بالغ شي نو وادۀ دِ ورله وکړي نو کۀ هغه بالغ شي او د ے ورله وادۀ ونکړي او د هغۀ نه څۀ گناه وشي نو د هغۀ گناه به د هغۀ پۀ پلار وي۔ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: کله چې تاسو ته داسې څوک د نکاح پېغام درکړي د چا دين او اخلاق چې تاسو ته خوښ وي نو نکاح ورسره کوئ (خپل يا د لور خور وغيره)، کۀ تاسو دا ونکړئ نو پۀ زمکه کښې به فتنه او لوئے فساد جوړ شي۔ (ترمذي)

طلاق ورکول، حلاله کول، بې ضرورته خلع (د خاوند نه طلاق غوښتل

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې څيزونه دي چې د هغې رشتيا رشتيا دي او د هغې ټوقه (هم) رشتيا دي: نکاح، طلاق او رجوع کول۔ (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ ته پۀ جائزو خبرو کښې د ټولو نه ناخوښه خبره (يا هغۀ ته د ټولو نه بد حلال) طلاق ورکول دي۔ (ابوداؤد)

❁ د ابن عباسؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ لعنت ويېلے دے پۀ حلاله کونکي او پۀ هغه چا باندې د چا دپاره چې حلاله کيږي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زۀ تاسو ته د سوالي پِيسۀ خبر درنکړم؟ صحابه ؤ وويېل: ولې نۀ اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائيل: حلاله کونکے۔ الله تعالیٰ لعنت کړے دے پۀ حلاله کونکي او پۀ هغه چا د چا دپاره چې حلاله وکړے شي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کومې ښځې چې د خپل خاوند نه بغير د ضرورته طلاق وغوښتۀ پۀ هغې د جنت بوئي (هم) حرام دے۔ (بخاري، ابوداؤد)

❁ د ابوهريره‌رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله‌صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: د خاوندانو نه جدا کېدونکې او (بغیر د عذر نه) خلع غوښتونکې ښځې چې دي هم دوی منافقانې دي. (نسائي)

کتاب: جماعت، حکومت، عهده، متعلقات

باب: جماعت

د جماعت تاکید او اهمیت

❁ د رسول الله‌صلی الله علیه وسلم نه روایت کړے شوے دے: نیشتے اسلام مګر په جماعت سره. (دینِ اسلام)

❁رسول الله‌صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: څوک چې د جنتونو مینځ غواړي نو جماعت دِ لازم ونیسي. (کتاب السنه)

❁رسول الله‌صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: شیطان د انسان شرمخ دے په شان د شرمخ د ګډو بیزو، خوري یوازې، لرې او یو طرف ته تلونکې بیزه، تاسو ځان وساتئ د شعبو (فرقو) نه او عام جماعت لازم ونیسئ. (احمد)

❁ رسول الله‌صلی الله علیه وسلم فرمائېلي دي: د الله تعالیٰ لاس په جماعت باندې وي (یا په جماعت د الله تعالیٰ لاس وي). (مشکوٰة)

❁ رسول الله‌صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: زما اُمت په ګمراهئ نۀ جمع کیږي (یا الله تعالیٰ زما اُمت په ګمراهئ نۀ جمع کوي). (مشکوٰة، ترمذي)

د جماعت نه جداکېدل، وعیدونه

❁ رسول الله‌صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: څوک چې د جماعت نه یوه لوېشت جدا شو او (په دې حال کښې) بیا مړ شو نو د جاهلیت په مرګ مړ شو. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې د جماعت نه يوه لوېشت جدا شو نو د اسلام رسئ ئې د خپل څټ نه وويسته. (أحمد ، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې د جماعت نه جدا شو نو د دوزخ اُور ته به غورزولے کېږي. (ابن ماجه، ترمذي)

باب: حکومت والا څۀ خبرې (مُثبت)

حکومت کښې عوامو له آساني جوړول، تنګي او سختي نۀ جوړول

❁ د ابوموسیٰ رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺچې به خپل يو صحابي خپل څۀ کار له لېږلو نو فرمائېل به ئې ورته: خوشخبري (بشارت) ورکوئ، متنفر کول (شړل) مۀ کوئ؛ آساني جوړوئ، تنګي (يا ګراني او سختي) مۀ جوړوئ. (متفق عليه)

❁ د ابو برده رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺزما نيکۀ ابوموسیٰ او معاذ رضي الله عنهما يمن ته لېږل نو وئ فرمائېل: تاسو (دواړه) آساني جوړوئ، تنګي مۀ جوړوئ؛ خوشخبري (زېرے) ورکوئ، متنفر کول مۀ کوئ؛ (پۀ حکم وغيره کښې) اتفاق کوئ، اختلاف مۀ کوئ. (متفق عليه

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: آسانئ پيدا کوئ، تنګي مۀ پيدا کوئ؛ آرام رسوئ (پۀ خوشخبرئ ورکولو او خوشحالولو سره)، متنفر کول مۀ کوئ. (متفق عليه)

حکومت کښې د الله نه يرېدل، عدل و انصاف او نرمي کول

❁ د معاويه رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے معاويه! کۀ تۀ امير (والي) مقرر کړے شې نو د الله نه يرېږه او انصاف (عدل) کوه. (احمد ، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د يو انصاف کونکي (عادل) حکمران يوه ورز د اوياؤ کالو د عبادت نه غوره ده. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: انصاف کونکي به د الله تعالیٰ سره د نُور په منارو وي کوم چې په خپل حکم او فيصله کولو کښې او په خپل اهل و عيال کښې او په خپلو عهدو کښې عدل و انصاف کوي. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: کوم يو سړے چې والي جوړکړے شي او هغه نرمي وکړي نو الله تعالیٰ به ورسره د قيامت په ورز نرمي وکړي. (مسلم)

باب: حکومت والا څۀ خبرې (منفي)

د حکومت، د اميرۍ يا د مشرۍ وغيره بد والے

❁ د ابوذرؓنه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺنه اورېدلي دي: سړي ته چې حکومت ورکړے شي نو الله تعالیٰ د هغۀ نه لرې شي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: تاسو به د ټولو نه په غوره خلقو کښې هغه څوک ومومئ کوم چې دې امارت (حکومت) ته د ټولو نه زيات بد کتونکے وي تر دې چې په دې کښې پرېوزي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د لسو کسانو چې (هم) څوک امير وي هغه به د قيامت په ورز په داسې حال کښې راوستے شي چې د غاړې نه به ئې طوق چاپېر وي تر دې چې انصاف ترېنه هغه پرانزي يا ئې ظلم هلاک کړي. (دارمي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: عرافت (مشر والے) حق دے او خلقو له عريفان ضروري دي خو عريفان به په دوزخ کښې وي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺد مقدام بن معديکربؓ په اوږو لاس کېښو او وئې فرمائيل: تۀ کامياب شوې اے قديمه! کچرې تۀ په داسې حال کښې مړ شوې چې نۀ امير وې نۀ مُنشي وې او نۀ عريف (مشر، ذمه وار، نګران). (ترغيب)

حکمراني، عامل والے وغيره او د قيامت شرمندګي، پښېماني او افسوس

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو به د امارت (حکومت) حرص لرئ خو دا به د قيامت په ورز د پښېمانئ ذريعه وي، پس څۀ ښۀ پئ ورکونکے (مزې رسونکے) دے حکومت! او څۀ بد د پيو نه صبرونکے (په ستومانئ او افسوس کښې اخته کونکے) دے حکومت! (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې (د اميرئ او مشرئ پۀ حقله) وفرمائېل: اول د دې ملامت دے، مېنځ ئې ستوماني ده او آخر ئې د قيامت پۀ ورز شرمندګي ده. (احمد)

❁ ابوذرؓفرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما عامل (ملازم) نۀ مقرر کوې؟ نو ر سول اللهﷺخپل لاس مبارک زما پۀ اوږه کيښنو او وئې فرمائېل: اے ابوذره! تۀ کمزورے يې او دا امانت دے او د قيامت د ورزې رسوائي ده مګر څوک چې دا پۀ حقه سره واخلي او پۀ دې کښې چې پرې څۀ وي هغه ادا کړي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: تباهي ده اميرانو له! تباهي ده عريفانو (د قبيلې يا د جماعت مشرانو) له، تباهي ده امينانو (د يتيمانانو وغيره ۇ د مالونو او د حقونو د حفاظت نګرانانو) له. څۀ کسان به د قيامت پۀ ورز آرزو وکړي چې د دوئ وچولي د ثريّا نه زړوند وے او دوئ د آسمان او د زمکې پۀ مېنځ کښې خوزېدلے خو (پۀ دنيا کښې) دوئ د څۀ عمل ذمه واري نۀ وے اخستے. (شرح السنه، احمد). پۀ يو بل روايت کښې داسې دي چې د دوئ کونځئ د ثريّا نه زړوندې وے، دوئ د آسمان او د زمکې پۀ مېنځ کښې خوزېدلے خو پۀ څۀ شي عاملان نۀ وے مقرر کړے شوے. (احمد)

حکومت کښې د عوامو خیال نۀ ساتل، حاجتونه ئې نۀ پوره کول

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زما پۀ اُمت کښې چې کوم سړے د خلقو د خدمت دپاره مقرر کړے شي او بیا دے د هغوی داسې خیال ونۀ ساتي څنګه چې د خپل ځان ساتي نو د جنت بوئي به هم بیا نۀ مومي. (طبراني)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کوم سړے چې د مسلمانانو د معاملاتو ذمه واري واخلي او بیا د هغوی دپاره کوشش او د هغوی خیرخواهي وُنکړي نو دے به د هغوی سره جنت ته نۀ داخلیږي. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کوم بنده چې الله تعالیٰ د څۀ عوامو نګران (مشر) جوړ کړي او بیا چې پۀ کومه ورز دے مري نو پۀ داسې حال کښې مړ شي چې د خپلو عوامو سره دوکه او خیانت کونکے وي نو الله تعالیٰ به پرې جنت حرام کړي. (متفق علیه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا ته چې د خلقو ذمه واري وسپارلے شي او بیا دے د مسلمانانو (یا مظلومانو یا حاجت لرونکو) نه خپلې دروازې بندې کړي نو الله تعالیٰ به تربنه پۀ هغه وخت کښې کله چې به دے سخت ضرورت مند وي د خپل رحمت دروازه بنده کړي. (بیهقي، ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ د دې مفهوم ارشاد وفرمایۀ: الله تعالیٰ چې کوم سړے د مسلمانانو پۀ معاملو کښې د څۀ معاملې مشر جوړ کړي او بیا دے د خلقو حاجتونو ته پرده وکړي نو الله تعالیٰ به د قیامت پۀ ورز د دۀ حاجتونو ته پرده وکړي. (ترمذي)

❁ د ابومریم ازدي رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: زۀ د معاویه رضی الله عنه څنګ ته لاړم نو هغۀ ووې: مَا أَنعَمَنَا بِکَ یَا أَبَا فُلَان! (مونږ ستا د لاسه څومره پۀ نعمت کښې یو اے د فلاني پلاره!). دا یوه جمله ده چې عرب ئې وایي. ما ووې: یو حدیث ما اورېدلے دے زۀ ئې تا ته وایم: ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي: چا

ته چې الله تعالیٰ د مسلمانانو څۀ معامله وسپاري او دے د هغوی حاجت، ضرورت او محتاجی (فقیری) ته پرده وکړي نو الله تعالیٰ به د دۀ حاجت، ضرورت او محتاجی ته پرده وکړي. (دا ئې چې واورېدۀ) نو معاويهرضي الله عنهيو سړے د خلقو پۀ حاجتونو مقرر کړو. (ابوداؤد)

حکومت کښې ظلم، سختي، بې انصافي

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه بد نګراني کونکے هغه دے کوم چې ظالم وي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ دوزخ کښې به د ټولو نه زيات عذاب د هغه سړي وي چا چې يو پيغمبر وژلے وي يا يو پيغمبر هغه وژلے وي او کوم چې ظالم بادشاه وي. (طبراني)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قيامت پۀ ورز به د الله تعالیٰ پۀ نزد پۀ خلقو کښې د ټولو نه بد سړے ظالم سخت بادشاه وي. (بيهقي)

❁ د عائشې رضی الله عنها نه روايت دے: رسول اللهﷺوفرمائېل: اے الله! څوک چې زما د اُمتيانو څۀ ذمه واري واخلي او بيا پۀ هغوی سختي کوي نو تۀ پۀ دۀ سختي وکړې. (مسلم، بلوغ المرام)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د ټولو نه بدراعي (شپونکے) هغه دے کوم چې سختي کونکے وي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کوم کس چې د دې اُمت پۀ څۀ کار مقرر کړے شي او دے پۀ هغې کښې انصاف ونکړي نو الله تعالیٰ به ئې پۀ دوزخ کښې نسکور وغورزوي. (حاکم)

د عوامو پۀ پټو خبرو پسې کېدل (بغير د ضرورت نه)

❁د معاويهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائېل: تۀ کۀ د خلقو (يا د مسلمانانو) پۀ پټو خبرو پسې شې نو هغوی به خراب کړې يا نزدې ده چې هغوی خراب کړې۔ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: امير (حکمران) چې پۀ خلقو کښې (د) شک او ګمان (خبرې) تلاش کوي نو هغوی بۀ خراب کړي۔ (ابوداؤد)

د حکومت والو غدر کول، معاهده ماتول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هر غدر کونکي (معاهده او لوظ ماتونکي، خيانت کونکي) له به د قيامت پۀ ورز يوه جنډه وي، پۀ هغې به پېژندے کېږي۔ (متفق عليه)

رسول اللهﷺ وفرمائېل: غدر کونکي له به د قيامت پۀ ورز يوه جنډه خخه کړے شي، ويېلے کيږي به چې دا د فلاني د زوي غدر دے۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هر غدر کونکي (غدار) له به د قيامت پۀ ورز يوه جنډه وي، د هغۀ د غدر پۀ مقدار به ورله اوچتولے کېږي؛ خبردار! د عام امير (حکمران) نه غټ غدر کونکے نيشتے۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا چې د يو قوم سره (د مصالحت) معاهده وي نو نۀ دِ معاهده ماتوي او نۀ دِ تړي (يعني هيڅ تغير دِ پکښې نۀ کوي) تر دې چې مدت ئې پوره شي يا دوی ته سر پۀ سر واپس وغورزولے شي۔ (ترمذي)

معاهدې والا قتلول، مالونه ئې اخستل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د معاهدې والا (غير مسلم) څوک قتل کړو نو د جنت بوئي به هم بيا نۀ مومي او حال دا دے چې د هغې بوئي به د څلوېښتو کالو پۀ فاصله وي۔ (بخاري)

۞ د جابرؓ نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ سره د خيبر پۀ ورزغزا کوله نو يهوديان راغلۀ او رسول اللهﷺ ته ئې شکايت وکړو چې (مسلمانان) خلق زمونږ د کجورو پۀ ميوو پسې شوي دي نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: د معاهدې والو مالونه حلال نۀ دي مګر د هغې پۀ حق سره ـ (ابوداؤد)

کتاب: حکومت سره متعلق ځۀ بابونه

باب: حکومتي عهده، منصب

حکومت کښې عهده غوښتل او پۀ غوښتو ورکول

۞ د ابوموسیٰ اشعريؓ نه روايت دے، فرمائي: زۀ او زما د ترونو پۀ زامنو کښې دوه تنه د رسول اللهﷺخوا له لاړو ـ پۀ هغوی کښې يو ووې: اے د الله رسوله! الله چې تا له څۀ ولايت او اختيار درکړے دے پۀ هغې کښې ما د بعضې امير جوړکړه، او دويم هم دغه شان عرض وکړو ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قسم دِ پۀ الله وي! مونږ دا عهده داسې چا له نۀ ورکوو څوک چې دا غواړي يا د دې حرص لري ـ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺعبدالرحمٰن ؓته وفرمائېل: اے عبدالرحمٰن! اميري مۀ غواړه ځکه چې کۀ دا تا ته پۀ غوښتو درکړے شي نو تۀ به دې ته وُسپارلے شې، او کۀ بغير د غوښتو نه درکړے شي نو ستا به پۀ دې کښې مدد وکړے شي ـ (متفق عليه)

بد او نااهل کس له عهده ورکول، د کمزورې او نامناسب کس عهده اخستل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د يو ښځه سړي پۀ موجودګۍ کښې يو بد سړي ته د جماعت څۀ معامله (څۀ حکومتي ذمه واري) حواله کړه نو دۀ د الله، د هغۀ د رسول او د مسلمانانو سره خيانت وکړو . (ترغيب)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: کوم سړے چې د مسلمانانو د څۀ خدمت والي (حکمران) مقرر کړے شوے وي او دے پۀ خپلې ذاتي دوستۍ سره څوک د خلقو امير (مشر) مقرر کړي نو پۀ دۀ د الله، د فرښتو او د ټولو خلقو لعنت! الله تعالىٰ به ئې نۀ نفل عبادت قبلوي او نۀ فرض دې پورې چې جهنم ته به ئې ارتاؤ کړي. (احمد ، حاکم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې معامله (حکومت وغيره) داسې چا ته وُسپارلے شي چې د هغې اهل نۀ وي نو د قيامت انتظار کوه . (بخاري)

❁ د ابوبکرهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: کله چې ر سول اللهﷺته خبر ورسېد چې فارس والو د کسرىٰ لور خپله حکمرانه جوړه کړې ده نو وئې وفرمائېل: هغه قوم به هيڅکله کامياب نۀ شي چا چې خپل امر (اختيار، حکومت) يوې ښځې ته حواله کړو . (بخاري)

❁ د ابوذررضي الله عنهنه روايت دے فرمائي: رسول اللهﷺما ته وفرمائېل: اے ابوذره! زۀ تا کمزورے اينم او زۀ تا له هغه څۀ خوښوم څۀ چې ځان له خوښوم. د دوؤ تنو هم امير مۀ جوړېږه او نۀ د يتيم د مال نګراني کوه (پۀ يو روايت کښې داسې دي چې نۀ د يتيم د مال نګراني کوه (ذمه واري اخله) او نۀ د دوؤ تنو پۀ مينځ کښې فيصله کوه) . (مسلم)

باب: حکومتي مال (خزانه)، متعلقات

د حکومتي مال ناحق او ناجائز استعمال

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کوم کسان چې د الله تعالیٰ پۀ مال (د بیت المال وغیره پۀ مال) کښې ناحق تصرف کوي هغوی له به د قیامت پۀ ورز اُور وي۔ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: ډېر اخته کېدونکي د الله او د رسول پۀ هغه مال کښې چې نفسونه ئې پرې خوښ وي پۀ قیامت کښې به هغوی له نۀ وي مګر اُور د دوزخ۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: زۀ نۀ تاسو له څۀ درکولے شم او نۀ ستاسو نه څۀ منع کولے شم، زۀ تقسیمونکے یم هلته ږدم کوم ځائے چې راته (د الله تعالیٰ د طرف نه) حکم وکړے شي۔ (بخاري)

د سرکاري کس غلول (خیانت کول

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: غلول (خیانت) مۀ کوئ ځکه چې غلول پۀ دنیا او پۀ آخرت کښې د دې پۀ کونکو باندې اُور او د رسوائۍ څیز دے۔ (احمد، نسائي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: مونږ چې څوک پۀ څۀ کار مقرر کړو او رزق (تنخواه) ورله ورکوو نو د دې نه پس چې هغه څۀ اخلي نو دا غلول دے۔ (ابوداؤد)

❁ د معاذؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ زۀ یمن ته لېږلم، چې زۀ روان شوم لاړم نو بیا واپس کړے شوم، رسول اللهﷺ وفرمائېل: تا ته پته شتے ما تاپسې (د واپس کولو دپاره) څوک ولې درولېږۀ؟ زما د اجازت نه بغیر به څۀ ته نۀ لاس کوې ځکه چې دا غلول دے او څوک چې غلول وکړي نو د

غلول هغه شے به د قیامت پهٔ ورز راوړي، د دې دپاره ما تهٔ راوبللې، وس خپل کار له زه۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مونږ چې يو سړے پهٔ څهٔ عمل مقرر کړو او دے پهٔ هغې کښې د يوې ستنې يا د هغې نه هم کم څهٔ پټ وساتي نو دا غلول دے، قيامت کښې به دے د هغې سره رازي۔ (ترغيب)

❁ د عدي بن عميرهؓ نه روايت دے: رسول اللهﷺ وفرمائېل: مونږ چې پهٔ تاسو کښې څوک پهٔ څهٔ عمل مقرر کړو او دے يوه ستن او يا د هغې نه هم کم څهٔ زمونږ نه پټ وساتي نو دا به غلول وي، د قيامت پهٔ ورز به دا راوړي۔ د انصارو يو تور سړے پاڅېدهٔ لکه چې زهٔ ورته ګورم او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! زما نه خپل عمل قبول (واپس) کړه۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څهٔ چل دے؟ هغهٔ ووې: ما ستاسو نه داسې داسې اورېدلي دي۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زهٔ ئې وس هم وايم! څوک چې مونږ پهٔ څهٔ عمل مقرر کړو دے دِ د هغې لږ څهٔ هم راوړي او ډېر څهٔ هم او د هغې نه چې ورته څهٔ ورکولے کيږي هغه دِ اخلي او د څهٔ نهٔ چې منع کولے کيږي د هغې نه دِ منع کيږي۔ (ابوداؤد، مسلم)

❁ د ابوهريرهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ يوه ورز زمونږ مخې ته (د وعظ دپاره) ودرېدهٔ او غلول ئې ذکر کړو او ډېر غټ ئې ښکاره کړو او د دې معامله ئې ډېره لويه بيان کړه بيا ئې وفرمائېل: زهٔ دِ پهٔ تاسو کښې څوک بيا نهٔ مومم چې هغه د قيامت پهٔ ورز پهٔ داسې حال کښې راشي چې پهٔ څټ ئې اُوښ سور وي آواز (نړا) کوي... الخ۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ بغير د پاک والي نه نمونځ نهٔ قبلوي او د غلول د مال نه صدقه نهٔ قبلوي۔ (مسلم)

د عاملانو (سرکاري کسانو) ډالۍ

❁ رسول اللهﷺد ازد (قبیلې) یو سړے چې ابن اللُتبیه (یا ابن الاتبیه) ورته ویېلے کېدۀ پۀ زکوٰة باندې عامل مقرر کړو. هغه چې واپس راغے نو وئې ویېل: دا ستاسو دے او دا ما ته ډالۍ کړے شوے دے. رسول اللهﷺپۀ منبر ودرېدۀ، د الله تعالیٰ حمد و ثنا ئې بیان کړه او وئې فرمائېل: د عامل څۀ حال دے چې مونږه ئې ولیږو هغه واپس راشي او ووایي چې دا ستاسو دے او دا ما ته ډالۍ کړے شوے دے؟ دے ولې د خپل مور او پلار پۀ کور کښې نۀ کښېني چې وګوري چې دۀ ته ډالۍ ورکولے کیږي کنه؟ پۀ تاسو کښې څوک د دغې نه څۀ نۀ راوړي مګر د قیامت پۀ ورز به هغه راوړي. کۀ هغه اُوښ وي نو د اُوښ آواز (نړا) به کوي، کۀ غوا وي نو د غوا آواز (نړا) به کوي او کۀ بیزه وي نو د بیزې آواز (نعرې وهل) به کوي. بیا ئې لاسونه مبارک اوچت کړل تر دې چې مونږه ئې د ترخونو سپین والے ولیدۀ او وئې فرمائیل: اے الله! ما رسوُل کړي دي؟ اے الله! ما رسوُل کړي دي؟ (ابوداؤد)

باب: د عوامو او حکمرانانو متعلق څۀ خبرې

د عوامو عملونه او حکمرانان، د الله اطاعت او نافرماني او حکمرانان

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: څنګه چې تاسو یئ دغسې به پۀ تاسو امیران (حکمرانان) مقرر کېږي. (حاکم، بیهقي)

❁د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: ستاسو عملونه ستاسو عاملان (حکمرانان) دي. ()

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ فرمائي: زۀ الله یم، نیشتے اله (خدائے) مګر زۀ یم، مالک د بادشاهانو یم، د بادشاهانو زړونه زما پۀ لاس کښې دي،

بندګان چې زما فرمان برداري کوي نو زۀ د بادشاهانو زړونه دوی ته راړوم پۀ رحم او مهربانۍ سره او چې زما نافرماني کوي نو زۀ د هغوی زړونه دوی ته راړوم پۀ غصې او بدلې اخستو سره نو هغوی دوی له سخت عذاب ورکوي .(ابونعیم فی الحلیه)

باب: متعلقه څۀ خبرې

د ټولو نه د ښۀ او د ټولو نه د بدو حکمرانانو څۀ صفات، د حکمران ښۀ او بد وزیر

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ستاسو د ټولو نه ښۀ حکمرانان هغه دي چې تاسو د هغوی سره محبت ساتئ او هغوی ستاسو سره محبت ساتي او تاسو هغوی ته دعاء کوئ او هغوی تاسو ته دعاء کوي، او ستاسو د ټولو نه بد حکمرانان هغه دي چې تاسو د هغوی سره بغض ساتئ او هغوی ستاسو سره بغض ساتي او تاسو هغوی ته خیرې کوئ (پۀ هغوی لعنت وایئ) او هغوی تاسو ته خېرې کوي. (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: د ټولو نه غوره حکمرانان هغه دي چې د علماؤ خوا له زي. (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: الله تعالیٰ هیڅ یو نبي نۀ دے رالیږلے او هیڅ یو خلیفه ئې نۀ دے جوړ کړے مګر د هغۀ به دوه خاص کسان وو: یو خاص به ورته د نیکۍ حکم او ترغیب ورکولو او بل خاص به ورته د بدۍ حکم او ترغیب ورکولو، او (د ګناه نه) بچ ساتلے شوے (معصوم) هغه دے چې الله تعالیٰ ئې بچ وساتي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: الله تعالیٰ چې امیر (حکمران) له د خیر اراده وفرمائي نو د رشتیاؤ وزیر ورله مقرر کړي، کۀ څۀ ترې هېریږي نو یادوي ورته

او کۀ یاد وي ورته نو مدد ئې کوي؛ او چې د بل څۀ اراده ورله وفرمائي نو د بدۍ وزیر ورله مقرر کړي، کۀ څۀ ترې هېرېږي نو نۀ یادوي ورته او کۀ یاد وي ورته نو مدد ئې نۀ کوي. (ابوداؤد)

هر یو کس راعي دے، تپوس به ترې کیږي

❁ د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائیل: هر یو پۀ تاسو کښې راعي (نګران، ذمه وار) دے او د هر یو نه به د هغۀ د رعیت په باره کښې تپوس کیږي. امام (حکمران، مشر) راعي دے او د خپل رعیت په باره کښې به ترې تپوس کیږي، سړے د خپل کوروالو راعي دے او د خپل رعیت په باره کښې به ترې تپوس کیږي، ښځه د خپل خاوند د کور (او د هغۀ د اولاد) راعیه ده او د خپل رعیت په باره کښې به ترې تپوس کیږي، او خادم (نوکر) د خپل مالک د مال راعي دے او د خپل رعیت په باره کښې به ترې تپوس کیږي؛ نو هر یو پۀ تاسو کښې راعي دے او د خپل رعیت په باره کښې به ترې تپوس کیږي. (متفق علیه)

کتاب: عوام پۀ نسبت د حکومت او د حکمرانانو، متعلقات

باب: د عوامو ښۀ او ضروري رویه، عمل

د حکمرانانو بیعت قائم ساتل، د هغوی حق ورکول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د بني اسرائیلو سیاست (نګراني او انتظام) به نبیانو کولو، کله چې به یو نبي وفات شو نو هغۀ پسې به یو بل نبي راغے او زما نه روستو هیڅ نبي نیشتے او خلیفګان به وي او هغوی به ډېر وي. صحابه

ؤ عرض وکړو: نو تاسو مونږ ته څۀ حکم کوئ؟ رسول اللهﷺوفرمائيل: بيعت پوره کوئ د اول او ورپسې د اول او هغوئ ته د هغوئ حق ورکوئ چې الله تعالىٰ به د هغوئ نه تپوس کونکے وي د هغې چې هغوئ راعيان (نګرانان) جوړ کړي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: چا چې د يو بادشاه (امام) بيعت وکړو او خپل لاس ئې ورله ورکړو او د زړۀ ميوه (اخلاص يا مال يا وعده) ئې ورله ورکړه نو د هغۀ اطاعت دِ کوي کۀ کولے شي. بيا کچرې يو بل راشي چې د هغۀ سره منازعه (جګړه) کوي نو د دې دويم څټ ووهئ. (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: بد او فاجر حکومت (امارت) د فتنې او فساد (بې حکومتئ) نه غوره دے. (طبراني)

د حکمرانانو اورېدل، حکم منل

❁ د عباده بن صامترضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: مونږ د رسول اللهﷺپۀ لاس بيعت وکړو پۀ سمع و طاعت (اوريدلو او منلو)، پۀ آسانئ او تنګئ کښې، پۀ خوښه او ناخوښه کښې، او پۀ دې چې زمونږ نه به د نورو غوره کېدل وي، او پۀ دې چې مونږ به د حکومت والو سره پۀ حکومت کښې جګړه نۀ کوو، او پۀ دې چې مونږ به حق وايو هر چرته چې يو چې د الله تعالىٰ پۀ باره کښې به د ملامت کونکي د ملامت نه نۀ يرېږو. (پۀ يو بل روايت کښې ورسره داسې هم څۀ دي: ليکن کۀ تاسو ښکاره کفر وينئ چې ستاسو سره پۀ هغې کښې د الله تعالىٰ د طرف نه څۀ بُرهان (دليل) نۀ وي). (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: اورئ او منئ اګرکۀ پۀ تاسو يو حبشي مقرر کړے شي چې سر ئې د وچکې د دانې پۀ شان وي. (بخاري)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کچرې پۀ تاسو یو پرې کړې پوزې او پرې کړې غوږ والا بنده (یا غلام) امیر مقرر کړے شي چې ستاسو قیادت کوي د الله تعالیٰ پۀ کتاب نو اورې او اطاعت کوې. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د امیر اطاعت وکړو هغۀ زما اطاعت وکړو. (متفق علیه)

۞ د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: مونږ به د رسول اللهﷺ پۀ لاس پۀ اورېدلو او منلو باندې بیعت کولو. (ابوداؤد)

د حکمرانانو پۀ بدو (ظلم وغیره) صبر کول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: بادشاه پۀ زمکه کښې د الله تعالیٰ سورے دے، د هغۀ پۀ بندګانو کښې هر مظلوم ئې پناه اخلي، پس کله چې دے عدل و انصاف کوي نو دۀ له به اجر وي او پۀ عوامو (رعیت) به شکر وي، او کله چې دے ظلم کوي نو پۀ دۀ به وبال او ګناه وي او پۀ عوامو به صبر کول وي. (بیهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ تاسو به داسې امیران (حکمرانان) رازي چې څۀ خبرې به ئې تاسو ښۀ ګڼې او څۀ بدې او فساد به کوي خو الله تعالیٰ چې به د هغوی پۀ ذریعه کومه اصلاح کوي هغه به زیاته وي، پس کچرې هغوی ښۀ کوي نو هغوی له به اجر وي او پۀ تاسو به شکر وي، او کچرې هغوی بد کوي نو هغوی له به عذاب وي او پۀ تاسو به صبر وي. (مسلم، ترمذي)

۞ د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د خپل امیر (حکمران) نه داسې څۀ ویني چې دے هغه بد ګڼي نو صبر دِ وکړي (خروج وغیره دِ نۀ کوي) ځکه چې څوک د جماعت نه یوه لوېشت جدا شو او بیا (پۀ دې حالت کښې) مړ شو نو د جاهلیت پۀ مرګ مړ شو. (متفق علیه)

۞ د ابوذر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائیل: زما نه روستو به تاسو څنګه یئ او څۀ بادشاهان کوم چې به دا مالِ غنیمت ځانله

اخلي (ځان به پکښې مخکښې کوي)؟ ما عرض وکړو: قسم مِ دِ وي پهٔ هغه ذات چا چې تهٔ پهٔ حقه رالېږلے يې زهٔ به توره پهٔ اوږه کېږدم او وهل به کوم تر دې چې تاسو سره يو ځائے شم! رسول اللهﷺ وفرمائېل: زهٔ تا ته د دې نه غوره څهٔ وُ نهٔ ښايم؟ چې تهٔ صبر وکړې تر دې چې ما سره يو ځائے شې۔ (ابوداؤد)

د بدۍ او د ظلم والا حکمرانانو سره د عوامو پکار معامله

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو به څهٔ داسې اميران مقرر کيږي چې د څهٔ به ئې تاسو پېژنګلو او اقرار کوۍ او د څهٔ به ئې انکار کوۍ، پس چا چې انکار وکړو هغه بري شو او چا چې بد ګڼل وکړهٔ هغه سالم پاتي شو ليکن څوک چې راضي شو او پيروي ئې وکړه (نو هغهٔ له به دا خبره نهٔ وي)۔ صحابهٔ عرض وکړو: نو مونږ ورسره جنګ ونکړو؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نا، تر څو چې هغوۍ نمونځ کوي، تر څو چې هغوۍ نمونځ کوي، يعني چا چې پهٔ زړهٔ سره بد ګڼل او انکار کول وکړهٔ۔ (مسلم)

❁ د ابن مسعودؓ نه روايت دے، فرمائي: مونږ ته رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو به زما نه روستو د ځان نه غوره والے وينۍ او څهٔ داسې خبرې چې تاسو به ئې بدې ګڼۍ۔ صحابهٔ عرض وکړو: نو تاسو مونږ ته څهٔ حکم کوۍ اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغوۍ ته د هغوۍ حق ورکوۍ او د الله تعالیٰ نه د خپل حق سوال کوۍ۔ (متفق عليه)

❁ سلمه بن يزيد جعفيؓ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: اے د الله نبي! کهٔ په مونږ داسې اميران مقرر شي چې زمونږ نه خپل حق غواړي او مونږ له زمونږ حق نهٔ راکوي نو تاسو مونږ ته څهٔ حکم فرمائۍ؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اورۍ او منۍ، پهٔ هغوۍ به هغه څهٔ وي څهٔ چې پهٔ هغوۍ بار وي او پهٔ تاسو به هغه څهٔ وي څهٔ چې پهٔ تاسو بار وي (يعني د څهٔ چې تاسو مُکلّف يۍ)۔ (مسلم)

❁ د حذیفهؓ نه په یو اوږد حدیث کښې په کوم کښې چې د ظلم د بادشاهانو خبر دے مروي دي: ما عرض وکړو: زهٔ به څنګ عمل کوم اے د الله رسوله! کهٔ زهٔ د غه حالت (یا زمانه) ومومم؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: تهٔ به اوربدل او منل کوې اګرکهٔ ستا ملا ووهلے شي او ستا مال واخستے شي، پس تهٔ اوربدل او منل کوه (بغیر د ګناه کولو نه). (مسلم)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما اُمتیانو ته به په آخره زمانه کښې د هغوی د بادشاه د طرف نه څهٔ سختیانې تکلیفونه رسي چې خلاصېدے به ترې نهٔ شي مګر هغه سړے کوم چې د الله تعالیٰ دین وپېژني او په هغې جهاد وکړي په خپله ژبه، لاس او زړهٔ سره، نو دا هغه ځوک دے چا له چې به مخکښې والي (اوچتې درجې) وي؛ او هغه سړے کوم چې د الله تعالیٰ دین وپېژني او حق ئې وګڼي؛ او هغه سړے کوم چې د الله تعالیٰ دین وپېژني او خاموشي پرې وکړي چې کهٔ څوک وېني چې د خیر عمل کوي نو په دې د هغهٔ سره محبت وکړي او کهٔ څوک وېني چې د باطل او د شر عمل کوي نو په دې د هغهٔ سره بغض وکړي، نو دے به خلاصے مومي د دې ټولو خبرو (د محبت او بغض وغیره) په پټو ساتلو باندې. (بیهقي)

د ګناه په خبرو کښې (یا د ګناه) حکم نهٔ منل (طاعت نهٔ کول)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: نیشتي حکم منل (طاعت کول) په څهٔ ګناه کښې، حکم منل صرف په نیکۍ کښې دي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: نیشتي حکم منل د یو مخلوق په نافرمانۍ د خالق کښې. ((مشکوٰة، شرح السنه)

❁ رسول اللهﷺ په یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: پس څوک چې د دوی نه (د دې امیرانو نه) تاسو ته د الله تعالیٰ د نافرمانۍ حکم درکړي نو د هغهٔ حکم مهٔ منۍ. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ مسلمان بنده (اوربدل او) حکم منل دي پۀ خوښه او ناخوښه کښې مګر دا چې د څۀ ګناه حکم ورته ورکړے شي نو کله چې ورته د څۀ ګناه حکم ورکړے شي نو بيا نۀ اوربدل شتي نۀ منل (يعني د ګناه پۀ خبره عمل کول نيشتي) ۔ (متفق عليه)

❁ د عبدالله بن مسعودرضي الله عنه نه روايت دے: رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما نه روستو به ستاسو معاملات څۀ داسې سړي سنبالوي چې سنت به وژني او پۀ بدعت به عمل کوي او نمونز به د خپل وخت نه روستو کوي ۔ ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! کۀ زۀ هغوی بيامومم نو څنګ عمل به کوم؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: تۀ زما نه تپوس کوې اے د اُمِّ عبد زويه چې تۀ به څنګ عمل کوې؟ نيشتي حکم منل د هغه چا څوک چې د الله تعالىٰ نافرماني وکړي (يعني د نافرمانۍ پۀ خبره کښې) ۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: خبردار! قرآن او حکومت به جدا جدا کيږي نو تاسو به د قرآن نه نۀ جدا کيږئ؛ خبردار! پۀ تاسو به داسې حکمرانان رازي چې ځان له به هغه فيصلې کوي کومې چې به تاسو له نۀ کوي، کۀ تاسو ئې حکم نۀ منئ نو تاسو به قتلوي او کۀ حکم ئې منئ نو تاسو به ګمراه کوي ۔ صحابه کرامو عرض وکړو: اے د الله رسوله! بيا به مونږ څۀ کوو؟ رسول اللهﷺ فرمائيل: څۀ چې د عيسىٰ بن مريم (عليهما السلام) ملګرو کړي وو: پۀ ارو اره کړے شو او پۀ سولۍ وخېژولے شو ۔ د الله تعالىٰ پۀ فرمان بردارۍ کښې مرګ د الله تعالىٰ پۀ نافرمانۍ کښې د ژوند نه غوره دے ۔ (طبراني، سياستِ اسلاميه)

حکمران ته نصيحت، ظالم بادشاه ته د حق وينا ، د شهيدانو سردار

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې وغوښتۀ چې يو حکمران ته د څۀ خبرې نصيحت وکړي نو ښکاره دِ ورته نۀ کوي بلکې د هغۀ

لاس دِ ونیسي او هغه دِ یوازې ځائے ته بوزي (او هلته دِ ورته وکړي)، نو کهٔ هغه ئې قبول کړي نو ډېره ښهٔ ده او کهٔ قبول ئې نکړي نو دهٔ به خپل فرض پوره کړے وي۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د ټولو نه غوره (یا لوئے) جهاد د یو ظالم بادشاه پهٔ مخکښې د حق (یا د انصاف) وینا (کلمه) ده ۔ (ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د شهیدانو سردار حمزه (رضي الله عنه) دے او هغه سړے دے چې یو ظالم حکمران ته ودرېږي د نیکۍ حکم ورته کوي او د بدۍ نه ئې منع کوي نو هغهٔ دے قتل کړي۔ (حاکم، خطیب)

حکمرانانو ته د بدوردو او بددعائي پهٔ ځائے دعاء او ذکر و زاري

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: حکمرانانو ته بدې ردې مهٔ وایۍ، هغوی له د ښهٔ والي دعاء غواړۍ ځکه چې د هغوی ښهٔ والے تاسو له ښهٔ والے دے۔ (الجامع الصغیر)

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: خپل زړونه بادشاهانو ته پهٔ کنزلو او بدو ردو ویېلو مهٔ مشغول کوۍ بلکې هغوی له پهٔ دعاء کولو سرهالله تعالیٰ ته نزدې کېږۍ، الله تعالیٰ به د هغوی زړونه پهٔ تاسو مهربانه کوي۔ (الجامع الصغیر)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو خپل ځانونه بادشاهانو ته پهٔ بددعائي (خبرو کولو) کښې مهٔ مشغوله کوۍ بلکې ځانونه پهٔ ذکر او زارۍ کښې مشغوله کړۍ چې زهٔ تاسو له ستاسو د بادشاهانو نه کافي شم (د هغوی د بدو نه تاسو وساتم) ۔(ابونعیم فی الحلیه)

باب: د عوامو بده او ناجائزه رویه، عمل

بیعت نۀ کول، دوه بیعتونه کول

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: څوک چې پۀ داسې حال کښې مړ شو چې پۀ څټ کښې ئې بیعت نۀ ؤ نو د جاهلیت پۀ مرګ مړ شو۔ (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے چې هغوی د دوه بیعتونو نه منع فرمائیلې ده۔ (ابونعیم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: کله چې د دوه خلیفګانو (حکمرانانو) بیعت وکړے شي نو پۀ هغوی کښې هغه دویم یو قتل کړی۔ (مسلم)

د حکمرانانو حکم نۀ منل، د طاعت نه وتل، د بادشاه سپکاوے کول

❁ رسول اللهﷺپۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائیل: چا چې د امیر اطاعت ونکړو هغۀ زما اطاعت ونکړو۔ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ (معاذ رضي الله عنه ته پۀ یو وصیت کښې) وفرمائیل: زۀ تا منع کوم چې تۀ د یو عادل بادشاه نافرماني وکړې۔ (ابونعیم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د حکمرانانو د طرف نه یو حکم (یا فیصلې) ته راوغوښتے شي او دے قبلول ونکړي نو دے ظالم دے۔ (ابوداؤد في مراسیله)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: چا چې (د حکمران) د طاعت (حکم منلو) نه لاس بهر کړو نو دے به د قیامت پۀ ورز د الله تعالیٰ سره پۀ داسې حال کښې ملاویږي چې هیڅ دلیل به ورله نۀ وي۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: څوک چې د طاعت نه ووت او د جماعت نه جدا شو او بیا مړ شو نو د جاهلیت پۀ مرګ مړ شو۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: خبردار! پهٔ چا چې څوک والي (حکمران) مقرر شي او بيا دے هغه ايني چې د الله تعالیٰ د نافرمانۍ څهٔ کوي نو دے دِ هغه بد ګڼي او د طاعت نه دِ لاس نه راوباسي. (مسلم)

❁ پهٔ يو حديث مبارک کښې د ابوبکره رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي هغوی وفرمائيل: چا چې پهٔ زمکه کښې د الله تعالیٰ د بادشاه (سلطان) سپکاوے (اهانت) وکړو الله تعالیٰ به د دهٔ سپکاوے وکړي. (ترمذي)

د جماعت او حکومت خلاف راوتل، ناجائز مخالفت او بغاوت کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې زما د اُمت خلاف د خپلې تورې سره راوزي چې د دې نيک سړے او بد سړے وهي او د دې د مومن نه نهٔ بچ کيږي او د وعدې والا وعده نهٔ پوره کوي نو هغه کس زما نه نهٔ دے او زهٔ د هغهٔ نه نهٔ يم. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: شرونه فسادونه (يا فتنې او حادثې) به رازي، پس چا چې اراده وکړه چې د دې اُمت پهٔ امر (حکومت او جماعت) کښې جدائي راولي او حال دا وي چې دا يوځائے وي نو هغه پهٔ توره ووهئ هر څوک چې وي . (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې پهٔ تاسو راشي پهٔ داسې حال کښې چې ستاسو امر (حکومت) پهٔ يو سړي (حکمران) جمع وي چې ستاسو لخته ماتول يا ستاسو جماعت جدا جدا کول غواړي نو هغه قتل کړئ. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمايهٔ: چا چې پهٔ مونږ (پهٔ مسلمانانو) وسله اوچته کړه هغه زمونږ نه نهٔ دے. (متفق عليه)

د بدو او ظالمانو حکمرانانو په بدۍ کښې مدد ، رد پرې نۀ کول، د هغو خوا له تلل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما نه روستو به داسې حکمرانان وي چې دروغ به وايي او ظلم به کوي، پس چا چې د هغوی په دروغو کښې هغوی رشتوني وګڼل او د هغوی په ظلم کښې ئې د هغوی مدد وکړو نو دے زما نه نۀ دے او زۀ د دۀ نه نۀ يم او زما حوض ته به نۀ شي راتلے. (نسائي، ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد مروي دے : زما نه روستو به داسې حکمرانان رازي چې غلط څۀ به کوي او څوک به پرې رد نۀ کوي، دغه حکمرانان به جهنم ته زي. (تاريخ الاسلام للذهبي)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: چا چې وليد يو بادشاه ظالم، د الله تعالیٰ د حرامو حلالونکے، د الله تعالیٰ د وعدې ماتونکے، د رسول اللهﷺ د سنت خلاف کونکے چې د الله تعالیٰ په بندګانو کښې د ګناه او د ظلم عمل کوي او بيا دۀ په وينا يا عمل سره دغه (بد) ختم نکړۀ نو په الله تعالیٰ به حق وي چې دے د هغۀ ځائے ته داخل کړي. (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې د ظالمانو بادشاهانو نه جدا پاتې شو نو دے سلامت پاتې شو او څوک چې د هغوی سره د هغوی په دنيا کښې پرېوت نو دے د هغوی نه دے. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: څوک چې د بادشاه خوا له لاړ (يا د بادشاه سره شو) نو په فتنه کښې پرېوت. (احمد ، ابوداؤد ، ترمذي، نسائي)

کتاب: قضاء، فیصله

باب: قاضي

قاضي جوړېدل، پۀ غوښتو او د غوښتو نه بغیر جوړ شوے قاضي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د خلقو پۀ مینځ کښې قاضي جوړ کړے شو هغه بغیر د چړې نه ذبح کړے شو۔ (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې قاضي توب تلاش کړو او وئې غوښتۀ نو خپل ځان ته به حواله کړے شي او څوک چې پۀ هغې مجبور کړے شو نو الله تعالیٰ به پۀ دۀ یوه فرښته نازله کړي چې دے به ټیک کوي (مدد به ئې کوي)۔ (ابوداؤد، ابن ماجه)

قاضي سره الله یا شیطان، قاضي له جنت یا دوزخ، د قاضي قسمونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ د قاضي سره وي څو پورې چې دے ظلم ونکړي او کله چې دے ظلم وکړي نو هغه ترې لرې شي (مدد کول ئې پرېږدي) او شیطان ورسره ولګي۔ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د مسلمانانو قاضي توب طلب کړو تر دې چې حاصل ئې کړو او بیا د دۀ انصاف د دۀ پۀ ظلم غالب شو نو دۀ له جنت دے، او د چا چې ظلم پۀ انصاف غالب شو نو دۀ له دوزخ دے۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قاضي پۀ درې قسمه دے، یو به پۀ جنت کښې وي او دوه پۀ دوزخ کښې۔ پۀ جنت کښې به هغه یو وي چې حق ورته معلوم وي او د هغې فیصله کوي، او چا ته چې حق معلوم وي لیکن پۀ فیصله کولو کښې ظلم کوي نو هغه به پۀ دوزخ کښې وي، او څوک چې د خلقو فیصلې کوي خو پته ورته نۀ وي نو هغه به پۀ دوزخ کښې وي۔ (ابوداؤد، ابن ماجه)

باب: فیصله کول

قیامت کښې خطره او افسوس

❁ پۀ یو روایت کښې دي د ابن عمرؓ وینا ده: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي چې څوک قاضي وي او پۀ انصاف سره فیصلې کوي نو لائق دے (لویه خبره ده ورله) چې د هغې نه سر پۀ سر خلاص شي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم یو فیصله کونکے (حاکم) چې د خلقو پۀ مینځ کښې فیصله کوي نو د قیامت پۀ ورځ به دے پۀ داسې حال کښې راشي چې یوې فرښتې به ورله څټ نیولے وي بیا به هغه (فرښته) خپل سر آسمان ته اوچت کړي (د الله تعالیٰ د حکم انتظار به کوي) کۀ الله تعالیٰ وفرمائيل چې دے ارتاؤ کړه نو هغه به ئې ارتاؤ کړي د څلوېښتو خریفو د فاصلې پۀ کنده کښې. (احمد ، ابن ماجه، بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: انصاف کونکے (عادل) قاضي به د قیامت پۀ ورز راوُغوښتے شي نو د حساب داسې سختۍ ته به مخامخ شي چې ارمان به وکړي چې دۀ پۀ خپل ټول عمر کښې هم د دوؤ تنو پۀ مینځ کښې فیصله نۀ وے کړے. پۀ یو بل روایت کښې دي چې د دوؤ تنو پۀ مینځ کښې م ِد یوې کجورې د دانې هم فیصله نۀ وے کړے. (ابن حبان، بیهقي، احمد)

د فیصلې کولو څۀ آداب وغیره

❁رسول اللهﷺ معاذ بن جبلؓ ته وفرمائيل کله ئې چې یمن ته لیږۀ: تۀ به څنګه فیصله (حکم) کوې کله چې تا ته څۀ خبره پېښه شي؟ هغۀ ووې: د الله پۀ کتاب به فیصله کوم .رسول اللهﷺ وفرمائيل: کۀ د الله پۀ کتاب کښې بیانۀ مومې؟ هغۀ ووې: د الله د رسول اللهﷺ پۀ سنت. رسول اللهﷺ وفرمائيل: کۀ د الله د رسول(ﷺ) پۀ سنت کښې بیانۀ مومې؟ هغۀ ووې: د خپلې رائے اجتهاد به کوم او کوتاهي به نۀ کوم . رسول اللهﷺ هغه پۀ سینه وټپولو او وئې

فرمائېل: حمد دے الله لره چا چې د الله د رسول رسول (قاصد) ته د هغه څۀ توفيق ورکړو (يا ئې د هغه څۀ سره موافق کړو) کوم څۀ چې د الله د رسول خوښه ده۔ (ترمذي، ابوداؤد، دارمي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې حاکم (فيصله کونکے) فيصله کوي او اجتهاد (سخت کوشش) وکړي او بيا حق ته ورسي نو هغۀ له دوه اجرونه دي، او چې فيصله کوي او اجتهاد وکړي خو خطا شي نو هغۀ له يو اجر دے۔ (متفق عليه)

❁ معاذ بن جبلؓ فرمائي: رسول اللهﷺ چې زۀ يمن ته لېږلم نو وئې فرمائېل: تۀ به هيڅکله حکم او فيصله نۀ کوې مګر پۀ هغه څۀ چې تا ته معلوم وي۔ (ابن ماجه)

❁ د عليؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تا ته دوه تنه فيصله راوړي نو اولني له به حکم نۀ کوې تر دې چې د دويم خبره واورې، تۀ به پوهه شې چې څنګه فيصله وکړې۔ (احمد، ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو فيصله کونکے (دربمګړے يا قاضي) دِ د دوؤ تنو پۀ مينځ کښې فيصله نۀ کوي (يا حاکم له نۀ دي پکار چې د دوؤ تنو پۀ مينځ کښې فيصله وکړي) پۀ داسې حال کښې چې دے پۀ غصه کښې وي۔ (بخاري، ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ د عبدالله بن زبيرؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ حکم وکړو (دا خبره ئې لازمه کړه) چې خصمين (مدعي او مدعیٰ عليه) به د حاکم (فيصله کونکي) پۀ مخکښې کښېنولے کيږي۔ (احمد، ابوداؤد)

❁ روايت کښې دي چې رسول اللهﷺ يو سړے پۀ تهمت (الزام) کښې قيد کړو او بيا ئي (د تحقيق نه روستو) پريښودۀ۔ (ترمذي، نسائي، ابوداؤد)

کتاب: دعوىٰ ، ګواهي، قسم، حدود و قصاص

باب: دعوىٰ

ناحقه دعوىٰ کول، څۀ پرې حاصلول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د چا پۀ داسې څۀ شي دعوىٰ وکړي چې د دۀ نۀ وي نو د ے زمونږ نه نۀ د ے او خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زۀ بشر يم او تاسو ما له خپلې فيصلې راوړئ او شايد چې پۀ تاسو کښې بعضې کسان د بعضو پۀ مقابله کښې د خپل دليل پۀ پيش کولو کښې زيات پوهه او ماهر وي او زۀ خو چې څۀ واورم پۀ هغې به فيصله کوم، نو کۀ زۀ د چا دپاره د دۀ د (مسلمان) ورور د حق نه د څۀ حکم وکړم نو د ے دِ هغه هيڅکله نۀ اخلي ځکه چې دا خو به زۀ دۀ له د دوزخ يوه ټکړه پرې کوم او ورکوم۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کچرې ورکول وکړ ے شي خلقو له د هغوئ پۀ دعوو باندې نو څۀ خلق به دعوې وکړي د نورو پۀ وينو او مالونو باندې ليکن ثبوت (ګواهي) پيش کول پۀ مدعي دي او قسم پۀ هغه چا د ے څوک چې انکار کوي۔ (حاشيۀ مشکوٰة)

باب: ګواهي (ثبوت) او قسم

ثبوت يا ګواهان پيش کول او قسم خوړل، ګواهۍ او قسم کښې جلدي

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: ثبوت (ګواه) پۀ مدعي (دعوىٰ کونکي) د ے او قسم پۀ مدعىٰ عليه (يا انکار کونکي) د ے۔ (ترمذي)

۞ د اشعث بن قيس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: زما او د يهودو د يو سړي پۀ مينځ کښې يوه زمکه وه (چې زما وه)، هغۀ ما له د راکولو نه انکار وکړو، ما هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته پيش کړو، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل: ستا سره ګواهان شته؟ ما ووې: نا، نو هغوى يهودي ته وفرمائيل: قسم وخوره. (ابوداؤد، ابن ماجه)

۞ د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے: رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سړي ته وفرمائيل کوم له ئې چې قسم ورکولو: قسم وخوره پۀ الله چې نيشتے اله مګر هغه چې د دۀ ستا سره څۀ نيشتي يعني د مدعي. (ابوداؤد)

۞رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل: تاسو خلق د هغوى پۀ قَسَمونو کښې پۀ هغۀ څۀ مۀ مجبوره کوى چې هغوى ته نۀ وي معلوم. (ابوداؤد في مراسيله)

۞ رسول الله صلى الله عليه وسلم پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: داسې خلق به راشي چې پۀ هغوى کښې د يو کس ګواهي به د هغۀ د قسم نه مخکښې کيږي او قسم به ئې د ګواهى نه مخکښې کيږي. (بخاري)

هغه کسان د چا چې ګواهى جائزه نۀ ده، ګواهى نه واپس کېدل، ګواهي پټول

۞ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل: نۀ ده جائزه ګواهي د يو خيانت کونکي سړي او د يوې خيانت کونکي ښځې او نۀ د هغه چا چې (د قذف) پۀ حد کښې ورله کوړې ورکړے شوې وي او نۀ پۀ خپل (مسلمان) ورور د حسد کونکي او نۀ د موالاة او د خپلولى د تهمت والا او نۀ د کور والو سره د قناعت کونکي (صرف د ګزارې د رزق موندونکي). (ترمذي). پۀ يو بل روايت کښې د زناکار سړي او زناکارې ښځې ذکر هم راغلے دے. (ابوداؤد)

۞ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل: د خصم (مخالف) او تهمت والا سړي ګوا هي نيشته (قبوله نۀ ده). (ابوداؤد في مراسيله)

۞ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: څوک چې د ګواهۍ نه واپس شي یا ګواهي پټه کړي نو الله تعالیٰ به د قیامت پۀ ورز د خلقو پۀ وړاندې پۀ دۀ د دۀ غوښه وخوروي او دوزخ ته به ئې داخل کړي پۀ داسې حال کښې چې خپله ژبه به ژوي. (المطالب العالیه)

د دروغو د ګواهۍ او پۀ هغې د چا د جاني مالي نقصان کولو وعیدونه

۞ د رسول اللهﷺنهروایت کړے شوے دے: چا چې د یو مسلمان یا د یو کافر خلاف د دروغو ګواهي ورکړه نو د قیامت پۀ ورز به دے د ژبې نه زړوند کړے شي بیا به د منافقینو سره د دوزخ د ټولو نه ښکته درجې ته بوتلے شي. (المطالب العالیه)

۞ د رسول اللهﷺنه مروي دي: د دروغو د ګواه پښې به (د قیامت پۀ ورز) د خپل ځائے نه ونۀ خوزي تر دې چې الله تعالیٰ ورله دوزخ واجب کړي. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې (د دروغو) ګواهي وکړه چې د یو مسلمان سړي مال ئې پرې تباه کړو یا ئې پرې د هغۀ وینه وبیوله نو ځان له ئې دوزخ واجب کړو. (مسند الحارث، ناسخ الحدیث و منسوخه)

د دروغو ګواهي پۀ غټو ګناهونو کښې او د شرک برابره شمار

۞ پۀ یو حدیث مبارک کښې رسول اللهﷺد دروغو ګواهي د ټولو نه پۀ غټو ګناهونو کښې شمار کړې ده. (متفق علیه)

۞ د خُریم بن فاتکرضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ د سحر نمونځ وکړو بیا ودرېدۀ او وئې فرمائېل: د دروغو ګواهي د الله تعالیٰ سره د شریک جوړولو برابره ګرزولے شوې ده. دائې درې ځلې وفرمائېل. (ابوداؤد، احمد، ترمذي)

د دروغو د قسم وعیدونه، دروغ قسم پۀ غټو ګناهونو کښې

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ دروغه قسم وخوړ نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې هم زما د دې منبر پۀ خوا کښې د ګناه (دروغو) قسم وخوري اګرکۀ پۀ یو شین مسواک وي نو خپل ځائے دِ د دوزخ نه ونیسي یا هغۀ له دوزخ واجب شو. (مالک، ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: یو قسم خوړونکے چې پۀ الله تعالیٰ قسم وخوري او د ماشې د وزر مقدارې پۀ هغې کښې څۀ (دروغ) داخل کړي نو د قیامته پورې به د دۀ په زړۀ کښې یوه نکته وي. (ترمذي، حاکم)

❁ د عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه نه روایت دے، فرمائي: یو اعرابي د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او وئې ویېل: اے د الله رسوله! غټې ګناهونه کوم کوم دي؟ رسول اللهﷺ فرمائېل: د الله تعالیٰ سره شریک پیدا کول. هغۀ ووې: بیا کوم؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یمینِ غموس (غوپه کونکے قسم). ما (یا هغۀ) عرض وکړو: یمینِ غموس څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه قسم په کوم چې څوک د یو مسلمان مال حاصل کړي، یعني داسې قسم چې دے پکښې دروغجن وي. (بخاري)

د دروغو پۀ قسم د چا مال اخستل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د یو مسلمان مال پۀ خپل (د دروغو پۀ قسم واخستۀ نو الله تعالیٰ دۀ له دوزخ واجب کړو او جنت ئې پرې حرام کړو. یو سړي ووې: اګرکۀ لږ شان شے وي اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اګرکۀ د اراک د ونې یو غوښ کړے شوے ښاخ وي. (مسلم، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د یو مسلمان مال د خپلولو دپاره په دروغه قسم وخوري نو الله تعالیٰ به د دهٔ سره په داسې حال کښې ملاویږي چې په دهٔ به غصه وي. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د صبر (مجبور کولو) قسم وخوړ او دے په هغې کښې دروغجن ؤ چې د یو مسلمان مال پرې ترلاسه کړي نو د قیامت په ورز به دے د الله تعالیٰ سره په داسې حال کښې ملاویږي چې هغه به په دهٔ غضبناک وي. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک د دروغو په قسم څهٔ مال نهٔ حاصلوي مګر د الله تعالیٰ سره به په داسې حال کښې یوځائے کیږي چې جذام والا به وي. (ابوداؤد)

۞ یو سړے د حضرموت او یو د کنده د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شول. حضرمي ووې: اے د الله رسوله دهٔ په زبردستۍ زما زمکه لاندې کړې ده (چې زما دپلار وه). کندي ووې: دا زما زمکه ده او زما په لاس کښې ده (زهٔ پکښې فصل کرم)، د دهٔ په دې کښې هیڅ حق نیشتے. رسول اللهﷺ حضرمي ته وفرمائېل: تاسره ګواهان شتي؟ هغهٔ ووې: نا. رسول اللهﷺ وفرمائېل: نو بیا تا له د دهٔ قسم دے. هغهٔ (حضرمي) ووې: اے د الله رسوله! سړے فاجر بدکار دے، پروا نهٔ کوي په څهٔ چې قسم کوي، د هیڅ نه یره پرهېز نهٔ کوي. رسول اللهﷺ وفرمائېل: تا له د دهٔ نه نور څهٔ نیشتي سوا د دغې نه. هغه (کندي) روان شو چې قسم وخوري. کله چې لاړ نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: کهٔ قسم ئې وکړو د دهٔ په مال چې په ظلم سره ئې وخوري نو د الله تعالیٰ سره به په داسې حال کښې ملاویږي چې هغه به ترې اعراض کونکے (مخ اړوونکے) وي. (مسلم، ابوداؤد)

باب: حدود او قصاص

د حدودو تاکید، حدودو کښې ناانصافي

❁ د عباده بن صامت رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمائیل: حدود قائموئ په حضر کښې، په سفر کښې، په نزدې (خپل) باندې او په لرې باندې او د الله تعالیٰ په باره کښې د ملامت کونکي د ملامت پروا مه کوئ.
(ابوداؤد في مراسیله)

❁ د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے: قریش په فکر کښې وغورزول حال د هغې مخزومۍ ښځې چا چې غلا کړې وه نو وئې ویېل: د دې په باره کښې به د رسول الله ﷺ سره خبره څوک وکړي؟ وئې ویېل: په هغوئ څوک زړه ور توب کولے شي سوا د اُسامه بن زید نه چې د رسول الله ﷺ محبوب دے. اُسامه (رضي الله عنه) د رسول الله ﷺ سره خبره وکړه نو رسول الله ﷺ وفرمائیل: ته د الله تعالیٰ د حدونو نه په یو حد کښې سفارش کوې؟ بیا خطبې ته ودرېدهٔ او وئې فرمائیل: ستاسو نه مخکښې خلق نهٔ دې هلاک شوي مګر په دې خبره چې په هغوئ کښې به کله یو اوچت سړي غلا وکړه نو هغه به ئې پرېښودهٔ او چې کمزوري به غلا وکړه نو په هغهٔ به ئې حد قائمولو؛ په الله مې د قسم وي کهٔ فاطمې د محمد (ﷺ) لور غلا کړے وے نو ما به د هغې لاس پرې کړے ؤ.
(متفق علیه)

قصاص، قصاص کښې رکاوټ اچول

❁ رسول الله ﷺ د حجة الوداع په خطبه کښې وفرمائیل: په قصداً قتل کښې قصاص دے او شبهِ عمد (د قصداً قتل مشابه قتل) هغه دے چې په لختہ او ګټه وي او په هغې کښې سل اوښان دي، پس چا چې زیات والے وکړو نو دے د جاهلیت والو نه دے.(متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې په قصد قتل وکړي نو په دې کښې قصاص دے او څوک چې په قصاص کښې رکاوټ واچوي نو په هغۀ د الله تعالیٰ لعنت او غضب دے، نۀ به ئې نفل عبادت قبول وي او نۀ فرض. (ابوداؤد، نسائي)

کتاب: مال و دولت

باب: د مال ښۀ والے او بدوالے

سړي د پاره ښۀ مال، مال لرل مګر په حق او تقویٰ سره

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څۀ ښۀ دے صالح مال د صالح سړي د پاره. (احمد،ابویعلیٰ، طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ نه په یرېدو (تقویٰ) کښې ښۀ مددګار مال دے. (دیلمي)

۞ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایۀ: په خلقو به یوه زمانه راشي چې نفع به نۀ ورکوي مګر دینار او درهم. (احمد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دا مال سرسبز (راخکونکے) او خوږ دے، څوک چې دا د دې په حق سره اخلي هغۀ له پکښې برکت اچولے کیږي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دا مال سرسبز او شاداب شے دے پس چا چې دا د دې په حق سره واخستۀ او د دې په حق سره ئې استعمال کړو نو ښۀ مددکونکے دے دا. (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: نیشتے څۀ باک (بدوالے) په غني والي (مال لرلو) کښې هغه چا له څوک چې تقویٰ (د الله تعالیٰ یره) لري. (احمد، ابن ماجه)

مال په حقيقت کښې هغه دے چې مخکښې ولېږلے شي (آخرت له تو بنه کړے شي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د سړي مال هغه دے کوم چې دهٔ مخکښې ولېږهٔ. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے د آدم زويه! ستا هم لا څهٔ مال شتے سِوا د هغې نه چې تا وخوړ او فنا دِ کړو يا دِ واغوستهٔ او زوړ دِ کړو او يا دِ صدقه کړو او مخکښې دِ ولېږهٔ. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په تاسو کښې چا ته د خپل وارث مال د خپل مال نه زيات خوښ دے؟ عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! په مونږ کښې خو داسې يو کس هم نيشتے چې هغهٔ ته خپل مال د خپل وارث د مال نه زيات خوښ نهٔ وي. رسول اللهﷺ وفرمائېل: نو د دهٔ مال هغه دے کوم چې دهٔ مخکښې ولېږهٔ او د دهٔ د وارث مال هغه دے کوم چې دهٔ روستو پرېښودهٔ. (بخاري)

مال فتنه او د ټولو نه غټ دشمن

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هر اُمت دپاره يوه فتنه وي او زما د اُمت فتنه مال دے. (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: د هر اُمت دپاره يو سخے (د عبادت يو شے) ؤ او د دې اُمت سخے دينار او درهم دي. (ديلمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستا د ټولو نه غټ دشمن ستا مال دے د کوم چې تهٔ مالک يې. (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: ستا دشمن هغه نهٔ دے چې تهٔ ئې قتل کړې نو ستا دپاره رڼا شي يا تا قتل کړي نو تهٔ جنت ته لاړ شې بلکې ستا د ټولو نه غټ دشمن ستا هغه زوے دے کوم چې ستا د ملا نه راوتے دے

او بیا ستا د ټولو نه غټ دشمن ستا هغه مال دے د کوم چې تۀ مالک یې. (طبراني)

قیامت کښې مالدارانو له د غریبانانو نه سختي

❁ د رسول الله ﷺ نه د دې مفهوم روایت کړے شوے دے: قیامت کښې به مالدارانو له د غریبانانو د طرف نه سختي او تکلیف وي. غریبانان به ووایي: اے پروردګاره! دې خلقو زمونږ حق نۀ ؤ راکړے کوم چې تا پۀ دوی زمونږ دپاره فرض کړے ؤ. الله تعالیٰ به وفرمائي: قسم دِ وي زما پۀ عزت خپل! زۀ به دوی لرې کړم او تاسو به نزدې کړم. (تذکرة الواعظین)

باب: مال والا څۀ ناجائزې خبرې

د مال حرص او محبت

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د قیامت پۀ ورز به څۀ کسان راشي چې عملونه به ئې د تهامې د غرونو پۀ شانې وي خو د هغوی دوزخ ته د بوتلو حکم به وکړے شي. صحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! دغه کسان به نمونځ کونکي وي؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: هغوی به نمونځونه هم کوي، روژې به هم نیسي او د شپې عبادت به هم کوي خو پۀ هغوی کښې به دا خبره وي چې د دنیا څۀ شے ورته وړاندې کیږي نو پۀ هغې به ورغوپه کیږي. (ابونعیم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: لعنت دِ وي (یا لعنت دے) د دینار پۀ بنده! او لعنت دِ وي د درهم پۀ بنده! (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: هلاک دِ شي بنده د دینار او بنده د درهم او بنده د څادر! کۀ (څۀ) ورته ورکړے شي نو راضي شي او کۀ ورنکړے شي نو غصه او خفه شي؛ ذلیل دِ شي! او کۀ غنه پکښې لاړه شي نو وُدِ ترېنه نۀ ویستے شي! (بخاري، ابن ماجه)

مال کښنې د يو بل سره سيالي او مقابله

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د يو بل سره (د دنيا په مال اسباب کښنې) سيالي (او مقابله) مه کوئ. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: والله زه په تاسو د فقيرئ يره نه کوم، زه په تاسو دا يره کوُم چې تاسو ته به د مخکښنېنو خلقو په شان دنيا ډېره درکړے شي نو تاسو به د دې سره رغبت او په دې کښنې د يو بل سره سيالي شروع کړئ نو دا به تاسو هلاک کړي لکه څنګه ئې چې هغوئ هلاک کړي وو. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قسم مې دِ په الله وي زه په تاسو د دې يره نه کوُم چې تاسو به زما نه روستو شرک وکړئ، زه په تاسو د دې يره کوم چې تاسو به په دنيا کښنې د يوبل سره سيالي (او حرص) شروع کړئ. (متفق عليه)

عيش پرستي

❁ د معاذ بن جبلؓ نه روايت دے چې رسول اللهﷺ هغه يمن ته روان کړو نو وئې وفرمائيل: د عيش و عشرت (ناز و نعمت) نه ځان ساته ځکه چې د الله تعالیٰ بندګان د عيش و عشرت والا نه وي. (احمد)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: زما د اُمت د ټولو نه بد خلق هغه دي چا ته چې د عيش و عشرت خوراک ورکړے شو او بدنونو ئې په هغې پرورش بياموندۀ. (ابن عدي، بيهقي)

❁ د فضاله بن عبيدؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ مونږ د عيش کولو نه منع کړي يو او مونږ ته ئې حکم فرمائيلے دے چې کله کله خپيابله پخې ګرزو. (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: ستاسو نه روستو به داسې خلق راشي چې رنګ په رنګ خوارۀ خوراکونه به خوري، په ښۀ ښۀ اسونو به سورلي کوي، د ښکلو ښځوسره به ودونه کوي او قسماقسم ښائسته جامې به

اغوندي؛ د هغوی ګېډې به پهٔ لړه نهٔ ډکیږي او د هغوی نفس به پهٔ زیاته هم صبر نهٔ کوي، هغوی به بس د دنیا خلق وي، پهٔ دې کښې به سحرمابښام کوي، د خپل اصل رب پهٔ ځائے به دنیا خپل رب جوړوي، بس پهٔ دې به د هغوی انتها وي، پهٔ خپل خواهش پسې به تلونکي وي ـ ستاسو نه روستو خلقو او هغوی پسې راتلونکو خلقو کښې چې چا ته هم دغه کسان ملاؤ شي نو دهٔ ته دِ د محمد بن عبد الله قسم چې هغوی ته دِ نهٔ سلام کوي نهٔ دِ د هغوی د مریضانو تپوس کوي نهٔ دِ د هغوی به جنازو کښې شریک کیږي او نهٔ دِ د هغوی د غټانو عزت کوي؛ کهٔ چا پهٔ دوی کښې دا کار وکړو نو دهٔ د اسلام پهٔ ورانولو کښې مدد وکړو ـ (احیاء)

مال کښې د الله حق نهٔ ادا کونکے، مال آخرت له نهٔ استعمالونکے

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کوم مال والا چې پهٔ خپل مال کښې د الله تعالیٰ حکم پوره کړے وي هغه به د قیامت پهٔ ورځ د الله تعالیٰ مخې ته راروان کړے شي او مال به ورسره مخکښې وي، پهٔ پل صراط به آخوا دېخوا کړیږي نو مال به ورته ووایي چې تېر شه تا پهٔ ما کښې د الله حق ادا کړے دے ـ بیا به هغه مال والا راروان کړے شي چا چې پهٔ خپل مال کښې د الله تعالیٰ حکم نهٔ وي پوره کړے او مال به ورسره وي، پهٔ پل صراط به آخوا دېخوا کړیږي نو مال به ورته ووایي چې کم بخته! تا پهٔ ما کښې د الله حق نهٔ دے ادا کړے؟ دا حالت به جاري وي دې پورې چې تباهۍ او بربادۍ ته آواز وکړے شي ـ (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قیامت پهٔ ورځ به ابن آدم د بیزې د بچي پهٔ شانې راوستے شي او د الله تعالیٰ مخې ته به ودرولے شي، الله تعالیٰ به تربنه تپوس وکړي: ما تا له مال درکړے ؤ تا پهٔ هغې کښې څهٔ کړي وو؟ دے به ووایي: اے ربه! ما پهٔ دنیا کښې مال جمع کړو او زیات مِ کړو او کله چې هغه آخري حد ته

ورسېدۀ نو ما هغه پرېښودۀ او زۀ ترې راغلم، تۀ ما واپس دنيا ته ولېږه زۀ به هغه ټول تا له راوړم. الله تعالیٰ به وفرمائي: تا د مخکښې دپاره څۀ لېږلي وو؟ دے به ووايي: اے ربه! ما پۀ دنيا کښې مال جمع کړو او زيات مِ کړو او کله چې هغه آخري حد ته ورسېدۀ نو ما هغه پرېښودۀ او زۀ ترې راغلم، تۀ ما واپس دنيا ته ولېږه زۀ به هغه ټول تا له راوړم. پس يو بنده به وي (دے) چې د نيکۍ يو کار به ئې نۀ وي کړے او مخکښې به ئې نۀ وي لېږلے نو دے به دوزخ ته ټېل وهلے شي. (ترمذي)

د مال پۀ حرص، محبت او طلب وغيره کښې د خلقو حالت

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ابن آدم زړېږي اودوه څيزونه ئې ځوانېږي: د مال حرص او د عمر حرص. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: کۀ د ابن آدم سره د مال دوه واديانې وي نو دے به دريمه غواړي، د ابن آدم ګېډه نۀ شي ډکولے مګر خاوره. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ابن آدم بوډا کېږي او دوه څيزونه ئې ځوانېږي: اُميد او د مال محبت. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بوډا سړے د دنيا (مال) پۀ طلب کښې ځوان وي اګرکۀ د بوډاوالي نه ئې پښتۍ کږې شوې وي مګر هغه خلق داسې نۀ وي کوم چې د الله تعالیٰ نه يرېدونکي وي او هغه ډېر کم دي. (بخاري،مسلم)

باب: د مالدارو پۀ حقله څۀ بد عملونه

د مالدارو عزت او هغوی ته عاجزي د مال د وجې نه

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: څوک چې د يو مالدار سړي عزت يا هغۀ ته عاجزي صرف د هغۀ د مال د وجې نه وکړي نو دا لکه چې دے خپل دوه حصې ايمان وبائېلي. (تذکرة الواعظين، شرح الفقه الاکبر)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې د يو فقير سپکاوے وکړو د هغۀ د فقيرئ د وجې نه او د يو مالدار عزت ئې وکړو د هغۀ د مالدارئ د وجې نه نو دے ملعون دے، زما شفاعت به دۀ ته نۀ نصيب کيږي۔ (ترغيب)

مالدارو سره ناسته پاسته وغيره

۞ د عائشې رضی الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ما ته وفرمائيل: کۀ تۀ ما ته نزدې والے غواړې نو دنيا کښې تا له د مسافر توښه پوره (يا پکار) ده او د مالدارو سره د کښېناستو نه ځان ساته او جامو ته چې دِ څو پيوندونه نۀ وي لګيدلي نو هغه زړې مۀ ګڼه او مۀ ئې وُباسه۔ (ترمذي، حاکم، جمع الفوائد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ځان د مړو سره د کښېناستو نه وساتئ۔ عرض وکړے شو: مړي څوک دي اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: مالدار خلق۔ (ترمذي، حاکم)

۞ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې روايت کړے شوے دے: څوک چې خپلې سترګې د مالدارو خلقو د رونقونو (ډَولونو) طرف ته اوچتې کړي نو د آسمان پۀ بادشاهئ کښې به هغه بې قدره شي۔ (طبراني، درمنثور)

کتاب: مال حاصلول، طلب کول، ګټل، متعلقات

باب: مُثبت اړخ

مال د سوال نه د بچ کيدو او د خپل حفاظت وغيره د پاره حاصلول

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: کوم سړے چې د سوال نه د بچ کېدو او د ځان د حفاظت د پاره مال حاصلوي نو د قيامت پۀ ورز به

دے پۀ داسې حال کښې رازي چې مخ به ئې د څوارلسمې د سپوږمۍ پۀ شان پرقيږي. (ابونعيم، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې دنيا پۀ حلاله طريقه د سوال نه د بچ کېدو، د خپل اهل وعيال د ساتلو او پۀ خپل ګاونډي د مهربانۍ کولو دپاره طلب کړه نو د قيامت پۀ ورز به هغه د الله تعالیٰ سره پۀ داسې حال کښې ملاويږي چې مخ به ئې د څوارلسمې د سپوږمۍ پۀ شان وي. (ابونعيم، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: څوک چې دنيا پۀ حلاله طريقه د (سوال او د حرامو نه د) بچ پاتې کېدو دپاره طلب کړي نو دے به د شهداؤ پۀ درجه کښې وي. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ يوه ورز د خپلو اصحابو سره ناست ؤ چې يو تکړه او طاقتور ځوان ئې وليدۀ چې پۀ منډه روان ؤ، صحابه ؤ ووې: دے دِ غرق شي! د دۀ ځواني او طاقت د الله تعالیٰ پۀ لار کښې وے! نو رسول الله ﷺ وفرمائيل: داسې مۀ وايۍ ځکه چې کۀ دے د دې دپاره منډه وهي چې خپل ځان د سوال نه وساتي او د خلقو نۀ ئې بې حاجته کړي نو دے د الله تعالیٰ پۀ لار کښې دے. (طبراني)

مال دپاره کار کسب کول، پيشه لرل

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ ته فارغ (وزګار او بېکار) ځوان ناخوښ وي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ ته دا ارشاد منسوب دے: کسب کونکے (محنتي) د الله تعالیٰ دوست دے. ()

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ د هغه بنده سره محبت کوي کوم چې د خلقو نه د بې حاجته (او بې پروا) کېدو دپاره پېشه لري. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: الله تعالیٰ چې پۀ تاسو کنبې چا له د څۀ نه د رزق سبب جوړکړي نو د ے دِ هغه نۀ پرېږدي تر دې چې هغه د دۀ دپاره بدل شي يا ناشنا شي۔ (ابن ماجه)

د خپل لاس کسب، عمل، د هغې فضيلت

❁ د رافع بن خديج رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ته عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! کوم کسب پۀ ټولو کنبې زيات پاک (او ښۀ) دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د سړي پۀ خپل لاس عمل او هره مبروره (د دروغو او خيانت نه پاکه) بيع (يا ګټه)۔ (احمد، بزار، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کنبې وفرمائیل: سړي د خپل لاس د عمل نه زيات پاک کسب نۀ دے کړے۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د ټولو نه زيات حلال او پاک شے چې بنده خوري هغه دے کوم چې د دۀ د کسب نه او د هر پاک تجارت نه وي۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د ټولو نه پاک څۀ چې تاسو خورئ هغه دي کوم چې ستاسو د خپل کسب نه وي۔ (ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا د خپل لاس د عمل د خوراک نه زيات غوره خوراک نۀ دے خوړلے۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: داؤد (عليه السلام) به خوراک نۀ خوړ مګر د خپل لاس د عمل نه۔ (بخاري)

باب: منفي اړخ

مال (بې ضرورته) جمع کول او ساتل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ما ته دا وحي نۀ ده شوې چې زۀ مال جمع کړم او د سوداګرانو نه شم، ما ته خو دا وحي شوې ده چې " تۀ د خپل رب د حمد سره

تسبیح کوه او د سجده کونکو نه شه او د خپل رب عبادت کوه تر دې چې تا ته یقین (مرګ) راشي". (مشکوٰة)

❁ د رسول اللهﷺنه پهٔ یو حدیث مبارک کښې مروي دي: الله تعالیٰ تاسو ته د مال جمع کولو او پهٔ خواهشونو پسې د کېدلو حکم نهٔ دے کړے. (احیاء)

❁د معاویهرضي الله عنه نه روایت دے چې هغه د خپل ماما ابو هاشمرضي الله عنه تپوس له لاړ نو ابو هاشمرضي الله عنه پهٔ ژړا شو. معاویهرضي الله عنه ورته ووې: ولې ژاړې اے ماما؟ څهٔ درد تا پرېشانه کوي یا د دنیا حرص؟ ابو هاشمرضي الله عنه ووې: داسې هیڅکله نهٔ ده خو رسول اللهﷺ زمونږ نه یوه وعده اخستې وه چې ما پوره نکړه. معاویهرضي الله عنه ووې: هغه څهٔ وه؟ ابو هاشمرضي الله عنه ووې: ما د هغوی نه اورېدلي وو چې تا له د مال پهٔ جمع کولو کښې صرف یو خادم او د الله تعالیٰ پهٔ لاره کښې یوه سورلي کافي ده او ما ته ښکاري چې ما جمع کول کړي دي. (احمد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

❁د ابوأمامهرضي الله عنه نه روایت دے چې د اهلِ صفه نه یو سړے مړ شو او یو دینار ئې پرېښو نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: یو داغ دے. بیا یو بل سړے مړ شو او دوه یناره ئې پرېښودهٔ نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: دوه داغونه دي. (احمد، بیهقي)

مال د فخراو زیاتوالي دپاره حاصلول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې دنیا پهٔ حلاله طریقه د زیات والي، فخر او ریا دپاره حاصله کړي نو د الله تعالیٰ سره به (پهٔ قیامت کښې) پهٔ داسې حال کښې ملاوېږي چې هغه به پرې غصه وي. (ابونعیم، بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ د یو سړي باره کښې وفرمائېل څوک چې پهٔ منډه روان ۇ: کهٔ دے د فخر او د زیات والي د مقابلې دپاره منډه وهي نو د شیطان پهٔ لار کښې دے. (طبراني)

مال پۀ ګناه او پۀ حرامه حاصلول، پۀ حرامه جمع کونکي ته زوربېدل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د رزق روستو والے دِ تاسو پۀ دې وُنۀ لګوي چې تاسو ئې د الله تعالىٰ پۀ نافرمانيانو طلب کړئ. (ابن ابی الدنیا، مجمع الزوائد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د ګناه د څۀ خبرې نه مال وګټۀ بيا ئې پۀ هغې سره صله رحمي وکړه يا ئې هغه صدقه کړو يا ئې د الله تعالىٰ پۀ لار کښې خرچ کړو نو الله تعالىٰ به دغه ټول جمع کړي او دوزخ ته به ئې وغورزوي. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: چا چې پۀ حرامه څۀ مال وګټۀ بيا ئې پرې غلام آزاد کړو يا ئې پرې صله رحمي وکړه نو د ثواب پۀ ځائے د دۀ ګناه وشو. (جمع الفوائد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ حرامه او ناحقه طريقه مال جمع کونکي ته مۀ زوربېږئ ځکه چې کۀ هغه دا صدقه کړي نو قبوله به نۀ شي او کۀ د ځان نه ئې روستو پرېږدي نو دوزخ ته د تلو توښه به ئې وي. (احمد، حاکم، بيهقي)

مال جمع کونکے او د قيامت ورز

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د قيامت پۀ ورز به يو داسې سړے راوستے شي چا چې پۀ حرامه طريقه مال جمع کړے ؤ او پۀ حرامو کارونو کښې ئې خرچ کړے ؤ، حکم به وشي چې دے دوزخ ته بوزئ. يو داسې سړے به راوستے شي چا چې پۀ جائزه طريقه مال جمع کړے ؤ او پۀ جائزو کارونو کښې ئې خرچ کړے ؤ، دۀ ته به وويلے شي: ودرېږه! کېدے شي چې تا د مال پۀ جمع کولو کښې پۀ هغه خبرو کښې کوتاهي کړې وي کومې چې پۀ تا فرض وې لکه پۀ وخت دِ مونځ نۀ وي کړے يا دِ د نمانځۀ پۀ رکوع او سجده کښې کوتاهي کړې وي. دے به عرض وکړي: نا، اے الله! ما مال پۀ حلاله

طریقه ګټلے ؤ او پۀ حلاله طریقه ئې خرچ کړے ؤ او خپل فرائض ئې نۀ وو ضائع کړي ـ وُبه ویېلے شي: کېدے شي چې تا پۀ دې کښې تکبر کړے وي، پۀ سورلۍ یا جامه دِ فخر کړے وي ـ دے به عرض وکړي: نا، اے الله! نۀ ما تکبر کړے ؤ او نۀ مې پۀ څۀ شي فخر کړے ؤ ـ وُبه ویېلے شي: کېدے شي چې تا د خپلوانو، یتیمانانو، مسکینانو او مسافرو هغه حق نۀ وي ادا کړے د کوم چې ما تا ته حکم در کړے ؤ ـ دے به عرض وکړي: نا، اے الله! ما پۀ حلاله ذریعه ګټلے ؤ او پۀ حلال ځائے کښې مې خرچ کړے ؤ او فرائض مې نۀ وو ضائع کړي، نۀ ما تکبر کړے ؤ او نۀ مې فخر کړے ؤ او نۀ مې د چا هغه حق ضائع کړے ؤ د کوم د ورکولو چې تا ما ته حکم راکړے ؤ ـ بیا به هغه ټول (یتیمانان، مسکینان وغیره) راشي او د دۀ سره به پۀ جګړه شي او وبه وایي: اے الله! تا دۀ له مال ورکړے ؤ، دے دِ مالدار جوړ کړے ؤ، مونږ دِ د دۀ پۀ ذمه کړي وو او دۀ ته دِ حکم ورکړے ؤ چې مونږ له څۀ راکړي؛ نو کچرې دۀ هغوی له څۀ ورکړي وي او د دې سره ئې څۀ فریضه نۀ وي ضائع کړي او نۀ ئې پۀ څۀ شي کښې تکبر کړے وي نو بیا به ورته وویېلے شي چې ودرېږه او د هغه ټولو نعمتونو کوم چې ما تا له درکړي وو شکر ادا کړه، کۀ ډوډۍ وي، اُوبۀ وي یا څۀ مزه وي ـ بس د دۀ نه به پۀ دې طریقه (نورهم) تپوسونه کیږي ـ (احیاء ازحارث محاسبي رحمه الله)

کتاب: حلال او حرام مال

باب: حلال مال، پاک خوراک

د حلال مال د طلب لازم والے، فضیلت، پۀ دې کښې سترې

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د حلال مال طلب پۀ هر مسلمان واجب (لازم) دے ـ (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د حلالې ګټې طلب د فرض نه پس فرض دے. (بيهقي، طبراني)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د عبادت لس جزءونه دي، نهه ترېنه په حلال مال طلب کولو کښې دي. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: د ګناهونو نه څۀ ګناهونه داسې دي چې هغه نۀ شي ختمولے مګر د معيشت په طلب کښې فکر او کوشش. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺنه په يو حديث شريف کښې د دې مفهوم ارشاد مروي دے: د دومره دومره (نفل) رکعتونو په مقابله کښې د يوې حرامې نمړۍ نه ځان ساتل زيات غوره دي. ()

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د حلال مال د طلب په ستړې کښې ماښام کړو نو هغۀ په داسې حال کښې شپه وکړه چې بخښنه ورته وُشوه او په داسې حال کښې ئې سحر وکړو چې الله تعالیٰ ترېنه راضي دے. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ خوښوي چې خپل بنده د حلال مال په طلب کښې ستړے ويني. (ديلمي)

د (حلال) مال په طلب کښې اعتدال او ګزاره

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ نه ويرېږئ او (د مال) په طلب کښې اعتدال (او ګزاره) کوئ. (ابن ابی الدنيا، حاکم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے خلقو! د الله نه يرېږئ او په طلب کښې کم والے کوئ ځکه چې يو نفس (يو کس) د هغې پورې نۀ مري تر څو چې خپل رزق پوره نکړي اګرکۀ د دۀ نه روستو شي؛ پس د الله نه يرېږئ او په طلب کښې اعتدال (درميانه والے) کوئ، حلال اخلئ او حرام پرېږدئ. (ابن ماجه)

د پاک او حلال خوراک تاکید، فائده او اثر

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: بېشکه الله تعالیٰ پاک دے او نۀ قبلوي مګر پاک او الله تعالیٰ حکم کړے دے مومنانو ته د هغه څۀ د څۀ ئې چې رسولانو ته حکم کړے دے. هغۀ (رسولانو ته) فرمائیلي دي: "اے رسولانو خورئ د پاکو څیزونو نه او نیک عمل کوئ"؛ او هغۀ (مومنانو ته) فرمائیلي دي: "اے مومنانو خورئ د پاکو څیزونو نه کوم چې مونږ تاسو له درکړي دي". (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: چا چې څلوېښت ورځې حلال وُخوړۀ نو الله تعالیٰ به د هغۀ زړۀ روښانه کړي او د هغۀ د زړۀ نه به د هغۀ پۀ ژبه د حکمت چینې جاري کړي. (احیاء)

باب: حرام مال

حرام مال، د حق نه بغیر اخستے مال، د حرام رزق او خوراک وعید

❁ رسول اللهﷺ پۀ قسم سره وفرمائیل: پۀ تاسو کښې چې څوک خاوره راواخلي او پۀ خپله خُلۀ کښې واچوي نو دا د دې نه غوره ده چې داسې شے پۀ خُلۀ کښې واچوي کوم چې الله تعالیٰ حرام کړے دے (یعني د حرام مال څۀ شے). (احمد)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: دا مال سرسبز او شاداب شے دے... پس چا چې دا د دې د حق نه بغیر واخستۀ نو هغه د هغه چا پۀ شان دے څوک چې خوراک خوري او مړېږي نۀ او د قیامت پۀ ورځ به پرې دا (مال) ګواه وي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: جنت ته نۀ شي تلے داسې بدن چې پۀ حرام رزق غټ شوے وي. (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېل: کومه غوښه چې د حرام خوراک نه پیدا شوه (یا ئې د حرامې ګټې نه پرورش بیاموندهٔ) هغه به جنت ته نهٔ زي، د دوزخ اور د هغې زيات لائق (حقدار) دے. (احمد ،دارمي ، بيهقي، طبراني)

د حرام مال د وجې نه نيک عمل، نمونځ او دعاء نهٔ قبلېدل

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: پهٔ هغه ذات دِ زما قسم وي د چا پهٔ لاس کښې چې د محمد روح دے! بنده پهٔ خپله خېټه کښې حرامه نمړۍ اچوي د هغې پهٔ وجه د دهٔ څلوېښت ورځې هيڅ عمل نهٔ قبلیږي. (طبراني)

❁ د عبدالله بن عمرؓ نه روايت دے، فرمائي: چا چې څهٔ جامه واخسته پهٔ لس درهمه چې پکښې يو درهم حرام ؤ نو څو پورې چې دغه جامه د دهٔ پهٔ بدن وي الله تعالیٰ به د دهٔ نمونځ نهٔ قبلوي؛ بيا ئې پهٔ خپلو دواړو غوږونو کښې ګوتې کېښودې او وئې فرمائېل: دا دِ کاڼه شي کهٔ ما دا خبره د رسول اللهﷺ نه نهٔ وي اورېدلې. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ يو سړي ته وفرمائېل: چا ته چې څهٔ حرام مال ملاؤ شي او دے د هغې نه څهٔ جلباب (څادر، قميص) واغوندي نو د دهٔ نمونځ نهٔ قبليږي تر څو چې ترې هغه جلباب لرې نهٔ کړے شي. الله تعالیٰ د دې نه بالا دے چې د يو داسې سړي نمونځ قبول کړي پهٔ چا چې د حرامو جلباب پروت وي. (بزار)

❁پهٔ يو حديث مبارک کښې دي، رسول اللهﷺد هغه سړي ذکر وکړو چې اوږد سفر وکړي، خورو وېښتو والا، دوړو وهلے، لاسونه آسمان ته اوچت کړي: اے ربه! اے ربه! خو خوراک څښاک ئې حرام وي، جامه ئې حرامه وي او پهٔ حرامو ئې پرورش موندلے وي نو څنګه به ئې دعاء قبوله شي؟ (مسلم)

د حرام مال صدقه وغيره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم سړے چې حرام مال ګټې او د هغې نه صدقه ورکوي نو هغه صدقه نهٔ قبليږي او کهٔ د هغې نهٔ خرج کوي نو پهٔ هغې کښې

برکت نۀ اچولے کيږي او کۀ مړ شي او حرام مال پرېږدي نو دغه مال به ورله د دوزخ توښه وي۔ الله تعالیٰ ګناهونه د حرام مال پۀ صدقې سره نۀ معاف کوي د حلال مال پۀ صدقې سره ئې معاف کوي، خبيث خبيث نۀ شي ختمولے۔ (احمد ، شرح السنه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې حرام مال جمع کړو او بيا ئې هغه صدقه کړو نو دۀ له به پۀ هغې کښې څۀ اجر نۀ وي او د هغې وبال به پۀ دۀ وي۔ (ابن حبان، ابن خزيمه)

۞ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: بېشکه الله تعالیٰ پاک دے او نۀ قبلوي مګر پاک۔ (مسلم)

څۀ حرامې ګټې، سودخوري، د هغې ګناه، عذاب او وبال

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: د سپي پيسې خبيثې (حرامې) دي، د زنا بدله خبيثه ده، د حجام ګټه خبيثه ده۔ (مسلم)

۞ د ابومسعود انصاريرضي الله عنه نه روايت دے: رسول اللهﷺ منعفرمائېلې ده د سپي د اُجرت نه، د زنا د بدلې نه او د کاهن د پيسو نه۔ (متفق عليه)

۞ د ابوامامهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائېل: مۀ خرڅوئ سندرې ويونکې او مۀ ئې اخلئ او مۀ ورته (د سندرو وغيره) ښودل کوئ او اُجرت د هغوئ حرام دے۔ (احمد ، ترمذي ابن ماجه)

۞ د جابررضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ لعنت ويېلے دے پۀ سود خوړونکي، پۀ سود خورَونکي، پۀ سود ليکونکي او د هغې پۀ دواړو ګواهانو باندې او وئې فرمائېل چې پۀ ګناه کښې دا ټول برابر دي۔ (بخاري، مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د سود (ربا) يو درهم چې سړے خوري او ورته پته وي هغه د شپږ دېرشو زناګانو نه زيات سخت دے۔ (احمد ، دارقطني، بيهقي)

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د سود اويا جزء ونه دي، په ټولو کښې وړکے جزء دا دے چې سړے د خپلې مور سره بدکاري وکړي. (ابن ماجه، بيهقي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د معراج په شپه زما تېروتل په يو داسې ټولګي وشو د چا ګېډې چې د کمرو په شانې (غټې) وې او پکښې غټ غټ ماران وو چې د بهر نه ښکارېدهٔ؛ ما ووېيل: اے جبريله! دا څوک دي؟ هغهٔ ووېيل: دا سود خوړونکي دي. (احمد، ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: سود کهٔ ډېر هم وي خو انجام ئې کم والي ته زي. (ابن ماجه، بيهقي، احمد، حاکم)

کتاب: د مال کم والے او زيات والے

باب: کم او صرف د ګزارې مال او رزق، لوږه تېرول

دنيا کښې کم مال او رزق لرل، د مسافر توښه لرل

❁ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: کله چې نمر راخېژي نو د هغې دواړو طرفونو ته دوه فرښتې دا آواز کوي: اے خلقو! د خپل رب طرف ته راشئ او پوهه شئ چې کوم مال کم او صرف د ګزارې والا وي دا د هغه مال نه غوره دے کوم چې زيات وي او سړے غافل کړي. (ابونعيم)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: يو درهم والا به (په قيامت کښې) د دوؤ درهمو والو مقابله کښې د کم حساب والا وي. (احياء)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: ابن آدم له (صرف) يو څو نمړئ کافي دي چې د هغهٔ ملا نېغه وساتي. (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يو مالدار او غريب داسې نيشتے چې د قيامت پهٔ ورز دا ارمان ونکړي چې پهٔ دنيا کښې ورله صرف قوت لايموت ورکړے شوے وے. (ابن ماجه)

❁انس رضي الله عنه فرمائي: زهٔ د سلمان (رضي الله عنه) خوا له لاړم نو ما وليدهٔ چې د هغهٔ کور ډېر پهٔ کمزوري حالت کښې دے. ما د هغهٔ نه د دې پهٔ باره کښې تپوس وکړو نو هغهٔ وويېل: رسول اللهﷺ ما ته وصيت فرمائېلے دے چې پهٔ دنيا کښې ستا توښه د مسافر د توښې پهٔ شان پکار ده. (جمع الفوائد)

د رسول اللهﷺ د کم مال او د ګزارې د رزق څهٔ دعاګانې

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: اے الله! چا چې پهٔ ما ايمان راوړ او زهٔ ئې رشتونے وګڼلم (زما تصديق ئې وکړو) او دا يقين ئې وساتهٔ چې څهٔ ما راوړي دي هغه ستا د طرف نه حق دي نو د هغهٔ مال او اولاد کم کړه او خپل ملاقات ورته خوښ کړه او مرګ ورله زر راوله. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه دا دعاء مروي ده: اے الله! څوک چې زما سره محبت ساتي هغهٔ له صبر او صرف د ګزارې روزي ورکړه. (تذکرة الواعظين)

❁ د رسول اللهﷺ دعاء وه: يا الله! د محمد د آل رزق قوت لا يموت جوړ کړه! (متفق عليه)

د رسول اللهﷺ مالي حالت، د هغوی نه پاتې شوي څيزونه

❁ د عائشې رضی الله عنها نه روايت دے: رسول اللهﷺ وفات شو پهٔ داسې حال کښې چې زغره ئې د يو يهودي سره پهٔ دېرشو اوګو (صاعو) وربشو کښې ګانړه پرته وه. (متفق عليه)

❁ د انس بن مالک رضي الله عنه نه پهٔ یو حدیث مبارک کښې روایت دے: د رسول الله ﷺ یوه زغره د یو یهودي سره ګانه پرته وه، دوی څهٔ نهٔ موندل چې هغه ئې آزاده کړے وے دې پورې چې وفات شو. (الترمذي في الشمائل)

❁ د عائشې رضی الله عنها نه روایت دے، فرمائي: د رسول الله ﷺ بستره پهٔ کومې چې به هغوی اودهٔ کېدل د څرمنې وه چې د کجورې د پټونو نه ډکه کړے شوې وه. (الترمذي في الشمائل)

❁ د عائشې رضی الله عنها نه روایت کړے شوے دے: رسول الله ﷺ نهٔ دینارونه پرېښي وو، نهٔ درهمونه، نهٔ اُوښ، نهٔ بیزه او نهٔ ئې د څهٔ وصیت کړے ؤ. (ابوداؤد)

❁ د ام المؤمنین جویریې بنت حارث او عمرو بن حارث رضي الله عنهما نه روایت دے: رسول الله ﷺ د خپل وفات پهٔ وخت کښې نهٔ څهٔ دینار پرېښے ؤ او نهٔ درهم، نهٔ غلام او نهٔ وینزه او نهٔ نور څهٔ، سِوا د یوې سپینې قچرې نه چې پهٔ هغې به ئې سورلي کوله او د څهٔ وسلې نه او د څهٔ زمکې نه چې د مسافرو دپاره ئې صدقه کړې وه. (بخاري)

د کم خوړلو او لوږې فضیلت

❁ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: خوری، څښی پهٔ نیمه ګېډه ځکه چې دا د نبوت یو جزء دے. (سیر السلوک)

❁ د رسول الله ﷺ نه ارشاد مروي دے: د جنت دروازه وټکوی پهٔ لوږې سره. (احیاء)

❁ رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: د هر شي زکوٰة وي او د بدن زکوٰة لوږه ده. (ابن ماجه)

❁ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: د حکمت رڼا لوږه ده او د الله تعالیٰ نه لرې والے موړوالے دے... ځان مهٔ مړوی کنه د حکمت رڼا به د خپلو

زړونو نه مړه کړي، او څوک چې د خوراک نه د سپک والي په حالت کښې شپه تېروي نو حورې ترېنه چاپېره وي تر دې چې سحرشي. (دیلمي)

❁ روایت دے چې رسول اللهﷺ اُسامهؓ ته وفرمائېل: کۀ تۀ دا کولے شې چې کله تا ته مرګ راشي نو ستا خیټه وږې او ستا اینه تږې وي نو داسې وکړه، په دې به تا ته د آخرت اوچتې درجې درکړے شي، تۀ به د پېغمبرانو سره یې، ستا د روح په راتلو به فرښتې خوشحاله شي او الله تعالیٰ به په تا رحمت نازل کړي. (احیاء)

د رسول اللهﷺ لوږه

❁ رسول اللهﷺ عائشې رضي الله عنها ته وفرمائېل: په هغه ذات مې دِ قسم وي د چا په قبضه کښې چې زما ساه دے! کۀ زۀ د خپل رب نه وغواړم چې د سرو زرو غرونه دِ ما سره زي نو الله تعالیٰ به دغه هم زما سره روان کړي خو ما په دنیا کښې لوږه د مړې ګېډې نه غوره کړې ده. (فضائلِ صدقات)

❁ یو حدیث مبارک کښې دي چې رسول اللهﷺ به اکثر بغیر د ناداری نه لوږه تېروله. (فضائلِ صدقات)

❁ روایت دے چې رسول اللهﷺ به کله د سحر خوراک وخوړ نو د ماښام به ئې نۀ خوړ او چې د ماښام به ئې وخوړ نو د سحر به ئې نۀ خوړ. (الجامع الصغیر، فضائلِ صدقات)

باب: د مال زیات والے

د مال د زیات والي بدوالے

❁ رسول اللهﷺ په یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: اے الله! چا چې په ما ایمان رانۀ وړ او زما تصدیق ئې ونکړو او دا یقین ئې وُ نۀ ساتۀ چې څۀ ما

راوړي دي هغه ستا د طرف نه حق دي نو د هغهٔ مال او اولاد زيات کړه او عمر ئې اوږد کړه ـ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ يوې دعاء کښې روايت کړے شوے دے: اے الله! څوک چې زما سره دشمني ساتي هغهٔ له پهٔ مال او اولاد کښې ترقي ورکړه ـ (تذکرة الواعظين)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: د ټولو نه د زيات مال والا به پهٔ آخرت کښې د ټولو نه د کمې سرمايې (کم ثواب) والا وي ـ (بخاري)

❁ د اُمِّ درداء رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: ما ابودرداء(رضي الله عنه) ته ووې: تا له څهٔ شوي دي چې تهٔ دنيا (مال) نهٔ طلب کوې؟ هغهٔ ووې: ما د رسول اللهﷺ نه اور بدلي دي چې ستاسو (يا د خلقو) مخې ته يوه ګرانه موړه ده د هغې نه به نهٔ شي اوختے د (مال د) بوج والا کسان (يا به د هغې نه صرف هغه څوک اوختے شي کوم چې د مال د بوج نه سپک وي) ـ (بيهقي)

د ضرورت نه زيات مال و اسباب

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: دنيا دنيا والو ته پرېږدئ، چا چې د دنيا نه څهٔ واخستهٔ د هغې نه زيات څومره چې ورله کافي کېدهٔ (يا د حاجت نه زيات) نو خپل مرګ ئې واخست او پوهېدهٔ نهٔ ـ (بزار، سير السلوک)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ابن آدم له حق نيشتے سوا د دې څيزونو نه: يو کور چې پکښې ووسيږي، يوه جامه چې خپل شرمګاه پرې پټ کړي او د ډوډۍ يوه مورګه (يا وُچه ټکړه) او اُوبهٔ ـ (ترمذي)

❁ روايت دے چې رسول اللهﷺ (د سفر نه د فاطمې رضي الله عنها کور ته) تشريف راوړو، د دروازې پهٔ بازوګانو ئې لاسونه مبارک کېښودل نو يوه باريکه پرده ئې وليده چې د کور پهٔ ګوټ کښې اېښودلې شوې وه نو واپس شو ـ (ابوداؤد، ابن ماجه)

❁ پۀ یو روایت کښې دي چې عائشې رضي الله عنها رسول اللهﷺله یوه نوې بستره وغوړوله او حال دا ؤ چې رسول اللهﷺبه پۀ یوې بړَغکې چغې اودۀ کېدۀ نو رسول اللهﷺتوله شپه ډډې پۀ ډډې شو ـ چې سحر شو نو عائشې رضي الله عنها ته ئې وفرمائېل: هغه زړه چغه واپس راوړه او دا بستره زما نه لرې کړه دې خو زۀ توله شپه وېښ وساتلم ـ (احیاء)

د ضرورت نه زیات او د مستئ کور، پۀ آبادي فضول خرچ کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د ضرورت نه زیات کور جوړ کړو نو پۀ قیامت کښې به هغه مجبور کړے شي چې خپل کور پۀ اوږه واخلي او ګرزي ـ (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هر آبادے (عمارت) د آبادي والا دپاره وبال (د نقصان څيز) دے سوا د هغې نه د کوم نه چې مخلص نۀ وي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺپۀ یو دنګ ګنبد تېر وتلو نو وئې فرمائېل چې دا د چا دے؟ عرض وکړے شو چې د فلاني ـ بیا چې هغه سړے راغے نو رسول اللهﷺمخ واړولو، د هغۀ طرف ته ئې توجه ونکړه څنګ چې به ئې مخکښې کوله ـ هغه سړي د اصحابو نه د رسول اللهﷺد مخ مبارک د بدلېدو تپوس وکړو نو خبر ورته ورکړے شو ـ هغه لاړ او ګنبد ئې وران کړو ـ بیا د رسول اللهﷺپۀ هغه ځائے تېروتل وشو نو ګنبد ئې ونۀ لید نو خبر ورته ورکړے شو چې سړي هغه وران کړے دے نو رسول اللهﷺهغۀ له د خیر دعاء وُفرمائېله ـ (ابوداؤد)

❁ عباس بن عبد المطلبؓ یوه بالاخانه (د کور دپاسه څۀ کمرګئ) جوړه کړه نو رسول اللهﷺورته وفرمائېل: دا ارتاوه کړه ـ هغوی ووې چې د دې د خرچ مقدارې د الله تعالیٰ پۀ لاره کښې صدقه کړم؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دا ارتاوه کړه نو هغۀ ارتاوه کړه ـ (ابوداؤد فی مراسیله)

۞ رسول اللهﷺ يو سړي ته چا چې د خپل کور د تنګ والي فرياد وکړو وفرمائيل: پهٔ آسمان (يعني جنت) کښې ارت والي (وسعت) والا شه (يا دا کور هلته ارت شو) - (ابوداؤد فی مراسيله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: خرچ ټول د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې دے سوا د (بې ضرورته) آبادي (د خرچ) نه - (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د بنده پهٔ هر خرچ دهٔ ته اجر ورکولے کيږي مګر هغه خرچ چې دے هغه پهٔ خاورو باندې وکړي - (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې بنده له د دهٔ پهٔ مال کښې برکت (مبارک والے) نهٔ اچولے کيږي نو دے هغه پهٔ اُوبو او خټو کښې لګوي - (بيهقي)

کتاب: د نيا

باب: د دنيا څهٔ حال

دنيا کښې د انسان او د دنيا د څيزونو حيثيت

۞ د ابوهريرهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ما ته وفرمائيل: اے ابوهريره! زهٔ تا ته د دنيا د څيزونو حال وښايم؟ ما عرض وکړو: ضرور وښايه اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ زما لاس ونيسهٔ او زهٔ ئې د مدينې يوې درې ته بوتلم چرته چې د انسانانو کوپړۍ، ګندګيانې، هډوکي او ګنده چيرړې پرتې وې او وئې فرمائيل: دې سرونو به داسې حرص کولو لکه تاسو چې کوئ او داسې اُميدونه به ئې ساتل لکه تاسو چې ساتئ؛ نن دا بغير د څرمنې هډوکي جوړ شوي دي بيا به خاورې شي - دا هغه ګندګيانې دي کوم چې د هغوی قسماقسم خوراکونه وو، پته نيشته د کوم کوم ځائے نه به ئې ګټلي وو - دا خوراکونه هغوی خپلو ګېډو کښې واچول او نن د هغوی دا حال دے چې خلق

ترېنه ځان ساتي۔ او دا زړې چيرړې د هغوی جامې وي، نن دا پۀ هواګانو سره الوزي۔ او دا هډوکي د هغوی د ځناورو هډوکي دي پۀ کومو چې به هغوی سورلي کوله او کلي پۀ کلي به ګرزېدل۔ کوم سړے چې پۀ دنيا باندې ژړلے شي نو ودِژاړي۔ ابوهريرهؓ فرمائي: څو چې مونږه بنۀ نۀ وو ژړلي د هغه ځائے نه و نۀ خوزېدو۔ (احياء)

د دنيا څيزونه نورو ته پاتې کېدونکي

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: هره ورز سحر او ماښام دوه فرښتې دا آواز کوي: اے دنيا والو! تاسو د دنيا دپاره اولاد پيدا کوی او د ورانېدو دپاره کورونه جوړوی۔ تاسو مالونه جمع کوی چې ستاسو نه روستو به پۀ دې ستاسو دشمنان قبضه کوي او د دې حساب به ستاسو نه اخستے کيږي او تاسو ته به د دې عذاب رسي۔ (تذکرة الواعظين)

۞ د ام منذر رضی الله عنها نه روايت دے، فرمائي: يو ماښام رسول اللهﷺ خلقو ته تشريف راوړو او وئې فرمائېل: تاسو د الله نه شرم نۀ کوی؟ خلقو وويېل: اے د الله رسوله! د الله نه شرم نۀ کول څنګه دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو داسې څيزونه جمع کوی چې هغه نۀ شی خوړے او د داسې څيزونو شوق ساتی چې هغه نۀ شی حاصلولے او داسې کورونه جوړوی چې پۀ هغې کښې نۀ شی وسېدے۔ (ابن ابی الدنيا)

باب: د دنيا د بدوالي څۀ خبرې

د دنيا مذموم والے، الله ته د دې بې قدري

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: دنيا ملعونه ده او څۀ چې پۀ دې کښې دي هغه ملعون دي مګر د دې هغه څۀ (ملعون نۀ دي) کوم چې د الله تعالیٰ دپاره وي (يا

د الله تعالیٰ ذکر، د الله تعالیٰ طاعت، عالم او متعلم، او امر او نهي) ۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کهٔ دنیا د الله تعالیٰ پهٔ نظر کښې د ماشي د وزر برابره هم وے نو پهٔ یو کافر به ئې د دې نه یو ګوټ هم نهٔ ؤ څښولے ۔ (بخاري، ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د دنیا نعمتونه د شګې د ذرو نه هم لاندې دي او کهٔ د الله تعالیٰ پهٔ نز د دې قیمت د ماشي د وزر هومره هم وے نو یو مسلمان به هم محتاج نهٔ ؤ پاتې شوے او نهٔ به یو کافر دلته عیش کړے ؤ ۔ (خطبات)

۞ رسول اللهﷺ یو ځل د بیزې پهٔ یو بچي تېروتلو چې غوږونه ئې واړهٔ وو او مړ ؤ، رسول اللهﷺ وفرمائیل: پهٔ تاسو کښې څوک دا پهٔ یو درهم اخستل غواړي؟ صحابه کرامو ووې: مونږ خو دا مفت هم اخستل نهٔ غواړو ۔ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پهٔ الله مِ دِ قسم وي! دنیا د الله تعالیٰ پهٔ نز د دې نه زیاته لاندې ده څومره چې ستاسو پهٔ نز د بیزې دا بچے دے ۔ (مسلم)

۞د مستورد بن شدادؓ نه روایت دے، فرمائي: زهٔ د هغه سورو کسانو (د قافلې) سره وُم کوم چې د رسول اللهﷺ سره د بیزې مړهٔ بچي ته ودرېدل، رسول اللهﷺ وفرمائیل: تاسو اینئ دا د دې مالکانو ته بې قدره ؤ چې هغوئ غورزولے دے؟ عرض وکړے شو: د دې د بې قدرئ د وجې نه هغوئ غورزولے دے اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائیل: دنیا الله تعالیٰ ته د دې نه زیاته بې قدره ده څومره چې دا د دې مالکانو ته بې قدره دے ۔ (ترمذي)

د دنيا د رونقونو او زيب و زينت بدوالے، دنيا مومن له قيدخانه، کافر له جنت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ټولو نه زيات چې د کوم شي زۀ پۀ تاسو يريږم هغه د زمکې برکتونه دي چې الله تعالیٰ به ئې تاسو له راوباسي۔ عرض وکړے شو: د زمکې برکتونه څۀ دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د دنيا رونقونه۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زۀ چې پۀ تاسو د ځان نه روستو د کومو خبرو يره کوم پۀ هغې کښې يوه دا ده چې پۀ تاسو به د دنيا زيب و زينت پرانستے شي۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: دنيا د مومن قيدخانه او د کافر جنت دے۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: دنيا د مومن قيدخانه او قحط دے او کله چې هغه د دنيا نه جدا کيږي نو د قيدخانې او قحط نه جدا کيږي۔ (شرح السنه)

باب: دنيا او آخرت (مقابله)

د دنيا او د آخرت د يو بل پۀ نسبت سره حالت

❁ د شدادؓ نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلي دي: اے خلقو! دنيا يو حاضر سامان دے چې نيک او بد (دواړه) ترېنه خوري او آخرت يوه رشتونې وعده (نېټه) ده چې پۀ هغې کښې به يو انصاف کونکے او قدرت لرونکے بادشاه فيصله کوي چې حق به ثابتوي او باطل به باطلوي۔ (ابونعيم فی الحليه)

۞رسول اللهﷺوفرمائیل: دنیا د آخرت پهٔ مقابله کښې نهٔ ده مګر داسې لکه پهٔ تاسو کښې چې څوک خپله ګوته پهٔ دریاب کښې ښکته کړي نو ودِ ګوري چې څومره اُوبهٔ د ځان سره واپس راوړي. (مسلم)

۞رسول اللهﷺپهٔ یوه موقع کښې وفرمائیل: یا الله! نیشتے څهٔ عیش مګر عیش د آخرت. (متفق علیه)

د دنیا مقابله کښې د آخرت د مقصود والي وغیره څهٔ خبره

۞رسول اللهﷺوفرمائیل: دنیا تاسو له پیدا کړے شوې ده او تاسو آخرت له پیدا کړے شوي یئ. (بیهقي)

۞ د عليرضي الله عنه (مرفوعاً) روایت دے: دنیا واپس تلونکې ده او آخرت رامخامخ کېدونکے دے... نن عمل دے او حساب نیشتے، صبا به حساب وي او عمل به نهٔ وي. (بخاري)

۞رسول اللهﷺته دا قول منسوب دے: دنیا د آخرت د کروندې ځائے دے. ()

کافر له دنیا، مومن له آخرت

۞ د عمررضي الله عنه روایت دے، فرمائي: زهٔ د رسول اللهﷺخوا له لاړم نو هغوی پهٔ یو انډرې ملاست وو چې انډرې ورله پهٔ ډډه کښې نښه کړې وه، د څرمنې یو بالخت چې د کجورو د پتهٔونو نه ډک کړے شوے ؤ هغې ته تکیه ؤ. ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! د الله تعالیٰ نه دعاء وغواړه چې ستا پهٔ اُمت باندې فراخي راولي چې پهٔ فارسیانو او رومیانو باندې فراخي کړے شوې ده سره د دې نه چې هغوی د الله تعالیٰ عبادت نهٔ کوي. رسول اللهﷺ وفرمائیل: اے د خطاب زویه! تهٔ هم پهٔ دې کښې یې؟ هغوی خو داسې خلق دي چې د هغوی خوشحالیانې هغوی له زر د دنیا پهٔ ژوندون کښې ورکړے شوې دي. پهٔ یو بل روایت کښې داسې دي: تهٔ پهٔ دې راضي نهٔ یې چې هغوی له دنیا وي او مونږ له آخرت؟ (متفق علیه)

د دنیا خوارۀ د آخرت تراخۀ، د دنیا فائده د آخرت نقصان

❁ د ابومالک اشعريؓ د وفات وخت چې راغې نو هغۀ وويېل: اے د اشعرياتو ټولګيه! مخامخ سړے دِ فنا سړي ته دا خبره ورسوي چې ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: د دنيا تراخۀ د آخرت خوارۀ دي او د دنيا خوارۀ د آخرت تراخۀ دي۔ (حاكم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالىٰ فرمائي: اے دنيا! زما پۀ دوستانو ترخه شه، خوږېږه پرې مۀ، چې تۀ هغوی پۀ فتنه کښې وانۀ چوې۔ (ترغيب)

❁ د عبدالله بن عمرﷺ نه روايت دے، فرمائي: بنده چې د دنيا نه څومره څۀ حاصلوي نو د هغې پۀ مقدار د الله تعالىٰ سره د دۀ پۀ درجو کښې کمے رازي اګرکۀ د الله تعالىٰ پۀ دربار کښې دے د عزت والا وي۔ (اصلاً مرفوع) ۔ (ابن ابی الدنيا)

باب: دنیا باره کښې بد څۀ خصلتونه

صرف د دنيا فکر لرل، د دې بدوالے او وبال

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ داسې حال کښې سحر وکړو چې د ټولو نه د لوئے فکر او اهميت څيز ئې دنيا وه نو د دۀ د الله تعالىٰ سره هيڅ تعلق نيشتے (يا د الله تعالىٰ (د غاړې) نه دے پۀ هيڅ کښې هم نۀ دے (هيڅ حيثيت ئې هم نيشتے) ۔ (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا فکر چې صرف د دنيا وي نو الله تعالىٰ به پرې زما نزدې والے حرام کړي ځکه چې زۀ د دنيا د ورانولو دپاره رالېږلے شوے يم، د دې د آبادولو دپاره نۀ يم رالېږلے شوے۔ (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم سړے چې هر وخت د دنيا پۀ معاملاتو کښې سرګردان وسيږي هغه داسې دے لکه چې د الله تعالیٰ نه خفه وي۔ (تذکرة الواعظين)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا چې صرف د دنيا فکر وي نو الله تعالیٰ به ئې معامله پراګنده ساتي او فقر و محتاجي به ئې د سترګو پۀ مينځ کښې ګرزوي او د دنيا نه به ورته صرف دومره قدرې ملاوېږي څومره چې ورله ليکلے شوې وي۔ (ابن ماجه، بزار، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ چا چې د دنيا د حالاتو قسم قسم فکرونه سوارۀ شو نو الله تعالیٰ به پروا ونکړي چې د هغې پۀ کومه وادۍ کښې دے هلاک شي۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: څوک چې پۀ دنيا پسې ولګي، صرف د هغې پۀ فکر کښې هر وخت اخته وي نو الله تعالیٰ دے دنيا ته حواله کوي۔ (فضائلِ صدقات)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد نقل کړے شوے دے: د چا فکر چې صرف د دنيا وي، الله تعالیٰ د دۀ پۀ زړۀ باندې درې څيزونه مسلط کوي: داسې غم چې هيڅکله به ختمېدونکے نۀ وي، داسې مشغولتيا چې د هغې نه به دے هيڅکله وزګارېدے نۀ شي او داسې فقيري (محتاجي) چې هيڅکله به ورکه نۀ شي۔ (تنبيه الغافلين، فضائلِ صدقات)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: آيا داسې څوک شته چې پۀ اُوبو کښې زي او د هغۀ پښې لوندې نۀ شي؟ صحابهٔ ووې: نا اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائېل: هم داسې دنيا والا کس د ګناهونو نه نۀ شي بچ کېدے۔ (بيهقي) ۔ دا روايت داسې هم راغلے دے: رسول اللهﷺ وفرمائېل: دنيا والا کس داسې دے لکه پۀ اُوبو کښې تلونکے نو آيا پۀ اُوبو

کنبې تلونکے داسې کولے شي چې د هغهٔ پخې لوندې نهٔ شي؟ (ابن ابی الدنیا ، بیهقي)

دنیا له کوشش او محنت، پهٔ د نیا غم او افسوس

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: دنیا د هغه چا کور دے د چا چې کور نهٔ وي، د هغه چا مال دے د چا چې مال نهٔ وي او دې له کوشش هغه څوک کوي د چا چې عقل نهٔ وي۔ (احمد ، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: لوئے تعجب دے پهٔ هغه چا څوک چې دا یقین لري چې آخرت همېشه پاتې کېدونکے دے او هغه بیا هم د دې دوکې د کور (دنیا) دپاره کوشش کوي۔ (فضائلِ صدقات)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کوم سړے چې پهٔ دنیا غمګین شو هغه پهٔ الله تعالیٰ خفه شو۔ (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: چا چې د دنیا (د څیزونو) پهٔ نهٔ ملاوېدو افسوس وکړو هغه د یوې میاشتې (یا د یو کال) پهٔ فاصله د دوزخ اُور ته نزدې شو۔ (احیاء از حارث محاسبي)

دنیا کښې خواهشونه او شهوتونه پوره کول، د دنیا حرص او رغبت

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: څوک چې پهٔ دنیا کښې خپل خواهشونه او شهوتونه پوره کړي نو پهٔ آخرت کښې به د هغهٔ او د هغهٔ د شهوتونو پهٔ مینځ کښې حائل (دېوال) ودرولے شي۔ (درمنثور)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ فرمائي: کم نه کم چې د بنده سره زهٔ څهٔ کوم کله چې دے خپل خواهش (شهوت) له زما پهٔ طاعت باندې ترجیح ورکړي هغه دا دي چې دے د خپل خوږ مناجات نه محروم کوم۔ (احیاء)

۞ سهلؓ فرمائي: د يو صحابي وفات شو نو خلقو د هغهٔ صفت شروع کړو، د هغهٔ د ډېر عبادت حال ئې بيانولو. رسول اللهﷺ پهٔ خاموشۍ سره اورېدهٔ. چې هغوی غلي شو نو رسول اللهﷺ تپوس وکړو: مرګ به ئې يادولو؟ هغوی ووېل: د مرګ ذکر خو به ئې نهٔ کولو. رسول اللهﷺ بيا تپوس وکړو: خپل زړهٔ خوښي څيزونه به ئې پرېښول؟ هغوی ووېل: دا کار خو به ئې نهٔ کولو. رسول اللهﷺ وفرمائېل: دے هغه درجو ته نهٔ شي رسيدے کومو ته چې به تاسو (پهٔ دې دواړو خبرو سره) رسئ. (فضائلِ صدقات)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څهٔ بد دے هغه بنده چې د دنيا حرص او رغبت ئې ذليل کوي! (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: قيامت نزدې کيږي او د خلقو د دنيا حرص زياتيږي او د الله تعالیٰ نه ستاسو لرې والے زياتيږي. (حاکم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جائېداد مهٔ جوړوئ کنه تاسو به د دنيا سره رغبت شروع کړئ. (ترمذي)

باب: د دنيا محبت وغيره، د آخرت نه ئې غوره کول، متعلقات

د دنيا د محبت وغيره بدوالے، وبال

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د قيامت پهٔ ورځ به د دنيا سره د محبت ساتونکي پهٔ باره کښې آواز وکړے شي چې دا هغه څوک دے چې د دنيا سره ئې محبت ساتلو (يا دا هغه کس دے چا چې داسې څيز لوئے ګڼلے ؤ کوم چې الله تعالیٰ معمولي او حقير ښودلے ؤ). (ترغيب، فضائلِ صدقات)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د دنيا محبت د ټولو ګناهونو سر دے. (رزين، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ياد وساتئ کوم سړے چې د دنيا سره محبت ساتي او د هغۀ اُميدونه اوږدۀ وي نو الله تعالیٰ به د دغه محبت او اُميدونو پۀ مقدار هغه (د دين پۀ خبرو کښې) ړندوي. (ابن ابی الدنيا، بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم سړے چې د دنيا سره محبت ساتي او د دنيا د څيزونو په ملاوېدو خوشالېږي نو د آخرت يره د هغه د زړۀ نه وزي. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يوې خطبه کښې مروي دي: کوم سړے چې د دنيا سره خالص محبت ساتي نو دا هغۀ له دوکه ورکوي، څوک چې د دې حکم مني نو دا هغه ګمراه کوي او څوک چې دې ته سر ټيټوي نو دا هغه د نېغې لارې نه اړوي. (خطبات نبوي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې زما اُمتيان دنيا لويه وګڼي (درهم او دينار غټ وګڼي) نو د هغوی د زړونو نه به د اسلام هيبت او يره وزي. (ترمذي، ابن ابی الدنيا)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: څوک چې دنيا ته جدا او پۀ دې کښې اخته شو الله تعالیٰ به ئې دې ته وُسپاري. (طبراني، ابن ابی الدنيا)

دنيا د آخرت نه د غوره کولو، پۀ دې سره د هغې نه د غافل کېدلو وبال

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: چا چې دنيا د آخرت نه غوره کړه، الله تعالیٰ به ئې پۀ دريو څيزونو کښې اخته کړي: داسې غم فکر چې د زړۀ نه به ئې چرته

هم جدا نۀ شي، داسې فقيري (محتاجي) چې چرته به هم غني (بې حاجته) نۀ شي او داسې حرص چې چرته به هم موړ نۀ شي. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روايت کړے شوے دے: کوم سړے چې دنيا طلب کوي او پۀ دې کښې د آخرت نه غافل او بې خبره کيږي نو الله تعالىٰ هغه پۀ شپږو عذابونو کښې اخته کوي، درې به پۀ دنيا کښې وي او درې پۀ آخرت کښې. د دنيا درې دا دي: د هغۀ پۀ زړۀ کښې به داسې ارمانونه وي چې څۀ حد به ئې نۀ وي او پوره کيږي به نۀ، پۀ هغۀ به حرص غالب شي او د صبر توفيق به ورته نۀ ملاويږي، او د هغۀ د زړۀ نه به د عبادت خوږوالے لرې کړے شي. د آخرت درې دا دي: د قيامت د ورزې د سختۍ نه به بدحواسه کيږي، د عملونو به ئې پۀ سختۍ سره حساب اخستے کيږي، او د قيامت پۀ ورز به ورته ډېر زيات افسوس وي. (تذکرة الواعظين)

د دنيا غوره کول وغيره د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله پۀ خير کښې رکاوټ

۞رسول اللهﷺارشاد فرمائيلے دے: لَا اِلٰهَ اِلَّا الله خلق د الله تعالىٰ د ناراضګۍ نه محفوظ ساتي څو پورې چې دوی خپله دنيا د خپل آخرت نه غوره نکړي (تر څو چې دوی د دنيا تجارت له د آخرت پۀ تجارت ترجيح ورنکړي). (بيهقي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحدَهٗ لَا شَرِيکَ لَهٗ پۀ ګواهۍ سره د الله تعالىٰ سره ملاويږي هغه به جنت ته داخليږي د هغې پورې چې دې سره بل څۀ ګاډېره نکړي. عرض وکړے شو چې د بل څۀ نه مراد څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د دنيا محبت، هغه (د آخرت نه) غوره کول، د هغې دپاره مال جمع کول، د هغې پۀ څيزونو خوشحالېدل او د تکبروالو پۀ شان عمل کول. (درمنثور، فضائلِ صدقات)

کتاب: دنیا پرېښول، زُهد ، متعلقات

باب: دنیا نه بې رغبتي او احتراز وغیره

دنیا نه بې رغبتی او د دې اثر او فائده

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما تاسو د قبرونو د زیارت نه منع کړي وی خو تاسو ئې زیارت کوی ځکه چې دا د دنیا نه بې رغبته کول او د آخرت یادَوُنه کوي۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: کوم سړے چې د دنیا نه مخ واړوي او اُمید ئې لنډ وي نو الله تعالیٰ هغۀ ته د چا د ښودو نه بغیر علم او هدایت ورکوي ۔ (ابن ابی الدنیا ، بیهقي، احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څوک چې غواړي چې الله تعالیٰ ورله علم ورکړي بغیر د ازدکړې نه او لار موندل ورکړي بغیر د لار ښودو نه نو د دنیا نه دِ بې رغبته شي۔ (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: یو بنده د دنیا نه نۀ بې رغبته کیږي مګر الله تعالیٰ د هغۀ پۀ زړۀ کښې حکمت ټوکوي او د هغۀ ژبه پرې ګویا کوي او د دنیا د عیبونو، د دې د مرض او د دې د علاج نه هغه واقف کوي او د دې نه ئې سالم د سلامتیا کور ته وباسي۔ (بیهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تاسو یو سړے وینی چې پۀ دنیا کښې ورله بې رغبتي او کمې خبرې کول ورکړے شوي وي نو هغۀ ته نزدې کیږی ځکه چې د هغۀ پۀ زړۀ کښې حکمت اچولے کیږي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: د دنیا نه بې رغبته شه نو الله تعالیٰ به ستا سره محبت وکړي۔ (ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څوک چې د دنیا نه بې رغبته شي په هغه د دنیا مصیبتونه آسان شي. (احیاء)

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د دنیا نه بې رغبتي زړه او بدن ته راحت رسوي. (طبراني)

دنیا نه بې رغبتي څنګه؟

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د دنیا نه بې رغبتي نه د حلالو په حرامولو سره ده او نه په مال ضائع کولو سره ده بلکې د دنیا نه بې رغبتي دا ده چې ستا په لاس کښې چې څه وي ته په هغې زیات اعتماد کونکے نه یې د هغه څه نه څه چې د الله تعالیٰ په لاس کښې دي، او چې ته د مصیبت د ثواب سره کله چې دا تا ته دررسي د دې مقابله کښې زیات رغبت لرونکے یې چې دا ستا نه لرې ساتلے کېږي. (ابن ماجه)

۞ د سفیان ثوري رحمه الله نه (شاید مرفوعاً) روایت دے: د دنیا نه بې رغبتي د سختو او شډلو جامو په اغوستو او د بې انګولي خوراک په خوړولو سره نه ده بلکې د دنیا نه بې رغبتي په اُمید لنډولو سره ده. (شرح السنه)

د ټولو نه لوئے زاهد (د دنیا نه بې رغبته)

۞ یو کس رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: اے د الله رسوله! په خلقو کښې د ټولو نه لوئے زاهد (د دنیا نه بې رغبته) څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: هغه سړے کوم چې قبر او په قبر کښې روستېدل هېر نکړي او د دنیا د ضرورت نه سوا څیزونه پرېږدي او پاتې کېدونکے شے (آخرت) د فنا کېدونکي شي (دنیا) نه غوره وګڼي او صبانۍ ورز په خپلو ورزو کښې شمار نکړي او ځان په مړو کښې حساب کړي. (ابن ابی الدنیا)

دنیا نه یرېدل، ځان ترې ساتل

✿رسول اللهﷺوفرمائېل: دنیا خوږه، خوش نما ده او الله تعالیٰ تاسو پهٔ دې کښې خلیفګان کړي يې او ګوري چې تاسو پهٔ دې کښې څنګه عمل کوئ نو تاسو وُیرېږئ د دنیا نه او وُیرېږئ د ښځو نه. (مسلم)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دنیا نه ځان ساتئ، دا د هاروت او د ماروت نه هم زیاته جادوګره ده. (بیهقي)

✿رسول اللهﷺپهٔ یو حدیث مبارک کښېوفرمائېل: آخرت پهٔ ناخوښه خبرو کښې پټ دے او دنیا پهٔ مزو او خواهشاتو کښې پټه ده نو دا دِ تاسو پهٔ غفلت کښې ونهٔ غورزوي. (طبراني)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ چې د یو بنده سره محبت کوي نو هغه د دنیا نه داسې بچ ساتي لکه تاسو چې د خپل مریض د یو شي نه پرهېز کوئ. (احمد ، ترمذي، حاکم)

دنیا نه لرې اوسېدل، ځان نه ئې لرې ساتل، یاد ئې نهٔ لرل

✿رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې رڼا سینې ته داخله شي نو سینه ارته شي. تپوس وکړے شو: اے د الله رسوله! د دې دپاره څهٔ نښه شته چې دا پرې وپېژندے شي؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د دوکې د کور (یعنې د دنیا) نه لرې اوسېدل، د همېشه والي کور (یعنې آخرت) ته متوجه کېدل او د مرګ نه مخکښې د مرګ تیارے کول. (بیهقي)

✿رسول اللهﷺبه فرمائېل: اے دنیا زما نه لرې شه. (حاکم)

✿رسول اللهﷺارشاد وفرمایهٔ: خپل زړونه د دنیا پهٔ ذکر مهٔ مشغوله کوئ. (بیهقي)

۞ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: زمونږ يوه پرده وه په هغې کښې د مرغو تصويرونه وو رسول الله ﷺ وفرمائيل: اے عائشې! دا لرې (يا بدله) کړه ځکه چې کله زۀ دا اينم نو ما ته دنيا رايادېږي. (احمد)

دنيا کښې عارضي اوسېدل، اُميد لنډ ساتل

۞ د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ زما د بدن څۀ حصه وُنيسله (يا ئې زما اوږې ونيولې) او وئې فرمائيل: په دنيا کښې داسې وُسېږه لکه تۀ چې مسافر يې يا په لاره تېرېدونکے او ځان د مړو نه شمار کړه. ما ته ئې وفرمائيل: ابن عمره! چې سحر شي نو ځان ته د ماښام ذکر مۀ کوه (سوچ مۀ راوله) او چې ماښام شي نو ځان ته د سحر ذکر مۀ کوه او واخله د جوړ والي خپل نه مخکښې د ناجوړتيا خپلې نه او د ژوند خپل نه مخکښې د مرګ خپل نه ځکه چې تۀ نۀ ئې خبر اے عبدالله! چې صبا به ستا څۀ نوم وي. (ترمذي، بخاري، ابن حبان). په يو روايت کښې داسې دي: ابن عمر رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ زما اوږې ونيوې او وئې فرمائيل: په دنيا کښې داسې شه لکه چې تۀ مسافر (پردېسے) يې يا د لارې تېرېدونکے. او ابن عمر رضي الله عنه به فرمائيل: چې ماښام شي نو د سحر انتظار مۀ کوه او چې سحر شي نو د ماښام انتظار مۀ کوه او واخله د خپل صحت نه د خپل مرض دپاره او د خپل ژوند نه د خپل مرګ دپاره. (بخاري)

۞ د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ په يو اندېري اودۀ شوے ؤ بيا راپاڅېدۀ او اندېري ورله په ډډه کښې نښه کړې وه، مونږ عرض وکړو: اے د الله رسوله! کۀ مونږ تا له څۀ بستره جوړه کړو؟ رسول الله ﷺ وفرمائيل: زما د دنيا سره څۀ دي؟ زۀ خو په دنيا کښې داسې يم لکه يو سور (په لارې تلونکے) چې د يوې ونې د سورې لاندې کښېنې بيا روان شي او هغه پرېږدي. (ترمذي)

❁د عبدالله بن عمروؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ پهٔ مونږ تېروتلو او ما او زما مور خپله يوه جونپړه سموله نو وئې وفرمائېل: دا څهٔ دي؟ مونږ عرض وکړو: دا کچه شوې ده مونږه ئې سموو. رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما ته معامله (مرګ) نهٔ ښکاري مګر د دې نه زر. (احمد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ خلقو ته وفرمائېل: تاسو ټول جنت ته تلل غواړئ؟ هغوی ووېېل: اے د الله رسوله! مونږ ضرور جنت ته تلل غواړو. رسول اللهﷺ وفرمائېل: اُميدونه لنډ کړئ، مرګ د سترګو مخې ته کړئ او د الله تعالیٰ نه داسې حيا وکړئ څنګه چې د هغې حق دے. (ابن ابی الدنيا)

باب: دنيا نهٔ، آخرت

دنيا پسې نهٔ کېدل، آخرت پسې کېدل، هغهٔ له ترجيح ورکول

❁رسول اللهﷺ (يا عليؓ) فرمائېل: دا دنيا تلونکې ده او دا آخرت راتلونکے دے او پهٔ دې دواړو کښې د هر يو زامن (اولاد) دي نو کهٔ تاسو کولے شئ چې د دنيا زامن جوړ نهٔ شئ نو وکړئ. (بيهقي)

❁رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: تاسو شئ د آخرت د زامنو نه او مهٔ کېږئ د دنيا د زامنو نه؛ د هرې مور بچے پهٔ هغې پسې زي. (ابونعيم فی الحليه)

❁ رسول اللهﷺ نه د دنيا او د آخرت متعلق يو حديث کښې مروي دي: تاسو پاتې کېدونکي څيز (آخرت) له پهٔ فنا کېدونکي څيز (دنيا) ترجيح ورکړئ. (حاکم، احمد، بيهقي، بزار، طبراني، ابن حبان)

د دنیا پهٔ ځائے د آخرت قصد او فکر، د دې فائده

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا چې قصد او نيت صرف د آخرت وي نو الله تعالیٰ د هغهٔ معامله جمع ساتي او غنا (بې حاجتي، بې پروائي) ورله پهٔ زړهٔ کښې اچوي او دنيا به ورته پهٔ ټيټه رازي. (ابن ماجه، بزار، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې ارشاد وفرمايهٔ: چا چې خپل فکرونه يو فکر جوړ کړهٔ، د آخرت فکر، نو الله تعالیٰ به ئې د دنيا فکر له کافي شي (د هغې نه به ئې بچ کړي). (ابن ماجه)

دنيا له د دنيا او آخرت له د آخرت مناسب کوشش

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: دنيا له دومره څهٔ وکړه څومره چې به تهٔ پهٔ دنيا کښې يې او آخرت له دومره څهٔ وکړه څومره چې بهٔ تهٔ پهٔ آخرت کښې يې. (ترغيب)

❁ شبلي رحمه الله فرمائي: زهٔ د څلورو سوو استاذانو پهٔ خدمت کښې پاتې شوے يم او څلور زره حديثونه مِ لوستلي دي، پهٔ هغو کښې صرف يو حديث ما د عمل دپاره خوښ کړے دے ځکه چې هغه يو حديث زما د خلاصي دپاره پوره دے. هغه حديث دا دے: د دنيا دپاره دومره څهٔ وکړه څومره چې به تهٔ پهٔ دنيا کښې يې او د آخرت دپاره دومره څهٔ وکړه څومره چې به تهٔ هلته يې، او د الله تعالیٰ دپاره دومره څهٔ وکړه څومره چې تهٔ هغهٔ ته محتاج يې او د دوزخ دپاره دومره څهٔ وکړه څومره چې تهٔ د هغې پهٔ تکليفونو صبر کولے شې. (احياء)

کتاب: دنیا کښې تنګي، فقیري، ښکته والے، مصیبتونه

باب: تنګي، فقیري، مسکیني

تنګدستی، د خوراک څښاک کم والے، پۀ دې صبر

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ به د قیامت پۀ ورځ خپلو تنګدستو بندګانو ته وفرمائي: اے زما بندګانو! تاسو د پېغمبرانو پۀ شان یئ او تاسو به نن زما د مخلوق شفاعت کوئ. اے زما بندګانو! څۀ چې ستاسو زړۀ غوارړي زما نه وغواړئ زۀ به ئې درکړم. زۀ ستاسو نه راضي یم او نن تاسو له هیڅ عذاب او تنګي نیشته. (تذکرۃ الواعظین)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د کوم بنده چې خوراک څښاک کم وي الله تعالیٰ پۀ هغۀ باندې پۀ فرښتو کښې فخر کوي او فرښتو ته فرمائي: زما بنده ته وګورئ، ما چې دے پۀ دنیا کښې د خوراک څښاک پۀ آزمائش کښې واچولو نو دۀ صبر وکړو او هغه ئې پرېښودۀ. اے فرښتو! ګواه ووسئ چې کومه نمړئ دۀ پرېښې ده د هغې پۀ عوض کښې به زۀ دۀ له د جنت درجې ورکوم (یا زیاتوم). (ابن عدي)

د رزق پۀ کم والي راضي والے، صبر او شکر

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د الله تعالیٰ نه پۀ لږ رزق راضي شو الله تعالیٰ به ترېنه پۀ لږ عمل راضي شي. (بیهقي، دیلمي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څوک چې پۀ کم نه کم رزق صبر وکړي هغه به د جنتِ فردوس پۀ اوچتو درجو کښې ځائے ومومي. (درمنثور، فضائلِ صدقات)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: څوک چې د رزق پهٔ تنګ والي صبر وکړي الله تعالیٰ به ورله پهٔ جنت کښې کوم ځائے چې دے وغواړي استوګنه ورکړي. (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد مروي دے: کوم سړے چې د رزق پهٔ کم والي شکر ګزار او د الله تعالیٰ پهٔ رضا راضي وي نو الله تعالیٰ هم د هغهٔ پهٔ لږ عمل راضي وي. (تذکرة الواعظين)

د رسول اللهﷺ او د هغوی د آل وعيال خوراک څښاک

❁ د سماک بن حرب رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: ما د نعمان بن بشيرؓ نه اوريدلي دي: اے تاسو پهٔ هغه خوراک څښاک کښې نهٔ يئ کوم چې غواړئ؟ ما ستاسو نبي(ﷺ) ليدلے ؤ چې د ردي او وُچو کجورو نه ئې هم دومره نهٔ موندلې چې خېټه مبارکه ئې ورله ډکه وُلے. (الترمذي فی الشمائل)

❁ د انسؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ نهٔ پهٔ خوان باندې خوراک وفرمايهٔ او نهٔ ئې پلنه نرئ ډوډئ وخوړه تر دې چې وفات شو. (ترمذي)

❁ ابوهريرهؓ پهٔ يوه موقع وفرمائيل: رسول اللهﷺ د دنيا نه لاړو او د وربشو پهٔ ډوډئ هم نهٔ ؤ موړ شوے. (بخاري)

❁ د عبد الرحمٰن بن عوفؓ پهٔ يو روايت کښې دي: رسول اللهﷺ پهٔ داسې حال کښې وفات شو چې هغوئ او د هغوئ کورونو والا د وربشو پهٔ ډوډئ نهٔ وو ماړهٔ شوي. (أبوداؤد)

❁ د ابن عباسؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به پرله پسې ډېرې شپې وږې تېرولې او کورونو والو به ئې د ماښام ډوډئ نهٔ مونده او زياته ډوډئ به ئې د وربشو وه. (ترمذي)

۞ د ابوامامه رضي الله عنه نه روایت دے: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کورونو والو نه به د وربشو ډوډۍ نۀ زیاتي کېده. (ترمذي)

۞ د عائشې رضی الله عنها نه روایت دے، فرمائي: د محمد صلی الله علیه وسلم کورونو والا دوه ورځې پرله پسې د وربشو نه علاوه پۀ څۀ شي ماړۀ نۀ شو دې پورې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو. (متفق علیه)

۞ د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغوی کور والا درې ورځې پرله پسې د غنمو پۀ ډوډۍ ماړۀ نۀ شو تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دنیا نه جدا شو. (ترمذي)

۞ د عائشې رضی الله عنها نه روایت کړے شوے دے: د محمد صلی الله علیه وسلم پۀ آل باندې به میاشت تېرېده او د هغوی د کورونو نه پۀ یو کور کښې به هم لوګے نۀ لیدے کېدۀ. (ابن ماجه)

۞ د عائشې رضی الله عنها نه روایت دے، فرمائي: مونږ د محمد صلی الله علیه وسلم آل به میاشت داسې پاتې کېدو چې اور به نۀ بلوو، صرف کجورې او اُوبۀ به وې. (الترمذي فی الشمائل)

۞ عائشه رضی الله عنها روایت کوي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو او زما پۀ کور کښې د ساه لرونکي د خوړلو څۀ نۀ وو علاوه د څۀ لږو وربشو نه چې پۀ تاخ کښې پرتې وې؛ ما د هغې نه خوړلې دې پورې چې اوږد وخت تېر ورسېدې، بیا ما وُجوکلې نو ختمې شوې. (متفق علیه)

فقیرۍ، مسکینۍ، د دې غوره والے

۞ یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویېل: اے د الله رسوله! پۀ الله مې دِ قسم وي زۀ تاسو سره محبت ساتم. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: وګوره (سوچ وکړه) څۀ وایې؟ هغۀ درې پېرې ووې: پۀ الله مې دِ قسم وي زۀ تاسو سره محبت ساتم. رسول

اللهﷺوفرمائېل: کۀ تۀ زما سره محبت ساتې نو بيا فقيرۍ (غريبۍ) ته ملا تياره کړه ځکه چې څوک زما سره محبت ساتي نو هغۀ ته فقيري د دې نه زياته زر رازي څومره زر چې د اُوبو سيلاب خپل حد ته رسي. (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: کله چې تۀ ووينې چې فقيري راروانه ده نو ووايه: واه واه د نيکانو علامت! او کله چې ووينې چې مالداري راروانه ده نو ووايه: څۀ ګناه دے چې سزا ئې زر ملاؤ شوه. (ديلمي)

۞ يو سړے د رسول اللهﷺ پۀ خوا کښې تېروت نو رسول اللهﷺيو کس ته چې د هغوی پۀ خوا کښې ناست ؤ وفرمائېل: تۀ د دۀ پۀ باره کښې څۀ وايې؟ هغۀ ووې: د غټو خلقو نه يو سړے دے، والله! لائق دے کۀ د نکاح پيغام ورکړي چې نکاح ورسره وکړے شي او کۀ سفارش وکړي چې سفارش ئې قبول کړے شي. رسول اللهﷺ خاموش شو. بيا يو بل سړے تېروت نو رسول اللهﷺ هغۀ ته وفرمائېل: د دۀ پۀ باره کښې څۀ وايې؟ هغۀ ووې: د مسلمانانو د فقيرانو نه يو سړے دے، لائق دے کۀ د نکاح پيغام ورکړي چې نکاح ورسره ونکړے شي او کۀ سفارش وکړي چې سفارش ئې قبول نکړے شي او کۀ څۀ ووايي چې خبره ئې وانۀ ورېدے شي. رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ د هغۀ پۀ شانې خلقو نه ټوله دنيا ډکه شي نو دے ترېنه غوره دے. (متفق عليه)

۞ روايت دے چې رسول اللهﷺد يو فقير پۀ خوا کښې تېروتلو او د هغۀ سره ئې څۀ وُنۀ ليدل نو وئې فرمائېل: کۀ د دۀ نور پۀ زمکه والو تقسيم کړے شي نو هغوی ټولو له به کافي شي. (احياء)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: فقيري زما فخر دے. (ترغيب)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د مومن تحفه پۀ دنيا کښې فقيري ده. (ديلمي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ (د سوال او د حرامو نه) منع اوسېدونکے بال بچ والا فقير خوښوي. (ابن ماجه)

❁ روايت دے چې رسول اللهﷺ به د مهاجرينو پۀ فقيرانو سره فتح و مدد طلب کولو (يا به ئې پۀ ورکړه وغيره کښې د هغوی نه شروع فرمائېله). (شرح السنه)

فقير، مسکين او مظلوم له د آخرت خير، ثواب

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ د جنت پۀ دروازه ولاړ وُم نو هغې ته زيات تلونکي مسکينان وو او مالداران د حساب دپاره حصار کړے شوي وو او د دوزخيانو دوزخ ته د بوتلو حکم شوے ؤ. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: فقيران، مسکينان به د مالدارانو نه پينځۀ سوه کاله مخکښې جنت ته زي. (ترمذي)

❁ (يوه موقع کښې) رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے الله! ما مسکين وُساتې او مسکين مِ مړ کړې او پۀ قيامت کښې مِ د مسکينانانو پۀ ټولګي کښې راپاڅوې. عائشې رضی الله عنها عرض وکړو: ولې اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفر مائېل: هغوی به د مالدارو نه څلوېښت کاله ړومبے جنت ته زي. (ترمذي)

❁ پۀ يو روايت کښې دي چې رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز وفرمائي: زما پۀ مخلوق کښې زما خالص (سوچه) دوستان چرته دي؟ فرښتې به عرض وکړي: هغوی څوک دي اے زمونږه ربه؟ الله تعالیٰ به وفرمائي: د مسلمانانو فقيران، زما پۀ ورکړه قناعت کونکي، زما پۀ مقرره راضي؛ دوی جنت ته داخل کړی. (ديلمي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز وفرمائي: زما خوښ کسان ما ته نزدې کړی. فرښتې به ووائي: ستا خوښ

کسان څوک دي؟ الله تعالیٰ به وفرمائي: د مسلمانانو فقيران. هغوی به الله تعالیٰ ته نزدې کړے شي نو الله تعالیٰ به وفرمائي: ما دنيا ستاسو نه د دې وجې نه نۀ وه منع کړې چې تاسو ما ته بې قدره وئ بلکې ما غوښتل چې پۀ دې سره نن ورز زۀ ستاسو عزت دوچند کړم، پس اُميد وساتئ زما نه د هغه څۀ څۀ چې تاسو غواړئ. (احياء، کشف المحجوب)

۞ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روايت کړے شوے دے: د قيامت پۀ ورز چې به فقير مومن د الله تعالیٰ پۀ دربار کښې حاضر شي نو الله تعالیٰ به هغۀ ته داسې عذر وکړي لکه يو سړے چې بل ته کوي، وُبه فرمائي: اے زما بنده پۀ خپل عزت او جلال دِ زما قسم وي! ما ستا نه د دنيا مال د دې وجې نه لرې نۀ ؤساتلے چې زما پۀ نظر کښې تۀ سپک وې بلکې د دې وجې نه چې ما ستا دپاره پۀ خپل دربار کښې ډېر غوره والے او بزرګي ابښې وه . (تذکرة الواعظين)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تاسو چې کله د قيامت پۀ ورز جمع شئ نو وبه ويلے شي چې د دې اُمت فقيران او مسکينان کوم ځائے دي؟ هغوی به ودريږي . د هغوی نه به تپوس وکړے شي چې تاسو څۀ عمل کړے ؤ؟ هغوی به ووائي: اے زمونږه ربه! تا مونږ پۀ مصيبت کښې مبتلا کړي وو نو مونږ صبر وکړو او تا مال او بادشاهي زمونږ نه سوا نورو له ورکړې وه . الله تعالیٰ به وفرمائي: تاسو رشتيا وويېل. بيا به هغوی د نورو خلقو نه مخکښې جنت ته لاړ شي او د حساب سختي به د مال او د بادشاهۍ پۀ خاوندانو پاتې شي . (طبراني)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: فقيري (غريبي) پۀ دنيا کښې عيب دے او پۀ آخرت کښې ښکلے والے دے . (ترغيب)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې ارشاد مروي دے: فقيران، مسکينان به د قيامت پۀ ورز د الله تعالیٰ همنشين وي. (احياء، نزهة البسا تين)

❁رسول اللهﷺفرمائيلي دي: مظلومان به د قيامت پۀ ورز کامياب وي. (ابن ابی الدنيا)

د فقير د څۀ شي د اخستو طاقت نۀ لرل او پۀ هغې صبر کول، د فقير راضي والے

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: يو فقير مسلمان چې يو بازار ته ننوزي او هلته څۀ شےويني چې زړۀ ئې غواړي مګر د هغې د اخستو پيسې ورسره نۀ وي نو دے صبر وکړي او د ثواب نيت وکړي نو دا د دۀ دپاره د يو لاک درهمو د صدقه کولو نه غوره ده. (ترغيب)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي: اے د فقيرانو ټولګيه! تاسو د زړۀ نه راضي شئ نو د خپلې فقيرئ ثواب به ومومئ کنه نۀ. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: د فقير نه غوره څوک نيشتے کۀ دے راضي وي. (احياء)

مسکين (او فقير) پۀ حقيقت کښې څوک؟

❁رسول اللهﷺوفرمائيل: نۀ دے مسکين هغه چې د کجورې يوه او دوه دانې يا يوه او دوه نمړئ هغه واپس کوي، مسکين خو هغه دے چې (د سوال وغيره نه) منع او بچ پاتې کيږي. (متفق عليه). پۀ يو بل روايت کښې داسې دي: نۀ دے مسکين هغه چې پۀ خلقو ګرزي، يوه او دوه نمړئ او د کجورې يوه او دوه دانې هغه واپس کوي، مسکين خو هغه دے چې دومره څۀ نۀ مومي چې بې پروا ئې کړي او نۀ ترې څوک خبر وي چې صدقه ورله ورکړے شي او نۀ پاڅي چې د خلقو نه سوال وکړي. (متفق عليه)

باب: ښکته والے، معمولي والے

د سادګۍ، بدحالۍ، کم عقلۍ، بې پروائۍ او پټ والي فضيلت

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: مومن ساده، شريف وي او فاجر چل باز، کمينه وي۔ (ابوداؤد)

۞ صحابه کرامو يوه ورز د رسول اللهﷺ پۀ مخکښې د دنيا ذکر وکړو نو رسول اللهﷺ وفرمائيل: تاسو نۀ اورئ؟ بدحاله (خړپړ) اوسيدل د ايمان نه دي، بدحاله اوسيدل د ايمان نه دي۔ (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: ستا رب د هغه ځوان نه تعجب کوي (هغه خوښوي) د چا چې رغبت او خواهش (يا تجربه) نۀ وي۔ (احياء)

۞ د رسول اللهﷺنه مروي دي: الله تعالىٰ خوښوي هغه د زړو او شليدلو جامو اغوستونکے (متبذل) کوم چې دا پروا نۀ کوي چې څۀ واغوندي۔ (احياء)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما پۀ اُمت کښې به څۀ کسان وي چې سرونه (وېښتۀ) به ئې خوارۀ وارۀ او جامې به ئې خيرنې وي، کۀ په الله تعالىٰ قسم وخوري نو هغه به ئې قسم پوره کړي۔ (ابن ابی الدنيا)

۞ د رسول اللهﷺ د يو ارشاد مبارک مفهوم دے: څوک چې د الله تعالىٰ پۀ مخکښې د عاجزۍ او د هغۀ د رضا دپاره ښائست پرېږدي او ښکلې جامې وغورزوي نو پۀ الله تعالىٰ حق دے چې دۀ له د جنت د ټولو نه غوره جامې ذخيره کړي۔ (ابونعيم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم سړے چې زما پۀ باره کښې تپوس کوي يا ما ته کتل غواړي نو هغه دِ د ورانو وېښتو والا، وُچ يا يو بدل شوي رنګ والا ته وګوري۔ (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: اکثر جنتیان (د دنیا په معاملاتو کښې) کم عقل او بوله خلق دي. (بیهقي، دیلمي، بزار)

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ پرهېزګار، بې پروا او پټ سړے خوښوي. (مسلم)

د کمزورو خلقو غوره والے او جنتي والے

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: ما له کمزوري (ضعیفانان) تلاش کړئ، تاسو ته مدد او رزق صرف ستاسو د کمزورو د وجې نه درکولے کیږي. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: دې اُمت سره د الله تعالیٰ مدد صرف د دې د کمزورو، د هغوی د دعاء او د هغوی د اخلاص (او د هغوی د نمونزونو) د وجې نه دے. (نسائي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زهٔ تاسو ته د جنت والو خبر درنکړم؟ هر کمزورے او کمزورے ګڼلے کېدونکے کس چې کهٔ د الله تعالیٰ پهٔ اسره قسم وخوري نو الله تعالیٰ به ئې قسم پوره کړي. (متفق علیه)

۞د معاذ رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ما ته وفرمائیل: زهٔ تا ته د جنت د بادشاهانو خبر درنکړم؟ ما عرض وکړو: ضرور راکړئ. رسول اللهﷺ وفرمائیل: هر کمزورے، کمزورے ګڼلے کېدونکے، د دوؤ زړو جامو والا سړے د چا چې پروا نهٔ کیږي، څوک چې کهٔ د الله تعالیٰ پهٔ بروسه قسم خوري نو الله تعالیٰ به ئې قسم پوره کوي. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د جنت او د دوزخ پهٔ مینځ کښې تکرار وشو. دوزخ ووې: زهٔ غوره کړے شوے یم پهٔ متکبرانو او جابرانو سره (چې ما ته به هغوی رازي)، او جنت ووې: ما ته به نهٔ رازي مګر ضعیفانان، ارتاؤ او ساده خلق. (متفق علیه)

باب: د دنيا مصيبتونه، آزمائشونه، تکليفونه

مصيبت، ټولو نه د زيات مصيبت والا خلق

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: څۀ چې تا له تکليف درکړي هغه مصيبت دے۔ (احياء)

❁ د قصير رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺد يوه مړه شوه نو هغوی "اِنّا لِلّٰهِ وَ اِنّآ اِلَيهِ رَاجِعُون" (مونږ د الله يو او مونږ هغه ته واپس کېدونکي يو) ووې او وئې فرمائېل: څۀ چې مؤمن تکليف کړي هغه مصيبت دے۔ (ابوداؤد في مراسيله)

❁ د سعد بن ابی وقاصؓ نه روايت دے، فرمائي: ما رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: کوم خلق د ټولو نه د زيات مصيبت (آزمائش) والا دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نبيان او بيا زيات اوچت خلق او ورپسې زيات اوچت خلق۔ بنده د خپل دين مطابق آزمائېلے کيږي نو که پۀ خپل دين کښې کلک وي نو آزمائش ئې سخت وي او کۀ پۀ دين کښې ئې نرمي وي نو د خپل دين مطابق آزمائېلے کيږي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ د الله تعالیٰ (د دين) پۀ معامله کښې هغه شانې ويرولے شوم چې هغه شانې هيڅوک هم نۀ يرولے کيږي او ما ته د الله تعالیٰ (د دين) پۀ معامله کښې هغۀ شانې تکليف راکړے شو چې هغه شانې تکليف هيچا ته هم نۀ ورکولے کيږي او پۀ ما باندې دېرش شپې او ورزې داسې تېرې شوې دي چې ما او بلال ته دومره څۀ خوراک نۀ دے ملاؤ شوے چې د يوې اينې والا ئې خوري مګر دومره څۀ چې د بلال ترخ به پټول۔ (ترمذي)

مصیبت او د بنده آزمائش، مصیبت او د الله محبت

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ خپل بنده پهٔ مصیبت سره آزمائي لکه پهٔ تاسو کښې چې څوک خپل سرهٔ زر آزمائي(کره والے او کوټه والے ورله معلوموي) ـ (طبراني)

۞ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ د خپل بنده پهٔ مصیبت سره کتنه کوي لکه څنګه چې مهربان پلار د خپل بچي کتنه کوي ـ ((القرآن و التصوف)

۞ يو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! زما مال لاړ او بدن مِ ناجوړه شو. رسول اللهﷺوفرمائېل: نیشتے خیر پهٔ داسې بنده کښې د چا چې مال لاړ نهٔ شي او د چا چې بدن ناجوړه نهٔ شي ـ الله تعالیٰ چې د چا سره محبت کوي نو مصیبت (آزمائش) پرې راولي او چې مصیبت پرې راولي نو صبر ورله ورکړي ـ (ابن ابی الدنیا)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ چې د يو بنده سره محبت ساتي نو مصیبت پرې راولي او چې ډېر زیات محبت ورسره ساتي نو اهل و عیال او مال ورسره نهٔ پرېږدي (هر څهٔ ترېنه اخلي) ـ (طبراني)

د مصیبتونو د آخرت فائدې اوثوابونه

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د يو کس مرتبه د الله تعالیٰ سره مقرره وي خو دے پهٔ خپل عمل سره هغې ته نهٔ شي رسېدے نو الله تعالیٰ دے پهٔ داسې خبرو کښې اخته کړي کومې چې دهٔ ته ناخوښې وي (يعني پهٔ تکلیفونو کښې) تر دې چې دے هغه مرتبه وُمومي ـ (ترغیب)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مومن ته د غنې يا د هغې نه ښکته څهٔ تکلیف نهٔ رسي مګر الله تعالیٰ پهٔ هغې سره د دهٔ يوه درجه اوچتوي او يو ګناه کموي ـ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پۀ عذاب کښې د مومن حصه د دنيا رنځ او تکليف دے. (حجة الله البالغه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پۀ کومه ورز چې به مخونه توربږي پۀ هغه ورز به مصيبت د مصيبت والو مخونه سپين کړي. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قيامت پۀ ورز چې به څۀ وخت مصيبت زپلو ته ثوابونه ورکولے کيږي نو د خير او عافيت والا خلق به ارمان وکړي چې کاش پۀ دنيا کښې زمونږ څرمنې پۀ قينچيانو غوڅې کړے شوے وے! (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کله چې د قيامت ورز وي نو تله (ميزان) به کېښودے شي د نمانزۀ والا خلق (نمونز گزاران) به راوستے شي او پۀ تله به ورته اجرونه ورکړے شي بيا به د روژې والا راوستے شي او پۀ تله به ورته اجرونه ورکړے شي بيا به د حج والا راوستے شي او پۀ تله به ورته اجرونه ورکړے شي او بيا به مصيبت والا راوستے شي نو نۀ به ورله تله کېښودے شي او نۀ به ورله ديوان (رجسټر) خور (کولاؤ) کړے شي بغير د څۀ حساب نه به ورله اجرونه ورکړے شي دې پورې چې عافيت والا خلق به آرزو وکړي چې مونږ هم (پۀ دنيا کښې) د دوی پۀ شان (پۀ مصيبتونو کښې پاتې شوے) وے. (المنبهات)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د بدلې لوئے والے د مصيبت پۀ لوئے والي باندې دے (څومره چې مصيبت لوئے وي دومره به ئې بدله لويه وي). (ترمذي، ابن ماجه)

د نظر يا د سترگو نه د محروم کېدو ثواب

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: کله چې زۀ پۀ دنيا کښې د خپل يو بنده د سترگو نظر واخلم نو هغۀ له زما سره بدله نيشته مگر جنت. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: الله تعالیٰ فرمائي: کله چې زۀ د خپل یو بنده نظر واخلم او هغه صبر وکړي او د ثواب اُمید وساتي نو هغۀ له به زۀ د جنت نه پۀ کمه راضي نۀ شم۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: الله تعالیٰ چې د چا کریمتان واخلي نو هغۀ له جنت واجب شو۔ عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! د هغۀ کریمتان څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د هغۀ سترګې۔ (شرح السنه)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالیٰ فرمائي: اے د آدم زویه! کله چې زۀ ستا کریمتان (سترګې) واخلم او تۀ د مصیبت د ګزار سره (سمدستي) صبر وکړې او د ثواب نیت وکړې نو زۀ به تا له د جنت نه پۀ کم ثواب راضي نۀ شم۔ (الادب المفرد)

د ناجوړتیا او مسافرۍ وغیره د وجې نه پاتې شوے عمل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: یو بنده چې ناجوړه یا مسافر شي نو دۀ له د هغې پۀ شان عمل لیکلے کیږي کوم چې به دۀ د جوړوالي او مقیم والي پۀ حالت کښې کولو۔ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: یو مسلمان داسې نیشتے چې الله تعالیٰ دے د بدن پۀ تکلیف کښې مبتلا کړي مګر څو پورې چې دے ناجوړه وي نو دۀ له هغه عمل لیکي (یعني د هغې ثواب) کوم چې به دۀ د جوړوالي پۀ حالت کښې کولو۔ پس کچرې دۀ له عافیت ورکړي نو دے وینزي او کچرې قبض ئې کړي نو وئې بخښي۔ (الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ فرمائي: زما نیک بنده له ولیکۍ څۀ چې به دۀ (د صحت پۀ حالت کښې) کول ځکه چې دے زما پۀ بند کښې دے کۀ زۀ ئې آزاد کړم نو داسې غوښه به ورته بدله کړم چې د دۀ د

غوښې نه به غوره وي او داسې وينه به ورته بدله کړم چې د دۀ د وينې نه به غوره وي او کۀ مړ ئې کړم نو خپل رحمت ته به ئې مړ کړم. (طبراني)

مصيبتونه وغيره د ګناهونو کفاره، ګناهونه پرې ختمېدل

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د يو بنده ګناهونه چې زيات شي او د دۀ سره داسې څۀ عمل نۀ وي چې د هغې کفاره وګرزي نو الله تعالیٰ د ے پۀ غم کښې اخته کړي چې د ګناهونو کفاره شي. (ترغيب)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې يو بنده څۀ ګناه وکړي او دۀ ته (د هغې د وجې نه) پۀ دنيا کښې سزا ورکړے شي نو الله تعالیٰ د دې نه زيات انصاف والا د ے چې خپل بنده ته دوباره (پۀ آخرت کښې) سزا ورکړي. (ابن ماجه، ترمذي). پۀ يو روايت کښې داسې دي چې دا به ورله کفاره شي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پۀ ګناهونو کښې څۀ داسې دي چې کفاره ئې نيشته مګر غمونه. (طبراني، ابونعيم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مومن ته چې څۀ هم ستړې، مرض، فکر، تکليف او غم رسي تر دې چې څۀ غنه ئې ووهي نو پۀ دې سره الله تعالیٰ د هغۀ خطايانې (ګناهونه) معاف کوي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم يو مسلمان چې پۀ دنيا کښې څۀ غنه وهي چې د ے پکښې ثواب ګڼي نو پۀ دې سره به د قيامت پۀ ورز د دۀ د ګناهونو نه معاف کيږي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: مصيبت د بنده سره لګېدلے وي تر دې چې بيا پۀ زمکه ګرزي او هيڅ ګناه پرې پاتې نۀ وي. (ابن ماجه). پۀ يو بل روايت کښې داسې دي: مومن سړې او مومنې ښځې ته د بدن، کوروالو (يا اولاد) او د مال مصيبت برابر رسي تر دې چې د الله تعالیٰ سره ملاؤ شي او هيڅ ګناه پرې نۀ وي. (ترمذي، الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې مومن ناجوړه کيږي نو الله تعالیٰ ئې داسې پاکوي لکه بټۍ چې د وُسپنې خيرے (يا زنګ) پاکوي. (الادب المفرد)

پۀ مصيبتونو صبرکول، د دې فضيلت

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پۀ صبر سره د آسانۍ او د مصيبت د ختمېدو انتظار کول عبادت دے. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: څۀ چې تا ته ناخوښ (او ګران) وي پۀ هغې باندې پۀ صبر کولو کښې ډېر خير دے. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: الله تعالیٰ فرمائي: کله چې زۀ خپل يو بنده پۀ مصيبت کښې غورزوم او دے په هغې صبر کوي نو زۀ د دۀ غوښه پۀ زياتې غورې غوښې سره بدلوم او د دۀ وينه پۀ زياتې غورې وينې سره بدلوم. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: زما مومن بنده له زما سره څۀ بدله نيشته کله چې زۀ د دۀ د يو خوږ روح واخلم او دے صبر وکړي او پۀ دې کښې ثواب وګڼي سِوا د جنت نه. (بخاري)

❁ د عطاء بن ابي رباح رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: ما ته ابن عباس رضي الله عنهما ووې: زۀ تا ته يوه جنتي ښځه ونۀ ښايم؟ ما ووې: ولې نۀ. وئې ويېل: دا توره ښځه د رسول اللهﷺ خوا له راغله او عرض ئې وکړو: پۀ ما مرګي (غوټه) رازي او زۀ بربنډه بېږم نو ما له د الله تعالیٰ نه دعاء وغواړه. رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ تۀ غواړې چې صبر وکړې نو تا له جنت دے او کۀ غواړې نو زۀ به د الله تعالیٰ نه دعاء وغواړم چې تا له عافيت درکړي (تا جوړه کړي). هغې ووې: زۀ صبر کوم. بيا ئې ووې: زۀ بربنډه بېږم نو د الله تعالیٰ نه دعاء وغواړه چې نۀ بربنډه بېږم. رسول اللهﷺ ورله دعاء وغوښتته. (متفق عليه)

مصيبت وغيره پټ ساتل، شکايت ئې نۀ کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د نيکۍ د خزانو نه مصيبتونه پټ ساتل دي او چا چې مصيبت ښکاره کړو هغۀ صبر ونکړو. (القرآن و التصوف)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ چا چې لوږه راغله يا ئې څۀ حاجت پيدا شو او دۀ هغه د خلقو نه پټ وساتۀ نو پۀ الله تعالیٰ به حق وي چې دۀ ته د يو کال حلال رزق ورکړي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا ته چې د بدن يا د مال څۀ مصيبت ورسي او دے هغه پټ وُساتي او خلقو ته ئې شکايت (فرياد) وُنکړي نو د الله تعالیٰ پۀ ذمه د دۀ بخښنه ده. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: کله چې زۀ خپل مومن بنده (پۀ مرض وغيره کښې) مبتلا کړم او دے خپلو عيادت کونکو ته زما شکايت ونکړي نو زۀ دے د خپل قيد نه آزادوم بيا ورله غوښه بدلوم د دۀ د غوښې نه غوره او وينه د دۀ د وينې نه غوره او بيا دے د سر نه عمل شروع کوي. (السلسلة الصحيحه)

کتاب: مرض، مريض، تپوس، مړکېدل، مړے، قبر

باب: مرض او مريض

مرض، پرهېز او بد پرهېزي، د علاج کولو تاکيد

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: معده د مرض سر (بنياد) دے، پرهېز د هر علاج سر دے او د هر مرض سر بد پرهېزي ده. (اساس العربيه)

❁ د ام منذر رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: زما څنګ ته رسول اللهﷺ راغے، علي (رضي الله عنه) هم ورسره ؤ. مونږ کره د کجورو غنچې زوړندې وې.

رسول اللهﷺ د هغې نه خوړل شروع کړۀ ـ هغوی سره علي(رضي الله عنه) هم پۀ خوړو شو ـ رسول اللهﷺ علي(رضي الله عنه) ته وفرمائېل: مۀ که مۀ که (مۀ خوره) ځکه چې تۀ کمزورے یې (د مرض نه وس وس بنۀ شوے یې) ـ علي(رضي الله عنه) کښېناستۀ او رسول اللهﷺ خوړلې ـ ام منذر رضي الله عنها فرمائي: ما د چقندرو او وربشو نه څۀ تیار کړۀ نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے علي د دې نه وخوره دا تا سره زیات موافق دي (دا تا له بنۀ دي) ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: علاج کوئ د الله بندګانو! الله تعالیٰ مرض او علاج پیدا کړے دے ـ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ هیڅ یو مرض نۀ دے نازل کړے مګر هغۀ له ئې شفا (یا دوا) نازله کړې ده (چا چې وپېژنده هغۀ وپېژنده او چا چې ونۀ پېژنده هغۀ ونۀ پېژنده) ـ (بخاري)

مرض او تکلیف له څۀ مسنون دمونه او دعاګانې وغیره

❁ بِسمِ الله، تُربَةُ اَرضِنَا بِرِیقِ بَعضِنَا یُشفَیٰ بِهِ سَقِیمُنَا بِاِذنِ رَبِّنَا (بسم الله، خاوره د زمکې زمونږ پۀ لاړې سره د بعضو زمونږ نه، شفا پرې ورکولے کیږي مریض زمونږ ته پۀ حکم د رب زمونږ) ـ (متفق علیه)

❁ مریض دِ د درد پۀ ځائے خپل لاس کېږدي، درې پېرې دِ بِسمِ الله او وۀ پېرې دِ دا دعاء ووایي: اَعُوذُ بِعِزَّةِ اللهِ مِن شَرِّ مَا اَجِدُ وَ اُحَاذِرُ (زۀ پناه غواړم پۀ عزت د الله تعالیٰ سره د شر د هغې نه چې زۀ ئې محسوسوم او ترې یرېږم) ـ (مسلم) ـ پۀ بعضې روایتونو کښې دا لفظونه راغلي دي: اَعُوذُ بِاللهِ مِن شَرِّ مَا اَجِدُ (زۀ پناه غواړم پۀ الله تعالیٰ سره د شر د هغې نه چې زۀ ئې محسوسوم (مومم) ـ (الحصن الحصین)

❁ د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به د مریض تپوس له لاړو نو د هغۀ د سر سره به کښېناستلو او دا به ئې ـ وۀ پېرې ـ ویېل

(او پهٔ هغهٔ به ئي چُف کړل): اَسئَلُ اللّٰهَ العَظَيمَ رَبّ العَرشِ العَظِيمِ أن يّشفِيَکَ (زهٔ سوال کوم د لوئے اللّٰه نه د لوئے عرش د مالک نه چې تا له شفا درکړي)؛ نو کهٔ د هغهٔ پهٔ اجل کښې به روستووالے ؤ نو جوړ به شو ۔ (الادب المفرد، ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمّ اَنتَ الشّافِيُ لَا شِفَاءَ اِلّا شِفَاءُکَ فَاشفِ اَنتَ۔ (البخاري)

۞ اللّٰهُمّ رَبّ النّاس! اَذهِبِ البَأسَ وَ اشفِ، اَنتَ الشّافِي، لَا شِفَاءَ اِلّا شِفَاءُکَ شِفاءً لَا يُغادِرُ سَقَمَا (اے اللّٰه ربه د خلقو! بوزه تکليف او ورکړه شفا، تهٔ شفا ورکونکے يې، نيشته شفا مګر شفا ستا، داسې شفاچې هيڅ مرض پرې نږدي۔ (متفق عليه) ۔ (پهٔ يو روايت کښې داسې دي: اَذهِبِ البَأسَ رَبّ النّاس! وَ اشفِ، اَنتَ الشّافِي، لَا شِفَاءَ اِلّا شِفَاءُکَ شِفاءً لَا يُغادِرُ سَقَمَا (بخاري)

۞ اِمسَحِ البَأسَ رَبّ النّاسِ بِيَدِکَ الشّفَاءُ لّا کَاشِفَ إلّا أنتَ (لرې کړه تکليف ربه د خلقو، پهٔ لاس ستا کښې شفا ده، نيشتے تکليف لرې کونکے مګر تهٔ يې) ۔ (بخاري)

۞ اِذهَبِ البَأسَ رَبّ النّاسِ، اِشفِ، أنتَ الشّافِي، لّايَکشِفُ الضرّ إلّا أنتَ (بوزه تکليف ربه د خلقو! شفا ورکړه، تهٔ شفا ورکونکے يې، نهٔ لرې کوي تکليف مګر تهٔ) ۔ (درمنثور)

۞ د رسول اللّٰهﷺ نه روايت کړے شوے دے: پهٔ قرآن سره شفا حاصلول د ټولو نه غوره دوا ده۔ (ابن ماجه)

د ناجوړتيا خصوصاً د تبې ثواب، ګناهونه پرې معاف کېدل

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائيل: هيڅ يو مومن سړے او مومنه ښځه يا مسلمان سړے او مسلمانه ښځه نهٔ ناجوړه کيږي مګر اللّٰه تعالیٰ به پهٔ دې سره د هغهٔ د ګناهونو نه معاف کوي۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: مومن چې ناجوړه کیږي نو الله تعالیٰ هغه داسې پاک کوي لکه بټۍ چې د وُسپنې خیرے (زنګ) پاک کوي. (الادب المفرد)

❁ د ابوهریرهؓ نه روایت دے، فرمائي: یو اعرابي د رسول اللهﷺ خوا له راغلے ؤ، رسول اللهﷺ ورته وفرمائیل: تۀ چرته تبې نیولے یې؟ هغۀ ووې: تبه څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د څرمنې او د غوښې په مینځ کښې ګرمي. هغۀ ووې: نا (نۀ یم نیولے). رسول اللهﷺ وفرمائیل: ستا پۀ سر درد راغلے دے؟ هغۀ ووې: د سر درد څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: یوه هوا ده چې پۀ سر کښې جوړیږي، رګونه وهي. هغۀ ووې: نا (زما پۀ سر درد نۀ دے راغلے). کله چې هغه پاڅید نو رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې یو دوزخ سړي ته کتل غواړي (نو دۀ ته دِ وګوري). (الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پۀ مومن چې کله تبه راشي نو د دۀ ګناهونه داسې وریږي لکه د خزان پۀ موسم کښې چې د وُنو پاڼې ریږي. (معارفِ مثنوي)

❁ د جابرؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ د اُمِّ السائب یا اُمِّ المسیب څنګ ته تشریف یوړو او وئې فرمائیل: تا له ولې اے اُمِّ السائب. یا اُمِّ المسیب. چې ریږیږي (یا زګوېږے کوې)؟ هغې وویېل: تبه، الله دِ پۀ دې کښې برکت وانۀ چوي! رسول اللهﷺ وفرمائیل: تبې ته بدې ردې مۀ وایه ځکه چې دا د بني آدم ګناهونه داسې بوزي لکه بټۍ چې د وسپنې خیرے بوزي. (مسلم)

باب: د مریض تپوس، متعلقات

د مریض تپوس له تلل، د هغې ثواب

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د مریض تپوس (عیادت) کونکے د جنت په مېوو کښې وي دې پورې چې واپس شي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د یو مریض تپوس له ورشي نو دے د جنت په باغونو کښې کښېني او چې کله پاڅي نو اویا زره فرښتې پرې مقررې کړے شي چې د شپې پورې ورته دعاء کوي. (حاکم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: سړے چې د مریض تپوس له روان شي نو په رحمت کښې ننوزي او چې د هغهٔ سره کښېني نو رحمت ترې چاپېره شي. (حاکم، بیهقي، طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د یو مریض تپوس له زي نو یو آواز کونکے د آسمان نه آواز کوي چې تهٔ ښهٔ یې او ستا تلهٔ ښهٔ دي او تا ځانله په جنت کښې ځائے ونیسهٔ. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې په ښهٔ شان سره اودس وکړي او د خپل مسلمان ورور تپوس له لاړ شي نو د جهنم نه به د شپېتو کالو په فاصله لرې کړے شي. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مریض تپوس کوئ او د جنازو سره زئ دا به تاسو ته آخرت یادوي. (الادب المفرد)

د مریض د تپوس څهٔ آداب

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د مریض د تپوس تمام والے دا دے چې په تاسو کښې څوک د هغهٔ په وچولي یا سر لاس کېږدي او تپوس ترې وکړي چې تهٔ څنګه یې؟ (احیاء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د ټولو نه غوره تپوس زر پاڅېدل دي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د مريض تپوس له کله کله او په ناغې سره زئ (په مخه مۀ زئ چې هغه او کور والا ئې تنګېږي نۀ). (ابن ابی الدنيا)

د مريض غم لرې کول، هغۀ له تسلِّي ورکول، دعاء ورته کول، د هغۀ نه دعاء غوښتل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: تاسو چې د مريض څنګ ته زئ نو د عمر په باره کښې د هغۀ غم فکر لرې کوئ (د عمر د اوږدېدو او د مرض د تلو وغيره دعاء ورله غواړئ) ځکه چې دا (د مقرر ئې نه) څۀ نۀ واپس کوي او د هغۀ زړۀ او طبيعت خوشحالوي. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه د مرض او تکليف والا دپاره دا الفاظ روايت کړے شوي دي: لَا بَأسَ طَهُورٌ اِن شَآءَ الله (پروا نيشته، پاکونکے دے اِن شَآءَ الله). (مشکوٰة)

❁ د اُمّ سلمه رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې تاسو د مريض يا د مړي څنګ ته زئ نو د خير څۀ وايئ (دعاء کوئ) ځکه چې فرښتې ستاسو په وينا آمين وايي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې تۀ د يو مريض خوا له ورشې نو ووايه ورته چې تا ته دعاء وکړي ځکه چې د هغۀ دعاء په شان د دعاء د فرښتو ده. (ابن ماجه)

مريض نه د هغۀ د خوښې د څۀ تپوس کول

❁ رسول اللهﷺ د يو مريض تپوس له لاړو نو هغۀ ته ئې وفرمائيل: ستا څۀ ته زړۀ کيږي؟ هغۀ ووې: زما کيک ته زړۀ کيږي. رسول اللهﷺ وفرمائيل: ټيک ده. نو کيک ورله راوغوښتے شو. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ د يو مريض تپوس له لاړو نو هغهٔ ته ئې وفرمائېل: ستا څهٔ ته زړهٔ کيږي؟ هغهٔ ووې: زما د غنمو ډوډۍ ته زړهٔ کيږي . رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا کره کهٔ د غنمو ډوډۍ وي نو خپل ورور له دِ راوليږي . بيا رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې چې د چا د مريض څهٔ ته زړهٔ کيږي نو خوروي دِ پرې . (ابن ماجه)

د ناجوړه کس د تپوس کونکي پهٔ مخکښې حمد و شکر يا شکايت

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کله چې يو بنده ناجوړه شي نو الله تعالیٰ دوه فرښتو ته وحي وکړي چې وګورئ دے خپل تپوس کونکو ته څهٔ وايي . پس کچرې دے د الله تعالیٰ حمد بيانوي او د خير خبره ذکر کوي نو هغوئ دهٔ ته دعاء کوي، او کهٔ دے شکايت کوي او د شر ذکر کوي نو هغوئ وايي چې داسې به يې تهٔ . (احياء)

پهٔ ناجوړه کس ژړا راتلل

❁ د ابن عمرؓ نه روايت دے: رسول اللهﷺ د سعد بن عباده(ؓ) تپوس له لاړو چې ورسره عبد الرحمٰن بن عوف، سعد بن ابي وقاص او عبد الله بن مسعود رضي الله عنهم وو .رسول اللهﷺ وژړل . خلقو چې وليدل نو هغوئ هم پهٔ ژړا شو . رسول اللهﷺوفرمائېل: تاسو نهٔ اورئ؟الله تعالیٰ نهٔ د سترګې پهٔ اوښکه عذاب ورکوي او نهٔ د زړهٔ پهٔ غمګينئ بلکې پهٔ دې عذاب ورکوي يا رحم کوي . خپلې ژبې مبارکې ته ئې اشاره وفرمائېله . (متفق عليه)

باب: مړے

د مړکېدونکي څهٔ بيان

❁د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے چې رسول اللهﷺ د هغې خوا له پهٔ داسې حال کښې تشريف راوړو چې د هغې د يو خپل کس ساه (پهٔ سختئ سره

خوت. رسول اللهﷺ چې د هغې حالت وليدۀ نو ورته ئې وفرمائېل: پۀ خپل دِ مۀ غمجنه کېږه دا حال د دۀ د نيکيانو نۀ دے. (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مومن د وچولي پۀ خولې (يعني پۀ سختئ او تکليف) سره مري. (ابن ماجه)

❁د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مړ کېدونکي ته پۀ دريو خبرو کښې ګورئ: کله چې د هغۀ وچولے خولې شي او د سترګو نه ئې اوښکې روانې شي او شونډې ئې وچې شي نو دا د الله تعالیٰ د رحمت نه وي چې هغۀ ته راکوز شوے وي؛ او کله چې داسې آواز شروع کړي لکه د مرئ نيولے شوي آواز او رنګ ئې سُور شي او شونډې ئې خاورې رنګ شي نو دا د الله تعالیٰ د عذاب نه وي چې هغۀ ته راکوز شوے وي. (حکيم ترمذي، احياء)

❁ د ابوموسیٰ اشعريرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺنه تپوس وکړو: د بنده د خلقو نه پېژنږلو کله ختمېږي؟رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې هغه (د ثواب يا د عذاب فرښتې) ويني. (ابن ماجه)

مړ کيدونکي ته تلقين کول، سورۀ يٰس لوستل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خپلو مړو (مړۀ کېدونکو) ته د لَا اِلٰهَ اِلّا الله تلقين کوئ. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا آخري کلام چې لَا اِلٰهَ اِلّا الله وي هغه به جنت ته زي. (ابوداؤد، حاکم)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خپلو مړو پۀ ځنګ کښې يٰس وايئ. (ابن ماجه)

د رسول اللهﷺد خپل وفات پۀ وخت کښې حالت او دعاګانې

❁ عائشه رضي الله عنها فرمائي: ما رسول اللهﷺوليدۀ او هغۀوفات کېدونکے ؤ. د هغۀ پۀ ځنګ کښې يوه پياله وه هغۀ به خپل لاس (بار بار) پۀ

پیاله کښې دننه کولو او اُوبۀ به ئې پۀ خپل مخ مږلې او بیا به ئې فرمائېل: اے الله! د ځنکدن پۀ سختو او سلګو کښې زما مدد وکړې. (ترمذي). پۀ یو روایت کښې دا الفاظ راغلي دي: اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسئَلُکَ فِکَاکَ رَقَبَتِي مِنَ النّار، اَللّٰهُمَّ اَعِنِّي عَلیٰ غَمَرَاتِ المَوتِ وَ سَکَرَاتِ المَوت (اے الله! زۀ ستا نه د دوزخ د اُور نه د آزاد پاتې کېدو سوال کوم، اے الله! زما مدد وکړه د مرګ پۀ سختو کښې). (کنز العمال)

۞د عائشې رضي الله عنها نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه پۀ دې حال کښې چې هغه ما ته تکیه ؤ دا واورېدل: اَللّٰهُمَّ اغفِر لِي وَ ارحَمنِي وَ اَلحِقنِي بِالرَّفِیقِ الاَعلَیٰ (اے الله! ما وبخښې او پۀ ما رحم وکړې او ما یو ځائے کړې د رفیقِ اعلیٰ سره). (متفق علیه)

د (مرګ د) مصیبت دعاء، پۀ مړي ژړا راتلل (کول)، نوحه (وِیر) کول

۞ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: چا ته چې څۀ مصیبت ورسي (یعني څوک ئې مړ شي) هغه دِ دا دعاء ووایي: اِنَّا لِلّٰه وَ اِنَّآ اِلَیه رَاجِعُون؛ اَللّٰهُمَّ اَجِرنِي فِي مُصِیبَتِي وَ اَخلِف لِي خیراً مِنهَا (مونږ د الله یو او مونږ هغۀ ته واپس کېدونکي یو؛ اے الله! ما له زما پۀ مصیبت کښې بدله راکړې او ما له د دې نه غوره راکړې). (مشکوٰة)

۞ د اُسامه بن زید رضي الله عنه نه روایت دے چې رسول الله ﷺ ته د هغۀ نمسے کوم چې مړ ؤ راوچت کړے شو نو د رسول الله ﷺ سترګې د اوښکو نه ډکې شوې. سعد (رضي الله عنه) ووې: دا څۀ دي اے د الله رسوله؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل؛ دا رحم دے چې الله تعالیٰ د خپلو بندګانو پۀ زړونو کښې اېښے دے. (متفق علیه)

۞ د انس رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله ﷺ د خپل زوي ابراهیم (رضي الله عنه) څنګ ته لاړو او د هغۀ سا خوت. د رسول الله ﷺ د سترګو نه اوښکې روانېشوي. عبد الرحمٰن بن عوف (رضي الله عنه) ووې: تاسو هم اے د الله رسوله؟ نو رسول الله ﷺ

وفرمائېل: اے ابن عوفه! دا رحم دے ـ بيا ئې وفرمائېل: سترګې اوښکې بيوي، زړۀ غمجن دے او مونږ نۀ وايو مګر هغه چې زمونږ رب راضي کوي او مونږ ستا پۀ جدائۍ اے ابراهيمه! ضرور غمجن يو ـ (بخاري، مسلم)

❁ د انس رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: زۀ د رسول الله ﷺ د يوې لور دفن کېدو ته حاضر شوم پۀ داسې حال کښې چې رسول الله ﷺ د قبر پۀ خوا کښې ناست ؤ ـ ما وليدل چې د هغۀ د سترګو نه اوښکې بهېدلې ـ (بخاري)

❁ د عبد الله بن جعفر رضي الله عنهما نه روايت دے چې رسول الله ﷺ د جعفر رضي الله عنه آل ته درې ورزې مهلت ورکړے ؤ؛ بيا (د درې ورزو نه روستو) د هغوی خوا له راغے او وئې فرمائېل: د نن نه پس به زما پۀ ورور نۀ ژاړئ ـ (ابوداؤد)

❁ د ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ لعنت ويلے دے پۀ نوحه (وِير) کونکې ښځې او هغې ته پۀ غوږ ايښودونکې باندې ـ (ابوداؤ)

❁ د اُمِّ عطيې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ پۀ بيعت کښې پۀ مونږ لازم کړل چې مونږ به نوحه نۀ کوو ـ (متفق عليه)

❁ اُسيد بن ابواُسيد (تابعي) رحمه الله پۀ بيعت والو ښځو کښې د يوې ښځې نه روايت کوي: رسول الله ﷺ چې کومې نيکې خبرې پۀ مونږ لازم کړې وې چې مونږ به ئې پکښې نافرماني نۀ کوو پۀ هغې کښې څۀ دا وې چې مونږ به مخونه نۀ شوکوو، د هلاک والي (مړ کېدو) آواز به نۀ وباسو، ګرېوان به نۀ شلوو او شعرونه به نه وايو ـ (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: نۀ دے زمونږ نه چا چې مخونه وُهل، ګرېوانونه ئې وشلول او د جاهليت چغه ئې وويسته ـ (متفق عليه)

❁ ابوموسیؓ ناجوړه شوے ؤ، بې هوشي پرې راغلې وه، سر ئې د کور والو د يوې ښځې په غېږه کښې پروت ؤ، هغې په آواز سره چغې شروع کړې. ابوموسیؓ په هغې هيڅ رد نۀ شو کولے. بيا چې کله په هوش شو نو وئې ويېل: زۀ بري يم د هغه چا نه د چا نه چې رسول اللهﷺ بري دے. رسول اللهﷺ بري دے د آواز اوچتونکې ښځې نه، د مصيبت په وخت کښې د سر خريونکې نه او د جامو شلونکې نه. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نوحه کونکې ښځه چې د مرګ نه مخکښې توبه ونۀ باسي نو د قيامت په ورځ به په داسې حال کښې راپورته کيږي چې د قطرانو (تارکولو) قميص او د زنګ (يا پم والا) زغره به پرې پرته وي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم سړے چې مړ شي او په هغۀ ژړېدونکے پاڅي او ووايي: اے غره! اے سرداره! وغيره، نو په هغۀ دوه فرښتې مقررې کړے شي چې هغۀ له په سينه کښې سوکونه ورکوي او ورته وايي: تۀ داسې وې؟ (ترمذي)

مړي له غسل او کفن، په مړي جلدي کول، جنازه زر اوړل

❁د ابوذرؓ نه مروي دي: ما ته رسول اللهﷺ وفرمائېل: مړي لمبوه ځکه چې د خالي او ختم بدن اړول راړول يو بليغ (اثرناک) وعظ دے. (ابن ابی الدنيا، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې په تاسو کښې څوک خپل (مسلمان) ورور په کفن کوي (يا پرې کفن اچوي) نو ښۀ دِ کفن کوي (يا دِ پرې ښۀ کفن اچوي). (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سپينې جامې اغوندئ ځکه چې دا ستاسو د ټولو نه غوره جامې دي او خپل مړي پکښې په کفن کوئ. (ترمذي وغيره)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ کفن کښې د حد نه اوختل مۀ کوئ ځکه چې دا ډېر زر روستېږي. (ابوداؤد)

❁د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: مړے هغه خلق پېژني څوک چې ورله غسل ورکوي، څوک ئې چې وړي او څوک ئې چې قبر ته کوزوي. (احمد، احیاء)

❁ د حصین بن وَحوَحرضي الله عنه نه روایت دے: طلحه بن براءرضي الله عنه ناجوړه شوے ؤ، رسول اللهﷺئې تپوس له راغے نو وئې وفرمائېل: زۀ نۀ اینم مګر دا چې د طلحه ځنکدن شروع شوے دے نو ما ته به د دۀ (د مرګ) خبر راکړئ او پۀ دۀ به جلدي وکړئ ځکه چې د مسلمان لاش له نۀ دي پکار چې د خپل کور والو پۀ مینځ کښې بند وساتلے شي. (ابوداؤد)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ جنازه اوړو کښې جلدي کوئ، کۀ مړے نیک وي نو تاسو هغه خیر ته مخکښې کوئ او کۀ نور څۀ وي نو شر دے تاسو ئې د خپلو څټونو نه کوزوئ. (متفق علیه)

د جنازې نمونز، د جنازې صفونه، جنازه کښې د خلقو زیات والے

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو چې پۀ مړي نمونز کوئ نو خالصه دعاء ورته کوئ. (ابوداؤد)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ چا چې درې صفونو نمونز وکړو نو هغۀ واجب کړو (جنت). (ابوداؤد، ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم یو مسلمان سړے چې مړ شي او د دۀ پۀ جنازه څلوېښت داسې کسان ودرېږي چې د الله تعالیٰ سره څۀ نۀ شریک کوي نو الله تعالیٰ د دۀ پۀ حق کښې د هغوئ شفاعت (د بخښنې دعاء) قبلوي. (مسلم)

✿رسول اللهﷺوفرمائېل: پهٔ يو مړي چې د مسلمانانو يو جماعت چې سلو ته رسي نمونځ کوي او ټول دهٔ له شفاعت (سفارش) کوي نو د دهٔ پهٔ حق کښې د هغوی شفاعت قبلېږي۔ (مسلم)

د جنازې ليدل، هغې سره تلل، دفن کول، څهٔ آداب

✿ د جنازې د مخې نه د تېرېدو او د هغې د ليدو پهٔ وخت کښې دا ويېل مروي دي: سُبحَانَ الَّذِي لَايَمُوتُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الحَيُّ القَيُّومُ۔ (ميت کے مسائل)

✿رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو چې جنازه وينئ نو ودرېږئ بيا چې ورسره څوک زي نو نهٔ د کښېني دې پورې چې هغه کښېنودے شي۔ (متفق عليه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو چې خپل مړي پهٔ قبرونو کښې ږدئ (خخوئ) نو دا وايئ: بِسمِ اللهِ وَ عَلٰى مِلَّةِ رِسُولِ اللهِ۔ (احمد، ابوداؤد، نسائي)

جنازې سره د تلو، دفن کښې د شريکېدو ثواب

✿د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې څلوېښت قدمه جنازه يوسي د هغهٔ څلوېښت غټ ګناهونه معاف کېږي۔ (فتاوىٰ دارالعلومِ ديوبند)

✿رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې جنازې ته حاضر شي او دې پورې پاتې شي چې پهٔ هغې نمونځ وکړي نو دهٔ له يو قيراط (اجر) دے، او څوک چې ورته حاضر شي او د دفن کېدو پورې پاتې شي نو دهٔ له دوه قيراطه دي۔ (متفق عليه)

✿رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د مسلمان د جنازې سره لاړ شي او د هغې سره وي تر دې چې د جنازې نمونځ او دفن وشي نو دے د ځان سره دوه قيراطه اجر راوړي، هر قيراط د اُحد د غرهٔ مقدارې دے، او څوک چې پرې نمونځ وکړي او د سپارختې نه مخکښې واپس راشي نو دے يو قيراط راوړي۔ (بخاري)

د جنازو څۀ فائدې، د رسول اللهﷺ د جنازې پۀ وخت کښې کيفيت

❁ د رسول اللهﷺ ارشاد دے: د جنازو سره زئ، ځکه چې دا آخرت يادوي. (فضائلِ صدقات)

❁ د ابوذر رضي الله عنه نه پۀ يو روايت کښې منقول دي: ما ته رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ جنازو نمونزونه کوه شايد چې دا تا پۀ غم کښې واچوي او غمګين به د قيامت پۀ ورز د الله تعالیٰ پۀ سوري کښې وي (او د هر خير طلب کونکے وي). (ابن ابی الدنيا، حاکم)

❁ د عوف بن عبد الله رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به پۀ څۀ جنازه کښې ؤ نو غم به پرې سور ؤ، سوچ (حديث النفس) به ورته زيات ؤ او خبرې به ئې کمې وې. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ د براء رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: مونږ د رسول اللهﷺ سره پۀ يوې جنازه کښې وو، رسول اللهﷺ د قبر پۀ غاړه کښېناست او پۀ ژړا شو، دومره ئې وژړل چې زمکه لونده شوه. (ابن ماجه)

د مړي والو تعزيت کول، هغو له خوراک تيارول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې د مصيبت والا تعزيت وکړو (هغۀ له ئې تسلي او ډاډګيرنه ورکړه) نو دۀ له به د هغۀ د اجر پۀ شان اجر وي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ د تعزيت دپاره دا دعاء فرمائېلې ده: اَعظَمَ اللّٰهُ اَجرکَ وَ اَحسَنَ عَزَاءَکَ وَ غَفَرَ لِمَیّتِکَ (الله دِ تا له لوئے اجر او ښۀ صبر درکړي او ستا مړے دِ وبخښي). (رياض الصالحين)

❁ رسول اللهﷺ خپلې لور (زينب رضي الله عنها) ته د هغې د بچي د سختۍ يا ځنکدن پۀ وخت کښې دا الفاظ ليږلي وو (چې د تعزيت دپاره هم دي): اِنّ لِلّٰهِ مَا أَخَذَ وَ لَهُ مَا أَعطَیٰ وَ کُلُّ شَيءٍ عِندَهُ اِلَیٰ اَجَلٍ مُسمّیٰ؛ فَلتَصبِر وَلتَحتَسِب

(د الله دي څهٔ چې هغه اخلي او د هغهٔ دي څهٔ چې هغه ورکوي او هر څهٔ د هغهٔ سره د يوې مقررې نېټې پورې دي؛ تهٔ صبر او د ثواب نيت وکړه) ـ (متفق عليه)

❁د عبد الله بن جعفرﷺ نه روايت دے، فرمائي: د جعفر(ﷺ) د وفات خبر چې راغے کله چې قتل کړے شوے ؤ نو رسول اللهﷺوفرمائېل: د جعفر کور والو له خوراک تيار کړئ چې دوئ ته هغه څهٔ راغلي دي چې دوئ ئې مشغول کړي دي ـ (ابوداؤد، ترمذي)

نيک عمله او بدعمله مړے، د يو مړي ښهٔ يا بد ذکر

❁د ابوقتادهﷺ نه روايت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺ پهٔ خوا کښې يوه جنازه تېره کړې شوه نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: "راحت موندونکے او راحت ترېنه موندلے کېدونکے" ـ صحابه ؤ عرض وکړو: اے د الله رسوله! "راحت موندونکے او راحت ترېنه موندلے کېدونکے" څهٔ مطلب؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نيک عمله مومن بنده (پهٔ مرګ سره) د دنيا د مصيبتونو نه راحت (آرام او خلاصے) مومي او د الله تعالیٰ د رحمت طرف ته زي او د بدعمله بنده نه نور خلق، کلي، وُنې بوټي او ځاروي راحت مومي ـ (بخاري، مسلم)

❁ د انسﷺنه روايت دے، فرمائي: خلق پهٔ يوې جنازه تېروتل نو هغې ته ئې ښهٔ ووې نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: واجب شو؛ بيا پهٔ يوې بلې تېروتل نو هغې ته ئي بد ووې نو رسول اللهﷺ وفرمائيل: واجب شو ـ عمر بن خطابﷺ عرض وکړو: څهٔ شے واجب شو؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د يو تاسو ښهٔ وويېل نو هغهٔ له جنت واجب شو او د بل تاسو بد وويېل نو هغهٔ له دوزخ واجب شو ـ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: بنده مړ شي او خلق د هغهٔ ښهٔ بيان کړي (صفت ئې وکړي) او حال دا وي چې الله تعالیٰ ته د هغهٔ پهٔ باره کښې

نور څۀ معلوم وي (یعني بد) نو الله تعالیٰ خپلو فرښتو ته وفرمائي: زۀ تاسو ګواه کوم چې ما د خپل بنده پۀ باره کښې د خپلو بندګانو ګواهي قبوله کړه او هغه څه مِ معاف کړۀ چې ما ته پۀ دۀ کښې معلوم وو. (احمد ، احیاء)

مړو ته کنزل، بده وینا ، عیب او بد ئې بیانول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مړو ته کنزل مۀ کوئ ځکه چې هغوئ هغه څۀ ته رسېدلي وي څۀ ئې چې مخکښې لېږلي وي. (بخاري)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مړو ته کنزل مۀ کوئ چې ژوندي پرې تکلیفوئ. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستاسو چې یو ملګرے مړ شي نو هغه پرېږدئ، بد ورته مۀ وایئ، عیبونه ئې مۀ راوباسئ. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خپلو مړو ښۀ ذکر کوئ او د بدو نه ئې منع ووسئ. (ابوداؤد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د خپل مړي ذکر مۀ کوئ مګر پۀ خیر سره. (ابن ابی الدنیا ، احیاء)

د نیک سړي او د بد سړي د مرګ او د روستو حالت څۀ فرق

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کله چې الله تعالیٰ د یو بنده نه راضي وي نو فرمائي: اے د مرګ فرښتې! زما فلاني بنده پسې ورشه او د هغۀ روح ما له راوړه چې زۀ ورته آرام ورسوم. (کیمیائے سعادت)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې خلق د چا جنازه اوچته کړي نو کۀ هغه نیک وي نو وایي چې ما مخې ته یوسئ او کۀ بد وي نو وایي چې هائے افسوس! تاسو ما چرته وړئ؟ د هغۀ آواز هر شے اوري سوا د انسان نه؛ کۀ انسان ئې واوري نو بې هوشه به شي. (بخاري)

۞رسول اللهﷺ وفرمائیل: مومن ته چې مرګ رازي نو دهٔ ته د الله تعالیٰ د رضامندۍ او د اکرام ښهٔ خبر ورکولے کیږي او کافر ته چې مرګ رازي نو دهٔ ته د الله تعالیٰ د عذاب او د سزا بد خبر ورکولے کیږي۔ (بخاري، مسلم)

۞رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مړ کېدونکي څنګ ته د مرګ فرښتے حاضریږي، کهٔ سړے نیک وي نو ورته وایي: وُزه اے پاک روحه چې پهٔ پاک بدن کښې یې، وُزه پهٔ داسې حال کښې چې مدح (ستائنه) دِ کیږي او قبول کړه زیرے د آرام (راحت) او د رزق او د داسې رب چې غضبناک نهٔ وي۔ برابر داسې ویېلے کیږي تر دې چې روح وُزي۔ بیا هغه آسمان طرف ته وخېژولے شي۔ آسمان ورله کولاوولے کیږي، وویېلے شي چې څوک دے؟ فرښتې ووایي چې فلانے دے نو وویېلے شي چې مرحبا پاک روح ته چې پهٔ پاک بدن کښې ؤ! داخل شه پهٔ داسې حال کښې چې مدح دِ کیږي او قبول کړه زیرے د آرام او د رزق او د داسې رب چې غضبناک نهٔ وي۔ برابر ورته داسې ویېلے کیږي تر دې چې هغه آسمان ته ورسولے شي پهٔ کوم کښې چې (د) الله (خاص شان) دے۔ او کله چې سړے بد وي نو فرښته وایي: وُزه اے خبیث روحه چې پهٔ خبیث بدن کښې یې، وُزه پهٔ داسې حال کښې چې بد دِ ویېلے کیږي او قبول کړه زیرے د ایشېدلو اُوبو، د وینو زوو (او دارنګې د نورو څیزونو)۔ د روح د وتو پورې برابر داسې ویېلے کیږي۔ بیا هغه آسمان طرف ته وخېژولے شي نو آسمان ورله نهٔ کولاوولے کیږي، وویېلے شي چې څوک دے؟ جواب ورکړے شي چې فلانے دے نو وویېلے شي چې نیشتے مرحبا (خیرمقدم) د خبیث روح دپاره چې پهٔ خبیث بدن کښې ؤ، واپس لاړ شه پهٔ داسې حال کښې چې مذمت دِ کیږي، د آسمان دروازې درله نهٔ کولاوولے کیږي۔ بیا هغه د آسمان نه راپرېښودے شي او قبر ته ورسي۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺنه په يو حديث شريف کښې مروي دي: مومن بنده له قبر د سترګو د نظره پورې ارتولے کيږي او د جنت د طرف نه ورله يوه دروازه پرانستے کيږي، او په کافر باندې قبر د دواړو طرفونو نه جُختولے کيږي تر دې چې د هغهٔ پښتۍ په يو بل کښې ننوزي- (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: مومن په خپل قبر کښې په شنه باغچه کښې وي او قبر ورله اويا ګزه ارت کړے شي او روښانه کړے شي دې پورې چې د څوارلسمې د سپوږمۍ په شان وپړقيږي- په کافر باندې په قبر کښې يو کم سل خاماران اخته کړے شي د هر خامار نهه سرونه وي، هغوی دے شوکوي، چيچي او د دهٔ په بدن کښې پوکے کوي د قيامت د ورځې پورې- (ابن حبان، احياء)

د مومن په حق کښې مرګ، دنيا ته ئې واپس راتلل نهٔ خوښول

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: مرګ د هر مسلمان دپاره کفاره ده- (ابونعيم، بيهقي، خطيب)

❁رسول اللهﷺفرمائيلي دي: مرګ د مومن تحفه ده (يا د مومن تحفه مرګ دے)- (بيهقي، ابن ابی الدنيا، تحائفِ قدسيه)

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: د مومن روح چې کله قبض کولے کيږي نو د الله تعالیٰ سره موجود د رحمت والا فرښتې ئې استقبال کوي لکه په دنيا کښې چې د زېري ورکوونکي استقبال کيږي- (ابن ابی الدنيا، احياء)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د مومن مثال په دنيا کښې داسې دے لکه بچے چې د مور په خېټه کښې وي، کله چې د مور د خېټې نه راوزي نو په خپلو راوتو ژاړي تر دې چې کله رڼاويني او کېښودے شي نو بيا خپل ځائے ته واپس تلل نهٔ غواړي (دا رنګې مومن د آخرت نه واپس دنيا ته راتلل نهٔ غواړي)- (ابن ابی الدنيا، احياء)

❁ روایت دے چې رسول اللهﷺد مثال پۀ شکل د یو سړي پۀ باره کښې کوم چې مړ شي وفرمائېل: دۀ د دنیا نه سفر وکړو او دنیا ئې د دې خاوندانو ته پرېښوه، پس کچرې دے راضي وي نو پۀ دې به نۀ وي خوشحاله چې واپس دنیا ته راشي لکه څنګه چې پۀ تاسو کښې څوک پۀ دې نۀ وي خوشحاله چې واپس د خپلې مور خېټې ته لاړ شي۔ (ابن ابی الدنیا، احیاء)

مړو ته دعاء، ایصالِ ثواب

❁د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: مړے نۀ وي پۀ قبر کښې مګر پۀ شان د هغه غرق شوي (یا غرقېدونکي) چې مدد غواړي، د دعاء انتظار کوي چې د پلار یا د ورور یا د دوست د طرف نه ورته ورسي او کله چې ورته ورسي نو د دنیا او په دنیا کښې چې څه دي د هغې نه ورته زیاته خوښه وي او د ژوندو ډالۍ مړو له دعاء او استغفار وي۔ (دیلمي، احیاء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستاسو څوک چې مړ شي نو هغۀ ته دعاء کوۍ بد ئې مۀ وایۍ۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: سړے چې مړ شي نو عمل ترېنه قطع شي مګر درې څیزونه: صدقۀ جاریه، هغه علم چې نفع ترې اخستے کیږي او نیک اولاد چې دعاء ورته کوي۔ (مسلم)

❁ انس رضي الله عنه د رسول اللهﷺنه تپوس وکړو: اے د الله رسوله! مونږ د خپلو مړو دپاره صدقه کوو، د هغوۍ د طرف نه حج کوو او هغوۍ له دعاء غواړو نو د دې ثواب (او فائده) به هغوۍ ته رسي؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: آ، رسي او پۀ دې هغوۍ داسې خوشحالیږي لکه پۀ تاسو کښې چې څوک پۀ هغې کاسه خوشحالیږي کومه چې ورته څوک پۀ تحفه کښې ولیږي۔ (غایة الاوطار)

❁ سعد بن عباده رضي الله عنه عرض وکړو: اے د الله رسوله! اُمِّ سعد (زما مور) وفات شوې ده نو د هغې دپاره کومه صدقه غوره ده؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: اُوبۀ۔

نو هغهٔ د خپلې مور د ثواب دپاره کوهے وکنستهٔ او وئې ويېل چې دا د اُمّ سعد کوهے دے۔ (ابوداؤد)

د قبر د عذاب نه محفوظ ځهٔ کسان

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: څوک چې د جمعې پهٔ ورز (يا د جمعې پهٔ شپه) مړ شي هغه د قبر د عذاب نه محفوظ پاتې کيږي۔ (میت کے متعلق مسائل)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د رمضان پهٔ مياشت کښې د مړهٔ کېدونکو نه د قبر عذاب اوچتولے کيږي۔ (شمائلِ کُبریٰ)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: چا چې خلقو له هيڅ تکليف نهٔ وي ورکړے پهٔ الله تعالیٰ حق دے چې هغه د قبر د عذاب نه وساتي۔ (میت کے متعلق مسائل)

❁ پهٔ يو حديث مبارک کښې د رسول اللهﷺ نه مروي دي چې د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې رباط کونکے د قبر د فتنې نه پهٔ امن کولے کيږي۔ (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: څوک چې پهٔ پرديس (او د ناشناوالي پهٔ حالت) کښې مړ شو نو شهيد مړ شو او د قبر د فتنو نه به ساتلے کيږي او سحر ماښام به ورته د جنت نه رزق ورکولے کيږي۔ (ابن ماجه)

باب: قبر

د قبرونو پهٔ باره کښې ځهٔ منع خبرې

❁د جابرؓ نه روايت دے چې رسول اللهﷺ د قبرونو د پخولو، پهٔ هغې د ليکلو او پهٔ هغې د پخو اېښودو نه منع فرمائېلې ده۔ (مشکوٰة)

❁د سعد بن ابي وقاصؓ(يا جابر بن عبد اللهؓ) نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ منع فرمائېلې ده چې قبر چونه کړے شي، پهٔ هغې کښېناستل وکړے شي او پهٔ هغې آبادے جوړ کړے شي۔ (مسلم)

۞د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې چې څوک پۀ يوه انګاره کښېني چې ژامې ورله وسيزي او پوستکي ته ئې ورسي دا هغۀ له د دې نه غوره ده چې هغه پۀ يو قبر کښېني. (مسلم)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: قبرونو ته نمونځ مۀ کوئ او مۀ پرې کښېنئ. (مسلم)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زما قبر اختر (عيد) مۀ جوړوئ. (نسائي)

۞د علي رضي الله عنه نه روايت دے: رسول الله ﷺ زۀ ولېږلم چې زۀ کوم بُت وينم هغه مات کړم او چې کوم قبر دنګ ومومم هغه هوار کړم. (مشکوٰة)

د قبرونو زيارت کول، سلام، دعاء وغيره، څۀ مسنون سلامونه

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: ما تاسو د قبرونو د زيارت کولو نه منع کړي وئ خو تاسو ئې زيارت کوئ چې تاسو ته به آخرت يادوي. (احمد، ابويعلیٰ، ابن ابی الدنيا)

۞ د ابوذر رضي الله عنه نه روايت دے: رسول الله ﷺ ما ته وفرمائېل: د قبرونو زيارت کوه پۀ دې سره به تا ته آخرت يادېږي. (ابن ابی الدنيا، حاکم)

۞ د رسول الله ﷺ نه مروي دي: د خپلو مړو (د قبرونو) زيارت کوئ، سلام پرې وايئ او دعاء ورته کوئ، ځکه چې تاسو له پۀ دې کښې عبرت دے. (ابن ابی الدنيا)

۞ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: کوم يو سړے چې د خپل (مسلمان) ورور د قبر زيارت له زي او د هغې پۀ خوا کښې کښېني نو هغه د دۀ نه انس اخلي او دۀ له (د سلام او دعاء وغيره) جواب ورکوي تر دې چې دے پاڅي. (ابن ابی الدنيا)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: کوم يو مسلمان چې د خپل (مسلمان) ورور پۀ قبر تېرېږي کوم ئې چې پۀ دنيا (ژوندون) کښې پېژندۀ او سلام پرې وايي نو الله

تعالیٰ هغهٔ ته د هغهٔ روح واپس کوي تر دې چې هغه د دهٔ د سلام جواب ورکوي ـ (ابن عبد البر، بوادر النوادر)

❁ د انس رضي الله عنه نه مرفوع روايت دے: څوک چې مقبرو ته داخل شي او پهٔ قبرونو والو سورهٔ یٰس ولولي نو الله تعالیٰ پهٔ دغه ورز د هغوی نه عذاب سپکوي، او څوک چې د خپل مور او پلار دواړو د قبرونو يا د يو د قبر زيارت وکړي او د يو يا د دواړو قبرونو پهٔ څنګ کښې سورهٔ یٰس ولولي نو د هغوی مغفرت کيږي. (احسن الفتاوىٰ، ج ۴)

❁ اَلسَّلامُ عَلَيكُم أهلَ الدِّيَارِ مِنَ المُؤمِنِينَ وَ المُسلِمِينَ وَ اِنَّا إِن شَاءَ اللّٰهُ بِكُم لَاحِقُونَ، نَسأَلُ اللّٰهَ لَنَا وَ لَكُمُ العَافِيَةَ. (المسلم)

❁ اَلسَّلامُ عَلَيكُم دَارَ قَومٍ مُّؤمِنِين وَ اِنَّا إِن شَاءَ اللّٰهُ بِكُم لَاحِقُونَ وَ نَسأَلُ اللّٰهَ لَنَا وَ لَكُمُ العَافِيَةَ. (مسلم)

❁ اَلسَّلامُ عَلَيكُم يآ اَهلَ القُبُورِ يَغفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَ لَكُم، اَنتُم سَلَفُنَا وَ نَحنُ بِالاَثَرِ. (الترمذي)

کتاب: متفرقات

باب: څهٔ مختلف موضوعات

د الله رب والے، د اسلام دين والے، د محمد (صلی الله علیه وسلم) رسول والے، پهٔ دې راضي کېدل

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: چا چې د سحر د راتلو پهٔ وخت کښې دا ووې چې مونږ راضي يو د الله تعالیٰ پهٔ رب والي، د اسلام پهٔ دين والي او د محمد (صلی الله علیه وسلم) پهٔ رسول والي باندې نو پهٔ الله تعالیٰ به حق وي چې دے راضي کړي. (مسلم)

۞ د ابوسعيد رضي الله عنه نه روايت دے: رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې د الله تعالیٰ په رب والي، د اسلام په دين والي او د محمد (ﷺ) په رسول والي باندې راضي شو نو ده له جنت واجب شو. په ابو سعيد رضي الله عنه دا خبره عجيبه (ښه) ولګېده نو وئې ويېل: دا ما ته دوباره ووايه اے د الله رسوله! نو رسول الله ﷺ ورته دوباره وويېله. (مسلم)

زړه او د زړه څه حال، زړه ته فتنې راتلل، د نفس بدوالے

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: په بدن کښې يوه ټکړه ده چې هغه ټيک وي نو ټول بدن ټيک وي او چې هغه خرابه وي نو ټول بدن خراب وي، خبر دار! هغه زړه دے. (متفق عليه)

۞ د رسول الله ﷺ نه ارشاد روايت کړے شوے دے: د سړي ايمان نه شي برابرېدے تر څو ئې چې زړه برابر نه شي. (ابن ابی الدنيا)

۞ د رسول الله ﷺ نه دعاء مروي ده: اے الله! راعي او رعيت (زړه او بدن) ټيک کړې. (احياء)

۞ رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د مومن زړه د دې نه زيات اوړېدونکے دے څومره چې کټوے په ايشېدو کښې وي. (احمد ، حاکم)

۞ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: کچرې شيطانان د بني آدمو د زړونو نه چاپېره نه تاوېدے نو دوی به د آسمان بادشاهي (د فرښتو ځائے) ته کتل. (احياء)

۞رسول الله ﷺ وفرمائېل: زړونه زنګ نيسي لکه څنګه چې وُسپنه زنګ نيسي. عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! د دې پاکونکے څه شے دے؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د قرآن تلاوت او مرګ ډېر ډېر يادول. (بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ فرمائي: ما نۀ آسمانونه ځایولے شي او نۀ زمکه خو د مومن زړۀ مِ ځایولے شي. (معارفِ مثنوي)

❁ رسول اللهﷺ درې ځلې خپلې سینې مبارکې ته اشاره وکړه او وئې فرمائېل: تقویٰ دلته ده. (مسلم، احمد)

❁ابو حذیفهرضي الله عنه پۀ یو حدیث مبارک کښې فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: فتنې به زړونو ته راپیښېږي پۀ شان د انډېري (چې) ډکَے ډکَے (بڼولے کیږي) نو کوم زړۀ ته چې دا داخلې شوې (ښۀ سمې) پۀ هغۀ کښې به یو توره نکته جوړېږي او کوم زړۀ چې دا رد کړې پۀ هغۀ کښې به یوه سپینه نکته جوړېږي تردې چې پۀ زړۀ به دا (فتنې) داسې لګي لکه پۀ خویه کانړي (چې نخلي به ورپورې نۀ، اثر به پرې نۀ کوي) نو هیڅ فتنه به ورته ضرر نۀ شي رسولے څو پورې چې آسمانونه او زمکه قائم وي. او دویم زړۀ به تور وي خړ رنګے (او وي به) پۀ شان د کوزې چې نسکوره وي، نۀ به نیکي پېژني او نۀ بدي مګر هغه څۀ (به پېژني) د کوم خواهش چې پکښې ننوتے وي (یعني ګناهونه، د هغې تیارې). (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ستا د ټولو نه لوئے دشمن ستا هغه نفس دے کوم چې ستا د دواړو طرفونو پۀ مینځ کښې دے. (بیهقي)

فکر سوچ کول، د الله پۀ ذات کښې فکر نۀ کول

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: نیشتے عبادت پۀ شان د فکر کولو. (التفسیر الکبیر)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: د یو ساعت فکر د یو کال د عبادت نه غوره دے. (ابن حبان)

❁ ابن ابي هاله رضي الله عنه فرمائي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم خاموشي به په څلورو خبرو وه: په برداشت، په يرې (احتياط)، په تقدير او په فكر كولو. (نورالعين)

❁ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائېل: د الله تعالىٰ په نعمتونو (يا قدرتونو) كښې فكر كوئ د هغۀ په ذات كښې فكر مۀ كوئ. (بوادر النوادر)

❁ د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت كړے شوے دے: د الله تعالىٰ په مخلوق كښې فكر كوئ د الله تعالىٰ په ذات كښې فكر مۀ كوئ ځكه چې تاسو د هغۀ اندازه نۀ شئ لګولے (يا كنه هلاك به شئ). (احياء)

وسوسه، خطا او هېر

❁ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائېل: بيشكه الله تعالىٰ معاف كړې ده زما د اُمت نه د زړۀ وسوسه څو پورې چې پرې عمل ونكړي يا ئې خبره ونكړي (بيان ئې نكړي) . (متفق عليه)

❁ د اصحابو نه څۀ كسان د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شو او تپوس ئې ترېنه وكړو: مونږ په خپلو زړونو كښې داسې څۀ مومو (محسوسوو) چې په مونږ كښې څوک هم هغه نۀ شي بيانولے. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائېل: تاسو داسې مومئ؟ هغوئ اووې: آ. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائېل: د غه صريح (ښكاره او خالص) ايمان دے. (مسلم).

❁ د شهر بن حشب (رحمه الله) نه روايت دے چې زۀ او زما ماما د عائشې (رضي الله عنها) خوا له لاړو نو هغۀ (زما ماما) ووې: په مونږ كښې د يو كس په سينه كښې داسې څۀ راپېښېږي چې كۀ بيان ئې وكړي نو آخرت به ئې لاړ شي او كۀ ښكاره شي نو په دې به قتل كړے شي. عائشې (رضي الله عنها) درې پېرې تكبير ووې او بيا ئې وفرمائېل: د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د دې په باره كښې سوال وكړے شو نو هغوئ وفرمائېل: تاسو كښې د يو كس نه كۀ دا وشي نو

درې پېړې دِ تکبير ووائي ځکه چې دا نۀ محسوسوي مګر يو مومن ـ (الادب المفرد)

۞ د رسول اللهﷺ خوا ته يو سړے راغے او وئې ويېل: زۀ د خپل ځان سره داسې څۀ وايم (داسې وسوسه راته رازي) چې ما ته دا خبره چې زۀ وسوزم کوئېله شم د دې نه زيات خوښه ده چې زۀ هغه د خلې نه راوباسم ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: حمد و ثنا ده هغه الله لره چا چې معامله وسوسې ته اړولې ده ـ (ابوداؤد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: خلق د يو بل نه تپوسونه کوي دې پورې چې دا وويېلے شي: الله مخلوق پيدا کړے دے نو الله چا پيدا کړے دے؟ پس څوک چې د دې نه څۀ وومي نو ودِوايي: ايمان مِ راوړے دے پۀ الله او د هغۀ پۀ رسولانو باندې ـ (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ زما د اُمتيانو نه خطا او هېر معاف کړي دي او هغه څۀ پۀ څۀ چې دوی مجبور کړے شي ـ (ابن ماجه، حاکم)

انسان له فرښته او شيطان

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې هيڅوک نيشتے مګر پۀ هغۀ مقرر کړے شوے دے ملګرے د پېريانو نه او ملګرے د فرښتو نه ـ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ابن آدم ته رسېدل وي د شيطان او د فرښتې ـ د شيطان رسېدل د شر او د حق د دروغجن کولو وعده (وينا) ده او د فرښتې رسېدل د خير او د حق د رشتيا کولو وعده ده ـ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: شيطان پۀ تاسو کښې يو کس ته رازي او وايي: چا پيدا کړے دے فلانے شے؟ چا پيدا کړے دے فلانے شے؟ تر دې چې وايي: چا پيدا کړے دے ستا رب؟ پس کله چې دې ته ورسي نو دے دِ پناه وغواړي

پهٔ الله سره (اعوذ بالله دِ ووايي) او منع دِ شي (د دې پهٔ باره کښې د سوچ کولو نه) ـ (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ فرمائي: ما خپل بندګان تهول حُنفاء (حق دین ته مائله کېدونکي) پیدا کړي وو خو شیطان هغوی واړول۔ (دینِ اسلام)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: شیطان پهٔ انسان کښې د وینې پهٔ څېر چلن کوي ـ (متفق علیه)

د شیطان د معاملي والا څهٔ مختلفې خبرې

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: شیطان پهٔ تاسو کښې یو کس ته د هغهٔ پهٔ هر یو حالت کښې حاضرېږي تر دې چې د هغهٔ د خوراک خوړلو پهٔ وخت کښې ورته حاضرېږي نو د چا نمړۍ چې ارتاوه شي نو دے د هغه رااوچته کړي، ګند دِ ترېنه لرې کړي او ودِخوري او شیطان ته دِ نهٔ پرېږدي۔ ـ (مسلم)

❁رسول اللهﷺفرمائېلي دي: شیطان خوراک حلال ګڼې کله چې پرې د الله تعالیٰ نوم وانخستے شي ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې پهٔ تاسو کښې څوک اسوېلے کوي نو خپله خلهٔ دِ نیسي ځکه چې شیطان پکښې ننوزي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: الله تعالیٰ پرنجے خوښوي او د اسویلي نه خلهٔ وازېدل ناخوښوي نو کله چې ستاسو د یو کس خلهٔ وازېږي نو څو چې ترې کېدے شي دفع کوي دِ او ها ها دِ نهٔ کوي ځکه چې شیطان پهٔ دې پورې خاندي ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د هر جرس سره یو شیطان وي ـ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې شيطان پۀ تاسو کښې د چا سره پۀ خوب کښې څۀ لوبه وکړي (چې څۀ بد خوب ويني) نو د ے دِ هغه خلقو ته نۀ بيانوي. (ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: شيطان پۀ تاسو باندې پۀ علم سره (پۀ عمل کولو کښې) ټال متهول کوي؟ عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! دغه څنګه وي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: شيطان وايي چې علم طلب کړه او عمل مۀ کوه تر څو چې علم حاصل نکړې، نو سړے د علم حاصلونکے او پۀ عمل کښې ټال متهول کونکے وي دې پورې چې مړ شي. (احياء)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: (صفونو کښې) خالي ځايونه ډکوی، ځکه چې شيطان بيا ستاسو پۀ مينځ کښې داخليږي. (احمد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: نظر د شيطان د غشو نه يو زهرجن غشے دے. (احياء)

باب: څۀ منتشرې خبرې

خوب ليدل، خوب د نبوت يو جزء

۞رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: نبوت لاړ او مبشرات (نيک خوبونه) پاتې دي. (ابن ماجه)

۞رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د نيک سړي نيک او ښۀ خوب (ياد مومن خوب) د نبوت د شپږ شلو ښتو جزءونو نه يو جزء دے. (ابن ماجه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائيل: د نيک مسلمان سړي خوب (يا نيک خوب) د نبوت د اوياؤ جزءونو نه يو جزء دے. (ابن ماجه)

د خوب قسمونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خوب درې قسمه دے: خوشخبري د الله تعالىٰ د طرف نه، د نفس خبره (وسوسه) او د شيطان يرول۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خوبونه درې دي: يو نيک خوب چې خوشخبري ده د الله تعالىٰ د طرف نه، يو خوب غمزده کول (او يرول) دي د شيطان او يو خوب دادے چې د سړي نفس د هغۀ سره خبرې وکړي۔ (ابوداؤد)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: خوبونه درې دي: يو د شيطان يرول دي چې بني آدم پرې خفه کړي، يو دا چې پۀ وېښه څۀ شے سړے پۀ فکر کښې واچوي او بيا دے هغه پۀ خوب کښې ويني او يو د نبوت د شلو ښتو جزءونو نه يو جزء دے ۔ (ابن ماجه)

د بد خوب پۀ ليدو عمل، خلقو ته ئې نۀ بيانول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې چې څوک يو خوب ويني چې دۀ ته ناخوښ وي نو بلې غاړې ته دِ واوړي او درې پېرې دِ خپل ګڅ طرف ته توکي او د الله تعالىٰ نه دِ د هغۀ د خير سوال وکړي او د هغۀ د شر نه دِ پناه وغواړي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک داسې خوب ويني چې ښۀ ورته ښکاره شي نو کۀ غواړي نو بيان دِ کړي، او کۀ بد ورته ښکاره شي نو هيچا ته دِ نۀ وايي او پادِخي نمونز دِ وکړي۔ (ابن ماجه)

قسم خوړل، ضرورت له ئې ماتول، څوک پۀ قسم پۀ څۀ خبره مجبور کول

❁ رسول اللهﷺپۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: قسمونه مۀ خورئ ليکن کۀ تاسو رشتوني يئ (نو بيا خوړے شئ)۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د څۀ خبرې قسم وخوري او بيا دے د الله تعالىٰ نه د زياتې يرې (تقوىٰ) څۀ ويني نو د يرې والا دِ وکړي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ څۀ خبره قسم وخوړ او بيا ورته بله څۀ خبره زياته غوره ښکاره شوه نو د خپل قسم کفاره دِ ورکړي او هغه دِ وکړي کومه چې زياته غوره وي. (مسلم)

❁ د عبد الرحمٰن بن سمرهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ما ته وفرمائېل: کله چې تۀ څۀ قسم وخورې او بيا نور څۀ زيات غوره وينې نو هغه څۀ وکړه څۀ چې زيات غوره وي او د خپل قسم کفاره ورکړه. (متفق عليه)

❁ د ابوالزاهريه او راشد بن سعد رحمهما الله نه روايت دے: يوې ښځې عائشې رضي الله عنها ته څۀ کجورې ډالۍ کړې، عائشې رضي الله عنها وخوړې او څۀ دانې پاتې شوې نو هغه ښځې ووې: ستا دِ قسم وي چې ټولې به خورې! رسول اللهﷺ وفرمائېل: ګناه پۀ قسم ورکونکي (حانث کونکي) باندې دے. (ابوداؤد في مراسيله)

پۀ ښۀ او بد صفت سره د جنتي او دوزخي څۀ پېژنګلو وغيره

❁رسول اللهﷺپۀ يوه خطبه کښې وفرمائېل: نزدې ده چې تاسو جنتيان د دوزخيانو نه وپېژنئ (تمييز ئې وکړئ) . صحابو عرض وکړو: دغه پۀ څۀ سره اے د الله رسوله! رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ ښۀ صفت سره او پۀ بد صفت سره . تاسو د الله تعالىٰ ګواهان يئ پۀ يو بل باندې. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت والا هغه څوک دے د چا غوږونه چې الله تعالىٰ ډک کړي د خلقو د ښۀ صفت نه د هغۀ چې هغه ئې اوري، او دوزخ والا هغه څوک دے د چا غوږونه چې الله تعالىٰ ډک کړي د خلقو د بد صفت نه د هغۀ چې هغه ئې اوري. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تاسو د الله تعالیٰ ګواهان يۍ پۀ زمکه کښې او د خلقو ژبې د حق قلمونه دي. (لا تحزن)

کتاب: د بعضو ښۀ او بدو عملونو څۀ بيان

باب: بعضې ښۀ عملونه، نيکيانې

د ټولونه غوره او الله ته د ټولو نه خوښ څۀ عملونه

(پۀ څۀ اعتباراتو سره)

❁ رسول اللهﷺفرمائيلي دي: د ټولو نه غوره عمل د الله تعالیٰ علم لرل (يا د هغۀ يقين کول) دي. (الترمذي فی النوادر)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: کوم عمل د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺوفرمائيل: پۀ الله تعالیٰ او د هغۀ پۀ رسول ايمان. (نسائي)

❁ د ابوهريرهرضي الله عنهنه روايت دے، فرمائي: د رسول اللهﷺنه تپوس وکړے شو: پۀ عملونو کښې کوم د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ الله تعالیٰ او د هغۀ پۀ رسول ايمان. عرض وکړے شو: بيا کوم؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ پۀ لار کښې جهاد کول. عرض وکړے شو: بيا کوم؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: حج مبرور. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: کوم عملونه د ټولو نه غوره دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: داسې ايمان چې څۀ شک پکښې نه وي، داسې جهاد چې غلول (د غنيمت خيانت) پکښې نۀ وي او حجِ مبرور. (نسائي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: ستاسو د ټولو نه غوره دين (طاعت، عبادت، عمل) تقویٰ او پرهېزګاري ده. (احياء)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: د ټولو نه غوره عمل سبحة الحديث (د خبرو تسبيح) دے. عرض وکړے شو: سبحة الحديث څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې خلق خبرې کوي او يو سړے تسبيح وايي. (طبراني)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: پۀ عملونو کښې د ټولو نه غوره درې دي: علم تلاش کول، جهاد کول او حلاله ګټه. (علماءِ شانګله)

۞ د رسول اللهﷺ نه چا تپوس وکړو: پۀ ټولو کښې غوره عمل کوم دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ناروا کارونو نه بچ کېدل او چې ستا ژبه د الله تعالیٰ پۀ ذکر لونده وي. (فضائلِ صدقات)

۞ د رسول اللهﷺ نه پُښتنه وکړے شوه: کوم عمل پۀ ټولو کښې غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: صبر، سخاوت او ښۀ خوئي. (بيهقي)

۞ د عبد الله بن مسعودرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! کوم عمل الله تعالیٰ ته د ټولو نه زيات خوښ دے؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: نمونز کول پۀ خپل وخت باندې. ما عرض وکړو: بيا کوم؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د مور او پلار سره نيکي کول. ما عرض وکړو: بيا کوم؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: د الله تعالیٰ پۀ لار کښې جهاد کول. (متفق عليه)

۞ د ابوذررضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: يوه ورځ رسول اللهﷺزمونږ خوا ته تشريف راوړو او وئې فرمائېل: تاسو خبر يئ؟ پۀ عملونو کښې کوم الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ دے؟ يو ويونکي ووې: نمونز او زکوٰة، بل ووې: جهاد. رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ عملونو کښې الله تعالیٰ ته د ټولو نه خوښ د الله تعالیٰ د پاره محبت او د الله تعالیٰ د پاره بغض کول دي. (احمد، ابوداؤد)

بعضې ښۀ او د ثواب عملونه (او د هغې کونکي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ دې خوشحاله وي چې د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول سره محبت وکړي یا الله تعالیٰ او د هغۀ رسول د دۀ سره محبت وکړي نو رشتیا دِ وایي کله چې خبرې کوي، امانت دِ ورکوي کله چې ورسره امانت کېښودے شي او ښۀ ګاونډ دِ ساتي د هغه چا سره د چا چې ګاونډي وي ۔ (بیهقي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زۀ د کور ذمه وار یم د جنت نه چاپېره هغه چا له څوک چې جګړه کول پرېږدي اګرکۀ پۀ حقه وي، (د کور ذمه وار یم) د جنت پۀ مینځ کښې هغه چا له څوک چې دروغ ویېل پرېږدي اګرکۀ پۀ ټوقه وي او (د کور ذمه وار یم) د جنت پۀ بره حصه کښې هغه چا له د چا چې اخلاق ښۀ وي ۔ (ابوداؤد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: زۀ تاسو ته هغه څۀ وُنۀ ښایم پۀ څۀ چې الله تعالیٰ ګناهونه ختموي او درجې اوچتوي؟ صحابو عرض وکړو: ولې نۀ اے د الله رسوله! رسول الله ﷺ وفرمائېل: پوره اودس کول پۀ سختئ (یخنئ) کښې، ډېر قدمونه اخستل جماتونو ته او د نمانځۀ نه پس د نمانځۀ انتظار ۔ پس دا دے رباط، پس دا دے رباط (ځان پۀ طاعت او عبادت کښې بندول) ۔ (مسلم)

❁ یو اعرابي پۀ یو سفر کښې د رسول الله ﷺ خوا له راغے او وئې وې: ما له خبر راکړه د هغه څۀ چې ما جنت ته نزدې او د دوزخ نه لرې کړي ۔ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چې تۀ عبادت کوې د الله تعالیٰ او د هغۀ سره څۀ نۀ شریک کوې او نمونځ کوې او زکوٰة ورکوې او صله رحمي کوې ۔ (الادب المفرد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ جنت کښې به څۀ کمرې وي چې بهر به ئې د دننه نه او دننه به ئې د بهر نه ښکاري ۔ یو اعرابي عرض وکړو: د چا دپاره به وي اے

د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هغه چا دپاره څوک چې ښکلې خبرې کوي، ډوډۍ خوروَي او د شپې نمونزونه کوي کله چې خلق اوده وي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خرابي ده د ورزې روژه نيونکي له! خرابي ده د شپې نمونز کونکي له! خرابي ده کمبل اغوستونکي له! مګر. عرض وکړے شو: مګر څوک؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه څوک د چا نفس چې د دنيا د ګندګيانو نه پاک وي، څوک چې مدح نۀ خوښوي او مذمت خوښوي. (ديلمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: غلام چې د خپل مالک خير خواهي کوي او د خپل رب په ښۀ شان عبادت کوي نو دۀ له دوه پېرې اجر دے (يا ورله دوه اجرونه دي). (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: دا اُمت به په خير سره وي څو پورې چې دا داسې وي چې کله څۀ وايي نو رشتيا وايي، چې کله فيصله کوي نو انصاف کوي او چې کله ترېنه رحم وغوښتے شي نو رحم کوي. (تفسير کبير)

❁ د رسول الله ﷺ نه ارشاد مروي دے: چا چې د خلقو سره معامله وکړه نو ظلم ئې پرې ونکړو، د هغوی سره ئې خبرې وکړې نو دروغ ئې ورته وُ نۀ وې، وعده ئې ورسره وکړه نو وعده خلافي ئې ورسره ونکړه نو دے د هغو خلقو نه دے د چا مروءت چې کامل وي، عدالت ئې ظاهر وي او ورورولي ئې واجبه وي. (اساس العربيه)

❁ د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالىٰ نه حيا وکړۍ (څنګه ئې چې حق دے). مونږ عرض وکړو: اے د الله رسوله! مونږ خو حيا کوو. رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالىٰ نه حيا دا ده چې تۀ د سر او په هغې کښې چې څۀ دي د هغې حفاظت وکړې او د ګېډې او په هغې کښې چې څۀ جمع دي د هغې حفاظت وکړې او مرګ او روستېدل ياد

کړي، او څوک چې د آخرت اراده وکړي هغه به د دنیا ښائست پرېږدي، پس چا چې داسې وکړۀ هغۀ د الله تعالیٰ نه حیا وکړه. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: محفوظ (او پاک) ساتئ مالونه خپل پۀ زکوٰة سره، علاج کوئ د مریضانو خپلو پۀ صدقې سره او مخامخ والے کوئ د موجونو د مصیبت پۀ دعاء او عاجزئ سره. (ابوداؤد فی المراسیل، طبراني، بیهقي)

بعضې عملونه چې صدقه حساب شوي دي

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: هره نیکي (یا نیک عمل) صدقه ده. (متفق علیه). ښکلې خبره صدقه ده. (مسلم). خلقو سره مُدارات صدقه ده. (اساس العربیه). شر پرېښول صدقه ده. (اساس العربیه). تۀ چې خلق د (خپل) شر نه وساتې نو دا صدقه ده. (الادب المفرد) د ټولو نه غوره صدقه خپل (مسلمان) ورور ته علم ښودل دي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خلقو پۀ هر جوړ باندې صدقه ده هره ورز چې نمر پکښې راخېژي، تۀ چې د دوؤ تنو پۀ مینځ کښې صلح وکړې دا صدقه ده، د سړي چې مدد وکړې د هغۀ پۀ څاروي کښې چې هغۀ ته ئې وخېژوې یا ورله هغۀ ته سامان اوچت کړې دا صدقه ده، ښۀ خبره صدقه ده، پۀ هر قدم سره چې تۀ پرې نمانځۀ له زې صدقه ده، او چې تۀ د لارې نه د تکلیف شے لرې کړې دا صدقه ده. (متفق علیه)

❁ د ابوموسیٰ رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ هر مسلمان صدقه ده. خلقو عرض وکړو: کۀ څوک (د صدقې څۀ) نۀ مومي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ خپلو لاسونو دِ عمل کوي، ځان ته دِ نفع رسوي او صدقه دِ ورکوي. هغوئ عرض وکړو: کۀ د دې طاقت نۀ لري یا دا نۀ شي کولے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نو بیا دِ د یو غمګین، زړۀ سوي حاجتمند مدد کوي. هغوئ عرض وکړو: کۀ دا نۀ شي کولے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نو بیا دِ د

خیر یا د نیکۍ حکم کوي ـ هغوی عرض وکړو: کۀ دا نۀ شي کولے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نو بیا دِ د شر نه منع وُسي، دا هغۀ له صدقه ده ـ (متفق علیه، الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ تاسو کښې د هر یو پۀ جوړ د سحر پۀ وخت کښې صدقه ده ـ پس هر تسبیح (سُبحَانَ الله ویېل) صدقه ده، هر تحمید (اَلحَمدُ لله ویېل) صدقه ده، هر تهلیل (لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ویېل) صدقه ده، هر تکبیر (اَللّٰهُ اَکبَر ویېل) صدقه ده، د نیکۍ حکم کول صدقه ده، د بدۍ نه منع کول صدقه ده، او کافي کیږي د دغې نه دوه رکعته چې سړے هغه د څاښت پۀ وخت کښې وکړي ـ (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پۀ جمات کښې توکاڼه وغیره پرته وي پۀ هغې خاوره اچول صدقه ده، د لارې نه د تکلیف څیز لرې کول صدقه ده، او د څاښت نمونځ د دې ټولو صدقو برابر دے ـ (فضائلِ صدقات)

بعضې درې ښۀ عملونه او خصلتونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: درې خبرې د ایمان د اصل نه دي: منع کېدل د هغه چا نه څوک چې ووایي: لَاَ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ (نیشتے اله مګر الله) چې نۀ ئې کافر کړې پۀ څۀ ګناه او نۀ ئې د اسلام نه وباسې پۀ څۀ عمل، او جهاد جاري دے د هغه وخت نه کله چې الله تعالیٰ زۀ رالیږلے یم د هغه وخته پورې کله چې د دې اُمت آخري سړے د دجال سره وجنګیږي، نۀ ئې شي باطلولے د ظلم کونکي ظلم او د انصاف کونکي انصاف، او ایمان پۀ تقدیرونو (مقررو خبرو) باندې ـ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: الله تعالیٰ تاسوه له درې خبرې خوښوي: چې تاسو د هغۀ عبادت وکړئ او د هغۀ سره څۀ شریک نکړئ، چې تاسو ټول د الله تعالیٰ رسۍ ونیسئ، او چې الله تعالیٰ څوک پۀ تاسو سربراهان کړي د هغوی خیرخواهي وکړئ ـ (الادب المفرد)

۞ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: درې نجات (خلاصے) ورکونکي څيزونه دي: پۀ پټه او ښکاره د الله تعالیٰ نه يربدل، پۀ مالدارۍ او غريبۍ کښې ميانه روي ساتل او د رضا او د غصې پۀ حالت کښې عدل و انصاف کول۔ (بزار، طبراني، ابونعيم، بيهقي)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائيل: درې څيزونه دي پۀ چا کښې چې وي د هغۀ حساب به آسان وي او الله تعالیٰ به ئې پۀ خپل رحمت سره جنت ته داخلوي: چې څوک تا (د خپلو ښو نه) محروم کړي او تۀ د هغۀ سره ښۀ وکړې، چې څوک پۀ تا ظلم وکړې او تۀ هغه معاف کړې او چې څوک ستا سره قطع رحمي وکړي او تۀ د هغۀ سره صله رحمي وکړې۔ (درمنثور، فضائلِ صدقات)

۞ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: پۀ چا کښې چې درې خبرې وي د هغۀ ايمان مکمل وي: چې د الله تعالیٰ پۀ باره کښې د يو ملامت کونکي د ملامت پروا ونکړي، چې پۀ خپل څۀ عمل کښې ريا ونکړي،او چې کله ورته دوه داسې خبرې وړاندې کړے شي چې يوه د دنيا دپاره وي او بله د آخرت دپاره نو د آخرت خبرې له د دنيا پۀ خبره ترجيح ورکړي۔ (احياء)

۞رسول الله ﷺ وفرمائيل: درې څيزونه دي پۀ چا کښې چې ترېنه يو نۀ وي نو تاسو ئې هيڅ عمل پۀ شمار کښې مۀ راولۍ: تقویٰ چې د الله تعالیٰ د نافرمانۍ نه دے منع کړي، برداشت (حلم) چې دے پرې بې وقوف (د ځان نه) دفع کړي او ښۀ خوئي چې پۀ خلقو کښې پرې ژوند وکړي۔ (ابونعيم، طبراني)

۞رسول الله ﷺ وفرمائيل: درې (بدې) خبرې دي پۀ چا کښې چې هغه نۀ وي نو د هغې نه ماسوا ګناهونه به ورته معاف کړے شي چا له چې الله تعالیٰ وغواړي: څوک چې مړ شي پۀ داسې حال کښې چې د الله تعالیٰ سره څۀ نۀ شريک کولو، ساحر نۀ وي چې د ساحرانو پيروي کوي او د خپل (مسلمان) ورور سره کينه نۀ ساتي۔ (الادب المفرد)

د مرګ نه روستو پکاريدونکي څۀ عملونه، څيزونه

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: مومن ته چې د هغۀ د مرګ نه روستو څۀ عملونه او نيکيانې رسي په هغو کښې څۀ دا دي چې دے علم وُښايي او خور ئې کړي يا نيک اولاد پريږدي يا يو مصحف پريږدي يا يو جمات جوړ کړي يا يوه مسافرخانه جوړه کړي يا يو نهر جاري کړي او يا د خپل مال نه د صحت په حالت کښې په خپل ژوندانۀ څۀ صدقه وباسي۔ دا (يعني د دې اجر و ثواب) به ورته د مرګ نه روستو ملاويږي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: کله چې بنده مړ شي نو د هغۀ نه د هغۀ عمل قطع شي مګر درې عملونه: صدقه جاريه، علم چې نفع ترې حاصليږي او اولاد چې دعاء ورله غواړي۔ (الادب المفرد)

د رسول اللهﷺ د شفاعت ذريعه جوړيدونکي څۀ عملونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قيامت کښې به زما د شفاعت نه په ټولو کښې زيات نفع اوچتونکے هغه کس وي چا چې د زړۀ د خلوص نه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ووې۔ (بخاري)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: چا چې زما يو حديث واوريدۀ او نورو ته ئې ورسوۀ نو د قيامت په ورز هغۀ له زما شفاعت واجب شو۔ ()

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: څوک چې په ما لس پيرې سحر او لس پيرې ماښام درود وايي نو د قيامت په ورز به هغۀ ته زما شفاعت رسي۔ (طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې د خپل (مسلمان) ورور حاجت پوره کړي نو زۀ به د دۀ د تلې سره ولاړ يم، کۀ د دۀ نيکئ کمه شي نو زۀ به د دۀ شفاعت کوم۔ (فضائلِ صدقات)

جنت ته د تلو بعضې عملونه او خصلتونه

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: څوک چې راضي شو پۀ دې چې الله تعالیٰ رب دے ، اسلام دین دے او محمد(ﷺ) رسول دے نو جنت ورله واجب شو. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: پۀ هغه ذات مې دِ قسم وي د چا پۀ لاس کښې چې زما روح دے! تاسو جنت ته نۀ شئ تلے څو پورې چې ایمان والا نۀ شئ او ایمان والا نۀ شئ کېدے څو پورې چې د یو بل سره محبت ونکړئ. (مسلم)

❁ د جابرؓ نه روایت دے، فرمائي: نعمان بن قوقل (ؓ)د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او وئې ویېل: اے د الله رسوله! تاسو څۀ فرمائې کۀ زۀ فرض نمونز کوم او حرام حرام ګڼم او حلال حلال ګڼم نو جنت ته به لاړ شم؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: آ (لاړ به شې). (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: د الله تعالیٰ نه یرېږئ، خپل پینځۀ نمونزونه کوئ، د خپلې میاشتې روژې نیسئ، د خپلو مالونو زکوٰة ورکوئ، د خپلو امیرانو حکم منئ نو د خپل رب جنت ته به داخل شئ. (ترمذي)

❁ یو اعرابي د رسول اللهﷺپۀ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: ما ته داسې څۀ عمل وښائې چې ما جنت ته داخل کړي. رسول اللهﷺ ورته وفرمائیل: پۀ وږې ډوډئ خوروه، پۀ تږې اُوبۀ څښوه، د نیکئ حکم کوه او د بدئ نه منع کوه، او کۀ د دې طاقت دِ نۀ وي نو بیا خپله ژبه وساته مګر د خیر د خبرې نه. (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺپۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائیل: څوک چې پاک رزق خوري، پۀ سنت عمل کوي او خلق ئې د شرونو نه پۀ امن وي نو جنت ته به زي. (ترمذي)

۞رسول الله ﷺ وفرمائیل: څوک چې مړ شي او دے برې (پاک) وي د تکبر نه، د خيانت نه (په مال غنيمت وغيره کښې) او د قرض (يا د چا د څۀ حق) نه نو جنت ته به داخليږي ـ (ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

۞ روايت دے چې يو سړے د رسول الله ﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! زۀ روژې نۀ نيسم مګر يوه مياشت، د دې نه زياتې نۀ، مونزونه نۀ کوم مګر پينځۀ، د دې نه زيات نۀ، الله تعالیٰ له زما پۀ مال کښې نۀ صدقه شته، نۀ حج او نۀ څۀ نفل، نو زۀ به کوم ځائے يم چې مړ شم؟ رسول الله ﷺ مسکے شو او وئې فرمائیل: زما سره (به يې)، کچرې تۀ وساتې خپل زړۀ د دوۀ څيزونو، بغض او حسد، نه او وساتې خپله ژبه د دوۀ څيزونو، غيبت او دروغو، نه او وساتې خپلې سترګې د دوۀ څيزونو نه، څۀ چې الله تعالیٰ حرام کړي دي هغې ته د کتو نه او د يو مسلمان د سپکاوي نه، نو زما سره به جنت ته داخل شې زما پۀ دې دوۀ لاسونو (يعني پۀ يقين سره) ـ (احياء)

۞ د رسول الله ﷺ نه د دې مفهوم روايت کړے شوے دے: کله چې د قيامت ورز شي نو الله تعالیٰ به زما د اُمت څۀ کسانو ته وزرې ورکړي هغوی به والوزي او جنت ته به ورسي هلته به عيش او مزې شروع کړي ـ فرښتې به تپوس وکړي: تاسو پۀ پل صراط تېر شوي يئ؟ هغوی به ووايي: مونږ خو پل صراط نۀ دے ليدلے ـ فرښتې به تپوس وکړي: تاسو دوزخ ليدلے دے؟ هغوی به ووايي: مونږ خو دوزخ نۀ دے ليدلے ـ فرښتې به تپوس وکړي: تاسو د کوم پېغمبر پۀ اُمت کښې يئ؟ هغوی به ووايي: مونږ د محمد ﷺ پۀ اُمت کښې يو ـ فرښتې بۀ ووايي: مونږ تاسو له قسم درکوو تاسو ووايئ چې پۀ دنيا کښې ستاسو څۀ عملونه وو؟ هغوی به ووايي: پۀ مونږ کښې دوه خبرې وې د هغې پۀ وجه مونږ دا درجه بياموندہ: يوه دا چې کله به مونږ يوازې وو نو مونږ به د الله تعالیٰ د نافرمانۍ نه حيا کوله، او دويمه دا چې زمونږ پۀ قسمت کښې چې

څهٔ ليکلے شوي وو پهٔ هغې به مونږ راضي پاتې کېدو ـ فرښتې بهٔ وو ايي: کهٔ پهٔ تاسو کښې دا دوه خبرې وې نو بيا ستاسو دا حال پکار دے ـ (ابن حبان)

۞رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د الله تعالىٰ يو کم سل نومونه دي چا چې هغه ياد کړل نو جنت ته به داخليږي ـ (متفق عليه)

د بعضې عملونو د ټولو نه غوره شکلونه

۞ د عمرو بن عبسهؓ نه روايت دے، فرمائي: ما رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: کوم اسلام د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: (اسلام د هغه چا) د چا د ژبې او د لاس نه چې مسلمانان محفوظ وي ـ ما بيا عرض وکړو: کوم ايمان د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ښهٔ اخلاق ـ ما بيا عرض وکړو: کوم نمونځ د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: اوږد قنوت (قيام، قراءت) والا ـ ما بيا عرض وکړو: کوم هجرت د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چې تهٔ هجرت (پرېښودل) وکړې د هغه څهٔ څهٔ چې ستا رب بد ګڼلي دي ـ ما بيا عرض وکړو: کوم جهاد د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: جهاد د هغه چا چې اس ئې ووژلے شي او وينه ئې وبيولے شي ـ ما بيا عرض وکړو: کوم وخت د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د شپې آخري حصه ـ (احمد)

باب: بد عملونه، ګناهونه

بعضې غټ (کبيره) ګناهونه، د الله حرام کړي څهٔ عملونه

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: غټ ګناهونه دا دي: د الله تعالىٰ سره شريک جوړول، د مور او پلار نافرماني کول، (ناحق) قتل کول او د دروغو قسم خوړل ـ (بخاري، مسلم)

❁ د عمران بن حصین رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: تاسو څۀ وایئ د زنا، شرابو څښلو او د غلا په باره کښې؟ مونږ ووېل: الله او د هغۀ رسول زیات پوهه دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: دا فحش کارونه دي او پۀ دې کښې سزا ده؛ زۀ تاسو ته د ټولو نه د غټو ګناهونو خبر درنکړم؟ د الله تعالیٰ سره شریک جوړول او د مور و پلار نافرماني کول. هغوی تکیه وو بیا پۀ رونونو کښېناستل او وئې فرمائېل: او دروغ. (الادب المفرد)

❁ د انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم غټې ګناهونه ذکر کول یا ترېنه د غټو ګناهونو تپوس وکړے شو نو وئې فرمائېل: د الله تعالیٰ سره شریک جوړول، څوک (پۀ ناحقه) قتلول او د مور او پلار نافرماني کول، او وئې فرمائېل: زۀ تاسو ته د غټو نه غټ ګناه ونۀ ښایم؟ وئې فرمائېل: د دروغو وینا یا ئې وفرمائېل: د دروغو ګواهي. شعبه وایي زما ګمان دے چې د دروغو ګواهي. (مسلم)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: پۀ لویو (کبیره) ګناهونو کښې یو د سړي خپل مور او پلار ته کنزل کول هم دي. صحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! سړے خپل مور او پلار ته (هم) کنزل کوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: آ، د چا پلار ته کنزل کوي نو هغه د دۀ پلار ته کنزل کوي او د چا مور ته کنزل کوي نو هغه د دۀ مور ته کنزل کوي. (متفق علیه)

❁ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: د ټولو نه پۀ لویو ګناهونو کښې د الله تعالیٰ سره شرک، د مور او پلار نافرماني او یمینِ غموس (غوپه کونکے قسم، د دروغو قسم) دے. (ترمذي)

❁ یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! کوم ګناه د الله پۀ نزد د ټولو نه غټ دے؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: چې تۀ الله تعالیٰ له مِثل وبلې (وګڼې) او حال دا دے چې هغۀ تۀ پیدا کړے یې. هغۀ عرض وکړو: بیا کوم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم

وفرمائېل: چې تهٔ خپل بچے ووژنې د دې يرې نه چې ستا سره به ډوډۍ خوري۔ هغهٔ عرض وکړو: بيا کوم؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې تهٔ د خپل ګاونډي د ښځې سره بدکاري وکړې۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ پهٔ تاسو د ميندو نافرماني حرامه کړې ده او څهٔ چې پهٔ تاسو ورکول وي هغه نهٔ ورکول (ئې حرام کړي دي) او څهٔ چې ستاسو نهٔ وي هغه غوښتل (ئې حرام کړي دي) او لونړه ژوندۍ خخول (ئې حرام کړي دي)۔ (متفق عليه)

څهٔ مختلف بد عملونه

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: کهٔ چا قسم وخوړ چې زهٔ د اسلام نه بري يم نو کهٔ دروغجن وي نو څنګه ئې چې ووې هغه شان دے او کهٔ رشتونے وي نو اسلام ته به هيڅکله سالم واپس نهٔ شي۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې خپل دين (اسلام) بدل کړو (د هغې نه مُرتد شو)نو هغه قتل کړۍ۔ (بخاري)

❁ رسول اللهﷺپهٔ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: تباهي ده اصرار کونکو له چې څهٔ (بد) کوي پهٔ هغې اصرار کوي او پته ورته وي۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې ما ته تکليف راورسولو هغهٔ الله تعالیٰ ته تکليف ورسولو۔ ()

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې زما د ولي (دوست) سره دشمني وکړه هغهٔ ته زما د جنګ اعلان دے۔ (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کله چې خلق علم حاصلوي او عمل کول پرېږدي، پهٔ ژبو محبت ښکاره کوي او پهٔ زړونو کښې نفرت ساتي، او خپلولۍ ختمول شروع کړي، نو پهٔ دغه وخت کښې الله تعالیٰ پهٔ هغوۍ لعنت کوي، هغوۍ ړندوي او د هغوۍ د سترګو نه بينائي اخلي۔ (طبراني)

بعضې درې بد عملونه، خصلتونه، وۀ هلاکونکي ګناهونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې کارونه دي چا له جائز نۀ دي چې هغه وکړي: ثوک سړے دِ د يو قوم امامت نۀ کوي چې خپل ځان پۀ دعاء پورې خاص کړي د هغو نه بغير، نو کۀ دا کار ئې وکړو نو د هغو سره ئې خيانت وکړو؛ ثوک دِ د يو کور پۀ سوري کښې نۀ ګوري مخکښې د دېنه چې اجازت واخلي، نو کۀ دا کار ئې وکړو نو د هغه کور والو سره ئې خيانت وکړو؛ او ثوک دِ نمونز نۀ کوي پۀ داسې حال کښې چې (د وړو او لويو بولو) حصارونکے وي تر دې چې (د هغې نه) سپک (خالي) شي. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې هلاکونکي څيزونه دي: حرص (يا بخل) چې د هغې وُمنلے شي، خواهش چې د هغې پيروي وکړے شي او د سړي خپل ځان ښۀ ګڼل (عُجب کول). (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د وۀ هلاکونکو نه لرې ووسئ. صحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! هغه څۀ دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ سره شرک، سحر، قتلول د هغه نفس چې الله تعالیٰ حرام کړے وي مګر پۀ حقه، سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جنګ پۀ ورز تېښته کول او پۀ پاکدامنو، بې خبرو مومنو ښځو تور (د بدکارئ تهمت) لګول. (بخاري)

څۀ بد خصلتونه، عملونه چې رسول اللهﷺ د هغې يره ښکاره کړې وه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ خپل اُمت چې د ټولو نه زيات د کوم شي زۀ يرېږم هغه د الله تعالیٰ سره شريک جوړول دي. زۀ دا نۀ وايم چې دوئ به د نمر او د سپوږمئ او د بت عبادت کوي ليکن څۀ عملونه د غيرُ الله دپاره او پټ شهوت. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د کوم شي چې ماته پهٔ خپل اُمت د ټولو نه زياته يره ده هغه د نفس خواهش او اوږد اُميد دے. د نفس خواهش سړے د حق نه منع کوي او اوږد اُميد د سړي نه آخرت هېروي. (بيهقي، ابن ابی الدنيا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه زيات چې د کوم شي د ځان نه روستو زهٔ پهٔ تاسو يرېږم هغه درې څيزونه دي: دا چې الله تعالیٰ پهٔ تاسو د دنيا رونق وسپړي، چې څوک قرآن د هغې د تاويل (صحيح مطلب پېژندو) نه بغير اخلي او د يو عالم خطا کېدل. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زهٔ پهٔ خپل اُمتيانو د ټولو نه زياته يره د دې لرم چې پهٔ دوی کښې به مال زيات شي نو دوی به پهٔ يو بل حسد او د يو بل سره جنګونه کوي. (ابن ابی الدنيا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې خبرې دي چې زهٔ ئې په خپل اُمت يره کوم: د سپوږمۍ پهٔ منزلونو سره اُوبهٔ (باران) طلب کول، د بادشاه ظلم او تقدير دروغ ګڼل. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ما ته پهٔ خپل قوم د ټولو نه زياته يره د لوط (عليه السلام) د قوم د عمل ده. (ترمذي)

خپل ځائے پهٔ دوزخ کښې د جوړولو والا څهٔ عملونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پهٔ قرآن کښې بغير د علم نه څهٔ ووې نو خپل ځائے دِ پهٔ دوزخ کښې (يا د دوزخ نه) جوړ کړي (ونيسي، تيار کړي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پهٔ ما پهٔ قصد دروغ ووې نو خپل ځائے دِ پهٔ دوزخ کښې جوړ کړي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې علم د الله تعالیٰ نه علاوه بل چا له حاصل کړو نو خپل ځائے دِ پهٔ دوزخ کښې جوړ کړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د هغه څۀ دعویٰ وکړي چې د دۀ نۀ وي نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې د يو مسلمان خلاف داسې ګواهي ورکړه چې هغه د دې اهل نۀ ؤ نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي. (احمد، ابن ابی الدنيا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پۀ دروغه قسم وخوړ نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: چا چې د خپل پلار نه سوا بل چا ته خپل ځان منسوب کړو او علم ورته ؤ نو کفر ئې وکړو، او چا چې خپل نسبت يو قوم ته وکړو چې دے د هغې نه نۀ ؤ نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ دې خوشحاله وي چې دۀ ته دِ خلق ولاړ وي نو خپل ځائے دِ پۀ دوزخ کښې جوړ کړي. (ابوداؤد، ترمذي)

کتاب: ښۀ ښۀ او بد خلق

باب: ښۀ مختلف قسم ښۀ خلق

د ټولونه غوره ښۀ خلق

(پۀ ښۀ وجوهو سره)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ تاسو ته ستاسو د ټولو نه غوره ونۀ ښايم؟ صحابو عرض وکړو: ضرور وښايې. رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه چې کله هغوی وليدے شي نو الله تعالیٰ راياد شي. (الادب المفرد)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائیل: په تاسو کښې د ټولو نه غوره هغه څوک دے چې قرآن ازده کړي او نورو ته ئې وښايي. (بخاري)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: په خلقو کښې د ټولو نه ښۀ او غوره د ټولو نه ښۀ عالمان دي. (بزار، احياء)

❁ رسول الله ﷺ په يو حديث شريف کښې وفرمائيل: په تاسو کښې د ټولو نه غوره هغه دے د چا د خير چې اُميد کيږي او د شر نه ئې چې امن وي. (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: په تاسو کښې د ټولو نه غوره هغه څوک دے کوم چې په تاسو کښې د ټولو نه د ښۀ اخلاقو والا وي. (بخاري)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: په خلقو کښې د ټولو نه غوره هغه دے کوم چې په هغوی کښې د ټولو نه زيات نفع رسونکے وي. (ترغيب)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: په تاسو کښې د ټولو نه غوره هغه دے کوم چې د خپل خاندان دفاع کونکے وي څو پورې چې (په دې کښې) د ګناه کار ونکړي. (ابوداؤد)

❁ د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دے چې رسول الله ﷺ وفرمائيل: زۀ تاسو ته په درجه کښې د ټولو نه د ښۀ سړي خبر درنکړم؟ مونږه ووې: ولې نۀ اے د الله رسوله! رسول الله ﷺ وفرمائيل: هغه سړے چا چې د خپل اس سر د الله تعالىٰ په لار کښې نيولے وي تر دې چې (په خپل مرګ) مړ شي يا قتل کړے شي؛ او د هغه سړي خبر درکړم کوم چې دۀ ته نزدې دے؟ مونږه ووې: ضرور راکړه اے د الله رسوله! رسول الله ﷺ وفرمائيل: هغه سړے کوم چې د غرۀ په لمن کښې جدا ناست وي، نمونځ کوي او د خلقو د شرونو نه (يا هغوی ته د شر رسولو نه) لرې وي. (نسائي)

❁ د رسول الله ﷺ د يو حديث شريف مفهوم دے: د ټولو نه غوره کس هغه فقير دے چا ته چې صرف د خپل ډېر کوشش او مشقت څۀ ملاويږي. (ديلمي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: زما د اُمت د ټولو نه غوره خلق هغه دي کوم چې په مجمع (ګڼه) کښې د الله تعالىٰ د رحمت د ډېروالي نه خوشحالېږي او چې کله ځانله وي نو د الله تعالىٰ د عذاب د يرې نه ژاړي. د هغوی بدنونه په زمکه او د هغوی زړونه آسمان طرف ته وي. (فضائلِ صدقات)

❁ يو سړې رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: اے د الله رسوله! په خلقو کښې د ټولو نه غوره څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه څوک د چا چې عمر اوږد او عمل ښۀ وي. (ترمذي)

❁ ابو موسیٰ رضي الله عنه فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! په مسلمانانو کښې کوم د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه څوک د چا د ژبې او د لاس نه چې نور مسلمانان محفوظ وي. (متفق عليه)

❁رسول اللهﷺ ته عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! د کومو خلقو سره چې مونږ کښېنو په هغوی کښې د ټولو نه غوره څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه سړے د چا ليدل چې تاسو ته الله تعالىٰ يادوي، د چا خبرې چې ستاسو علم زياتوي او د چا عمل چې تاسو ته آخرت يادوي. (ابويعلىٰ)

❁ رسول اللهﷺ ته عرض وکړے شو: په خلقو کښې د ټولو نه غوره څوک دے؟ رسول الله وفرمائېل: په ټولو کښې زيات تقویٰ لرونکے، په ټولو کښې زيات صله رحمي ساتونکےاو په ټولو کښې زيات امر بالمعروف او نهي عن المنکر کونکے. (احمد، طبراني، بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: اے د الله رسوله! په خلقو کښې د ټولو نه غوره څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هر مخموم القلب صدوق اللسان. صحابو عرض وکړو: صدوق اللسان (د ژبې رشتونے) خو مونږ پېژنو

خو مخموم القلب څۀ دے؟ رسول الله وفرمائيل: متقي پاک صاف سړے چې نۀ پکښې ګناه وي، نۀ زياتے، نۀ دوکه، نۀ کينه او نۀ حسد. (ابن ماجه)

❁ يو سړي عرض وکړو: پۀ خلقو کښې د ټولو نه غوره څوک دے اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ خپل ځان او مال سره د الله تعالیٰ پۀ لار کښې جهاد کونکے مومن. هغۀ عرض وکړو: بيا څوک؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: بيا هغه څوک چې د غرۀ پۀ څۀ لمنه کښې جدا (يوازې) ناست وي د خپل رب عبادت کوي (يا د الله تعالیٰ نه يريږي او خلق د خپل شر نه بچ ساتي). (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ټولو نه غوره کسان دوه دي: يو هغه چې د خپل اس واګے ئې نيولے وي د الله تعالیٰ پۀ لار کښې د خپل ځان قربانولو پۀ تکل کښې ګرزي، او دويم هغه چې د هغۀ سره پۀ يو ځنګل يا غرۀ کښې ګډې بيزې وي، نمونځ کوي، زکوٰة ورکوي او د خپل رب پۀ عبادت کښې مشغول وي تر دې چې مرګ ورته راشي، انسانانو ته ترېنه هيڅ نۀ رسي سوا د خير نه. (درمنثور، فضائلِ صدقات)

د خير چابياني او د شر ژرندې

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: دا خير (دين او د دين احکام) د هغه خزانو (د آخرت د ثوابونو او نعمتونو) دپاره خزانې دي پس نيک بختي ده هغه بنده لره څوک چې الله تعالیٰ د خير چابي او د شر ژرنده جوړه کړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: پۀ خلقو کښې څۀ د خير چابيانې (کولاوونکي) او د شر ژرندې (بندونکي) وي پس نيک بختي ده هغه چا له د چا پۀ لاسونو چې الله تعالیٰ د خير چابيانې مقرر کړي. (ابن ماجه)

کامیابي، مبارک والے او امن و هدایت موندونکي څۀ خلق

✿ ابوذرؓ د رسول اللهﷺنه روایت کوي: کامیاب شو هغه څوک د چا زړۀ چې الله تعالیٰ د ایمان دپاره خالص کړو او د هغۀ زړۀ ئې سالم، د هغۀ ژبه ئې رشتونې، د هغۀ نفس ئې مطمئن او د هغۀ طبیعت ئې سیده کړو، او د هغۀ غوږ ئې اورېدونکے او د هغۀ سترګه ئې کتونکې کړه نو غوږ قیف (اورېدونکے) دے او سترګه ثابتونکې (لیدونکې) ده د هغه څۀ چې پۀ زړۀ کښې ابښودے کیږي، او کامیاب شو هغه څوک د چا زړۀ چې هغۀ یاد (محفوظ) ساتونکے وګرزوۀ۔ (احمد، بیهقي)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کامیاب شو هغه څوک چا چې ایمان راوړ او صرف د ګزارې رزق ورله ورکړے شو او څۀ چې ورله الله تعالیٰ ورکړۀ پۀ هغې ئې هغه صابره کړو۔ (مسلم)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کامیاب شو هغه څوک چې مسلمان شي (یا وي) او د ګزارې رزق ورله ورکړے شي او الله تعالیٰ ئې پۀ هغې قانع (صابره) کړي (یا نیک بختي ده هغه چا له چې د اسلام هدایت ورته ورکړے شي او رزق ئې (صرف) د ګزارې وي او (پۀ هغې) قناعت او صبر وکړي)۔ (ترمذي)

✿ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: مبارک دے هغه کس چې ګټه ئې پاکه وي، باطن ئې نیک وي، ظاهر ئې شریفانه وي، خلق ئې د شر نه محفوظ وي۔ مبارک دے هغه کس کوم چې پۀ علم عمل کوي او (د ضرورت نه سوا مال (د الله تعالیٰ پۀ لار کښې) خرچ کوي او بې ضرورته خبرې نۀ کوي۔ (فضائلِ صدقات)

✿ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: داسې خلق چې څۀ ورته ورکړے شي نو شکر وکړي، چې پۀ مصیبت کښې اخته کړے شي نو صبر وکړي، چې ظلم وکړي نو معافي وغواړي او چې ظلم پرې وکړے شي نو

معافي وکړي. رسول اللهﷺ دا وفرمائيل او خاموش شو. صحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! هغوی له څهٔ دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: هغوی له امن دے او هغوی هدايت موندونکي دي. (طبراني)

بعضې خاص خلق

❁ د اُسامه بن زيد او د ابوهريره رضي الله عنهما نه روايت دے چې رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې (د بعضې خاصو خلقو پهٔ باره کښې) وفرمائيل: دا خلق داسې پټ متقيان دي چې کهٔ حاضر وي نو هيڅا ته ئې پته نهٔ وي او کهٔ غائب وي نو څوک ئې لټون نهٔ کوي ليکن د زمکې ټکړه ټکړه دوی پېژني، د آسمان فرښتې د دوی نه چاپېره وي. نور خلق پهٔ دنيا خوشحاله وي او دوی د الله تعالیٰ پهٔ عبادت خوشحاله وي، خلق نرمې بسترې غوړوي او دوی تندي او زنګونونه لګوي. خلقو د پېغمبرانو کارونه او اخلاق ضائع کړل او دوی د هغې حفاظت وکړو. کله چې دوی د زمکې نه ورک وي نو زمکه ورپسې ژاړي او الله تعالیٰ پهٔ هغه علاقه غصه وي چرته چې د دوی نه يو کس موجود نهٔ وي. دوی پهٔ دنيا باندې داسې نهٔ ارتاوېږي لکه سپي چې پهٔ مرداره ارتاوېږي. دوی صرف دومره خوراک خوري چې ژوندي پاتې شي؛ زړې شلېدلې جامې اغوندي، وران وجاړ وسېږي؛ خلق ئې چې اېني نو دا ګمان کوي چې دوی ناجوړه دي خو دوی ته هيڅ مرض نهٔ وي. د دوی باره کښې ويېلے کيږي چې دوی پاګلان شوي دي او عقلونه ئې تلي دي حالانکه د دوی عقلونه نهٔ وي تلي. د دوی نظر د الله تعالیٰ پهٔ حکم وي چا چې د دوی نه دنيا لرې ساتلې ده. د دنيا والو پهٔ نز دوی د عقلونو نه بغير ګرزي خو د خلقو نه چې عقلونه رخصت شوي وي نو د دوی عقلونه موجود وي. اے اُسامه! پهٔ آخرت کښې د داسې خلقو دپاره عزت او غوره والے دے؛ کله چې تهٔ دوی پهٔ څهٔ علاقه کښې وينې نو پوهه شه چې د علاقې والو دپاره د امن چِټ راغلے دے.

الله تعالیٰ داسې قوم ته عذاب نۀ ورکوي پۀ کوم کښې چې داسې خلق موجود وي. زمکه د دوی نه خوشحاله وي او الله ترېنه راضي وي. تۀ دوی خپل رونه جوړکړه شاید چې د دوی پۀ ذریعه تۀ هم خلاصے ومومې. (احیاء)

❁ د ابوقلابه رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمائېل: زما پۀ اُمت کښې به همېشه یوه ډله داسې وي چې د الله تعالیٰ نه به د څۀ دعاء نۀ غواړي مګر د هغوی دعاء به قبلیږي او پۀ هغوی سره به ستاسو مدد کیږي او پۀ هغوی سره به پۀ تاسو بارانونه وریږي؛ او زما ګمان دے چې دا ئې هم وفرمائېل چې پۀ هغوی سره به (د شر وغیره نه) ستاسو دفاع کیږي. (ابوداؤد في مراسیله)

❁ د رسول الله ﷺ نه روایت کړے شوے دے: زما د اُمت پۀ غوره خلقو کښې لکه چې ما ته ملاء اعلیٰ خبر راکړے دے هغه کسان دي کوم چې د الله تعالیٰ د لوئے رحمت د وجې نه پۀ زوره خاندي او د هغۀ د عذاب د یرې نه پۀ پټه ژاړي، پۀ خلقو ئې بوج کم وي او پۀ خپل ځان ئې زیات وي، زړې جامې اغوندي او پۀ راهبانو (د دنیا نه پۀ بې رغبته خلقو) پسې روان وي، بدنونه ئې پۀ زمکه وي او زړونه ئې د عرش سره وي. (حاکم، بیهقي)

❁رسول الله ﷺ وفرمائېل: بېشکه الله تعالیٰ نیک، پرهېزګار او پټ خلق خوښوي، کوم چې کله غائب وي نو تلاش کیږي نۀ او چې حاضر وي نو راغوښتے کیږي نۀ او نۀ پېژندے کیږي. د هغوی زړونه د هدایت ډیوې دي، د هرې تیارې والا زمکې نه راوزي. (ابن ماجه، ابن حبان)

❁رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د الله تعالیٰ څۀ بندګان دي چې پۀ ناز و نعمت کښې اوسېدونکي نۀ دي. (احمد)

د خلقو پۀ نزد معمولي او د الله پۀ نزد او د آخرت پۀ لحاظ سره اوچت څۀ خلق

❁ ابوذرﷺ روايت کوي: زۀ د رسول اللهﷺ سره يو جمات ته ننوتم، رسول اللهﷺ ما ته وفرمائيل: اے ابوذره! سر اوچت کړه. ما سر اوچت کړو نو يو د ښکلو جامو والا سړے پۀ نظر راغے. لږ ساعت روستو رسول اللهﷺ بيا وفرمائيل: اے ابوذره! سر اوچت کړه. ما سر اوچت کړو نو يو داسې سړے پۀ نظر راغے چې پۀ بدن ئې زړې جامې وې. رسول اللهﷺ وفرمائيل: دا سړے د الله تعالیٰ پۀ نزد د ټولې زمکې (والو) نه غوره دے. (ابن حبان)

❁رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: ډېر د ببرو وېښتو والا، دوړو وهلي، د دروازو نه واپس شړلے کېدونکي کسان داسې دي چې کۀ پۀ الله تعالیٰ قسم وخوري نو الله تعالیٰ به ئې قسم پوره کړي. (مسلم)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: ډېر د دوؤ جامو والا چې پروا ئې نۀ کيږي کۀ پۀ الله تعالیٰ قسم وخوري نو هغه به ئې قسم پوره کړي، کچرې وُوايي چې اے الله! مونږ ستا نه جنت غواړو نو هغه به ورله جنت ورکړي خو د دنيا نه به ورله هيڅ ورنکړي. (ابن ابی الدنيا، ديلمي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: ډېر عقلمندان داسې دي چې د الله تعالیٰ نه خپل دين ازده کوي او حال دا وي چې د خلقو پۀ نزد هغوی سپک او بدموره دي، صبا قيامت کښې به هغوی خلاصے مومي. (حالات ومقاماتِ صحابه)

❁رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: زما د حوض نه به چې کوم سړے اُوبۀ وڅښي هغه به چرته هم تږے نۀ شي او هغې ته به زما د اُمت هغه کسان رازي کوم چې د خورو ورو او دوړو وهلو وېښتو والا او د خيرنو

خچنو جامو والا وي، کوم چې د ناز و نعمت والا ښځو سره نکاح نۀ کوي او د بادشاهانو دروازو ته نۀ حاضرېږي۔ (طبراني)

د زورېدو يو کس

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما پۀ دوستانو کښې زما پۀ نزد د ټولو نه زيات د زورېدو (د رشک والا) هغه مومن دے چې د سپکې ملا والا (بې ماله او د اهل و عيال د بوج نه سپک) وي، د نمانځۀ نه حصه لرونکے وي، د خپل رب پۀ ښۀ شان عبادت وکړي او پۀ پټه ئې فرمان برداري وکړي، پۀ خلقو کښې پټ وي چې پۀ ګوتو ورته اشارې نۀ کيږي، رزق ئې صرف د ګزارې وي او پۀ هغې صبر وکړي۔ بيا رسول اللهﷺ خپل لاس زمکې له راپرېښنو (يا ئې د ګوتې نه ټق وُويستۀ) او وئې فرمائيل: مرګ ورته زر راشي، ژړېدونکې ښځې ورپسې کمې وي، ميراث ئې لږ وي۔ (ترمذي، ابن ماجه)

د خوشخبرۍ او نيک بختۍ والا څۀ کسان

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: خوشخبري ده هغه بنده له چې د الله تعالیٰ پۀ لار کښې د خپل اس واګے نيونکے، ورانو وېښتو والا او دوړو وهلو پخو والا وي کۀ پۀ څوکۍ کښې وي نو پۀ څوکۍ کښې وي او کۀ د لښکر پۀ روستو حصه کښې وي نو د هغې پۀ روستو حصه کښې وي، کۀ اجازت وغواړي نو اجازت ورته ورنکړے شي او کۀ سفارش وکړي نو سفارش ئې قبول نکړے شي۔ (بخاري)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يوې خطبه کښې روايت کړے شوے دے: خوشخبري ده هغه چا له څوک چې د دنيا پۀ باره کښې د الله تعالیٰ نه وُيريږي، عبرت حاصل کړي، توبه وُباسي او د دې نه د تلو نه مخکښې خپل خواهشونه پرېږدي۔ (خطبات نبوي)

۞ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: نیک بختي ده هغه بنده لره څوک چې الله تعالیٰ د خیر چابي او د شر ژرنده جوړه کړي. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیک بختي ده هغه چا له چا چې پهٔ خپله صحیفه (عملنامه) کښې ډېر استغفار بیاموندهٔ. (ابن ماجه، نسائي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیک بختي ده هغه چا له د چا عیبونه چې هغه مشغول وساتي د نورو خلقو د عیبونو نه. (بزار)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیک بختي ده هغه چا له څوک چې پهٔ ځان قابو وساتي، پهٔ کور کښې ناست وي او پهٔ خپلو ګناهونو ژاړي. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیک بختي ده هغه چا له چا چې د خپلې ژبې نه سوا خبرې وُنیوې او د خپل مال نه ئې سوا مال خرچ کړو. (بغوي، بیهقي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نیک بختي ده هغه چا له چې د اسلام هدایت ورته ورکړے شي او رزق ئې (صرف) د ګزارې وي او (پهٔ هغې) قناعت او صبر وکړي. (ترمذي)

بعضې اصل عقلمند خلق

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: عقلمند هغه څوک دے چې خپل نفس (یا ځان) تابع (قابو، ذلیل، ښکته) کړي او د مرګ نه د روستو دپاره عمل وکړي. (ابن ماجه، ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: عقلمند هغه دے کوم چې د الله تعالیٰ حکم مني اګرکهٔ بدموره، کم حیثیت والا او بدحاله وي. (احیاء)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: عقلمند هغه نهٔ دے کوم چې پهٔ مروت کښې کامل وي، زیات فصاحت والا وي، د لاسه سخي وي او د غټې درجې والا وي، دا څیزونه خو د دنیا د ژوندون سامانونه دي، د الله تعالیٰ پهٔ

نزد آخرت د متقیانو دپاره دے، عقلمند صرف متقي او پرهېزګار سړے دے اګرکهٔ پهٔ دنیا کښې ښکته او د ذلت والا وي۔ (ابن المخبر)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د قیامت پهٔ ورز به یو آواز کونکے آواز وکړي چې عقلمند خلق چرته دي؟ تپوس به وکړے شي چې د عقلمندو نه ستا څوک مراد دي؟ هغه به ووایي: هغه خلق کومو چې به پهٔ ولاړې، ناستې او ملاستې (پهٔ هر حال کښې) د الله تعالیٰ ذکر کولو، او د آسمانونو او زمکې پهٔ پیدا کېدو کښې ئې فکر کولو (او ویېل به ئې) "اے زمونږه ربه! دا (هرڅهٔ) تا باطل (بې مقصده، بې مصلحته او بې فائدې) نهٔ دي پیدا کړي؛ مونږ ستا تسبیح کوو؛ تهٔ مونږ د دوزخ د اور نه وساته"۔ دې خلقو له به یوه جنډه جوړه کړے شي، دوی ټول به ورپسې روان شي او دوی ته به وویېلے شي چې جنت ته داخل شی چې همېشه به پکښې یی۔ (ترغیب)

د ټولو نه زیات عقلمند څهٔ خلق

۞ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روایت کړے شوے دے: د الله تعالیٰ څهٔ بندګان داسې دي چې الله تعالیٰ به هغوی له د ټولو نه پهٔ اوچت جنت کښې ځائے ورکوي او هغوی د ټولو نه زیات عقلمند دي۔ عرض وکړے شو: هغوی څنګه د ټولو نه زیات عقلمند دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هغوی ټول همت او قصد د الله تعالیٰ طرف ته دے، د هغوی د کوششونو نچوړ د الله تعالیٰ رضا ده، هغوی د دنیا او د دې د عیش وعشرت نه بې رغبته شوي دي، د هغوی پهٔ نزد دنیا ډېر لاندې شے دے، هغوی به لږې ورزې پهٔ مصیبتونو صبر وکړي بیا به پهٔ نهٔ ختمېدونکې زمانه کښې مزې کوي۔ (نزهة البساتین)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پهٔ تاسو کښې د ټولو نه د زیات کامل عقل والا هغه دے کوم چې د الله تعالیٰ نه پهٔ ټولو کښې زیات

یربېدونکے وي او د څۀ چې الله تعالیٰ حکم کړے دے پۀ هغې کښې د هغۀ نظر د ټولو نه ښۀ وي اګرکۀ پۀ نفلي عبادت کښې د ټولو نه کم وي۔ (ابن المخبر)

۞ ابن عمر رضي الله عنه روایت کوي: زۀ د رسول الله ﷺ خوا له پۀ لسو کښې لسم تلے وم، د انصارو یو سړے پاڅېدۀ او عرض ئې وکړو: پۀ خلقو کښې د ټولو نه زیات پوهه او عقلمند (هوښیار) څوک دے؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: پۀ هغوی کښې د ټولو نه زیات د مرګ یادونکے او د ټولو نه زیات د مرګ تیارے کونکے، هم دغه عقلمندان دي د دنیا اوچت والے او د آخرت عزت ئې یوړ۔ (ابن ابی الدنیا، طبراني)

د الله د خیر د ارادې والا څۀ خلق

۞رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې د یو بنده سره د خیر اراده وفرمائي نو د دنیا نه ئې بې رغبته کړي او آخرت طرف ته ئې راغب کړي او د خپل نفس (ځان) د عیبونو نه ئې خبر کړي۔ (دیلمي)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې د یو بنده سره د خیر اراده وفرمائي نو د هغۀ د زړۀ نه هغۀ له یو وعظ کونکے جوړ کړي۔ (دیلمي)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې د یو بنده سره د خیر اراده وفرمائي نو هغه استعمال کړي۔ عرض وکړے شو: هغه څنګه استعمال کړي؟ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د مرګ نه مخکښې ورته د نیک عمل توفیق ورکړي۔ (ترغیب)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې د چا سره د خیر اراده وفرمائي نو ښۀ دوست ورله ورکړي چې کۀ الله تعالیٰ ترېنه هېرېږي نو یادوي ورته او کۀ یاد وي ورته نو مدد ئې کوي۔ (احیاء)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې کله د یو بنده سره د خیر ارا ده وفرمائي نو د خلقو حاجتونه د هغۀ طرف ته واړوي (دیلمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ چې د چا سره د خير اراده وفرمائي نو خپلو ګاونډيانو ته ئې خوښ کړي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ چې د چا سره د خير اراده وفر مائي نو مصيبتونه پرې راولي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ چې د خپل يو بنده سره د خير اراده وفرمائي نو شکرکونکے زړۀ، ذکر کونکې ژبه او پۀ مصيبتونو صبر کونکے بدن ورله ورکړي. (انيس الواعظين)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ چې د يو بنده سره د خير اراده فرمائي نو هغۀ له د هغۀ د ګناه سزا (عذاب) زر پۀ دنيا کښې ورکوي. (ترمذي، احمد، طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې روايت کړے شوے دے: کله چې الله تعالیٰ يو قوم له د خير اراده فرمائي نو پۀ هغۀ د برداشت والا خلق حکمرانان کوي او د هغۀ فيصلے عالمان کوي او مال سخيانو له ورکوي. (الجامع الصغير)

د خير دپاره غوښتے شوے کس

❁ زيد الخيل (الخير)رضي الله عنه رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: زۀ ستاسو خوا له راغلم چې ستاسو نه تپوس وکړم چې د الله تعالیٰ څۀ علامه ده د هغه چا پۀ باره کښې څوک چې هغه د خير دپاره غواړي او د هغه چا پۀ باره کښې څوک چې هغه د خير دپاره نۀ غواړي؟ رسول اللهﷺوفرمائيل: تۀ څنګه شوے يې؟ هغۀ ووېيل: زۀ داسې شوے يم چې خير او د خير والا خوښوم او کله چې د دې (خير) نه پۀ څۀ قادر شم نو دې طرف ته جلدي کوم او د دې د ثواب يقين ساتم او کله چې رانه د دې څۀ پاتې شي نو غم او افسوس پرې کوم. رسول اللهﷺوفرمائيل: دا د الله تعالیٰ علامه ده د هغه چا پۀ باره کښې څوک چې

هغه د خير دپاره غواړي، او کچرې تهٔ ئي د دويمې خبرې دپاره غوښتلے وے نو هغې له به ئې تيار کړے وې او بيا ئې پروا نهٔ کوله چې تهٔ د هغې پهٔ کومه وادئ کښې هلاک شوے وے. (طبراني)

قيامت کښې الله ته د ټولو نه غوره، د ټولو نه خوښ او د ټولو نه نزدې څهٔ خلق

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: پهٔ بندګانو کښې به د الله تعالىٰ پهٔ نزد پهٔ قيامت کښې د درجې پهٔ لحاظ سره د ټولو نه غوره کوم وي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالىٰ ډېر يادونکي. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت پهٔ ورز به د الله تعالىٰ پهٔ نزد د هغهٔ پهٔ بندګانو کښې د ټولو نه غوره عادل نرم بادشاه وي. (بيهقي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: قيامت کښې به الله تعالىٰ ته پهٔ خلقو کښې د ټولو نه خوښ انصاف کونکے بادشاه وي. (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د قيامت پهٔ ورز به الله تعالىٰ ته د ټولو نه نزدې هغه خلق وي کوم چې پهٔ دنيا کښې وږي تږي او غمګين پاتې شوي وي. (احياء)

رسول اللهﷺ ته د ټولو نه خوښ او قيامت کښې هغهٔ ته د ټولو نه نزدې څهٔ خلق

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پهٔ تاسو کښې ما ته د ټولو نه پهٔ خوښو خلقو کښې هغه څوک دي او د قيامت پهٔ ورز به ما ته د ټولو نه زيات نزدې هغه وي کوم چې پهٔ تاسو کښې د اخلاقو پهٔ لحاظ سره د ټولو نه زيات ښهٔ وي، هغه چې الفت کوي او الفت ورسره کيږي. (ترمذي، نورالیقین)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: د قيامت پهٔ ورز به ما ته د ټولو نه نزدې هغه کس وي کوم چې پهٔ ما د ټولو نه زيات درود ويونکے وي. (ترمذي، ابن حبان)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قيامت په ورز به ما ته په مجلس کښې د ټولو نه نزدې انصاف کونکے بادشاه وي. (ترغيب)

بعضې درې درې کسان چې قيامت کښې به ښۀ حال والا وي

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې کسان دي چې د قيامت په ورز به د مشکو په غونډو وي: يو هغه بنده دے چې د الله تعالىٰ حق او د خپل مالک حق ادا کړي، دويم هغه سړے دے چې د يو قوم امامت وکړي او هغوی په دې راضي وي او دريم هغه سړے دے چې هره ورز پينځۀ نمونځونو له بانګ ووايي. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې کسان دي چې د قيامت په ورز به ئې غټه يره نۀ يروي او نۀ به ورسره حساب کيږي، د مشکو په غونډو به وي تر دې چې د خلقو د حساب نه فارغ والے وشي: يو هغه سړے دے چې د الله تعالىٰ د رضا دپاره ئې قرآنِ پاک ولوستۀ او په دې سره ئې د يو قوم امامت وکړو او هغوی د دۀ نه راضي وو، دويم هغه سړے دے چې د الله تعالىٰ د رضا دپاره خلق نمونځونو ته رابلي، او دريم هغه سړے دے چې د خپل رب سره هم ښۀ معامله ساتي او د خپلو ماتحتو (کشرانو، نوکرانو وغيره ؤ) سره هم. (طبراني)

د الله د عرش د سورې لاندې کېدونکي څۀ خلق

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: وۀ کسان دي چې الله تعالىٰ به ئې د خپل (عرش د) سورې لاندې کړي په هغه ورز چې د هغۀ د سورې نه علاوه به هيڅ سورے نۀ وي: انصاف کونکے بادشاه؛ هغه ځوان چې د الله تعالىٰ په عبادت کښې رااوچت شي (يا ځوانی ته ورسي)؛ هغه سړے چې زړۀ ئې په جماتونو پورې نښتے وي؛ هغه دوه کسان چې د الله تعالىٰ د رضا دپاره د يو بل سره محبت کوي، په هغې يوځائے کيږي او په هغې جدا کيږي؛ هغه سړے چې د ښائست او منصب والا ښځه ورته (د زنا) بلنه ورکړي او دے ووايي چې زۀ د الله نه يريږم؛ هغه سړے چې پټه صدقه ورکړي دې پورې چې ګڅ لاس خبر نۀ شي چې

ښي لاس څۀ خرچ کړۀ؛ او هغه سړے چې خوشے الله تعالیٰ یاد کړي او د سترګو نه ئې اوښکې وبهیږي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: تاسو خبر يئ، هغه کوم خلق دي چې د قيامت پۀ ورز به د الله تعالیٰ د سوري طرف ته زي؟ صحابو ووېيل: الله او د هغۀ رسول زيات پوهه دي. رسول اللهﷺوفرمائيل: دا هغه خلق دي چې کله دوی ته حق ورکولے کيږي نو دوی هغه قبلوي او کله چې د دوی نه حق غوښتے کيږي نو دوی هغه ورکوي او د نورو دپاره داسې فيصله کوي څنګه چې د خپل ځان دپاره کوي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز وفرمائي: چرته دي زما د لوئي پۀ خاطر د يو بل سره محبت کونکي؟ نن به ورله زۀ پۀ خپل سوري کښې ځائے ورکړم. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې تنګ لاسي ته مهلت ورکړو يا ئې ورته (قرض) کم کړو نو الله تعالیٰ به دے د قيامت پۀ ورز د خپل عرش د سوري د لاندې کړي پۀ کومه ورز چې به سورے نۀ وي مګر سورے د هغۀ. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې مدد وکړو د الله تعالیٰ پۀ لار کښې د يو جهاد کونکي يا د يو قرضداري پۀ تنګئ کښې يا د يو مکاتب غلام نو الله تعالیٰ به ئې د سوري لاندې کړې پۀ داسې ورز کښې چې د هغۀ د سوري نه علاوه به څۀ سورے نۀ وي. (احمد)

بعضې جنت ته تلونکي درې درې کسان

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: جنتيان درې تنه دي: انصاف کونکے صدقه ورکونکےد خير توفيق موندونکے بادشاه، د هر رشته دار او مسلمان دپاره مهربان او نرم زړے سړے، او (د هر ناجائز نه) بچ پاتې کېدونکےسوال نۀ کونکے بال بچ والا سړے. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ يو غشي به درې کسان جنت ته زي: د هغې جوړونکے چې د هغې پۀ جوړولو کښې د خير (جهاد) اراده کوي، د هغې ويشتونکے او (ويشتونکي له) د هغې ورکونکے۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما ته هغه درې کسان پيش کړے شو کوم چې به د ټولو نه مخکښې جنت ته زي: شهيد، (د حرامو خبرو او شبهاتو نه) بچ کېدونکے او هغه بنده چې د الله تعالیٰ بنۀ عبادت او د خپلو مواليانو (غلامانو خادمانو) خيرخواهي کوي۔ (ترمذي)

بعضې جنتيان کسان، څۀ کسان چې جنت کښې به د مومنانو سرداران وي

۞د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: جنتيان هغه خلق دي کوم چې د خورو ورو وېښتو والا، دوړې وهلي او د دوؤ څادرو والا وي، څوک ورته توجه نۀ ورکوي، کۀ د مالدارو څنګ تۀ د تلو اجازت غواړي نو اجازت ورته نۀ ورکولے کيږي، کۀ د ښځو سره د وادۀ کولو پيغام ورکوي نو نۀ قبليږي، کۀ څۀ وايي نو خبره ئې نۀ اورېدے کيږي، آرزوګانې ئې پۀ سينو کښې پرتې وي، ليکن کچرې د قيامت پۀ ورز د هغوی نور پۀ انسانانو تقسيم کړے شي نو ټولو له به کافي شي۔ (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: جنت کښې به د مومنانو سرداران هغه څوک وي کوم چې کله د سحر خوراک وخوري نو د ماښام خوراک نۀ مومي او چې قرض وغواړي نو نۀ ملاويږي ورته او سوا جامې ورسره نۀ وي صرف دومره وي چې دوی پټ کړي او دومره څۀ نۀ شي ګټلے چې ګزاره ئې پرې وشي خو بيا هم سحر ماښام د خپل رب نه راضي وي۔ (طبراني)

باب: څۀ مختلف قسم بد خلق

د ټولو نه بد څۀ خلق

(پۀ څۀ وجوهو سره)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: پۀ تاسو کښې د ټولو نه بد هغه دے د چا د خير چې اُميد نۀ کيږي او د شر نه ئې چې امن نۀ وي. (ترمذي)

❁ يو سړې رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: پۀ خلقو کښې د ټولو نه بد څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: هغه څوک د چا چې عمر اوږد او عمل بد وي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما د اُمت د ټولو نه بد خلق هغه دي کوم چې پۀ عيش و عشرت کښې اخته وي چې جسمونه ئې پرې غټ شوي وي، د چا مقصد چې قسم قسم خوراکونه او جامې وي او کوم چې پۀ خبرو کولو کښې وخکي پرانزي. (ابونعيم)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: زۀ تاسو ته ستاسو د ټولو نه بد وُنۀ ښايم؟ صحابو عرض وکړو: ضرور وښايئ. رسول اللهﷺ وفرمائيل: چغلي کونکي، د ورونو پۀ مينځ کښې فساد پيدا کونکي او بې ګناهو له سختي طلب کونکي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما نه روستو به زما پۀ اُمت کښې څۀ داسې خلق وي چې قرآن به لولي د مرو نه به ئې نۀ تېروزي، د دين نه به داسې وزي لکه غشے چې د ښکار نه وزي بيا به ورته نۀ واپس کيږي، هغوی به پۀ مخلوقاتو کښې د ټولو نه بد خلق وي. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د ټولو نه بد خلق علماءِ سوء دي (يا د ټولو نه بد خلق د ټولو نه بد عالمان دي). (احياء، بزار)

د شر چابياني او د خير ژرندې

✿ رسول اللهﷺ په يو حديث مبارک کښې ارشاد وفرمايۀ: بد بختي ده هغه بنده له څوک چې الله تعالیٰ د شر چابي او د خير ژرنده جوړه کړي. (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ په يو حديث شريف کښې وفرمائيل: په خلقو کښې څۀ د شر چابياني (کولاوونکي) او د خير ژرندې (بندونکي) وي، بد بختي ده هغه چا له د چا په لاسونو چې الله تعالیٰ د شر چابياني مقرر کړي. (ابن ماجه)

✿ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د شر ښودونکے د هغې د کونکي په شان دے. (ديلمي)

بعضې د لعنت والا خلق، د منافقت والا څۀ خلق

✿ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چا چې په دې (مدينه) کښې بدعت وکړو يا ئې يو بدعت کونکي له ځائے ورکړو نو په هغۀ د الله تعالیٰ، د ملائکو او د ټولو خلقو لعنت. (رياض الصالحين)

✿ د عمر بن عبد العزيز رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ په يو ليکلي کاغذ چې په زمکه پروت ؤ تېروتلو نو يو هلک ته ئې کوم چې د هغوی سره ؤ وفرمائيل: دا څۀ شے دے؟ هغۀ ووې: بسم الله. رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ دِ لعنت نازل کړي په هغه چا چا چې دا کار کړے دے. د الله تعالیٰ نوم مردی مکر په خپل ځائے. (ابوداؤد فی المراسيل)

✿ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: خلق چې علم حاصلوي او عمل پرې نۀ کوي، په ژبو د يو بل سره محبت ښکاره کوي او په زړونو کښې د يو بل سره بغض ساتي او صله رحمي نۀ کوي نو الله تعالیٰ په هغوی لعن کوي او هغوی کڼوي اوړندوي. (طبراني)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ لعن کړے دے په شرابو، د هغې په څښُونکي، د هغې په څښَوُنکي، د هغې په خرڅونکي او اخستونکي، د هغې

پۀ نچوړونکي، د هغې پۀ اُوړونکي او چا ته چې وړے کيږي پۀ هغۀ ـ (ابوداؤد ، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺپۀ دريو کسانو لعنت ويلے دے: هغه سړے چې د يو قوم امامت کوي او هغوی دے نۀ خوښوي، هغه ښځه چې شپه تېره کړي او خاوند پرې غصه وي او هغه سړے چې حَیّ عَلَی الفَلَاح (راشئ کاميابئ ته) واوري او جواب ورنکړي (نمانزۀ له لاړ نۀ شي) ـ (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: شپږ تنه دي چې ما پرې لعنت ويلے دے او الله تعالیٰ پرې لعنت کړے دے او د هر نبي دعاء قبليږي: د الله تعالیٰ پۀ کتاب کښې زيات څۀ بيانونکے (د حد نه اوختونکے)، د الله تعالیٰ تقدير دروغ گڼونکے، پۀ زور حکومت اخستونکے دپاره د دې چې د عزت والا کړي هغه څوک کوم چې الله تعالیٰ د ذلت والا کړے وي او د ذلت والا کړي هغه څوک کوم چې الله تعالیٰ د عزت والا کړے وي، د الله تعالیٰ د حرم حلالونکے (چې ناجائز څۀ پکښې وکړي)، زما د اهل او اولاد نه حلالونکے د هغه څۀ چې الله تعالیٰ حرام کړي دي، او زما د سنت پرېښونکے ـ (بيهقي ، رزين)

۞ رسول اللهﷺ لعنت ويلے دے پۀ رشوت ورکونکي او رشوت اخستونکي باندې ـ (ابوداؤد ، ترمذي)

۞ د ابن عمرؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺلعنت ويلے دے پۀ هغه چا څوک چې د روح والا څيز (د ويشتو دپاره) نښه جوړ کړي ـ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: ملعون دے هغه څوک کوم چې د ښځې سره د روستو طرف نه ملاؤ شي ـ (ابوداؤد ، نسائي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ دِ لعنت وکړي پۀ هغه چا څوک چې يو ړوند د لارې نه بل خواه کړي ـ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ (پۀ مختلفو حديثونو کښې) فرمائيلي دي: د الله تعالیٰ لعنت دے (لعنت ئې کړے دے) پۀ سود خوړونکي باندې، پۀ تصويرونو جوړونکو باندې، پۀ هغه کس چا چې د زمکې حدونه بدل کړۀ، پۀ غلاکونکي باندې چې (يوه) هګۍ پټوي، پۀ هغه چا څوک چې پۀ خپل پلار او مور لعن کوي، پۀ هغه چا چې غير الله له (د غير الله پۀ نوم) ذبح وکړي، پۀ يهودو باندې چې د خپلو نبيانو قبرونه نه ئې جماتونه جوړ کړل، او پۀ هغه سړو چې د ښځو پۀ شان کيږي او پۀ هغه ښځو چې د سړو پۀ شان کيږي۔ (رياض الصالحين)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ فرمائي: ما څۀ داسې خلق پيدا کړي دي د چا ژبې چې د ګبين نه زياتې خوږې او د چا زړونه چې د مرَغوني نه زيات تراخۀ دي، ما پۀ خپل ځان قسم خوړلے دے چې داسې فتنه به پرې راولم چې صبرناک به ورله هم حيران پريږدي۔ دوی پۀ ما دوکه خوري؟ يا پۀ ما جرأت (زړه ور توب) کوي؟ (ترمذي)

بعضې خلق چې نيک عمل به ئې قبول نۀ وي

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د دې دپاره خبرې ازده کړي (يا علم حاصل کړي) چې د خلقو زړونه ځان ته راواړوي نو د قيامت پۀ ورز به الله تعالیٰ نۀ د هغۀ نفل قبول کړي او نۀ فرض (يا نۀ توبه او نۀ فديه)۔ (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د خپل پلار نه علاوه بل چا ته خپل نسبت وکړي يا څوک د خپلو مواليو (آزادونکو يا مالکانو) نه علاوه بل چا ته ځان منسوب کړي نو پۀ هغۀ د الله تعالیٰ، د فرښتو او د ټولو خلقو لعنت، د قيامت پۀ ورز به ترې الله تعالیٰ نۀ فرض قبلوي او نۀ نفل۔ (متفق عليه)

۞ رسول اللهﷺوفرمائيل: کوم سړے چې د مسلمانانو د څۀ خدمت والي مقرر کړے شوے وي او هغه پۀ خپلې ذاتي دوستۍ سره څوک د خلقو امير (مشر) مقرر کړي نو پۀ هغۀ د الله تعالیٰ، د فرښتو او د ټولو خلقو لعنت۔ الله

تعالیٰ به ئې نۀ نفل عبادت قبلوي او نۀ فرض دې پورې چې جهنم ته به ئې وغورزوي. (احمد ، حاكم)

بعضې خلق چې نمونځ ئې نۀ قبليږي

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې تنه دي چې نمونځ ئې نۀ قبليږي: هغه سړے چې د يو قوم امامت ته مخكښې كيږي او هغوی د دۀ ناخوښونكے وي، هغه سړے چې نمانځۀ له پۀ داسې وخت كښې رازي چې مونځ ترې شوے وي، او هغه سړے چې يو آزاد كس غلام جوړ كړي. (ابوداؤد ، ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې كسان دي چې نمونځ ئې د سرونو نه يوه لوېشت هم نۀ پورته كولے كيږي: هغه سړے چې د يو قوم امامت كوي او دوی د هغۀ خوښونكے نۀ وي، هغه ښځه چې شپه تېره كړي پۀ داسې حال كښې چې خاوند ترې ناراضا وي، او د يو بل نه قطع تعلق كونكي دوه (مسلمانان) رونه. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې كسان دي چې د هغوی نمونځ د هغوی د غوږونو نه نۀ اوړي (نۀ قبليږي): تختېدلے غلام دې پورې چې واپس راشي، هغه ښځه چې شپه تېره كړي او خاوند پرې غصه وي، او د يو قوم والو امام چې هغوی ترې ناراضا وي. (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارك كښې مروي دي: بېشكه الله تعالیٰ د لنګ (پرتوګ وغيره) اوږدونكي او ښكته ساتونكي مونځ نۀ قبلوي. (احياء)

بعضې د دې ارشاد والا خلق چې "زمونږ نه نۀ دے"

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې زمونږ د سنت (طريقې) نه بغير څۀ عمل وكړو هغه زمونږ نه نۀ دے. (الجامع الصغير)

❁رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارك كښې وفرمائېل: چا چې د نيكۍ حكم ونكړو او د بدۍ نه ئې منع ونكړه هغه زمونږ نه نۀ دے. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ ارشاد فرمایۀ: چا چې زمونږ پۀ وړکي رحم ونکړو او زمونږ د لوئے حق ئې ونۀ پېژندۀ هغه زمونږ نه نۀ دے. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې د چا پۀ داسې څۀ شي دعویٰ وکړي چې د دۀ نۀ وي نو دے زمونږ نه نۀ دے. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې زمونږ سره دوکه وکړه هغه زمونږ نه نۀ دے . (مسلم، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې څۀ لوټ وکړو هغه زمونږ نه نۀ دے. (ابن ماجه، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د خپلو برېتو نه وانخستۀ نو هغه زمونږ نه نۀ دے. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې پۀ خپله خوښه او پۀ زور ځان پۀ ذلّت کښې وغورزوۀ هغه زمونږ نه نۀ دے. (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: څوک چې پۀ تاسو کښې د طاقت خاوند وي چې نکاح کولے شي او ونکړي نو هغه زمونږ نه نۀ دے. (ابوداؤد في مراسیله، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې پۀ مونږ (پۀ مسلمانانو) وسله اوچته کړه هغه زمونږ نه نۀ دے. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې مخونه وُوهل، ګرېوانونه ئې وشلول او د جاهلیت چغه ئې وویسته نو هغه زمونږ نه نۀ دے. (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روایت کړے شوے دے: چا چې د خپله لاسه ځان پۀ ذلّت کښې واچوۀ هغه زمونږ نه نۀ دے. (طبراني)

بعضې خلق چې الله ورسره بغض ساتي

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ د هغه چا سره بغض ساتي کوم چې متکبر وي، مال جمع کونکے وي او خرچ کونکے نۀ وي، په بازارونو کښې شور کوي، د شپې د مرداړې په شان پروت وي او د ورځې د خر په شان لګيا وي، د دنيا په کارونو ښۀ پوهيږي او د آخرت په کارونو نۀ پوهيږي۔ (احياء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالیٰ فحش ويونکي او بده وينا کونکي سره بغض ساتي۔ (ترمذي)

بعضې درې د الله د بغض والا او هغۀ ته د ټولو نه ناخوښ کسان

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ د دريو کسانو سره بغض ساتي: بوډا زناکار، بخيل احسان زبادونکے او متکبر بال بچه دار۔ (ترمذي، نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: درې کسان دي چې الله تعالیٰ ورسره بغض ساتي: قسم خوړونکے تاجر (يا خرڅونکے)، تکبر لرونکے فقير او نيکي زبادونکے شوم ۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ ته د ټولو نه ناخوښ درې کسان دي: په حرم کښې الحاد کونکے (محارم حلال ګڼونکے، د هغې بې حرمتي کونکے)، په اسلام کښې د جاهليت طريقه لټونکے او په ناحقه د مسلمان د وينې طلب کونکے چې وې بيوي۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ ته په مخلوق کښې د ټولو نه ناخوښ هغه کس دے کوم چې د ټولو نه زيات جګړالو، فيصله مار وي۔ (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ ته د ټولو نه ناخوښ خلق چغلي کونکي او د (مسلمانانو) رونو په مينځ کښې جدائي راوستونکي دي۔ (طبراني)

د الله د شر د ارادې والا څۀ خلق

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ چې د يو بنده سره د شر اراده کوي نو د هغۀ د ګناه پۀ سزا کښې روستو والے کوي چې پۀ قيامت کښې ورته پوره سزا ورسي. (ترمذي، احمد، طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې الله تعالیٰ د يو بنده سره د شر اراده وکړي نو د هغۀ مال پۀ اُوبو او خټو کښې ختم کړي. (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث شريف کښې روايت کړے شوے دے: کله چې الله تعالیٰ يو قوم والو له د شر اراده کوي نو پۀ هغوی بې وقوفه خلق حکمرانان کوي او د هغوی فيصلے جاهلان کوي او مال بخيلانو له ورکوي. (الجامع الصغير)

قيامت کښې سخت ارمان کونکي څۀ خلق، دنيا کښې خوشحاله هلته بدحاله څۀ خلق

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: تباهي ده د مالدارانو دپاره، تباهي ده د قبيلې د مشر دپاره، تباهي ده د امانت اېښودونکي دپاره. د قيامت پۀ ورز به دا کسان ارمان وکړي چې پۀ دنيا کښې دوی د زمکې او آسمان پۀ مينځ کښې نسکور زوړند کړے شوے وے خو نن د دې عذاب نه بچ وے. (ابن حبان)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت پۀ ورز به يو څورب او غټ سړے راشي د الله تعالیٰ پۀ نز به ئې د ماشي د وزر هومره هم وزن (قدر) نۀ وي. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: ډېر د خلقو پۀ نزد د ژبې چالاک او ښکلي کسان داسې دي چې صبا پۀ قيامت کښې به هلاکېږي. (حالات ومقاماتِ صحابه)

بعضې خلق چې قيامت کښې به د الله پۀ نزد د ټولو نه بد او هغۀ ته د ټولو نه ناخوښ وي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت پۀ ورز به پۀ انسانانو کښې د الله تعالیٰ پۀ نزد د ټولو نه بد سړے هغه وي کوم چې خلق د هغۀ د شر نه د بچ کېدو دپاره پرېږدي. (بخاري، مسلم، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت پۀ ورز به د الله تعالیٰ پۀ نزد د هغۀ پۀ بندګانو کښې د ټولو نه بد سړے ظالم او سخت بادشاه وي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ پۀ نزد به د قيامت پۀ ورز پۀ درجه کښې د ټولو نه پۀ بدو خلقو کښې يو هغه بنده وي کوم چې د بل د دنيا دپاره خپل آخرت ضائع کړي. (ابن ماجه، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت پۀ ورز به د الله تعالیٰ پۀ نزد د ټولو نه پۀ بدو خلقو کښې د دوۀ مخونو والا کس وي. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت پۀ ورز به الله تعالیٰ ته پۀ خلقو کښې د ټولو نه ناخوښ (يا د ټولو نه د سخت عذاب والا) ظالم بادشاه وي. (ترمذي)

رسول اللهﷺ ته د ټولو نه ناخوښ او قيامت کښې د هغۀ نه پۀ ټولو کښې لرې څۀ خلق

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ تاسو کښې چې څوک ما ته د ټولو نه زيات ناخوښ دي پۀ هغوی کښې څۀ هغه دي چې پۀ خلقو پورې ټوقې کوي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قيامت کښې به پۀ تاسو کښې ما ته د ټولو نه ناخوښ او زما نه د ټولو نه لرې خلق تکبر کونکي وي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ تاسو کښې ما ته د ټولو نه ناخوښ هغه خلق دي او د قیامت پۀ ورز به پۀ تاسو کښې زما نه د ټولو نه لرې هغه څوک وي کوم چې پۀ تاسو کښې د ټولو نه زیات د بدو اخلاقو والا وي. (بیهقي)

بعضې درې درې کسان چې الله به ورسره قیامت کښې خبرې نۀ کوي نۀ به ورته ګوري نۀ به ئې پاکوي

❁ د ابوذر رضي الله عنه نه روایت دے: رسول اللهﷺ وفرمائیل: درې کسان دي چې الله تعالیٰ به د قیامت پۀ ورز نۀ د هغوی سره خبرې کوي، نۀ به ورته (د رحمت پۀ نظر) ګوري او نۀ به ئې پاکوي او هغوی له به دردناک عذاب وي. ابوذر رضي الله عنه وفرمائیل: پۀ تاوان او خساره کښې شو، څوک دي هغه اے د الله رسو له؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پینڅه اوږدونکے، نیکي زبادونکے او د دروغو پۀ قسم سودا خرڅونکے. (مسلم، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: درې کسان دي چې د قیامت پۀ ورز به ورسره نۀ الله تعالیٰ خبرې کوي، نۀ به ورته (د رحمت پۀ نظر) ګوري او نۀ به ئې پاکوي او هغوی له به دردناک عذاب وي: یو هغه سړے دے چې پۀ صحرا کښې پۀ سِوا اُوبو بُخل وکړي او مسافر له ئې د ورکولو نه انکار وکړي، دویم هغه سړے دے چې د مازیګر نه روستو د یو سړي سره د یو شي بیع کوي نو پۀ الله تعالیٰ قسم وُخوري چې ما دا پۀ دومره دومره اخستے دے او هغه دے رشتونے وګڼي او دے داسې نۀ وي، او دریم هغه سړے دے چې د یو بادشاه (حکمران) بیعت صرف د دنیا (مال) دپاره وکړي نو کۀ هغه ورله څۀ ورکړي نو وفا ورسره وکړي او کۀ ورله څۀ ورنکړي نو وفا ورسره ونکړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: درې کسان دي چې الله تعالیٰ به ورسره د قیامت پۀ ورز نۀ خبرې کوي او نۀ به ئې پاکوي (پۀ یو روایت کښې دي چې نۀ به ورته

د رحمت نظر کوي: بوډا زناکار، دروغجن بادشاه او غريب تکبر کونکے۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې کسان دي چې الله تعالىٰ به د قيامت په ورز هغوی ته (د رحمت) نظر نۀ کوي: سرکش متکبر، د ورکړې شي زبادونکے او سودا په قسم سره خرڅونکے۔ (مسلم)

درې کسان چې قيامت کښې به ئې الله خصم وي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالىٰ فرمائي: درې تنه دي چې د قيامت په ورز به ئې زۀ خصم يم (فيصله به ورسره کوم): يو هغه سړے چې زما په نوم ئې لوظ (عهد) وکړو او بيا ئې مات کړو، دويم هغه سړے چې يو آزاد کس ئې خرڅ کړو او پيسې ئې وخوړې او دريم هغه سړے چې يو مزدور ئې ونيسۀ، پوره کار ئې ترې واخستۀ او د هغۀ مزدوري ئې ورنکړه (يا ئې پوره ورنکړه)۔ (بخاري، ابن ماجه، احمد)

قيامت کښې د ټولو نه د سخت عذاب والا څۀ خلق

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: قيامت کښې به د ټولو نه سخت عذاب د هغه سړي وي چا چې يو پېغمر قتل کړو يا يو پېغمبر هغه قتل کړو، او د هغه چا چې خپل مور او پلار ئې قتل کړل، او د تصويرونو جوړونکو، او د هغه عالم چې د خپل علم نه فائده وانخلي۔ (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د قيامت په ورز به د ټولو نه سخت عذاب د هغه چا وي څوک چې په مجلس کښې ناست وي خلق خندوي۔ (ترغيب)

بعضې درې کسان چې جنت ته به نۀ زي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې کسان دي چې جنت ته به نۀ شي تلے: د شرابو عادي، قطع رحمي کونکے او د سحر (جادو) رشتيا گڼونکے۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې کسان دي چې الله تعالىٰ پرې جنت حرام کړے دے: د شرابو عادي، عاق (د مور او پلار نافرمان، ناشکره) او هغه ديوث چې په خپل کور والو کښې بدکاري قائمه کړي. (احمد، نسائي)

بعضې نور خلق چې جنت ته به نۀ زي

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: جنت ته به نۀ زي هغه څوک د چا په زړۀ کښې چې د غوښتو د دانې (يا د يوې ذرې) په مقدار هم تکبر وي. (مسلم)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي بخيل، دوکه باز، خيانت کار او بداخلاقه سړے (يا دوکه باز، بخيل او بداخلاقه سړے، يا مکار، بخيل او نيکي زبادونکے سړے، يا بخيل، جبر کونکے او بداخلاقه سړے). (احمد، ترمذي، احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي نيکي زبادونکے، عاق (د مور او پلار نافرمان، ناشکره) او د شرابو عادي سړے. (نسائي، ابوداؤد، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي عاق (يا ولدِ زنا)، جوارګر، نيکي زبادونکے او د شرابو عادي سړے). (دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي قطع رحمي کونکے. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي د خلقو خبرو تۀ غوږ ايښودونکے او د هغوی پټې خبرې معلومونکے سړے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي چغلخور (خبرې وړونکے راوړونکے) سړے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي هغه څوک د چا ګاونډي چې د هغۀ د شرونو نه په امن نۀ وي. (مسلم، بخاري، ابن ابی الدنيا)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي داسې بدن چې پۀ حرام رزق غټ شوے وي - (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته به نۀ زي مکس والا يعني هغه کس څوک چې د خلقو نه عُشر ټولوي (او پۀ ظلم ترېنه زيات څۀ اخلي) - (ابوداؤد ، دارمي)

❁ د رسول اللهﷺنه پۀ يو حديث مبارک کښې مروي دي: جنت ته به نۀ زي چا چې شک وکړو - (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: جنت ته به نۀ زي زما د اُمت لس قسمه خلق: قلاع (د مالدارانو خوا له تلونکے)، جيوف (کفن پټونکے)، قتات (چغلخور)، دبوب (خپل کور کښې جينکۍ د بدکارۍ دپاره جمع کونکے)، ديوث (پۀ خپله ښځه غيرت نۀ خوړونکے)، صاحب العرطبه (ډول وهونکے)، صاحب الکوبه (ستار وغيره غږونکے)، عتل (د چا ګناه او غلطي نۀ معاف کونکے او عذر نۀ قبلونکے)، زنيم (کمينه)، او عاق (د مور و پلار نافرمان) - (المنبهات)

دوزخ ته تلونکي څۀ خلق

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: دوزخيان پينځۀ تنه دي: هغه کمزورے چې عقل ئې نۀ وي چې پۀ تاسو کښې تبع (يعني پۀ نورو پسې تلونکے يا د مالدارو نه چاپېره ګرزېدونکے يا طفيلي) وي، د اهل (کور، بال بچ) او مال طلب نۀ کوي؛ هغه خيانت کونکے چې طمع ئې نۀ پټيږي کۀ ډېر معمولي څۀ وي خو خيانت پکښې کوي؛ هغه سړے چې کۀ سحر وي او کۀ ماښام خو تا له به ستا د کور والو او د مال د وجې نه دوکه درکوي؛ او رسول اللهﷺ بخيلتوب يا دروغ ويېل ذکر کړۀ او بداخلاق، فحش ويونکے سړے (ئې ذکر کړو) - (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: شپږ کسان دي چې د حساب کتاب نه به يو کال مخکښې دوزخ ته داخلېږي. عرض وکړے شو: اے د الله رسوله هغه څوک دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اميران (حکمرانان) به په ظلم سره، عربيان به په عصبيت سره، مشران (چودريان، خانان وغيره) به په تکبر سره، تجارت کونکي به په خيانت سره، باندہ چيان به په جهالت سره او عالمان به په حسد سره. (ديلمي)

کتاب: مستقبل، روستو وخت

باب: روستني څۀ احوال

د اُمت فرقې کېدل، پخوانۍ طريقې خپلول

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: يهوديان يو اويا (يا دوه اويا) فرقې شوي وو او زما اُمت به درې اويا فرقې کيږي. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېل: زما اُمت به څۀ دپاسه اويا فرقې شي، د ټولو نه د لوئې فتنې خلق به څۀ داسې کسان وي چې د معاملو اندازه او قياس به په خپلې رائے سره کوي نو حرام به حلالوي او حلال به حراموي. (بزار)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قسم مِ دِ په هغه ذات وي د چا په لاس کښې چې زما نفس (روح) دے! تاسو به ضرور ستاسو نه مخکښې چې څوک وو د هغوی په طريقه (لارې) زئ. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خامخا به تاسو د مخکښېنو خلقو طريقې اتَه په اتَه او ګز په ګز او لوېشت په لوېشت خپلوئ دې پورې چې کۀ هغوی د سمسارې سوړې ته ننوتي وي نو تاسو به هم ننوزئ. صحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! يهود او نصاریٰ؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نو څوک؟ (ابن ماجه)

بد نه بد خلق او حالات راتلل

✿ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ټولو نه غوره خلق زما د زمانې والا دي بيا هغه چې پۀ دوی پسې به وي بيا هغه چې پۀ هغوی پسې به وي. (بخاري)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ضرور به پۀ تاسو کښې انول کېږي ځنګه چې پۀ کجورو کښې انول کېږي. ستاسو نه به غوره لاړ شي او بد به پاتې شي نو تاسو مړۀ شئ کۀ مړۀ کېدے شئ. (ابن ماجه)

✿رسول اللهﷺ وفرمائيل: نيکان خلق به لاړ شي اول او ورپسې اول او پاتې به شي ردي لکه ردي حصه د وربشو يا د کجورو، الله تعالىٰ به ئې هيڅ پروا نۀ کوي. (بخاري)

✿رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: خلق به داسې شي چې د يو بل سره به خرڅول او اخستل کوي نو يو به هم امانت نۀ ادا کوي تر دې چې ويلے کيږي به چې پۀ فلانې خاندان ياقوم کښې يو امانتدار سړے دے او تر دې چې يو سړي ته به ويلے کيږي چې دے څومره چاق (مضبوط) دے! دے څومره چالاک دے! دے څومره هوښيار دے! حالانکه د هغۀ پۀ زړۀ کښې به د رائي د دانې مقدارې هم ايمان نۀ وي. (ترمذي)

✿ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: په خلقو به څۀ دوکه ورکونکي کلونه رازي چې پۀ هغې کښې به دروغجن رشتيا وايي (يا به رشتونے کيږي) او رشتونے به دروغ وايي (يا به دروغجن کيږي)، خيانت کار به پکښې امانت دار جوړيږي او امانت دار خيانت کار، او لاندې، بې وقوفه او (د عوامو د معاملاتو نه) ناپوهه سړے به پکښې خبرې کوي (د جرګو وغيره مشري به کوي). (ابن ماجه)

✿رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت نه مخکښې به خاصو خلقو ته سلام کول وي، د تجارت خورېدل به وي تر دې چې ښځه به پۀ تجارت کښې د خپل

خاوند مدد کوي، قطع رحمي کول به وي، د قلم (یا د علم) خورېدل به وي، د دروغو د ګواهۍ ظاهرېدل او د حقې ګواهۍ پټول به وي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: معامله نۀ ده روانه مګر سختۍ طرف ته او دنیا نۀ ده روانه مګر روستووالي طرف ته او خلق نۀ دے روان مګر حرص او بخل طرف ته او قیامت به نۀ قائمېږي مګر د ټولو نه پۀ بدو خلقو. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: یا الله! ما دِ هغه زمانه وُنۀ مومي (یا ئې وفرمائېل چې) تاسو دِ هغه زمانه وُنۀ مومۍ پۀ کومه کښې چې به نۀ د عالم خبره اورېدے کېږي او نۀ به د صبرناک سړي نه حیا کېږي، د هغه خلقو زړونه به د عجمیانو زړونه او د هغوی ژبې به د عربیانو ژبې وي. (احمد)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: نزدې ده چې قومونه پۀ تاسو داسې راجمع شي لکه خوراک خوړونکي چې پۀ کاسه (مجمع) راجمع کېږي. یو ویونکي ووې: د کم والي د وجې نه زمونږ پۀ هغه وخت کښې؟رسول اللهﷺ وفرمائېل: نا، بلکې پۀ هغه وخت کښې به تاسو ډېر یۍ لیکن تاسو به د سیلاب د زګ پۀ شانه زګ یۍ او الله تعالیٰ به ستاسو د دشمن د سینو نه ستاسو یره وباسي او ستاسو پۀ زړونو کښې به وهن واچوي. یو ویونکي ووې: اے د الله رسوله! وهن څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دنیا محبت او د مرګ ناخوښول. (ابوداؤد وغیره)

پۀ بدو خلقو او حالاتو کښې یو حکم

❁ رسول اللهﷺ عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ته وفرمائېل: اے د عمرو زویه! هغه وخت به ستا څۀ حال وي کله چې به تۀ د نااهله خلقو پۀ مینځ کښې پرېښوے شې د چا چې به وعدې او امانتونه ټول بېکاره وي، څوک چې به د یو بل سره داسې اختلافات کوي لکه ګوتې چې پۀ یو بل کښې ننوزي؟ هغۀ عرض وکړو: پۀ داسې وخت کښې ما ته څۀ حکم دے؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ هغه څۀ

عمل کوه څۀ چې تۀ حق ګڼې او د هغه څۀ نه لرې کېږه څۀ چې ناحق ګڼې او د خلقو پۀ خيالونو او خبرو کښې مۀ پرېوزه او دعوامونه جدا ووسه. (مشکوٰة)

❁ رسول اللّٰهﷺ ابوثعلبهؓ ته وفرمائېل: کله چې تۀ وينې چې د حرص، بخيلئ او د نفس د خواهش پيروي کيږي او دنيا له پۀ آخرت غوره والے ورکولے کيږي او هر سړي ته خپله رائے ښۀ ښکاريږي نو پۀ داسې حال کښې تۀ د صرف د خپل ځان پۀ فکر کښې شه او د عوامو خبره پرېږده. (ترمذي، ابن ماجه)

د بدو خلقو پۀ مينځ کښې د ثواب يوه لار

❁ روايت دے چې رسول اللّٰهﷺ (د صحابو پۀ جماعت کښې) وفرمائېل: ياد وساتئ ستاسو نه روستو به څۀ داسې خلق راشي د چا حکومت چې به د قتل او سختئ نه بغير نۀ وي، د چا مالداري چې به د بخيلئ نه بغير نۀ وي او د چا محبت چې به د شهوتونو (خواهشونو) نه بغير نۀ وي. ياد وساتئ چا ته چې دا زمانه ملاؤ شي او هغه پۀ مالدارئ د قدرت لرلو باوجود پۀ فقيرئ صبر وکړي، پۀ محبت د قدرت لرلو باوجود پۀ دشمنئ صبر وکړي او پۀ عزت د قدرت لرلو باوجود پۀ ذلت صبر وکړي او د دې نه د الله تعالیٰ د رضامندئ نه علاوه نور څۀ د هغۀ مقصود نۀ وي نو الله تعالیٰ به هغۀ له د پنځوستو صديقينو ثواب ورکړي. (ابن ابی الدنيا ، بيهقي)

د بعضو بدو خبرو زمانه راتلل

❁ د رسول اللّٰهﷺ نه روايت کړے شوے دے: زما پۀ اُمت به يوه زمانه راشي چې د ايمان به صرف نوم پاتې شي او د اسلام نه به رواج جوړ شي او قرآن به صرف د لوستو يو کتاب شي. کشران به بدعمله وي او مشران به دروغجن وي . د خلقو قبله به صرف روپئ وي. د هغوئ توجه به ښځو طرف ته او د هغوئ کوشش به د ګېډې ډکولو وي. د هغوئ کارونه به د شيطان د کارونو پۀ شان

وي. د هغوی خبرې به صرف د دنيا په باره کښې وي. دغه ټول لعنتيان دي او همېشه به پرې لعنت وي. (تذکرة الواعظين)

۞ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم ارشاد مروي دے: زما په اُمت به يو زمانه راشي چې د هغوی په سينو کښې به قرآن داسې زوړ شي لکه په بدنونو چې جامې زړېږې. د هغوی ټوله معامله به د طمعې او اُميد وي، يره به پکښې نهٔ وي. کهٔ څوک څهٔ ښهٔ وکړي نو وايي به چې قبول به کړے شي او کهٔ بد وکړي نو وايي به چې معاف به کړے شي. (ديلمي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: زما په اُمت به يوه زمانه راشي چې د هغوی بادشاهان به ظالمان او د هغوی عالمان به حارصان وي؛ د هغوی عبادت به د ريا دپاره وي او د هغوی ښځې به د دنيا په ډول سنګارکښې اخته وي. (قرة الواعظين)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: زما په اُمت به يوه زمانه راشې چې مالدار خلق به د سيل او تفريح دپاره حج کوي، مينځني خلق به د تجارت دپاره حج کوي او فقيران به د خلقو نه د سوال کولو دپاره حج کوي. (رواه ابوالفرج)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په خلقو به يوه زمانه راشي چې هيڅوک به داسې پاتې نهٔ شي چې سود (ربا) ونخوري، کهٔ ونخوري نو د هغې د بخار (يا دوړې) نه به ورته ورسي. (احمد، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په خلقو به يوه زمانه راشي چې په هغې کښې به نفع نهٔ ورکوي مګر درهم او دينار. (احمد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: په خلقو به يوه زمانه راشي چې څوک څهٔ شے اخلي نو دا پروا به نهٔ کوي چې دا حلال دے او کهٔ حرام. (بخاري، نسائي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: په خلقو به يوه زمانه راشي چې د اسلام به صرف نوم او د قرآن به صرف نقشونه پاتې شي، د هغوی جماتونه به

جوړ وي خو د هدايت نه به خالي وي، د هغوی عالمان به د آسمان نه لاندې د ټولو نه بد خلق وي، د دوی نه به فتنې پورته کيږي او هم دوی ته به واپس کيږي ـ (بيهقي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: په خلقو به يوه زمانه راشي چې مومن به پټکښې عامو خلقو له دعاء غواړي نو الله تعالیٰ به ورته وايي چې خاص خپل ځان له دعاء غواړه زه به ئې درله قبلوم، په عامو خلقو زه غصه يم ـ (ابونعيم، بوادر النوادر)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: يوه زمانه به راشي چې خلق به په جوماتو نو کښې حلقې (ټولګي) جوړوي او د هغوی سوچ فکر او خبرې به صرف د دنيا دپاره وي ـ هغوی ته د الله تعالیٰ هيڅ حاجت نيشتے، تاسو ورسره مه کښېنئ ـ (حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: په خلقو به يوه زمانه راشي چې هغوی به خبرې په ژبو خوري لکه غوا چې واښه په ژبه خوري ـ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: په خلقو به يوه زمانه راشي چې په خپل دين به ټينګېدونکے داسې وي لکه د اور په انګاره ټينګېدونکے ـ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: زما په اُمت به داسې زمانه راشي چې خلق به د پينځو څيزونو سره محبت ساتي او پينځه څيزونه به هېروي: دنيا سره به محبت ساتي او آخرت به هېروي، کورونو سره به محبت ساتي او قبرونه به هېروي، مال سره به محبت ساتي او حساب کتاب به هېروي، بال بچ سره به محبت ساتي او د جنت نعمتونه به هېروي، او خپل ځان سره به محبت ساتي او الله تعالیٰ به هېروي ـ دا خلق زما نه بري دي او زه د دوی نه بري يم ـ (المنبهات)

د آخرې زمانې څۀ حال

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ آخره زمانه کښې به څۀ داسې سړي راوزي چې دنیا به پۀ دین سره طلب کوي، خلقو له به د نرم والي نه د ګډو څرمنې اغوندي، ژبې به ئې د شکرو نه زیاتې خوږې وي او زړونه به ئې د شرمخانو زړونه وي ـ الله تعالیٰ فرمائي: اے تاسو پۀ ما دوکه خورئ یا پۀ ما جرأت کوئ؟ ما قسم کړے دے چې یوه داسې فتنه به پرې راوچته کړم چې صبرناک کس به هم حیران کړي ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ آخره زمانه کښې به څۀ داسې خلق وي چې پۀ ښکاره به رونه وي او پۀ پټه به دشمنان وي ـ عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! د غه به څنګه وي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: یو بل طرف ته د رغبت لرلو او د یو بل نه د یرېدو پۀ وجه ـ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ آخره زمانه کښې به جاهلان عابدان او فاسقان عالمان وي ـ (حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ آخره زمانه کښې به دجالان، دروغ ویونکي کسان وي ـ (حجة الله البالغه)

د خلقو نه امانتداري ختمېدل

❁ د حذیفه رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ مونږ ته دوه حدیثونه بیان کړۀ ـ پۀ هغو کښې یو ما لیدلے دے او د بل زۀ انتظار کوم ـ مونږ ته ئې بیان وفرمایۀ چې امانت (دین) د خلقو د زړونو پۀ وېخ کښې نازل شو، بیا قرآن نازل شو نو هغوئ د قرآن نه څۀ ازده کړۀ او د سنت نه ئې څۀ ازده کړۀ ـ بیا رسول اللهﷺ مونږ ته د امانتو د پورته کېدو پۀ باره کښې وفرمائېل، ارشاد ئې وفرمایۀ: سړے به پۀ خوب اودۀ شي نو امانت به ئې د زړۀ نه قبض کړے شي او د هغې اثر به د یو داغ پۀ شانې پاتې شي، بیا به اودۀ شي نو امانت به ئې د زړۀ

نه قبض کړے شي او اثر به ئې د پولې پهٔ شانې پاتې شي لکه انګاره چې تهٔ پهٔ خپلې پنډۍ ورغړوې او پولۍ جوړې شي او تهٔ ئې رااوچتې اېنې۔ (د مثال دپاره) هغوی یو کاڼے رااخستهٔ او پهٔ خپلې پنډۍ مبارکې ئې ورغړولو۔ خلق به د یو بل سره اخستل څرڅول (معاملات) کوي، یو به هم امانت نهٔ ادا کوي تردې چې ویلے کیږي به چې پهٔ فلانو کښې یو امانتدار سړے دے... (مسلم)

د فکر یو حدیث

۞ د ابوامامه باهلي رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله ﷺ وفرمائیل: ستاسو به څهٔ حال وي چې ستاسو ښځې سرکشه او ستاسو ځوانان فاسقان شي او تاسو خپل جهاد پرېږدۍ؟ صحابو عرض وکړو: داسې به کیږي اے د الله رسوله؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: آ، او پهٔ هغه ذات مې دِ قسم وي د چا پهٔ لاس کښې چې زما روح دے! د دې نه به هم سخت څهٔ کیږي۔ صحابو عرض وکړو: د دې نه به سخت څهٔ وي اے د الله رسوله؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: ستاسو به څهٔ حال وي چې تاسو د نیکۍ حکم نهٔ کوۍ او د بدۍ نه نهٔ منع کوۍ؟ صحابو عرض وکړو: داسې به کیږي اے د الله رسوله! رسول الله ﷺ وفرمائیل:آ، او پهٔ هغه ذات مې دِ قسم وي د چا پهٔ لاس کښې چې زما روح دے! د دې نه به هم سخت څهٔ کیږي۔ صحابو عرض وکړو: د دې نه به سخت څهٔ وي اے د الله رسوله؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: ستاسو به څهٔ حال وي چې تاسو نیکي بدي او بدي نیکي وګڼۍ؟ صحابو عرض وکړو: داسې به کیږي اے د الله رسوله؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: آ، او پهٔ هغه ذات مې دِ قسم وي د چا پهٔ لاس کښې چې زما روح دے! د دې نه به هم سخت څهٔ کیږي۔ صحابو عرض وکړو: د دې نه به سخت څهٔ وي اے د الله رسوله؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: ستاسو به څهٔ حال وي چې تاسو د بدۍ حکم کول او د نیکۍ نه منع کول وکړۍ؟ صحابو عرض وکړو: داسې به کیږي اے د الله رسوله؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: آ، او پهٔ هغه ذات مې دِ قسم

وي د چا پۀ لاس کښې چې زما روح دے! د دې نه به هم سخت څۀ کيږي؛ الله تعالیٰ فرمائي: پۀ خپل ځان مِ دِ قسم وي پۀ دوی به داسې فتنه راولم چې پکښې به صبر ناک سړے هم حيران وي۔ (احياء)

بعضې بدې خبرې راتلل چې ورپسې به سخت عذابونه او نښې وي

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې مالِ غنيمت دولت وګڼلے شي، امانت غنيمت وګڼلے شي، زکوٰة تاوان وګڼلے شي، علم د دين پۀ ځائے دنيا له استعمالېدل شي، سړے د خپلې ښځې خبره اوري او د مور و پلار نافرماني کوي، خپل دوست نزدې کوي او مور و پلار لرې کوي، پۀ جماتونو کښې آوازونه اوچتېدل شروع شي، د يوې قبيلې مشر پۀ هغې کښې فاسق (او بې وقوفه) سړے شي، د قوم د ټولو نه ذليل او رذيل سړے د هغو ذمه دار شي، د يو سړي عزت د هغۀ د شر نه د بچ کېدو دپاره کېدل شي، سندرې ويونکې ښځې او د موسيقۍ سامان عام شي، شراب څښلے کيږي، د دې اُمت روستني خلق پۀ ړومبنو لعن طعن کوي، نو تاسو د سرو سيلو، زلزلو، پۀ زمکه کښې د ننوتو، د مخونو د ورانېدو، د آسمان نه د ګټو د ورېدو او د نورو نښو داسې د راتلو انتظار وکړۍ لکه د هار مزے چې وشليږي او دانې پۀ يوه مخه ارتاويږي ۔ (ترمذي)

فتنې، سختې، آزمائشونه، قتلونه

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: فتنه، جدائي او اختلاف به رازي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د دنيا نه څۀ پاتې نۀ شو سوا د آزمائش او د فتنې نه۔ (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: ځان د فتنو نه بچ وُساتۍ چې ژبه به پکښې د تورې د ګزار پۀ شان وي (يا به د تورې نه زياته سخته وي)۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: داسې فتنې به رازي چې ناست سړے به پکښې د ولاړ نه، ولاړ د روان نه او روان د منډه وهونکي نه غوره وي. څوک چې ورته کتل وکړي نو هلاک به ئې کړي. د پناه څۀ ځائے چې پکښې څوک ومومي نو پناه دِ واخلي. (مسلم)

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: عملونه وکړئ مخکښې د داسې فتنو نه لکه د تورې شپې ټکړې چې وي؛ سحر به سړے مسلمان وي او ماښام کافر، ماښام به مسلمان وي او سحر کافر؛ خپل دین به د دنیا په څۀ سامان خرڅوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: نزدې ده چې د مسلمان غوره مال به ګډې بیزې وي چې دے به ئې د بارانۀ په ځایونو او د غرۀ په لمنو پسې کوي خپل دین به د فتنو نه تختوي. (لا تحزن)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: قسم مې دِ په هغه ذات وي د چا په لاس کښې چې زما روح دے! دنیا به نۀ ختمېږي تر دې چې یو سړے به په قبر تېرېږي نو وایي به چې کاش زۀ د دې قبر والا په ځائے وے! دا به نۀ وي مګر د مصیبت د وجې نه. (بخاري، مسلم، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زمانه به یو بل ته نزدې شي، علم به قبض کړے شي، فتنې به ظاهرې شي، بخل (یا حرص) به واچولے شي او هرج به زیات شي. صحابو عرض وکړو: هرج څۀ شے دے اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ وفرمائیل: قتل. (متفق علیه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: زمانه به لنډه (بې برکته) شي، علم به کم شي، حرص به واچولے شي، فتنې به ظاهرې شي او قتل به زیات شي. (ابن ماجه، بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: قسم مې دِ په هغه ذات وي د چا په لاس کښې چې زما روح دے! دنیا به نۀ ختمېږي څو پورې چې په خلقو یوه داسې ورځ (زمانه)

رانۀ شي چې نۀ به قتل کونکے خبر وي چې دے ولې قتل کوي او نۀ به قتلېدونکے خبر وي چې دے ولې قتلېږي ـ عرض وکړے شو: دغه به څنګه وي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: فتنه او قتلونه (به وي) ـ قاتل او مقتول دواړه به دوزخ ته زي ـ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هرج (قتلونو، فتنو) پۀ وخت کښې عبادت کول داسې دي لکه زما طرف ته هجرت کول ـ (مسلم)

باب: د قيامت بعضې نښې

څۀ عامې نښې

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: قيامت به نۀ قائمېږي تر څو چې تاسو خپل بادشاه (حکمران) قتل نکړئ او پۀ خپلو تورو وهل ونکړئ او ستاسو د دنيا وارثان (مالکان) پۀ تاسو کښې د ټولو نه بد خلق نۀ وي ـ (ابن ماجه)

❁ جبريل عليه السلام يوه ورز (خلقو ته د ښودو دپاره) د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: اے د الله رسوله! قيامت به کله وي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: سوال کړے شوے د سوال کونکي نه زيات پوهه (خبر) نۀ دے خو زۀ به ئې تا ته څۀ نښې (علامې) وښايم: کله چې وينزه خپله مالکه وزائېګوي نو دغه د هغې د نښو نه ده، کله چې بې پېزاره او بربنډ کسان د خلقو سرداران (مشران) شي نو دغه د هغې د نښو نه ده، او کله چې د ګډو بيزو څرونکي پۀ کورونو جوړولو (او دنګولو) کښې د يو بل سره فخر کونکي او مقابلې کونکي شي نو دغه د هغې د نښو نه ده ـ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قيامت به نۀ قائمېږي دې پورې چې خلق پۀ آبادي کولو (کورونو وغيره جوړولو) کښې د يو بل سره مقابلې وکړي ـ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قيامت به نۀ قائميږي دې پورې چې خلق د کرښو والو ټوکو (يا د کجاوو) پۀ شانې کورونه جوړول شروع کړي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قيامت به نۀ قائميږي ځو پورې چې پۀ خلقو کښې د ټولو نه خوشحال او مالدار کس کمينه د کمينه زوے نۀ وي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې معامله (حکومت، اختيار، مشري) هغه چا ته وسپارلے شي چې د دې اهل نۀ وي نو د قيامت انتظار کوه. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت د نښو نه يوه دا خبره ده چې بد خلق به اوچت کړے شي او ښۀ خلق به ښکته کړے شي، خبرې به زياتې شي او عمل به کم شي، او خلقو ته به مثناة لوستے کيږي او پۀ هغوی کښې به څوک نۀ وي چې د دې انکار وکړي. تپوس وکړے شو چې مثناة څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ د کتاب نه علاوه چې څۀ وليکلے شي. (السلسلة الصحيحه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قيامت د علاماتو نه دا دي چې علم به اوچت کړے شي، جهل به زيات شي، زنا به زياته (يا خوره) شي، شراب څښل به شروع (يا زيات) شي، سړي به کم شي او ښځې به زياتې شي تر دې چې پنځوستو ښځو له به يو نګران (يا خاوند) وي. پۀ يو روايت کښې دي چې علم به کم او جهل به ظاهر شي. (بخاري، مسلم، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قيامت به نۀ قائميږي دې پورې چې زمانه يو بل ته نزدې (يا لنډه) شي، کال د مياشتې، مياشت د جمعې (هفتې)، جمعه د ورځې، ورځ د ساعت (ګنټې) او ساعت د اُور د پړق هومره شي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قيامت به نۀ رازې تر څو چې هرج نۀ وي. صحابو عرض وکړو: هرج څۀ شے دے اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: قتل قتل. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: قیامت به نۀ راځي تر څو چې سړے خپل ګاونډي ، خپل ورور او خپل پلار قتل نکړي. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: قیامت به نۀ قائمیږي دې پورې چې څۀ خلق راوُزي چې پۀ خپلو ژبو به داسې خوړل کوي لکه غوا چې په خپله ژبه خوړل کوي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د قیامت د نښو نه یوه دا ده چې خلق به پۀ جماتونو د یو بل پۀ مقابله کښې فخر کوي. (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د قیامت د نښو نه یوه دا ده چې د جمات والا به ځانونه د امامت نه بچ کوي (یا به یو بل امامت کولو ته ټېل وهي)، امام به نۀ مومي چې نمونځ ورله وکړي. (احمد، ابوداؤد، ابن ماجه)

د قیامت څۀ خاصې او غټې نښې

❁د حذیفه بن اسیدؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ زمونږ خوا ته د عرفې نه تشریف راوړو او مونږ د یو بل سره د قیامت ذکر کولو نو وئې فرمائیل: قیامت به نۀ قائمیږي تر څو چې لس نښې را پیښې نۀ شي: د نمر د خپل مغرب (د پرېوتو د ځائے) نه راختل، دجال، لوګے، دابة الارض، یاجوج ماجوج، د عیسیٰ بن مریم (علیه السلام) راکوزېدل، (پۀ زمکه کښې) درې خسوفونه (ننوتل): یو پۀ مشرق کښې، یو پۀ مغرب کښې او یو پۀ جزیرة العرب کښې، او اُور چې راوزي به د عدن ابین د وېخ نه، خلق به محشر طرف ته بوزي، د هغوی سره به شپه تېروي کله چې هغوی شپه تېروي او د هغوی سره به قیلوله کوي کله چې هغوی قیلوله کوي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: قیامت به نۀ قائمیږي څو پورې چې ځناور (درندګان) د انسانانو سره خبرې ونکړي او څو پورې چې سړي سره د هغۀ د

کوړې طرف او د ځپلۍ تسمه خبرې ونکړي او د هغهٔ رون دا خبر ورنکړي چې د هغهٔ کور والو د هغهٔ نه روستو څهٔ کړي دي. (ترمذي)

باب: مهدي عليه السلام، دجال (عليه اللعنة) او عيسىٰ عليه السلام

د مهدي عليه السلام راتلل

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ آخره زمانه کښې به ستاسو د خليفګانو نه يو خليفه وي، مال به ورکوي او شماري به ئې نهٔ. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دنيا به نهٔ ختمېږي تر څو چې پهٔ عربو حکومت ونکړي زما د اهل بيتو يو سړے چې نوم به ئې زما د نوم پهٔ شان وي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مهدي (عليه السلام) د فاطمې د اولاد نه دے. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مهدي زمونږ د اهل بيتو نه دے، الله تعالىٰ به ئې پهٔ يوه شپه کښې (د خلافت او امارت دپاره) صالح (برابر او تيار) کړي. (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څهٔ خلق به د مشرق نه راوزي او مهدي له به لار هواره کړي يعني د هغهٔ د حکومت. (ابن ماجه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما پهٔ اُمت کښې به مهدي وي، راوزي به، پينځهٔ يا وۀ يا نهه کاله به ژوندے وي؛ سړے به ئې خوا له زي او ورته به وايي چې اے مهدي! ما له (څهٔ) راکړه، ما له (څهٔ) راکړه؛ هغه به دۀ له د دۀ پهٔ ټوکي کښې څومره چې دے وړے شي ورکوي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: مهدي به زما د نسل نه وي، د ارت وُچولي او د دنګې پوزې والا به وي، زمکه به د انصاف نه ډکه کړي لکه څنګه چې به د ظلم نه ډکه شوې وي، وۀ کاله به حکومت وکړي. (ابوداؤد، ابن حبان)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يو حديث مبارک کښې مروي دي: د مهدي پۀ سر به يوه فرښته وي دا آواز به کوي: دا مهدي دے تاسو د دۀ پيروي وکړئ (پۀ دۀ پسې شئ). (مسند الشاميين)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کله چې هر وړکے او لوئے قتل کېدل شروع شي نو دغه وخت د مهدي د ظاهرېدو دے. (الفتن لنعيم بن حماد)

د دجال راتلل، فتنه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د آدم (عليه السلام) نه د قيامت د قائمېدو پورې د دجال نه لوئے څۀ مخلوق او لويه خبره (فتنه) نيشته. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ زمکه کښې د څۀ وخت نه چې الله تعالیٰ د آدم (عليه السلام) اولاد پيدا کړے دے د دجال د فتنې نه لويه فتنه نۀ ده راغلې او الله تعالیٰ يو نبي هم نۀ دے رالېږلے مګر هغۀ خپل اُمت د دجال نه يرولے دے او زۀ آخري نبي يم او تاسو آخري اُمت يئ او دے خامخا پۀ تاسو کښې راوتونکے دے او کۀ دے راووت او زۀ ستاسو پۀ مينځ کښې وُم نو زۀ به ستاسو دپاره جګړه کونکے يم او کۀ زما نه روستو راووت نو هر مسلمان به خپل ځان له جګړه کونکے وي او الله تعالیٰ پۀ هر مسلمان خليفه (نګهبان) دے. دجال به د شام او د عراق پۀ مينځ کښې د يوې لارې نه راوزي نو ښي طرف ته به مال خرچ کوي او ګڅ طرف ته به مال خرچ کوي. اے د الله بندګانو! پخې به کلکې ساتئ. زۀ تاسو ته د دۀ يو صفت (حالت) ذکر کوم چې زما نه مخکښې يو نبي هم نۀ دے ذکر کړے: دے به شروع کوي نو وُبه وايي چې زۀ نبي يم خو زما نه روستو څوک نبي نيشتے بيا به ثنا ووايي او وُبه وايي چې زۀ ستاسو

رب یم خو تاسو خپل رب نهٔ شئ لیدے تر څو چې مړهٔ نهٔ یئ او دے یو سترګے دے او ستاسو رب یو سترګے نهٔ دے او د دهٔ د سترګو پهٔ مینځ کښې به "کافر" لیکلے وي چې هر خوانده او ناخوانده مومن به ئې لوستے شي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ضرور به خلق د دجال نه غرونو ته تختي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ دجال پسې به د اصفهان د یهودیانو نه اویا زره کسان کیږي چې شنې څادرې به پرې پرتې وي. (مسلم)

❁ پهٔ یو حدیث مبارک کښې دي: مونږ عرض وکړو: اے د الله رسوله! دجال به څو وخت پهٔ زمکه کښې وي؟ رسول اللهﷺوفرمائېل: څلوېښت ورزې. یوه ورز به د کال هومره وي، یوه ورز به د میاشتې هومره وي، یوه ورز به د جمعې (هفتې) هومره وي او باقي ورزې به ستاسو د ورزو هومره وي. (مسلم)

د دجال د فتنې نه د بچ کېدو کوشش

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دجال به راوزي او د هغهٔ سره به اُوبهٔ او اور وي. څهٔ چې به خلقو ته اُوبهٔ ښکاري هغه به اور وي، سوزول به کوي او څهٔ چې به خلقو ته اور ښکاري هغه به یخې خوږې اُوبهٔ وي. پس څوک چې پهٔ تاسو کښې هغه ومومي نو څهٔ چې ورته اُور ښکاري هغه دِ واخلي ځکه چې هغه به خوږې پاکې اُوبهٔ وي. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د هغهٔ (د دجال) د فتنې یوه خبره دا ده چې د هغهٔ سره به جنت او دوزخ وي نو دوزخ به ئې جنت وي او جنت به ئې دوزخ وي؛ پس څوک چې د هغهٔ پهٔ دوزخ کښې مبتلا شي نو دے دِ د الله تعالیٰ نه مدد وُغواړي او د (سورة) کهف آخري آیتونه دِ وُلولي نو پهٔ دهٔ به یخ او د سلامتۍ والا شي لکه اُور چې پهٔ ابراهیم (علیه السلام) باندې شوے ؤ. (ابن ماجه)

د عیسیٰ علیه السلام راتلل

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: قسم مِ دِ پهٔ هغه ذات وي د چا پهٔ لاس کښې چې زما روح دے! تاسو ته به د مریم زوے (عیسیٰ علیه السلام) راکوزیږي، حکم کونکے انصاف کونکے، صلیب به ماتوي، خنزیر به وژني، جزیه به ختموي او مال به دومره زیات شي چې څوک به ئې نهٔ قبلوي. (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ یو حدیث مبارک کښې روایت کړے شوے دے: عیسیٰ (علیه السلام) به دجال قتل کړي او څلویښت کاله پهٔ زمکه کښې د پاتې کیدو نه پس به وفات شي. (احمد ، ابن شیبه، ابن حبان)

باب: د علم، اسلام، ایمان او د الله الله ویلو خاتمه

د علم اوچتیدل (د دنیا نه ورکیدل)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د قیامت نه مخکښې به څهٔ ورزې (وخت) وي چې (د دین) علم به پکښې (د زمکې نه) اوچت کړے شي او جهل به راکوز کړے شي او قتل (هرج) به زیات شي. (ابن ماجه)

❁د زیاد بن لبیدرضی الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ د څهٔ شي ذکر کولو نو وئې فرمائیل: "داسې بهٔ د علم د تلو پهٔ وخت کښې وي". ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! علم به څنګه زي چې مونږ قرآن لُولُو او خپلو زامنو (اولاد) ته ئې لُولَوو او زمونږ زامن به ئې خپلو زامنو ته لُولَوي تر قیامته (به داسې وي)؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: د مور نه دِ ورک شې زیاده! ما خو تهٔ پهٔ مدینه کښې د ټولو نه پهٔ پوهه سړو کښې حسابولې! ولې دا یهودیان او نصاریٰ تورات او انجیل نهٔ لولي؟ د هغې پهٔ هیڅ هم نهٔ پوهیږي. (ابن ماجه

د اسلام غریب (بې ځوکه) کېدل، د اسلام او ایمان راغونډېدل

❁ د ابن عمرؓ نه روایت دے: رسول اللهﷺ وفرمائېل: اسلام غریب (د کمو کسانو والا) شروع شوے ؤ او دوباره به غریب کیږي او د دوؤ جماتونو (مسجد حرام او مسجد نبوي) په مینځ کښې به داسې راغونډېږي لکه مار چې په خپله سوړه کښې (یا خپلې سوړې ته) غونډېږي. (مسلم)

❁ د ابوهریرهؓ نه روایت دے: رسول اللهﷺ وفرمائېل: ایمان به مدینې ته داسې راغونډېږي لکه مار چې خپلې سوړې ته غونډېږي. (مسلم)

زمکې نه اسلام، ایمان او د الله الله ویېل ختمېدل

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: اسلام به داسې ختم شي لکه د ټوکي نقش و نګار چې ختمېږي تر دې چې پته به نۀ لګي چې روژه څۀ شے دے؟ نمونځ څۀ شے دے؟ حج څۀ شے دے؟ او صدقه (زکوٰۃ) څۀ شے دے؟ د الله تعالیٰ کتاب به په یوه شپه کښې بوتلے شي او په زمکه کښې به ترې یو آیت هم پاتې نۀ شي. د خلقو څۀ طبقې به پاتې شي، زوړ بوډا سړے او بوډۍ ښځه، وایې به چې مونږ خپل پلارونه په دې کلمه باندې موندلي وو: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: قیامت به نۀ قائمیږي څو پورې چې په زمکه کښې الله الله ویېلے کېدل ختم نۀ شي. (مسلم، ترمذي). په یو بل روایت کښې دي چې قیامت به په داسې چا نۀ قائمیږي څوک چې الله الله وایي. (مسلم)

کتاب: دنیا کښې ژوندون

باب: دنیا کښې د انسان ژوند او عمر

عارضي وخت! انتظار او اُمید د څۀ؟ د ژوند استعمال

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: روزانه چې نمر راخېژي نو د مرګ فرښته دا آواز کوي: کوم (نیک) کار چې د کولو دے هغه وکړه، ننې ورز بیا ستا پۀ عمر کښې نۀ رازي. (ترغیب)

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: روح القدس زما پۀ زړۀ کښې دا خبره واچوله: محبت وکړه د چا سره چې غواړې ځکه چې تۀ ترېنه جدا کېدونکے یې. (احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ (یا د عبد الله بن مسعودﷺ) نه روایت کړے شوے دے: هر سړے پۀ دنیا کښې د یو مېلمه پۀ شان دے او د دۀ پۀ قبضه کښې چې کوم مال دے هغه داسې دے لکه یو سوالي څیز. مېلمه خپل کور ته تلونکے او سوالي څیز د هغې مالک ته واپس کېدونکے وي. (تذکرة الواعظین)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې څوک انتظار نۀ کوی مګر د یوې سرکشه کونکې مالدارۍ یا د یوې هېرونکې غریبۍ یا د یو بربادونکي مرض یا د عقل خرابونکي بوډاوالي یا د یو ختمونکي (یا زر راتلونکي) مرګ یا د دجال چې یو غائب شر دے چې انتظار ئې کیږي او یا د قیامت او قیامت د ټولو نه لوئے مصیبت او د ټولو نه زیات تریخ دے. (ترمذي، نسائي)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ یو حدیث مبارک کښې مروي دي: کوم کار له چې انسان پیدا کړے شوے دے کۀ د هغې نه علاوه پۀ نور څۀ کښې د دۀ یوه لمحه هم استعمال شي نو پۀ هغې ورله افسوس پکار دے. (احیاء)

❁رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: جنتیان به هیڅ افسوس نهٔ کوي مګر پهٔ هغه ساعتونو کوم چې پهٔ دوی پهٔ غفلت کښې (د الله تعالیٰ د ذکر او عبادت نه بغیر) تېر شوي وي. (طبراني، بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د چا عمر چې د څلوېښتو کالو نه واوړي او د دهٔ نیکي د دهٔ پهٔ بدۍ غالبه نهٔ شي نو دوزخ ته دِ تیار شي. (احیاء)

د الله پهٔ عبادت کښې د عمر اوږدوالے، شپېتهٔ کاله کافي عمر

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: ټوله نیک بختي د الله تعالیٰ پهٔ طاعت او عبادت کښې د عمر اوږدوالے دے. (احیاء)

❁رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د سړي د بختورتیا (سعادت) نه دا خبره ده چې د دهٔ عمر اوږد شي او الله تعالیٰ ورته انابت (الله تعالیٰ او حق ته رجوع) نصیب کړي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې هغه چا ته د ټولو نه غوره فرمائیلي دي د چا چې عمر اوږد او عمل ښهٔ وي. (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺد یو ارشاد مبارک مفهوم دے: الله تعالیٰ هغه چا له څهٔ عذر نهٔ پرېږدي د چا عمر چې هغه شپېتو کالو ته ورسوي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺوفرمائیل: د قیامت پهٔ ورز به یو آواز کونکے آواز وکړي چې د شپېتو کالو والا چرته دي؟ او دا هغه عمر دے (د کوم باره کښې) چې الله تعالیٰ فرمائیلي دي: "اے ما تاسو له دومره عمر نهٔ ؤ درکړے چې نصیحت پکښې حاصلولے شو چا چې نصیحت حاصلولے او تاسو ته یرونکے راغلے ؤ". (بیهقي)

کتاب: مرګ

باب: د مرګ متعلق څهٔ خبرې

د مرګ يقيني والے، نزدې والے، ناڅاپي والے

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: زهٔ يرونکے يم، مرګ حمله کونکے دے او قيامت د وعدې ځائے دے۔ (ابن ابی الدنيا)

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ يو حديث مبارک کښې ارشاد مروي دے: مرګ راروان دے سره د هغه څهٔ نه چې پهٔ دې کښې دي۔ (ترمذي)

❁رسول الله ﷺ وفرمائيل: مرګ تاسو ته خامخا راتلونکے دے يا پهٔ بد بختئ سره او يا پهٔ نيک بختئ سره۔ (ابن ابی الدنيا)

❁ د رسول اللهﷺنه پهٔ يو حديث شريف کښې مروي دي: کله چې د مرګ فرښته د بنده روح قبض کړي او د دهٔ خپل خپلوان پهٔ دهٔ پسې چغې ژړا شروع کړي نو د مرګ فرښته ووايي: تاسو پهٔ چا پسې چغې وهئ؟ پهٔ چا پسې ژاړئ؟ پهٔ الله مې دې قسم وي! ما خو د دهٔ پهٔ ژوند کښې څهٔ کمے نهٔ دے کړے نهٔ ما د دهٔ رزق وخوړ بلکې د دهٔ رب دے غوښتلے دے، ژړېدونکے دې پهٔ خپل ځان وژاړي، پهٔ الله مې دې قسم وي! زما به بار بار پېرې کېږي تر دې چې پهٔ تاسو کښې هيڅوک هم پرې نږدم۔ (مظهري)

❁ د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ عمر رضی الله عنه ته وفرمائيل: اے عمره! هغه وخت له تيارے وکړه (يا هغه وخت به ستا څهٔ حالت وي) چې خلق درې لاسه او يوه لوېشت کنده وُکني او تا پکښې وغورزوي۔ (بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: قسم دے پهٔ هغه ذات د چا پهٔ قبضه کښې چې زما روح دے! ما چې کله هم سترګې رپا کړې دي نو پهٔ دې

خیال سره مِ رښا کړې دي چې د بندولو نه مخکښې به زما روح قبض کړے شي، او ما چې کله هم سترګې اوچتې کړې دي نو پۀ دې خیال سره مِ اوچتې کړې دي چې د ښکته کولو نه مخکښې به زما روح قبض کړے شي، او ما چې کله هم څۀ نمړۍ اخستې ده نو پۀ دې خیال سره مِ اخستې ده چې د تېرولو نه مخکښې به زما روح قبض کړے شي۔ (ابن ابی الدنیا، طبراني، بیهقي)

❁ د عبدالله بن عباسؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ د پېشاب کولو نه پس پۀ خاورې سره تیمم فرمایۀ نو ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! اُوبۀ خو تاسو ته نزدې دي۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کېدے شي چې هغې ته ونۀ رسم۔ (بزار، ابن المبارک، شرح السنه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د دې شعبان نه د راتلونکې شعبانه پورې د ټول کال د مړۀ کېدونکو نومونه لیکلے کیږي۔ څوک وادۀ کوي، اولاد ئې پیدا کیږي خو د دې نه نۀ وي خبر چې د دۀ نوم هم د دې کال پۀ مړو کښې لیکلے شوے دے۔ (دیلمي)

د مرګ سختي

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: اے ابوهرېره! یاد وساته چې پۀ مومن د مرګ تکلیف دومره وي لکه درې سوه تورې چې یو ځل پۀ بدن پرېوزي۔ (تذکرة الواعظین)

❁ د حسن رحمه الله نه روایت دے: رسول اللهﷺ د مرګ او د هغې د تکلیف ذکر کولو نو وئې فرمائېل چې د تورې د درې سوو ګزارونو هومره دے۔ (ابن ابی الدنیا)

❁رسول اللهﷺ د یو سړي پۀ ځنګ کښې چې ساه ئې خوت ناست ؤ نو وئې فرمائېل: پۀ دۀ چې څۀ تېریږي هغه زۀ پېژنم۔ د دۀ یو رګ داسې نیشتے چې د مرګ تکلیف ورته نۀ وي۔ (کیمائے سعادت)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د ټولو نه آسان مرګ داسې دے لکه پهٔ وړۍ کښې غنه. غنه د وړۍ نه نهٔ وزي مګر وړۍ ورسره وي. (ابن ابی الدنیا)

۞ د رسول اللهﷺ د یو حدیث شریف مفهوم دے: د ځنکدن پهٔ وخت کښې پهٔ سړي (کله) دومره تنده وي چې د ټول سمندر پهٔ اُوبو به هم موړ نهٔ شي. ()

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کچرې چارپایو ته د مرګ پهٔ باره کښې هغه څهٔ معلوم وے څهٔ چې تاسو ته معلوم دي نو تاسو به پهٔ هغوی کښې یو هم څورب ځاروے نهٔ ؤ خوړلے. (بیهقي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د روح د ویستو پهٔ وخت کښې فرښتې د بنده نه چاپېره ودرېږي، کهٔ داسې ونکړي نو بندګان به ځنګلونو او میدانونو ته وتختي. (موت کا جھٹکا)

۞رسول اللهﷺ د خپل وفات پهٔ وخت کښې فرمائیل: اے الله! پهٔ محمد (ﷺ) د مرګ سختې آسانې کړې. (ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

د مرګ پهٔ وخت کښې او روستو خپل ځائے پېژندل، افسوس او پښېماني کول

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پهٔ تاسو کښې څوک د دنیا نه نهٔ شي وتے تر څو چې (د ځنکدن پهٔ وخت کښې) خپل انجام او پهٔ جنت یا دوزخ کښې خپل ځائے ونهٔ ویني (یا ونهٔ پېژني). پهٔ یو روایت کښې دي چې پهٔ یو نفس باندې حرام دي چې د دنیا نه وزي څو پورې چې ورته دا معلومه نهٔ شي چې دے د جنتیانو نه دے کهٔ د دوزخیانو نه. (ابن ابی الدنیا، احیاء)

۞رسول اللهﷺ وفرمائیل: پهٔ تاسو کښې چې څوک مړ شي نو (پهٔ قبر کښې) سحر ماښام د هغهٔ مخې ته د هغهٔ ځائے راوړے کېږي، کهٔ جنتي وي نو د

جنتیانو ځائے او کۀ دوزخي وي نو د دوزخیانو ځائے، او ورته ویېلے کیږي چې دا ستا ځائے دے۔ (بخاري، مسلم)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: کله چې د انسان د مرګ (ساه ختو) وخت نزدې شي نو کومو ځیزونو چې دے د حق نه منع کولو هغه د دۀ د سترګو مخې ته پیش کړے شي؛ پۀ دغه وخت کښې دے پۀ افسوس سره وایي: "اے ربه زما! واپس کړه ما (دنیا ته) شاید چې زۀ وکړم ځۀ نیک عمل پۀ هغې کښې چې ما پرېښې دي"۔ (دیلمي)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم یو سړے چې مري هغه پښېمانه کیږي۔ صحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! پښېمانی ځۀ؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ هغه نیک وي نو پۀ دې پښېمانه وي چې نیکیانې ئې ښۀ زیاتې ولې نۀ وې کړې او کۀ بدعمله وي نو د ګناهونو نه پۀ نۀ بچ کېدو پښېمانه وي۔ (ترمذي)

د مرګ نه روستو ځۀ حال، د قبر ځۀ فتنه، عذاب، منظر

۞رسول اللهﷺ ارشاد فرمائېلے دے: مرګ قیامت دے، ځوک چې مړ شو د هغۀ قیامت قائم شو۔ (ابن ابی الدنیا)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کچرې تاسو ته معلومه شي چې د مرګ نه روستو به پۀ تاسو ځۀ تېرېږي نو تاسو به نۀ ډوډۍ وخورۍ او نۀ به اُوبۀ وڅښۍ۔ (ترغیب)

۞ د اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺخطبې ته ودرېدلو او د قبر هغه فتنه ئې ذکر کړه پۀ کومې چې به سړے آزمائېلے کیږي۔ چې هغه ئې ذکر کړه نو مسلمانانو یوه چغه وویسته۔ (بخاري)

۞رسول اللهﷺپۀ یو حدیث مبارک کښېوفرمائېل: ما ته وحي شوې ده چې پۀ تاسو به پۀ قبرونو کښې فتنه تېرېږي د دجال فتنې ته نزدې۔ (نسائي)

۞ د عثمان رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلى الله عليه وسلم چې به د مړي د خخولو نه فارغ شو نو وبه ئې فرمائېل: خپل وړور له بخښنه وغواړئ بيا ورله د کلک پاتې کېدو سوال وکړئ ځکه چې د دهٔ نه به وس تپوس کيږي. (ابوداؤد)

۞ د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کړے شوے دے: د منکر نکير سوال د مرګ نه روستو د ټولو نه ړومبنۍ فتنه ده. (احياء)

۞رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائېل: کله چې انسان مړ شي نو دهٔ ته دوه تورې شين سترګې فرښتې راشي، يوې ته منکر وايي او بلې ته نکير. (ترمذي)

۞ براء بن ثابت عثمان رضي الله عنه فرمائي: مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د انصارو د يو سړي جنازې له تلي وو. رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغهٔ پهٔ قبر کښېناستهٔ، سر مبارک ئې ټيټ کړو بيا ئې درې پېرې وفرمائېل: اللّٰهُمّ اِنّي اَعُوذُ بِکَ مِن عَذَابِ القَبر (اے الله زهٔ پناه غواړم پهٔ تا سره د قبر د عذاب نه). (ابوداؤد، حاکم، ابن ماجه، نسائي)

۞ د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مروي دي: زهٔ يريږم چې تاسو به د يرې نه مړي خخول پريږدئ کنه ما به دا دعاء کړې وه چې الله تعالىٰ تاسو ته د قبر عذاب واوروی. (ترغيب)

۞رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائېل: قبر د آخرت د منزلونو نه اولنے منزل دے پس کهٔ قبر والا د دې (د عذاب) نه خلاص شو نو روستو به ورته زيات آسان وي او کهٔ د دې نه خلاص نهٔ شو نو روستو به ورته زيات ګران وي. (ترمذي، ابن ماجه، حاکم)

۞ د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کړے شوے دے: زمکه هره ورز اويا پېرې دا آواز کوي: اے د آدم زويه! وخوره څهٔ چې غواړې، پهٔ الله مِ دِ قسم وي زهٔ به ضرور ستا غوښه او پوستکے خورم. (ترغيب)

۞ د رسول اللهﷺ نه پهٔ يو حديث مبارک کښې مروي دي: پهٔ قبر باندې يوه ورز داسې نهٔ تېرېږي چې هغه دا نهٔ وايي: زهٔ د وطن نه د لرې والي کور يم، زهٔ د يوازې والي کور يم، زهٔ د خاورو کور يم او زهٔ د چينجو کور يم. (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: قبر مړي ته وايي کله چې پکښې هغه کېښودے شي: تباه شې اے د آدم زويه! تهٔ زما پهٔ باره کښې څهٔ شي پهٔ دوکه کښې اچولے وې؟ تا ته پته نهٔ وه چې زهٔ د فتنې کور يم، د تيارې کور يم، د يوازې والي کور يم او د چينجو کور يم؟ (ابن ابی الدنيا، طبراني، حاکم، احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه پهٔ يو حديث شريف کښې د قبر دا وينا مروي ده: هلاک شې اے د آدم زويه! تهٔ نهٔ وې يرېدلے زما نه، زما د تنګوالي نه، زما د بدبوداروالي نه، زما د يرې خطرې نه او زما د چينجو نه؟ تا ما له څهٔ تيارے کړے دے؟ (ابن ابی الدنيا، احياء)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما هيڅ يو منظر نهٔ دے ليدلے مګر د قبر منظر ترېنه زيات بد او سخت دے. (ترمذي، ابن ماجه، حاکم)

۞رسول اللهﷺ پہ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: دا قبرونه د تيارو نه ډک دي. (مسلم)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: قبر د جنت د چمنونو نه يو چمن دے يا د دوزخ د کندو نه يوه کنده ده (يا د اُور يو تنور دے). (ترمذي، طبراني)

د مرګ ياد او تيارے

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو مزو ختمونکے څيز مرګ زيات يادوئ ځکه چې دا پهٔ ډېر څهٔ کښې نهٔ وي مګر هغه کمَوي او پهٔ لږ څهٔ کښې نهٔ وي مګر د هغې جزءونه جوړوي. (ترمذي، طبراني)

۞ د ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم یو نمانځۀ له تشریف راوړو نو وئې لیدل چې خلق داسې خاندي چې غاښونه ئې ښکاري نو وئې فرمائېل: کچرې تاسو د ټولو مزو ختمونکے شے مرګ زیات یادولے نو پۀ څۀ حال کښې چې زۀ تاسو اینم پۀ دې کښې به تاسو نۀ وی، تاسو د مزو ختمونکے شے مرګ زیات یادوی. (ترمذي)

۞ روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم جمات ته تشریف یوړو نو څۀ کسانو خبرې کولې او خندل ئې نو هغوی ته وفرمائېل: مرګ یاد کړی. (ابن ابی الدنیا)

۞ روایت کړے شوے دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پۀ یو مجلس چې خندا پرې خوره تېره وتۀ وه نو وئې فرمائېل: د خپل مجلس سره د مزو بدَونکي څیز (مرګ) ذکر ګاډېره کړی. (ابن ابی الدنیا)

۞ روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خپلو اصحابو نه څۀ غفلت یا بې پروائي ولیده نو هغوی ته به ئې پۀ اوچت آواز سره وفرمائېل: تاسو ته مرګ راروان دے. (ابن ابی الدنیا)

۞ د ابن سابط رضی الله عنه نه روایت دے، فرمائي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم پۀ مخکښې د یو سړي صفت وکړے شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: د مرګ پۀ یادولو کښې هغه څنګه دے (یعني مرګ یادوي کۀ نۀ)؟ د دې جواب رسول الله صلی الله علیه وسلم له ورنکړے شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائېل: څۀ صفت چې تا د هغۀ وکړو د دې هغه حقدار نۀ دے. (ابن ابي شیبه، احمد)

۞طارق رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغۀ ته وفرمائېل: اے طارقه! د مرګ نه مخکښې د مرګ تیارے وکړه. (طبراني)

۞د براء رضی الله عنه نه روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو تدفین نه روستو د قبر پۀ غاړه وفرمائېل: رونو د دې د پاره تیارے وکړی. (ابن ماجه)

د مرګ د زيات يادولو فضيلت او خير، د مرګ زيات يادونکے او انتظار کونکے

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: پۀ خلقو کښې د ټولو نه زيات هوښيار او زيات احتياط کونکے څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ هغوی کښې د ټولو نه زيات مرګ يادونکے او د ټولو نه زيات د هغې تيارے کونکے۔ (ابن ماجه، طبراني)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ خلقو کښې د ټولو نه د زيات عزت او بزرګۍ والا هغه څوک دے کوم چې د مرګ د ټولو نه زيات يادونکے وي۔ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مرګ زيات يادوۍ ځکه چې دا د ګناهونو نه پاکول کوي۔ (ابن ابی الدنيا)

❁ پۀ يو حديث مبارک کښې د رسول اللهﷺنه مروي دي چې مرګ زيات يادوۍ؛ څوک چې مرګ زيات يادوي د هغۀ زړۀ ژوندے وي او مرګ پرې آسانيږي۔ (فضائلِ صدقات)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې هر وخت د مرګ خيال لري هغه به د دنيا مزې پرېږدي۔ (تذکرة الواعظين)

❁ د رسول اللهﷺنه پۀ يو حديث شريف کښې د دې مفهوم ارشاد مروي دے: څوک چې د مرګ انتظار کوي هغه مزې پرېږدي۔ (ابن حبان)

مرګ د وعظ او د دنيا نه د بې رغبتۍ وغيره دپاره کافي

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د وعظ دپاره مرګ کافي دے۔ (طبراني، بيهقي)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: دنيا نه د بې رغبتۍ او آخرت طرف ته د رغبت دپاره د مرګ يقين پوره دے۔ (احمد)

۞ پهٔ یو حدیث مبارک کښې ارشاد دے: مرګ زیات یادوئ ځکه چې دا د دنیا نه بې رغبته کول کوي۔ (ابن ابی الدنیا)

۞رسول اللهﷺ یو صحابي ته وصیت وفرمایهٔ چې مرګ زیات یادوه دا به تا د نورو څیزونو د رغبت نه لرې کړي۔ (فضائلِ صدقات)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د جدا کولو (یا یرولو) دپاره مرګ کافي دے۔ (احیاء)

کتاب: آخرت

باب: قیامت

د قیامت راتلل، قیامت کښې د ژوندي کېدو حال

۞ د رسول اللهﷺ نه پهٔ یو حدیث شریف کښې مروي دي: بیا به سړے پهٔ یو تنګ او تیارهٔ قبر کښې وغورزیږي، نهٔ به نیکي کولے شي او نهٔ به خپل ګناهونه کمولے شي، بیا به دوباره ژوندے کړے شي او همېشه دپاره به نعمتونو یا عذاب ته وسپارلے شي۔ (خطبات نبوي)

۞رسول اللهﷺیو کس (ابوسفیان) ته فرمائېلي وو: قسم م دِ پهٔ الله وي! تاسو به خامخا مرئ بیا به خامخا دوباره ژوندي کولے کېږئ، بیا به پهٔ تاسو کښې نیکي کونکے خامخا جنت ته زي او بدي کونکے به خامخا دوزخ ته زي، ما تا ته خبره درورسوله۔ (یا حسرةً علی العباد)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: قیامت کښې به هر بنده پهٔ هغه حال ژوندے کېږي پهٔ کوم چې مړ وي۔ (مسلم)

۞ د رسول اللهﷺ د یو حدیث مبارک مفهوم دے: څنګ چې تاسو پهٔ دنیا کښې ژوند کوئ هغه شان به مړهٔ کېږئ او څنګ چې به مړهٔ کېږئ هغه شان به

دوباره ژوندي کېږي او څنګ چې به دوباره ژوندي کېږي هغه شان به ستاسو حشر کيږي. ()

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ چې پۀ يو قوم عذاب نازلوي نو عذاب هغه ټولو خلقو ته رسي او بيا به پۀ قيامت کښې هغوی د خپلو عملونو مطابق راپورته کولے کيږي. (متفق عليه)

قيامت کښې د ژوندې کېدونکو څۀ ډلې

❁د معاذ بن جبلرضي الله عنه نۀ روايت دے، فرمائي: ما رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما ته خبر راکړه د الله تعالیٰ د دې وينا پۀ باره کښې: " پۀ کومه ورځ چې به پۀ شپېلۍ کښې وُپوکلے شي نو رابه شئ تاسو ډلې ډلې". رسول اللهﷺ دومره وژړل چې د اوښکو نه ئې جامې لوندې شوې او وئې فرمائيل: اے معاذه! تا د يوې لوئې خبرې سوال کړے دے. د قيامت پۀ ورځ به زما د اُمت دولس ډلې وي. يوه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې د هغوی لاسونه او خپې به نۀ وي، د الله تعالیٰ د طرف نه به يو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې خپلو ګاونډيانو ته به ئې تکليف رسولو پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے. دويمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې د هغوی شکلونه به د لېوګانو وي، د الله تعالیٰ د طرف نه به يو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې پۀ نمانځۀ کښې به ئې سستي او غفلت کولو پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے. دريمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې د هغوی خېټې به د غرونو پۀ شانې وي او د مارانو او لړمانانو نه به ډکې کړے شوې وي، د الله تعالیٰ د طرف نه به يو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې زکوٰة به ئې نۀ ورکولو پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے. څلورمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې د هغوی د خلو نه به وينې بهيږي، د الله تعالیٰ د

طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې د الله تعالیٰ د کتاب پهٔ عوض به ئې (د دنیا) لږ قیمت اخستلو پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے۔ پینځمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې بدنونه به ئې پړسېدلي وي او د مرداري د بدبوئې نه زیاته بدبوئي به ترېنه زي، د الله تعالیٰ د طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې د خلقو د یرې نه به ئې پټ ګناهونه کول او د الله تعالیٰ نه به نهٔ یرېدل پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے۔ شپږمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې مرې به ئې غوڅې وي، د الله تعالیٰ د طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې د دروغو ګواهي به ئې ورکوله پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے۔ ووُمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې د هغوی ژبې به نهٔ وي او د هغوی د خلو نه به وینې او زوې روانې وي، د الله تعالیٰ د طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې قصداً به ئې ګواهي نهٔ ورکوله پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے۔ اتمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې د هغوی سرونه به نسکور او پخې به ئې د سرونو دپاسه وي، د الله تعالیٰ د طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې زنا به ئې کوله او بغیر د توبې نه مړهٔ شول پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے۔ نهمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې خلې به ئې تورې او سترګې به ئې شنې وي او پهٔ ګېډو کنبې به ئې اُور ډک کړے شوے وي، د الله تعالیٰ د طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې د یتیمانانو مال به ئې پهٔ ظلم سره خوړلو پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے۔ لسمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅې چې جذام او برګي به وهلي وي، د الله تعالیٰ د طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې خپل مور او پلار به ئې ناراضه کول او د هغوی نافرماني به ئې کوله پس دا د دوی سزا ده او ځائے د

دوزخ دوزخ دے۔ یوولسمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅي چې ړاندۀ به وي، غاښونه به ئې د غوئي د خکرو پۀ شان وي، شونډې به ئې پۀ سینو باندې زړوندې وي او ژبې به ئې پۀ خېټو او روَنونو دپاسه زانګي او د خېټو نه به ئې ګندګي راوزي، د الله تعالیٰ د طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې شراب به ئې څښل پس دا د دوی سزا ده او ځائے د دوی دوزخ دے۔ دولسمه ډله به د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅي چې مخونه به ئې د څوارلسمې د سپوږمۍ پۀ شان پړقیږي، د الله تعالیٰ د طرف نه به یو آواز کونکے آواز وکړي چې دا هغه کسان دي چې نیک عملونه به ئې کول او د ګناهونو نه به ئې ځان ساتلو او پینځۀ وخته نمونځ به ئې کولو او پۀ توبه د دوی خاتمه وشوه پس بدله د دوی جنت، رحمت او مغفرت او د الله تعالیٰ رضامندي ده۔ (قرة الواعظین بحوالۀ تنبیه الغافلین)

د قیامت څۀ حال، قیامت کښې بادشاه صرف الله

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د قیامت د یوې لمحې سختي به د مرګ د سختیانو نه اویا درجې زیاته وي۔ ()

❁رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د قیامت پۀ ورځ به خوَله د سړي خلې ته راورسي نو دے به ووایي چې اے پروردګاره! ما د دې نه خلاص کړه اګرکۀ دوزخ ته مِ بوزې۔ (طبراني)

❁رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: خلق به د رب العٰلمین مخې ته ودریږي تر دې چې یو سړے به د غوږونو د نیمې پورې پۀ خوله کښې ډوب وي۔ (متفق علیه)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ یو حدیث مبارک کښې مروي دي: اے خلقو الله تعالیٰ به تاسو د قیامت پۀ ورځ پۀ یو میدان کښې جمع کوي، پۀ هغه ورځ به سخته یره وي، اولاد او مال به پکار نۀ رازي، صرف دا به پکار شي چې یو

سړے پۀ سالم زړۀ (قلبِ سلیم) سره د الله تعالیٰ پۀ دربار کښې حاضر شي۔ (قرة الواعظین)

۞د ابوهریرهرضی الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: د قیامت پۀ ورز به الله تعالیٰ پۀ خپل ښي لاس آسمان راونغاړي او بیا به وفرمائي: زۀ بادشاه یم، د زمکې بادشاهان کوم ځائے دي؟ (بخاري، مسلم، ابن ماجه)

قیامت کښې حساب کتاب، تپوس، الله ته ودرېدل

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: یقین وکړه، چې ستاسو عملونه تاسو ته پیش کېدونکي دي "پس څوک چې یوه ذره نیکي وکړي هغه به ویني او څوک چې یوه ذره بدي وکړي هغه به ویني"۔ (مشکوٰة)

۞ د رسول اللهﷺ نه پۀ یو حدیث مبارک کښې مروي دي: الله تعالیٰ به (پۀ قیامت کښې) ستاسو سره حساب کوي او د هغۀ طرف ته ستاسو واپس کېدل دي۔ (قرة الواعظین)

۞ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: د بنده نه به د قیامت پۀ ورز د هر شي تپوس کیږي تر دې چې د دۀ د سترګو د رانجو، د دۀ پۀ ګوتو د ختو د ټکړو او د دۀ د لاس لګولو د خپل (مسلمان) ورور پۀ جامو۔ (احیاء)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: بنده چې کوم یو قدم اوچتوي الله تعالیٰ به (پۀ قیامت کښې) د هغې ضرور تپوس کوي۔ (مظهري)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې هیڅوک نیشتے مګر رب العالمین به ترې تپوس کوي (یا به ورسره خبرې کوي یا به دے د هغۀ پۀ مخکښې ودرېږي)، د دۀ او د هغۀ پۀ مینځ کښې به نۀ څۀ پرده وي او نۀ ترجمان۔ (متفق علیه)

۞ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائېل: بیا به یقیناً پۀ تاسو کښې (هر) یو کس د الله تعالیٰ پۀ مخکښې ودرېږي پۀ داسې حال کښې چې د

دۀ او د الله تعالیٰ پۀ مینځ کښې به نۀ څۀ پرده وي او نۀ ترجمان چې ترجماني وکړي. (بخاري)

حساب کتاب کښې سختي، قیامت کښې یوه آرزو

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا سره چې د قیامت پۀ ورځ حساب وکړے شو، پۀ حساب کښې ورسره مناقشه وشوه (یعني پۀ سختۍ تربنه تفصیل طلب کړے شو) نو هغۀ لۀ به عذاب ورکولے کیږي (یا هغه هلاک شو). (مسلم)

❁ عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول اللهﷺ دا دعاء وفرمائېله: اے الله! ما سره آسان حساب وکړې. ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! آسان حساب څۀ دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه دا دے چې د چا عملنامه وکتے شي او وویېلے شي چې دے مِ معاف کړو لیکن د چا سره چې (تفصیلي) حساب شروع شو نو هغه غرق شو. (احمد وغیره)

❁ د رسول اللهﷺنه مروي دي: بنده به پۀ حساب کښې دومره ودرولے شي چې کۀ سل تږي اُوښان د هغۀ خوَلې ته راشي نو مړۀ به واپس شي. (احیاء)

❁رسول اللهﷺفرمائېلي دي: کچرې یو سړے د خپل پیدائش نه د بوډاوالي د مرګ د ورځې پورې پړمخې د الله تعالیٰ پۀ عبادت کښې پاتې شي نو د قیامت پۀ ورځ به دا کم وګڼي او آرزو به وکړي چې دوباره دنیا ته ولېږلے شوے چې ثواب ئې زیات شوے. (احمد)

مومن له د قیامت د ورځې لنډوالے

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: قسم مِ دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې زما روح دے! د قیامت ورځ به پۀ مومن باندې لنډېږي تر دې چې پۀ څومره وخت کښې دے فرض نمونځ پۀ دنیا کښې کوي د هغې نه به پرې زیاته لنډه شي. (بیهقي، ابویعلیٰ، احیاء)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالیٰ به د قیامت ورز چا له چې وغواړي لنډه کړي د فرض نمانزۀ د وخت پۀ مقدار به وي۔ (بیهقي،احیاء)

باب:جنت او دوزخ

د جنت او دوزخ یقیني والے، جنت د الله رحمت، دوزخ د الله غضب

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما دِ پۀ هغه ذات قسم وي د چا پۀ قبضه کښې چې زما روح دے! د مرګ نه روستو د عذر غوښتو او د راضي کولو ځائے نیشتے او د دنیا نه پس د جنت او د دوزخ نه علاوه څۀ نیشتي۔ (بیهقي)

۞ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: څۀ خلقو ته به د ګناهونو د وجې نه ضرور د دوزخ اُور رسي۔ (احیاء)

۞ د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺنه اورېدلي دي: ما تاسو ویرولې د دوزخ نه، ما تاسو ویرولې د دوزخ نه۔ دا ئې فرمائېل تر دې چې کچرې هغوی زما پۀ دې ځائے کښې وے نو آواز به ئې بازار والو اورېدلے ؤ او تر دې چې د هغوی څادر د هغوی پۀ پخو کښې ارتاؤ شو۔ (دارمي)

۞ رسول اللهﷺپۀ یو حدیث مبارک کښې د دې مفهوم ارشاد وفرمایۀ: الله تعالیٰ جنت ته وفرمائېل: تۀ زما رحمت یې ستا پۀ ذریعه به زۀ رحم کوم پۀ چا چې وغواړم د خپلو بندګانو نه، او دوزخ ته ئې وفرمائېل: تۀ زما غضب یې ستا پۀ ذریعه به زۀ عذاب ورکوم چا ته چې وغواړم د خپلو بندګانو نه۔ (متفق علیه)

د جنت څۀ حال

۞ رسول اللهﷺ پۀ یوه خطبه کښې وفرمائېل: خبردار! خیر سراسر پۀ جنت کښې دے۔ (مشکوٰة)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: پۀ جنت کښې د يوې کوړې ځائے (يا د يوې لوېشت ځائے) د دنيا او پۀ دنيا کښې چې څۀ دي د دې نه غوره دے ـ (ابن ماجه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ جنت کښې ستاسو د يو کس د کمان (ليندې) هومره ځائے غوره دے د هغه څۀ نه پۀ څۀ چې نمر راخېژي يا پرېوزي ـ (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ د جنت يوه قطره ستاسو سره پۀ دې دنيا کښې شي نو دا (ټوله) به تاسو له خوندوره کړي ـ (بيهقي)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: پۀ جنت کښې يوه وُنه ده چې سُور کس به ئې سل کاله پۀ سوري کښې روان وي او ختمولے به ئې نۀ شي ـ (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: آخري کس چې د دوزخ نه راوُزي هغۀ له به د ټولې دنيا لس چنده ورکولے کېږي ـ (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: د قيامت پۀ ورز به د جنتيانو نه يو داسې کس راوستے شي چې پۀ دنيا کښې به د ټولو نه زيات پۀ سختئ کښې پاتې شوے وي او لږ به ئې جنت ته آخوا کړے شي او بيا به ورته وويېلے شي: اے ابنِ آدمه! تا پۀ دنيا کښې څۀ سخته ليدلې وه؟ هغه به وواېي: نا ، قسم مِ دِ پۀ الله وي! نۀ پۀ ما څۀ تکليف تېر شوے ؤ او نۀ ما څۀ سخته ليدلې وه ـ (مسلم)

۞يو سړي پۀ دعاء کښې ووې: اے الله! زۀ ستا نه د نعمت تمام والے (يا تمام نعمت) غواړم ـ رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: تۀ خبر يې د نعمت تمام والے څۀ شے دے؟ هغۀ ووې: نا ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت ته داخلېدل ـ (ترمذي)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: الله تعالىٰ فرمائي: ما تيار کړي دي خپلو نيکو بندګانو له هغه څۀ چې نۀ يوې سترګې ليدلي دي، نۀ يو غوږ اورېدلي دي او نۀ د يو بشر پۀ زړۀ تېر شوي دي ـ (بخاري، مسلم)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ جنت کښې به ستاسو د يو کس د ټولو نه معمولي ځائے دا وي چې هغۀ ته به وويېلے شي چې خواهش وکړه ـ هغه به خواهش وکړي، وکړي ـ بيا به ورته وويېلے شي: تا خواهش وکړو؟ هغه به وايي: آـ نو ورته به وويېلے شي: تا له دي د څۀ چې تا خواهش وکړو او د هغې پۀ شان نور ـ (مسلم)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې جنت ته داخل شي نو خوشحاله به وي، نااُميده او خفه کيږي به نۀ، جامې به ئې نۀ زړيږي او ځواني به ئې نۀ ختمېږي ـ (مسلم)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: يو آواز کونکے به (جنت ته تلونکو ته) آواز وکړي: تاسو له (وس دلته پۀ جنت کښې) دا څۀ دي چې تاسو داسې جوړ شئ چې بيا هيڅکله ناجوړه نۀ شئ، داسې ژوندي شئ چې بيا هيڅکله مړۀ نۀ شئ، داسې ځوانان شئ چې بيا هيڅکله بوډاګان نۀ شئ او داسې خوشحاله شئ چې بيا هيڅکله خفه نۀ شئ ـ (مسلم)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: الله تعالیٰ به جنتيانو ته وفرمائي: زۀ تاسو له خپله رضامندي حلالوم چې د هغې نه روستو به چرته هم نارضا نۀ شم ـ (بخاري، مسلم، ترمذي)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د الله تعالیٰ پۀ خاطر سوال نۀ شي کېدے (نۀ دے پکار) مګر د جنت ـ (ابوداؤد)

جنت ته اول تلونکي او بيا پۀ هغو پسې تلونکي کسان

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: اولني کسان چې جنت ته به داخليږي هغوی به د څوارلسمې د سپوږمۍ پۀ شان وي، بيا چې پۀ هغوی پسې کوم وي هغوی به د آسمان د ټولو نه د زيات پړقېدونکي ستوري پۀ شان وي ـ د هغوی زړونه به د يو انسان د زړۀ پۀ شانې وي چې نۀ به د هغوی پۀ مينځ کښې څۀ اختلاف وي

او نهٔ بغض. پهٔ هغوی کښې د هر سړي به د غټو سترګو والو حورو نه دوه ښځې وي چې د ښائست نه به ئې د پنډو مغز پهٔ هډوکي او غوښه کښې ښکاربږي. هغوی به سحر ماښام د الله تعالیٰ تسبیح کوي. هغوی به نهٔ ناجوړه کیږي، نهٔ به واړهٔ او لوې بول کوي، نهٔ به توکانړې توکي او نهٔ به پوزه سونړ کوي. د هغوی لوښي به د سرو او سپینو زرو وي، منګزې به ئې د سرو وي، د انګیټو لرګي به ئې د خوشبودار عود وي، خوَله به ئې مشک وي. د هغوی ټولو به یو شان جوړخت وي، د خپل پلار آدم پهٔ شکل، شپېتهٔ ګزه دنګ (به وي). (متفق علیه)

د دوزخ څهٔ حال

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یوه خطبه کښې وفرمائیل: خبردار! شر سراسر پهٔ دوزخ کښې دے. (مشکوٰة)

❁ عبد الله بن عمر رضي الله عنهما (د رسول اللهﷺ نه) روایت کړے دے: کهٔ د دوزخیانو نه یو کس دنیا ته راوویستے شي نو دنیاوالا به د هغهٔ د وحشت، منظر او بدبو نه مړهٔ شي. عبد اللهرضي الله عنه چې دا وویېل نو ډېر ئې وژړل. (ترغیب)

❁رسول اللهﷺوفرمائیل: کهٔ د (دوزخ د) زقوم یوه قطره پهٔ دنیا کښې وڅاڅي نو د دنیا والو ژوندون به خراب کړي نو څهٔ حال به وي د هغه سړي د چا چې دا خوراک وي. (ترمذي)

❁رسول اللهﷺوفرمائیل: کهٔ د جهنم یو ډول زوې د دنیا دپاسه توی کړے شي نو ټول دنیا والا به وسیزي. (مشکوٰة الانوار)

❁د عمررضي الله عنه نه روایت دے: جبرئیل (علیه السلام) د رسول اللهﷺ خوا له پهٔ داسې حال کښې راغے چې غم وهلے ؤ، سر ئې نهٔ شو اوچتولے. رسول اللهﷺورته وفرمائیل: اے جبرئیله! څهٔ خبره ده نن زهٔ تا غم وهلے اینم؟ هغهٔ ووې: ما د جهنم یوه لمبه لیدلې ده نو وُسه پورې مِ ساه واپس نهٔ شو. (ترغیب)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: د ټولو نه د کم عذاب والا دوزخي به هغه وي د چا چې به د اُور څپلۍ وي چې مازغۀ به ئې ترې خوټ کيږي۔ (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: اُور به دوزخيان هره ورز اويا پېرې خوري او کله ئې چې وخوري نو هغوی ته به وويېلے شي چې واپس شی. خپل اصلي حالت ته نو هغوی به هغه شان شي۔ (مشکوٰة الانوار)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: اے خلقو ژاړئ او کۀ ژړا درله نۀ رازي نو پۀ زور ژاړئ ځکه چې دوزخيان به د دوزخ پۀ اُور کښې ژاړي تر دې چې اوښکې به ئې پۀ مخونو داسې بهيږي لکه نالئ چې وي دې پورې چې اوښکې به بندې شي بيا به وينې بهيږي او پۀ سترګو کښې به زخمونه جوړ شي۔ (شرح السنه)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: پۀ دوزخيانو به ژړا راوستے شي هغوی به ژاړي ژاړي تر دې چې اوښکې به ئې بندې شي بيا به د وينو پۀ اوښکو ژاړي دې پورې چې پۀ مخونو کښې به ئې لکه اوږدې اوږدې کندې جوړې شي چې کچرې کشتئ پکښې پرېښوے شي نو لاړې به شي پکښې۔ (ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: پۀ دوزخيانو به د لوږې عذاب مقرر کړے شي کوم چې به پۀ هغوی د ټولو عذابونو نه زيات سخت وي۔ هغوی به ژاړي او ډوډۍ به غواړي۔ د دوزخ محافظان به پۀ هغوی ضريع وخوروي۔ دغه يو قسم واښۀ دي چې پۀ صحرا کښې وي او چې اُوښ ئې وخوري نو پۀ مرئ کښې ئې نخلي او اُوښ مړکيږي۔ دوزخيان چې هغه ضريع وخوري نو پۀ مرو کښې به ئې ونخلي۔ هغوی به اُوبۀ وغواړي نو د ګرمو اُوبو پياله به ورله ورکړے شي۔ چې پياله خلې ته نزدې کړي نو د ګرمئ نه به ئې د مخ غوښې پۀ پياله کښې وغورزيږي۔ چې وئ څښي نو د ګېډې کولمې به ئې ټکرې ټکرې شي۔ هغوی چې دا ويني نو د دوزخ د محافظانو څنګ ته به لاړ شي او زاري منت به ورته وکړي۔ محافظان به ووايي: تاسو ته څوک يرونکے

(پیغمبر) نهٔ ؤ راغلے؟ هغوی به ووايي: راغلے ؤ ليکن مونږ د پيغمرانو وينا وانهٔ وربېده او د هغوی تصديق ونکړو ـ محافظان به ورته ووايي: وُس ستاسو فرياد او زاري پکار نهٔ شي راتلے ـ بيا به هغوی مالک (د جنت داروغه) ته زاري وکړي ـ مالک به ورته د زرو کالو پورې جواب ورنکړي، چې زر کاله پوره شي نو مالک به ورته ووايي: تاسو پهٔ دوزخ کښې پاتې کېدونکي يئ ـ بيا به هغوی د الله تعالیٰ پهٔ حضور کښې زاري فرياد وکړي او وُبه وايي: "اے زمونږه ربه! زمونږه بدبختي پهٔ مونږ غالبه شوه او مونږ يو ګمراه قوم وو ـ اے زمونږه ربه! مونږ د دې (دوزخ) نه راوباسه او کهٔ مونږ بيا (نافرمانئ ته) واپس شو نو بېشکه مونږ ظالمان يو ـ الله به وفرمائي چې ذليله ووسئ پهٔ دې کښې او ما سره خبرې مهٔ کوئ" ـ (قرة الواعظين)

❁ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: پهٔ آخرت کښې به پهٔ عذاب کښې اخته بعضې خلق ووايي چې افسوس دے پهٔ دنيا کښې مونږ د آسمان او د زمکې پهٔ مينځ کښې زړوند کړے شوے وے خو نن د دې مصيبت نه بچ وے ـ (ابن حبان)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: د قيامت پهٔ ورز به د دوزخيانو نه يو داسې کس راوستے شي چې دنيا کښې به د ټولو نه د ښهٔ حال والا پاتې شوے وي او پهٔ دوزخ کښې به ورله غوپه ورکړے شي او بيا به ورته ووييلے شي: اے ابن آدمه! تا پهٔ دنيا کښې څهٔ خوشحالي ليدلې وه؟ پهٔ تا څهٔ نعمت تېر وتے ؤ؟ هغه به ووايي: نا، قسم مِ دِ پهٔ الله وي اے ربه! (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د قيامت پهٔ ورز به څهٔ خلق د ددوزخ نه جنت طرف ته بوتلے شي ـ چې کله هغې ته نزدې شي او د هغې بوئې پرې ولګي او د هغې محلونو ته وګوري او هغه څهٔ ته کوم څهٔ چې الله تعالیٰ د هغې خاوندانو له تيار کړي دي نو آواز به وکړے شي چې دوئ د دې نه واپس

کړی، د دوی په دې کښې هیڅ حصه نیشته نو هغوی به په دومره ستوماني سره واپس شي چې په دغسې ستوماني سره به نۀ چرته مخکښې ځوک واپس شوے وي او نۀ به روستو واپس شي. (احیاء)

❁ ابوهریره رضی الله عنه فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره وو چې مونږ (د دهماکې والا) یو آواز واورېدۀ، رسول الله ﷺ وفرمائېل: تاسو پوهېږئ دا څۀ وو؟ مونږ ووئېل چې الله او د هغۀ رسول زیات پوهه دي. رسول الله ﷺ وفرمائېل: دا یو کاڼے ؤ چې اویا کاله مخکښې په جهنم کښې پرېښوے شوے ؤ وس د هغې وېښ ته ورسېدۀ. (مسلم)

❁رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: آخري کس چې د دوزخ نه به راوباسلے کیږي هغۀ له به وۀ زره کاله عذاب ورکړے شوے وي. (حکیم ترمذي)

جنت او دوزخ کښې همېشه والے

❁معاذ بن جبل رضی الله عنه رسول الله ﷺ یمن ته ولېږۀ. هغه چې د هغه ځائے خلقو ته ورسېد نو هغوی ته ئې ووې: اے خلقو زۀ تاسو ته د الله تعالیٰ د رسول ﷺ د طرف نه رالېږلے شوے یم، هغوی تاسو ته دا خبر درکوي چې واپسي ده الله تعالیٰ طرف ته یا جنت ته یا دوزخ ته، همېشه والے دے بغیر د مرګ نه او مقیم والے دے بغیر د کوچ نه. (طبراني)

❁رسول الله ﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ به جنتیان جنت ته او دوزخیان دوزخ ته داخل کړي بیا به یو اعلان کونکے د هغوی په مینځ کښې ودرېږي او دا اعلان به وکړي: اے جنت والو! مرګ نیشته دے، اے دوزخ والو! مرګ نیشته دے، ځوک چې کوم ځائے دے هلته به همېشه وي. (بخاري، مسلم)

باب: آخرت سره مناسب او هغې له ضروري سلوک

د آخرت غم فکر او یره لرل

✿ پۀ یو حدیث شریف کښې دي: رسول اللهﷺ ژړا وفرمائېله دې پورې چې اوښکې ئې پۀ ږیره مبارکه دواړه طرف ته وبهېدلې بیا ئې وفرمائېل: پۀ هغه ذات مې دِ قسم وي د چا پۀ لاس کښې چې د محمد روح دے! کۀ تاسو د آخرت معامله پېژندے څنګه ئې چې زۀ پېژنم نو تاسو به صحرا ته تلئ او پۀ خپلو سرونو به خاورې اچولې. (ترغیب)

✿ د ابوذرؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ هغه څۀ اینم چې تاسو ئې نۀ اینئ او هغه څۀ اورم چې تاسو ئې نۀ اورئ، بېشکه آسمان چغه وویسته او هغۀ له حق ؤ چې چغه ئې ویستے، پۀ هغې کښې د څلورو ګوتو ځائے داسې نیشتے چې یوې فرښتې پکښې ورچولے نۀ وي اېښے الله تعالیٰ ته پۀ سجده نۀ وي؛ قسم مې دِ پۀ الله وي! کچرې تاسو هغه څۀ پېژندے څۀ چې زۀ پېژنم نو تاسو به کم خندل او زیات به ژړل او پۀ بسترو کښې به د ښځو نه مزې نۀ اخستې او صحراګانو ته به وتلي وئ الله تعالیٰ ته به زاري کوله. (ابوذرؓ وفرمائېل) کاش زۀ یوه ؤنه وے چې غوڅه کړے شوے وے! (ترمذي، ابن ماجه)

آخرت سره پکار ژړا، نۀ چې خندا

✿ د ابوهریرهؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: کۀ تاسو ته هغه څۀ معلوم وے څۀ چې ما ته معلوم دي نو تاسو به لږ خندل او زیات به ژړل. (ترمذي)

✿ ابودرداءؓ د رسول اللهﷺ ارشاد نقل کوي: کوم څۀ چې ما ته معلوم دي کچرې هغه تاسو ته معلوم شي نو لږ به خاندئ او زیات به ژاړئ او دنیا به

ستاسو پهٔ نزد ډېره ذليله شي او آخرت به د هغې نه غوره کړی. (فضائلِ صدقات)

❁رسول اللهﷺ پهٔ څهٔ کسانو تېرېدلو کومو چې خندل نو وئې فرمائيل: تاسو خاندی او د جنت او د دوزخ معامله ستاسو پهٔ وړاندې ده! روايت کونکے وايي چې د دغې نه پس د مرگه پورې پهٔ هغوی کښې څوک پهٔ خندا ونهٔ ليدے شو. (ترغيب)

❁ روايت دے چې رسول اللهﷺ جبرائيل عليه السلام ته وفرمائيل: څهٔ وجه ده چې ما ميکائيل (عليه السلام) چرته پهٔ خندا ونهٔ ليد؟ جبرائيل عليه السلام وفرمائيل: د کوم وخت نه چې دوزخ پيدا کړے شوے دے ميکائيل نهٔ دي خندلي. (ترغيب)

د آخرت ياد او تيارے، آخرت له د ځان نه مخکښې څهٔ لېږل

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: دوه غټ څيزونه مهٔ هېروی: جنت او دوزخ. (ترغيب)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: نن ورز د مقابلې مېدان دے، صبا مقابله ده او انجام يا جنت دے او يا دوزخ. (طبراني)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: پهٔ هر کار کښې درنگ او صبر ښهٔ دے مگر د آخرت پهٔ کار کښې نهٔ. (ابوداؤد)

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ يو حديث مبارک کښې د دې مفهوم ارشاد مروي دے: د ټولو نه لوئے وصيت دا دے چې يو مسلمان بل مسلمان آخرت ته تيار کړي او د تقویٰ تاکيد ورته وکړي. (خطبات نبوي)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: آخرت له داسې عمل کوه لکه تهٔ چې صبا مرې. (اساس العربيه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: یو ناتمام بچے چې زۀ ئې د ځان نه مخکښې ولېږم ما ته زیات خوښ دے د یو شهسوار نه چې زۀ ئې د ځان نه روستو پرېږدم۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کله چې یو سړے مړ شي نو فرښتې وایي چې دۀ مخکښې څۀ لېږلي دي؟ او خلق وایي چې دۀ روستو څۀ پرېښي دي؟ (بیهقي)

د آخرت بابت کښې هر سړے د خپل ځان ذمه وار

❁ د ابوهریرهؓ نه روایت دے، فرمائي: کله چې نازل شو دا آیت: وَ اَنذِر عَشِیرَتَکَ الاَقرَبِینَ (ویروه خپل نزدې قبیلې (یا خاندان) والا) نو رسول اللهﷺ قریش راوغوښتۀ، هغوی عام و خاص ټول راجمع شو، رسول اللهﷺ وفرمائیل: اے بني کعب! خپل ځانونه د دوزخ (د اُور) نه بچ کړی، اے بني مره! خپل ځانونه د دوزخ نه بچ کړی، اے بني عبد شمس! خپل ځانونه د دوزخ نه بچ کړی، اے بني عبد مناف! خپل ځانونه د دوزخ نه بچ کړی، اے بني هاشم! خپل ځانونه د دوزخ نه بچ کړی، اے بني عبد المطلب! خپل ځانونه د دوزخ نه بچ کړی، اے فاطمې! خپل ځان د دوزخ نه بچ کړه، ځکه چې زۀ تاسو له د الله نه هیڅ نۀ شم کولے۔ (مسلم)

باب: د جنت او دوزخ څۀ خبرې

د جنت طلب او رغبت کول، د دوزخ نه تختېدل، یرېدل، بچ کېدل

❁رسول اللهﷺوفرمائیل: پۀ خپل ټول طاقت سره جنت طلب کړی او پۀ خپل ټول طاقت سره د دوزخ نه وتختی۔ (طبراني)

❁رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث شریف کښې وفرمائیل: اے د مسلمانانو ټولګیه! رغبت وکړی د هغې د څۀ چې الله تعالیٰ تاسو ته رغبت درکړے دے او بچ شی د هغې نه د څۀ نه چې الله تعالیٰ تاسو ته د بچ کېدو ویېلي دي او یره

وکړې د هغې نه د څۀ نه چې الله تعالیٰ تاسو یرولي يې. (بيهقي) . پۀ يو روايت کښې داسې راغلي دي: ر غبت وکړې د هغې د څۀ چې الله تعالیٰ تاسو ته رغبت درکړے دے (جنت او د هغې د نعمتونو) او وُيرېږې د هغې نه د څۀ نه چې الله تعالیٰ تاسو يرولي يې، د خپل عذاب، د خپلې سزا او د جهنم نه. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د دوزخ د اُور نه بچ شې اګرکۀ د کجورې د دانې پۀ يوې ټکړې سره وي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائيل: بيا به يقيناً پۀ تاسو کښې (هر) يو کس د الله تعالیٰ پۀ مخکښې ودرېږي چې د دۀ او د الله تعالیٰ پۀ مينځ کښې به نۀ څۀ پرده وي او نۀ ترجمان چې ترجماني وکړي. الله تعالیٰ به دۀ ته وفرمائي: ما تا له مال نۀ ؤ درکړے؟ دے به ووايي: راکړے دِ ؤ. بيا به وفرمائي: ما تا ته يو رسول نۀ ؤدرلېږلے؟ دے به ووايي: رالېږلے دِ ؤ. دے به خپل ښي طرف ته وګوري نو وبه نۀ ويني مګر د دوزخ اُور بيا به خپل ګڅ طرف ته وګوري نو وبه نۀ ويني مګر د دوزخ اُور. پس بچ دِ شي هر يو پۀ تاسو کښې د دوزخ نه اګرکۀ پۀ نيمې کجورې سره وي او کۀ دا نۀ مومي نو بيا پۀ يوې عمده خبرې سره. (بخاري)

د جنت رغبت او د دوزخ نه د يرې لرونکي کس رويه او عمل

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: څوک چې د جنت رغبت او شوق لري هغه د نيکيانو طرف ته جلدي کوي او څوک چې د دوزخ نه يرېږي هغه د شهوتونو (خواهشاتو) نه غافل وي. (ابن حبان)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې يرېږي هغه د شپې د اولې حصې نه روانيږي او څوک چې د شپې د اولې حصې نه روانيږي هغه منزل ته رسي.

خبردار! د الله تعالیٰ سودا ګرانه ده، خبردار! د الله تعالیٰ سودا جنت دے.
(ترمذي)

ﷺرسول اللهﷺپۀ يو حديث مبارک کښې ارشاد وفرمايۀ: د جنت طلب کونکے اوده کيږي نۀ او د دوزخ نه تختېدونکے اوده کيږي نۀ. (طبراني)

جنت ته نۀ تلل، د دوزخ حقدار جوړېدل

ﷺرسول اللهﷺ وفرمائېل: زما ټول اُمت به جنت ته زي مګر چا چې انکار وکړو. عرض وکړے شو: انکار چا وکړو اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې زما اطاعت وکړو هغه به جنت ته زي او چا چې زما نافرماني وکړه نو هغۀ انکار وکړو. (بخاري)

ﷺرسول اللهﷺ وفرمائېل: دوزخ ته به نۀ زي مګر بدبخت (شقي) سړے. عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! بدبخت څوک دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه څوک چا چې ونکړه الله تعالیٰ له څۀ نيکي او پرې ئې نښودۀ هغۀ له څۀ ګناه. (ابن ماجه)

ﷺ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: الله تعالیٰ به پۀ خپلو بندګانو کښې عذاب نۀ ورکوي مګر سخت نافرمان سرکشه له کوم چې د لَا اله الّا الله ويېلو نه انکار وکړي. (ابن ماجه)

باب: آخرت کښې شفاعت

د رسول اللهﷺشفاعت

ﷺرسول اللهﷺوفرمائېل: ز ما شفاعت به زما د اُمت د غټو (کبيره) ګناهونو والو دپاره وي. (مسلم، ترمذي، ابن ماجه)

ﷺرسول اللهﷺوفرمائېل: ما خپل شفاعت د خپل اُمت د لويو ګناهونو والو دپاره پټ ايښے دے. (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: د هر نبي د پاره يوه (قبلېدونکې) دعاء وي او ما خپله دعاء د خپل اُمت د پاره شفاعت اېښې ده. (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: ما ته اختيار راکړے شو په مينځ د شفاعت کښې او په مينځ د دې کښې چې زما نيم اُمت جنت ته بوتلے شي نو ما شفات غوره کړو ځکه چې دا زيات عام او زيات کافي کېدونکے دے. (ابن ماجه، احمد)

۞رسول اللهﷺوفرمائېل: کله چې د قيامت ورز شي نو زۀ بۀ د نبيانو امام او خطيب او د خلقو د شفاعت والا يم بغير د فخر نه. (ترمذي، ابن ماجه)

د نور چا شفاعت (سفارش)، د قرآن شفاعت

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: زما د اُمت به څۀ کسان وي چې د خلقو جماعتونو له به شفاعت (سفارش) کوي او څۀ به داسې وي چې قبيلې له به شفاعت کوي. سړي ته به وويېلے شي: اے فلانيه! پاڅه شفاعت وکړه. هغه به پاڅي قبيلې له به شفاعت وکړي، کور والو له به شفاعت وکړي او يو سړي او دوؤ له به شفاعت وکړي پۀ قدر د هغوی د عمل. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خلق به د قيامت پۀ ورز صفونه شي نو د دوزخيانو يو سړے به (د جنتيانو) پۀ يو سړي تېرېږي نو وُبه وايي: اے فلانيه! تا ته هغه ورز ياده نۀ ده چې تا زما نه اُوبۀ غوښتلې وې نو ما درباندې اُوبۀ څښولې وې؟ نو هغه به ورله شفاعت (سفارش) وکړي. او (د دوزخيانو) يو سړے به (د جنتيانو) پۀ يو سړي تېرېږي نو وُبه وايي: تا ته هغه ورز ياده نۀ ده چې ما تا له د پاکۍ د پاره اُوبۀ درکړې وې؟ نو هغه به ورله شفاعت وکړي. او وُبه وايي (د دوزخيانو يو سړے): اے فلانيه! تا ته هغه ورز ياده نۀ ده چې تا زۀ دې دې حاجت له لېږلے وُم او زۀ ستا د پاره تلے وُم؟ نو هغه به ورله شفاعت وکړي. (ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: قرآن لولیۍ دا به د قيامت پۀ ورز د قرآن والو دپاره شفاعت کونکے رازي. (مسلم)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: د قيامت پۀ ورز به هيڅ يو شفاعت کونکے الله تعالیٰ ته د قرآن نه پۀ درجه کښې غوره نۀ وي، نۀ يو نبي، نۀ يوه فرښته او نۀ بل څۀ. (فضائلِ قرآن)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ پۀ کتاب کښې يو سورت دے چې پکښې صرف دېرش آيتونه دي (سورۀ ملک) هغه به د سړي شفاعت کوي تر دې چې دے به وبخښلے شي. (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، احمد)

باب: آخرت او د الله رحم و کرم

د قيامت پۀ ورز د الله رحمت او مغفرت، جنت او د الله رحمت

❁رسول الله ﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ سل رحمتونه دي لس اتيا ئې ترېنه د ځان سره ذخيره کړي دي او يو ئې ترېنه پۀ دنيا کښې ښکاره کړے دے پۀ هغې سره خلق پۀ يو بل رحم کوي، مور پۀ خپل بچي او ځاروے پۀ خپل بچي مهربان وي؛ پس کله چې به د قيامت ورز شي نو الله تعالیٰ به دا يو رحمت د هغه سلو سره يو ځائے کړي او بيا به دغه ټول پۀ خلقو خوارۀ کړي او هر رحمت به د آسمانونو او د زمکې برابر وي. رسول الله ﷺ وفرمائېل: پس پۀ دغه ورز به نۀ هلاکيږي مګر هلاکېدونکے. (متفق عليه)

❁رسول الله ﷺ فرمائېلي دي: د الله تعالیٰ سل رحمتونه دي پۀ هغې کښې يو دادے چې خلق پۀ يو بل رحم کوي او يو کم سل د قيامت د ورزې د پاره دي. (مسلم)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز داسې مغفرت وفرمائي چې د چا پۀ زړۀ به هم نۀ وي تېر شوے تر دې چې

ابلیس به ورته هم پهٔ دې اُمید څټ اوږد کړي چې کهٔ هغهٔ ته ورسي - (پهٔ یو روایت کښې دي چې د کافرانو به هم اُمید پیدا شي) - (احیاء)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالىٰ به د قیامت پهٔ ورز مومنانو ته وفرمائي: تاسو زما ملاقات غواړئ؟ هغوی به ووايي؟ آ (غواړو) اے زمونږه ربه! الله تعالىٰ به وفرمائي: ولې؟ هغوی به ووايي: مونږ ستا د رحمت او د مغفرت اُمید لرو - الله تعالىٰ به وفرمائي: ما تاسو له خپل مغفرت واجب کړو - (احمد، طبراني)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: کهٔ مومن ته معلوم شي کوم عذاب چې د الله تعالىٰ سره دے نو د جنت طمع به هیڅوک ونکړي او کهٔ کافر ته معلوم شي کوم رحمت چې د الله تعالىٰ سره دے نو د جنت نه به هیڅوک نااُمیده نهٔ شي - (مسلم)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: کهٔ چرې کافر ته د الله تعالىٰ د رحمت زیات والے معلوم شي نو د هغهٔ د جنت نه به هیڅوک هم نااُمیده نهٔ شي - (متفق علیه)

جنت ته تلل او د دوزخ نه خلاصېدل صرف د الله پهٔ رحم سره

۞ د جابرؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ تاسو کښې د چا عمل هغه جنت ته نهٔ شي بوتلے او نهٔ ئې د دوزخ نه خلاصولے شي او نهٔ ما مګر د الله تعالىٰ پهٔ رحم سره - (مسلم)

۞ د رسول اللهﷺ نه پهٔ یو حدیث مبارک کښې ارشاد مروي دے: پوهه شئ چې پهٔ تاسو کښې هیڅوک هم پهٔ خپل عمل نهٔ شي خلاصېدے - (احیاء)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کهٔ الله تعالىٰ د آسمانونو او زمکې ټولو خلقو له عذاب ورکړي نو هغه به پهٔ دوی ظلم کونکے نهٔ وي او کهٔ پهٔ دې ټولو رحم وکړي نو د هغهٔ رحم به دوی له د دوی د عملونو نه غوره وي - (ابن ماجه)

کتاب: د دين تبليغ، دعوت، وعظ و تذکير، متعلقات

باب: دعوت و تبليغ، امر بالمعروف او نهي عن المنکر، متعلقات

د تبليغ او د دعوت تاکيد او فضيلت

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: تاسو وُرسوی زما نه اګرکۀ يو آيت وي. (بخاري)

۞رسول اللهﷺ علي رضي الله عنه ته وفرمائېل: کۀ الله تعالیٰ ستا پۀ ذريعه يو سړي ته هدايت وکړي نو دا تا له د سرو اُوښانو نه زياته غوره ده. (بخاري، مسلم)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې هدايت طرف ته دعوت ورکړو دۀ ته به دومره اجر ملاوېږي څومره چې به عمل کولو والا ته ملاوېږي او د دۀ پۀ اجر کښې به څۀ کمے نۀ رازي. (مسلم)

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر (د نيکۍ د حکم او د بدۍ نه د منع کولو) تاکيد

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تاسو د نيکۍ حکم کوئ اګرکۀ پخپله پۀ هغې ټولې عمل نۀ کوئ او د بدۍ نه منع کوئ اګرکۀ پخپله د هغې ټولې نه نۀ بچ کېږئ. (طبراني)

۞ د انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ته عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! مونږ امر بالمعروف او نهي عن المنکر کله پرېښودے شو؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې هغه څۀ ظاهر شي څۀ چې ستاسو نه پۀ مخکښې اُمتونو کښې ظاهر شوي وو. مونږ عرض وکړو: اے د الله رسوله! زمونږ نه پۀ مخکښې اُمتونو کښې څۀ ظاهر شوي وو؟

رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ وړو خلقو کښې حکمراني (يا مشري)، پۀ غټو کښې بدکاري او پۀ ښکته او ردي خلقو (يا فاسقانو) کښې علم۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو وعظ شريف کښې د دې مفهوم ارشاد وفرمايۀ: ولې بعضې خلق نورو ته د ښۀ خبرو حکم نه کوي او د بدو نه ئې نۀ منع کوي؟ (ترغيب، مجمع الزوائد، فضائلِ صدقات)

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فضيلت، د دې ښۀ طريقه او نرمي

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د نيکۍ (نور) کارونه د الله تعالیٰ پۀ لار کښې د جهاد پۀ مخکښې داسې دي لکه يوه توکاڼه چې پۀ يو لوئے درياب کښې وي، او د نيکۍ ټول کارونه او د الله تعالیٰ پۀ لار کښې جهاد د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پۀ مخکښې داسې دي لکه يوه توکاڼه چې پۀ يو لوئے درياب کښې وي۔ (احياء)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې څۀ نيکۍ (د هدايت خبرې) ته رابلل وکړي نو دۀ ته به د هغه خلقو د ثوابونو برابر ثواب ملاوېږي کوم چې د دۀ پيروي وکړي او د هغوی پۀ ثوابونو کښې به څۀ کمے نۀ رازي، او څوک چې څۀ ګمراهۍ ته رابلل وکړي نو د دۀ به د هغه خلقو د ګناهونو برابر ګناه کيږي کوم چې د دۀ پيروي وکړي او د هغوی پۀ ګناهونو کښې به څۀ کمے نۀ رازي۔ (مسلم) ۔ (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: څوک چې يو ګناه ته حاضر وي او هغه بد وګڼي نو دے داسې دے لکه چې د هغې نه غائب وي، او څوک چې د يو ګناه نه غائب وي او هغه ښۀ وګڼي نو دے داسې دے لکه چې هغې ته حاضر وي۔ (احياء)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دې اُمت په آخر کښې به داسې خلق وي چې هغوی له به اجر وي په شان د اولنو د دې؛ د نیکۍ حکم به کوي او د بدۍ نه به منع کوي او د فتنو والو سره به جنګیږي. (بیهقي)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څوک چې د نیکۍ حکم کوي نو د هغه دِ په نیکۍ وي. (بیهقي)

۞ د رسول اللهﷺنه د دې مفهوم ارشاد مروي دے: د نیکۍ حکم نۀ شي کولے او د بدۍ نه نۀ شي منع کولے مګر هغه څوک چې په دې کار کښې نرم ، برداشت والا او پوهه لرونکے وي. (احیاء)

بدۍ لرې کول په لاس، ژبې او زړۀ سره، د بدۍ د ختمولو طاقت نۀ لرل

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: په تاسو کښې چې څوک څۀ بدي (مُنکر) ویني نو لرې دِ کړي په خپل لاس سره، کۀ د لاس طاقت ئې نۀ وي نو په خپلې ژبې سره او کۀ د ژبې طاقت ئې نۀ وي نو په خپل زړۀ سره او دغه د ټولو نه کمزورے ایمان دے. (مسلم) په یو بل روایت کښې داسې دي: چا چې په تاسو کښې څۀ بدي ولیده او هغه ئې لرې کړه په لاس سره نو دے خلاص (بري) شو، او د چا چې د لاس طاقت نۀ ؤ نو هغه ئې لرې کړه په ژبې سره نو دے خلاص شو، او د چا چې د ژبې طاقت نۀ ؤ نو هغه ئې لرې کړه په زړۀ سره نو دے خلاص شو او دغه د ټولو نه کمزورے ایمان دے. (نسائي)

۞ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: کۀ تاسو څۀ بدي وینۍ کومه چې تاسو نۀ شۍ ختمولے نو صبر کوۍ الله تعالیٰ به ئې ختمه کړي. (دِ ریلیجن ریفارمرز اِن اسلام)

۞ د رسول اللهﷺنه د دې مفهوم روایت دے: څوک چې د ظالم ظلم نۀ شي ختمولے نو دے دِ د هغه ځائے نه هجرت کوي. (دِ ریلیجن ریفارمرز اِن اسلام)

حق ويېل، د حق ويېلو نه نۀ منع کيدل

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشادونه مروي دي: حق وايه اګرکۀ تريخ وي. حق وايه اګرکۀ ستا د خپل ځان خلاف وي. (اساس العربيه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ ځوک د خلقو يره د دې نه منع نکړي چې حق ووايي کله چې ورته معلوم وي (يا شي) يا چې کله څۀ بدي ويني چې ختمه ئې کړي. (ترمذي)

۞رسول اللهﷺ خطبې ته ودرېدلو او څۀ ئې چې وفرمائېل پۀ هغې کښې څۀ دا وو: خبردار! د خلقو يره دِ يو سړے د حق ويېلو نه منع نکړي کله چې ورته معلوم وي. (ابن ماجه)

پۀ دين او حق باندې ولاړ او امر و نهي کونکي څۀ خلق

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: زما د اُمت څۀ خلق به برابر د الله تعالیٰ د امر (دين ،علم) قائمونکي (او پۀ هغې قائم) وي، ضرر به ورته نۀ شي رسولے ځوک ئې چې بې ځوکه پرېږدي يا ئې مخالفت کوي تر دې چې د الله تعالیٰ امر (د دوی نښه) راشي او دوی پۀ دې حال وي. (بخاري، مسلم)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: زما د اُمت د يو ټولګي به برابر پۀ حق باندې مدد کيږي، رسولے به نۀ شي ورته ضرر ځوک ئې چې بې يار و مددګار پرېښول او مخالفت کول وغواړي دې پورې چې د الله تعالیٰ امر (مقرر وخت) راشي. (خطباتِ حکيم الاسلام)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: د دې اُمت پۀ آخر کښې به څۀ خلق وي چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر به کوي او د فتنو والو سره به جنګيږي. (بيهقي)

باب: امر بالمعروف او نهي عن المنكر نۀ کول وغیره

د نیکۍ د حکم د نۀ کولو او د بدۍ نه د نۀ منع کولو وعیدونه، وبال او نقصان

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څۀ بد دي هغه خلق څوک چې د انصاف حکم نۀ کوي او څۀ بد دي هغه خلق څوک چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر نۀ کوي! (احیاء)

❁رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائیل: نۀ دے زمونږ نه چا چې د نیکۍ حکم ونکړو او د بدۍ نه ئې منع ونکړه. (ترمذي)

❁ روایت دے چې رسول اللهﷺ وفرمائیل: قسم دِ وي زما پۀ هغه ذات د چا پۀ قبضه کښې چې زما روح دے! زما د اُمت ډېر خلق به د خپلو قبرونو نه د شادوګانو او خنزیرانو پۀ شکل کښې راوزي پۀ دې وجه چې دوی به د ګناه کونکو سره د نرمۍ (مداهنت) نه کار اخستۀ او سره د طاقت نه به ئې هغوی د ګناهونو نه نۀ منع کول. (درمنثور)

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: پۀ قیامت کښې به الله تعالیٰ یو سړي ته وُفرمائي: تۀ څۀ شي منع کړے وې چې زما پۀ باره کښې دِ داسې ویېلے وے؟ هغه به ووايي: د خلقو یرې. الله تعالیٰ به وفرمائي: تۀ زما نه د یرېدو زیات حقدار وې. (ابن ماجه)

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: د نیکۍ حکم کوی او د بدۍ نه منع کوی مخکښې د دې نه چې تاسو دعاء کوی او هغه نۀ قبلیږي. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ یو حدیث مبارک کښې مروي دي: کله چې زما اُمتیان امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېږدي نو د وحې د برکت نه به محروم کړے شي. (ترمذي، ابن ابی الدنیا)

۞رسول اللهﷺ وفرمائيل: په يو قوم والو کښې چې ګناهونه کیږي او دوی د ګناه کونکو نه زيات طاقت والا وي او هغوی نۀ منع کوي نو الله تعالیٰ به دا ټول په عذاب کښې راګېر کړي۔ (ابن ماجه)

۞ عمرو بن هشيمؓ فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: په يو قوم کښې چې ګناهونه کیږي او دے د لرې کولو طاقت لري او لرې نکړي نو نزدې وي چې الله تعالیٰ په دوی ټولو عذاب راولي۔ (ابوداؤد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: په يو قوم والو کښې چې يو سړے ګناهونه کوي او دوی هغه منع کولے شي او نۀ ئې منع کوي نو الله تعالیٰ به دوی ته د دوی د مرګ نه مخکښې څۀ عذاب رسوي۔ (ابن ماجه، ابوداؤد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: د کوم قوم خلق چې ګناهونه کوي او په هغوی کښې داسې څوک وي چې رد پرې کولے شي او ونکړي نو نزدې وي چې الله تعالیٰ د خپل طرف نه په هغو ټولو عذاب راولي۔ (احياء)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: قسم مې دې په الله تعالیٰ وي! تاسو به ضرور د نیکۍ حکم کوئ او د بدۍ نه به منع کوئ او ضرور به د ظالم لاس نيسئ او ضرور به ئې حق ته راړوئ او ضرور به ئې په حق باندې بندوئ کنه ضرور به الله تعالیٰ ستاسو د بعضو زړونه د بعضو سره خلط کړي او بيا به ضرور په تاسو لعن وکړي لکه چې لعن ئې کړے ؤ په هغو (مخکښېنو) باندې۔ (ابوداؤد)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ عامو خلقو ته د خاصو په عمل سره عذاب نۀ ورکوي تر دې چې دوی بدې په خپل مخ کښېويني او دوی قادر وي چې په هغې رد وکړي خو رد پرې ونکړي، پس کله چې دوی داسې وکړي نو الله تعالیٰ به عامو او خاصو ټولو له عذاب ورکوي۔ (شرح السنه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: لَا اِلٰهَ اِلَّا الله همېشه خپلو ويونکو ته نفع ورکوي او عذاب او سزا ترېنه دفع کوي څو پورې چې هغوی د دې حق سپک ونۀ ګڼي

۔صحابه ؤ عرض وکړو: اے د الله رسوله! د دې حق سپک ګڼل څۀ دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: چې د الله تعالیٰ نافرمانیانې کیږي خو نۀ هغه بدې او عیب ګڼلے کیږي او نۀ ختمولے کیږي۔ (ترغیب، فضائلِ اعمال)

نورو ته ویېل پخپله عمل نۀ کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ جنتیانو کښې به څۀ خلق د دوزخیانو څنګ ته لاړ شي او د هغوی نه به تپوس وکړي چې تاسو پۀ څۀ خبره دوزخ ته داخل شوی؟ قسم پۀ الله! مونږ خو صرف پۀ هغه څۀ جنت ته داخل شو څۀ چې مونږ ستاسو نه ازده کړي وو ۔ هغوی به ووايي: مونږ به ویېل خو کول به نۀ ۔ (طبراني)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د معراج پۀ شپه زما پۀ داسې څۀ کسانو تېرېدل کېدۀ د چا چې شونډې د اور پۀ قینچیانو پرې کولے کېدې۔ ما تپوس وکړو: تاسو کوم خلق یی؟ هغوی وویېل: مونږ به د نیکۍ حکم کولو خو پخپله به نیکي نۀ کوله او د بدۍ نه به نور خلق منع کوو خو پخپله به بدي کوله ۔ (ابوداؤد) ۔ پۀ یو بل روایت کښې داسې دي: ما د جبریل (علیه السلام) نه تپوس وکړو چې دا کوم خلق دي؟ هغۀ وویېل: دا ستا د اُمت هغه خطیبان (واعظان) دي چې خلقو ته به ئې د نیکۍ حکم کولو او خپل ځانونه به ئې هېرول۔ (شرح السنه، بیهقي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائيل: د قیامت پۀ ورز به یو عالم راوستے شي او اُور ته به وغورزولے شي۔ د هغۀ کولمې به راوزي او هغه به ئې داسې چاپېره ګرزوي لکه خر چې چکۍ ګرزوي۔ دوزخیان به د هغۀ نه چاپېره جمع شي او تپوس به ترې وکړي چې تا ته پۀ څۀ ګناه عذاب درکړے شو؟ هغه به جواب ورکړي چې ما به د ښۀ کار حکم کولو او پخپله به مِ هغه نۀ کولو او د بد کار نه به مِ خلق منع کول او پخپله به مِ هغه کولو۔ (بخاري)

د ګناهونو نه د نۀ منع کېدونکو سره خوراک څښاک، ناسته

✿ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: اولنے نقصان چې بني اسرائيلو ته ننوتے ؤ هغه دا ؤ چې سړے به د بل سره ملاؤ شو نو وُبه ئې ويېل: د الله نه ويرېږه دا تۀ څۀ کوې؟ دا خو تا له جائز نۀ دي؟ بيا به صبا له ورسره ملاؤ شو او هغه به پۀ خپل حال ؤ نو دې خبرې به دے د دې نه نۀ منع کولو چې د هغۀ سره خوراک څښاک او ناسته وکړي. (ابوداؤد)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې بني اسرائيل پۀ ګناهونو کښې پرېوتل نو د دوی علماء دوی منع کول شروع کړۀ خو دوی منع نۀ شو نو هغوی د دوی سره د دوی پۀ مجلسونو کښې کښېناستل او د دوی سره خوراک څښاک کول شروع کړۀ نو الله تعالیٰ د بعضو زړونه د بعضو د زړونو سره مل کړۀ اولعنت ئې پرې ووې پۀ ژبه د داؤد او د عيسیٰ بن مريم (عليهم السلام) . (ترمذي، ابوداؤد)

باب: وعظ و نصيحت

وعظ کښې اعتدال، د وعظ پۀ باره کښې يو سخت تنبيه

✿ابو وائل شقيق بن سلمه رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: ابن مسعودؓ به مونږ ته د هر زيارت پۀ ورز وعظ کولو . يو سړي ووې: اے د عبد الرحمٰن پلاره! زۀ غواړم چې تا مونږ ته هره ورز وعظ کولے! هغوی وفرمائېل: ما د دې نه دا خبره منع کوي چې زۀ دا بد ګڼم چې تاسو ستړي کړم او زۀ پۀ وعظ کښې ستاسو خيال ساتم لکه رسول اللهﷺ چې به زمونږ خيال ساتلو پۀ مونږ د ستړې او مشقت د ېرې نه. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کوم سړے چې وعظ کوي الله تعالیٰ به د قیامت په ورز د هغهٔ نه تپوس وکړي چې د دې نه ستا غرض او مقصد څهٔ ؤ؟ (ترغیب، فضائلِ صدقات)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: خلقو ته بیان (وعظ و حکایت) نهٔ کوي مګر امیر، مامور (د هغهٔ نائب) او ریاکار. (ابن ماجه)

نورو ته وعظ کول پخپله عمل نهٔ کول

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: د معراج پهٔ شپه زهٔ پهٔ یو قوم تېروتم د چا شونډې چې د اُور پهٔ قیچیانو غوڅېدلے. ما تپوس وکړو: اے جبرئیله دا څوک دي؟ هغهٔ ووې: دا ستا د اُمت هغه خطیبان (تقریر کونکي) دي کوم چې هغه نهٔ کوي څهٔ چې وایي. (ترمذي). پهٔ یو بل روایت کښې داسې دي: دا ستا د اُمت هغه خطیبان دي چې څهٔ به ئې ویېل هغه به ئې نه کول او د الله تعالیٰ کتاب به ئې لوستهٔ او عمل به ئې نهٔ کولو. (بیهقي)

کتاب: د دین حفاظت، متعلقات

باب: جهاد، متعلقات

جهاد، تاکید، ترغیب، جهاد د قیامته پورې جاري

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: د دې امر (حکومت یا دین) اول نبوت او رحمت دے بیا به خلافت او رحمت وي بیا به بادشاهت او رحمت وي او بیا به تاسو پهٔ دې د یو بل چیچل شروع کړی، پهٔ شان د یو بل د چیچلو د خرو؛ پس تاسو جهاد پهٔ ځان لازم کړی. (السلسلة الصحیحه)

❁ د انسؓ نه روایت دے: رسول اللهﷺ وفرمائېل: جهاد کوی د مشرکانو سره پهٔ خپلو مالونو، ځانونو او ژبو سره. (ابوداؤد، نسائي، احمد، دارمي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زۀ د قيامت نه مخکښې د تورې سره رالېږلے شوے يم تر دې چې د يو الله واحد لا شريک عبادت وکړے شي. ()

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ما ته حکم کړے شوے دے چې د خلقو سره جنګ (جهاد) وکړم تر دې چې هغوی ګواهي وکړي چې نيشتے اِلٰه مګر الله او محمد د الله رسول دے او نمونځ وکړي او زکوٰة ورکړي؛ پس کله چې هغوی داسې وکړي نو زما نه به خپلې وينې او مالونه بچ کړي مګر د هغې پۀ حق سره او د هغوی حساب به پۀ الله تعالیٰ وي. (مسلم)

❁ د حسن رحمه الله نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ حکم وفرمايۀ چې عرب به جنګ کوي پۀ اسلام، نور څۀ به ترې قبول نۀ وي، او حکم ئې وفرمايۀ چې اهلِ کتاب به جنګ کوي پۀ اسلام او کۀ انکار وکړي نو بيا جزيه ده. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: جهاد به د قيامت د ورځې پورې جاري وي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: زما د اُمت يو ټولګے به برابر پۀ حق باندې جنګ کوي، غلبه موندونکے به وي پۀ هغه چا کوم چې د دۀ سره دشمني کوي دې پورې چې د دې آخري کس د مسيح دجال سره وجنګېږي. (ابوداؤ)

د جهاد فضيلت، اجر و ثواب، فائده، د رباط ثواب

❁ د ابوذرؓ نه روايت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! کوم عمل د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ الله تعالیٰ ايمان او د هغۀ پۀ لار کښې جهاد کول. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ پۀ لار کښې يو سحر يا يو ماښام تېرول د دنيا او پۀ دنيا کښې چې څۀ دي د هغې نه غوره دي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ تاسو کښې د يو کس د الله تعالیٰ پۀ لار کښې پاتې کېدل پۀ خپل کور کښې د اويا کاله نمونځ کولو نه غوره دي. تاسو نۀ

غواړي چې الله تعالیٰ تاسو وبخښي او تاسو جنت ته بوزي؟ د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې غزا کوئ. څوک چې د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې د اُوښې د دوؤ پېرو لشلو د مينځ د وخت هومره وجنګېدهٔ نو جنت ورله واجب شو. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې وُزي چې نهٔ وُباسي هغه مګر د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې جهاد کول او پهٔ الله تعالیٰ ايمان لرل او د الله تعالیٰ پيغمبران رشتوني او حق ګڼل نو الله تعالیٰ ضامن (ذمه وار) دے چې جنت ته به ئې داخلوي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ (پهٔ يو حديث مبارک کښې د يو ارشاد نه پس) وفرمائېل: يو عمل دے چې الله تعالیٰ پرې بنده پهٔ جنت کښې سل درجې اوچتوي چې د هر دوؤ درجو پهٔ مينځ کښې دومره فاصله ده لکه د آسمان او د زمکې پهٔ مينځ کښې . ابوسعيدؓ عرض کړو: هغه څهٔ دے اے د الله رسوله؟رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې جهاد، د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې جهاد . (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا چې د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې (يا پهٔ اسلام کښې) وېښتهٔ سپين شي نو دا به ورله د قيامت پهٔ ورځ نور وي . (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: جنت د تورو د سورو د لاندې دے. (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: تاسو د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې جهاد پهٔ ځان لازم کړئ ځکه چې دا د جنت د دروازو نه يوه دروازه ده، الله تعالیٰ پهٔ دې سره غم او يره بوزي. (لا تحزن)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې د يوې ورځې رباط (ځان بندول (د سر حد پهٔ حفاظت کښې بندېدل) د دنيا او پهٔ دنيا کښې چې څهٔ دي د هغې نه غوره عمل دے. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ يو حديث مبارک کښې ارشاد وفرمايهٔ: د ټولو نه بهتر جهاد رباط دے. (السلسلة الصحيحه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې د رباط يوه ورز پهٔ نورو ځايونو کښې د زرو ورزو نه غوره ده. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا د يوې ورزې او د شپې رباط د يوې مياشتې د روژې او د قيام نه غوره دے او کهٔ پهٔ دې کښې د ے مړ شي نو جاري به شي پهٔ دهٔ د دهٔ هغه عمل کوم چې به دهٔ کولو او جاري به شي پرې رزق د دهٔ او پهٔ امن به شي د فتنه غورزونکي (د قبر د سوال) نه. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د هر مړي پهٔ عمل مُهر لګولے کيږي سوا د مرابط نه د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې چې د دهٔ عمل دهٔ له د قيامت د ورزې پورې زياتيږي او د ے د قبر د فتنې نه بې يرې کولے کيږي. (ابوداؤد، ترمذي)

جهاد کښې د دوړې لګېدو ثواب

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: د چا پهٔ پخو چې د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې دوړه ولګېده هغه پهٔ دوزخ حرامې شوې (يا الله تعالیٰ د غه کس پهٔ دوزخ حرام کړو). (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: داسې نهٔ شي کېد ے چې د يو بنده پهٔ پخو د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې دوړه ولګي او بيا پرې د دوزخ اور وُبړسي. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې دوړه او د جهنم لوګے د يو بنده پهٔ خېټه کښې نهٔ شي جمع کېد ے. (الادب المفرد)

❁ د ربيع بن زياد رحمه الله نه روايت د ے، فرمائي: پهٔ داسې حال کښې چې رسول اللهﷺ (جهاد له) تلو د قريشو پهٔ يو هلک ئې نظر شو چې د لارې نه لرې روان ؤ؛ رسول اللهﷺ وفرمائيل: دا خو فلانے نهٔ د ے؟ صحابه ؤ ووې: جي هغه د ے. رسول اللهﷺ وفرمائيل: راوئې بلې. رسول اللهﷺ هغهٔ ته وفرمائيل: تا له ولې چې د لارې نه جدا شو ے وې؟ هغهٔ عرض وکړو: اے د الله

رسوله! دوړه راباندې بده لګېده. رسول اللهﷺ وفرمائېل: مۀ جدا کېږه، قسم مِ دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې د محمد روح دے! دا د جنت خوشبو ده. (ابوداؤد في مراسيله)

پۀ غار وغيره کښې د يوازې پاتې کېدو نه د جهاد غوره والے

❁ د ابواُمامهؓ نه روايت دے، فرمائي: مونږ د رسول اللهﷺ سره پۀ يوې سريې کښې وتلي وو يو سړے د يو غار پۀ خوا کښې تېريدۀ پۀ کوم کښې چې څۀ اُوبۀ او څۀ سبزي پرته وه نو د دۀ پۀ زړۀ کښې خيال پيدا شو چې پۀ دې کښې دېره شي او د دنيا نه جدا شي نو د رسول اللهﷺ نه ئې د دې اجازت غوښتۀ، رسول اللهﷺ ورته وفرمائېل: زۀ نۀ د يهوديت سره رالېږلے شوے يم او نۀ د نصرانيت سره بلکې د حنيفي آسان دين سره رالېږلے شوے يم، قسم مِ دِ پۀ هغه ذات وي د چا پۀ لاس کښې چې د محمد روح دے! د الله تعالیٰ پۀ لار کښې يو سحر تلل او يو ماښام تلل د دنيا او پۀ دنيا کښې چې څۀ دي د هغې نه غوره دي او ستاسو د يو کس (د جهاد) پۀ صف کښې ودرېدل د شپېتۀ کاله نمونځ کولو نه غوره دي. (احمد)

جهاد کښې خرچ کول، سامان ورکول او بندول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د الله تعالیٰ پۀ لار (جهاد) کښې خرچ وکړو دۀ له به وُسوه چنده (ثواب) ليکلے کېږي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د الله تعالیٰ پۀ لار کښې څۀ نفقه ولېږله او پخپله کور ناست ؤ نو دۀ له پۀ هر درهم وۀ سوه درهمه دي (د هغې ثواب دے)، او چا چې پخپله د الله تعالیٰ پۀ لار کښې غزا وکړه نو دۀ له پۀ هر درهم وۀ لاک درهمه دي. بيا ئې دا آيت مبارکه و لوستۀ: "الله تعالیٰ زياتوي (څوڅو چنده کوي) چا له چې غواړي". (ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د ټولونه غوره دينار چې څوک ئې خرچ کوي هغه دينار دے چې پۀ خپل کوروالو ئې خرچ کړي او هغه دينار دے چې د الله تعالىٰ پۀ لار کښې ئې پۀ خپله سورلۍ خرچ کړي او هغه دينار دے چې د الله تعالىٰ پۀ لار کښې ئې پۀ خپلو ملګرو خرچ کړي. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: چا چې يو غازي له د غزا سامان ورکړو نو دۀ له د هغۀ د اجر پۀ شان اجر دے. (بخاري)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې د الله تعالىٰ پۀ لار کښې غزا کونکي له سامان تيار کړو نو دۀ غزا وکړه او چا چې د غزا کونکي د کور والو حاجتونه پوره کړۀ نو دۀ غزا وکړه. (متفق عليه)

❁ روايت دے چې يو سړے د يوې مهار والا اُوښې سره د رسول الله ﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او وئې ويېل چې دا د الله پۀ لار کښې ده. رسول الله ﷺ وفرمائېل: تا له به د دې پۀ عوض کښې د قيامت پۀ ورځ وۀ سوه اُوښې وي ټولې مهار والا. (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې د الله تعالىٰ پۀ لار کښې يو اَس بند کړو پۀ الله تعالىٰ د ايمان او د هغۀ د وعدې پۀ تصديق باندې نو د دغه اَس د لوږې او تندې نه مړېدل او د هغۀ خرشنۀ او متيازې به د قيامت پۀ ورځ د دۀ پۀ تله کښې وي. (بخاري)

❁ د رسول الله ﷺ د يو ارشاد مبارک مفهوم دے: د ټولو نه غوره صدقه د الله تعالىٰ پۀ لار کښې د خېمې سورے او د الله تعالىٰ پۀ لار کښې د خادم عطيه او د الله تعالىٰ پۀ لار کښې د اُوښ وغيره ورکول دي. (ترمذي)

جهاد کونکي له کار کول، سورلۍ ته ئې ګيا ورکول وغيره، جهاد کښې روژه نيول

❁ د ابو قلابه رحمه الله نه روايت دے: د رسول الله ﷺ پۀ اصحابو کښې څۀ کسانو د خپل يو ملګري ښۀ صفت شروع کړو وئې ويېل: مونږ د فلاني پۀ شان

هیڅکله څوک نهٔ دے لیدلے، بغیر د قرآن لوستو نه به نهٔ ؤ روان، مونږ چې به پهٔ کوم یو پړاؤ کوز شو نو پهٔ نمانزهٔ به شو - رسول اللهﷺ وفرمائیل: هغهٔ له به کار چا کولو؟ (دا رنګې نور خیزونه) تر دې چې دا ئې هم ذکر کړل چې د هغهٔ اُوښ یا څاروي ته به ګیا چا ورکوله؟ دوی ووې: مونږه؛ نو رسول اللهﷺ وفرمائیل: تاسو ټول د هغهٔ نه غوره یئ - (ابوداؤد في مراسیله)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: هیڅ یو بنده یوه ورز د الله تعالیٰ پهٔ لار (جهاد) کښې روژه نهٔ نیسي مګر الله تعالیٰ د هغه ورزې پهٔ عوض کښې د دهٔ مخ اویا خریفه د دوزخ نه لرې کوي - (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې یوه ورز روژه ونیسله الله تعالیٰ به د دهٔ او د دوزخ پهٔ مینځ کښې د آسمان او د زمکې هومره خندق جوړ کړي - (متفق علیه)

د جهاد دوه قسمونه (ښهٔ او بد)، شهادت والا جهاد

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: غزا دوه قسمه ده: چا چې د الله تعالیٰ رضا وغوښته او د بادشاه (امیر) حکم ئې وُمنهٔ او عمده مال (یا خپل نفس) ئې خرچ کړو او د شریک (ملګري) سره ئې د آسانئ او نرمئ معامله وساتله او د فساد نه لرې پاتې شو نو د دهٔ خوب او وېښ والے هر څهٔ اجر دے؛ او چا چې غزا وکړه د فخر، ریا او اورونې دپاره او د بادشاه حکم ئې وُنهٔ منهٔ او فساد ئې وکړو پهٔ زمکه کښې نو دے د ثواب (یا سر پهٔ سر والي) سره واپس نهٔ شو - (مالک، ابوداؤد، نسائي)

❁ یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! بني سلمه ټول جنګ کوي؛ څوک پکښې د دنیا دپاره جنګ کوي، څوک پکښې د بهادرئ ښکاره کولو دپاره جنګ کوي او څوک پکښې د الله د رضا دپاره جنګ کوي نو کوم یو پکښې شهید دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: پهٔ هغوئ کښې هر یو، کچرې اصل کار ئې دا وي چې د الله تعالیٰ کلمه دِ بس د ټولو نه اوچته وي - (ابوداؤد في مراسیله)

د جهاد څهٔ آداب، د احتیاط څهٔ خبرې

❁ د مکحول رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ ابوهریرهؓ ته وصیت وفرمایهٔ: کله چې تهٔ غزا کوې او د دشمن سره یو ځائے شې نو بُزدلي مهٔ کوه، یو مومن ته تکلیف مهٔ رسوه، د امیر نافرماني مهٔ کوه او د کجورو ونې مهٔ غوځوه او مهٔ ئې سېزه. (ابوداؤد في مراسیله)

❁ د قاسم رحمه الله نه روایت دے: رسول اللهﷺ یو سړي ته لس وصیتونه وفرمائېل (پهٔ هغې کښې څهٔ دا وو): (پهٔ جهاد وغیره کښې) میوه داره ونه مهٔ غوځوه، داسې څاروے مهٔ وژنه چې ستا ورته حاجت نهٔ وي او مومن ته د تکلیف رسولو نه بچ ووسه. (ابوداؤد في مراسیله)

❁ د صفوان بن عساکرؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ مونږ پهٔ یوه سریه کښې لیږلو نو وئې فرمائېل: لاړ شئ د الله تعالیٰ پهٔ نوم او د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې وجنګېږئ د هغه چا سره څوک چې پهٔ الله تعالیٰ کفر کوي، مُثله (پوزه، غوږ وغیره غوڅول) مهٔ کوئ، غدر مهٔ کوئ، غلول (خیانت) مهٔ کوئ او وړکے مهٔ قتلوئ. (ابن ماجه)

❁ د بریدهؓ نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به څوک سړے پهٔ یوې سریې امیر مقرر کولو نو د هغهٔ د ځان دپاره به ئې ورته د الله تعالیٰ نه د یرېدلو او کوم چې به ورسره مسلمانان وو هغوئ له به ئې ورته د خیر وصیت فرمائېلو. دا به ئې (هم) فرمائېل: غزا وکړئ پهٔ نوم د الله تعالیٰ او پهٔ لار د الله تعالیٰ کښې، جنګ وکړئ د هغه چا سره چا چې کفر وکړو پهٔ الله تعالیٰ، غزا وکړئ، غدر مهٔ کوئ، غلول مهٔ کوئ او وړکے مهٔ وژنئ؛ او (امیر ته به ئې وفرمائېل:) کله چې تهٔ خپل دشمن سره ملاؤ شې د مشرکانو نه نو پهٔ دریو کښې یوې خبرې ته ئې راوبله، کومه یوه چې پکښې هغه خلق قبوله کړي نو تهٔ ترېنه دا قبول کړه او منع شه ترېنه الخ. (ابن ماجه)

۞ د محمد بن عبید انصاري رحمه الله نه د دې مفهوم روایت دے: څوک چې د سورلۍ په څۀ څاروي چې بغیر د مهار او د نکیل نه وي سور شي او هغۀ دے وچقوي نو رسول الله ﷺ په دې کښې ډېر سخت څۀ وفرمائېل. (ابوداؤد في مراسیله)

۞ د حسن رحمه الله نه روایت دے: یو سړي اراده وکړه چې په مشرکانو یوازې حمله وکړي نو رسول الله ﷺ ورته وفرمائېل: تُرک یوازې قتلوې؟ (یا ورسره یوازې جنګ کوې؟) صبر وکړه چې ستا ملګري حمله وکړي نو تۀ به د هغوی سره حمله وکړې. (ابوداؤد في مراسیله)

دشمن ته د مخامخ کېدو د آرزو نه منع، جهاد کښې دعاء

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: دشمن ته د مخامخ کېدو آرزو (او خواهش) مۀ کوی، کۀ ورته مخامخ شی نو بیا صبر کوی. (مسلم)

۞ رسول الله ﷺ په یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: اے خلقو! دشمن سره (د جنګ دپاره) د یوځائے کېدو تمنا مۀ کوی د الله تعالیٰ نه د عافیت سوال کوی او کچرې ورسره یوځائے شی نو بیا صبر کوی. (مسلم)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائېل: دوه دعاګانې نۀ رد کیږي، ډېرې کمې رد کیږي: دعاء په وخت د اذان کښې او دعاء په وخت د زور نیولو د جنګ کښې کله چې بعضې خلق بعضې قتلوي، ارتاووي. (ابوداؤد)

۞ د انس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ چې به کله غزا کوله نو فرمائېل به ئې: اے الله! تۀ زما بازو او مددګار یې، په تا سره زۀ نقل و حرکت کوم، په تا سره زۀ حمله کوم او په تا سره زۀ جنګ کوم. (ابوداؤد، ترمذي)

دشمن نه د حفاظت یوه دعاء، دشمن ته یوه بددعائي، د فتحِ موندو نه پس څۀ ویېل

۞ د ابوموسیٰ اشعري رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ ته چې به د یو قوم نه یره وه نو فرمائېل به ئې: اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَجعَلُکَ فِي نُحُورِهِم وَ نَعُوذُ بِکَ مِن

شُرُورِهِم (اے الله! مونږ تا د دوی سینو (مخې) ته کوو او پناه غواړو پۀ تا سره د دوی د شرونو نه)۔ (ابوداؤد، نسائي، احمد)

❁ رسول اللهﷺ (د یو جنګ پۀ موقع) وفرمائېل: اللّٰهُمَّ مُنزِلَ الكِتَابِ وَ مُجرِيَ السَّحَابِ وَ هَازِمَ الاَحزَابِ اِهزِمهُم وَ انصُرنَا عَلَيهِم (اے الله! نازلونکیه د کتاب، جاري کونکیه د وریځو او ماتے ورکونکیه ټولګو ته! دوی له ماتے ورکړه او د دوی خلاف زمونږ مدد وفرمایه۔ (متفق علیه)

❁ د شعبي رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: کله چې " اِذَا جَاءَ نَصرُ اللهِ وَ الفَتحُ" نازل شو نو د دې نه روستو چې به رسول اللهﷺ فتحَ حاصلوله نو دا به ئې فرمائیل: سُبحَانَ اللهِ وَ الحَمدُ لِلهِ وَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَتُوبُ اِلَى اللهِ وَ اَستَغفِرُهُ۔ (ابوداؤد في مراسیله)

د ټولو نه لوئے جهاد (جهادِ اکبر)، حقیقي مجاهد

❁ د ابوذر رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: کوم جهاد د ټولو نه لوئے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ دپاره د خپل نفس او د خپل خواهش سره جهاد کول۔ (التفسیرالکبیر)

❁ واثله رضي الله عنه د رسول اللهﷺ نه د جهاد پۀ باره کښې تپوس وکړو: رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې څوک د الله تعالیٰ دپاره د خپل نفس سره جهاد وکړي او د الله تعالیٰ خوښې له پۀ خپل خواهش باندې ترجیح ورکړي۔ (المعافي فی الزهد)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: د ټولو نه لوئے جهاد (جهادِ اکبر) څۀ دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د بنده د خپل خواهش سره جهاد کول۔ (البیهقي فی الزهد الکبیر)

❁ رسول اللهﷺ (د يو جهاد نه پۀ واپسۍ کښې) وفرمائېل: مونږ د وړکي جهاد نه لوئے جهاد (نفس سره جهاد) ته واپس شو (سير السلوک)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: مجاهد (په حقيقت کښې) هغه څوک دے چا چې د الله تعالیٰ پۀ طاعت کښې د خپل نفس (ځان) سره جهاد وکړو. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مجاهد هغه څوک دے چې د خپل خواهش سره جهاد وکړي. (النسائي فی الکبریٰ)

باب: شهادت

د شهادت فضيلت، شهادت د ګناهونو کفاره، د شهادت سوال او آرزو

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هيڅ يو کس به چې جنت ته لاړ شي دا خوښه نکړي چې دنيا ته واپس شي او پۀ زمکه چې څۀ دي دا ټول د هغۀ شي سوا د شهيد نه. هغه به آرزو او خواهش وکړي چې دنيا ته واپس شي او لس پېرې قتل کړے شي پۀ وجه د ليدلو د خپل عزت (يا د شهادت د فضيلت). (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هيڅ يو کس د الله تعالیٰ پۀ لار کښې نۀ زخمي کيږي او الله تعالیٰ ښۀ پوهه دے چې څوک د هغۀ په لار کښې زخمي کيږي مګر د قيامت پۀ ورز به هغه پۀ داسې حال کښې رازي چې د زخم نه به ئې وينه څاڅي چې رنګ به ئې د وينې رنګ وي او بوئي به ئې د مشکو بوئي وي. (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د شهيد دپاره د الله تعالیٰ سره شپږ خبرې دي: پۀ اولنۍ موقع کښې بخښلے کيږي، پۀ جنت کښې ورته خپل ځائے ښودے کيږي، د قبر د عذاب نه بچ ساتلے کيږي، د ټولو نه دغټې يرې نه به پۀ امان وي، پۀ سر به ئې د وقار (عزت) تاج ايښودے کيږي چې يو ياقوت به ئې د دنيا او ما

فيها نه غوره وي، د دوه اويا حورِعين سره به ئې نکاح کيږي او د اوياؤ خپلوانو دپاره به ئې شفاعت (سفارش) قبلولے کيږي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: شهيد د قتل صرف دومره تکليف محسوسوي لکه پۀ تاسو کښې چې څوک د يو ماشي يا ميږي وغيره د چيچلو تکليف محسوسوي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د شهيدانو روحونه په شنو مرغو کښې وي د جنت د ميوو يا د جنت د ونو نه خوري۔ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: شهيد ته به پۀ خپلو نزدې کسانانو کښې اويا تنو له د سفارش کولو اختيار ورکولے کيږي۔ ()

❁ يو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! کۀ زۀ د الله پۀ لار کښې قتل کړے شم نو دا به زما د ګناهونو کفاره شي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: آ، (کفاره به شي) کۀ تۀ صبر کونکے، د ثواب نيت لرونکے، مخې ته تلونکے او پۀ شا نۀ واپس کېدونکے يې سِوا د دَين (قرض يا د بنده د حق) نه۔ (نسائي، مسلم، احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د زړۀ پۀ صدق د الله تعالیٰ نه د هغۀ پۀ لار کښې د قتلېدو سوال وکړو نو الله تعالیٰ به ورله د شهيد اجر ورکړي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې د الله تعالیٰ نه پۀ صِدق سره شهادت وُغوښتۀ نو الله تعالیٰ به ئې د شهيدانو درجو ته ورسوي اګرکۀ پۀ خپله بستره مړ شي۔ (مسلم)

د شهيدانو څۀ درجې، د شهيد مختلف څۀ قسمونه

❁ رسول اللهﷺ د دې مفهوم ارشاد فرمائېلے دے: شهيدان څلور دي: هغه ښۀ ايمان والا مومن سړے چې د دشمن سره ملاقي (پۀ جنګ) شي او الله تعالیٰ (د هغۀ پۀ وعده کښې) رشتونے کړي تر دې چې قتل کړے شي، نو دا هغه کس دے چا ته چې به د قيامت پۀ ورز خلق خپلې سترګې پورته کوي۔ او

هغه ښځه ايمان والا مومن سړے چې د دشمن سره ملاقي شي نو لکه چې څرمن ئې د کجورې د غنچې پۀ غنه ووهلے شي د بزدلۍ د وجې نه. نامعلوم غشے راشي او دے ووژني. دے پۀ دويمه درجه کښې دے. او هغه مومن سړے چا چې ښۀ او بد دواړه عملونه کړي وي، دشمن سره ملاقي شي او الله تعالیٰ رشتونے کړي تر دې چې قتل کړے شي. دے پۀ دريمه درجه کښې دے. او هغه مومن سړے چا چې پۀ خپل ځان باندې ظلم کړے وي (ګناهونه ئې کړي وي)، دشمن سره ملاقي شي او الله تعالیٰ رشتونے کړي تر دې چې قتل کړے شي. دے پۀ څلورمه درجه کښې دے. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د خپل مال پۀ حفاظت کښې قتل شو هغه شهيد دے، څوک چې د خپلې وينې پۀ حفاظت کښې قتل شو هغه شهيد دے، څوک چې د خپل دين پۀ حفاظت کښې قتل شو هغه شهيد دے او څوک چې د خپل کور والو پۀ حفاظت کښې قتل شو هغه شهيد دے. (ابوداؤد، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې د الله تعالیٰ پۀ لار کښې قتل شي هغه شهيد دے، څوک چې د الله تعالیٰ پۀ لار کښې (پۀ خپل مرګ) مړ شي هغه شهيد دے، څوک چې پۀ طاعون کښې مړ شي هغه شهيد دے، څوک چې د ګېډې پۀ مرض کښې مړ شي هغه شهيد دے او ډوب شوے سړے شهيد دے. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: شهيدان پينځۀ دي: هغه چې د طاعون نه مړ شي، هغه چې د ګېډې د مرض نه مړ شي، هغه چې د ډوبېدو نه مړ شي، هغه چې څۀ عمارت پرې راورغړي او مړ شي، او د الله تعالیٰ پۀ لار کښې شهيد. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه د دې مفهوم روايت کړے شوے دے: کومه ښځه چې پۀ بچي کښې مړه شي هغې ته د شهادت ثواب ملاوېږي. ()

د عام کس د شهیدانو درجه یا ثواب موندل

❁ عائشې رضي الله عنها د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړو: اے د الله رسوله! بل څوک به هم په قیامت کښې د شهیدانو سره راپاڅولے کیږي؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: آ، هغه څوک کوم چې په ورز کښې شل پیرې مرګ یادوي (په یو بل روایت کښې داسې دي: هغه څوک چې خپل ګناهونه ورته یاد شي او په هغې غمجن شي) ـ (احیاء، فضائلِ صدقات)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څوک چې په شپه او ورز کښې پینځوېشت ځلې وایي: اللّٰهُمَّ بَارِک لِي فِی المَوتِ وَ فِي مَا بَعدَ المَوت (اے الله برکت واچوې ما له په مرګ کښې او د مرګ نه روستو چې څۀ دي په هغې کښې) نو دے د شهیدانو په درجه کښې لیکلے کیږي ـ (فضائل الصدقات)

د بعضې صحابه کرامو د جهاد او د شهادت د ثواب حاصلولو څۀ نمونه

❁ د جابرؓنه روایت دے، فرمائي: یو سړي د اُحد په ورز رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: کۀ زۀ قتل کړے شم نو زۀ به کوم ځائے یم؟ رسول اللهﷺ وفرمائیل: په جنت کښې ـ هغۀ د خپل لاس نه کجورې وغورزولې او وجنګیدۀ دې پورې چې قتل کړے شو ـ (مسلم)

❁ابوموسیٰؓروایت بیان وکړو: رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د جنت دروازې د تورو د سورو د لاندې دي ـ د یو بد حالت (زړو جامو وغیره) والا سړے پاڅیډ او وئې ویېل: اے ابوموسیٰ تا دا د رسول اللهﷺ نه اوریدلي دي؟ هغۀ ووې چې آ ـ هغه سړے خپلو ملګرو ته واپس شو او وئې ویېل: زۀ په تاسو سلام وایم، بیا ئې د خپلې تورې کاټې ماته او ارتاوه کړه او د خپلې تورې سره د دشمن طرف ته لاړ او په هغې سره ئې وهل شروع کړۀ تر دې چې قتل شو ـ (مسلم)

❁ د انس رضي الله عنه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ او د هغهٔ اصحاب (ملګري) روان شو دې پورې چې د مُشرکانو نه مخکښې بدر ته ورسېدهٔ، مُشرکان هم راغلهٔ۔ رسول الله ﷺ (صحابه کرامو ته) وفرمائېل: پاڅئ هغه جنت ته د تلو دپاره د کوم پلن والے چې د آسمانونو او د زمکې برابر دے۔ دا ئې چې واورېدهٔ نو عمیر بن حمام رضي الله عنه ووې: واه واه! رسول الله ﷺ ترېنه تپوس وکړو: تا واه واه! ولې ووې؟ هغهٔ جواب ورکړو: پهٔ الله مې دِ قسم وي اے د الله رسوله! صرف پهٔ دې اُمید چې زهٔ د جنت والو نه شم۔ رسول الله ﷺ وفرمائېل: بېشکه تهٔ د جنت والو نه یې۔ هغهٔ د خپل ترکش نه څهٔ کجورې راوباسلې او خوړل ئې شروع کړهٔ بیا ئې (د ځان سره) ووې: کهٔ زهٔ ژوندے پاتې شم تر دې چې خپلې کجورې وخورم نو دا خو یو اوږد ژوند دے۔ راوي وایي چې هغهٔ کجورې وغورزولې او د کفارو سره پهٔ جنګ اخته شو تر دې چې قتل (شهید) شو۔ (مسلم، احمد، نسائي)

باب: جهاد نهٔ کول، جهاد کښې بد څهٔ کول

د جهاد نهٔ کولو وعید، جهاد د دین نه علاوه نور څهٔ له کول

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې پهٔ دې حال کښې مړ شو چې نهٔ ئې غزا کړې وه او نهٔ ئې پهٔ زړهٔ کښې د هغې سوچ راوستے (یا راغلے) ؤ نو د منافقت پهٔ یوه شعبه باندې مړ شو۔ (مسلم)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې نهٔ غزا وکړه او نهٔ ئې څوک غازي تیار کړو او نهٔ ئې د یو غازي د کور بال خیال وُساتهٔ نو الله تعالیٰ به ئې د قیامت نه مخکښې پهٔ یو لوئے مصیبت کښې واچوي۔ (ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: څوک چې د الله تعالیٰ سره پهٔ دې حال کښې مخامخ شي چې د جهاد څهٔ اثر پرې نهٔ وي نو پهٔ دې حال کښې به مخامخ شي چې یو نقص (کمے) به پکښې وي۔ (ترمذي، ابن ماجه)

۞ د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دے: یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! یو سړے د الله پهٔ لار کښې جهاد کول غواړي خو هغه د دنیا د څهٔ سامان طلبګار وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: هغهٔ له هیڅ اجر نیشتے. (ابوداؤد)

۞ یو سړي تپوس وکړو: د داسې سړي پهٔ باره کښې څهٔ رائے ده چې د اجر او ذکر (دواړو) دپاره غزا کوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: هغهٔ له هیڅ نیشتي. (نسائي)

۞ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: څوک چې د الله تعالیٰ پهٔ لار کښې غزا کوي او د دهٔ پهٔ زړهٔ کښې د اُوبښ د تړلو د یوې رسۍ نیت وي نو دهٔ له به صرف هغه څهٔ وي د څهٔ چې دهٔ نیت کړے وي. (نسائي، احمد)

۞ یو اعرابي د رسول الله صلی الله علیه وسلم پهٔ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! یو سړے د غنیمت دپاره جنګ کوي، یو سړے د دې دپاره جنګ کوي چې ذکر ئې وکړے شي، یو سړے د دې د پاره جنګ کوي چې خپله مرتبه ورته ولیدے شي (یا د بهادرۍ ښکاره کولو دپاره جنګیږي یا د حمیت او غیرت پهٔ توګه جنګیږي یا د غصې د وجې نه جنګیږي) نو کوم یو د الله پهٔ لار کښې دے؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: کوم چې جنګ کوي چې د الله تعالیٰ کلمه بس د ټولو نه اوچته وي (یا شي) نو هغه د الله پهٔ لار کښې دے. (متفق علیه)

۞ د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روایت دے هغهٔ عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما ته د جهاد پهٔ باره کښې خبر راکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: اے عبد الله ! کهٔ تهٔ ریا کونکے او فخر کونکے وجنګیږې نو الله تعالیٰ به تا ریاکونکے او فخر کونکے راپورته کوي، اے د عمرو زویه عبدالله! پهٔ څهٔ حال چې تهٔ وجنګیدې یا قتل کړے شوے الله تعالیٰ به تا پهٔ هغه حال راپورته کوي. (ابوداؤد)

جهاد کښې ښځې او واړۀ قتلول، د مجاهدینو د کور والو باره کښې خیانت کول

۞ د ابوذر رضي الله عنه نه روایت دے چې رسول الله ﷺ یوه قتل کړے شوې ښځه ولیده نو د ښځو او وړو قتلول ئې بد وګڼل. (متفق علیه)

۞ د عکرمه رضي الله عنه نه روایت دے: رسول الله ﷺ په طائف کښې یوه قتل کړے شوې ښځه ولیده نو وئې فرمائیل: ما د ښځو د قتلولو نه منع نۀ ده کړې؟ (ابوداؤد في مراسیله)

۞ رسول الله ﷺ وفرمائیل: د مُشرکانو بوډاګان قتلوۍ او واړۀ ئې پرېږدۍ. (ابوداؤد، ترمذي)

۞ د بریده رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمائیل: د مجاهدینو د ښځو حُرمت په ناستو (د جهاد نۀ په پاتې کېدونکو) کسانو داسې دے لکه د دوی د خپلو میندو حُرمت. په ناستو خلقو کښې چې کوم یو سړے د مجاهدینو د یو سړي په ځائے وي د هغۀ د کور والو دپاره او بیا دے د هغۀ سره د دوی په باره کښې څۀ خیانت وکړي نو د قیامت په ورز به هغه دۀ ته ودرېږي او د دۀ د نیکیانو نه به اخلي څۀ ئې چې خوښه شي تر دې چې هغه راضي شي. (مسلم)

جهاد کښې مخالفت او نافرماني

۞ د ولید بن هشام رحمه الله نه روایت دے چې یو سړي د حنین په ورز په مُشرکانو یوازې حمله وکړه بغیر د حکم او اجازت نه نو رسول الله ﷺ بلال رضي الله عنه ته حکم وفرمایۀ چې دا آواز وکړي: نافرماني کونکے جنت ته نۀ شي تلے. (ابوداؤد في مراسیله)

۞ د عروه بن زبیر رحمه الله نه په یو اوږد حدیث کښې مروي دي: د انصارو یو سړي د خپلو ملګرو د یو ټولګي سره مخالفت وکړو او هغوی په هغه ځائے کښې وجنګېدۀ کوم ځائے چې رسول الله ﷺ منع فرمائیلې وه. دغه سړے قتل

شو، خلقو هغه راوړ پۀ داسې حال کښې چې صفت ئې کېدۀ، رسول اللهﷺ پاڅېد چې جنازه ئې وکړي خو وئې کتل او وئې فرمائېل: دے زمونږ د منع کولو نه مخکښې قتل شوے دے کۀ روستو؟ خلقو ووې: ستاسو د منع کولو نه روستو، نو رسول اللهﷺواپس شو او بیا ئې اعلان کونکي ته حکم وفرمایۀ چې پۀ خلقو کښې دا اعلان وکړي چې نۀ دے حلال جنت یو نافرمان سړي له ـ (ابوداؤ د في مراسیله)

باب: غنیمت

د غنیمت مال

❁د ابوهریرهرضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: زمونږ نه مخکښې چا له د غنیمت مالونه حلال نۀ وو، الله تعالیٰ زمونږ کمزوري او عاجزي ولیده نو دا ئې مونږ له پاک (حلال) کړۀ ـ (متفق علیه)

❁ هغه څیزونه پۀ کومو سره چې رسول اللهﷺ ته خاص والے، امتیاز او د نورو پیغمبرانو نه غوره والے ورکړے شوے دے پۀ هغې کښې یو د غنیمت مال هم دے ـ (مسلم)

د غنیمت په مال کښې غلول (خیانت)

❁ د ابو حازم رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺته د غنیمت نه د څرمنې یو ټوکے راوړے شو او وویېلے شو چې اے د الله رسوله دا ستاسو دے چې د غرمو نه پرې ځان له سورے حاصلوې؛ رسول اللهﷺوفرمائېل: تاسو غواړې چې ستاسو نبي د دوزخ پۀ اور سورے حاصل کړي؟ (ابوداؤد في مراسیله)

کتاب: د احادیثو متفرق څۀ ابواب

باب: څۀ بیل بیل حدیثونه

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مونږ د نبیانو ټولګے پلاره زیز ورونه یو، زمونږ دین (د اصل پۀ اعتبار سره) یو دے (بعضې شرائع او احکام یا فروع جدا جدا دي). (بخاري، مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کوم بنده ته چې د الله تعالیٰ د طرف نه پۀ دین کښې څۀ نصیحت راشي نو هغه د الله تعالیٰ نعمت وي چې دۀ ته راولېږلے شي، پس کچرې دے هغه (نصیحت او نعمت) پۀ شکر سره قبول کړي نو ښۀ ده او کۀ قبول ئې نکړي نو هغه به د دۀ خلاف د الله تعالیٰ د طرف نه حجت وي چې پۀ هغې سره د دۀ ګناهونه او د الله تعالیٰ پۀ دۀ غضب زیات شي . (ابن ابی الدنیا)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: د کافرانو او منافقانو پۀ باره کښې به (د قیامت پۀ ورز) د خلقو پۀ وړاندې آواز وکړے شي چې دا هغه کسان دي چې پۀ خپل رب ئې دروغ ویېلي وو. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺوفرمائېل: زما د اُمت مثال د باران دے، نۀ ده معلومه چې اول ئې خیر دے کۀ آخر. (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ یو حدیث مبارک کښې مروي دي: طالبِ علم د الله تعالیٰ حبیب، غازي د الله تعالیٰ ولي او حلال ګټونکے د الله تعالیٰ دوست دے . (علماءِ شانګله)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: څوک چې آخرت غواړي نو علم دِ لازم ونیسي، څوک چې دنیا غواړي نو علم دِ لازم ونیسي او څوک چې دا دواړه غواړي نو علم دِ لازم ونیسي. (ډائري، مولانا وحید الدین رحمه الله)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: د بني اسرائيلو پۀ باره کښې رسوُل کوی، هيڅ باک نيشتے (پۀ مطلوبه احتياط سره) ـ (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما د اُمت عمرونه د شپېتو او د اوياؤ کالو پۀ مينځ کښې دي، ډېر لږ به پکښې د دېنه اوړي ـ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د مسلمانانو وينې برابر دي، د دوی ذمه پۀ دوی کښې د ټولو نه معمولي کس هم اخستے شي او دوی د دوی نه د علاوه خلقو پۀ مقابله کښې يو لاس وي ـ (نورالیقین)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې پۀ دنيا کښې د يو بنده ګناه پټ کړي نو پۀ آخرت کښې به ئې هم پټ کړي ـ (مسلم)

❁ د جابرؓنه (مرفوعاً) روايت دے: الله تعالیٰ فرمائي: پۀ کومو خلقو چې زما غضب وي زۀ د هغوی نه د هغوی پۀ شان د نورو (غضب کړے شوو) خلقو پۀ ذريعه بدله اخلم او بيا ټول جهنم ته غورزوم ـ (طبراني)

❁رسول اللهﷺارشاد وفرمايۀ: هر شي له تيزي وي او هرې تېزی له سُستي وي ـ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پۀ الله تعالیٰ حق دے چې د دنيا يو شے نۀ پورته کيږي مګر هغه ښکته کوي ـ (بخاري)

❁رسول اللهﷺپۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: خير شر نۀ راوړي او پسرلے چې څۀ راټوکوي پۀ هغې کښې څۀ داسې وي چې د ګېډې پۀ (ډکولو او) پړسولو سره وژل کوي ياوژلو ته نزدې کول کوي (يعني بعضې خير شر هم راوړے شي) ـ (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: نۀ دے صبر او برداشت والا مګر د خطا خاوند ـ (احمد ، ترمذي، حاکم)

۞ د معاویهﷺ نه روایت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: د چا سره چې بچے وي نو دے دِ هم د بچو په شان حرکتونه کوي چې بچے خوشحاله وي. (تاریخ الخلفاء للسیوطي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: خلق د منګزې د غاښونو په شان دي. (نورالیقین)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هلاک (مړ) نۀ شو هغه سړے چا چې خپل قدر وپېژندۀ (یا چې د چا قدر وپېژندے شو). (نورالیقین)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالیٰ یو بنده له څۀ نۀ مقرر کوي (څۀ فیصله نۀ کوي) مګر هغه دۀ له خیر وي. (لا تحزن)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې چې د چا نه د هغۀ د (مسلمان) ورور پۀ باره کښې تپوس وکړے شي نو هغۀ ته اختیار دے، کۀ وغواړي نو غلے دِ شي او کۀ وغواړي نو ودِوایي او رشتیا دِ ووایي. (ابوداؤد في مراسیله)

۞ د مجاهد رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: یو سړے د رسول اللهﷺ پۀ خوا کښې تېرېدۀ نو رسول اللهﷺ وفرمائېل: دے څوک پېژني؟ یو سړي ووې: زۀ ئې د مخ نه پېژنم او د نوم نه ئې نۀ پیژنم. رسول اللهﷺ وفرمائېل: دغه پېژندل نۀ دي. (ابوداؤد في مراسیله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې دِ څوک نۀ وایي چې زما نفس (زړۀ) خبیث شو بلکې وایي دِ چې زما نفس بد بد شو. (متفق علیه)

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: دین مُعامله ده. (اساس العربیه)

۞ رسول اللهﷺ پۀ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: زۀ تقسیمونکے یم (د څۀ شي) او الله تعالیٰ ورکونکے دے. (بخاري)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: نظر لګېدل (نظره کېدل، نظره کول) حق دي؛ کچرې يو شے د تقدير نه مخکښې کېدے شوے نو نظر به ترې مخکښې شوے ؤ. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خپلو حاجتونو د پوره کولو دپاره (د نعمتونو پۀ پټولو سره مدد طلب کوئ ځکه چې پۀ هر نعمت والا باندې حسد کيږي. (السلسلة الصحيحه)

۞ د ابن عباسؓ نه روايت دے چې رسول اللهﷺ پۀ کور کښې د کوړې (لختې) د زړوندولو (زړوندې ساتلو) حکم فرمائېلے دے. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: نيک بخته هغه څوک دے چې د (ديني او دنيوي) فتنو نه لرې وساتلے شو. (ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې په بانډۀ (غرۀ) کښې ووسېدۀ هغه جفا (جهل) والا شو، څوک چې پۀ ښکار پسې شو هغه غافل شو او څوک چې د بادشاه خوا له لاړ (يا د بادشاه سره شو) هغه په فتنه کښې پرېوت. (احمد، ترمذي، نسائي)

۞ رسول اللهﷺ يو يهودي ته پۀ څۀ خبره دعاء وفرمائېله: اے الله! دے ښائسته کړې! نو د هغۀ وېښتۀ تور شو. (ابوداؤد في مراسيله)

۞ د انسؓ نه روايت دے، فرمائي: يو يهودي هلک به د رسول اللهﷺ خدمت کولو، هغه ناجوړه شو، رسول اللهﷺ د هغۀ تپوس له لاړو، د هغۀ سر ته کښېناستۀ او ورته ئې وفرمائېل: اسلام راوړه. هغۀ خپل پلار ته وکتل کوم ئې چې پۀ څنګ کښې ؤ. پلار ئې ووېئل: د ابوالقاسم خبره وُمنه. هغه مسلمان شو. رسول اللهﷺ روان شو دا ئې فرمائېل: حمد دے هغه ذات لره چې دے ئې د اُور نه بچ کړو. (بخاري)

۞ د رسول اللهﷺنه د دې مفهوم روايت کړے شوے دے: چا ته چې څۀ شے پيش کړے شي نو دے دِ د هغې د اخستو نه انکار نۀ کوي لړ وي او کۀ ډېر. (ابوداؤد في مراسيله)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ آبادي کولو کښې د حرامو نه بچ شئ ځکه چې دا د خرابئ بنياد دے. (بيهقي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: تقديري فيصله (مقرره) نۀ واپس کوي مګر دعاء، پۀ عمر کښې زيات والے نۀ راولي مګر نيکي او احسان، او سړے پۀ ګناه سره د رزق نه محروم کيږي. (ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: غرور (د دين او د آخرت پۀ معامله کښې پۀ دوکه کښې پرېوتل) به د دې اُمت د آخري خلقو پۀ زړونو غالب کيږي. (احياء)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې تاسو د الله تعالیٰ نه سوال کوئ نو د فردوس سوال ترې کوئ ځکه چې هغه مينځنے جنت دے او دپاسه ترې عرش الرحمٰن دے او د هغې (فردوس) نه د جنت ولې بهيږي. (بخاري)

باب: د عکس د خبرو والا څۀ حديثونه

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: څوک چې مړ شو پۀ داسې حال کښې چې د الله تعالیٰ سره ئې څۀ شريکول نو دوزخ ته به زي او څوک چې مړ شو پۀ داسې حال کښې چې د الله تعالیٰ سره ئې څۀ نۀ شريکول نو جنت ته به زي. (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کوم سړے چې د دنيا سره محبت ساتي هغه خپل آخرت ته نقصان رسوي او څوک چې د آخرت سره محبت ساتي هغه خپلې دنيا ته نقصان رسوي. (حاکم، احمد، بيهقي، بزار، طبراني، ابن حبان)

۞ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: نيکي اطمينان دے او ګناه شک او بې قراري ده. (لا تحزن)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: چا چې الله راضي کړو پهٔ ناراضۍ د خلقو، نو الله به د دهٔ نه راضي شي او خلق به (هم) د دهٔ نه راضي کړي، او چا چې الله ناراض (غضبناک) کړو پهٔ راضي والي (خوشحالۍ) د خلقو نو الله به پهٔ دهٔ غضبناک شي او خلق به (هم) پهٔ دهٔ غضبناک کړي. (لا تحزن)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: د دې (دنیا) حلال حساب دے او د دې حرام عذاب دے. (احیاء)

❁رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: دوزخ پهٔ شهوتونو (خواهشونو) کښې پټ کړے شوے دے او جنت پهٔ ناخوښو خبرو (تکلیفونو) کښې پټ کړے شوے دے. (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: زهٔ تاسو ته د جنتي او د دوزخي خبر درنکړم؟ جنتي هر کمزورے، کمزورے گڼلے کېدونکے، ببرسرے، د دوؤ زړو جامو والا کس دے چې کچرې پهٔ الله تعالیٰ قسم وخوري نو الله تعالیٰ به ئې قسم پوره کړي، او دوزخي هر بدمزاجه، پهٔ تکبر سره تلونکے، ډېر مال جمع کونکے، سخت شوم او هغه څوک دے چې نور خلق ورپسې وي. (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: کله چې ستاسو حکمرانان پهٔ تاسو کښې د ټولو نه غوره خلق وي او ستاسو مالداران پهٔ تاسو کښې سخیان وي او ستاسو معاملات پهٔ خپل مینځ کښې پهٔ مشورې سره وي نو د زمکې شا ستاسو دپاره د دې د گېډې نه غوره ده، او کله چې ستاسو حکمرانان پهٔ تاسو کښې د ټولو نه بد خلق وي او ستاسو مالداران پهٔ تاسو کښې بخیلان وي او ستاسو معاملات ستاسو ښځو ته حواله وي نو د زمکې گېډه ستاسو دپاره د دې د شا نه غوره ده. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث شریف کښې وفرمائیل: بادشاه (امام) ډال دے چې شاته ترې جنگیدل کیږي او بچاؤ پرې کیږي، پس کچرې هغه د الله تعالیٰ

نه د يربدلو حکم وکړي او انصاف وکړي نو پهٔ دې هغهٔ له اجر دے، او کهٔ د نور څهٔ خبره وکړي نو بيا پرې د الله تعالیٰ د غاړې نه وبال دے۔ (بخاري، مسلم)

۞ د عائشې رضی الله عنها نه روايت دے، فرمائي: ما پهٔ دې خپل کور کښې د رسول اللهﷺنه اورېدلي دي: اے الله! څوک چې زما د اُمتيانو څهٔ معامله پهٔ سر واخلي او بيا پهٔ دوی سختي کوي نو تهٔ پهٔ هغهٔ سختي وکړې، او څوک چې زما د اُمتيانو څهٔ معامله پهٔ سر واخلي او بيا پهٔ دوی نرمي کوي نو تهٔ پهٔ هغهٔ نرمي وکړې۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا ته چې د نرمۍ نه حصه ورکړے شوه هغهٔ ته د دنيا او د آخرت د خير نه حصه ورکړے شوه او څوک چې د نرمۍ نه محروم پاتې کړے شو هغه د دنيا او د آخرت د خير نه محروم پاتې کړے شو۔ (شرح السنه)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د ټولو نه د زر ثواب والا خير (د چا سره) نيکي کول او صله رحمي کول دي، او د ټولو نه د زر عذاب والا شر (پهٔ چا) زياتے کول او قطع رحمي کول دي۔ (ابن ماجه)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: رحم يو ښاخ دے، چا چې د دې جوړ وکړو الله تعالیٰ به د هغهٔ جوړ وکړي او چا چې د دې توړ وکړو الله تعالیٰ به د هغهٔ توړ وکړي۔ (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺوفرمائېل: سخي الله تعالیٰ ته، خلقو ته او جنت ته نزدې دے او شوم د الله تعالیٰ نه، د خلقو نه او د جنت نه لرې دے۔ (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: دوه خويونه دي چې الله تعالیٰ ئې ښهٔ ګڼي او دوه خويونه دي چې الله تعالیٰ ئې بد ګڼي۔ کوم دوه چې الله تعالیٰ ښهٔ ګڼي هغه خوش اخلاقي او سخاوت دے، او کوم دوه چې الله تعالیٰ بد ګڼي هغه بداخلاقي او شومتوب دے۔ (ديلمي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: دوه عادتونه دي چې دپاسه ترېنه څۀ بدي نیشته: د الله تعالیٰ سره شرک کول او د الله تعالیٰ بندګانو ته تکلیف رسول، او دوه عادتونه دي چې دپاسه ترېنه څۀ نیکي نیشته: پۀ الله تعالیٰ ایمان لرل او د هغۀ بندګانو ته نفع رسول۔ (احیاء)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: چا چې د الله تعالیٰ دپاره خوشبو ولګوله نو د قیامت پۀ ورز به دے پۀ داسې حال کښې رازي چې بوئي به ئې د مشکو نه هم زیاته ښۀ وي، او چا چې د الله تعالیٰ نه بغیر د بل چا دپاره خوشبو ولګوله نو د قیامت پۀ ورز به دے پۀ داسې حال کښې رازي چې بوئي به ئې د مردارې نه هم زیاته بده وي۔ (احیاء)

۞ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: الله تعالیٰ تاسو له درې څیزونه خوښوي او درې ناخوښوي ۔ تا سو له خوښوي چې تاسو د هغۀ عبادت وکړئ او هیڅ ورسره شریک نکړئ، او د الله تعالیٰ رسۍ ټول پۀ کلکه ونیسئ، او جدا جدا نۀ شئ ۔ او تاسو له ناخوښوي: بې فائدې څۀ ویېل، ډېر سوالونه کول او مال ضائع کول۔ (مسلم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائیل: درې څیزونه خلاصونکي دي او درې هلاکونکي دي ۔ کوم چې خلاصونکي دي هغه دادي: پۀ پټه او ښکاره د الله تعالیٰ نه یره کول، پۀ رضا او نارضا والي دواړو کښې حق ویېل او پۀ مالدارۍ او غریبۍ دواړو کښې درمیانه والے ساتل ۔ او کوم چې هلا کو نکي دي هغه دا دي: د نفس خواهش چې سړے پۀ هغې پسې روان شي، بخیلتوب چې د هغې پیروي وشي او خپل ځان ښۀ او اوچت ګڼل او دا پۀ ټولو کښې سخت شے دے ۔ (بیهقي)

۞ رسول اللهﷺوفرمائیل: درې کسان دي چې الله تعالیٰ ته خوښ دي او درې کسان دي چې الله تعالیٰ ته ناخوښ دي۔ کوم درې چې الله تعالیٰ ته خوښ

دي هغه دا دي: (اول) يو سړے يو قوم ته لاړ شي او د الله تعالىٰ پۀ نوم ترېنه سوال وکړي، نۀ چې د خپل ځان او د هغوی پۀ مينځ کښې د څۀ خپلولۍ پۀ نوم او هغوی ورله څۀ ورنکړي نو يو سړے د هغوی نه روستو شي او پۀ پټه ورله څۀ ورکړي چې د دۀ د ورکړې نه صرف الله تعالىٰ خبر وي او هغه کس چا له ئې چې ورکړي وي. (دويم) څۀ خلق د شپې روان وي تر دې چې خوب ورته د هغې برابر د هر شي نه زيات خوږ شي، دوی کوز شي او خپل سرونه کېږدي نو يو کس پاځي الله تعالىٰ ته عاجزي او زاري کوي او د هغۀ آيتونه لولي. (دريم) هغه سړے چې پۀ يو لښکر کښې وي لښکر دشمن ته مخامخ شي او ماتې وخوري نو دے د خپلې سينې سره مخکښې شي تر دې چې قتل شي يا ورله الله تعالىٰ فتح ورکړي. او کوم درې کسان چې الله تعالىٰ ته ناخوښ دي (هغه دا دي): بوډا زناخور، فقير متکبر او مالدار ظالم (د چا حق لاندې کونکے ياکمونکے). (نسائي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: چا چې د الله تعالىٰ رضا طلب کړه د خلقو پۀ ناراضګۍ سره نو الله تعالىٰ به ورله د خلقو نه کافي شي، او چا چې د الله تعالىٰ ناراضګي طلب کړه د خلقو پۀ رضامندۍ سره نو الله تعالىٰ به ئې خلقو ته حواله کړي. (ترمذي، حاکم)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: بې علم له پکار نۀ دي چې پۀ خپلې بې علمۍ خاموش پاتې شي او عالم له پکار نۀ دي چې پۀ خپل علم خاموش پاتې شي. (طبراني)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائېل: عقلمند هغه څوک دے چې خپل نفس تابع (ذليل، ښکته، قابو) کړي او د مرګ نه د روستو دپاره عمل وکړي، او کم عقل هغه څوک دے چې خپل نفس د هغۀ د خواهش تابع کړي او پۀ الله تعالىٰ آرزو ګانې او اُميدونه وتړي. (ابن ماجه، ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما رب ما ته پېشکش وکړو چې ما له د مکې رېګستان سرۀ زر کړي نو ما وويېل: نا اے زما ربه! زۀ يوه ورز موړ پاتې کېږم او يوه ورز وږے؛ چې وږے يم نو تا ته به زاري کوم او تا به يادوم او چې موړ يم نو ستا حمد به کوم او ستا شکر به وباسم. (احمد ، ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: روزانه دوه فرښتې اعلان کوي؛ يوه وايي: اے د نيکۍ طلب کونکيه زړے واخله او بله وايي: اے بدي کونکيه منع شه. (متفق عليه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د مومن سوچ فکر او کوشش د نمانزۀ، روژې او د عبادت وي او د کافر سوچ فکر د ځاروي پۀ شان د خوراک څښاک وي. (احياء)

۞ د رسول اللهﷺ نه پۀ يوې خطبه کښې ارشاد مروي دے: کامياب هغه دے چې د دې (دنيا) نه مخ واړوي، تباه هغه دے چې پۀ دې کښې ونخلي. (خطبات نبوي)

۞رسول اللهﷺفرمائېلي دي: ناڅاپي مرګ د مومن دپاره راحت او د فاجر دپاره د افسوس سبب دے. (احمد)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالىٰ فرمائي: زما بنده چې زما ملاقات خوښوي نو زۀ د هغۀ ملاقات خوښوم او چې زما ملاقات نۀ خوښوي نو زۀ د هغۀ ملاقات نۀ خوښوم. (بخاري، مالک)

۞رسول اللهﷺارشاد وفرمايۀ: مومن ته چې د الله تعالىٰ د رحمت، د هغۀ د رضامندۍ او د جنت زېرے ورکولے کېږي نو دے د الله تعالىٰ ملاقات خوښوي (او الله تعالىٰ د دۀ ملاقات خوښوي)، او کافر ته چې د الله تعالىٰ د عذاب او د هغۀ د ناراضۍ زېرے ورکولے کېږي نو دے د الله تعالىٰ ملاقات بد ګڼي او الله تعالىٰ د دۀ ملاقات بد ګڼي. (مسلم)

باب: د شمار شمار د خبرو څۀ حدیثونه

دوۀ دوۀ خبرو والا

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دوه واجبونکي دي: يو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! دوه واجبونکي څۀ دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ دې حال کښې مړ شي چې د الله تعالیٰ سره څۀ شریک کوي نو دوزخ ته به زي، او څوک چې پۀ دې حال کښې مړ شي چې د الله تعالیٰ سره څۀ نۀ شریک کوي نو جنت ته به زي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: دوه خصلتونه دي چې پۀ منافق کښې نۀ شي کېدے: ښۀ اخلاق او د دین پوهه. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ ته د دوۀ قطرو او د دوۀ اثرونو نه زيات محبوب څۀ نيشتي: د اوښکو قطره د الله تعالیٰ د يرې نه او د وينې قطره چې د الله تعالیٰ پۀ لار کښې توی کړے شي. او هر چې دوه اثرونه دي نو يو اثر دے د الله تعالیٰ پۀ لار کښې او بل اثر دے د الله تعالیٰ د فريضو نه پۀ يوه فريضه (اداکولو) کښې. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: دوه سترګې دي چې د دوزخ اور پرې نۀ شي لګېدے: هغه سترګه چې د الله تعالیٰ د يرې نه وژاړي او هغه سترګه چې د الله تعالیٰ پۀ لار کښې څوکۍ وکړي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ ابوذرؓ ته وفرمائېل: اے ابوذره! زۀ تا ته دوه داسې خويونه وُنۀ ښايم چې پۀ ملا باندې سپک (يعنې پۀ کولو کښې آسان) او (د قيامت د ورزې) پۀ تله (ميزان) کښې درانۀ دي؟ ابوذرؓ ووېل: ضرور وښايې. رسول اللهﷺ وفرمائېل: خاموشي او ښۀ اخلاق؛ پۀ هغه ذات دِ زما قسم وي د چا پۀ لاس کښې چې زما روح دے! خلقو د دې دوۀ پۀ شان عمل نۀ دے کړے. (بيهقي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: دوه کلمې دي پۀ ژبه آسانې دي پۀ ميزان (د قيامت پۀ تله) کښې درنې دي رحمٰن تۀ خوښې دي: سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِهِ سُبحَانَ اللهِ العَظِيم۔ (بخاري، مسلم، ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: دوه څيزونه دي چې ابن آدم ئې بد ګڼي: مرګ بد ګڼي حالانکه مرګ دۀ له پۀ فتنه کښې د پرېوتو نه غوره دے، او د مال کم والے بد ګڼي حالانکه د مال کم والے د حساب کمونکے دے۔ (احمد)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: دوه خصلته دي چې پۀ چا کښې وي نو الله تعالیٰ هغه د صابرينو او شاکرينو نه شماري: چې پۀ دين کښې د ځان نه اوچتو ته ګوري او پۀ دنيا کښې د ځان نه ښکتو ته ګوري۔ (مشکوٰة، فضائلِ صدقات)

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: دوه نعمتونه دي چې د هغې پۀ باره کښې ډېر خلق پۀ تاوان کښې دي: جوړ والے او فارغ والے۔ (بخاري)

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: دوه خويونه دي چې پۀ مومن کښې نۀ شي جمع کېدے: شومتوب او بداخلاقي۔ (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: د بوډا سړي زړۀ د دوؤ څيزونو پۀ محبت ځوان وي: د ژوند اوږد والے او د مال زيات والے۔ (ترمذي)

❁ رسول الله ﷺ وفرمائيل: تاسو خبر يئ؟ د ټولو نه زيات چې به کوم څيزونه خلق دوزخ ته بوزي هغه دوه ډۀ اندامونه دي: خلۀ او شرمګاه۔ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: زۀ د دوؤ بې وقوفو، بدو آوازونو نه منع کړے شوے يم: د نعمت (خوشحالئ) پۀ وخت کښې د آواز نه او د مصيبت پۀ وخت کښې د آواز نه۔ (لا تحزن)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نيشتے حسد (رشک) مګر پۀ دوۀ کسانو: يو هغه سړے چې الله تعالىٰ ورله قرآن ورکړے وي (قرآن ئې ورته ښودلے وي) او دے د شپې او د ورزې هغه لولي (يا پرې عمل کونکے وي)، او دويم هغه سړے چې الله تعالىٰ ورله مال ورکړے وي او دے د شپې او د ورزې هغه (د نيکۍ پۀ لار کښې) خرچ کوي - (يا يو هغه سړے چې الله تعالىٰ ورله مال ورکړے وي او دے هغه پۀ حق کښې خرچ کوي، او دويم هغه سړے چې الله تعالىٰ ورله حکمت (علم او قرآن) ورکړے وي او دے د هغې حکم کوي او خلقو ته ئې ښايي) - (متفق عليه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: دوه حرص کونکي دي چې نۀ مړيږي: د علم حرص کونکے او د مال حرص کونکے - (بيهقي، طبراني)

دريو دريو خبرو والا

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالىٰ مونږ د نورو خلقو (اُمتونو) نه پۀ دريو خبرو غوره کړي يو: زمونږ صفونه د ملائکو د صفونو پۀ شان جوړ کړے شوي دي، مونږ له ټوله زمکه جمات ګرزولے شوې ده، او مونږ له د دې خاوره پاکونکې ګرزولے شوې ده کله چې مونږ اُوبۀ نۀ مومو - (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: مړي سره درې څيزونه زي دوه بيا واپس رازي او يو ورسره پاتې کيږي: د هغۀ د کور خلق، د هغۀ مال او د هغۀ عمل ورسره زي نو د کور خلق او مال ئې واپس رازي او عمل ئې پاتې کيږي - (بخاري، مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د چا روح چې د بدن نه پۀ داسې حال کښې جدا شو چې دے د دريو څيزونو نه آزاد ؤ نو جنت ته به زي: تکبر، غلول (مالِ غنيمت وغيره کښې خيانت) او قرض - (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: درې خبرې دي چې د يو مسلمان سړي زړۀ پۀ هغې کښې خيانت (او حسد وغيره) نۀ شي کولے: عمل خالص کول د الله تعالىٰ

دپاره، د مسلمانانو د حکمرانانو دپاره خیرخواهي او د جماعت سره پیوست پاتې کېدل. (ابن ماجه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بنده وايي چې زما مال، زما مال حالانکه د دهٔ پهٔ مال کښې د دهٔ درې څیزونه دي: هغه چې دے هغه وخوري او فنا کړي یا هغه چې دے هغه واغوندي او زوړ کړي یا هغه چې دے هغه ورکړي او (آخرت له) توښه کړي. د دې نه علاوه چې څهٔ دي نو دے ترېنه تلونکے دے او هغه خلقو ته پرېښونکے دے. (مسلم)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې څیزونه دي چې د قیامت پهٔ ورز به د عرش د لاندې وي: یو قرآن چې بندګانو سره به حجت کوي، د هغې یو ښکاره جهت (طرف) دے او یو پټ جهت دے، دویم امانت او دریم رحم (لړمون) چې دا آواز کوي: خبردار! چا چې زهٔ یو ځائے کړم الله دِ هغه یو ځائے کړي او چا چې زهٔ قطع کړم الله دِ هغه قطع کړي. (شرح السنه)

✿ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې خبرې دي چې درې واړه پهٔ هر مسلمان لازمې دي: د مریض تپوس، جنازې تهٔ حاضرېدل او پرنجي کونکي ته یَرحَمُکَ الله ویېل کله چې هغه الحَمدُ لِلّه ووايي. (الادب المفرد)

✿ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې څیزونه دي قسم مِ دِ پهٔ هغهٔ ذات وي د چا پهٔ لاس کښې چې زما ساه دے! کچرې زهٔ قسم خوړونکے وے نو ما به پرې قسم خوړلے ؤ: مال پهٔ صدقې سره نهٔ کمېږي نو تاسو صدقه ورکوئ، او څوک چې ظلم معاف کړي چې پهٔ هغې سره د الله تعالیٰ رضا لټوي نو الله تعالیٰ به پهٔ هغې سره د قیامت پهٔ ورز د دهٔ عزت زیات کړي، او کوم سړے چې پهٔ ځان د سوال دروازه بیرته کړي نو الله تعالیٰ به پرې د فقیرئ دروازه بیرته کړي. (ترمذي، مسلم، ابوداؤد)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې څيزونه دي چې رد کېدے نۀ شي (د اخستلو نه ئې انکار نۀ شي کېدے او نۀ دے پکار): تکيه ګانې، تيل او خوشبو. (الترمذي في الشمائل)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ما ته (ستاسو د دنيا نه) درې څيزونه خوښ کړے شوي دي: خوشبو، ښځې او زما د سترګو يخ والے پۀ نمانزۀ کښې ګرزولے شوے دے. (احمد، نسائي، ابن جوزي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: دروغ ويېل جائز نۀ دي مګر پۀ دربو خبرو کښې: د سړي خپلې ښځې ته دروغ ويېل چې هغه راضي کړي، پۀ جنګ کښې دروغ ويېل او د خلقو پۀ مينځ کښې د روغې راوستو دپاره دروغ ويېل. (احمد، ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د محبت رشتيا والے په دربو خبرو کښې دے: چې سړے خپل محبوب سره خبرې کول بل چا سره د خبرو کولو نه غوره کړي، خپل محبوب سره کښېناستۀ بل چا سره د کښېناستو نه غوره کړي او د خپل محبوب رضا د بل چا د رضا نه غوره کړي. (المنبهات)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: درې دعاګانې قبلېدونکي دي هيڅ شک پکښې نيشتے: دعاء (بددعاء) د مظلوم)، دعاء د مسافر او دعاء (بددعاء) د مور او پلار خپل اولاد ته. (ترمذي، الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے علي! درې څيزونه دي هغه مۀ روستي کوه: نمونځ چې کله د هغې وخت راشي، جنازه چې کله حاضره شي او کونډه (بې وادۀ ښځه) چې کله د برابرۍ سړے (کفو) بيامومي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مجلسونه پۀ امانت سره دي مګر د دربو خبرو: حرامه وينه تويول، حرام شرمګاه او ناحق مال حاصلول. (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد فرمائيلے دے: درې څيزونه دي چې د مومن نه نۀ جدا کيږي: حسد ، بدګماني او بدفالي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: عملنامې د درېو څيزونو دي: يو هغه چې الله تعالىٰ ئې نۀ معاف کوي، هغه د الله تعالىٰ سره شريک پيدا کول دي، الله عزوجل فرمائي: "بېشکه الله نۀ معاف کوي چې د هغۀ سره شريک پيدا کړے شي او د دې نه علاوه چې چا له غواړي معاف کوي". دويم د بندګانو پۀ يو بل ظلمونه کول دي (د يو بل حقونه نۀ ادا کول دي)، الله تعالىٰ دا نۀ پرېږدي تر څو چې بعضو له د بعضو نه قصاص او بدله وانخستے شي. دريم هغه چې الله تعالىٰ ئې پروا نۀ کوي، هغه د خلقو د الله تعالىٰ پۀ حقونو کښې کوتاهي کول دي، کۀ الله تعالىٰ وغواړي عذاب به پرې ورکړي او کۀ وغواړي نو معاف به ئې کړي. (بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: د درېو تنو نه قلم پورته کړے شوے دے: د اُودۀ نه دې پورې چې راويښ شي، د وړکي نه دې پورې چې بالغ شي او د معتوه (بې عقل) نه دې پورې چې عقل والا شي. (ترمذي، ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: خلق پۀ درې قسمه دے: غانم، سالم او شاحب. غانم هغه دےچې د الله تعالىٰ ذکر کوي، سالم هغه دے چې خاموش ووسي او شاحب هغه دے چې پۀ عبث څۀ کښې مشغول وي. (طبراني، ابويعلىٰ)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: درې کسان دي چې د هغوی ټولو ذمه واري پۀ الله تعالىٰ ده. کۀ ژوندي وي نو کافي کېدل (يا حفاظت) به ورله کيږي او کۀ مړۀ شي نو جنت ته به زي: څوک چې خپل کور ته پۀ سلام ويېلو سره داخل شي نو د هغۀ ذمه واري پۀ الله تعالىٰ ده، څوک چې جمات ته روان شي نو د هغۀ ذمه واري پۀ الله تعالىٰ ده او څوک چې د الله تعالىٰ پۀ لاره کښې وُزي نو د هغۀ ذمه واري پۀ الله تعالىٰ ده. (الادب المفرد)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: درې تنه دي چې پۀ الله تعالیٰ د هغوی مدد کول حق دي: د الله تعالیٰ پۀ لار کښې جهاد کونکے، هغه مکاتَب کوم چې خپل بدلِ کتابت ادا کول غواړي او هغه نکاح کونکے کوم چې (د بدکارئ نه) پاک پاتې کېدل غواړي۔ (ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پۀ دریو کسانو رحم (ترس) وکړئ: پۀ هغه عالم چې د جاهلانو پۀ مینځ کښې وي، د یو قوم پۀ مالدار سړي چې غریب شي او د یو قوم پۀ عزتمند سړي چې ذلیل شي۔ (ابن حبان)

څلورو څلورو خبرو والا

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څلور څیزونه دي چې الله تعالیٰ ئې نۀ ورکوي مګر هغه چا له څوک ئې چې خوښ وي: خاموشي او دا د عبادت اولنے سر دے، پۀ الله تعالیٰ توکل، تواضع (عاجزي)، او د دنیا نه بې رغبتي۔ (طبراني، حاکم)

۞ د رسول اللهﷺ (او د مسیح علیه السلام) نه روایت کړے شوے دے: څلور خبرې دي چې نۀ موندے کیږي مګر پۀ سترې (مشقت) سره: خاموشي او دا د عبادت شروع ده، عاجزي، د ذکر زیات والے او د څیزونو کم والے۔ (طبراني، حاکم)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څلور خبرې دي کۀ پۀ تا کښې وي نو بیا هیڅ باک نیشتے کۀ دنیا درنه فوت شي (ځکه چې دا درله کافي دي): د امانت حفاظت، رشتیا ویېل، ښۀ اخلاق او پۀ خوراک څښاک کښې د حرامو نه بچ کېدل۔ (احمد، بیهقي، حاکم)

۞ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پۀ عاقل باندې لازم دي چې د هغۀ دپاره څلور ساعتونه وي: یو ساعت هغه چې پۀ هغې کښې د خپل رب سره مناجات کوي، یو ساعت هغه چې پۀ هغې کښې د خپل ځان سره حساب کوي،

يو ساعت هغه چې پۀ هغې کښې د الله تعالىٰ پۀ پيداوښت کښې فکر کوي او يو ساعت هغه چې پۀ هغې کښې خوراک څښاک ته فارغ وي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺفرمائېلي دي: څلور خبرې د پېغمبرانو د سنتو نه دي: حيا (يا ختان (وړکے سنتول)، عطر لګول، مسواک کول او نکاح کول. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د مسلمان پۀ مسلمان باندې څلور ځيزونه دي: يَرحَمُکَ الله به ورته وايي چې پرنجے وکړي، دعوت به ئې قبلوي چې دعوت ورله ورکړي، جنازې له به ئې زي چې مړ شي او تپوس به ئې کوي چې ناجوړه شي. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: څلور ځيزونه د بدبختۍ نښې دي: د اوښکو بندېدل، د زړۀ سخت والے، اوږدۀ اميدونه او د دنيا حرص. (بزار)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د چا چې د ټولو نه لوئے خواهش او مقصود دنيا وي نو الله تعالىٰ به هغه پۀ څلورو ځيزونو کښې اخته کړي: همېشه غم، همېشه مشغوليت، همېشه فقيري (محتاجي) او نۀ پوره کېدونکي خواهشونه. (فضائلِ صدقات)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې خلق د خپلو علماؤ سره بغض ساتي، د خپلو بازارونو آبادول کوي او د مال پۀ جمع کولو د يو بل سره نکاح کوي نو الله تعالىٰ هغوی له پۀ څلورو خبرو سره عذاب ورکوي: قحط، د بادشاه ظلم، د حکمرانانو خيانت او د دشمن حمله. (حاکم)

❁رسول اللهﷺ د څلورو کسانو ذکر وفرمايۀ: يو هغه دے چا له چې الله تعالىٰ علم او مال دواړه ورکړي وي، هغه پۀ خپل علم عمل کوي او مال د الله تعالىٰ پۀ لار کښې خرچ کوي. دويم هغه دے چا له چې الله تعالىٰ علم ورکړے وي او مال ئې ورله نۀ وي ورکړے، هغه وايي کچرې ما سره د فلاني پۀ شان مال وے نو ما به پکښې هغه شان عمل کولو څنګه چې هغه کوي. رسول

اللهﷺ وفرمائیل: دا دواړه په اجر کښې برابر دي. دریم هغه دے چا له چې الله تعالیٰ مال ورکړے وي او علم ئې ورله نه وي ورکړے هغه مال آخوا دیخوا بې ځایه خرج کوي. څلورم هغه دے چا له چې الله تعالیٰ نه علم ورکړے وي او نه مال. هغه وايي کچرې زما سره د فلاني په شان مال وے نو ما به پکښې هغه شان عمل کولو څنګه چې هغه کوي (یعني بې ځایه به مې خرچ کولو). رسول اللهﷺ وفرمائیل: دا دواړه په ګناه کښې برابر دي. (ابن ماجه)

پینځۀ پینځۀ خبرو والا

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: غنیمت وګڼه پینځۀ څیزونه مخکښې د پینځۀ څیزونو نه: ځواني خپله مخکښې د بوډاوالي خپل نه، جوړوالے خپل مخکښې د ناجوړتیا خپلې نه، مالداري خپله مخکښې د غریبۍ خپلې نه، فارغ والے خپل مخکښې د مشغول والي خپل نه او ژوندون خپل مخکښې د مرګ خپل نه. (حاکم، ترمذي مرسلاً)

❁رسول اللهﷺ وفرمائیل: د قیامت په ورز به د ابن آدم پښې تر هغه وخته د خپل رب د خوا نه نه شي خوزېدے څو پورې چې تربنه د پینځۀ خبرو تپوس ونکړے شي: د هغۀ د عمر په باره کښې چې په څۀ کښې ئې فنا کړو؟ د هغۀ د ځوانۍ په باره کښې چې په څۀ کښې ئې زړه کړه؟ د هغۀ د مال په باره کښې چې د کوم ځائے نه ئې وګټۀ؟ او په څۀ کښې ئې خرچ کړو؟ او چې په خپل علم ئې څۀ عمل وکړو؟ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: څوک چې د پینځۀ سپکاوے وکړي نو د پینځۀ تاوان به وکړي: چې د عالمانو سپکاوے وکړي نو د دین تاوان به وکړي، چې د امیرانو (بادشاهانو وغیره ؤ) سپکاوے وکړي نو د دنیا تاوان به وکړي، چې د ګاونډیانو سپکا وے وکړي نو د فائدو تاوان به وکړي،

چې د خپلوانو سپکا وے وکړي نو د محبت او الفت تاوان به وکړي، او چې د خپل کور والو سپکاوے وکړي نو د ښۀ ژوندون تاوان به وکړي. (المنبهات)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالیٰ چا له پينځۀ څيزونه نۀ ورکوي مګر د هغې برابر ورله نور پينځۀ ورکوي: شکر ورله نۀ ورکوي مګر زيات والے ورله ورکوي، دعاء ورله نۀ ورکوي مګر د هغې قبلېدل ورله ورکوي، استغفار ورله نۀ ورکوي مګر مغفرت ورله ورکوي، توبه ورله نۀ ورکوي مګر د هغې قبلېدل ورله ورکوي او صدقه ورله نۀ ورکوي مګر د هغې قبلېدل ورله ورکوي. (المنبهات)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ تاسو ته د پينځۀ خبرو حکم کوم: د جماعت (سره د لازم پاتې کېدو)، د (حکومت والو د) اورېدو، د حکم منلو، د هجرت کولو، او د الله تعالیٰ پۀ لار کښې د جهاد کولو. (احمد، ترمذي)

❁ د ابوهريرهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک به زما نه دا کلمې (خبرې) واخلي چې پخپله پرې عمل وکړي يا ئې چا ته وښائي چې هغه پرې عمل وکړي؟ ما ووې: زۀ اے د الله رسوله! رسول اللهﷺ زما لاس ونيسۀ او پينځۀ ئې شمار کړې: د حرام کړے شوو خبرو (ګناهونو) نه بچ شه پۀ خلقو کښې به د ټولو نه لوئے عبادت ګزار شې، څۀ چې الله تعالیٰ ستا قسمت کړي دي پۀ هغې راضي شه، د خپل ګاونډي سره ښۀ سلوک کوه مومن به شې، خلقو له هغه څۀ خوښوه څۀ چې ځان له خوښوې مسلمان به شې، او ډېره خندا مۀ کوه ځکه چې ډېره خندا زړۀ وژني. (احمد، ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: الله تعالیٰ د هر بنده د پينځۀ خبرو نه فارغ شوے دے: د اجل د هغۀ نه، د عمل د هغۀ نه، د سکون و قرار د هغۀ نه، د نقل و حرکت د هغۀ نه او د رزق د هغۀ نه. (احمد)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: زما پۀ اُمت به يوه زمانه راشي چې خلق به د پينځۀ څيزونو سره محبت ساتي او پينځۀ څيزونه به هېروي: دنيا سره به محبت ساتي او آخرت به هېروي، ژوند سره به محبت ساتي او مرګ به هېروي، محلونو سره به محبت ساتي او قبرونه به هېروي، مال سره به محبت ساتي او حساب کتاب به هېروي، او مخلوق سره به محبت ساتي او خالق به هېروي۔ (المنبهات)

شپږو شپږو خبرو والا

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: تاسو ما له د شپږو خبرو ذمه واري راکړی، زۀ به تاسو له د جنت ذمه واري درکړم: چې خبرې کوی نو رشتيا وايی، چې وعده وکړی نو پوره کوی، چې امانت درسره کېښودے شي نو ورکوی، د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوی، خپل نظرونه ښکته ساتی، او خپل لاسونه د بدو نه منع ساتی۔ (مشکوٰة)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: شپږ څيزونه دي چې پۀ شپږو ځايونو کښې غريبانان (ناشنا ، بۀ ځوکه) دي: جمات غريب دے د داسې خلقو پۀ مينځ کښې چې نمونځ پکښې نۀ کوي، قرآن غريب دے د داسې خلقو پۀ مينځ کښې چې تلاوت ئې نۀ کوي، قرآن غريب دے د فاسق پۀ خېټه کښې، مسلمانه نيکه ښځه غريبه ده د يو ظالم او بداخلاقه سړي پۀ لاس کښې، مسلمان نيک سړے غريب دے د يوې ردي بداخلاقه ښځې پۀ لاس کښې، او عالم غريب دے د داسې خلقو پۀ مينځ کښې چې غوږ ورته نۀږدي (يا ئې نۀ اوري)۔ بيا رسول اللهﷺ وفرمائيل: الله تعالیٰ به د قيامت پۀ ورز دوی ته د رحمت پۀ نظر نۀ ګوري۔ (المنبهات)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د مسلمان پۀ خپل (مسلمان) ورور شپږ واجب خبرې دي، کۀ د دې نه ئې څۀ شے پرېښنو نو د خپل ورور واجب حق ئې پرېښنو:

سلام به پرې وايي چې ملاؤ شي ورسره، دعوت به ئې قبلوي کۀ ورکړي ورله، يَرحمُکَ الله به ورته وايي چې پرنجے وکړي، تپوس به ئې کوي چې ناجوړه شي، جنازې له به ئې زي چې مړ شي، او نصيحت به ورته کوي کله چې ترې نصيحت وغواړي۔ (الادب المفرد)

وؤ وؤ خبرو والا

❁ د براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ مونږ ته د وؤ خبرو حکم کړے دے: د مريض د تپوس کولو، جنازې سره د تلو، پرنجي کونکي ته د يَرحَمُکَ الله ويېلو، قسم خوړونکي له د قسم پوره کولو، د مظلوم د مدد کولو، د دعوت ورکونکي د دعوت قبلولو، او د سلام خورولو (يا ويېلو)۔ (متفق عليه)

❁ ابوذر غفاري رضي الله عنه فرمائي: ما ته زما محبوب ﷺ وؤ نصيحتونه (يا وصيتونه) کړي دي: چې زۀ مسکينانو سره محبت کوم او هغوی ته نزدې وسېږم، چې زۀ د ځان نه اوچتو خلقو ته نۀ ګورم د ځان نه ښکتو ته ګورم، چې زۀ صله رحمي کوم اګرکۀ ما سره نۀ کيږي (اګرکۀ پۀ ما ظلم کيږي)، چې زۀ د چا نه څۀ نۀ غواړم، چې زۀ حق وايم اګر کۀ تريخ وي، چې زۀ د الله تعالیٰ پۀ رضا کښې د ملامت کونکي د ملامت پروا نۀ کوم، او چې زۀ لَا حَولَ وَ لَاقُوَّةَ اِلَّا بِالله ډېر ډېر وايم۔ (درمنثور، فضائلِ صدقات)

❁ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے شوے دے: وۀ کسان دي چې خالق به ورته د قيامت پۀ ورز نۀ ګوري نۀ به ئې پاکوي او دوزخ ته به ئې داخل کړي: فاعل او مفعول، پۀ لاس سره مني راوباسونکے، د څاروي سره ملاوېدونکے، ښځې سره د روستو طرف نه ملاوېدونکے، يوه ښځه او د هغې لور پۀ نکاح کښې جمع کونکے، د ګاونډي د ښځې سره زنا کونکے، او ګاونډي ته تکليف رسونکے دې پورې چې هغه ورته لعنت (خېرې) وکړي۔ (المنبهات)

اتۀ او نهو خبرو والا

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: اتۀ څیزونه پۀ اتۀ څیزونو نۀ مړیږي: سترګه پۀ کتو، زمکه پۀ بارانۀ، ښځه په نارینه، عالم پۀ علم، سوال کونکے پۀ سوال، حرص لونکے پۀ جمع کولو، دریاب پۀ اُوبو او اُور پۀ لرګو. (المنبهات)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ موسیٰ بن عمران (علیه السلام) ته پۀ تورات کښې وحي وکړه چې د ګناهونو میندې درې دي (بنیادي ګناهونه درې دي): تکبر، حسد او حرص. بیا د دې دریو نه شپږ نور پیدا شوي دي نو ټول نهه شو. هغه شپږ دا دي: ډېر مړېدل، (ډېر) خوب کول، (ډېر) راحت (آرام) لرل، د مال محبت، د صفت او ستائنې محبت، او د ریاست (مشرۍ، امیرۍ) محبت. (المنبهات)

لسو لسو خبرو والا

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: پۀ الله تعالیٰ مې دِ قسم وي! د دې اُمت لس قسمه کسان د کافرو پۀ شان عمل کونکي دي او هغوی دا ګمان کوي چې هغوی مومنان دي: ناحق قتل کونکے، جادوګر، دیوث څوک چې پۀ خپله ښځه غیرت او شرم نۀ کوي، زکوٰة نۀ ورکونکے، شرابي، هغه سړے چې حج پرې فرض وي او نۀ کوي، پۀ فتنو کښې کوشش کونکے، پۀ اهلِ حرب اسلحه خرڅونکے، د ښځې سره د روستو طرف نه ملاوېدونکے، او د محرم ښځو سره نکاح کونکے. کۀ دا کارونه ئې حلال وګڼل نو کافر شو. (المنبهات)

❁ روایت دے چې رسول اللهﷺ یوه ورز ابلیس (شیطان) ته وفرمائېل: زما پۀ اُمت کښې ستا څو دوستان دي؟ هغۀ ووې: لس تنه: ظالم بادشاه، تکبر کونکے سړے، هغه مالدار چې د دې پروا نۀ کوي چې مال د کوم ځائے نه ګټي او پۀ څۀ کښې ئې خرچ کوي، هغه عالم چې امیر (حکمران وغیره) د هغۀ پۀ ظلم کولو

کښې پۀ حقه کوي، خیانت کونکے تاجر، ذخیره اندوزي کونکے، زناکار، سود خور، هغه بخیل چې د دې پروا نۀ کوي چې د کوم ځائے نه مال جمع کوي، او د شرابو څښونکے او پۀ هغې همېشه والے کونکے۔

﴿بیا رسول اللهﷺ وفرمائیل: زما پۀ اُمت کښې ستا دشمنان څو دي: هغۀ ووې: شل تنه: پۀ ټولو کښې مخکښې تۀ اے محمده! زۀ ستا سره بغض ساتم، هغه عالم چې پۀ خپل علم عمل کونکے وي، هغه د قرآن حامل سړے چې پۀ هغې کښې چې څۀ دي پۀ هغې عمل کوي، د الله دپاره پینځۀ نمونزونو له بانګ ویونکے، د فقیرانو، مسکینانو او یتیمانانو سره محبت کونکے، رحم لرونکي زړۀ والا، د حق دپاره عاجزي کونکے، هغه ځوان چې د الله پۀ طاعت کښې رالوئے شي، حلال مال خوړونکے، د الله دپاره د یو بل سره دوه محبت کونکي ځوانان، پۀ جماعت سره د نمانځۀ حرص لرونکے، هغه سړے چې د شپې نمونځ کوي او خلق اودۀ وي، هغه سړے چې خپل ځان د حرامو نه بچ کوي، هغه سړے چې د خپلو (مسلمانانو) رونو خیرخواهي کوي (یا هغوی له دعاء غواړي) او پۀ زړۀ کښې ئې څۀ (کینه وغیره) نۀ وي، هغه سړے چې همېشه پۀ اوداسۀ کښې وي، سخي سړے، خوش اخلاقه سړے، هغه سړے چې خپل رب پۀ هغه څۀ کښې رشتونے ګڼي د څۀ چې هغۀ ذمه اخستې ده، د کونډو ښځو سره نیکي کونکے، او د مرګ تیارے کونکے۔ (المنبهات)

باب: د رسول اللهﷺ د وعظ څۀ حدیثونه

❁د ابوایوب انصاريرضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي یو اعرابي د رسول اللهﷺ پۀ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! ما ته وعظ وکړه او لنډ وکړه۔ رسول اللهﷺ ورته وفرمائیل: کله چې تۀ نمونځ کوې نو د رخصتېدونکي نمونځ کوه او داسې خبره مۀ کوه چې صبا ترېنه عذر کوې او د خلقو سره چې څۀ دي د هغې نه نااُمیده ووسه۔ (ابن ماجه، احمد)

۞د انس رضی الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ مونږ ته وعظ وکړو چې دغسې وعظ ما د هغوی نه چرته نۀ ؤ اورېدلے، وئې فرمائېل: کچرې تاسو ته هغه څۀ معلوم وے څۀ چې ما ته معلوم دي نو تاسو به لږ خندل او زیات به ژړل (او دنیا به تاسو ته سپکه شوې وه او تاسو به آخرت له ترجیح ورکړے وو) (او تاسو به پۀ بسترو کښې د ښځو نه مزې نۀ اخستې) (او تاسو به صحراګانو ته تلې او زاري به کوله) .د رسول الله ﷺ اصحابو چې دا واورېدل نو مخونه ئې پټ کړل او د ځان سره پۀ ژړا شو. (متفق علیه)

۞ د رسول الله ﷺ نه پۀ یو وعظ شریف کښې مروي دي: تاسو د الله تعالیٰ پۀ حکم راضي وسېږی، د دنیا پۀ لږ شي صبر کوی او خپل ځانونه پۀ نیکو عملونو سره ښائسته کړی. الله تعالیٰ دنیا د فنا کېدو دپاره او د یو پُل پۀ شان پیدا کړې ده تاسو پۀ پل باندې تېروزی د دې دپاسه دېره مۀ اچوی. (تذکرة الواعظین)

۞رسول الله ﷺ پۀ یو وعظ کښې ارشاد وفرمایۀ: اے خلقو تاسو الله تعالیٰ طرف ته جمع کېدونکي ئی خپیابله، بربنډ، ناسُنته. (مسلم)

باب: د رسول الله ﷺ د خطبو څۀ حدیثونه

۞رسول الله ﷺ پۀ خپلې اولنۍ جمعه کښې چې پۀ بني سالم کښې وه د حمد و ثنا نه پس دا خطبه وفرمائېله: اے خلقو! خپل ځان له مخکښې لېږل وکړی. پوهه شی قسم مِ دِ پۀ الله تعالیٰ وي! پۀ تاسو کښې به یو کس (د قیامت پۀ راتلو) خامخا بې هوشه کېږي، بیا به خامخا خپلې ګډې بیزې داسې پرېږدي چې شپونکے به ئې نۀ وي، بیا به دۀ ته خامخا د دۀ رب وایي پۀ داسې حال کښې چې نۀ به دۀ له څوک ترجمان وي او نۀ څوک پرده کونکے چې د هغۀ نه ئې پرده وکړي: اے تا ته زما رسول نۀ ؤ درغلے او تا ته ئې رسوُل نۀ وو کړي؟ او تا

له ما مال نۀ ؤ درکړے او پۀ تا مِ فضل نۀ ؤ کړے؟ نو تا خپل ځان له مخکښې څۀ رالیږلي دي؟ دے به ښي طرف ته او ګڅ طرف ته وګوري خو هیڅ به وې ونۀویني بیا به خپلې مخې ته وګوري نو وبه نۀ ویني مګر جهنم. پس څوک چې کولے شي چې خپل مخ د دوزخ د اُور نه بچ کړي اګرکۀ پۀ نیمې کجورې (یا د کجورې پۀ یوې ټکړې) سره وي نو بچ دِ کړي، او کۀ دا نۀ مومي نو بیا پۀ یوې ښکلې خبرې سره ځکه چې پۀ دې سره د نیکۍ د لسو چندو نه د وۀ سوو چندو پورې بدله ورکولے کیږي، والسلام ورحمة الله و برکاته. (نورالیقین)

۞ د رسول اللهﷺ نه خطبه مروي ده: اے خلقو! زۀ تاسو ته د تقویٰ وصیت او تاکید کوم او د ټولو نه غوره تاکید دا دے چې یو مسلمان بل مسلمان آخرت ته آماده کړي او د تقویٰ وصیت ورته وکړي. اے خلقو! الله تعالیٰ چې د کومو خبرو نه منع فرمائیلې ده د هغې نه منع شئ. د دې نه غوره څۀ نصیحت شتے نۀ ذکر یاد وساتئ د آخرت پۀ باره کښې به تقویٰ د ټولو نه غوره مدګار ثابتیږي. (خطبات نبوي)

۞ د رسول اللهﷺ نه خطبه روایت کړے شوې ده: اے خلقو د الله تعالیٰ اطاعت وکړئ او د هغۀ نه ویریږئ، آخرت خپل کړئ او د خپل ځائے دپاره کوشش وکړئ او ښۀ پوهه شئ چې تاسو به ډیر زر د دې ځائے نه زئ او د الله تعالیٰ مخې ته به رسئ، هلته سِوا د نیک عمل او د جاري صدقې نه هیڅ پکار نۀ رازي. تاسو به خپلو عملونو ته رسئ او د هغې بدله به مومئ. پس د دنیا پۀ ښائست مۀ دوکه کیږئ او د جنت د اوچتو درجو نه مۀ محرومه کیږئ. حقیقت ښکاره کړے شوے دے او د شک ځائے نۀ دے پاتې. (خطبات نبوي)

۞رسول اللهﷺ خطبه وفرمائیله: اے خلقو! تاسو پۀ څۀ بروسه ناست یئ او د کومې خبرې انتظار کوئ؟ پۀ الله تعالیٰ دِ زما قسم وي! د دنیا دا موجوده وخت به داسې تیر شي لکه چې چرته ؤ هم نۀ او د کوم آخرت طرف ته چې تاسو

روان يې هغه نۀ فنا کېدونکے د ے پس د دې ځائے نه د تلو د پاره سامان او توښه تياره کړې او ياد وساتې کوم (نيک) څۀ چې تاسو مخکښې ولېږې د هغې به تاسو ته اجر ملاويږي او څۀ چې تاسو روستو پرېږدې پۀ هغې به تاسو ته پښېماني وي۔ (خطبات نبوي)

✿ د رسول اللهﷺ نه پۀ يوې خطبه کښې روايت کړے شوے دے: دنيا فنا کېدونکې ده او د تکليف او د ستړې ځائے دے، نيک خلق د دې سره زړۀ نۀ لګوي۔ نيک بخته دے هغه څوک چې د دې نه مخ واړوي او بد بخته دے هغه څوک چې پۀ دې پسې ولګي۔ (خطبات نبوي)

✿ رسول اللهﷺ پۀ يوې خطبه کښې ارشاد وفرمايۀ:نيشتے لرې کونکے د هغې چې الله تعالىٰ ئې نزدې کړي او نيشتے نزدې کونکے د هغې چې الله تعالىٰ ئې لرې کړي۔ (ابوداؤد في مراسيله)

✿ رسول اللهﷺ پۀ يوې خطبه کښې وفرمائېل: د حرص (او طمعې) نه بچ ووسې، ستاسو نه مخکښې قومونه پۀ حرص هلاک شول۔ حرص ورته د بخل حکم وکړو نو هغوی بخل وکړو، د قطع رحمۍ حکم ئې ورته وکړو نو هغوی قطع رحمي وکړه او د بدکارۍ حکم ئې ورته وکړو نو هغوی بدکاري وکړه۔ (ابوداؤد)

✿ رسول اللهﷺ د حجة الوداع پۀ خطبه کښې فرمائېلي وو: اے خلقو! ستاسو رب يو دے، ستاسو پلار يو دے او تاسو ټول د آدم (اولاد) يئ او آدم د خاورو نه (پيدا) ؤ۔ پۀ تاسو کښې د الله تعالىٰ پۀ نزد د ټولو نه د زيات عزت والا هغه څوک دے کوم چې پۀ تاسو کښې د ټولو نه زيات متقي (پرهېزګار) وي۔ (متفق عليه)

باب: د رسول اللهﷺ د وصيتونو څهٔ حديثونه

❁ رسول اللهﷺ ابوذرؓ ته وفرمائيل: زهٔ تا ته وصيت کوم پهٔ پټه او ښکاره د الله تعالیٰ نه د يريږدو او کله چې تهٔ بد وکړې نو ښهٔ (ورپسې) کوه او د چا نه څهٔ مهٔ غواړه اګرکهٔ ستا کوړه ارتاوه شي او امانت مهٔ اخله او د دوؤ تنو پهٔ مينځ کښې فيصله مهٔ کوه۔ (احمد)

❁ د ابوذرؓ نه روايت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما ته وصيت وفرمائی۔ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې تهٔ څهٔ بدې وکړې نو پهٔ هغې پسې څهٔ نيکي کوه هغه به ختموي۔ (احمد)

❁ د ابوذرؓ نه روايت دے، فرمائي: ما رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: ما ته وصيت وفرمائی۔ هغوی وفرمائيل: تقویٰ (دالله تعالیٰ يره، پرهيزګاري) لازمه ونيسه ځکه چې دا ستا د ټولې معاملې دپاره د ښائست د ټولو نه لوئے شے دے۔ ما عرض وکړو: نور وفرمائی۔ هغوی وفرمائيل: د قرآن تلاوت او د الله تعالیٰ ذکر لازم ونيسه ځکه چې دا تا له پهٔ آسمان کښې ذکر او پهٔ زمکه کښې نور دے۔ ما عرض وکړو: نور وفرمائی۔ هغوی وفرمائيل: اوږده خاموشي لازمه ونيسه ځکه چې دا د شيطان د شړلے کېدو سبب دے او تا له د دين پهٔ معامله کښې مددګاره ده۔ ما عرض وکړو: نور وفرمائی۔ هغوی وفرمائيل: د ډېرې خندا نه ځان ساته ځکه چې دا زړهٔ وژني او د مخ رڼا بوزي۔ ما عرض وکړو: نور وفرمائی۔ هغوی وفرمائيل: حق وايه اګرکهٔ تريخ وي۔ ما عرض وکړو: نور وفرمائی۔ هغوی وفرمائيل: د الله تعالیٰ پهٔ باره کښې د ملامت کونکي د ملامت نه مهٔ يرېږه۔ ما عرض وکړو: نور وفرمائی۔ هغوی وفرمائيل: تا دِ د خلقو (د عيبونو) نه منع کړي هغه (عيبونه) چې تهٔ ئې پهٔ خپل ځان کښې پېژنې۔ (بيهقي، ابن حبان)

❁ د ابوذرؓ نه روايت دے، فرمائي: ما ته زما خليل(ﷺ) د دريو خبرو وصيت وفرمايهٔ: چې زهٔ (د حکمران) اورېدل او منل کوم اګرکهٔ د يو داسې غلام

(یا بنده) وي چې طرفونه (پښې لاسونه) ئې قطع کړے شوي وي، او کله چې شوروا (اینګولے) پخوې نو اُوبهٔ پکښې زیاتې اچوه او بیا پهٔ خپلو ګاونډیانو کښې یو کور والا ګوره او هغوی له د دې نه ورکوه، او نمونځ پهٔ وخت کوه او بیا کهٔ امام بیاموමې چې نمونځ ئې کړے وي نو تا به خپل نمونځ کړے وي او کهٔ ئې نهٔ وي کړے نو دا (ستا هغهٔ سره دوباره نمونځ) به نفل وي ۔ (الادب المفرد)

❁ د معاذ رضی اللہ عنہ نه روایت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما ته وصیت وفرمائی۔ رسول الله ﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ داسې عباد ت کوه لکه چې تهٔ هغه اینې او خپل ځان پهٔ مړو کښې شمار کړه او د هرې ګټې او د هرې وُنې پهٔ څنګ کښې الله تعالیٰ یادوه او کله چې تهٔ څهٔ بدي وکړې نو پهٔ هغې پسې نیکي کوه د پټې پهٔ مقابله کښې پټه او د ښکاره پهٔ مقابله کښې ښکاره۔ (ابن ابی الدنیا، طبراني)

❁ د معاذ رضی اللہ عنہ نه روایت دے، فرمائي: رسول الله ﷺ ما ته وفرمائېل: زهٔ تا ته وصیت کوم د الله تعالیٰ نه د یرېدلو، د رشتیا ویېلو، د وعدې پوره کولو، د امانت ورکولو، د خیانت نهٔ کولو، د ګاونډي د خیال ساتلو، پهٔ یتیم د رحم کولو، د نرمو خبرو، د سلام ویېلو، د اوږې کوزې ساتلو، د ښهٔ عمل، د لنډ اُمید، ایمان پورې د انختي پاتې کېدو، د قرآن د پوهې حاصلولو، آخرت سره د محبت ساتلو او حساب کتاب نه د یرېدلو؛ او زهٔ تا د دې نه منع کوم چې تهٔ یو حکیم ته کنزل وکړې یا یو رشتونے دروغجن کړې یا د یو ګناه کونکي وُمنې یا د یو انصاف کونکي بادشاه نافرماني وکړې یا یوه زمکه ورانه کړې۔او زهٔ تا ته وصیت کوم د الله تعالیٰ نه د یرېدلو د هرې ګټې، وُنې او لوټې پهٔ خوا کښې او دا چې تهٔ د هر ګناه نه توبه وباسې، د پټ نه پهٔ پټه او د ښکاره نه پهٔ ښکاره۔ (ابونعیم، بیهقي)

۞ د معاذ رضی اللہ عنہ نه روايت دے، فرمائي: رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم ما ته د لسو خبرو وصيت وفرمايهٔ: د الله تعالىٰ سره څهٔ مهٔ شريک کوه اګرکهٔ تهٔ قتل کړے شې او وسوزولے شې، د مور او پلار نافرماني مهٔ کوه اګرکهٔ هغوی تا ته حکم وکړي چې د خپل کور والو او مال نه وُزه، قصداً فرض نمونځ مهٔ پرېږده ځکه چې چا قصداً فرض نمونځ پرېښو نو د الله تعالىٰ ذمه د هغهٔ نه ختمه شوه، شراب مهٔ څښه ځکه چې دا د هر فحش او قبيح عمل سر دے، د ګناه نه ځان ساته ځکه چې پهٔ ګناه سره د الله تعالىٰ غصه نازليږي، د جنګ (جهاد) د ځائے نه د تختيدو نه ځان ساته اګرکهٔ خلق مړهٔ شي، کله چې خلقو ته مرګ راشي او تهٔ پهٔ هغوی کښې يې نو ټينګ ووسه، د خپل وس مطابق پهٔ خپل اهل و عيال خرچ کوه، د ادب دپاره ترې لخته مهٔ اوچتوه او د الله تعالىٰ دپاره ئې يروه۔ (احمد)

۞ د معاذ رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د هغهٔ لاس ونيسهٔ او وئې فرمائيل: اے معاذه! قسم پهٔ الله چې زهٔ ستا سره محبت کوم! بيا ئې وفرمائيل: زهٔ تا ته وصيت کوم اے معاذه چې د هر (فرض) مانځهٔ نه روستو مهٔ پرېږده چې دا ووايې: اَللّٰهُمَّ اَعِنِّي عَلىٰ ذِكرِكَ وَ شُكرِكَ وَ حُسنِ عِبَادَتِکَ۔ (ابوداؤد)

۞ د معاذ رضی اللہ عنہ نه روايت دے: آخري وصيت چې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم ما ته وفرمايهٔ څهٔ وخت چې ما خپله پخه پهٔ پايدان کښښوده هغه دا وُ: اے معاذه د خلقو سره ښهٔ اخلاق ساته۔ (مالک)

۞ د ابودرداء رضی اللہ عنہ نه روايت دے، فرمائي: ما ته زما خليل (صلی اللہ علیہ وسلم) وصيت وفرمايهٔ: د الله تعالىٰ سره څهٔ مهٔ شريک کوه اګرکهٔ تهٔ ټکړې ټکړې کړے شې يا وسوزولے شې، فرض نمونځ قصداً مهٔ پرېږده ځکه چې چا فرض نمونځ قصداً پرېښو نو د هغهٔ نه ذمه واري ختمه شوه او شراب مهٔ څښه ځکه چې دا د هر شر کنجي ده۔ (ابن ماجه)

۞ د عبد الله بن عبد العزیز رحمه الله نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې علي رضي الله عنه په یمن عامل مقرر کړو، د علي رضي الله عنه وینا ده چې زۀ ئې راوغوښتم او ماته ئې دا وصیت وفرمایۀ: بې حیثیته د حیثیت والا نه مخکښې کوه، کمزورے د چاق نه مخکښې کوه او ښځې د سړو نه مخکښې کوه. (ابوداؤد فی المراسیل)

۞ د عرباض بن ساریه رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي:رسول اللهﷺ مونږ له یوه ورځ نمونځ وکړو بیا زمونږ طرف ته راوګرځېدو او یو بلیغ وعظ ئې وفرمایۀ چې سترګو ترېنه اوښکې وبیولې او زړونه ترېنه ویرېدل. یو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! لکه چې دا د یو رخصتېدونکي وعظ وي نو تاسو مونږ ته وصیت وفرمائې. رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ تاسو ته د الله تعالیٰ نه د یرېدو او د اورېدو او حکم منلو وصیت کوم اګرکۀ (امیر) یو حبشي غلام وي ځکه چې څوک په تاسو کښې زما نه روستو پاتي شي نو ډېر اختلاف به ویني نو په ځان لازم کړئ زما سنت او سنت د خلفاء راشدینو هدایت کړے شوو، دا ونیسئ او د ژامو غاښونه پرې کلک کړئ. (ترمذي، احمد)

۞ د سلیم بن هجیمي رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي:زۀ د رسول اللهﷺ خوا له لاړم، هغوئ د ځان نه یو کمبل چاپېره کړے ؤ د کوم طرفونه چې د هغوئ په پخو پراتۀ وو. ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! ما ته وصیت وفرمائې. هغوئ وفرمائېل: د الله تعالیٰ یره لازمه ونیسه، او د نیکئ څۀ شے معمولي (سپک) مۀ ګڼه اګرکۀ اُوبو غوښتونکي له د خپلې بوکې نه د هغۀ په لوښي کښې اُوبۀ واچوي یا خپل (مسلمان)، ورور سره په رون تندي خبرې وکړې، او د لنګ (یا پرتوګ) د اوږدولو نه ځان ساته ځکه چې دا عادت د تکبر نه دے او الله تعالیٰ ئې نۀ خوښوي، او کۀ څوک سړے تا له پېغور درکړي د څۀ شي چې په تا کښې ورته معلوم وینو تۀ ورله پېغور مۀ ورکوه د څۀ شي چې تا ته په هغۀ

کښې معلوم وي، پرېږده ئې، ګناه به ئې پۀ هغۀ وي او اجر به ئې تا له وي، او څۀ شي ته بدې ردې مۀ وايه ـ راوي وائي چې ما د د غې نه روستو نۀ څۀ څاروي ته بدې ردې ويېلي دي او نۀ يو انسان ته ـ (الادب المفرد) ـ

❁ يو سړي رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: ما ته وصيت وفرمائې۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دالله تعالیٰ نه يرېږه هر چرته چې يې ـ هغۀ عرض وکړو: نور وفرمائې ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ بدۍ پسې نيکي کوه هغه به ختموي ـ هغۀ عرض وکړو: نور وفرمائې ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د خلقو سره ښۀ اخلاق ساته ـ (ترمذي)

❁ يوسړي رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: ما ته وصيت او وعظ وفرمائې ـ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې تۀ د څۀ کار اراده کوې نو د هغې انجام ته ګوره، کۀ د هغې پۀ انجام کښې تا ته خير پۀ نظر رازي نو کوه ئې او کۀ د نقصان نه پکښې يرېږې نو مۀ ئې کوه (کۀ ګمراهي وي نو منع کېږه ترېنه) ـ (شرح السنه)

❁ يو سړي رسول اللهﷺته عرض وکړو: ما ته وصيت وفرمائې۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ چې تا له څۀ مقرر کړي دي پۀ دې کښې پۀ هغۀ بدګماني او اعتراض مۀ کوه ـ (احمد ،طبراني)

❁ يوسړي رسول اللهﷺ ته عرض وکړو: ما ته وصيت وفرمائې۔ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ تا ته وصيت کوم چې تۀ لعن کونکے نۀ شې ـ (احمد، طبراني)

❁ يو سړي رسول اللهﷺته عرض وکړو: ما ته وصيت وفرمائې۔ رسول اللهﷺوفرمائېل: غصه مۀ کوه ـ هغۀ ډېرې پېرې دا عرض وکړو خو رسول اللهﷺ(هره پېره) وفرمائېل چې غصه مۀ کوه ـ (بخاري)

باب: بعضې خاص حدیثونه

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: الله تعالیٰ فرمائي: زۀ یوه پټه خزانه وُم، ما خوښه کړه چې زۀ وپېژندے شم نو مخلوق مِ پیدا کړو ـ (الوجود الحق)

❁ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: (د الله تعالیٰ) محبت د معرفت بنیاد دے، بچ او پاک پاتې کېدل (د ګناهونو او حرامو نه) د یقین علامت دے او د یقین سر تقویٰ او د الله تعالیٰ پۀ تقدیر راضي والے دے ـ (المنبهات)

❁رسول اللهﷺوفرمائېل: الله تعالیٰ ستاسو صورتونو او مالونو ته نۀ ګوري بلکې ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري ـ (مسلم، ابن ماجه، بیهقي، طبراني)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: د حق (تعالیٰ) د جذباتو نه یو جذبه (د هغۀ متعلق یوه جذبه) د ثقلینو (بني آدمو او پیریانو دواړو) د (ټول) عمل برابره ده (دومره اوچت شے دے) ـ (سیر السلوک)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: اے الله! زما پۀ خپل ځان کښې حیرت زیات کړې ـ (سیر السلوک)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: د الله تعالیٰ اویا (یا اویا زره) حجابونه (پردې) دي (د نور او د تیارې) ـ (سیر السلوک)

❁رسول اللهﷺفرمائېلي دي: بنده له پکار او مناسب دي چې هغۀ له د خلوت (یوازې والي) څۀ مجلسونه وي چې خپل ګناهونه یادوي او د الله تعالیٰ نه ئې بخښنه غواړي ـ (احسن الفتاویٰ)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: زما د الله تعالیٰ سره یو ساعت دے ـ ()

❁ د رسول اللهﷺنه ارشاد مروي دے: چا چې خپل ځان وپیژندۀ هغۀ خپل رب وپېژندۀ ـ (وحدة الوجود)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: کۀ تاسو واورئ چې يو غر د خپل ځائے نه خوزېدلے دے نو دا منئ خو کۀ واورئ چې يو سړے د خپل خوئي نه بدل شوے دے نو دا مۀ منئ. (احمد)

❁ روايت دے چې د رسول اللهﷺ نه د کمال پۀ باره کښې تپوس وکړے شو نو هغوئ وفرمائيل: حق ويېل او پۀ رشتياؤ عمل کول. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: رحم دِ وکړي الله تعالىٰ پۀ هغه کسانو چې تۀ هغه مريضان ګڼې او هغوئ مريضان نۀ وي. (احياء)

❁رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: جنت يو هوار خالي ميدان دے د هغې بوټي سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِهٖ دي. (بوادر النوادر)

❁ د ابوهريرهرضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ وفرمائيل: عيسىٰ بن مريم (عليهما السلام) يو سړے وليدۀ چې غلا ئې کوله نو عيسىٰ بن مريم ورته ووې: تا غلا وکړه؟ هغۀ ووې: هيڅکله نۀ قسم مِ دِ پۀ هغۀ ذات وي چې نيشتے الهٰ مګر هغه! عيسىٰ (عليه السلام) وويېل: ما ايمان راوړ پۀ الله او دروغجن مِ کړو خپل ځان. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺپۀ يوې خطبه کښې وفرمائيل: الله تعالىٰ زمکې والو ته نظر وفرمايۀ نو عربيان او عجميان ټول ئې سخت ناخوښ کړۀ علاوه د هغه کسانو نه کوم چې د کتاب والو نه پاتې شوي او پۀ خپل دين ټينګ وو. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺوفرمائيل: الله تعالىٰ چې آدم (عليه السلام) له پۀ جنت کښې صورت ورکړو نو دے ئې پرېښو څو ئې چې وغوښتۀ. ابليس د دۀ نه چاپېره ګرزېدل شروع کړۀ کتل ئې چې دے څنګه دے؟ کله ئې چې دے ګېډې والا (يا ډډ) وليد نو پوهه شو چې دے (يعني د دۀ جنس) داسې مخلوق دے چې قابو به نۀ لري (پۀ خپل ځان). (مسلم)

❁ رسول اللهﷺپۀ يوه موقع وفرمائيل: قسم مِ دِ پۀ هغه ذات وي چې د محمد (ﷺ) نفس (روح) د هغۀ پۀ قبضه کښې دے! ما ته جنت او دوزخ د دې

دیوال (یا باغ) پهٔ خوا کښې پیش (ښکاره) کړے شو ـ او ما نمونځ کولو ـ نو ما د ننې ورزې پهٔ شان ورز پهٔ خیر او شر کښې نهٔ ده لیدلې ـ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ نه پهٔ یو حدیث مبارک ارشاد مروي دے: بېشکه دغه ورز (د قیامت ورز) یوه لویه ورز ده خلق به پکښې محتاج وي چې د هغوی د بوجونو نه څهٔ یوړے شي ـ (احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: ما د خپل رب نه سوال وکړو چې د مشرکانو وړو ته معافي وکړي نو هغوی ته ئې معافي وکړه او جنت ته ئې داخل کړهٔ ـ (ابو نعیم، بوادر)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: زما سره د ډېر زیات محبت کونکو نه به څهٔ هغه خلق وي چې زما نه به روستو وي، یو به پکښې دا خواهش او آرزو کوي چې زهٔ ئې ولیدے (یا ئې زهٔ لیدلے وے) پهٔ (بدله د) خپل کور والو او مال ـ (مسلم، بخاري)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: ما پس و پیش نهٔ دے کړے پهٔ هیڅ یو شي کښې چې زهٔ ئې کونکے یم پهٔ شان د پس و پیش خپل د یو مومن بنده د روح پهٔ اخستو کښې چې هغه مرګ بد ګڼي او زهٔ هغهٔ له تکلیف ورکول بد ګڼم ـ (بخاري)

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ نفس (روح) ته وفرمائېل: وُزه ـ هغهٔ ووې: زهٔ نهٔ وُزم مګر پهٔ ناخوښه ـ (الادب المفرد)

❁رسول اللهﷺ پهٔ یو حدیث مبارک کښې وفرمائېل: الله تعالیٰ به فرښتو ته وفرمائي: د چا پهٔ زړهٔ کښې چې تاسو د یو دینار پهٔ مقدار (بیا د نیم دینار پهٔ مقدار بیا د یوې ذرې پهٔ مقدار) څهٔ خیر (نیکي) ومومئ نو هغه د دوزخ نه وباسئ نو هغوی به ډېر خلق وباسي ـ (بخاري، مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: الله تعالیٰ به د داسې کسانو نه تعجب وفرمائي کوم چې به پۀ زنځيرونو کښې جنت ته داخليږي. (بخاري)

باب: د فکر څۀ حديثونه، څۀ دعاګانې

❁ د رسول اللهﷺ (يا د علي رضي الله عنه) نه روايت کړے شوے دے: خلق اودۀ دي کله چې مړۀ شي نو راوېښ به شي. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه پۀ يوه خطبه کښې د دې مفهوم ارشاد مروي دے: کچرې خلقو ته خپل اجل معلوم شو نو پۀ دوی به ژوند تنګ شي او د دنيا عيش و عشرت به دوی پرېږدي خو اجل پټ ساتلے شوے دے او اُميد خور کړے شوے دے. (خطبات نبوي)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: قسم مِ دِ پۀ الله وي! قسم مِ دِ پۀ الله وي! زۀ نۀ پوهېږم او حال دا دے چې زۀ د الله رسول يم چې ما سره به څۀ کيږي او تاسو سره بۀ څۀ کيږي. (بخاري)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: هر سړے يا خپل ځان بچ کونکے دے يا هلاکونکے دے. (احياء)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: خلق ټول هلاکېدونکي دي مګر عالمان، عالمان ټولو هلاکېدونکي دي مګر عمل کونکي، عمل کونکي ټول هلاکېدونکي دي مګر مخلصان او مخلصان پۀ لوئے خطر دي مګر (پۀ هغوی کښې) مقربين خلق. (سير السلوک)

❁رسول اللهﷺ (يا علي رضي الله عنه) پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائېل: تاسو نن د عمل پۀ کور کښې يئ او دلته حساب نيشتے او صبا به د آخرت پۀ کور کښې يئ او هلته به عمل نۀ وي. (بيهقي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: جنت ته پۀ تلو کښې د سوونو تکليفونو او مصيبتونو نه اوُختل دي چې د هغې پۀ مخکښې د ځنکدن او د مرګ د سلګو تکليف هيڅ نۀ دے. (ترغيب)

۞ د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دے: رسول اللهﷺ پۀ خپل آخري عمر کښې د ماسختن نمونځ ادا کړو د سلام ګرزولو نه پس ئې وفرمائيل: تاسو د ننۍ شپې پۀ باره کښې څۀ وايئ؟ د سلو کالو پۀ سر به د هغه خلقو نه هيڅوک پاتې نۀ شي کوم چې نن پۀ زمکه دي. (متفق عليه)

۞رسول اللهﷺ وفرمائيل: څۀ بد دے هغه بنده چې جبر او تکبر کوي او لوئے اوچت ذات هېروي! څۀ بد دے هغه بنده چې غافل او بې توجه ووسي او مقبرې او روستېدل هېروي! څۀ بد دے هغه بنده چې سرکشي او زياتے کوي او اول او آخر هېروي! (ترمذي، حاکم، بيهقي)

۞ د ابوذرؓ نه روايت دے، فرمائي: ما عرض وکړو: اے د الله رسوله! د موسیٰ عليه السلام پۀ صحيفو کښې څۀ وو؟ رسول اللهﷺ وفرمائيل: ټول عبرتونه وو: زۀ تعجب کوم پۀ هغه چا چې د مرګ يقين لري او بيا هم خوشحاله ووسي، زۀ تعجب کوم پۀ هغه چا چې د دوزخ يقين لري او بيا هم خاندي، زۀ تعجب کوم پۀ هغه چا چې دنيا او پۀ دنيا والو باندې د دنيا اوړېدل راوړېدل ويني او بيا هم د دې نه سکون اخلي، او زۀ تعجب کوم پۀ هغه چا چې د صبا د حساب يقين لري او بيا هم عمل نۀ کوي. (ابن حبان)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د دنيا مثال د هغه ټوکي دے چې د اول نه د آخره پورې څيرې کړے شي او پۀ آخري سر کښې پۀ يو تار پيوست پاتې شي چې نزدې وي چې دغه تار قطع شي. (ابن ابی الدنيا)

۞ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث شريف کښې وفرمائيل: راحت (آرام) خو به هغه څوک مومي د چا چې مغفرت وکړے شي. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ د رسول اللهﷺ نه د فرښتو دا وينا مروي ده: کاش چې خلق نۀ وے پيدا شوے! کاش کۀ دوی پيدا شوي وے نو بيا ئې دا پېژندے چې دوی ولې پيدا شوي دي او د يو بل سره کښېناستے او مذاکره ئې کولے. (ديلمي، احياء)

❁رسول اللهﷺ به پۀ خطبه کښې فرمائېل: څۀ چې راروان وي هغه نزدې وي او نيشتے لرې والے هغه څۀ له چې راروان وي. الله تعالیٰ د چا د جلدۍ د وجې نه جلدي نۀ کوي. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: خبردار! څۀ چې راروان وي هغه نزدې وي او لرې هغه څۀ وي چې راروان نۀ وي. خبردار! بدبخته هغه څوک دے چې د مور پۀ خېټه کښې بدبخته وي او نيک بخته هغه څوک دے چا ته چې د بل نه وعظ (عبرت) وُشي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې به جمع شي پۀ دوزخ کښې دوزخيان او د قبلې والو (مسلمانانو) نه هغه کسان کوم چې به الله تعالیٰ د هغوی سره غواړي نو کافران به مسلمانانو ته ووايي: تاسو مسلمانان نۀ وئ؟ دوی به ووايي؟ آ (مونږ مسلمانان وو)، نو کافران به ووايي: بيا تاسو له ستاسو اسلام څۀ فائده درنکړه ځکه چې تاسو مونږ سره پۀ دوزخ کښې يئ. (النسائي فی الکبریٰ)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مومن بنده د دوؤ يرو پۀ مينځ کښې دے: هغه نۀ پوهيږي چې الله تعالیٰ به ورسره د تېروتي نېټې پۀ بابت کښې څۀ معامله کوي او د پاتې نېټې پۀ بابت کښې به ورله څۀ حکم او فيصله جاري کوي. بنده له پکار دي چې د خپل ځان دپاره د خپل ځان نه، د خپل آخرت دپاره د خپلې دنيا نه، د خپل مرګ دپاره د خپل ژوند نه او د خپل بوډاوالي دپاره د خپلې ځوانۍ نه توښه واخلي. (بيهقي)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: يو سړے په خپله بستره ملاست ؤ ناڅاپه ئې سر آسمان ته اوچت کړو او وئې ويېل: زهٔ ګواهي ورکوم چې ستا يو رب او پيداکونکے دے، اے الله! ما وبخښې! نو وبخښلے شو. ()

۞ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: تاسو پهٔ دې مهٔ دوکه کېږئ چې د دنيا خلق ستاسو عزت کوي ځکه چې هغوئ خو پخپله هم نقصان اوچتونکي دي. (احياء)

۞ د عبدالله بن عمرؓ نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: خلق د سلو اُوښانو پهٔ شان دي نزدې ده چې تاسو پکښې د سورلۍ اُوښ ونهٔ مومئ. (بخاري)

۞ رسول اللهﷺ نه روايت کړے شے دے: جاهل (بې عقله) هغه دے کوم چې د الله تعالیٰ نافرماني کوي اګرکهٔ ښکلے، د اوچتې مرتبې والا، خوشحاله، فصيح او ډېرې خبرې کونکے وي. شادو او خنزير د الله تعالیٰ پهٔ نزد د نافرمانه بنده نه زيات هوښيار دي. (احياء)

۞ د ابوجحيفهؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺپهٔ بدل شوي رنګ کښې زمونږ خوا ته بهر تشريف راوړو او وئې فرمائيل: د دنيا رون والے تلے دے او خړ والے ئې پاتې دے نو نن مرګ د هر مومن تحفه ده. (ترغيب)

۞ د قطبه بن مالکؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ به فرمائېل: اے الله! ما لرې وساتې د بدو خويونو نه، د بدو عملونو نه، د بدو خواهشونو نه او د بدو مرضونو نه. (ترمذي، حاکم)

۞ د رسول اللهﷺنه دعاء مروي ده: اے الله! زهٔ د داسې دنيا نه ستا پناه غواړم چې د آخرت د خير نه سړے منع کړي او د داسې ژوند نه ستا پناه غواړم چې د مرګ د خير نه سړے منع کړي او د داسې اُميد نه ستا پناه غواړم چې د عمل د خير نه سړے منع کړي. (ابن ابی الدنيا)

❁د رسول اللهﷺنه دعاء مروي ده: اے اللهّ! ما له بیونکې سترګې راکړه چې پۀ اوښکو بیولو سره زړۀ یخوي ستا د یرې سره مخکښې د دې نه چې اوښکې وینې شي او غاښونه انګارې شي۔ (طبراني، ابونعیم)

❁ رسول اللهﷺپۀ دعاء کښې وفرمائیل: اے اللهّ! **خپل محبت** زما نصیب کړه او محبت د هغه چا ځوک چې ستاسره محبت ساتي او محبت د هغه څۀ څۀ چې ما ستا محبت ته نزدې کوي او **خپل محبت** ما ته د یخو اُوبو نه زیات خوښ کړه۔ (ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه دا دعاء روایت کړے شوې ده: اے اللهّ! زۀ ستا نه هغه یقین غواړم پۀ کوم سره چې تۀ پۀ ما د دنیا مصیبتونه آسان کړې۔ (ترمذي، نسائي، حاکم)

❁ د رسول اللهﷺ نه دعاء روایت کړے شوې ده: اے اللهّ! ما زما پۀ سترګو کښې وړکے کړې۔ (بوادر النوادر)

باب: د غم، شکسته دلیٔ، یرې او ژړا څۀ حدیثونه

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: اللهّ تعالیٰ هر غمګین زړۀ خوښوي۔ (لا تحزن)

❁ د رسول اللهﷺ نه ارشاد مروي دے: غمګین به د قیامت پۀ ورز د اللهّ تعالیٰ پۀ سورې کښې وي۔ (ابن ابی الدنیا ، حاکم)

❁ د رسول اللهﷺپۀ خوا کښې یو سړے تېروتلو او پۀ زوره ئې ذکر کولو، عرض وکړے شو: اے د اللهّ رسوله! شاید چې دے ریاکار وي! رسول اللهﷺوفرمائیل: نا ، بلکې دے ډېر درد والا (یا ډېر آه و فریاد کونکے) دے۔ (بیهقي)

❁ د رسول اللهﷺ نه (یا پۀ تورات کښې) روایت کړے شوے دے: بېشکه اللهّ تعالیٰ ځورب عالم نۀ خوښوي۔ (احیاء، بهشتي زیور)

❁رسول اللهﷺفرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: زهٔ د مات زړو سره يم ـ (معارفِ مثنوي)

❁ روايت دے چې د انصارو په يو هلک باندې يره شروع شوې وه ژړل به ئې تر دې چې دې (ژړا) هغه په کور کښې بند کړو ـ رسول اللهﷺ د هغهٔ څنګ ته تشريف يوړو او خپلې غاړې ته ئې نزدې کړو نو هغه مړ پرېوتو، رسول اللهﷺوفرمائېل: خپل سړي له تيارے کوۀ چې يرې ورله اينه چولې ده ـ (ابن ابی الدنيا، بيهقي)

❁ د سعدبن وقاصؓنه روايت دے چې رسول اللهﷺوفرمائېل: ژاړۀ او کهٔ ژړا نهٔ درزي نو پهٔ زور ژاړۀ ـ (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: تاسو له پکار دي چې خپلې خلې بندې ساتۀ او همېشه اوښکې تويوۀ ـ (قرة الواعظين)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالیٰ چې د يو بنده سره محبت کوي نو د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې يوه نوحه کونکې نصب کوي، او چې د يو بنده سره بغض کوي نو د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې يوه شپېلۍ نصب کوي ـ (لا تحزن)

❁ د رسول اللهﷺ د يو فرمان مفهوم دے: پهٔ آخرت کښې به د ټولو نه د زياتې خندا والا کس هغه وي کوم چې پهٔ دنيا کښې د ټولو نه د زياتې ژړا والا پاتې شوے وي او پهٔ آخرت کښې به د ټولو نه زيات بې فکره کس هغه وي کوم چې پهٔ دنيا کښې د ټولو نه زيات فکرمند پاتې شوے وي ـ (فضائلِ صدقات)

د رسول اللهﷺ د خپل غم والا څهٔ حديثونه

❁ د رسول اللهﷺ نه پهٔ يو حديث مبارک کښې مروي دي: غم زما ملګرے دے ـ (نورالیقین)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ څنګه خوشحالېدے شم چې د شپېلۍ والا شپېلۍ پۀ خلۀ کښې نيولې پۀ دې انتظار دے چې کله به ورته د پوکي کولو حکم کيږي چې پوکے وکړي۔ (ترمذي)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: اے کاش د محمد (ﷺ) رب محمد (ﷺ) نۀ وے پيدا کړے! (مکتوباتِ صدي)

۞ ابن ابي هالهؓ بيان کوي: رسول اللهﷺ به مسلسل غمګين او همېشه فکرمند ؤ، او ډېر راحت (سکون) ورله نۀ ؤ۔ (الترمذي فی الشمائل)

باب: د مرګ او حساب باره کښې د تنبيه او نصېحت څۀ حديثونه

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: مړۀ شئ مخکښې د دې نه چې تاسو مړۀ شئ۔ (سير السلوک)

۞ د ابودرداءؓ نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: ...ځان پۀ مړو کښې شمار کړه۔ (ترغيب)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: اے بني آدمو! کۀ تاسو عقل لرئ نو تاسو له خپل ځانونه پۀ مړو کښې شمارل پکار دي۔ (ابن ابی الدنيا، طبراني، بيهقي)

۞ د رسول اللهﷺ نه پۀ يوه خطبه مبارکه کښې مروي دي: د حساب نه مخکښې خپلو عملونو ته نظر وکړئ، د عذاب نه مخکښې د بچ کېدو لار وګورئ او د کوچ نه مخکښې د کوچ سامان تيار کړئ۔ (خطبات نبوي)

۞ د رسول اللهﷺ (يا د عمرؓ) نه مروي دي: حساب وکړئ د خپلو ځانونو سره مخکښې د دې نه چې ستاسو سره حساب وکړے شي۔ (مشکوٰة)

کتاب: ذکر، درود، استغفار، توبه، ندامت، معذرت، دعاء

باب: د اللهذکر

د ذکر کولو فضیلت، ذکر زیات زیات او هر وخت کول

❁رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: مثال د هغه چا څوک چې د خپل رب ذکر کوي او د هغه چا څوک چې د خپل رب ذکر نۀ کوي د ژوندي او د مړي دے. (بخاري)

❁رسول اللهﷺ وفرمائېل: مفردين مخښکې شول. صحابو عرض وکړو: اے د الله رسوله! مفردين څوک دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: هغه خلق کوم چې د الله تعالیٰ پۀ ذکر سره پاک صاف شول، ذکر د هغوی د ګناهونو بوج کم کړو او هغوی د قيامت پۀ ورز سپک راغلل. (مسلم، حاکم)

❁ يو سړي عرض وکړو: اے د الله رسوله! د اسلام احکام پۀ ما ډېر شوي دي نو تاسو ماته يو شے وښايئ چې زه ورسره لازم شم. رسول اللهﷺو فرمائېل: ستا ژبه دِ د الله تعالیٰ د ذکر نه لونده وي. (ابن ماجه، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: زۀ د خپل بنده سره يم کله چې هغه ما يادوي او پۀ ما ئې شونډې خوزي. (ابن ماجه)

❁ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: د ذکر والو دپاره څلور (انعامونه) دي: سکينه پرې نازلېږي، رحمت پرې خورېږي، فرښتې ترې چاپېره کېږي او الله تعالیٰ ئې پۀ هغه ټولګي کښې يادوي کوم چې د هغۀ سره دے. (ابن ابی الدنيا)

۞ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: الله تعالىٰ فرمائي: چا له چې زما ذکر مشغول کړي زما نه د سوال کولو نه، هغۀ له به زۀ د هغې نه زيات (يا غوره) څۀ ورکوم څۀ چې سوال کونکو له ورکوم۔ (ترمذي)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: يو سړې داسې عمل نۀ دے کړے چې د الله تعالىٰ د ذکر نه زيات هغۀ له د قبر د عذاب نه خلاصے ورکونکے وي۔ (ابن ماجه)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: ذاکرين به پۀ خندا خندا جنت ته زي۔ (فضائلِ اعمال)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: مفردين مخښکې شول۔ صحابو عرض وکړو: مفردين څوک دي اے د الله رسوله؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالىٰ ډېر ډېر ذکر کونکي سړي او ښځې۔ (مسلم)

۞رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څوک چې د الله تعالىٰ زيات ذکر کوي الله تعالىٰ د هغۀ سره محبت کوي۔ (احمد ،ابويعلىٰ)

۞ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: څوک چې د جنت پۀ باغچو کښې ګرځېدل غواړي نو د الله تعالىٰ ډېر ډېر ذکر دِ کوي۔ (احياء)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالىٰ دومره زيات ذکر کوه چې خلق دوايي چې دے ليونے دے۔ (حاکم، بيهقي، احمد ، ابن حبان)

۞رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالىٰ دومره (يا داسې) ذکر کوئ چې منافقين دوايي چې تاسو رياکار يئ۔ (طبراني، بيهقي)

۞ د عائشې رضي الله عنها نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺبه پۀ خپلو ټولو وختونو کښې د الله تعالىٰ ذکر کولو۔ (مسلم)

د ذکر مجلسونه او حلقې، ذکر رو کول په ځائے د په زوره کولو

❁ رسول اللهﷺ وفرمائیل: یو قوم په یو مجلس کښې د الله تعالیٰ د ذکر دپاره نۀ کښېني مګرفرښتې ترېنه چاپېره کیږي او رحمت ئې پټوي او سکینه پرې نازلیږي او الله تعالیٰ ئې په هغه مخلوق کښې یادوي کوم چې د هغۀ سره دے۔ (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: د الله تعالیٰ د فرښتو لښکرې دي چې په زمکه کښې د ذکر مجلسونو ته ننوزي او ودریږي پرې۔ (حاکم وغیره)

❁رسول اللهﷺوفرمائیل: کوم خلق چې یو ځائے شي او د الله تعالیٰ ذکر کوي چې په دې سره هغوی صرف د الله تعالیٰ رضا غواړي نو یو آواز کونکے د آسمان نه دا آواز کوي چې پاځئ په داسې حال کښې چې ستاسو بخښنه وکړے شوه، ستاسو بدیانې په نیکیانو بدلې کړے شوې۔ (طبراني ،بزار، ابویعلیٰ)

❁ د انس رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: رسول اللهﷺوفرمائیل: کله چې تاسو د جنت په باغچو تېریږئ نو څریږئ۔ عرض وکړے شو: اے د الله رسوله! د جنت باغچې څۀ دي؟ رسول اللهﷺوفرمائیل: د ذکر حلقې۔ (احمد ، ترمذي)

❁ رسول اللهﷺفرمائیلي دي: اهلِ ذکر داسې خلق دي چې د هغوی سره ناست کس (هم) (د الله تعالیٰ د رحمت او د ثواب نه) محروم نۀ پاتې کیږي۔ (بخاري)

❁ د ابوموسیٰ رضي الله عنه نه روایت دے، فرمائي: مونږ د رسول اللهﷺسره په یو سفر کښې وو چې خلقو په زوره زوره (په اوچت آواز سره) تکبیر ویېل شروع کړل نورسول اللهﷺوفرمائیل: اے خلقو! په خپلو ځانونو رحم وکړئ، تاسو نۀ یو کوڼ ته آواز کوئ او نۀ یو غائب ته، تاسو یو اورېدونکي نزدې ته آواز کوئ او هغه ستاسو سره دے۔ (مسلم)

بعض (د ډېر ثواب) ذکرونه (تسبیح، تحمید ، تهلیل وغیره)

۞ سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِه سُبحَانَ اللهِ العَظِيم ۔ (البخاري)

۞ سُبحَانَ اللهِ العَظِيمِ وَ بِحَمدِه ۔ (الترمذي)

۞ سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِه ۔ (متفق علیه)

۞ سُبحَانَ اللهِ وَالحَمدُ لِلّٰه وَلَا اِلٰهَ اِلّا اللهُ وَاللهُ اَکبَر ۔ (مسلم، ابن ماجه)

۞ سُبحَانَ اللهِ عَدَدَ خَلقِه، سُبحَانَ اللهِ رِضَی نَفسِه، سُبحَانَ اللهِ زِنَةَ عَرشِه ۔ (ابن ماجه)

۞ لَا اِلٰهَ اِلّا اللهُ وَحدَهُ لَا شَرِیک لَهُ، لَهُ المُلکُ وَلَهُ الحَمدُ وَ هُوَ عَلٰی کُلِّ شَیءٍ قَدِیر ۔ (مسلم)

۞ لَا اِلٰهَ اِلّا اللهُ وَحدَهُ لَا شَرِیک لَه ۔ (متفق علیه)

۞ اَلحَمدُ لِلّٰه حَمداً کَثِیراً طَیِّباً مُبَارکَا فِیه ۔ (ابن ماجه)

۞ لَا اِلٰهَ اِلّا الله ۔ (الترمذي)

۞ اللّٰهُمَّ مَا اَصبَحَ (اَو مَا اَمسیٰ) بِي مِن نِعمَةٍ اَو بِاَحَدٍ مِن خَلقِکَ فَمِنکَ وَحدکَ لَا شَرِیکَ لَکَ فَلَکَ الحَمدُ وَ لَکَ الشُکر ۔ (االمکتوبات للامام الرباني)

د رسول اللهﷺ د زیات ویېلو والا

۞ سُبحَانَکَ رَبَّنَا وَ بِحَمدِکَ، اَللّٰهُمَّ اغفِر لِي ۔ (متفق علیه)

۞ سُبحَانَکَ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَ بِحَمدِکَ، اَللّٰهُمَّ اغفِر لِي ۔ (متفق علیه)

۞ سُبحَانَکَ اَللّٰهُمَّ وَ بِحَمدِکَ، اَستَغفِرُکَ وَ اَتُوبُ اِلَیک ۔ (مسلم)

۞ سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِه، اَستَغفِرُ اللهَ وَ اَتُوبُ اِلَیه ۔ (متفق علیه)

۞ سُبحَانَکَ اَللّٰهُمَّ وَ بِحَمدِکَ اَشهَدُ اَن لّا اِلٰهَ اِلّا اَنت اَستَغفِرُکَ وَ اَتوبُ اِلَیک ۔

()

باب: پهٔ رسول اللهﷺ درود ويېل

د درود ويېلو تاکيد او فضيلت، د درود نهٔ ويېلو بدوالے او وبال

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ ما درود وايۍ ځکه چې ستاسو درود ما ته رارسي تاسو هر ځائے چې يۍ۔ (نسائي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پهٔ ما درود وايۍ او پهٔ دعاء کښې ښهٔ کوشش کوۍ؛ وايۍ اللّٰهُمّ صَلِّ عَلَیٰ مُحَمّدٍ وّ عَلَیٰ آلِ مُحَمّد وَ بَارِک عَلَیٰ مُحَمّدٍ وّ عَلَیٰ آلِ مُحَمّد کَمَا بَارکتَ عَلَیٰ اِبرَاهِیمَ وَ عَلَیٰ آلِ اِبرَاهِیم اِنّکَ حَمِیدٌ مّجِید ۔ (النسائي، احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پهٔ ما يوه پېره درود ووې الله تعالیٰ به پهٔ دهٔ لس رحمتونه نازل کړي۔ (مسلم، اصحاب السنن)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پهٔ ما يوه پېره درود ووې الله تعالیٰ او د هغهٔ فرښتې به په دهٔ اويا پېرې درود (رحمت) راوليږي۔ (احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پهٔ ما يوه پېره درود ووايي الله تعالیٰ به هغهٔ له لس نيکيانې وليکي، لس ګناهونه به ئې معاف کړي، لس درجې به ورله اوچتې کړي او دابه د هغهٔ دپاره د لسو غلامانو د آزادولو برابر وي۔ (ترغيب)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کوم سړے چې پهٔ ما يوه پېره درود ووايي نو الله تعالیٰ به پهٔ هغهٔ لس پېرې رحمت نازل کړي اوکوم سړے چې پهٔ ما لس پېرې درود ووايي نو الله تعالیٰ به پهٔ هغهٔ سل پېرې رحمت نازل کړي او کوم سړے چې پهٔ ما سل پېرې درود ووايي نو الله تعالیٰ به د هغهٔ پهٔ وُچولي وليکي: "خلاصے د نفاق نه او خلاصے د اُورنه"۔ (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پهٔ ما درود وايي نو د هغهٔ درود ما ته رارسي او زهٔ هغهٔ له د رحمت دعاء کوم او هغهٔ له د دې نه علاوه لس نيکيانې ليکلے کيږي. (طبراني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې پهٔ ما يوه پېره درود ووې نو الله تعالیٰ به هغهٔ له د عافيت يوه دروازه کولاؤ کړي. ()

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د چا پهٔ خوا کښې چې زما ذکر وشو او هغهٔ پهٔ ما درود ونهٔ وې نو هغه بدبخته دے. (ابن السني)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: بخيل هغه دے د چا پهٔ مخکښې چې زما ذکر وُشي او هغه پهٔ ما درود ونهٔ وايي. (ترمذي)

۞ رسول اللهﷺ وفرمائېل: ذليل دِ شي هغه څوک د چا پهٔ څنګ کښې چې زما ذکر وُشي او هغه پهٔ ما درود ونهٔ وايي. (ترمذي)

څۀ درودونه

۞ اللّٰهُمّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمّدٍ عَبدِکَ وَرُسُولِکَ وَ صَلِّ عَلَى المُؤمِنِينَ وَ المُؤمِنَاتِ وَ المُسلمينَ وَ المُسلمات. (الادب المفرد، ابن الحبان)

۞ اللّٰهُمّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمّدٍ النّبِيِّ الاُمّيِّ وَعَلیٰ آلِه وَ سَلِّم تَسلِيمًا. (فضائل درود شريف)

۞ اللّٰهُمّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمّدٍ وَ عَلیٰ آلِ مُحَمّدٍ وَ اَنزِلهُ المَقعَدَ المُقَرّبَ عِندک. (الطبراني)

۞ اللّٰهُمّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمّدٍ وّ عَلیٰ آلِ مُحَمّدٍ وَ بَارِک عَلیٰ مُحَمّدٍ وّعَلیٰ آلِ مُحَمّدٍ کَمَا صَلّيتَ وَ بَارکتَ عَلیٰ اِبرَاهِيمَ اِنّکَ حَمِيدٌ مّجِيد. (البزار)

۞ اللّٰهُمّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمّدٍ عَبدِکَ وَرَسُولِکَ کَمَا صَلّيتَ عَلیٰ اِبرَاهِيمِ وَ بَارِک عَلیٰ مُحَمّدٍ کَمَا بَارکتَ عَلیٰ اِبرَاهِيم. (ابن ماجه)

۞ وَ صَلّی اللّٰهُ عَلَی النّبِيِّ الاُمّيِّ. (النسائي)

۞ جزَی اللّٰہُ عنّا مُحمّداً مَا ھُوَ اَھلهُ۔ (الطبراني، فضائل درود)

۞ اللّٰھُمّ صَلِّ عَلَیٰ سَیِّدِنَا مُحَمّدٍ وّ مُولَیٰنا مُحَمدٍ وّ عَلَیٰ آلِ سَیّدِنَا وَ مُولَیٰنا مُحَمّدٍصَلوٰۃً تُنَجّینَا بِھَا مِن جَمِیعِ الاَھوَالِ وَالاٰ فَاتِ وَ تَقضِي لَنَا بِھَا جَمِیعَ الحَاجَاتِ وَ تُطَھّرُنَا بِھَا مِن جَمِیعِ السّیِئَاتِ وَ تَرفَعُنَا بِھَا عِندکَ اَعلَی الدّرَجَاتِ وَ تُبَلّغُنَا بِھَا اَقصَی الغَایَاتِ مِن جَمِیعِ الخَیرَاتِ فِی الحَیَاۃِ وَ بَعدَ المَمَاتِ اِنّکَ عَلَیٰ کُلِّ شَئٍ قَدِیر۔ (الصلوٰۃ و السلام)

باب: استغفار (بخښنه غوښتل)، توبه، ندامت

د استغفار فضیلت او فوائد

۞ رسول اللّٰهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ فرمائي: اے د آدم زویه! کۀ ستا ګناهونه د آسمان هومره اوچت شي او تۀ زما نه بخښنه وغواړې نو زۀ به د وبخښم او څۀ پروا نۀ لرم۔ (ترمذي، احمد)

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: کچرې تاسو ګناه نۀ کولے نو الله تعالیٰ به نور خلق راوستي وو هغوی به ګناه کولو او د الله تعالیٰ نه به ئې مغفرت غوښتلو او الله تعالیٰ به ئې مغفرت کولو ۔ (مسلم)

۞ رسول اللّٰهﷺ وفرمائېل: څوک چې د استغفار پابند شي، الله تعالیٰ به ورله د هرې تنګئ نه د راوتو لار او د هر غم نه خلاصے پیدا کړي او د داسې ځائے نه به ورله رزق ورکوي چې ګمان به ئې هم نۀ وي۔ (ابوداؤد)

۞ د رسول اللّٰهﷺ نه پۀ یو حدیث مبارک کښې مروي دي: د ټولو نه غوره دعاء استغفار دے۔ ()

استغفار ډېر ډېر کول، د استغفار څۀ ادب، بد استغفار

۞ رسول اللّٰهﷺوفرمائېل: نیک بختي ده هغه چا له چې پۀ خپله صحیفه (عملنامه) کښې ډېر استغفار بیاموندۀ۔ (ابن ماجه، نسائي)

❁ د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: ما د رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي: والله! زۀ د ورزې د اوياؤ پېرو نه زيات استغفار کوم او توبه وباسم. (بخاري)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زۀ پۀ ورز کښې د الله تعالیٰ نه سل پېرې مغفرت غوارم. (مسلم)

❁ د عبد الله بن عمررضي الله عنه نه روايت دے، فرمائي: مونږ به پۀ يو مجلس کښې د رسول اللهﷺ نه سل پېرې شمارل: رَبِّ اغفِر لِي وَ تُب عَلَيَّ اِنَّکَ اَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (اے زما ربه! ما وُبخښه او زما توبه قبول کړه بيشکه تۀ توبه قبلونکے رحم کونکے يې). (ابوداؤد، ترمذي)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: څوک چې زيات زيات استغفار کوي نو الله تعالیٰ به ورله د هر غم نه خلاصے او د هرې تنګئ نه د وتلو لار پيدا کړي. (لا تحزن)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تا سو کښې دِ څوک داسې نۀ وايي چې اے الله! ما وُبخښې کۀ ستا خوښه وي، اے الله! پۀ ما رحم وکړې کۀ ستا خوښه وي، پۀ عزم (يقين او کلک والي) سره دِ سوال کوي ځکه چې پۀ هغۀ زور راو ستونکے نيشتے. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: د ګناه بخښنه طلب کونکے پۀ دې حال کښې چې پۀ ګناه اصرار کونکے وي داسې دے لکه د الله تعالیٰ پۀ آيتونو (يا پۀ خپل رب) پورې چې ټوقې کونکے وي. (ابن ابی الدنيا، بيهقي)

بعضې مسنون او مأثور استغفارونه

❁ اللّٰهُمَّ اغفِر لِي ذَنبِي کُلَّه دِقَّه وَ جِلَّه وَ اَوَّلَه وَ آخِرَه وَ عَلَا نِيَتَه وَ سِرَّه. (مسلم)

❁ اللّٰهُمَّ اغفِر لِي ذَنبِي وَ وَسِّع لِي فِي دَارِي وَ بَارِک لِي فِي مَا رَزَقتَنِي. (زاد المعاد)

۞ اللّٰهُمّ اغفر لِي وَ ارحَمنِي وَاهدِنِي وَاجبُرنِي وَ عَافِنِي وَ ارزُقنِي وَارفَعنِي ۔ (ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمّ اغفر لِي خَطِيئَتِي وَ جَهلِي وَ اِسرَافِي فِي أَمرِي وَ مَا أَنتَ أَعلَمُ بِه مِنّي، اللّٰهُمّ اغفر لِي جِدّي وَ هَزلِي وَ خَطَإِي وَ عَمدِي وَ كُلُّ ذٰلکَ عندي، اللّٰهُمّ اغفر لِي مَا قَدّمتُ وَ مَا أَخّرتُ وُ مَا أَسررتُ وَ مَا أَعلنتُ وَ مَا أَنتَ أَعلَمُ بِهِ مِنّي، أَنتَ المُقَدّمُ وَ أَنتَ المُؤَخّرُ وَ أَنتَ عَلیٰ كُلِّ شَيءٍ قَدِير ۔ (متفق عليه)

۞ رَبِّ اغفر لِي وَ لِوَالِدَيّ وَ لِجَمِيعِ المُؤمِنِينَ وَ المُؤمِنَات ۔ ()

۞ اللّٰهُمّ انّي ظَلَمتُ ظُلمًا كَثِيرًا وّ لَايَغفِرُ الذُّنُوبَ اِلّا اَنتَ فَاغفر لِي مَغفِرَةً مّن عِندِکَ وَارحَمنِي اِنّکَ اَنتَ الغَفُورُ الرّحِيم ۔ (البخاري، ابن ماجه)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ اَن اُشرِکَ بِکَ وَ اَنَا اَعلَمُ وَ اَستَغفِرُکَ لِمَا لَا اَعلَم ۔ (ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمّ اِنّي اَسئَلُکَ بِرَحمَتِکَ الّتِي وَسِعَت كُلّ شَيءٍ اَن تَغفِرَ لِي ۔ (ابن ماجه)

۞ اللّٰهُمّ اَنتَ رَبّي لَا اِلٰهَ اِلّا اَنتَ خَلَقتَنِي وَ اَنَا عَبدُکَ وَ اَنَا عَلیٰ عَهدِکَ وَ وَعدِکَ مَا استَطَعتُ، اَعُوذُ بِکَ مِن شَرِّ مَا صَنَعتُ، اَبُوءُ لَکَ بِنِعمَتِکَ عَلَيّ وَ اَبُوءُ بِذَنبِي، فَاغفر لِي فَاِنّهُ لَا يَغفِرُ الذُّنُوبَ اِلّا اَنت (سيدالا ستغفار) ۔ (البخاري)

۞ اللّٰهُمّ اِنّکَ عَفُوّ كَرِيمٌ تُحِبُّ العَفوَ فَاعفُ عَنّي ۔ (الترمذي، ابن ماجه)

۞اَستَغفِرُ اللّٰهَ العَظِيمَ الّذِي لَا اِلٰهَ اِلّا هُوَ الحَيُّ القَيُّومُ وَ اَتُوبُ اِلَيهِ سُبحَانَه ۔ (المكتوبات للامام الرباني)

۞اَستَغفِرُ الله، اَستَغفِرُ الله (اَستَغفِرُ الله) ۔ (مسلم)

باب: توبه، پښېماني (ندامت)، عذر کول

د توبې تاکید، فضیلت، د توبې نمونې

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: اے خلقو! توبه وباسی الله تعالیٰ ته، زۀ هغۀ ته هره ورځ سل ځله توبه وباسم. (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: توبه وباسی الله تعالیٰ ته مخکښې د دې نه چې تاسو مړۀ شی. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ د شپې پۀ وخت کښې خپل لاس خوروي چې د ورځې ګناه کولو والا توبه وباسي او د ورځې پۀ وخت کښې خپل لاس خوروي چې د شپې ګناه کولو والا توبه وباسي دې پورې چې نمر د خپل د پرېوتو د ځائے نه راوخېژي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ پۀ تاسو کښې د يو کس پۀ توبه د دې نه زيات خوشحالېږي څومره چې څوک د خپل ورک شوي شي پۀ موندلو خوشحالېږي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د ګناه نه توبه ويستونکے د هغه چا پۀ شان دے د چا چې څۀ ګناه نۀ وي. (ابن ماجه، طبراني، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: ټول بني آدم خطا (ګناه) کونکي دي او د ټولو نه غوره خطا کونکي توبه ويستونکي (يا مغفرت غوښتونکي) دي. (ترمذي، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې د ټولو نه غوره خلق هغه دي چې پۀ فتنه کښې پرېوزي نو توبه وباسي. (بيهقي)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: د چا نه چې څۀ ګناه وشي او دے اودس وکړي او نمونځ وکړي او بیا د الله تعالیٰ نه دعاء وغواړي نو الله تعالیٰ به ئې وبخښي. (ترمذي)

د توبې قبلېدل، پۀ توبه کښې انتظار او ټال مټول کول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کچرې تاسو ګناهونه وکړۍ تر دې چې هغه آسمان ته ورسي او بیا توبه وباسۍ نو الله تعالیٰ به ستاسو توبه قبوله کړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا چې توبه وویسته مخکښې د دې نه چې نمر د خپل مغرب (د پرېوتو د ځائے) نه راوخېژي نو الله تعالیٰ به د دۀ توبه قبوله کړي. (مسلم)

❁ د رسول اللهﷺ نه روایت کړے شوے دے: کله چې بنده توبه وباسي نو الله تعالیٰ د (عملونو د) محفوظ کونکو فرښتو نه د دۀ ګناهونه هېر کړي او د دۀ د اندامونو نه ئې هېر کړي او پۀ زمکه کښې د هغې نښانې (هم هېرې کړي) تر دې چې دے د الله تعالیٰ سره پۀ داسې حال کښې یو ځائے شي چې د هغۀ د طرف نه پرې د ګناه څۀ ګواه نۀ وي. (ابن عساکر، بوادر النوادر)

❁ د رسول اللهﷺنه روایت کړے شوے دے: مُسوِّفین (پۀ توبه کښې انتظار کونکي او ټال مټول کونکي) هلاک شول. (احیاء)

❁ د رسول اللهﷺ نه مروي دي: د دوزخیانو زیاتې چغې به پۀ توبه کښې د ټال مټول کولو د وجې نه وي. (احیاء)

پښېماني، الله ته عذر کول

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: پښېماني (یا پۀ ګناهونو پښېماني) توبه ده. (ابن ماجه، ابن حبان، حاکم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: د ګناه کفاره پښېماني ده. (احمد ،طبراني، بيهقي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کچرې تاسو دومره ګناهونه وکړئ چې هغه آسمان ته ورسي او بيا پښېمانه شئ (او توبه وباسئ) نو الله تعالیٰ به ستاسو توبه قبوله کړي. (ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: څوک چې الله تعالیٰ ته عذر وکړي الله تعالیٰ به ئې عذر قبول کړي. (بيهقي)

❁ معاذ بن جبلؓتپوس وکړو: اے د الله رسوله! توبۀ نصوح څۀ شے دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې بنده پۀ خپلو کړو پښېمانه شي او الله تعالیٰ ته عذر وکړي او بيا هغه ګناه ته واپس نۀ شي لکه پئ چې غولانزې ته نۀ شي واپس کېدے. ()

څۀ مسنونې او مأثورې توبې (سره د استغفارونو نه)

❁اَستَغفرُ اللهَ رَبِّي مِن كُلِّ ذَنبٍ وَ اَتُوبُ اِلَيه. ()

❁ اَستَغفِرُ اللهَ اَلّذِي لَا اِلٰهَ اِلّا هُوَ الحَیُّ القَیُّومُ وَ اَتُوبُ اِلَیه. (ابوداؤد، الترمذي)

❁اَستَغفرُ اللهَ رَبِّي مِن كُلِّ ذَنبٍ اَذنَبتُه عَمدًا اَو خَطَاً، سِرًّا اَو عَلَانِيَةً، وَ اَتُوبُ اِلَيه مِنَ الذّنبِ الّذِي اَعلَمُ وَمِنَ الذّنبِ الّذِي لَا اَعلم. ()

❁سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِه اَستَغفِرُ اللهَ وَ اَتُوبُ اِلَيه. (متفق عليه)

❁ رَبِّ اغفِر لِي وَ تُب عَلَیَّ وَارحَمنِي اِنّکَ اَنتَ التّوّابُ الرّحِيم. (الادب المفرد)

❁ اللّهُمّ اجعَلنِي مِنَ التّوّابِينَ وَاجعَلنِي مِنَ المُتَطَهِّرِين. (الترمذي

باب: دعاء

د الله پهٔ درګنبې د دعاء او سوال کولو تاکید

❁ روایت دے چې رسول اللهﷺ به پخپله هم دعاء غوښته او نورو ته به ئې هم د هغې تاکید کولو ۔ (مشکوٰة)

❁ رسول اللهﷺ ارشاد وفرمایهٔ: دعاء نفع ورکوي د هغه بلا او مصیبت خلاف هم کوم چې نازل شوے وي او د هغې خلاف هم چې نهٔ وي نازل شوے؛ د الله بندګانو دعاء کول لازم ونیسۍ ۔ (ترمذي، احمد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ نه د هغهٔ د فضل سوال کوۍ ځکه چې الله تعالیٰ خوښوي چې د هغهٔ نه سوال وکړے شي ۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: څوک چې د الله تعالیٰ نه سوال (دعاء) نهٔ کوي نو الله تعالیٰ پهٔ هغهٔ غضبناک کیږي ۔ (ترمذي، ابن ماجه)

د دعاء فضیلت او اهمیت

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دعاء د عبادت مغز دے ۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دعاء (بس) عبات دے ۔ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د ټولو نه اوچت عبادت دعاء ده ۔ (الادب المفرد)

❁ د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو: کوم عبادت د ټولو نه غوره دے؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د سړي د خپل ځان دپاره دعاء کول ۔ (الادب المفرد)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: دعاء د مومن وسله (سلاح)، د دین ستن او د آسمانونو او د زمکې نُور دے ۔ (حاکم، ابویعلیٰ)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: الله تعالیٰ ته د دعاء نه زیات د عزت والا څهٔ نیشتي ۔ (ترمذي، ابن ماجه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چا له چې پۀ تاسو کښې د دعاء دروازه لرې شوه هغۀ له د رحمت دروازې لرې شوې. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: مقرره نۀ واپس کوي مګر دعاء. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: زۀ د خپل بنده سره يم کله چې هغه زما نه دعاء غواړي. (الادب المفرد)

د دعاء او سوال څۀ آداب

❁ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: الله تعالیٰ پۀ دعاء کښې اصرار کونکي (پۀ مخه غوښتونکي) خوښوي. (احياء)

❁ رسول اللهﷺ پۀ يو حديث مبارک کښې وفرمائېل: پۀ دعاء کښې ښۀ کوشش کوئ. (احمد، طبراني، کنز العمال)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د الله تعالیٰ نه دعاء غواړئ پۀ داسې حال کښې چې تاسو يقين لرونکي يئ د قبلېدو، او پوهه شئ چې الله تعالیٰ د غافل زړۀ نه دعاء نۀ قبلوي. (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک دعاء کوي نو پۀ عزم (پاخۀ يقين) سره دِ کوي او داسې دِ نۀ وايي چې اے الله! کۀ ستا خوښه وي نو ما له راکړه ځکه چې پۀ هغۀ جبر کونکے (زور راوستونکے) نيشتے. (متفق عليه)

❁ د رسول اللهﷺ نه روايت کړے شوے دے: کله چې تاسو سوال کوئ نو غټ رغبت ښکاره کوئ او د فردوسِ اعلیٰ سوال کوئ ځکه چې د الله تعالیٰ دپاره څۀ غټ نيشتي. (احياء)

❁ د عمرؓ نه روايت دے، فرمائي: رسول اللهﷺ چې به پۀ دعاء کښې خپل لاسونه مبارک اوچت کړل نو نۀ به ئې واپس کول تر څو چې به ئې پۀ خپل مخ مبارک رانۀ کاږل. (ترمذي)

دعاء او سوال زيات کول، پۀ دعاء کښې عام والے کول، عام خلق يادول

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: کله چې پۀ تاسو کښې څوک سوال کوي نو زيات دِ کوي ځکه چې د ے خو د خپل رب نه سوال کوي. (ابن حبان، کنز العمال)

❁ د عمرو بن شعيب رحمه الله نه روايت د ے: رسول اللهﷺ د عليرضي الله عنهخوا له د سحر د نمانځۀ پۀ وخت کښې لاړو او عليرضي الله عنهدا ويېل: اے الله! ما وبخښې، اے الله! پۀ ما رحم وکړې، اے الله! زما توبه قبوله کړې، نو رسول اللهﷺ د هغۀ اوږې له لاس راپرېښو او وئې فرمائيل: عام والے کوه (عام انسانان پۀ دعاء کښې يادوه) چې د عام والي او خاص والي پۀ مينځ کښې د غوره والي دومره فرق د ے لکه د آسمان او د زمکې پۀ مينځ کښې چې د ے. (ابوداؤد في مراسيله)

❁ يو سړي دعاء کوله نو وئې وې: اے الله پۀ ما رحم وکړې او پۀ محمد (ﷺ) نو رسول اللهﷺ ورته وفرمائيل: يو وسيع شے دِ تنګ کړو (د الله رحم ډېر زيات د ے کمېږي نۀ). (ترغيب)

د دعاء د قبلېدو متعلق څۀ خبرې

❁ رسول اللهﷺ پۀ يوې دعاء کښې وفرمائيل: اے الله! زۀ پناه غواړم پۀ تا سره د داسې دعاء نه چې قبوله نۀ شي. (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ فرمائيلي دي: الله تعالىٰ حياناک، کريم ذات د ے د خپل بنده نه حيا کوي چې د هغۀ لاسونه کله ئې چې هغه دۀ ته اوچت کړي خالي واپس کړي. (ترمذي، ابوداؤد وغيرهما)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: څوک چې پۀ دې خوشحاله وي چې الله تعالیٰ پۀ سختیانو او مصیبتونو کښې د دۀ دعاء قبوله کړي نو دے دِ پۀ راته کښې ډېره ډېره دعاء کوي۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: پۀ تاسو کښې د یو کس دعاء قبلیږي څو پورې چې دے جلدي ونکړي چې دا ونۀ وایي: ما د خپل رب نه دعاء وغوښته هغۀ زما دعاء قبوله نکړه۔ (متفق علیه)۔

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د بنده دعاء قبلیږي تر څو چې دے د ګناه یا د قطع رحمئ دعاء ونکړي، تر څو چې جلدي ونکړي۔ عرض وکړے شو: اے د الله رسوله جلدي کول څۀ دي؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: چې دے ووایي: ما دعاء وکړه، ما دعاء وکړه خو زۀ نۀ اینم چې الله تعالیٰ به ئې قبوله کړي، نو دے ستړے شي او دعاء کول پرېږدي۔ (مسلم)

د دعاء د قبلیدو څۀ ساعتونه، حالتونه

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د اذان او اقامت پۀ مینځ کښې دعاء نۀ رد کیږي۔ (نسائي، ابن حبان)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د دوؤ وختونو دعاء نۀ رد کیږي یا ډېره کمه رد کیږي: یو د اذان پۀ وخت کښې او بل د جهاد (یا د هغې د اعلان) پۀ وخت کښې۔ (ابوداؤد)

❁ رسول اللهﷺ ته عرض وکړے شو: کومه دعاء پۀ ټولو کښې زیاته اورېدے کېدونکې (قبلېدونکې) ده؟ رسول اللهﷺ وفرمائېل: د شپې پۀ آخره حصه کښې دعاء او پۀ فرضو نمونزونو پسې دعاء۔ (ترمذي)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائېل: زمونږ رب تبارک و تعالیٰ هره شپه کله چې د شپې آخرنئ دریمه حصه پاتې شي دنیاوي آسمان ته راکوزیږي او فرمائي: څوک زما نه دعاء غواړي چې زۀ ئې دعاء قبوله کړم؟ څوک زما نه د څۀ سوال

کوي چې زۀ ورله ورکړم؟ څوک زما نه بخښنه غواړي چې زۀ ئې وبخښم؟ (متفق علیه)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: پۀ شپه کښې يو ساعت دے چې يو مسلمان سړے پکښې د الله تعالیٰ نه د دنيا او د آخرت څۀ خير نۀ غواړي مګر الله تعالیٰ ورله هغه ورکوي او دغه هره شپه وي۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ د جمعې د ورزې ذکر وکړو نو وئې وفرمائيل: پۀ دې کښې يو ساعت دے چې يو مسلمان بنده پکښې پۀ داسې حال کښې چې پۀ نمانزۀ ولاړ وي د الله تعالیٰ نه څۀ وغواړي نو الله تعالیٰ ورله هغه ورکوي او پۀ خپل لاس مبارک سره ئې داسې اشاره وفرمائيله چې هغه ساعت لږ دے۔ (متفق علیه)۔ پۀ يو بل حديث کښې د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے چې دغه ساعت د امام (پۀ منبر) د کښېناستو او د نمانزۀ د ختمېدو پۀ مينځ کښې دے۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: بنده خپل رب ته د ټولو نه زيات نزدې د سجدې پۀ حالت کښې وي نو تاسو (پۀ دغه ساعت کښې) زياته دعاء غواړئ۔ (مسلم)

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: د ټولو نه زر قبلېدونکې دعاء د غائب دعاء ده غائب له۔ (الادب المفرد)

د دعاء د قبليدو څۀ شکلونه، نۀ قبلېدونکې دعاګانې آخرت له ذخيره

❁ رسول اللهﷺ وفرمائيل: نيشتے پۀ زمکه يو مسلمان چې د الله تعالیٰ نه د څۀ شي دعاء غواړي مګر الله تعالیٰ ورله هغه شے ورکوي يا تربنه د هغې هومره مصيبت اړوي (او يا ورله د هغې هومره اجر ذخيره کوي)۔ (ترمذي، حاکم)

۞ رسول اللهﷺ فرمائېلي دي: آخرت کښې چې به بنده د خپلو نۀ قبول شوو دعاګانو ثواب ويني نو آرزو به وکړي چې کاش د دۀ يوه دعاء هم نۀ وے قبول شوے! (حاکم، احياء)

۞ د رسول اللهﷺنه روايت کړے شوے دے: بنده به د قيامت پۀ ورز پۀ خپلو صحيفو (عملنامو) کښې څۀ نيکيانې ويني چې نۀ به ئې پېژني؛ وُبه ويېلے شي چې دا پۀ دنيا کښې ستا د سوال بدله ده چې هلته ئې پوره کېدل نۀ ؤ مقدر شوي. (القرآن و التصوف)

څۀ مسنونې او مأثورې دعاګانې او وردونه

۞ اللّٰهُمّ يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثبِّت قَلبِي عَلَىٰ دِينِک. (ابن ماجه)

۞ اللّٰهُمّ مُصَرِّفَ القُلُوبِ صَرِّف قُلُوبَنَا عَلَىٰ طَاعَتِک. (مسلم)

۞ اللّٰهُمّ اهدِنِي وَ سَدِّدنِي. (مسلم)

۞ اللّٰهُمّ اَلهِمنِي رُشدِي وَ اَعِذنِي مِن شَرِّ نَفسِي (وَ قِنِي شَرّ نَفسِي). (الترمذي)

۞ اللّٰهُمّ اجعَل وَسَاوِسَ قَلبِي خَشيَتَکَ وَ ذِکرَک وَ اجعَل هِمّتِي وَ هَوَایَ فِي مَا تُحِبُّ وَ ترضَىٰ. ()

۞ اللّٰهُمّ بَارِک لِي فِى المَوتِ وَ فِي مَا بَعدَ المَوت. (فضائل الصدقات)

۞ اللّٰهُمّ قِنِي عَذَابَکَ يَومَ تَبعَثُ عِبَادک. (ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمّ اَجِرنِي مِنَ النّار. (الترمذي، ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمّ بَاعِد بَينِي وَ بَينَ خَطَايَایَ کَمَا بَاعَدتَ بَينَ المَشرِقِ وَ المَغرِب. (مسلم)

۞ اللّٰهُمّ رَبّنِا آتِنَا فِى الدُّنيَا حَسَنَةً وّفِى الآخِرَةِ حَسَنَةً وّ قِنَا عَذَابَ النّار. (ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمَّ اَحسِن عَاقِبَتَنَا فِی الاُمُورِ كُلِّهَا وَ اَجِرنَا مِن خِزيِ الدُّنيَا وَ عَذَابِ الاٰخِرَةِ ۔ (احمد)

۞ اللّٰهُمَّ رَحمَتَکَ اَرجُو فَلَا تَكِلنِي اِلیٰ نَفسِي طَرفَةَ عَينٍ وَ اَصلِح لِي شَأنِي كُلَّه۔ (ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمَّ اكفِنِي بِحَلَالِکَ عَن حَرَامِکَ وَ اَغنِنِي بِفَضلِکَ عَمَّن سِوَاک ۔ (الترمذي)

۞ اللّٰهُمَّ استُر عَورَاتِنَا وَ اٰمِن رَوعَاتِنَا۔ (احمد)

۞ اللّٰهُمَّ الطُف بِنَا فِي تَيسِيرِ كُلِّ عَسِيرٍ فَاِنَّ تَيسِيرَ كُلِّ عَسِيرٍ عَلَيکَ يسِير ۔ (الطبراني)

۞ اللّٰهُمَّ ارحَم اُمَّةَ مُحَمَّدٍ ﷺ ۔ (الاحياء)

۞ اللّٰهُمَّ اَصلِح اُمَّةَ مُحَمَّدٍ (ﷺ)، اللّٰهُمَّ فَرِّج عَن اُمَّةِ مُحَمَّدٍ (ﷺ)۔ (الاحياء)

۞ اللّٰهُمَّ اَصلِح لِي دِينِی الَّذِي هُوَ عِصمَةُ اَمرِي وَ اَصلِح لِي دُنيَایَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي وَ اَصلِح لِي آخِرَتِي الَّتِي اِلَيهَا مَعَادِي وَ اجعَلِ الحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَير وَ اجعَلِ المَوتَ رَاحَةً لِي مِن كُلِّ شَر ۔ (مسلم)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي عَبدُکَ وَ ابنُ عَبدِکَ وَ ابنُ اَمَتِکَ نَاصِيَتِي بِيَدِکَ مَاضٍ فِیَّ حُكمُکَ عَدلٌ فِیَّ قَضَاءُکَ اَن تَجعَلَ القُرآنَ رَبِيعَ قَلبِي وَ نُورَ صَدرِي وَ جَلَاءَ حُزنِي وَ ذَهَابَ هَمِّي ۔ (زاد المعاد)

۞ اللّٰهُمَّ لَکَ اَسلَمتُ وَ بِکَ اٰمَنتُ وَ عَلَيکَ تَوَكَّلتُ وَ اِلَيکَ اَنبتُ وَ بِکَ خَاصَمتُ؛ اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُ بِعِزَّتِکَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنتَ اَن تُضِلَّنِي، اَنتَ الحَیُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالجِنُّ وَ الاِنسُ يَمُوتُون ۔ (متفق عليه)

۞ اللّٰهُمّ اَنتَ رَبّي لَا اِلٰه اِلّا اَنتَ عَلَيکَ تَوکّلتُ وَاَنت رَبُّ العَرشِ الکَرِيمِ، مَا شَاءَ الله کَانَ وَمَا لَم يَشَأ لَم يَکُن وَلَا حَولَ وَلَا قوّةَ اِلّا بِالله العَلِيّ العَظِيمِ؛ اَعلَمُ اَنّ اللهَ عَلیٰ کُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ وَ اَنّ اللهَ قَد اَحَاطَ بِکلِّ شَيءٍ عِلمًا؛ اَللّٰهُمّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن شَرِّ نَفسِي وَ مِن شَرِّ کُلِّ دَآبّةٍ اَنتَ اٰخِذ بِنَاصِيَتِهَا اِنّ رَبّي عَلیٰ صِرَاطٍ مُّستَقِيم ۔(ابن السني، البيهقي، الطبراني)

۞ اللّٰهُمّ استُر عَورَاتِنَا وَ اٰمِن رَوعَاتِنَا ۔(النسائي وغيره)

۞ اللّٰهُمّ اغفِر لِي وَ ارحَمنِي وَ عَافِنِي وَ ارزُقنِي (من الجوامع) ۔(ابن ماجه)

۞ اللّٰهُمّ لَکَ الحَمدُ کُلُّهُ وَ لَکَ الشُّکرُ کُلُّهُ وَ لَکَ المُلکُ کُلُّهُ وَلَکَ الخَلقُ کُلُّهُ بِيَدِکَ الخَيرُ کُلُّهُ وَ اِلَيکَ يُرجَعُ الاَمرُ کُلُّهُ، اَسئَلُکَ مِنَ الخَيرِ کُلِّه وَ اَعُوذُ بِکَ مِنَ الشّرِّ کُلِّه ۔(السيوطي في جامع الاحاديث، ابن ابي شيبه)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَسئَلُکَ مِنَ الخَيرِ کُلِّه وَ اَعُوذُ بِکَ مِنّ الشّرِّ کُلِّه ۔()

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَسئَلُکَ خَيرَ الدُّنيَا وَالآخِرَة ۔()

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَسئَلُکَ العَفوَ وَالعَافِيَةَ فِی الدُّنيَا وَالآخِرَة ۔(ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَسئَلُکَ مِن کُلِّ خَيرٍ خَزَائِنُهُ بِيَدِکَ وَ اَعُوذُ بِکَ مِن کُلِّ شَرٍّ خَزَائِنُهُ بِيَدِک ۔(الحاکم)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَسئَلُکَ الجَنّةَ وَ اَعُوذُ بِکَ مِنَ النّار ۔(ابوداؤد، احمد وغيرهما)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَسئَلُکَ الرِّضَاءَ بَعدَ القَضَاءِ وَ بَردَ العَيشِ بَعدَ المَوت ۔(احمد، الحاکم)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَسئَلُکَ الصِّحّةَ وَ العِفّةَ وَ الاَمَانَةَ وَ حُسنَ الخُلُق وَ الرِّضَا بِالقَدَر ۔(الادب المفرد)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَسئَلُکَ الهُدَیٰ والتُّقَیٰ وَ العفَافَ وَ الغِنَیٰ۔ (مسلم)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَسئَلُکَ عِلمًا نّافِعًا وّ رِزقاً طَیِّبًا وّعَمَلًا مُّتَقَبّلًا ۔ (ابن ماجه)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَسئَلُکَ العَافِیَةَ فِی دِینِي وَ دُنیَایَ وَ اَهلِي وَ مَالِي، اللّٰهُمَّ استُر عَورَاتِنَا وَ اٰمِن رَوعَاتِنَا وَاحفَظنِي مِن بَینِ یَدَیَّ وَ مِن خَلفِي وَ عَن یَمِینِي وَ عَن شِمَالِي وَ مِن فَوقِي وَ اَعُوذُ بِعَظَمَتِکَ اَن اُغتَالَ مِن تَحتِي ۔ (نسائي، ابن ماجه، الحاکم)

۞ اللّٰهُمَّ اِنّا نَسئَلُکَ مِن خَیرِ مَا سَئَلَکَ مِنه نَبِیُّکَ مُحَمّدٌ ﷺ وَ نَعُوذُ بِکَ مِن شَرِّ مَا استَعَاذَ مِنهُ نَبِیُّکَ مُحَمّدٌ ﷺ۔ (الترمذي)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن عِلمٍ لَا یَنفَعُ وَ مِن قَلبٍ لَا یَخشَعُ وَ مِن نفسٍ لَا تَشبَعُ وَمِن دَعوَةٍ لَا یُستَجَابُ لَهَا۔ (مسلم)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ مِنَ النِّفَاقِ وَالشِّقَاقِ وَ سُوءِ الاَخلَاقِ۔ (ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ مِن زَوَالِ نِعمَتِکَ وَ تَحَوُّلِ عَافِیَتِکَ وَ فَجاَةِ نِقمَتِکِ وَ جَمِیعِ سَخَطِک ۔ (مسلم)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ اَن اَضِلَّ اَو اُضَلَّ اَو اَزِلَّ اَو اُزَلَّ اَو اَظلِمَ اَو اُظلَمَ اَو اَجهَلَ اَو یُجهَلَ عَلَیَّ۔ (ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِنَ الفقرِ وَ القِلّةِ وَ الذِّلّةِ وَ اَعُوذُ بِکَ مِن اَن اَظلِمَ اَو اُظلَم ۔ (ابوداؤد)

۞ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ مِنَ الکُفرِ وَ الفَقرِ وَ عَذَابِ القَبر ۔ (الحاکم)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ مِنَ البُخلِ واَعُوذُ بِکَ مِنَ الجُبنِ وَ اَعُوذُ بِکَ اَن اُرَدَّ اِلَیٰ اَرذَلِ العُمُرِ وَ اَعُوذُ بِکَ مِن فِتنَةِ الدُّنیَا وَ اَعُوذُ بِکَ مِن عَذَابِ القَبرِ ۔ (البخاري)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ مِنَ البُخلِ وَ الکَسَلِ وَ اَرزَلِ العُمرِ وَ عَذَابِ القَبرِ وَ فِتنَةِ المَحیَا وَ المَمَاتِ ۔ (مسلم)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ مِنَ الهَمِّ وَالحُزنِ وَالعَجزِ وَالکَسَلِ وَالجُبنِ وَالبُخلِ وَضَلعِ الدَّینِ وَ غَلَبَةِ الرِّجَالِ ۔ (البخاري)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ مِنَ الهَمِّ وَالحُزنِ وَ اَعوذُ بِکَ مِنَ الجُبنِ وَ البُخلِ وَ اَعوذُ بِکَ مِن غَلَبَةِ الدَّینِ وَ قَهرِ الرِّجَالِ ۔ (البخاري)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعوذُ بِکَ مِن غَلَبَةِ الدَّینِ وَ غَلَبَةِ العَدُوِّ وَشَمَاتَةِ الاَعدَاءِ ۔ (النسائي، احمد)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن بَلَاءِ الدّنیَا وَعَذَابِ الاٰخِرَةِ ۔ (احمد)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن عَذَابِ القَبرِ وَ مِن عَذَابِ النَّارِ وَ مِن فِتنَةِ المَحیَا وَ المَمَاتِ وَ مِن فِتنَةِ المَسِیحِ الدَّجَّالِ ۔ (البخاري)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن یَّومِ السُّوءِ وَ مِن لَّیلَةِ السُّوءِ وَ مِن سَاعَةِ السُّوءِ وَ مِن صَاحِبِ السُّوءِ وَ مِن جَارِ السُّوءِ فِي دَارِ المُقَامَةِ ۔ (الطبراني)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن جَارِ السُّوءِ فِي دَارِ المَقَامِ فَاِنَّ دَارَ الدُّنیَا یَتَحَوَّلُ ۔ (الادب المفرد)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن جَهدِ البَلَاءِ وَ دَرکِ الشَّقَاءِ وَ سُوءِ القَضَاءِ وَ شَمَاتَةِ الاَعدَاءِ ۔ (البخاري)

۞ اللّٰهُمّ اِنِّي اَعُوذُ بِکَ مِن شَرِّ مَا عَمِلتُ وَ مِن شَرِّ مَا لَم اَعمَل ۔ (مسلم)

۞ اللّٰھُمَّ اِنِّي اَعُوذُ بِرِضَاکَ مِن سَخَطِکَ وَ بِمُعَافَاتِکَ مَن عُقُوبَتِکَ وَ اَعُوذُ بِکَ مِنکَ، لَا اُحصِي ثَنَاءً عَلَیکَ اَنتَ کَمَا اَثنیتَ عَلَیٰ نَفسِک ۔ (مسلم، ابوداؤد)

۞ اللّٰھُمَّ اِنَّا نَعُوذُ بِکَ اَن نَرجِعَ عَلَیٰ اَعقَابِنَا اَو نُفتَنَ عَن دِینِنَا ۔ (البخاري، مسلم)

۞ اَعُوذُ بِرِضَاکَ مِن سَخَطِکَ وَ بِمُعَافَاتِکَ مِن عُقُوبَتِک ۔ (مسلم)

۞ اَعُوذُ بِاللّٰہِ وَ قُدرَتِہ مِن شَرِّ مَا اَجِدُ وَ اُحَاذِر ۔ (مسلم)

۞ اَعُوذُ بِکَلِمَاتِ اللّٰہِ التَّامَّاتِ مِن شَرِّ مَا خَلَق ۔ (مسلم)

۞ اَعُوذُ بِکَلِمَاتِ اللّٰہِ التَّامَّۃِ مِن کُلِّ شَیطَانٍ وَ ھَامَّۃٍ وَ مِن کُلِّ عَینٍ لَامَّۃ ۔ (البخاري)

۞رَبِّ اغفِر لِي ذَنبِي وَ وَسِّع لِي فِي دَارِي وَ بَارِک لِي فِي رِزقِي ۔ ()

۞ لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ العَظِیمُ الحَلِیمُ، لَااِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ رَبُّ العَرشِ العَظِیم، لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَ رَبُّ الارضِ رَبُّ العَرشِ الکَرِیم ۔ (متفق علیہ)

۞ اللّٰھُمَّ لَا یَأتِي بِالحَسَنَاتِ اِلَّا اَنتَ وَ لَا یَدفَعُ السَّیِّئَاتِ اِلَّا اَنتَ وَ لَا حَولَ وَلَا قَوۃَ اِلَّا بِک ۔ (ابوداؤد)

۞ یَا بَدِیعَ السَّمٰوَاتِ، یَا حَیُّ یَا قَیُّومُ، اِنِّي اَسأَلُک ۔ (الادب المفرد)

۞ یَا مُصَرِّفَ القُلُوبِ صَرِّف قَلبِي عَلَیٰ طَاعَتِک ۔ (سیر السلوک)

۞ یَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّت قَلبِي عَلَیٰ دِینِک ۔ (سیر السلوک)

۞ اَللّٰہُ اَللّٰہُ رَبِّي لَا اُشرِکُ بِہِ شَیئًا۔ (ابوداؤد)

۞ اَللّٰہُ رَبِّي، لَا شَرِیکَ لَہ۔ (لا تحزن)

۞ حَسبِیَ اللّٰہُ لَا اِلٰہَ اِلَّا ھُوَ عَلَیہِ تَوَکَّلتُ وَ ھُوَ رَبُّ العَرشِ العَظِیم۔ (ابوداؤد)

۞ حَسبِيَ اللّٰہُ (حَسبُنَا اللّٰہُ) وَ نِعمَ الوَکِیل۔ (البخاري)

۞ لَا حَولَ وَلَا قَوۃَ اِلَّا بِاللّٰہ۔ (متفق علیہ)

۞ یَا حَیُّ یَا قَیُّومُ بِرَحمَتِکَ اَستَغِیث۔ (الحاکم)

۞ یَا ذَا الجَلَالِ وَالاِکرَام۔ (متفق علیہ)

۞ یَا حَلِیمُ یَا عَلِیمُ یَا عَلِيُّ یَا عَظِیم۔ (الخمیس)

۞ یَا رحمٰنُ یَا رَحِیمُ یَا کَرِیم۔

۞ یَا رَحِیمُ یَا عَلِیمُ یَا قَدِیر۔

۞ یَا اللّٰہُ یَا اللّٰہُ یَا اللّٰہ۔

◈◈◈

وَ مَا التَّوفِیقُ إِلَّا بِاللّٰہ، وَ ھُوَ المُستَعَان وَ عَلَیہِ التُّکلَان، وَ ھُوَ الرَّحِیمُ الرَّحمٰن، وَ لَہُ الحَمدُ أَوَّلًا وَّ آخِرا؛ وَ الصَّلوٰۃُ وَالسَّلَامُ عَلیٰ رَسُولِہِ وَ نَبِیِّہِ وَ حَبِیبِہِ وَ خَیرِ خَلقِہِ مُحَمَّدٍ وَّ عَلیٰ آلِہ وَصَحبِہِ اَجمَعِین۔

◈◈◈

کتاب: څهٔ اضافي اظهار

(د قرآن او حدیث تحت)

باب: دین او آخرت، متعلقات

د دین، دینداری او آخرت څهٔ نکتې

۞ انسان له دنیا کښې خپل ځان آزاد نهٔ بلکې د الله تعالیٰ د عبادت، اطاعت، د هغهٔ د طرف نه د دین و مذهب پهٔ پابندی، تکلیف، ابتلاء او امتحان کښې او د دې دپاره ګڼل.

۞ د دین و ایمان لاندې چې د انسان او د دهٔ د وجود څهٔ حقیقت، ماهیت او غایت د ے سړي له بس هغې ته کتل.

۞ ژوند پهٔ دین (اسلام) کښې او د دین دپاره د کولو نه سوا څهٔ چاره نهٔ لیدل، بله څهٔ لار او فلسفه نهٔ منل.

۞پهٔ دیني توګه چې څهٔ مطلوب دي صرف پهٔ هغې کښې اخته پاتې کېدل؛ پهٔ دین او دینداری کښې، پهٔ دیني فِعلونو، خویونو او عادتونو کښې.

۞ د دیني، شرعي او اُخروي داعیې پهٔ مخکښې بله هره داعیه روستو کول، قربانول.

۞ د دین د ټولو شعبو (عقائدو، عباداتو، اخلاقو، معاشراتو، معاملاتو او آدابو وغیره) او د هغې د تمامو خبرو او حکمونو پابندي کول، نهٔ چې صرف د بعضو څیزونو.

۞ د دین پوره حق ادا کول، نهٔ چې څهٔ نمونه ښودل. څهٔ چې کول نو د دین یا دین له کول.

۞دین کښې دنیا لرل، نهٔ چې دنیا کښې دین. دنیادار دیندار کېدل، نهٔ چې دیندار دنیادار.

۞ د فطري، رواجي، معاشرتي او مسلکي وغیره شعور او دباؤ پهٔ مقابله کښې پهٔ دیني، ایماني او اُخروي شعور او دباؤ کښې اوسېدل.

۞ د دنیوي او مادي نقطهٔ نظر پهٔ ځائے دیني، روحاني او اُخروي نقطهٔ نظر ساتل۔

۞ د آخرت معامله څهٔ عامه، معمولي او آسانه نهٔ اخستل۔ د ټولې هستۍ او د امکان اصل منظر او مظهر دغلته باور کول۔

۞ هغه څهٔ اختیارول څهٔ چې به پهٔ آخرت کښې نفع ورکوي او هغه څهٔ پرېښول څهٔ چې به هلته ضرر ورکوي۔

۞ اصل کامیابي د دوزخ نه خلاصېدل او جنت ته تلل ګڼل۔

متعلقه څهٔ خبرې

۞ درې څیزونه علم، عمل او اخلاص لازمي او د آخرت د خلاصي دپاره شرطونه ګڼل۔ دا رنګې د دین فکر، د دین ازدکړه او پهٔ دین عمل ضروري حسابول۔

۞ د دین حکمونه او نیک عملونه پهٔ صحیح او مقررو طریقو او پهٔ دیني عقلمندۍ سره ادا کول۔

۞ د دنیا او د مال و جاه وغیره د محبت نه ځان لرې ساتل۔

۞د نفس او شیطان نه هوښیار او پهٔ خطره کښې اوسېدل۔

۞ د خپلې دیني او اُخروي ترقۍ دپاره زیات نه زیات محنت کول۔

۞ د خپل یو یو عمل، او خصلت پهٔ باره کښې دا یقین او اعتقاد چې دا پهٔ عملنامه کښې لیکلے کیږي او قیامت کښې به ئې تپوس او حساب کیږي۔

دین او آخرت له پهٔ دنیا ترجیح ورکول وغیره

۞ دین او آخرت له پهٔ دنیا ترجیح ورکول، د هغې نه ئې غوره کول او مخکښې کول۔

۞ د دین او آخرت درجه او حیثیت دنیا له نهٔ ورکول۔

۞ اصل او مقصد صرف دین او آخرت ته ویېل؛ دنیا ته صرف د هغې دپاره او د هغې د ذریعې پهٔ طور کتل۔

۞ دنیوي تقاضے پهٔ دیني او اُخروي تقاضو باندې پرېښودل او قربانول ۔

۞ د دنیا د فائدې پۀ وجه د دین او د آخرت نقصان نۀ کول بلکه عکس کول.
۞ دنیا دین او آخرت له ګټل او استعمالول.

د مرګ یاد، د آخرت فکر او تیارے

۞ مرګ هر وخت یادول، د دنیا پۀ مسئلو یا پېښو کښې بنیادي حیثیت هغې له ورکول، د هغې تقاضو ته کتل.
۞د آخرت فکر لرل، آخرت پۀ زړۀ او ذهن خور او سور ساتل.
۞د خپل آخري انجام نه بې غمه او غافل نۀ کښېناستل.
۞د قیامت، حساب کتاب او د جنت دوزخ معاملې ته پۀ کامله درجه او پۀ سنجیدګۍ سره توجه ورکول.
۞د همېشه مصیبت او بدبختۍ نه د بچ کېدو او د همېشه راحت او خوش بختۍ د حاصلولو بندو بست کول.
۞ آخرت له پوره تیارے کول، د ذرې سستۍ او غفلت نه هم پۀ هغې کښې کار نۀ اخستل.
۞ د آخرت پۀ تیارۍ کښې بنیادي طور د الله تعالیٰ د یرې، تقویٰ یا د هغۀ د نافرمانۍ نه د ځان ساتلو اهتمام کول.

د الله عبادت، محبت وغیره

۞ د الله تعالیٰ عبادت بس اصل کار منل؛ دې کښې بس د ژوند ماښام کول.
۞عبادت کښې د مکمل اخلاص او احسان والا شان لرل، د صورت نه پکښې زیات روح او حقیقت ته نظر کول. هسې هم پۀ دوام سره د الله تعالیٰ مراقبه، استحضار او ذکر و فکر وغیره لازم نیسل، لکه د اصل الاصول پۀ طور سلوک الي الله خپلول، یعني الله تعالیٰ سره د ارتباط و اتصال، د هغۀ د تقرُّب، معیت، رضا او پۀ هغۀ کښې د فنا کېدلو شوق، طلب، جستجو او کوشش.
۞محبت پۀ اصل کښې او د ټولو نه زیات د الله تعالیٰ (او د هغۀ د رسول) سره او د زړۀ د وېخ نه ساتل او د هغې پۀ اقتضاء چلېدل. (مخلوق سره محبت یا بُغض صرف د الله تعالیٰ دپاره لرل).

د ژوند د ټولو نه ښۀ استعمال وغیره

۞ ژوند محض تېرول او اړول نۀ بلکې استعمالول او بیا د دې د ټولو نه ښۀ استعمال کول کوم چې صرف هغه دے چې د مرګ پۀ وخت کښې او د مرګ نه روستو پرې افسوساو ستوماني نۀ وي، پۀ کوم سره چې د الله تعالیٰ زیاته نه زیاته رضا او د آخرت زیات نه زیات خیر او ثواب حاصل کړے شي۔

۞ دا خبره مخې ته راوستل چې کله د ژوند پۀ تېرېدو کښې د چا واک اختیار نیشتے او د دې پۀ استعمال کښې شتے نو آیا بیا د دې صرف هغه استعمال مناسب او ضروري نۀ دے د کوم نه چې بل زیات غوره او فائده مند نۀ وي؟

۞ خپل ژوند دین او آخرت له ګڼل، هغې ته وقف کول، د دې هر اړخ او شے د هغې تابع ګرزول۔

۞ ژوند پۀ پرهېزګارۍ، تقویٰ، د کولو والو کارونو پۀ کولو او د نۀ کولو والو پۀ نۀ کولو؛ دا رنګې د نفس و شیطان او د خواهشاتو پۀ مخالفت کښې تېرول
۔

۞ خپل د دې ژوند یوه یوه لمحه قیمتي کول، خپل نۀ ختمېدونکي اُخروي ژوند له پکښې انتظام کول۔

۞ سړي له دا خیال کول چې د ژوند د تېرولو د هغۀ انداز د هغۀ د دیني او اُخروي نقصان والا خو نۀ دے؟

ځان سره پۀ حقیقت کښې ښۀ کول، حقیقي دوست او دشمن پېژندل

۞ ځان سره پۀ حقیقت او صحیح معنیٰ کښې او زیات نه زیات ښۀ کول یعني د آخرت د کم نه کم نقصان او خسارې نه ئې بچ کول او د هغې زیاته نه زیاته فائده او ګټه ورته رسول۔

۞ د سړي دا جائزه اخستل چې د شروع نه دې وخته پورې ما د خپل ځان سره ښۀ کړي دي او کۀ بد؟ او زۀ چې آخوا څۀ اراده لرم هغه ځان سره د ښۀ کولو ده او کۀ د بدو؟ (یعني څۀ چې پۀ اصل کښې ښۀ او بد دي)

۞ د چا حقيقي دوست هغه دے څوک چې هغۀ ته د آخرت فائده او خير رسوي او د هغې د نقصان نه ئې ساتي او حقيقي دشمن ئې هغه دے څوک چې ورته د آخرت نقصان او شر رسوي او د هغې د فائدې نه ئې محروم کوي۔

خپله تزکيه او اصلاح

۞ خپل ځان د ټولو بدو صفتونو او خصلتونو (رذائلو) نه خالي کول او په ښۀ صفتونو او خصلتونو (فضائلو) آراسته کول۔

۞ د هغه ټولو څيزونو نه ځان پاکول د کومو نه چې الله تعالیٰ منع فرمائيلې ده او د هغۀ په نزد بد دي، او هغه ټول څيزونه لرل او کول د کومو چې الله تعالیٰ امر فرمائيلے دے او د هغۀ په نزد ښۀ دي۔

۞ هر سړي له خپل ټول ديني او روحاني مرضونه او عيبونه معلومول او د ځان نه ئې ويستل۔ د شوو ګناهونو نه توبه او بيا دپاره د نۀ کولو پخه اراده کول۔ دا شانې د خپل ځان مسلسله نګراني ساتل او د دې د ضرورت او اهميت احساس لرل۔

باب: بعضې څۀ اُمور

ديني سلسله کښې يو انداز

د دين اصل سهولت او سماحت او په ديني امورو کښې د تکلفاتو او پيچيدګيانو نه مکمل پاک والے۔ دين کښې د منافقت، رياکارۍ، ځان ښودنې، دين خپل ذات له د استعمالولو او د دين په ځائے د خپل ځان او د خپل مسلک يا فرقې وغيره د دعوت ورکولو نه په شدت سره خلاف والے۔ دا رنګې منظر آرائي، نعره بازۍ، جذباتيت، بې ځايه عقيدت مندۍ، چاپلوسۍ، شخصيت پرستۍ او تعصب وغيره ته ډېر بد کتل۔ په نظر کښې داسې خلق اوچت راتلل: مُتقيان، مُخلصان، صادقان، خوش اخلاقه، نفع رسونکي، پاکباز، عاجز مزاج، خاکسار، ساده، شکسته حال، پټ، بې پروا، غمګين، د

دنیا او د دنیا د څیزونو نه بې رغبته، ځان له پۀ ډېره اوسېدونکي او یا بیا صحیح جهاد کونکي، نۀ چې نور څوک.

د خلقو دیني او اُخروي خدمت

د خپل حالت او استطاعت مطابق د خلقو دیني او اُخروي خدمت کول، یعني هغوی د دین او آخرت طرف ته د راغب کولو، پۀ هغوی کښې د دین، دینداری او د دې د شعور د راوستلو او خورولو کوشش کول او پۀ دې کښې حصه اخستل کوم چې د چا سره د ټولو نه لویه نیکي ده. دې دپاره هره جائزه، مؤثره او صحیح طریقه او ذریعه استعمالول. کۀ نور څوک هم داسې څۀ کوي نو د هغوی پۀ هر شکل حمایت او مدد کول. مګر دا عمل او محنت د ذاتي غرض نه بغیر، مکمل پۀ خلوص سره، محض د الله تعالیٰ د رضا دپاره او صرف د دیني خیرخواهی پۀ بنیاد کول.

د ترغیبي او اصلاحي عمل یو جهت

خلقو کښې د دین او آخرت شعور، احساس او د خپل واحد ژوند د ټولو نه د بهتر استعمال فکر او شوق پیدا کول. هغوی د دنیا او د دنیاداری نه دین، دینداری او آخرت ته د راړولو کوشش کول. هغوی کښې د هغه څیزونو رغبت رااوچتول کوم چې به پۀ آخرت کښې نجات ورکونکي (مُنجیات) وي او د هغه څیزونو نه نفرت اچول کوم چې به هلته هلاکونکي (مُهلکات) وي. هغوی خپلې اصلاح او علاج ته متوجه کول یا دې ته تیارول چې پۀ نهایت اهتمام او سنجیدګۍ سره د خپل یو یو دیني او روحاني مرض یا عیب (یا ګناه) پته ولګوي او ځان نه ئې د ویستلو انتظام وکړي او بیا دا سلسله آخوا جاري وساتي، لکه څنګه چې د ظاهري او جسماني مرضونو پېژندل او علاج کول دي.

باب: نن صبا د خلقو څهٔ حال

فرقه بندي، فرقه پرستي

کهٔ نظر وکړے شي نو چاپېره خلق عموماً پهٔ فرقه بندۍ او فرقه پرستۍ کښې مبتلا دي۔ مختلفې فرقې او جماعتونه جوړ شوي او مخې ته راغلي دي۔ معاشرتي فرقې ځان له دي، سياسي ځان له دي، ديني او مذهبي ځان له دي۔ هره يوه د خپل ځان د مخکښې کولو او د بلې د روستو کولو پهٔ کوشش کښې اخته ده، هره حربه ورله استعمالوي اګر کهٔ غيبت وي، کنزل وي، دروغ وي، الزامونه لګول وي۔ داسې معلوميږي چې بنيادي غرض او مقصد صرف د خاصو افرادو څهٔ ذاتي فائدې دي چې پهٔ څهٔ شکل کښې حاصلولے کيږي۔ د عامو خلقو دنيوي او ديني خير هيڅکله مقصود او ملحوظ نهٔ دي او نهٔ هغه امکان لري۔

د مسلک قصه

د موجوده رجحاناتو يوه خاص خبره دا ده چې پهٔ بعضو يا اکثرو خلقو د دين، ديندارۍ، دين پرستۍ، اطاعت، عبادت، تقوىٰ، نيکو عملونو، اخلاص، زُهد، مرګ، قبر، قيامت او د حساب کتاب پهٔ ځائے يو مسلک (او صاحبِ مسلک) خور وي۔ هغه ئې بس پهٔ زړهٔ، ذهن، شعور او وجدان باندې حاوي وي؛ هغې له عصبيت لري او صرف د هغې خورول او هغې ته رابلل ئې کار وي، د دين، د دين د فکر، د دين د پوهې او پهٔ دين د عمل دپاره نهٔ بلکې لکه چې دغه پخپله بس مقصود او هر څهٔ وي۔ پهٔ څهٔ خبره کښې ورته مراجعت داسې کيږي يا ئې حواله داسې ورکولے کيږي لکه پهٔ اُصولو اربعهٔ کښې چې يو اصل وي۔ مسلکيت والا خلق (لکه چې معلوميږي) پهٔ نورو خلقو د دې محنت نهٔ کوي چې هغوۍ صحيح مسلمانان، دينداران، متقيان، مُخلصان، د الله تعالىٰ رضا لټونکي او د آخرت غم لرونکي او هلته خلاصے موندونکي جوړ شي بلکې اصل کښې پرې د دې محنت کوي چې هغوۍ د دوۍ د مسلک او فرقې والا شي يا پهٔ دې کښې ښهٔ کلک شي۔ الّا ماشآء الله۔ پهٔ دې کښې

هیڅ شک نیشتے چې کۀ څوک سړے د دین پۀ یوې خبره هم عمل نۀ کوي، د تقویٰ او دینداری نه بالکل خالي او عاري وي خو د یو مسلک صفت او ستائنه کوي نو دغې مسلک والو ته به هغه ډېر زیات ښۀ ښکاري پۀ مقابله د هغه چا کښې کوم چې د دین پۀ هره خبره عمل کوي خو د دغه مسلک نه لاتعلق یا خاموش وي ـ مسلک کښې اخته زیات کسان د اخلاص او مطلوبه خیرخواهی نه مکمل بې بهره وي ـ د هغوی پۀ نزد کۀ عوامو له د دین او نیکی څۀ کار وُشوے نو صرف د هغوی پۀ مرضی او یا فقط د هغوی د لاسه وشوے ـ د داسې افرادو عموماً ټولې خبرې او بیانونه وغیره د اختلاف، فضول جرح و اعتراض، تهمتونو، تعصب، عناد او د هغوی د امتیازي څیزونو وغیره ۀ نه ډک وي ـ پۀ دغې ورله ابتداوي او انتها ـ سوچ دِ وکړے شي آیا د الله تعالیٰ رالیږلے شوے او د رسول اللهﷺ راوړے آخري دین پۀ خپل بنیاد، حقیقت، ماهیت، ساخت، مزاج او مقصد و غایت وغیره کښې د دې قسمه قصو او دې ته د پاتې کېدو برداشت لرلے شي؟

د دین او آخرت پۀ لحاظ سره د خلقو د حالت څۀ تصویر

دا خبره پټه نۀ ده چې نن صبا زیات خلق (مسلمانان) د دین او د آخرت نه بالکل بیزار، بې پروا او غافل دي، کمه نه کمه حصه ورله هم پۀ آسانه ورکول نۀ غواړي ـ دیني هدایات و تعلیمات او د دین احکام لکه چې د هغوی هډو مسئله نۀ وي ـ مرګ، قیامت، حساب کتاب او جنت دوزخ ورته ګویا بې معنیٰ دي ـ هغوی سراسر پۀ دنیاداری او دنیاپرستی کښې مبتلا دي ـ دنیا ئې بس مقصد و مرام او د ټول همت، محنت، مشقت، کوششونو او توجه مرکز دے ـ دې ته هر څۀ او ټول حقیقت وایي ـ د دې لاندې پۀ ښځو، اولاد، مال و دولت، جاه و عزت، شهرت او لذت وغیره او د دې څیزونو پۀ کامل محبت او رغبت کښې ګرفتار دي ے

از حقیقت نیست کس را آګهي　　جمله مي میرند با دستِ تهي

امام غزالي رحمه الله د خلقو د شغلونو پهٔ يو بحث کښې ليکلي دي:
"خلق شپه او ورز په دې کارونو کښې لګيا ووسي. پهٔ هر سړي د پيسو ګټلو سوچ سور دے. هغه پهٔ خپل کار کښې دومره ننوتے دے چې نهٔ ورته د خپل وجود څهٔ احساس او خيال پاتې دے او نهٔ ورته د خپل د دې ژوند او نهٔ د مرګ نه د روستو ژوند. ټول خلق بس د دنيا دپاره سرګردان ګرزي". (احياء العلوم).
چې د هغوی پهٔ زمانه کښې دا نوبت ؤ نو نن ورز به څهٔ حال وي!

نَسأَلُ اللّٰهَ الخَيرَ وَ هُوَ اَرحَمُ الرّاحِمِين، وَ الحَمدُ لَه وَ هُوَ رَبُّ العٰلمِين،وَ الصّلوٰةُ وَالسّلامُ عَلىٰ خَاتَمِ الاَنبِيَاءِ وَ المُرسَلِين، وَ عَلىٰ آلِهِ المُطَهّرِ ين وَ اَصحَابِهِ المُكَرّمِين.

کرامت الله
۱۲ربيع الاول ۱۴۴۲ه
۱۷ ستمبر۲۰۲۴ع